# د الله جل جلاله ښکلي نومونه او د هغه غوره صفتونه له کتاب او سنت څخه

عبدالله بن مشبب بن مسفر القحطاني

د چاپ حقونه د لیکوال لپاره خوندي دي

دويم چاپ
١۴۴١هـ ق – ٢٠٢٠ زیږدیز کال

شركاء التنفيذ:

دار الإسلام جمعية الربوة رواد الترجمة المحتوى الإسلامي

يتاح طباعة هذا الإصدار ونشره بأي وسيلة مع الالتزام بالإشارة إلى المصدر وعدم التغيير في النص.

Telephone: +966114454900
ceo@rabwah.sa
P.O.BOX: 29465
RIYADH: 11557
www.islamhouse.com

بسم الله الرحمن الرحيم

## ډالۍ

زما مور او پلار ته..

ځينې هغه څه چې تاسو زما لپاره له څښتن تعالی څخه غوښتل؛ زه ستاسو د ډېر سخاوت او نيکۍ يوه برخه هم بيرته درګرځولی نشم..

بيا: هر هغه زړه ته چې خپل رب پيژني او هغه ته نږدې کيږي..

تاسو ته ... د هڅو محصول ډالۍ کوم؛ له الله تعالی څخه ددې عمل قبولي غواړم!

## د دويم چاپ سريزه

په پيل او پای کې د الله ستاينه په ظاهر او باطن کې ادا کوم، او پر خپل پيغمبر؛ محمد - صلی الله عليه وسلم - باندې درود وايم، اما بعد:

دا دويم چاپ دی چې د ګران لوستونکي مخې ته يې ږدم وروسته لدې چې لومړۍ ګڼه چې شمير يې (۶۰۰۰) ټوکه وو په ډېر لږ وخت کې خلاص شول چې پدې کار سره د الله تعالی منندوی يم، او وروسته لدې چې د کتاب د منځپانګې بيا کتنه، زياتول، او حذفول تر سره شول، هيله ده چې کتاب د لوستونکو لپاره مناسب، په موضوع کې بشپړ او هدف ته د رسيدو لپاره پوره وي.

او د علم په خپرولو کې د ثواب غوښتونکی يم؛ زه په لاندې شرايطو سره د کتاب د چاپ اجازه ورکوم:

پرته له حذف او اضافه کولو، او دا چې چاپ بايد مجلل او د کتاب د منځپانګې سره مناسب وي، او ددی ګرځنده شميرې 00966564570117 يا بريښناليک سره اړيکه وساتل شي ga.1440.ga@gmail.com

د دي لپاره چې ډاډ ترلاسه شي چې په کتاب کې کوم بدلون یا اضافه والی ندی راغلی؛ او پوره والی او کمال یوازې د الله - تعالی - د کتاب لپاره دی.

بیا د دار ابن الجوزي او المتنبي کتابتون څخه د دوی د تیرو هڅو مننه کوم، د الله څخه د بریالیتوب، هدایت او قبولتیا غوښتنه کوم.

او ټوله ستاینه د رب العالمین لپاره ده

لیکوال

## سریزه

ټول ستاینه د رب العالمین لپاره ده، درود او سلام دې وي پر رسول الله صلی الله علیه وسلم او د هغه په کورنۍ او اصحابو باندې، اما بعد:

﴿وَلِلَّهِ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰ فَٱدۡعُوهُ بِهَاۖ ...﴾ [الأعراف: 180]

او خاص د الله لپاره تر ټولو ښکلي نومونه دي، نو تاسو الله په دغو (نومونو) سره رابلئ

، نو د هغه کس به څه حال وي چې دغه نومونه حفظ کړي؟! د رسول الله - صلی الله علیه وسلم - څخه ثابت دی چې فرمایلي يې دي: " الله - تعالی - لره نهه نوي نومونه دي، یو کم سل، څوک چې هغه یادې - حفظ - کړي جنت ته به داخل شي" [بخاري او مسلم روایت کړی].

ما به له الله تعالی څخه دا غوښتنه کوله چې ماته يې د حفظولو شرف را نصیب کړي، نو په ۱۴۳۰ هجري قمري کال کې مې په لنډه توګه د هغه په بیانولو پیل وکړ، نو د الله - تعالی - نومونو او صفتونو ته مې د اورېدونکو لیوالتیا حس کړه..

او څرنګه کیدلی شي چې یو مؤمن يې پیژندلو ته لیوالتیا ونه لري؛ په داسې حال کې چې د هر نوم په پیژندلو سره د الله تعالی ملاقات ته د هغه مینه او شوق ورځ تربلې زیاتیږي؟!

څنګه به يو مؤمن د الله نومونو او صفتونو پيژندلو ته نه ليواله کيږي؟ پداسې حال کې چې هغه پدې پوه شوی چې: هغه د هر غم ځپلي، مظلوم، قرضدار، ناروغ، زنداني او حيران لپاره د ژغورنې وسيله ده؟!

څنګه به يو مؤمن د الله نومونو او صفتونو پيژندلو ته نه ليواله کيږي؟ پداسې حال کې چې پوه شي چې دا: د خلاصون، نيکمرغۍ او خزانو کونجياني دي؟! بلکې چا چې - دا نومونه - په حقه وپېژندل نو نيمګرغي به ترې هيڅکله جلا نه شي.

لدې ځايه؛ مې له الله - تعالى- نه وغوښتل چې د داسې يو کتاب د ليکلو توفيق راکړي چې زما لپاره يو اثر او ښايسته چينه وي چې خلک ترې خړوبه کيږي، نو ما يوازې د راټولولو او جوړولو طريقه غوره کړه، زه په ليکلو کې د خپلې ناتوانۍ او د خپل علميت له کمښت څخه خبر يم؛ زه نه ماهر آس چلوونکی يم او نه ماهر پياده تلونکی يم.

نو ما ټول هغه څه راټول کړل چې زما سترګو ليدلي و، او هغه څه مې وليکل چې ما په کې د راحتۍ احساس کاوه، په دې هيله چې زه به په هغه څه کې ښه کار وکړم چې زه يې راټولولو ته ترجيح ورکوم، په اسماو او صفاتو کې مې د مخکنيو صالحينو عقيده تعقيب کړې ده.

بيا مې هغه په نوې بڼه کې جوړ کړ، چې د عظمت او ښکلا په جامو پوښل شوی وي، البته د زده کونکو او پوهانو د طبقې په نظر کې نيولو سره، او له بشپړې اکاډيميکې طريقې څخه مې لرې ساتلی دی.

او صحيح او حسن حديث باندې مې بسنه کړې، آثار او تاريخ مې په کې ندي ځيرلي.

او موخه مې: د اسانتيا راوستل، تشويقول او لوستونکي په خورا اسانه لار او لنډ وخت کې هدف ته رسول دي.

په دې هیله چې دا به خوشحالۍ راولي، اندیښنه به لرې کړي، زړه به پراخه کړي، ایمان به پیاوړی کړي، پوهه به ډېره کړي، زړه به ډک کړي، زړه ته به عمر وبخښي، او فکر ته به وده ورکړي.

او ددی کار احسان او منت یوازې الله – عزوجل- لره دی، بیا د علم او احسان خاوندانو ته چې ما له هغو څخه خورا خوندورې میوې راټولې کړې وې، که ما سم کار کړی وي نو هغه به د الله –جل و علا- لخوا وي، او د الله ډېر شکر ادا کوم، او که ما تیروتنه کړې وي، نو هغه به زما او د شیطان لخوا وي او ما پدې کار سره یوازې خیر او نیکي غوښتي؛ نو زه د الله څخه بخښنه غواړم او هغه ته توبه کوم!

او په پای کې؛ دغه لږ کوښښ، او د بې وزله وړتیا ده، د دې کتاب د بشپړیدلو لپاره د الله شکر ادا کوم، هیله ده چې الله یې زما څخه قبوله کړي، او لدې ویره لرم چې هغه یې رد کړي، الله –سبحانه و تعالی- په ګواهۍ نیسم چې له هغه سره مینه لرم، او د هغه په اړه ښه ګمان لرم.

او زه د الله څخه غوښتنه کوم چې زما لپاره او د هغه چا لپاره چې ما له هغوی څخه دا راټول کړي دي ډېر اجر ورکړي، او د هر هغه چا لپاره چې په بیاکتنه، تصحیح، تنسیق او تنظیم، کاپي او چاپ کولو، یا مشوره یا نظر ورکولو کې برخه اخیستی ډېر اجرونه ورکړي.

همدارنګه د الله –عزوجل- څخه غوښتنه کوم چې دغه کار سم وګرځوي، او د ځان لپاره یې خالص وګرځوي، د هغه د مینې مننډوی یم، او د هغه رضا ته نږدې کیدل غواړم، او دا چې ماته او زما مور او پلار، زما شیخانو، زما کورنۍ او ټولو مسلمانانو ته بخښنه وکړي؛ بیشکه چې ښه اوریدونکی او د دعا قبلونکی دی!

ستاسو ورور:

عبدالله بن مشبب القحطاني

qa.1440.qa@gmail.com

موبایل (د واتساپ پیغامونو لپاره):

00966564570117

## اې زما ربه ..

ځومره ستر موقف دی، ځومره ستر مقام دی، او ځومره سخت کار دی!

کلمې عاجزې دي، او زړه لړزیږي، او ژبه بندیږي، او جملې لنډیږي، او عقل حیرانیږي، او ستا کمزوری بنده ستا په وړاندې ولاړ دی؛ هغه غواړي چې ستا ستاینه وکړي، او هغه څه چې په خپل ځان کې یې دي تاسو ته بیان کړي، په داسې حال کې چې تاسو د هغه له حال څخه با خبر یاست.

ډالۍ کوونکي په ستاینې سره تا ته نشي رسیدلی ... حتا که دوی مبالغه هم وکړي، ځکه هغه څه چې په تاسو کې دي ډیر لوی دي.

اې ربه!

موږ پوهیږو چې کله موږ ستا ستاینه او ستا ویاړ بیانوو، او ستاسو د عظمت درناوی کوو، او ستا یاد کوو، دا ټول پر موږ باندې ستا نعمتونه او منتونه دي؛ ته هغه ذات یې چې موږ ته دې هدایت وکړ، او موږ ته دې لارښوونه وکړه..

او موږ پوهیږو چې ته - اې زموږ ربه - د هغه څه څخه پورته یې چې ستاینه کوونکي ستا ستاینه کوي، او د هغه څه څخه پورته یې څوک چې ستا ستاینه کوي.

نو – اې الله - هغه څه چې تا ماته او د دې لیکنو لوستونکو ته ورکړي دي قبولې کړه او زموږ نیمګړتیاوې وبخښه.

الله ته زه خپله ستاینه او ثنا ډالۍ کوم ... او په زړه پورې خبرې چې هیڅکله پای ته نه رسیږي

2 - 1

## اللَّهُ الإِلَهُ -جل جلاله-

په هغه لوی او خوږ نوم پيل کوو چې بشريت پېژندلی دی، په نومونو کې غوره، او تر ټولو ښکلي توري، چې په ژبو ويل کيږي ... او روحونه په هغه سره آرامتيا مومي ... روح ته نږدې ... او زړه ته محبوب ...

﴿.... هَلۡ تَعۡلَمُ لَهُۥ سَمِيّٗا ٦٥﴾ [مريم: 65]

ايا ته د ده کوم همنام پېژنې! [مريم: ٦٥].

د الله – تبارک و تعالی – نوم په ټولو عالميانو کې ځانګړی دی؛ دا يوازې د هغه نوم دی، له هغه پرته يې په بل چا يې اطلاق نه کيږي، او نه يې له مخلوقاتوو څخه څوک دعوا کوي، الله –سبحانه و تعالی- د جاهلانو زړونه او ژبې يې نيولي دي چې په دې نوم سره ونومول شي.

هغه الله دی – تبارک و تعالی - د جلال، ښکلا، عظمت، وقار او ځواک خاوند دی.

هر څومره چې ستا په عظمت کې موږ ليکل وکړو، مقدسې کلمې دی چې روحونه پرې پياوړې کيږي.

نو ای ربه ته تر ټولو لوی يې... او له ټولو کلمو څخه ستاسو جلال لوی دی.

د الله -تبارك وتعالی- نوم که په لږ څه کې ياد شي زياتوي يې، که د ويرې پر مهال واخستل شي له منځه يې وړي، تکليف لرې کوي، غم او انديښنه خلاصوي، تنګي او مصيبت له منځه وړي، که کمزوری ورسره تعلق وساتي پياوړی کوي يې، ذليل انسان څخه ته قدرمن کوي، غريب انسان شتمنوي، او مغلوب انسان بريا ته رسوي.

دا هغه نوم دی چې مصيبتونه پرې پای مومي، برکتونه نازليږي، دعاګانې پرې قبليږي، ښه عملونه پرې راجلبيږي، او بد عملونه شړي، تېروتنې ورسره بخښل کيږي.. د الله له جلال څخه لوی څه نشته!

او د الله –تبارک و تعالی- د نوم اصل: إله دی، او هغه د معبود په مانا دی، هغه –سبحانه و تعالی- فرمايي:

﴿يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لَا تَغۡلُواْ فِي دِينِكُمۡ وَلَا تَقُولُواْ عَلَى ٱللَّهِ إِلَّا ٱلۡحَقَّۚ إِنَّمَا ٱلۡمَسِيحُ عِيسَى ٱبۡنُ مَرۡيَمَ رَسُولُ ٱللَّهِ وَكَلِمَتُهُۥٓ أَلۡقَىٰهَآ إِلَىٰ مَرۡيَمَ وَرُوحٞ مِّنۡهُۖ فَـَٔامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦۖ وَلَا تَقُولُواْ ثَلَٰثَةٌۚ ٱنتَهُواْ خَيۡرٗا لَّكُمۡۚ إِنَّمَا ٱللَّهُ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞۖ سُبۡحَٰنَهُۥٓ أَن يَكُونَ لَهُۥ وَلَدٞۘ لَّهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلٗا ١٧١﴾ [النساء: 171]

ای اهلِ کتابو! تاسو په خپل دین کې غُلُوّ (زیاتی) مه کوئ او الله ته یوازې د حقې خبرې نسبت کوئ، یقیناً همدا خبره ده چې د مریمې زوی مسیح عیسیٰ خو بس د الله رسول دی او د هغه کلمه ده، چې هغه یې مریم ته غورځولې وه او د هغه (الله) له جانبه روح دی، نو تاسو پر الله او د هغه پر رسولانو ایمان راوړئ او تاسو مه وایئ چې (معبودان) درې دي، تاسو (له دې نه) منع شئ، ستاسو لپاره به (دا) ډېره ښه وي، یقیناً همدا خبره ده چې الله یو معبود دی ده د هغه پاکي بیانوم له دې نه چې د هغه لپاره دې اولاد وي، خاص د هغه لپاره دي هر هغه څه چې په اسمانونو کې دي او هر هغه څه چې په ځمکه کې دي او الله ښه کافي دی (په حیث د) کار ساز. [النساء:171].

ابن عباس -رضي الله عنهما- فرمايلي دي: "الله په خپل ټول مخلوق د الوهيت او بنده ګۍ حقدار دی". او الله – سبحانه و تعالى - خورا محبوب ذات دی چې روحونه يې غواړي، او د هغه په ياد او نږدېوالي سره د آرامۍ احساس کوي، او هغه ته ليوالتيا لري،

﴿وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَتَّخِذُ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَندَادٗا يُحِبُّونَهُمۡ كَحُبِّ ٱللَّهِۖ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَشَدُّ حُبّٗا لِّلَّهِۗ ....﴾ [البقرة: 165]

او په خلقو کې ځينې هغه څوک دي چې له الله نه غير شريکان نيسي، له هغوی سره مينه کوي له الله سره د مينې په شان، او هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی؛ له الله سره په مينه کې ډېر سخت (او کلک) دي. [البقرة:165].

او له هغه – سبحانه وتعالى - څخه په هر مصيبت او آفت کې مرسته غوښتل کيږي.

﴿وَمَا بِكُم مِّن نِّعۡمَةٖ فَمِنَ ٱللَّهِۖ ثُمَّ إِذَا مَسَّكُمُ ٱلضُّرُّ فَإِلَيۡهِ تَجۡـَٔرُونَ ٥٣﴾ [النحل: 53]

او پر تاسو چې هر نعمت شوی دی، نو د الله له طرفه دی، بیا چې کله تاسو ته ضرر درورسېږي، نو (بیا هم) خاص هغه ته زاري کوئ. [النحل:53]

. او هغه – سبحانه و تعالی – هغه ذات دی چې عقلونه ورته حیرانیږي، او عقلونه هغه نشي احاطه کولی، او پوهه يې نشي درک کولی، او شکونه د هغه عظمت ته نه رسي، او مخلوق د هغه د علم احاطه نشي کولای.

﴿..... وَلَا يُحِيطُونَ بِهِۦ عِلْمًا ﴿١١٠﴾﴾ [طه: 110]

او دوی د هغه د علم احاطه نشي کولی [طه:110].

الله –تبارک و تعالی-: هغه ذات دی چې زړونه يې په مينې او تواضع سره معبود مني، په ويرې، حرص، امید، تعظیم او اطاعت سره.

هغه حقيقي معبود دی او له هغه پرته چې د څه عبادت کیږي هغه باطل دي، له عرش څخه يې نیولې د زمکې تر پای پورې.

او الله -عزوجل-: د الوهیت د ټولو صفتونو لرونکی دی، او هغه د: کمال، جلال، ښایست او عظمت صفتونه دي، پداسې حال کې چې د هغه - جل جلاله - څخه يې مخالف صفتونه نفي دي.

زړونه يې عبادت کوي، او روحونه يې غواړي..

لدې امله؛ کله چې بنده د (الله) د نوم په معنی پوه شو نو زړه يې له خپل رب سره وتړل شي؛ او په هغه کې مشغول شي؛ په مينه، ليوالتيا او خوند سره، چې له هغه څخه ښکلی  او بهتر نشته، او دا تر ټولو لوی څيز دی چې عبادت کوونکي يې پرېې عبادت کوي، او نږدې کیدونکي هغه ته نږدې کیږي.

﴿....فَسَوۡفَ يَأۡتِي ٱللَّهُ بِقَوۡمٖ يُحِبُّهُمۡ وَيُحِبُّونَهُۥٓ ....﴾ [المائدة: 54]

(يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُ) (هغه له دوی سره مینه لري او دوی له هغه سره مینه لري) [المائدة: 54]

، او د حالت پاکوالی د الله د نومونو او صفاتو د پوهې د پاکوالي پر بنیاد دی.

شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله فرمايلي: په دې دنیا کې یو جنت دی که څوک هغه ته داخل نشي هغه به د آخرت جنت ته داخل نشي.

او ځینو عارفانو ویلي دي: ځیني وختونه په زړه داسې حالات تیریږي چې وایم : که جنتیان په داسې حال کې وي، نو واقعا چې هغوی به ښه ژوند ولري!

ابن عینیه ویلي: "الله خپلو بندګانو ته تر دې ښه نعمت ندی ورکړی چې دا یې ورښودلي ده چې : لا اله الا الله) ووایي، هغه وفرمایل: او لا اله الا الله به د دوی لپاره په آخرت کې داسې حیثیت ولري لکه څرنګه چې دنیا کې دوی ته اوبو حیثیت درلوده"

او مؤمن پوهیږي چې دا حالت د بنده په توان او ځواک کې ندی، هغه یوازې (الله) دی چې هر کله خپل بنده سره مینه ولري د هغه په زړه کې د هغه مینه ځای پر ځای کوي، بیا کله چې بنده د هغه په توفیق سره ورسره مینه وکړي، نو الله به هغه ته د بلې مینې بدله ورکړي او دا هماغه: خالص احسان دی؛ ځکه چې سبب او مسبب د هغه لخوا څخه دي.

اسم اعظم )ستر نوم:(

قرطبي وایې چې ځینو علماوو ویلي دي: د (الله) نوم: تر ټولو لوی نوم دی، هغه چې که په هغه سره راوبلل شي نو قبلوي یې او که په هغه سره ترې وغوښتل وشي، نو ورکوي یې.

رسول الله صلی الله علیه وسلم له یو سړي څخه واوریده چې ویل یې: اې الله! زه له تا سوال کوم پدې چې شاهدي ورکوم چې ته الله یې، له تا پرته بل معبود نشته، یو او بې نیازه ذات، چې نه زیږیدلی او نه څوک له هغه زیږیدلي، او هیڅوک د هغه برابر نشته؛ نو رسول الله -صلی الله علیه وسلم- وفرمایل: " قسم په هغه ذات چې زما ژوند د هغه په لاس کې دی! هغه له الله څخه په خپل لوی نوم غوښتنه وکړه کوم چې که په دې نوم ورته بلنه ورکړ شي ځواب ورکوي، او که ترې وغواړي ورکوي یې". [حدیث صحیح دی. اصحاب السنن او أحمد په خپل مسند کې روایت کړی].

او دا یوازیني نوم دی چې په ټولو حدیثونو کې ذکر شوي چې رسول الله -صلی الله علیه وسلم- ویلي دي چې په دې کې د الله لوی نوم دی.

او پدې نوم سره عام ماثوره اذکار یو ځای ذکر شوي دي؛ نو تهلیل(لا اِله اِلا الله)، تکبیر(الله أکبر) تحمید(الحمد لله) تسبیح(سبحان الله) حوقله(لا حول ولا قوة اِلا بالله)

حسبله(حسبی الله و نعم الوکیل) استرجاع(إنا لله و إنا إليه راجعون) بسم الله او نور اذکار له دې نوم سره يو ځای ذکر شوي دي او له دې نه جلا کيږي.

دا د الله د ښکلي نومونو اصل دی؛ او هغه د دغو نومونو څخه هيڅ يو ته هم نه منسوبيږي، حال دا چې د نورو ټولو نيکو نومونو اضافت دې نوم ته کيږي، او داسې نه ويل کيږي چې: الله د رحمان له نومونو څخه دی، او يا د رحيم له نومونو څخه يو نوم دی، بلکې ويل کيږي: چې رحمان يا رحيم د الله له نومونو څخه دی،

﴿وَلِلَّهِ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰ فَٱدۡعُوهُ بِهَاۖ .....﴾ [الأعراف: 180]

او خاص د الله لپاره تر ټولو ښکلي نومونه دي نو په دغو (نومونو) سره يې راوبلئ. [الأعراف:180].

او ډيری وخت الله –جل جلاله- د (اللهم) په لفظ سره ياديږي، او رسول الله -صلی الله عليه وسلم- به ډېر ځله خپل رب داسې باله او ويل به يې: اللهم!

حسن بصري -رحمه الله- فرمايي: «اللهم: د دعاګانو مجموع ده، کله چې سوالکونکی ووايي: اللهم إني أسألك! (اې الله زه له تا څخه دا غوښتنه کوم! دا په دې معنا ده لکه چې وايي: زه له الله -جل جلاله- څخه غوښتنه کوم چې تر ټولو ښکلي نومونه او لوړ صفتونه لري، د هغه په نومونو او صفتونو سره».

د تبرک او تيمن له وجې په دغه نوم سره هر کار پيل کيږي.

همدارنګه د قرآن په لومړي آيت کې لومړی نوم دی:

﴿بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ١ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٢﴾ [الفاتحة: 1-2]

او يا [الفاتحة: 1]،

او دا همدارنګه وروستی نوم دی چې په ﴿إِلَٰهِ ٱلنَّاسِ ٣﴾ [الناس: 3]سورت الناس (الناس: 3) کې ياد شوی دی.

دا په شهادت کې يوازينی نوم دی چې له کفر څخه اسلام ته انتقالول کوي: أشهد أن لا إله إلا الله، (زه ګواهي ورکوم چې له الله پرته بل معبود نشته) او له دې نوم پرته شهادت د اعتبار وړ نه دی.

ددې نوم له عزت ښخه دا دی: چې الله به هغه په آخر زمان کې له ځمکې ښخه پورته کړي کله چې د مومنانو روحونه واخیستل شي، رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فرمايلي: "قيامت به پر هېڅا نه قائمېږي ترڅو چې د: الله.. الله ويونكي شتون ولري" [امام مسلم روايت کړی]. دا د الله ښكلي نومونو کې تر ټولو ډېر په قران کريم کې ذکر شوی دی؛ چې له دوه زره دوه سوه ښخه ډېر ځله ذکر شوی دی، ځينو علماوو د الله تعالی د دې قول سره ويلي:

﴿قُلِ ٱدۡعُواْ ٱللَّهَ أَوِ ٱدۡعُواْ ٱلرَّحۡمَٰنَۖ ....﴾ [الإسراء: 110]

«ته (دوی ته) ووايه: تاسو الله بلئ، يا تاسو رحمٰن بلئ»: [سورت اسراء: ايت ١١٠]

دغه دوه نومونه د دوی د شرف او عزت له وجې خاص شوي دي، او د الله د نوم په مخکې کولو سره د الرحمن نوم لپاره شرف دی. په صحيح حديث کې له رسول الله -صلى الله عليه وسلم- ښخه ثابت شوي دي چې فرمايي: "ستاسو په نومونو کې الله – عزوجل- ته تر ټولو غوره نومونه: 'عبدالله' او' عبدالرحمن دي" [مسلم روايت کړی].

له الله سره اوسه هغه به له تا سره اوسي!

او بنده كه الله ته په خپله خوښه او اختيار رجوع ونکړي؛ هرومرو به هغه ته د اړتيا له مخې رجوع کوي.

په عاجزۍ سره ودرېږه او په لوړ آواز ووايه يا الله ... کريم ذات هغه چاته ځواب ورکوي چې راوېې بلي

او همدارنګه کله چې غربت او يا تکليف درباندې راشي ... نو الله راوبله او ووايه، يا الله

نو که انديښنه او غم راشي، او سختۍ زياتې شي، او حادثه لويه شي، او لارې تنګې شي، او چارې خلاصې شي؛ نو غږ کوونکی آواز وکړي: يا الله!

کله چې د ناروغ ناروغي سخته شي، او ډاکټر ناتوانی شي؛ نو آواز وکړي: يا الله! که کښتۍ د سمندر په تيارو کې ډوبيدو ته نږدې شي، او سيلۍ پرې لوبې وکړي؛ نو غږ

کوونکی آواز وکړي: یا الله! کله چې ځمکه وچه شي، فصلونه مړه شي، ونې وچې شي؛ نو غږ کوونکی غږ وکړي چې : یا الله!

دا الله دی: په سختیو کې پناه ځای، په یوازیتوب کې آرام ګاه، او په لړوالي کې مرسته کوونکی.

خلک بې وسه دي چې زیان ورسوي ترڅو چې الله د هغه اجازه نه وي ورکړې، او یا ګټه ورسوي ترڅو چې الله اجازه نه وي کړې؛ نو خپل زړه په الله وتړه!

د الله له رسۍ پرته ټولې رسۍ پرې کېدونکې دي، او د الله له دروازې پرته ټولې دروازې بندېږي،

﴿أَمَّن يُجِيبُ ٱلۡمُضۡطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكۡشِفُ ٱلسُّوٓءَ ...﴾ [النمل: 62]

(بلکې هغه ذات (غوره دی) چې د مجبور ( او عاجز) سوال قبلوي) [النمل:62] .

نسفي -رحمه الله- فرمايي: «واسطي ويلي دي: هغه څوک چې الله باندې ځان بې نیازه کړي هېڅکله به بل چاته محتاج نشي، او څوک چې د الله په واسطه عزتمن او غالب شي هغه به هېڅکله نه ذلیل کیږي؛ او حسین وویل: د بنده افتقار الله ته چې په هره پیمانه وي، په هماغه پیمانه به په الله باندې غني او بې نیازه وي».

اې اندیښنه کونکیه! اندیښنه له منځه تلونکې ده ... د ښه زیري په تمه اوسه، ځکه چې خلاصوونکی الله دی ... نا امیدي کله ناکله خپل خاوند پرې کوي ... او مه نا امیده کیږه، ځکه چې الله کافي دی ... الله له سختۍ وروسته اسانتیاوې پیدا کوي ... غم مه کوه، ځکه چې ویشونکی الله دی

او کله چې ګرفتار شوې، نو په الله توکل وکړه او په هغه راضي شه ... هغه څوک چې مصیبت لرې کوي هغه الله دی ... قسم په الله چې ستا لپاره له الله پرته بل څوک نشته... نو الله تاته کافي دی، په هر څه کې ستا لپاره الله دی

لا إله إلا الله؛ (له الله پرته بل معبود نشته)؛ په رېښتیا چې موږ په حق سره ستا عبادت ندی کړی!

اې الله! موږ له تا څخه د جنت غوښتنه کوو او هر هغه څه چې جنت ته مو په وینا او عمل سره نږدې کوي، او له اور څخه پناه غواړو او هغه څه چې اور ته مو په وینا او عمل سره نږدې کوي.

3

## رب – جل جلاله-

دروازه ټکول..

اې ربه! موږ له تا څخه ستا په عزت او زموږ په ذلت، ستا په ځواک او زموږ په کمزورۍ، او زموږ څخه ستا په بې احتیاجۍ او تاته زموږ په بې وزلۍ سوال کوو؛ زموږ درواغجن او خطاکار مخونه ستا پر وړاندې قرار لري، له موږ پرته ستا بندګان ډېر دي، مګر ستا پرته زموږ لپاره بل معبود نشته، ستا پرته بل هېڅ د پناه او خلاصون ځای نشته مګر همدا ته یې.

موږ له تا څخه د مسکینانو په څیر غوښتنه کوو، او مونږ ستا د رحمت د لاسته راوړلو لپاره د سترتیا تر کچې په ټوله عاجزۍ ستا په وړاندې خپله ذلت او عاجزي ښکاره کوو ، او د ویریدونکي ړوند په څیر دعا کوو.

د هغو کسانو په څیر غوښتنه کوو چې د هغوی سرونه ستا په وړاندې ټیټ دي او پوزې ستا په وړاندې په خاورو ککړې دي، او سترګې یې تا ته له اوښکو ډکې دي، د دوی زړونه تا ته ذلیل دي: چې ته مونږ او ټولو مسلمانانو ته بخښنه وکړې، او موږ په خپل رحمت کې داخل کړه، اې تر ټولو زیات مهربان ذاته!

بنده له خپل رب پرته له بل چا مرسته وغواړي

او څوک دی د یو ځوان لپاره د سختیو او کړاوونو په وخت کې

او د دنیا او د هغې د خلکو مالک څوک دی

او هغه څوک دی چې لرې او نږدې مصیبت لرې کوي

او څوک دی چې د وخت ناکردۍ له منځه وړي کله چې را نازلې شي

او ایا دا یوازې ستا له کارونو څخه ندي، اې زما ربه

په دې کرښو کې موږ د الله د یو له خورا ښکلي نومونو څخه د خبرو کولو ویاړ لرو چې هغه: رب – تبارک و تعالی- دی:

هغه - جل و علا- فرمایلي:

﴿رَبُّ ٱلۡمَشۡرِقَيۡنِ وَرَبُّ ٱلۡمَغۡرِبَيۡنِ۝١٧﴾ [الرحمن: 17]

[(هغه د ژمي او د اوړي) د دواړو مشرقونو رب دی او (د ژمي او د اوړي) د دواړو مغربونو رب دی] [الرحمن: 17]

الله -سبحانه و تعالی- فرمایي:

﴿سَلَٰمٞ قَوۡلٗا مِّن رَّبّٖ رَّحِيمٖ۝٥٨﴾ [یس: 58]

زمونږ رب، خالق، مالک، چار سمبالی، تصرف کوونکی، د ښتتنانو ښښتن او د بندګانو معبود، د سلطنتونو، پاچاهانو او ټولو بندګانو مالک، او هغه داسې ذات دی چې د هغه د مخلوقاتو د ګټو لپاره یې هر څه ترتیب کړي، او هغه پر دوی زورور او د هغوی– د انسانانو او پیریانو - د چارو سمبالوونکی دی، د دنیا او آخرت پالونکی دی. [یس: 58]

او د هغه ربوبیت د مخلوق لپاره په دوه ډوله دي:

عمومي ربوبیت: چې ټول مخلوقات پکې شامل دي؛ ښه او بد، مومن او کافر، حتی جمادات.

هغه دا دی: چې د هغوی پالنه وکړي په پیدایښت، روزۍ او اداره کولو، انعام او عطا ورکولو سره.

او ځانګړی ربوبیت، او هغه: د الله –تبارک و تعالی- پالنه د هغه د اولیاوو او خاصو بندګانو ده؛ هغه دا چې هغوی ته په ایمان راوړلو باندې لارښوونه کوي او پدې لاره کې هغوی ته توفیق ورکوي، او د دوی زړونه، ارواح او اخلاق سموي، او هغوی له تیارو څخه رڼا ته راوباسي.

او هغه: د هر خیر لپاره توفیق، او د هر شر څخه ساتنه ده.

ټوله ستاینه خاص ستا لپاره ده..

او زموږ رب – سبحانه وتعالی - خپل ځان په رب العالمین باندې توصیف کړی:

﴿ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٢﴾ [الفاتحة: 2]

(ټول (د کمال) صفتونه خاص د الله لپاره دي چې د ټولو عالَمونو ښه پالونکی دی) [الفاتحة:2]

او خپل ځان یې د عرش د څښتن په توګه توصیف کړی ، الله -تبارک و تعالی- فرمايلي:

﴿سُبۡحَٰنَ رَبِّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ رَبِّ ٱلۡعَرۡشِ عَمَّا يَصِفُونَ ٨٢﴾ [الزخرف: 82]

( پاكي ده د آسمانونو او ځمكې رب لره، د عرش رب لره له هغه څه نه چې دوى يې (د هغه په باره كې) بيانوي) [الزخرف:82]،

﴿ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ رَبُّ ٱلۡعَرۡشِ ٱلۡعَظِيمِ۩ ٢٦﴾ [النمل: 26]

(الله چې دی، نشته هیڅ لایق د عبادت مګر هم دی دی، د ډېر ستر عرش رب دی) [النمل:26]

. او خپل ځان یې د اسمانونو او ځمکې د څښتن په توګه توصیف کړی؛ الله -تبارک و تعالی- فرمايي:

﴿سُبۡحَٰنَ رَبِّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ رَبِّ ٱلۡعَرۡشِ عَمَّا يَصِفُونَ ٨٢﴾ [الزخرف: 82]

( پاكي ده د اسمانونو او ځمكې رب لره، د عرش رب لره له هغه څه نه چې دوى يې (د هغه په باره كې) بيانوي) [الزخرف:82]

. نو پدې وجې سره ټولو مخلوقاتو د رب –سبحانه وتعالی- ستاینه وکړه :-

﴿...وَقِيلَ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٧٥﴾ [الزمر: 75]

(او وبه ويل شي: ټول د كمال صفتونه خاص د الله لپاره دي چې د عالمونو ښه پالونكى دى) [الزمر: 75]

، نو هغه په دنيا او آخرت کې د ستاینې ور دی:

﴿دَعۡوَىٰهُمۡ فِيهَا سُبۡحَٰنَكَ ٱللَّهُمَّ وَتَحِيَّتُهُمۡ فِيهَا سَلَٰمٞۚ وَءَاخِرُ دَعۡوَىٰهُمۡ أَنِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ﴾ [يونس: 10]

د دوی وینا به په دغو (جنتونو) کې سُبْحَانَكَ اللهم (ای الله! ستا پاکي بیانوو) وي او په دغو (باغونو) کې به د دوی ډالۍ سلام وي او د دوی د وینا اخر به دا وي چې ټول صفتونه خاص الله لره دي چې د ټولو عالمونو ښه پالونکی دی) [یونس:10].

د خزانو کلیانې ..

او کله چې پیغمبران او صالحان پوه شول چې دا نوم د دعا کلي ده؛ دوی په خپلو دعاګانو کې الله ته په همدې نوم عاجزي او دعاوې وکړې.

نوح -علیه السلام- په همدې نوم دعا وکړه:

﴿رَّبِّ ٱغۡفِرۡ لِي وَلِوَٰلِدَيَّ وَلِمَن دَخَلَ بَيۡتِيَ مُؤۡمِنٗا وَلِلۡمُؤۡمِنِينَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِۖ ...﴾ [نوح: 28]

[ اې زما ربه! ته ما وبخښه او زما مور و پلار او هغه څوک (هم) چې زما کور ته داخل شي، چې ایمان لرونکی وي اومومن سړي او مومنې ښځې (وبخښه)] [نوح:28].

په همدې نوم باندې ابراهیم او اسماعیل -علیهما السلام- دعاوې وکړې:-

﴿وَإِذۡ يَرۡفَعُ إِبۡرَٰهِـۧمُ ٱلۡقَوَاعِدَ مِنَ ٱلۡبَيۡتِ وَإِسۡمَٰعِيلُ رَبَّنَا تَقَبَّلۡ مِنَّآۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ﴾ [البقرة: 127]

(اې زمونږه رَبه! زمونږ نه (دا عمل) قبول کړه، ته چې یې، خاص ته، ښه اورېدونکی، ښه عالم یې) [البقرة:127].

په همدې نوم باندې مصطفی -علیه الصلاة والسلام- دعا کړې ده:-

﴿وَقُل رَّبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنۡ هَمَزَٰتِ ٱلشَّيَٰطِينِ ۝ وَأَعُوذُ بِكَ رَبِّ أَن يَحۡضُرُونِ﴾ [المؤمنون: 97-98]

(او ته ووایه: اې زما ربه! زه په تا پورې پناه نیسم د شیطانانو له وسوسو نه) (او زه په تا پورې پناه نیسم اې زما ربه! له دې نه چې دوی ما ته حاضر شي) [المؤمنون:97-98].

اې ربه!

او هرکله چې په رسول الله - صلى الله عليه وسلم - ته ستونزه متوجه کیدله، او مصیبت ورته رسیده، هغه به ویل: «لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ العَظِيمُ الحَلِيمُ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ رَبُّ العَرْشِ العَظِيمِ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَرَبُّ الأَرْضِ، وَرَبُّ العَرْشِ الكَرِيمِ» "له الله پرته بل معبود نشته، لوی او حلیم ذات دی، له الله پرته بل معبود نشته، د لوی عرش څښتن دی، له الله پرته بل معبود نشته، د اسمانونو او ځمکې څښتن، او د عزتمند عرش څښتن دی". [د بخاري او مسلم روایت]

او که څوک په خپله خوښه د رب –جل و علا- په نومونو سره دعاوې نکوي؛ هغه ته به د مجبورۍ له مخې ورګرځي، هغه ناروغ چې په خپل بستر کې دی، او د ناروغۍ سره مبارزه کوي، هغه غږ کوي: اې ربه، ای ربه! نو همدا ده چې روغتیا د الله له جانبه راځي، او شفا د هغه– تبارک و تعالی - لخوا را نازلیږي.

او فقیر د هغه په نوم سره دعا کوي؛ هغه څوک چې د کجورې د دانې د پردې په اندازه څه شی نه لري، په بدبختۍ سره ساه اخلي، او له بې وزلۍ څخه غږ اوچتوی: اې ربه.. ای ربه! نو ناڅاپه رب د هغه اړتیا پوره کوي، او یوازې هغه – تبارک و تعالی - مصیبت ورڅخه لیرې کوي.

او وږی غږ کوي، او هغه د لوږې په خاطر ځان ګونج کړی وي، او هغه د ضرر له وجې ژاړي: اې ربه.. اې ربه! نو ناڅاپه رزق کې پټ شي او د الله - تعالی - ورکړې پرې راووریږي.

او مظلوم کس هغه ته پناه وړي، په داسې حال کې چې هغه خپلې ګرمې اوښکې پاکوي، او خپل ګرم فریاد پټوي: اې ربه، اې ربه! همدا ده چې ستره بریا او ښه نتیجه ترلاسه کړي.

حافظ ابن رجب -رحمه الله- فرمايي: "د الله د ربوبیت په تکرار سره ټینګار کول یو له لویو شیانو څخه دي چې د دعا ځواب پرې غوښتل کیږي".

اې ربه، خپل کوچنی بنده له تکلیف څخه خلاص کړه ... او د هر هغه څه څخه چې شکایت لري او ورته رسیدلی دی آرام یې کړه

او رب له ياده باسو!!

رب څومره عظيم الشان، بهتره بادشاهي، لوړ مقام لري، خپل مخلوق ته نږدې، او په خپلو بندګانو رحم او لطف کونکی دی.

د الله – تبارک و تعالی - ربوبيت؛ د عظمت او جلال ربوبيت دی،

﴿سَبِّحِ ٱسۡمَ رَبِّكَ ٱلۡأَعۡلَى ۝١﴾ [الأعلى: 1]

(ته پاکي بيان کړه د خپل رب د نامې چې تر ټولو اوچت دی) [الأعلى سورت: ايت 1]

. د هغه –سبحانه و تعالی- ربوبيت، برکت، وده او ورکړه ده.

﴿.... تَبَارَكَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ۝٥٤﴾ [الأعراف: 54]

(ډېر برکت والا دی الله چې رب د ټولو مخلوقاتو دی) [الأعراف سورت: ايت 54]

. د هغه –سبحانه و تعالی- ربوبيت : پرده اچول او بخښنه ده.

﴿لَقَدۡ كَانَ لِسَبَإٖ فِي مَسۡكَنِهِمۡ ءَايَةٞۖ جَنَّتَانِ عَن يَمِينٖ وَشِمَالٖۖ كُلُواْ مِن رِّزۡقِ رَبِّكُمۡ وَٱشۡكُرُواْ لَهُۥۚ بَلۡدَةٞ طَيِّبَةٞ وَرَبٌّ غَفُورٞ ۝١٥﴾ [سبأ: 15]

(دا ښار) پاکيزه ښار دی او (ستاسو) رب دی ډېر بخښونکی دی) [سبإ سورت: ايت 15]

. د هغه –سبحانه و تعالی- ربوبيت؛ عزت، قوت، غلبه او څواک دی.

﴿رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَا ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡغَفَّٰرُ ۝٦٦﴾ [ص: 66]

(چې رب دی د اسمانونو او ځمکې او د هغه څه چې د دواړو په مينځ کې دي، چې ډېر غالب، ښه بخښونکی دی) [ص سورت: ايت 66]

. او د هغه –سبحانه و تعالی- ربوبيت: رحمت دی.

﴿رَّبِّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَا ٱلرَّحۡمَٰنِۖ ...﴾ [النبأ: 37]

(چې د اسمانونو او ځمکې رب دی او د هغه څه چې د دغو دواړو په مينځ کې دي، چې ډېر زيات مهربان دی) [النبأ سورت: ايت 37].

او د هغه –سبحانه و تعالی- ربوبيت: سخاوت دی.

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡإِنسَٰنُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ ٱلۡكَرِيمِ ۝٦﴾ [الانفطار: 6]

(اې (کافره) انسانه! ته په خپل کريم (او سخي) رب باندې څه شي دوکه کړی يې) [الانفطار سورت : ايت 6].

لا إله إلا الله الواحد الأحد (له الله پرته بل معبود نشته چې يو دی)، واقعاً چې موږ په حق سره ستا عبادت نه دی کړی، اې زموږ ربه!

څوک چې پوه شي چې الله –سبحانه و تعالی- رب الارباب دی، له هغه پرته بل څوک د خپل رب په توګه نه نيسي، او د هغه په ربوبيت به راضي وي، او څوک چې راضي شي د ايمان خوند به وڅکي، او د هغه – عليه الصلاة والسلام- څخه روايت دی چې فرمايلي دي: "څوک چې په الله رب، په اسلام دين او د محمد په پېغمبرۍ راضي شو، نو د ايمان خوند يې وڅاکه". [مسلم روايت کړی].

﴿وَقُل رَّبِّ ٱغۡفِرۡ وَٱرۡحَمۡ وَأَنتَ خَيۡرُ ٱلرَّٰحِمِينَ١١٨﴾ [المؤمنون: 118]

(او ته ووايه: ای زما ربه! بخښنه وکړه او رحم وکړه او ته ترټولو ډېر غوره رحم کوونکی يې) [المؤمنون سورت :ايت 118].

ابن رجب -رحمه الله- فرمايلي: "د الله د ربوبيت په تکرار سره پر هغه ټينګار کول يو له لويو شيانو څخه دی چې د دعا قبليدل پرې غوښتل کيږي".

اې زموږ ربه! ستا د رحمت هيله لرو؛ د سترګو د رپ په اندازه مو هم خپل ځان ته مه پرېږده، او خپل رحمت کې مو داخل کړه.

اې زمونږه ربه! بخښنه وکړه او رحم وکړه او ته تر ټولو ښه رحم کوونکی يې.

5 - 4

## يوازې يو الله -جل جلاله-

په صحيح بخاري کې راغلي دي چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- وفرمايل: «ابراهيم -عليه السلام- به د قيامت په ورځ له خپل پلار آزر سره ملاقات وکړي او د آزر پر مخ به خاورې او دوړې پرتې وي، ابراهيم به ورته ووايي: آيا ما تا ته و نه ويل چې زما نافرماني مه کوه! پلار به يې ووايي: نن به زه ستا نافرماني ونکړم، ابراهيم به وايي: اې زما ربه! تا له ما سره وعده کړې وه چې د بيا ژوندي کيدو په ورځ به ما نه رسوا کوې. تر ټولو ذلت او شرم به کوم وي چې په خپل پلار ذليل

شم؟! الله –تعالی- به وفرمايي: ما پر کافرانو جنت حرام کړی دی، بيا به وويل شي: اې ابراهيمه! ستا د پښو لاندې څه دي؟ بيا به هغه وګوري چې يو ليوه په ختو يا په خپلو خرشنو کې لت پت پروت دی، بيا به هغه د خپلو پښو څخه ونيول شي او اور ته به واچول شي».

الذيخ: نر ليوه چې ډېر ويښتان ولري.

زمونږ مهربان رب – سبحانه و تعالی - د ابراهيم -عليه السلام- شفاعت د خپل پلار په حق کې نه مني؛ ځکه چې پلار يې مشرک مړ شوی، او الله جنت په هر مشرک کافر باندې حرام کړی، او دا چې الله له ابراهيم سره وعده کړې وه چې د قيامت په ورځ به هغه نه رسوا کوي، په هغه ورځ به د هغه پلار د ليوه په څېر مسخه کړي، او اور ته به واچول شي، نو هيڅ څوک به پوه نشي چې هغه د ابراهيم پلار و، نو د هغه په وجه به نه شرميږي.

د خليل الله شفاعت د مشرک په حق کې الله نه مني؛ نو د هغه چا شفاعت به څنګه ومنل شي چې له خليل -عليه السلام- څخه يې مقام ټيټ وي؟!

الله -سبحانه وتعالی- فرمايي :

﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغۡفِرُ أَن يُشۡرَكَ بِهِۦ وَيَغۡفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُۚ وَمَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱفۡتَرَىٰٓ إِثۡمًا عَظِيمًا ٤٨﴾ [النساء: 48]

(بېشکه الله نه بخښي دا چې له هغه سره دې (څوک) شريك کړی شي او هغه بخښي هغه (ګناه) چې له دې (شرك) نه کمه وي د چا لپاره چې وغواړي او څوک چې له الله سره شريك ونيسي، نو يقينًا هغه ډېره لويه ګناه راجوړه کړله). [النساء سورت: ايت 48].

نو لدې کبله؛ بنده باندې د ټولو نه لوی واجب دا دی چې: په عبادت کې د الله وحدانيت ته پام وکړي.

او الله –سبحانه و تعالی- د خپل ذات ستاينه کړې ده چې هغه -عزوجل- يو او واحد دی:-

﴿قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ١﴾ [الإخلاص: 1]

(اې نبي!) ته (دوی ته) ووايه: شان دا دی چې الله يو دی). [الإخلاص سورت: ايت 1]،

﴿..... وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعۡبُدُوٓاْ إِلَٰهٗا وَٰحِدٗاۖ لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۚ سُبۡحَٰنَهُۥ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ٣١﴾ [التوبة: 31]

( حال داچې دوی ته حکم نه و شوی مګر د دې چې دوی دې د يو حق معبود عبادت کوي چې نشته هېڅ حق معبود مګر همدی دی) [التوبة سورت: ايت31].

موږ د دې دوو نومونو سره تم کېږو او د هغو له سيوري څخه ګټه پورته کوو؛ د دې لپاره چې الله -تعالی- موږ باندې خپل توحيد ولوروي، او ښه ايمان چې د هغه د يووالي او وحدانيت ځرګندوينه وکړي:

زموږ رب – عزوجل – چې د جلال او عظمت صفاتو باندې ځانګړی دی، د عظمت، لويي او ښايست له صفتونو سره يو او تنها دی، هغه په خپل ذات کې يو دی؛ د هغه په څير هيڅ شی نشته.

هغه په خپل ذات کې يو دی؛ د هغه په څير هيڅ شی نشته.

او يو دی په صفتونو کې؛ بې مثال دی.

او يو دی په خپلو کړنو کې؛ هغه هيڅ شريک او ملاتړی نلري.

او يو دی په خپل الوهيت کې؛ له هغه سره په مينه، تعظيم، خشوع او خضوع کې برابر څوک نشته.

هغه واحد ذات دی چې عظيم صفتونه لري؛ تر دې چې هغه ټول کمال يې ځانته خاص کړ، او ټولو مخلوقات و نشو کولای چې د هغه يو څه صفتونو باندې احاطه ولري، او يا د هغه د ستاينو يو څه درک ولري؛ او لرې خبره ده چې څوک د هغه په صفتونو کې ورته والی ولري.

فطرت ..

او وحدانيت: دا د پيغمبرانو د بلنې لنډيز او د دوی د پيغامونو بنسټ دی:

﴿قُلۡ إِنَّمَا يُوحَىٰٓ إِلَيَّ أَنَّمَآ إِلَٰهُكُمۡ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞۖ فَهَلۡ أَنتُم مُّسۡلِمُونَ ١٠٨﴾ [الأنبياء: 108]

(ووايه: بېشکه همدا خبره ده چې ما ته وحې کولی شي چې يقينًا هم دا خبره ده چې ستاسو حق معبود يو معبود دی، نو ايا تاسو اسلام راوړونکي يئ؟) [الأنبياء سورت: ايت 108].

او وحدانيت: دا د الله –سبحانه و تعالی- هغه فطرت دی چې خلک يې په هغه پيدا کړي، او د هغه ترون چې هغه يې له خلکو څخه اخيستی، او د هغه د رسولانو بلنه چې په هغه باندې ليږل شوي، او د هغه ليکلو بيان چې هغه نازل کړی دی.

او د هغه لپاره د جنت او د دوزخ بازار جوړ شوی، د هغې لپاره صراط (پول) کيښودل شوی، او صحيفې الوتلې، او تله کيښودل شوې، او د ملت توره راوتلې، او د جهاد بيرغ پورته شوی، او د شهيدانو روحونه الوتلي، او د مرګ خوند خوړ شوی، او مرګونو ته د جنګياليو روحونه ورډالۍ شوي دي

﴿قُلۡ إِنَّمَآ أَنَا۠ بَشَرٞ مِّثۡلُكُمۡ يُوحَىٰٓ إِلَيَّ أَنَّمَآ إِلَٰهُكُمۡ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞ فَٱسۡتَقِيمُوٓاْ إِلَيۡهِ وَٱسۡتَغۡفِرُوهُۗ وَوَيۡلٞ لِّلۡمُشۡرِكِينَ ٦﴾ [فصلت: 6]

( ته (دوی ته) ووايه: بېشکه هم دا خبره ده چې زه ستاسو په شان بشر يم، ما ته دا وحي کولی شي چې بېشکه همدا خبره ده چې ستاسو حق معبود يو معبود دی، نو تاسو ده ته مستقيم (او درست) اوسئ او له ده نه مغفرت غواړئ او د مشرکانو لپاره هلاکت دی). [فصلت سورت: ايت 6].

او د و حدانيت په بيان او دين ته د اخلاص په واجبوالي سره الله –سبحانه و تعالی- فرمايلی:-

﴿وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ حُنَفَآءَ وَيُقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤۡتُواْ ٱلزَّكَوٰةَۚ وَذَٰلِكَ دِينُ ٱلۡقَيِّمَةِ ٥﴾ [البينة: 5]

( حال دا چې دوی ته حکم نه و ورکړی شوی مګر په دې چې دوی دې د الله عبادت کوي، په داسې حال کې چې دين (عبادت) دغه (الله) لره خالص کوونکې وي (او) حنيفان (له باطله حق ته راګرځېدونکې) وي، او (د دې چې) دوی دې لمونځ قايموي او زکات دې ورکوي اوهم دغه ډېر محکم دين دی). [البيِّنة سورت: ايت 5].

او الله –سبحانه و تعالی- خپل وحدانيت ته په تسليمۍ او عظمت باندې امر کړی دی: ﴿... فَإِلَٰهُكُمۡ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞ فَلَهُۥٓ أَسۡلِمُواْۗ وَبَشِّرِ ٱلۡمُخۡبِتِينَ ٣٤﴾ [الحج: 34]

( نو ستاسو حق معبود يو معبود دی، نو تاسو خاص هغه ته غاړه کېږدئ او عاجزي کوونکو ته زېری ورکړه). [الحج سورت: ايت 34].

ښکاره دلیل:

او په یقین سره چې د مشرکانو عقیده یې باطله کړه؛ الله –سبحانه و تعالی - فرمايي:

﴿۞ وَقَالَ ٱللَّهُ لَا تَتَّخِذُوٓاْ إِلَٰهَيۡنِ ٱثۡنَيۡنِۖ إِنَّمَا هُوَ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞ فَإِيَّٰيَ فَٱرۡهَبُونِ ۝٥١﴾ [النحل: 51]

(او الله وویل: تاسو دوه معبودان مه نیسئ، همدا خبره ده چې هغه یو معبود دی، نو تاسو خاص له ما نه ووېرېږئ). [النحل:51]،

﴿.... ءَأَرۡبَابٞ مُّتَفَرِّقُونَ خَيۡرٌ أَمِ ٱللَّهُ ٱلۡوَٰحِدُ ٱلۡقَهَّارُ ۝٣٩﴾ [یوسف: 39]

(ایا ګڼ او متفرق خدایان غوره دي یا که هغه الله چې یو دی، ډېر قوي او غالب دی) [یوسف سورت: ایت 39].

هغه چا ته په ځواب کې وویل چې وايي: الله له دریو څخه دریم دی:

﴿يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لَا تَغۡلُواْ فِي دِينِكُمۡ وَلَا تَقُولُواْ عَلَى ٱللَّهِ إِلَّا ٱلۡحَقَّۚ إِنَّمَا ٱلۡمَسِيحُ عِيسَى ٱبۡنُ مَرۡيَمَ رَسُولُ ٱللَّهِ وَكَلِمَتُهُۥٓ أَلۡقَىٰهَآ إِلَىٰ مَرۡيَمَ وَرُوحٞ مِّنۡهُۖ فَـَٔامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦۖ وَلَا تَقُولُواْ ثَلَٰثَةٌۚ ٱنتَهُواْ خَيۡرٗا لَّكُمۡۚ إِنَّمَا ٱللَّهُ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞۖ سُبۡحَٰنَهُۥٓ أَن يَكُونَ لَهُۥ وَلَدٞۘ لَّهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلٗا ۝١٧١﴾ [النساء: 171]

( او تاسو مه وايئ چې (معبودان) درې دي، تاسو (له دې نه) منع شئ، ستاسو لپاره به (دا) ډېره ښه وي، یقینًا همدا خبره ده چې الله یو معبود دی). [النساء سورت: ایت 171]

. او له ځانه څخه یې ورته، مثل او مانند، شریک، او برابري په ټولو برخو کې نفي کړه؛ او هغه –تبارک و تعالی- یو دی چې هیڅ ورته والي او نظیر نلري.

﴿..... هَلۡ تَعۡلَمُ لَهُۥ سَمِيّٗا ۝٦٥﴾ [مریم: 65]

(ایا ته د ده کوم همنام پیژنې!) [مریم سورت: ایت 65].

او موږ یې منع کړي یو چې هغه د هغه له کوم مخلوق سره تشبیه کړو، مګر دا چې هغه مونږ ته د خپل ځان په اړه خبر راکړی؛ او هغه خپل ځان ښه پیژني.

او هر هغه څه چې د الله په اړه د خلکو په ذهنونو کې راځي؛ الله له هغه څخه توپیر لري، او هغه لره هیڅ شریک، مثل، او مشابه نشته،

﴿... لَيۡسَ كَمِثۡلِهِۦ شَيۡءٞۖ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ ١١﴾ [الشورى: 11]

(د هغه په مثل هېڅ شی نشته او هم دغه ښه اورېدونکی، ښه لیدونکی دی) [الشورى سورت: ایت 11]

، د هغه په مخلوقاتو کې د هغه مشابه څوک نشته، ځکه هغه لره خورا ښکلي نومونه او لوړ صفتونه دي، او هغه لره کمال، ښکلا، عظمت، جلال او کبریاء دي.

مشرکانو رسول الله -صلى الله عليه وسلم- ته وویل: مونږ ته د خپل رب وصف بیان کړه! آیا هغه د سروزو څخه دی؟ آیا د مسو څخه دی او که د زیږو څخه دی؟ او ځینو یې وویل: د خپل رب نسب بیان کړه، اې محمده!

یهودانو به ویل: مونږ د الله د زوی عزیر عبادت کوو، او نصرانیانو ویل: مونږ د الله د زوی مسیح عبادت کوو، او مجوسیانو به ویل: مونږ د لمر او سپوږمۍ عبادت کوو او مشرکانو به ویل: موږ د بتانو عبادت کوو..

الله -تعالى- د هغوی په ځواب کې وویل:

﴿قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ١﴾ [الإخلاص: 1]

(اې نبي!) ته [(دوی ته) ووایه: شان دا دی چې الله یو دی]. [الإخلاص سورت : ایت 1].

څه چې دوی وایي الله له هغه څخه لوړ دی!

دوی د الله - عزوجل – پر وړاندې جرات وکړ، او لوی جرم یې ترسره کړ، نژدې ده چې اسمانونه لدې نه وچوي، او ځمکه ټوټې ټوټې شي، او غرونه راولوېږي ذرې ذرې شي، په دې خبره چې دوی د الله لپاره اولاد وباله – الله د هغه څه څخه لوړ دي چې دوی یې وایي!

ټول د هغه د ملک او زور لاندې دي، او ټول به د قیامت په ورځ په جلا جلا توګه ورته راځي:

﴿لَّقَدۡ جِئۡتُمۡ شَيۡـًٔا إِدّٗا ٨٩ تَكَادُ ٱلسَّمَٰوَٰتُ يَتَفَطَّرۡنَ مِنۡهُ وَتَنشَقُّ ٱلۡأَرۡضُ وَتَخِرُّ ٱلۡجِبَالُ هَدًّا ٩٠ أَن دَعَوۡاْ لِلرَّحۡمَٰنِ وَلَدٗا ٩١ وَمَا يَنۢبَغِي لِلرَّحۡمَٰنِ أَن يَتَّخِذَ وَلَدًا ٩٢ إِن كُلُّ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ إِلَّآ ءَاتِي ٱلرَّحۡمَٰنِ عَبۡدٗا ٩٣ لَّقَدۡ أَحۡصَىٰهُمۡ وَعَدَّهُمۡ عَدّٗا ٩٤ وَكُلُّهُمۡ ءَاتِيهِ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ فَرۡدًا ٩٥﴾ [مريم: 89-95]

او هر يو له دوی نه ده ته راتلونکی دی په ورځ د قيامت کې يواځې). [مريم سورت: ايتونه 89-95]

. او په صحيح البخاري کې راغلي: رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فرمايلي دي: «قَالَ اللَّهُ: كَذَّبَنِي ابْنُ آدَمَ وَمَا يَنْبَغِي لَهُ أَنْ يُكَذِّبَنِي! وَشَتَمَنِي ابْنُ آدَمَ وَمَا يَنْبَغِي لَهُ أَنْ يَشْتُمَنِي! «الله وفرمايل: د آدم اولاد زما څخه انکار وکړ او د هغه لپاره دا مناسبه نده چې زما څخه انکار وکړي! او د آدم اولاد ما ته ښکنځل وکړل او هغه لره دا مناسبه نه ده چې ما ته ښکنځل وکړي!

فَأَمَّا تَكْذِيبُهُ إِيَّايَ؛ فَقَوْلُهُ: لَنْ يُعِيدَنِي كَمَا بَدَأَنِي، وَلَيْسَ أَوَّلُ الخَلْقِ بِأَهْوَنَ مَا يَكُوْنُ عَلَيَّ مِنْ إِعَادَتِهِ. زما په اړه د هغه انکار؛ د هغه دغه خبره ده چې وايي: هغه به ما بيرته نه راګرځوي لکه څنګه چې يې زه يې پيدا کړی وم، او زما لپاره د هغوی په اول ځل پيدا کول آسانه ندي د هغوی له بيا ځلې پيدا کولو څخه!

وَأَمَّا شَتْمُهُ إِيَّايَ؛ فَقَوْلُهُ: اتَّخَذَ اللهُ وَلَدًا، وَأَنَا اللهُ الأَحَدُ الصَّمَدُ؛ الَّذِي لَمْ أَلِدْ، وَلَمْ أُوْلَدْ، وَلَمْ يَكُنْ لِي كُفُوًا أَحَدٌ». او د هغه ښکنځل کله چې وواېي: الله ځانته يو زوی نيولی، زه، يو الله، او بې نيازه يم، نه مې څوک زيږولي، او نه له چا څخه زيږول شوی يم، او هيڅوک زما برابر نشته».

نو الله – سبحانه وتعالى – واحد ذات دی؛ شريک نلري، او هغه لره په خپل ذات، صفاتو او عملونو کې برابر څوک نشته.

جهان د هغه پر وحدانيت ګواهيورکوي:

د جهان هر خلاقيت، نظم، توافق او همغږي؛ دا په ډاګه کوي: چې ددې خالق او اداره کونکی يو دی، که د دې جهان تر شا له يو څخه ډير اداره کوونکي او تنظيموونکي شتون درلوده؛ د جهان نظام به يې مختل او قوانين به يې ګډوډ شوي وو؛

﴿لَوۡ كَانَ فِيهِمَآ ءَالِهَةٌ إِلَّا ٱللَّهُ لَفَسَدَتَاۚ فَسُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ رَبِّ ٱلۡعَرۡشِ عَمَّا يَصِفُونَ۝٢٢﴾ [الأنبياء: 22]

(که چيرې په دغو (ځمکه او اسمان) کې له الله نه پرته نور معبودان وی (نو) دواړه به خامخا وران شوي وو، نو الله د عرش مالك، پاك دی له هغو خبرو چې دوی يې بيانوي) [الأنبياء:22] .

د ځمکې د نباتاتو په اړه فکر وکړه او وګوره ... د هغه څه نښې چې پاچا پيدا کړي ... د سپينو زرو څخه جوړې شوې چينې... چې د زمردو او ياقوتو په خير ښکاري

سترګو په تور کې ګواکې د زمرودو شفافه ټوټه ده ... دا پدې دلالت کوي چې الله لره هیڅ شریک نشته

الله د شریکانو له شرک څخه غني )بې حاجته (دی..

یواځې الله –عزوجل- د عبادت وړ دی؛ بنده له الله پرته بل څه ته رجوع نکوي، او د الله پرته بل څه ته د عبادت هیڅ کومه برخه نه متوجه کوي: که هغه لمونځ وي، او یا دعاء، او یا قرباني، او یا نذر، او یا توکل، او یا امید لرل، او یا ویره، او یا خشوع، او یا عاجزي وي: ﴿قُلۡ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحۡيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ١٦٢ لَا شَرِيكَ لَهُۥۖ وَبِذَٰلِكَ أُمِرۡتُ وَأَنَا۠ أَوَّلُ ٱلۡمُسۡلِمِينَ ١٦٣﴾ [الأنعام: 162-163]

(ته ووایه: بېشکه زما لمونځ او زما قرباني او زما ژوند او زما مرګ خاص د الله رب العالمین لپاره دي. د هغه هېڅ شريك نشته او ما ته د همدې (توحيد) حکم شوی دی او زه تر ټولو مسلمانانو اول یم). [الأنعام:162-163].

لویه مسله دا ده چې: عبادت یوازې الله ته وشي؛ ﴿وَمَا خَلَقۡتُ ٱلۡجِنَّ وَٱلۡإِنسَ إِلَّا لِيَعۡبُدُونِ ٥٦﴾ [الذاريات: 56]

(او ما پېریان او انسانان نه دي پیدا کړي مګر د دې لپاره چې دوی زما عبادت وکړي) [الذاريات:56]،

﴿... وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعۡبُدُوٓاْ إِلَٰهٗا وَٰحِدٗاۖ لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۚ سُبۡحَٰنَهُۥ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ٣١﴾ [التوبة: 31]

( حال داچې دوی ته حکم نه و شوی مګر د دې چې دوی دې د یو حق معبود عبادت کوي چې نشته هیڅ حق معبود مګر همدی دی) [التوبة:31].

توحید تر ټولو نازک، پاک او تر ټولو صفا شی دی، وړوکی څیز یې مخدوش، ناپاکه کوي او اغېز پرې کوي.

او د رسول الله -صلى الله عليه وسلم- څخه ثابت دي چې فرمايلي دي: «قَالَ اللهُ -تبارك وتعالی- : مَنْ عَمِلَ عَمَلًا أَشْرَكَ فِيهِ مَعِي غَيْرِي؛ تَرَكْتُهُ وَشِرْكَهُ». «الله تبارک و تعالی فرمايلي دي: څوک چې یو کار وکړي، په هغه کې بل څوک زما سره شریک کړي؛ زه به هغه کس د هغه شرک ته پریږدم». [د مسلم روایت]. او د رسول الله -صلى الله عليه وسلم- څخه ثابت دي چې فرمايلي يې دي: "کله چې الله – عزوجل- ، لومړنی او وروستنی مخلوق د هغې ورځې لپاره سره

راټول کړي چې په کې هيڅ شک نشته؛ يو آواز کوونکی به آواز وکړي: څوک چې کوم کار وکړي او بل څوک يې له الله سره شريک کړی وي؛ نو هغه دې خپل اجر له الله –عزوجل- پرته له بل چا څخه وغواړي، ځکه الله د شريکانو له شرک څخه غني (بې حاجته) دی". [حسن حديث، احمد په مسند کې روايت کړی دی]

پند او نصيحت ..

په صحيح سنت کې ډيرې حديثونه شته چې د توحيد لوري ته هڅوي او فضيلت يې بيانوي، د هغې له جملې څخه:

د ابو هريره -رضي الله عنه- حديث دی چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- وفرمايل: «څوک چې ووايي: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ المُلْكُ وَلَهُ الحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، په ورځ کې سل ځلې ووايي نو داسې ده لکه چې لس غلامان آزاد کړي، او سل نيکۍ ورته وليکل شي، او سل ګناهونه ورڅخه پاک شي، او د هغه لپاره به د شيطان څخه د هغې ورځې تر ماښامه ساتنه وشي، او هيڅوک به د هغه څخه ښه شي را نه وړي کوم شي چې هغه راوړی، مګر هغه څوک چې له هغه څخه يې ډير راوړی وي». [د بخاري او مسلم روايت].

او د ترمذي او ابو داود په حديث کې له بريده څخه روايت دی: رسول الله -صلى الله عليه وسلم- له يو سړي څخه واورېدل چې ويل يې: اللهم إني أسألك بأنك أنت الله، لا إله إلا أنت الأحد الصمد، الذي لم يلد ولم يولد، ولم يكن له كفوًا أحد! اې الله زه له تا څخه سوال کوم چې په رښتيا سره ته الله يې، له تا پرته بل هيڅ معبود نشته، يو او بې نيازه يې، هغه ذات چې نه چا زيږولی او نه زيږيول شوی دی، او د هغه هيڅوک سيال او برابر نشته!

او هغه -صلى الله عليه وسلم- فرمايلي دي: «لَقَدْ سَأَلْتَ اللهَ بِاسْمِهِ الأَعْظَمِ؛ الَّذِي إِذَا سُئِلَ بِهِ أَعْطَى، وَإِذَا دُعِيَ بِهِ أَجَابَ». «تا د الله څخه د هغه په لوی نوم غوښتنه وکړه؛ که هغه باندې ترې وغوښتل شي هغه ته يې ورکوي، او که هغه باندې بلنه ورکړل شي قبلوي يې». [صحيح حديث دی].

رسول الله -صلى الله عليه وسلم- مسجد ته ننوت او وايوريده چې يو سړي دعا کوي او وايي: اې الله! زه له تا څخه سوال کوم چې په رښتيا سره ته الله يې، له تا پرته بل هيڅ معبود نشته، يو او بې نيازه يې، هغه ذات چې نه چا زيږولی دی او نه زيږيول شوی دی زما ګناهونه معاف کړه؛ بيشک چې ته بښونکی او مهربان يې.

هغه -صلى الله عليه وسلم- وفرمايل: «قَدْ غُفِرَ لَهُ، قَدْ غُفِرَ لَهُ، قَدْ غُفِرَ لَهُ». "هغه ته بخښنه وشوه، هغه ته بخښنه وشوه، هغه ته بخښنه وشوه" درې ځله. [صحيح حديث دی، احمد په مسند کې روايت کړی دی]. حافظ ابن رجب -رحمه الله- فرمايي: "د توحيد کلمې عملي کول د غلامانو د آزاديدو لامل ګرځي، او د غلامانو آزاديدل د اور څخه د خلاصون لامل ګرځي". او هغه –رحمه الله- وويل: د بخښنې له اسبابو څخه: (توحيد دی)، او دا تر ټولو لوی سبب دی، څوک چې دا له لاسه ورکړي بخښنه له لاسه ورکوي، او څوک چې دا له ځانه سره راوړي هغه د بخښنې ترټولو لويه وسيله راوړې ده. امام ابن القيم -رحمه الله- فرمايي: توحيد: اسلام ته د ننوتلو لومړی شی او له دنيا څخه د وتلو آخرنی شی دی؛ څرنګه چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فرمايلي دي: «مَنْ كَانَ آخِرُ كَلَامِهِ : لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، دَخَلَ الجَنَّةَ»، «د هر چا چې وروستۍ خبره: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، يعني نشته بل معبود مګر الله تعالی دی وي، هغه به جنت ته ننوځي». دا لومړی واجب او آخرنی واجب دی، نو توحيد: د موضوع پيل او پای دی. او هغه –رحمه الله- وويل: "د دنيا سختۍ د توحيد په څير په بل شي له منځه نه وړل کيږي". او هغه –رحمه الله - وويل: "جنت ته به مشرک نفس نه ننوځي، بلکې اهل  توحيد به جنت ته ننوځي؛ ځکه چې توحيد د جنت د دروازې کلي ده". ابن الجوزي -رحمه الله- فرماېلي: «سفيان الثوري به ابراهيم بن ادهم ته راته او ويل به يې: ای ابراهيمه! له الله څخه وغواړه چې مونږ توحيد سره وفات کړي». رسول الله -صلى الله عليه وسلم- وليد چې يو سړی په دوو ګوتو سره دعاء کوي؛ رسول الله -صلى الله عليه وسلم- هغه ته وفرمايل: «أَحَدٌ أَحَدٌ» ! يو دی يو دی. [صحيح حديث دی، ابو داود روايت کړی] او په دې کې اشاره ده چې : که غواړئ په دعا کې اشاره وکړئ، يوازې په يوې ګوتې اشاره وکړئ.

اې الله، اې واحد .. اې بې نياز ذاته! موږ له تانه سوال کوو، تر څو مونږ د هغو کسانو له جملې څخه جوړ کړې چې تا ته بلنه درکوي او ته ځواب ورکوې، او چې تا ته عاجزي وکړي ته وربانديې رحم وکړې، او څوک چې تا ته پناه راوړي ته ورته له اور څخه پناه ورکوې، او په دنيا کې زموږ آخرني خبره دا وګرځوه چې لا إله إلا الله، يعني له الله پرته بل معبود نشته، بيشک چې ته تر ټولو زيات رحم کوونکی يې.

## الصَّمـَدُ )بې نیازه (-جل جلاله-

که ستونزې سره مخ شوې؛ نو صمد ذات ته وګرځه، او که عزت مو له منځه لاړ شي او خواري درته راشي، د صمد ذات دروازه وټکوه، که په بدن کې مو کمزوري راښکاره شي؛ له هغه صمد ذات څخه ځواک ترلاسه کړه.

هغه واحد او بې مثاله ذات دی ... چې د خپلو نومونو او صفتونو په معنی کې بې مثاله دی

داسې بې نیازه ذات چې مخلوقات پرې ودرېږي ... او یوازې ضمیرونه آراموي

د الله نوم: (الصمد) لږ ذکر شوی دی؛ مګر دغه نوم د خاص مقام صاحب دی.

الله – جل وعلا- فرمايي: ﴿قُلْ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ① ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ ② لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ ③ وَلَمْ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدٌۢ ④﴾ [الإخلاص: 1-4]

(اې نبي!) ته (دوی ته) ووايه: شان دا دی چې الله یو دی. هم دا الله بې نیازه (بې حاجته) دی. نه يې (څوك) زیږولی دی او نه دی (له چا) زیږول شوی دی. او د ده هیڅوك سیال (او برابر نشته). [سورة الإخلاص].

زموږ رب – سبحانه و تعالی- کوم چې ټول مخلوقات هغه ته رجوع کوي: انسانان او پیریان، بلکه ټول جهان، کوم چې پورته دي او ښکته دي، په خوښیو کې هغه ته رجوع کوي، او په آفتونو کې د هغه څخه مرسته غواړي.

او زموږ رب – سبحانه و تعالی- بادار دی چې باداري ور باندې ختمه ده، شریف دی چې شرافت ور باندې ختم دی، او عظیم دی چې عظمت ور باندې ختم دی، حلیم او مهربان دی چې مهرباني ورباندې ختمه ده، هغه غالب دی چې په خپل عظمت کې بشپړ شوی دی، او شتمن دی چې شتمني ور باندې ختمه ده، دغه صفتونه نه ښايي مګر د الله -سبحانه و تعالی- لپاره.

او زموږ رب –سبحانه و تعالی- هغه ذات دی چې هیڅ خلا نلري؛ هغه نه خوري او نه څښي، هغه طعام ورکوي او هغه ته څوک طعام نه ورکوي، هغه له هر چا څخه بې نیازه دی؛ هغه څوک دی چې له هغه پرته ټول هغه ته اړتیا لري – تبارک و تعالی-، د هغه په څیر هیڅ شی نشته، او هغه اوریدونکی، لیدونکی دی.

کافي ځواب..

بیهقي ذکر کړی او حافظ د ابن عباس -رضي الله عنهما- له حدیث څخه حسن ګڼلی دی چې وایي: یهودیان رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلل او ویې ویل: اې محمده! ! موږ ته دخپل رب نسب بیان کړه چې ته یې رالیږلې؟! نو الله -جل جلاله- خپل دا قول نازل کړ:

﴿قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ١ ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ ٢ لَمۡ يَلِدۡ وَلَمۡ يُولَدۡ ٣ وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدُۢ ٤﴾ [الإخلاص: 1-4]

(ای نبي!) ته (دوی ته) ووایه: شان دا دی چې الله یو دی. هم دا الله بې نیاز (بې حاجته) دی. لنه یې (څوك) زیږولی دی او نه دی (له چا) زیږول شوی دی. او د ده هیڅوك سیال (او) برابر نشته). [سورة الإخلاص].

یو لنډ سورت چې د عظمت، جلال او د کمال صفتونه یې راټول کړي دي.

د هغې د عظمت له امله، هر څوک چې هغه تلاوت کړي پدې معنا ده لکه چې د قرآن دریمه برخه یې تلاوت کړې وي، په "صحیحینو" کې راغلي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلو اصحابو ته وفرمایل: «أَيَعْجَزُ أَحَدُكُمْ أَنْ يَقْرَأَ فِي لَيْلَةٍ ثُلُثَ الْقُرْآنِ؟»، قالوا: وكيف يقرأ ثلث القرآن؟ قال: "آیا ستاسو څخه یو څوک نشي کولی چې په یوه شپه کې د قرآن دریمه برخه تلاوت کړي؟" دوی وویل: هغه څنګه کولی شي د قرآن دریمه برخه تلاوت کړي ؟ هغه وویل: قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ، د قرآن دریمه برخه ده". [د مسلم لفظ]. ځینو علماوو ویلي دي: «قرآن درې برخو باندې نازل شوی: یوه دریمه برخه یې: احکام، بله دریمه برخه یې: وعده او ګواښ، او بله دریمه برخه یې: اسما او صفات دي، او سورت الصمد له دریو څخه یو راټول کړي دي، او هغه: اسما او صفات دي؛

نو لدي کبله ددې سورت تلاوت کول يې د قرآن د دريېمې برخې د تلاوت ثواب لري».

او په صحيح البخاري کې راغلي دي: چې يو صحابي خپلو ملګرو ته په خپلو ټولو لمونځونو کې د (قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ) [اخلاص: 1] تلاوت کاوه، نو دوی دا خبره رسول الله -صلى الله عليه وسلم- ته ياده کړه! ويې ويل: «سَلُوهُ لِأَيِّ شَيْءٍ يَصْنَعُ ذَلِكَ؟»؛ فسألوه، فقال: لأنها صفة الرحمن؛ فأنا أحب أن أقرأ بها، فقال رسول الله -صلى الله عليه وسلم- : «أَخْبِرُوهُ أَنَّ اللهَ -عز وجل- يُحِبُّهُ». له هغه څخه وپوښتئ چې دا کار د څه لپاره کوي؟ هغوی ترې پوښتنه وکړه، نو هغه وويل: ځکه دا د رحمن صفت دی؛زه يې لوستل خوښوم، رسول الله -صلى الله عليه وسلم- وفرمايل: هغه ته ووايئ چې الله -تعالی- هغه سره مينه لري.

د زړه سپارل..

د صالحانو په روح کې دې مينې عاشقان د خپل رب د مينې په لټه کې کړل ..

د بندګانو په زړونو کې دا مينه نه پوره کيږي پرته له دې چې هغه ته د تعظيم سر ټيټ کړي، او د هغه له کور نه طواف وکړي، او د هغه مخامخ ودريږي، او د هغه لپاره له خوبه پاڅيږي، او د هغه په لاره کې نفس او وينه قرباني کړي.

او د مينه والو زړونه د هغه له ذکر پرته نه آراميږي، او د مشتاقانو روحونه د هغه له ليدو پرته سکون نه مومي.

که ناروغه شو، نو ستاسو په ياد باندې درملنه کوو ... او کله کله له ياد څخه غافل کيږو او بيا بيرته راګرځو

هغوی په سوکالۍ کې الله ته پايدار پاتې شول؛ نو الله د تکليف په وخت کې وپيژندل، او د پايدارۍ په اندازه به لوړتيا او راحتي وي.

دا د الله پيغمبر ابراهيم -عليه السلام- دی چې ډير مصيبتونهورباندې تيريږي؛ نو الله –سبحانه و تعالی- په هغې سره د هغه مقام لوړوي؛ تر دې چې د الله له طرفه د دوست او خليل درجې مستحق شو، الله - عزوجل - وفرمايل:

﴿...وَٱتَّخَذَ ٱللَّهُ إِبۡرَٰهِيمَ خَلِيلٗا﴿١٢٥﴾﴾ [النساء: 125]

[النساء: 125].

او دا ايوب -عليه السلام- دی چې د مصيبت ځپلو امام، د آزموينې او د مرضونو د خاوندانو مشر؛ [النساء: 125].

کله چې هغه خپل رب – سبحانه تعالی- ته پايدار پاتې شو د هغه په وينا سره چې فرمايي:

﴿۞وَأَيُّوبَ إِذۡ نَادَىٰ رَبَّهُۥٓ أَنِّي مَسَّنِيَ ٱلضُّرُّ وَأَنتَ أَرۡحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ﴿٨٣﴾﴾ [الأنبياء: 83]

(يقينًا زه (چې يم) ما ته تکليف رارسيدلی دی او ته تر ټولو زيات رحم کوونکی يې) [الأنبياء:83]

؛ د صمد –تبارک و تعالی- ځواب دا و چې :- (فَاسْتَجَبْنَا لَهُ فَكَشَفْنَا مَا بِهِ مِن ضُرٍّ) (نو مونږ د هغه دعا قبوله کړه، نو مونږ هغه تکليف لرې کړ چې هغه ته و). [الأنبياء:84]. او دا يونس -عليه السلام- د کب په خيټه کې او په دريو تيارو کې دی، هغه خپل رب –سبحانه و تعالی- ته اصرار کوي په دې وينا:

﴿...لَّآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنتَ سُبۡحَٰنَكَ إِنِّي كُنتُ مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ﴿٨٧﴾ فَٱسۡتَجَبۡنَا لَهُۥ وَنَجَّيۡنَٰهُ مِنَ ٱلۡغَمِّۚ وَكَذَٰلِكَ نُـۨجِي ٱلۡمُؤۡمِنِينَ﴿٨٨﴾﴾ [الأنبياء: 87-88]

(نشته هيڅ لايق د عبادت مګر ته يې، ته پاك يې، بېشکه هم زه له ظالمانو څخه يم (نو مونږ د هغه دعا قبوله کړه او مونږ هغه له غم نه خلاص کړ او همداسې مونږ مومنانو ته نجات ورکوو) [الأنبياء: 87-88].

دا د ټولو انبياؤ -عليهم السلام- او نيکو خلکو حال دی.. دوی په آسانۍ کې الله پېژندلی و، نو الله هغوی په سختۍ کې وپېژندل.

ايا دوی بلنه ومنله؟!

بيا ستا بې نياز رب – جل وعلا- خپله دروازه خلاصه کړه، نه يوازې د اولياوو لپاره، بلکې د ټولو مخلوقاتو لپاره.

دا د هغه د مهربانۍ، رحم او سخاوت څخه دی؛ نو دا مشرکان چې کله د دوی لپاره دنیا تنګه شي او حقیقي مرګ وګوري، بیا نو الله –سبحانه وتعالی- ته رجوع کوي؛ او اواز ورته کوي چې : اې الله! اې الله! همدا ده چې هغوی ژغورل کیږي؛

﴿فَإِذَا رَكِبُواْ فِي ٱلۡفُلۡكِ دَعَوُاْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ فَلَمَّا نَجَّىٰهُمۡ إِلَى ٱلۡبَرِّ إِذَا هُمۡ يُشۡرِكُونَ ۝٦٥﴾ [العنکبوت: 65]

(نو کله چې دوی په کښتۍ کې سواره شي (، نو) دوی الله بولي، په داسې حال کې چې خاص هغه لره دین خالص کوونکي وي، نوکله چې هغه (الله) دوی ته وچې ته نجات ورکړي (نو) ناڅاپه دوی (له الله سره) شریکان نیسي). [العنکبوت سورت: ایت 65].

دوی دې باندې اقرار کوي؛ او ټوله نړۍ که الله تعالی ته په خپله اراده رجوع و نکړي، د مجبورۍ او اړتیا له مخې به هغه ته رجوع کوي.

ډاډه اوسه!

الله –سبحانه و تعالی- د مجبورۍ او سخت په وخت کې د کافرانو ځواب ورکوي، نو د هغه چا په اړه به څنګه وي چې د الله په وحدانیت او د رسول الله -صلی الله علیه وسلم – په رسالت ګواهي ورکوي؟!

نوکله چې درته څه حاجت پېښ شو، هغه ته رجوع وکړه، او خپل حاجت د هغه په دروازه کې کېږده او ووایه: اې صمد ذاته له هغه څه چې ما باندې راغلي دي ما خلاص کړه!

د خپل غم، ناروغۍ یا پور څخه مه سټړی کیږه؛ ستا رب صمد دی، چې که ورته رجوع وکړې، نه به مایوسه کېږې او نه به دې خفه کوي، او په یاد ولره، چې تر ټولو غوره عبادت: د خلاصون انتظار کول دي، او د حال تلوالی ناشونی دی، او زمانه بدلیږي، او په شپو کې ډیر رازونه او خبرې دي، او غیب پټ دي، او د سختۍ سره اسانتیا راځي.

په سنن ابو داود کې راغلي: رسول الله -صلی الله علیه وسلم- جومات ته ننوت او د یوه سړي دعا يې واورېده چې ویل يې: اې الله زه له تا څخه غوښتنه کوم ای الله! چې ته یو او بې نیازه يې، چې نه زیږیدلی يې او نه يې څوک زیږولی، او د هغه سیال او برابر هیڅ څوک نشته: ته زما ګناهونه معاف کړه؛ واقعا چې ته بخښونکی او مهربان يې.

او هغه -صلی الله علیه وسلم- وفرمایل: «قَدْ غُفِرَ لَهُ.. قَدْ غُفِرَ لَهُ». "هغه ته بخښنه وشوه.. هغه ته بخښنه وشوه " – درې ځلې- [صحیح حدیث دی] او په یو روایت کې راغلي: "تا د الله څخه په هغه نوم غوښتنه وکړه چې که په هغه باندې ور څخه وغوښتل شي ورکوي یې، او کله چې هغه پرې راوبلل شي نو هغه ځواب ورکوي". [صحیح حدیث دی، ابوداود روایت کړی].

په ما رحم وکړه اې د بندګانو ربه، ته زما هیله یې

زما هدف ستا رضامندي ده، نو زما دعا قبوله کړه

ستا په نوم مې په عاجزۍ سره اواز وکړ، اې زما ربه

که ته ځواب را نه کړې، زما د زړا ځواب به څوک راکوي؟

ته کریم ذات یې، نو ما مه پریږده چې سرګردان شم

زه د لرې والي څخه ډېر ستړی شوی یم

او ما ستا څخه په امید سره بخښنه وغوښته، اې زما ربه

او په عاجزۍ سره، نو زما امید مه رد کوه

اې الله، اې واحد ذاته.. اې بې نیاز ذاته.. موږ له تا څخه د جنت غوښتنه کوو او هغه څه چې هغه ته مو په وینا او عمل سره نږدې کوي، او موږ له تا څخه د اور نه پناه غواړو او هغه څه چې هغه ته مو په وینا او عمل سره نږدې کوي.

7 – 8

## الرَّحْمَنُ الرَّحِيمُ )ډېرمهربانه او ډېر رحم کونکی (-جل جلاله-

الله -سبحانه وتعالی فرمایلي- :

﴿قُلِ ٱدۡعُواْ ٱللَّهَ أَوِ ٱدۡعُواْ ٱلرَّحۡمَٰنَۖ أَيّٗا مَّا تَدۡعُواْ فَلَهُ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰۚ .....﴾ [الإسراء: 110]

(ته (دوی ته) ووایه: تاسو الله بلئ، یا تاسو رحمٰن بلئ، هر یو (نوم) یې چې وبلئ، نو خاص د هغه لپاره دي تر ټولو ښکلي نومونه) [الإسراء:110].

زمونږ پیغمبر - صلى الله عليه وسلم - ته به چې کله تکلیف ورسیده نو ویل به یې: "اې تل پاتې، اې قایم ذاته! ستا په رحمت سره د مرستې غوښتنه کوم" [حسن حدیث دی. احمد په مسند کې روایت کړی دی] څنګه به د رحمان څخه مرسته نه غوښتل کیږي؛ حال دا چې هغه په سختۍ کې د پنا ورکولو والا ذات دی، په یوازیتوب کې ملګری، او په کم شمیر کې مرستندوی دی؟

هغه د فرمانبردارانو آرامتیا، د تښتیدونکو پناه ځای، د ډاریدونکو لپاره امن ځای دی؛ هغه تر ټولو زیات رحم کوونکی دی.

یوازې د هغه لور ته د رکابونو رسۍ تړل کیږي ... او له هغه څخه پرته هیله مند به نا امیده دی

﴿وَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ ۖ لَّا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الرَّحْمَٰنُ الرَّحِيمُ ﴿١٦٣﴾﴾ [البقرة: 163]

(او ستاسو حق معبود يو معبود دى، هېڅ لایق د عبادت نشته مګر یوازې هغه دی چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکى دى) [البقرة سورت : ایت 163].

رحمت: د ربوبیت نخښه، او د الوهیت پته ده؛ له همدې امله الله – جل و علا - خپل ځان په: الرحمن (ډیر مهربان) الرحیم (ډیر رحم کوونکی) سره یاد کړی دی.

مونږ په دې دوو سترو او نفسونو ته په محبوبو نومونو سره د الله د کتاب په تلاوت پیل کوو: (بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ) (د الله په نوم پیل کوم چې ډیر مهربان او ډیر رحم کوونکی دی).

دا دوه عالي نومونه د مبالغې له مخې د (رحمت) څخه اخیستل شوي دي.

او رحمت په لغت کې: نرمي، شفقت، عطف او مهربانۍ ته وایي.

زمونږ رب – سبحانه و تعالى - د ټولو مخلوقاتو لپاره ټول شموله رحم کوونکی دی. (وَرَحْمَتِي وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ) (او زما رحمت هر شی راګېر کړی دی). [الأعراف سورت: ایت 156]،

﴿.... إِنَّ اللَّهَ بِالنَّاسِ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿٦٥﴾﴾ [الحج: 65]

(بېشکه الله په خلقو باندې خامخا ډېر نرمي کوونکى، مهربان دى) [الحج سورت : ایت 65].

هغه مومنان له دې ښخه په لویه برخه او خورا بشپړې برخې سره ځانګړي کړې دي.

﴿.... وَكَانَ بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ رَحِيمٗا ﴿٤٣﴾﴾ [الأحزاب: 43]

(هغه په مومنانو ډېر رحم کوونکی دی) [الأحزاب سورت: ایت 43].

زمونږ رب "الرحمن" – تبارك و تعالی دی – یعنې: رحمت د هغه صفت دی، او "الرحیم" یعنې: په خپلو بندګانو رحم کوونکی دی.

هغه پر مونږ تر هر رحم کوونکي ډېر رحم کوونکی دی، پر مونږ تر پلرونو، میندو او اولادونو ډېر مهربان دی، او حتا له خپل ځانونو ښخه هم.

بخاري په خپل کتاب "الادب المفرد" کې ذکر کړي دي: یو سړی چې خپلې سینې ته یې یو ماشوم ټینګ نیولی و، رسول الله -صلی الله علیه وسلم- ته راغی، رسول الله – صلی الله علیه وسلم- وفرمایل: «أَتَرْحَمُهُ؟»، آیا ته په هغه رحم کوې؟ هغه وویل: هو، هغه وویل: «فَاللّٰهُ أَرْحَمُ بِكَ مِنْكَ بِهِ، وَهُوَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ» "الله پر تاسو باندې تر تا ډېر رحم کوونکی دی، او هغه د رحم کوونکو ښخه ډیر رحم کوونکی دی". [صحیح حدیث دی] د الرحمن – سبحانه و تعالی - نوم د هغه لپاره ځانګړی دی، او دا جواز نلري چې د الله – سبحانه و تعالی- پرته بل څوک پرې یاد کړی شي، او بل څوک پدې نوم باندې نشي یادېدلای؛ ﴿قُلِ ٱدۡعُواْ ٱللَّهَ أَوِ ٱدۡعُواْ ٱلرَّحۡمَٰنَۖ أَيّٗا مَّا تَدۡعُواْ فَلَهُ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰۚ ....﴾ [الإسراء: 110]

(ته (دوی ته) ووایه: تاسو الله بلئ، یا تاسو رحمٰن بلئ، هر یو (نوم) یې چې وبلئ، نو خاص د هغهٔ لپاره دي تر ټولو ښکلي نومونه) [الإسراء سورت : ایت 110]،

نو له هغه سره یې د جلالت نوم داسې برابر کړ چې بل څوک پکې شریکېدلای نه شي؛ حتی ځینو یې ویل: دا اسم اعظم دی. او د الرحیم نوم؛ نو په دې سره د مخلوق نومول روا دي، لکه ښنګه چې هغه –سبحانه و تعالی- فرمایلي:

﴿لَقَدۡ جَآءَكُمۡ رَسُولٞ مِّنۡ أَنفُسِكُمۡ عَزِيزٌ عَلَيۡهِ مَا عَنِتُّمۡ حَرِيصٌ عَلَيۡكُم بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ رَءُوفٞ رَّحِيمٞ ﴿١٢٨﴾﴾ [التوبة: 128]

(یقیناً تاسو ته له هم ستاسو له جنس نه رسول راغلی دی، هغه څه چې تاسو په تکلیف کې اچوي؛ پر ده ډېر سخت (او درانه) دي، ستاسو (د هدایت) لپاره پر تاسو باندې ډېر حرصناك دی، په مومنانو باندې ډېر نرمي کوونکی، ډېر مهربان دی) [التوبة سورت: ایت 128]،

ویل کیږي چې: مهربان سړی، خو داسې نه ویيل کیږي چې رحم کوونکی سړی.

او د الله رحمت په دوه ډوله دی:

عمومي رحمت: دا د ټولو مخلوقاتو لپاره دی؛ ټول مخلوقات د الله د رحمت څخه برخمند شوي دي، د دوی په پیدایښت، پالنه، روزی ورکولو او نورو بې شمېره نعمتونو سره.

﴿.....إِنَّ ٱللَّهَ بِٱلنَّاسِ لَرَءُوفٞ رَّحِيمٞ﴾ [البقرة: 143]

(یقینًا الله پر خلقو باندې خامخا ډېر نرمي کوونکی، بې حده رحم کوونکی دی) [البقرة سورت: ایت 143]،

﴿رَّبُّكُمُ ٱلَّذِي يُزۡجِي لَكُمُ ٱلۡفُلۡكَ فِي ٱلۡبَحۡرِ لِتَبۡتَغُواْ مِن فَضۡلِهِۦٓۚ إِنَّهُۥ كَانَ بِكُمۡ رَحِيمٗا ۝٦٦﴾ [الإسراء: 66]

(بېشکه هغه پر تاسو له شروع نه ډېر رحم کوونکی دی) [الإسراء سورت: ایت 66]

. او خاص رحمت: چې هغه د دنیا او آخرت سعادت دی، او یوازې هغه د مومنو بندګانو لپاره دی؛

﴿.... وَكَانَ بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ رَحِيمٗا ۝٤٣﴾ [الأحزاب: 43]

(او هغه په مومنانو ډېر رحم کوونکی دی) [الأحزاب سورت: ایت 43]،

﴿يُبَشِّرُهُمۡ رَبُّهُم بِرَحۡمَةٖ مِّنۡهُ وَرِضۡوَٰنٖ وَجَنَّٰتٖ لَّهُمۡ فِيهَا نَعِيمٞ مُّقِيمٌ﴾ [التوبة: 21]

(دوی ته د خپل رب له خپل جانب نه د رحمت او رضامندۍ او د داسې جنتونو زیری ورکوي چې) [التوبة سورت: ایت 21].

هغه الرحمن )رحم کونکی (دی..

هغه د ذکر ډېر مستحق دی، د معبودیت ډېر حقدار دی، او د هغه د مهربانۍ او رحمت په خاطر د شکر ډېر مستحق دی.

هرچيرې چې مخ واړوئ، په دې کائناتو کې به د الله رحمت ووينئ، چې تر ټولو لوی يې په دې کائنات کې: نازله شوې وحې ده؛

﴿.....وَنَزَّلۡنَا عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ تِبۡيَٰنٗا لِّكُلِّ شَيۡءٖ وَهُدٗى وَرَحۡمَةٗ وَبُشۡرَىٰ لِلۡمُسۡلِمِينَ٨٩﴾ [النحل: 89]

(او مونږ په تا باندې کتاب نازل کړی دی، په داسې حال کې چې (د دين) د هر شي لپاره (په کې) واضحه بيان دی او هدايت او رحمت او زيری دی د مسلمانانو لپاره) [النحل سورت: ايت 89]

. هرکله چې ځمکه وچه شي، فصلونه مړه شي، ونې وچې شي، او مصيبت سخت شي؛ رحمتونه به نازل شي؛

﴿وَهُوَ ٱلَّذِي يُنَزِّلُ ٱلۡغَيۡثَ مِنۢ بَعۡدِ مَا قَنَطُواْ وَيَنشُرُ رَحۡمَتَهُۥۚ وَهُوَ ٱلۡوَلِيُّ ٱلۡحَمِيدُ ٢٨﴾ [الشورى: 28]

( او دی همغه ذات دی چې باران وروي، وروسته له دې چې دوی نا اميده شي او هغه خپل رحمت خوروي او هم دی ښه کارساز، ښه ستايل شوی دی) [الشورى سورت: ايت 28]

. کله چې عذاب راشي، او نارينه وژاړي، او ښځې چيغې ووهي، او ماشومان ووېرېږي، پر مخلصو بندګانو به رحمتونه نازل شي؛

﴿وَلَمَّا جَآءَ أَمۡرُنَا نَجَّيۡنَا هُودٗا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ بِرَحۡمَةٖ مِّنَّا ....﴾ [هود: 58]

(او کله چې زمونږ حکم (عذاب) راغی (،نو) مونږ هود ته او هغو کسانو ته چې له هغه سره يې ايمان راوړی و؛ له خپل جانب نه په رحمت سره نجات ورکړ). [هود سورت: ايت 58]،

﴿وَلَمَّا جَآءَ أَمۡرُنَا نَجَّيۡنَا شُعَيۡبٗا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ بِرَحۡمَةٖ مِّنَّا ....﴾ [هود: 94]

(او کله چې زمونږ حکم (د عذاب) راغی (،نو) مونږ شعيب ته او هغو کسانو ته چې له هغه سره يې ايمان راوړی و؛ خلاصی ورکړ په رحمت سره له خپل جانب نه) [هود سورت: ايت 94].

هيڅوک به خپلو ته ونه رسيږي مګر د رحم کوونکي ذات له لوري، د هيڅ اړتيا شتون نشته مګر د رحم کونکی په ميدان کې، هيڅ شی نه کارول کيږي مګر د رحم کونکي په واسطه؛ ځکه هغه يوازې ډير مهربان دی چې د هغه –سبحانه و تعالی- له لارې پرته په جهان کې بل هيڅ ځواک او قوت شتون نلري.

په خپل رحمت سره يې مونږ ته خپل پيغمبران راولېږل.

او په خپل رحمت سره يې مونږ ته خپل کتابونه نازل کړل.

او په خپل رحمت سره يې مونږ ته لارښوونه وکړه او له ګمراهۍ څخه يې وژغورلو.

او په خپل رحمت سره يې مونږ ته له ړوندتوب څخه لارښوونه وکړه.

او په خپل رحمت سره يې مونږ ته هغه څه رازده کړل چې مونږ پرې نه پوهيدو.

او په خپل رحمت سره يې لمر او سپوږمۍ مسخرې کړې، شپه او ورځ يې پيدا کړه او ځمکه يې وغوړوله.

او په خپل رحمت سره يې جنت پيدا کړ، او په اوسيدونکو يې آباد کړ، او د هغوی ژوند ښاېسته شوه.

د هغه له رحمتونو څخه دا هم دي چې سل رحمتونه يې پيدا کړل چې هر يو يې د ځمکې او اسمان تر منځ يوه طبقه ده؛ نو له هغې څخه يې يو ځمکې ته نازل کړ، د مخلوقاتو په منځ کې يې خپور کړ، تر څو يو پر بل باندې رحم وکړي، په هغې سره مور له خپل ماشوم سره خواخوږي کوي، او په همدې رحمت سره د نړۍ بنسټ او نظم ولاړ دی.

زيری!

او د هغه د پراخ رحمت په اړه واوره:

﴿۞ قُلۡ يَٰعِبَادِيَ ٱلَّذِينَ أَسۡرَفُواْ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡ لَا تَقۡنَطُواْ مِن رَّحۡمَةِ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَغۡفِرُ ٱلذُّنُوبَ جَمِيعًاۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ٥٣﴾ [الزمر: 53]

(ته (دوی) ته ووایه: ای زما هغو بنده ګانو چې په خپلو ځانونو يې زياتی کړی دی! تاسو د الله له رحمت نه مه نا امیده کیږئ، بیشکه الله تعالی ټول ګناهونه بخښي، بیشکه دغه (الله)، هم دی ښه بخښونکی، یې حده رحم کوونکی دی) [الزمر سورت: ایت 53]،

او په مستند ډول روايت شوی دی چې هغه - صلى الله عليه وسلم- وفرمايل: «لَوْ يَعْلَمُ المُؤْمِنُ مَا عِنْدَ اللهِ مِنَ العُقُوْبَةِ؛ مَا طَمِعَ بِجَنَّتِهِ أَحَدٌ، وَلَوْ يَعْلَمُ الكَافِرُ مَا عِنْدَ اللهِ مِنَ الرَّحْمَةِ؛ مَا قَنَطَ مِنْ جَنَّتِهِ أَحَدٌ» "که مؤمن پوه شي چې د الله سره څومره عذاب دی، هيڅوک به د جنت هیله ونه کړي، او که کافر پوه شي چې الله څومره مهربان دی؛ نو هيڅوک

به د هغه له جنت حخه نا امیده نشي" [مسلم روایت کړی] دغه رحمتونه: د وقار، قوت، تسلط او ځواک رحمت دی، نه د کمزورۍ رحمت

﴿وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ۝٩﴾ [الشعراء: 9]

(او بېشکه ستا رب خامخا هم هغه ښه غالب، ېي حده رحم کوونکی دی) [الشعراء سورت: ایت 9].

او زه ګواهي ورکوم چې له الله پرته بل رب نشته ... چې کریم، مهربان دی، هیله ورتل لرل کیږي او تمه ورڅخه ساتل کیږي.

د رحمت کلیاني:

هغه زمونږ او زمونږ له عبادت څخه بې نیازه دی، موږ به د هغه د رحمت پرته جنت ته داخل نه شو؛ حتی زموږ پیغمبر - صلی الله علیه وسلم -، په صحیحینو کې له ابوهریره -رضي الله عنه- څخه روایت دی چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- وفرمایل: «لَنْ يُدْخِلَ أَحَدًا عَمَلُهُ الجَنَّةَ»، قالوا: ولا أنت يا رسول الله؟ قال: «لَا، وَلَا أَنَا؛ إِلَّا أَنْ يَتَغَمَّدَنِي اللهُ بِفَضْلٍ وَرَحْمَةٍ». «هیڅوک به په خپل عمل سره جنت ته داخل نشي، وویل شو: حتا ته هم یا رسول الله؟ هغه وفرمایل: نه، زه هم نه؛ پرته لدې چې الله راباندې فضل او رحم وکړي».

که څوک په دې خبره پوه شي؛ هغه باید د امید عبادت وکړي، او د الله –سبحانه و تعالی- د رحمت سره تعلق وساتي، او د هغې لپاره هڅه وکړي، او دا په تقوا، ایمان او د اطاعت په عملي کولو سره کیږي.

نو پدې سره رحمتونه تحقق مومي؛

﴿... وَرَحۡمَتِي وَسِعَتۡ كُلَّ شَيۡءٖۚ فَسَأَكۡتُبُهَا لِلَّذِينَ يَتَّقُونَ وَيُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱلَّذِينَ هُم بِـَٔايَٰتِنَا يُؤۡمِنُونَ ۝١٥٦﴾ [الأعراف: 156]

(او زما رحمت هر شی راګېر کړی دی، نو ژر به زه ولیکم دا (رحمت) د هغو کسانو لپاره چې پرهېزګاره دي او زکات ادا کوي او هغه کسان چې هغوی زمونږ پر ایتونو ایمان لري) [الأعراف سورت: ایت 156]

. رحمتونه د الله جل جلاله - او د رسول الله -صلی الله علیه وسلم- په اطاعت سره ترلاسه کیږي؛ ځکه الله فرمايلي:

﴿وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ لَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُونَ ۝١٣٢﴾ [آل عمران: 132]

(او د الله او د رسول اطاعت وکړئ، لپاره د دې چې پر تاسو رحم وکړی شي) [آل عمران سورت: ايت 132]

. په احسان او نيکيو سره ترلاسه کيږي؛ ځکه الله -تعالی- فرمايلي:

﴿.... وَرَحۡمَتِي وَسِعَتۡ كُلَّ شَيۡءٖۚ فَسَأَكۡتُبُهَا لِلَّذِينَ يَتَّقُونَ وَيُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱلَّذِينَ هُم بِـَٔايَٰتِنَا يُؤۡمِنُونَ۝١٥٦﴾ [الأعراف: 156]

(بېشكه د الله رحمت نېكي كوونكو ته ډېر نژدې دى) [الأعراف سورت: ايت 56]

. او په استغفار سره ترلاسه کيږي؛ ځکه الله فرمايي:

﴿.... لَوۡلَا تَسۡتَغۡفِرُونَ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُونَ۝٤٦﴾ [النمل: 46]

(ولې تاسو له الله نه مغفرت نه غواړئ ؟ د دې لپاره چې په تاسو رحم وكړى شي) [النمل سورت: ايت 46].

او د الله –عزوجل- په ذکر او ډېرو دعاګانو سره ترلاسه کيږي.

په "سنن ابي داود" کې رسول الله –صلى الله عليه وسلم- فرمايلي: د مصيبت ځپلي دعا: «اللَّهُمَّ رَحْمَتَكَ أَرْجُوْ، فَلَا تَكِلْنِي إِلَى نَفْسِي طَرْفَةَ عَيْنٍ، وَأَصْلِحْ لِي شَأْنِي كُلَّهُ، لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ»، يعنی ای الله زه ستا د رحمت اميد لرم، نو ما د سترګو د رپ په اندازه خپل ځان ته مه سپاره، او زما کارونه سم کړه، ستا پرته بل معبود نشته" [حسن حديث دی]. د الله رحمت یوازې مهربانو بندګانو ته رسيږي، ځکه رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فرمايلي دي: «وَإِنَّمَا يَرْحَمُ اللهُ مِنْ عِبَادِهِ الرُّحَمَاءَ» "او الله يوازې په خپلو مهربانو بندګانو رحم کوي". [بخاري او مسلم روايت کړی] او هغه فاحشه ښځه چې په خپل رحمت سره يې تږي سپي ته په خپلو څپليو کې اوبه ورکړې، جنت ته داخله شوه.

## شيطان دې تا نه مايوسه کوي!

داسې خلک شته چې په مصيبتونو، بحرانونو او غمونو اخته شي؛ خپل ايمان پرېږدي، او دا يې ياد نه کړل چې الله په هغه باندې د هغه څخه ډېر مهربان دی! د رحمان دروازه نه تړکوي، او د هغه د رحمت تمه نکوي، نو هغه د شيطان په فتنې کې راښکيل کيږي، او کيدای شي هغه د خپل ځان تباهۍ ته ورسوي، او الله - عزوجل - فرمايي: ﴿... وَلَا تَقۡتُلُوٓاْ أَنفُسَكُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِكُمۡ رَحِيمٗا﴾ [النساء: 29]

(او تاسو خپل ځانونه مه وژنئ، بېشکه الله پر تاسو باندې بې حده مهربان دی) [النساء سورت: ايت 29].

او خبردار اوسه چې دا فکر و نکړې چې ستا ګناه که هر څومره لويه وي، د الله له رحمت څخه لويه ده! او شيطان له دې پرته له تا څخه بل څه نه غواړي، هغه غواړي: ستا په سترګو کې ګناهونه لوي کړي او د الله رحمت کوچنی کړي.

او د الله رحمت ستا له ګناه او ټولو ګناهونو څخه لوی دی؛ هغه سړی چې نهه نوي کسان يې وژلي وو او سل يې پرې پوره کړل؛ الله د هغه ريښتيني توبې باندې پوهيده، نو الله –عزوجل- د هغه تصديق وکړ.

او اې الله زه پر تا باور لرم.

او زه ستا ددروازې پرته بله لاره نه لرم

الله -عزوجل- فرمايي:

﴿يَوۡمَ نَحۡشُرُ ٱلۡمُتَّقِينَ إِلَى ٱلرَّحۡمَٰنِ وَفۡدٗا﴾ [مريم: 85 ]

(ياده کړه) هغه ورځ چې مونږ به متقيان راجمع کړو د رحمٰن په طرف بلل شوي سواره ميلمانه) [مريم: 85] ،

څومره عالي ژمنه، څومره عالي پلاوی، او څومره ښکلی احساس دی! الله دې ما او تاسو له دې پلاوي څخه وګرځوي.

اې الله! که موږ ستا د رحمت د تر لاسه کولو وړ نه یو؛ ستا رحمت موږ ته د رسیدو توان لري، او ستا رحمت په هر څه کې شامل دی؛ خپل رحمت مو په دنیا او آخرت کې پر موږ شامل کړه؛ اې د ډېر رحم څښتنه!

9

## الحَيُّ )تل ژوندی پاته کیدونکی (-جل جلاله-

کله چې د غمونو وربځې یرغل وکړي، او د اندېښنو زولنې سره یوځای شي؛ او ته د وتلو لاره نه مومې، او زړه دې را تنګ شي؛ لکه څنګه چې ستا روح ستا له ستوني څخه وتلي وي، او نږدې ده چې حالات دې زندۍ کړي؛ او په سختۍ سره ساه اخلې، او نړۍ راتنګه شي، ستا شاوخوا خلک ستا څخه لرې کیږي، او ته یوازې پاتې کیږې؛ نه آرامي بخښونکی شته او نه آسانتیا راوستونکی، نو مرګ یقیني شو..

دلته؛ څښتن ستا لپاره د خلاصون ځواک او د امید وړمه پرانیزي، تا کې ډاډ را منځته کوي، تا ته د مرستې لاس در اوږدوي، او تا د مرګ له لیدو وروسته ژوندی کوي؛ نو ته به په سجده پریوځې او ژړا به کوې او ژبه به دې دا تکراروي چې: اې ژوندی ذاته.. اې قیوم ذاته! ټول ثنا او ستاینه تا لره ده.

دا یوازې هغه وخت پیښیږي کله چې تاسو په ژوندي ذات؛ چې نه مري باور وکړئ؛

﴿وَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱلۡحَيِّ ٱلَّذِي لَا يَمُوتُ وَسَبِّحۡ بِحَمۡدِهِۦۚ وَكَفَىٰ بِهِۦ بِذُنُوبِ عِبَادِهِۦ خَبِيرًا٥٨﴾ [الفرقان: 58]

(او ته توکل وکړه په هغه تل ژوندي ذات چې نه مري او ته د هغه له ستاینې سره تسبیح بیانوه او هم الله د خپلو بنده ګانو په ګناهونو ښه کافي خبردار دی) [الفرقان سورت : ایت 58]

. زموږ رب –سبحانه و تعالی- د خپل ځان لپاره د (ژوند) صفت ثابت کړی دی چې هغه: یو بشپړ ژوند دی چې له هغه مخکې عدم شتون نه درلود، هیڅکله به هغه زوال او فنا نه راځي، نقصان، عیب، غفلت او بې کفایتي، په خوب او سپک خوب نه اخته کیږي، او په هیڅ حالت کې مرګ ورته نه رسیږي:

﴿... لَا تَأۡخُذُهُۥ سِنَةٞ وَلَا نَوۡمٞۚ ....﴾ [البقرة: 255]

(پر ده نه پرکالي راځي، او نه خوب) [البقرة سورت : ايت 255]

- زموږ رب لدې څخه لوړ او پاک دی-. او د هغه – جل وعلا – ژوند پاک دی تر دې چې د مخلوق له ژوند سره يې مشابهت وشي.

﴿..... لَيۡسَ كَمِثۡلِهِۦ شَيۡءٞۖ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ ١١﴾ [الشورى: 11]

( د هغه په مثل هيڅ شی نشته او هم دغه ښه اورېدونکی، ښه ليدونکی دی) [الشورى سورت: ايت 11]

، هغه ژوند چې د هغه –سبحانه و تعالى- د صفاتو بشپړتيا لره مستلزم دی لکه؛ د هغه پوهه، اوريدل، ليدل، ورتيا، اراده او د هغه رحمت چې هغه يې غواړي، او همدارنګه د هغه نور د کمال صفتونه. او زموږ ژوندی رب – سبحانه و تعالى- چې ژوند پرې ولاړ دی، او هر ژوندی ورسره ژوندی شو، د هغه پرته نور هرڅيز، د الله –سبحانه و تعالى- په ژوندي کولو پورې تړلی دی، هغه –سبحانه و تعالى- فرمايلي:

﴿كَيۡفَ تَكۡفُرُونَ بِٱللَّهِ وَكُنتُمۡ أَمۡوَٰتٗا فَأَحۡيَٰكُمۡۖ ثُمَّ يُمِيتُكُمۡ ثُمَّ يُحۡيِيكُمۡ ثُمَّ إِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ٢٨﴾ [البقرة: 28]

(حال دا چې تاسو نشت وئ، نو هغه تاسو راژوندي کړئ، بيا به هغه تاسو مړه کوي، بيا به تاسو راژوندي کوي، بيا به خاص د هغه په طرف ګرځولی شئ) [البقرة سورت : ايت 28].

او زمونږ رب - سبحانه وتعالى- هغه ذات دی؛ څوک چې د علم، هدايت او ايمان په رڼا سره نفسونه او روحونه را ژوندي کوي.

او زمونږ رب - سبحانه وتعالى -؛ هغه ذات دی څوک چې د جنت اوسيدونکو ته تل پاتې ژوند ورکوي، هغه - سبحانه وتعالى - فرمايلي:

﴿وَمَا هَٰذِهِ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَآ إِلَّا لَهۡوٞ وَلَعِبٞۚ وَإِنَّ ٱلدَّارَ ٱلۡأٓخِرَةَ لَهِيَ ٱلۡحَيَوَانُۚ لَوۡ كَانُواْ يَعۡلَمُونَ ٦٤﴾ [العنكبوت: 64]

(او بېشکه کور د اخرت (جنت) خامخا همغه واقعي ژوندون دی، که چېرې دوی پوهېدلی) [العنكبوت سورت: ايت 64].

ښکاره دلیل:

ژوندی دی، له هغه پرته بل معبود نشته، څوک چې پر هغه توکل وکړي، د هغه لپاره کافي دی، هیڅ شی نشي کولی د هغه اراده ماته کړي، او هیڅ شی نشي کولی هغه بې وسه کړي، هغه شر لرې کوي، هغه د اړمن ځواب ورکوي، هغه هډوکي بیا راژوندي کوي کله چې وراسته شي، هغه خلقت بیرته راګرځوي لکه څنګه چې یې لومړی ځل پیل کړی وو، او دا کار د هغه لپاره ډیر آسان دی، او هغه د حکمت څښتن دی چې هیڅ شی بې ځایه نه پیدا کوي، او هیڅ شي بې ځایه نه پریږدي.

ابن جریر او بیهقي له ابن عباس -رضي الله عنهما- څخه روایت کړی دی چې هغوی وویل: عاص بن وائل رسول الله -صلی الله علیه وسلم- ته راغی؛ نو هغه پورته شو او یو وروست شوی هډوکی یې راواخیست او په خپل لاس یې ورژاوه او ویې ویل: څوک دی هغه چې هډوکي بیا راژوندي کوي کله چې وراسته شي؟! -قیامت او حشر یې دروغ ګڼه- هغه وفرمایل: «نَعَمْ، يَبْعَثُ اللهُ هَذَا، ثُمَّ يُمِيتُكَ، ثُمَّ يُحْيِيَكَ، ثُمَّ يُدْخِلُكَ نَارَ جَهَنَّمَ»، "هو، دا الله بیا راژوندي کول همداسي دي، بیا به تا مړ کړي، بیا به دې بیرته را ژوندي کړي، بیا به دې دوزخ اور ته داخل کړي". او الله -سبحانه وتعالی- دغه آیت نازل کړ-:

﴿أَوَلَمۡ يَرَ ٱلۡإِنسَٰنُ أَنَّا خَلَقۡنَٰهُ مِن نُّطۡفَةٖ فَإِذَا هُوَ خَصِيمٞ مُّبِينٞ٧٧﴾ [یس: 77]

( آیا انسان نه دي کتلي چې ببشکه مونږ دغه (انسان) له نطفې (یو څاڅکې اوبو) نه پیدا کړی دی، نو ناڅاپه دی ښکاره سخت جګړه کوونکی دی) [یس سورت : ایت 77]

د سورت تر پایه [صحیح حدیث دی. امام حاکم روایت کړی او صحیح یې بللی او الذهبي ورسره هم موافقه کړې]. انسان څومره ناشکره دی! هغه خپل پیدایښت هېر کړ او د خپل خالق څخه یې انکار وکړ: هغه چا چې لومړی ځل باندې پیدا کړی دی بیرته یې راګرځوي او بیا یې ژوندي کوي؛ ځکه چې دویم پیدایښت اسانه دی - د عقل له مخې -، او دا ټول د الله لپاره اسان دي؛ د الله لپاره پیل او تکرار یو شان دي؛

﴿وَهُوَ ٱلَّذِي يَبۡدَؤُاْ ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ وَهُوَ أَهۡوَنُ عَلَيۡهِ.....﴾ [الروم: 27]

( او دی همغه ذات دی چې مخلوق اول ځلې پیدا کوي، بیا به دغه دوباره راژوندي کوي او دغه (بیا راژوندي کول) هغه (الله) ته ډېر اسان دي) [الروم سورت : ایت 27].

عزت د هغه لپاره دی، جبروت د هغه لپاره دی، عظمت د هغه لپاره دی، لويي د هغه لپاره ده، واک د هغه لپاره دی، پاچاهي د هغه لپاره ده، قضاوت او حکم د هغه لپاره دي، ځواک د هغه لپاره دی، ستاينه د هغه لپاره ده او پاکي هم هغه لره ده.. د هغه مقام څومره لوړ دی، او د هغه پادشاهي څومره د فخر وړ ده، او د لوړې مرتبې خاوند دی!

د کايناتو آواز..

پاکي ده هغه ذات لره چې هر مخلوق ته يې خاص ژوند ورکړی دی! د ملاېکو ژوند د انسان سره توپير لري، د جنياتو ژوند د انسانانو له ژوند سره توپير لري، او د حيواناتو ژوند د انسانانو او پيريانو او ملاېکو له ژوند سره توپير لري.

حتا جمادات د الله د نوم (الحي، ژوندی) له نښو څخه ډک دي؛ نو هغه ژوندی دی، د جماداتو ژوند ته په کتلو سره هغوی ته ژوند ورکړل شوی، لکه د موسی – عليه السلام- لکړه:

﴿فَأَلْقَىٰ مُوسَىٰ عَصَاهُ فَإِذَا هِيَ تَلْقَفُ مَا يَأْفِكُونَ ﴿٤٥﴾﴾ [الشعراء: 45]

( نو موسی خپله امسا وغورځوله، نو ناڅاپه هغې هغه څه ښويه تېرول چې دوی په دروغه جوړ کړي وو) [الشعراء سورت: ايت 45].

حتا وني يو ځانګړی ژوند لري؛ د کجوري د ونې ډېر رسول الله -صلى الله عليه وسلم- لپاره وژړل، په صحيح بخاري کې راغلی چې: "رسول الله -صلى الله عليه وسلم – د کجوري د ونې په يو ډډ خطبه ورکوله، کله چې ورته منبر جوړ شو نو منبر ته يې مخه کړه، پدې وخت کې د کجوري له ډډ څخه د ژړا آواز راپورته شو، نو هغه ورته راوګرځيد او خپل لاس يې پرې کش کړ». او په "السنن" کې راغلي: نو هغه ورته راغی، او په غېږ کې يې ونيوه، نو هغه آرام شو، او هغه – صلى الله عليه وسلم- وفرمايل: «لَوْ لَمْ أَحْتَضِنْهُ لَحَنَّ إِلَى يَوْمِ القِيَامَةِ» "که ما په غېږ کې نه و نيولی، نو د قيامت تر ورځې به يې ژړل". [صحيح حديث دی. ابن ماجه روايت کړی].

په جماد کې د ژوندۍ مادې ښکاره کیدل آیا د الله - عزوجل – له نښانو څخه یوه نښه نده؟ دا پدې دلالت کوي چې الله ژوندی دی او له هغه پرته بل معبود نشته؟!

او په هر څه کې د هغه یوه نښه شته ... پردې دلالت کوي چې هغه یو دی.

د مینه والو زړونه..

او د رسول الله -صلى الله عليه وسلم- له دعاو څخه: «اللَّهُمَّ! إِنِّي أَعُوْذُ بِعِزَّتِكَ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ: أَنْ تُضِلَّنِي، أَنْتَ الحَيُّ الَّذِي لَا يَمُوْتُ وَالجِنُّ وَالإِنْسُ يَمُوتُونَ» «اې الله! زه ستا په عزت پناه غواړم، له تا پرته بل معبود نشته: تردې چې ما ګمراه کړې، ته ژوندی یې چې نه مرې، او پیریان او انسانان مري". [مسلم روایت کړی] پدې کې شک نشته چې هدایت: د زړونو ژوند دی، او دغه هدایت د هغه معبود له لوري دی چې له هغه پرته بل معبود نشته، که څوک یې غواړي له ژوندی ذات څخه دې وغواړي، ځکه الله – جل و علا- فرمایلي دي:

﴿هُوَ ٱلۡحَيُّ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ فَٱدۡعُوهُ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَۗ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ٦٥﴾ [غافر: 65]

(هم دی (تل) ژوندی دی، نشته هېڅ حق معبود مګر هم دی دی، نو تاسو دا بلئ، په داسي حال کې چې همده لره د دین خالص کوونکي يئ، ټول د کمال صفتونه خاص د الله رب العالمین لپاره دي) [غافر سورت: ایت 65].

او هرکله چې زړه له ایمان او د الله له عظمت څخه ډک شي؛ هغه وخت به ژوند خوږ شي، دنیا به صفا شي، بصیرت به روښانه شي، اندیښنې به ختمې شي، او غمونه به لرې شي، او ژوند کې به خوشحاله وي.

نو د الله –جل و علا- نومونه د مومنانو په زړونو کې مینه او لیوالتیا راپاروي، او هغوی به په دنیا او په آخرت کې خوشحاله اوسي.

﴿مَنۡ عَمِلَ صَٰلِحٗا مِّن ذَكَرٍ أَوۡ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤۡمِنٞ فَلَنُحۡيِيَنَّهُۥ حَيَوٰةٗ طَيِّبَةٗۖ وَلَنَجۡزِيَنَّهُمۡ أَجۡرَهُم بِأَحۡسَنِ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ٩٧﴾ [النحل: 97]

(چا چې نیك عمل وکړ، سړی وي، یا که ښځه، پداسې حال کې چې مؤمن وي، نو خامخا هرومرو به مونږ هغه ته ژوند ورکړو، ډېر پاکیزه ژوند او خامخا هرومرو به مونږ هغوی ته د هغوی د اجر جزا ورکړو د هغو تر ټولو ښو عملونو په بدل کې چې دوی به کول) [النحل سورت: ایت 97]

. او که څوک کفر غوره کړي؛ ژوند به يې تنګ شي، په دنيا او آخرت کې به يې ژوند له ستونزو سره مخ وي، څکه الله –سبحانه و تعالی- فرمايلي دي:

﴿وَمَنۡ أَعۡرَضَ عَن ذِكۡرِي فَإِنَّ لَهُۥ مَعِيشَةٗ ضَنكٗا وَنَحۡشُرُهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ أَعۡمَىٰ ١٢٤﴾ [طه: 124]

(او هغه څوک چې زما له ذکر (قرآن) نه مخ وګرځوي، نو بېشکه د ده لپاره ډېر تنګ ګذران (او ژوند) دی او دی به مونږ د قيامت په ورځ ړوند راپورته کوو) [طه سورت: ايت 124]،

حتا که هغه په خپلو پښو روان هم اوسي، هغه په مړو کې حسابيږي◉

﴿أَمۡوَٰتٌ غَيۡرُ أَحۡيَآءٖۖ وَمَا يَشۡعُرُونَ أَيَّانَ يُبۡعَثُونَ ٢١﴾ [النحل: 21] (مړه دي، ژوندي نه دي او دوی نه پوهيږي چې کله به دوی بيا راژوندي کولی شي) [النحل سورت: ايت 21].

څوک چې مړ شي او آرام شي مړ ندی ... مګر مړ هغه دی چې په ژوندانه کې مړ وي

هغه ته تواضع وکړه!

د امام احمد په مسند کې د انس بن مالک -رضي الله عنه- څخه روايت دی چې رسول الله -صلی الله عليه وسلم- وفرمايل: هرکله چې رسول الله -صلی الله عليه وسلم- ته به څه تکليف ورسيده، نو هغه به وفرمايل: «يَا حَيُّ.. يَا قَيُّوْمُ! بِرَحْمَتِكَ أَسْتَغِيثُ» "اې ژوندی ذاته.. او ډېر قائم ساتونکی ذاته! ستا د رحمت غوښتونکی يم" [حسن حديث دی]. نسايي وايي: رسول الله -صلی الله عليه وسلم- خپلې لور فاطمې -رضی الله عنها- ته ووېل: "تا څه شی منع کوی چې هغه څه واورې چې زه تا ته پرې وصيت کوم! سهار او ماښام وايه چې: يَا حَيُّ يَا قَيُّومُ! بِرَحْمَتِكَ أَسْتَغِيثُ؛ أَصْلِحْ لِي شَأْنِي كُلَّهُ، وَلَا تَكِلْنِي إِلَى نَفْسِي طَرْفَةَ عَيْنٍ. اې ژوندی ذاته اې د ټول عالم انتظام کوونکی ذاته! زه ستا د رحمت غوښتونکی يم؛ زما ټولې چارې زما لپاره سمې کړه، او د سترګو د رپېدو لپاره مې ځان ته مه پرېږده». [صحيح حديث دی]

په ترمذي او حاکم کې د ابن مسعود -رضي الله عنه- څخه روايت دی - هغه ووېل: رسول الله -صلی الله عليه وسلم- وفرمايل: څوک چې ووايي: «أَسْتَغْفِرُ اللهَ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الحَيَّ القَيُّومَ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ؛ غُفِرَ لَهُ وَإِنْ كَانَ فَرَّ مِنَ الزَّحْفِ» «زه له الله څخه بخښنه غواړم، چې له هغه پرته بل معبود نشته، ژوندی دی د ټول عالم انتظام کوونکی ذات دی او زه هغه ته رجوع

کوم؛ هغه ته به بخښنه وشي، که څه هم د جنګ له میدان څخه تښتېدلی وي». [صحیح حدیث دی].

او په «سنن» کې له انس -رضی الله عنه- څخه روایت دی چې: یو سړي دعا وکړه؛ هغه وویل: «اللهم إني أسألك بأن لك الحمد، لا إله إلا أنت المنان، بديع السماوات والأرض، يا ذا الجلال والإكرام.. يا حي.. يا قيوم!» اې الله زه له تا څخه سوال کوم چې ستا ټوله ستاینه تا لره ده، له تا پرته بل معبود نشته، ډېر احسان کونکی، د اسمانونو او ځمکې پیدا کوونکی یې، اې د عظمت او عزت خاونده.. اې ژوندی.. اې د ټول عالم انتظام کوونکیه ذاته!

نو رسول الله -صلی الله علیه وسلم- وفرمایل: «دَعَا اللَهَ بِاسْمِهِ الأَعْظَمِ الَّذِي إِذَا دُعِيَ بِهِ أَجَابَ، وَإِذَا سُئِلَ بِهِ أَعْطَى» "هغه له الله څخه د هغه د لوی نوم په واسطه دعا وکړه، هغه چې که بلنه پرې ورکړل شي قبلوي یې، او که هغه باندې څخه وغوښتل شي ورکوي یې". [صحیح حدیث دی] ابن القیم -رحمه الله- فرمایي: «د (ژوند) صفت د کمال ټول صفتونه لري، او هغې لره مستلزم دی، او د (قیومیت) صفت کې د افعالو ټول صفتونه ته شامل دي، او له همدې امله د الله تر ټولو لوی نوم دا دی چې که هغه باندې ورته بلنه ورکړل شي نو ځواب ورکوي او که ترې وغوښتل شي ورکوي یې، هغه نوم: الحي القيوم – ژوندی او د ټول عالم انتظام ساتونکی ذات دی».

اې الله! زه ستا عزت ته پناه وړم، له تا پرته بل معبود نشته چې ما ګمراه کړې، ته هغه ژوندی یې چې نه مري او انسانان او پیریان مري.

اې الله! اې ژوندی.. اې د ټول عالم انتظام کوونکیه ذاته! ستاسو په رحمت سره مرسته غواړم، زما ټولې چارې سمې کړه.

10

## القَيُّومُ )د ټول عالم انتظام کوونکی ذات (-جل جلاله-

اې د کایناتو خالقه، ته یو یې ... ټول کاینات ستا پر وجود باندې ګواه دي

اې ژوندی او د ټول عالم انتظام کوونکیه ذاته ... او ستا د لوړوالي لپاره سجده کوونکی تندی پورته کيږي

په ترمذي کې راغلي چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- له يوه سړي څخه واورېدل چې په لمانځه کې يې ويل: ای الله زه له تا سوال کوم چې تا لره ستاينه ده، له تا پرته بل معبود نشته اې احسان کوونکيه، د اسمانونو او ځمکې خالقه! اې د عظمت او عزت خاونده.. اې ژوندی.. اې د ټول عالم انتظام کوونکيه ذاته!

نو رسول الله -صلى الله عليه وسلم- وفرمايل: «قسم په هغه ذات دی چې زما ژوند د هغه په لاس کې دی! هغه له الله څخه د هغه لوی نوم په وسيله سوال وکړ، چې کله هغه باندې ورته بلنه ورکړل شي نو ځواب ورکوي، او کله ترې وغوښتل شي ورکوي يې». [ صحيح حديث دی].

دا ستاسو د پيغمبر– صلى الله عليه وسلم -

يوازې د هغه لپاره، کله نه نو د بل چا لپاره رکابونه نه چمتو کيږي

يوازې له هغه څخه اميد شته، کله نه نو هيله مند به مايوسه شي

موږ د الله له يو له ښکلو نومونو سره تم کيږو، او هغه: (القيوم (د ټول عالم انتظام کوونکی) –جل و علا- ذات دی:

الله –سبحانه و تعالى- فرمايلي:

﴿۞ وَعَنَتِ ٱلۡوُجُوهُ لِلۡحَيِّ ٱلۡقَيُّومِۖ وَقَدۡ خَابَ مَنۡ حَمَلَ ظُلۡمٗا﴾ [طه: 111]

(او مخونه ټل ژوندي، د ټول عالم انتظام کوونکي ذات ته ټيټ شول) [طه سورت: ايت 111]

. نو زمونږ رب –سبحانه و تعالى- هغه ذات دی چې په بشپړ ډول پر ځان بسيا دی، په خپل استقامت او تل پاتې والي کې هيچا ته اړتيا نه لري، پر خپل ځان باندې له هر څيز څخه بې نياز دی.

﴿۞ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ أَنتُمُ ٱلۡفُقَرَآءُ إِلَى ٱللَّهِۖ وَٱللَّهُ هُوَ ٱلۡغَنِيُّ ٱلۡحَمِيدُ﴾ [فاطر: 15]

(ای خلقو! هم تاسو الله ته محتاجان يئ، او الله، هم دی ښه بې پروا، ښه ستايل شوی دی) [فاطر سورت : ايت 15].

او زموږ رب –جل وعلا- هغه ذات دی چې ټول مخلوقات پر هغه ولاړ دي؛ څوک چې په ځمکه او اسمانونو کې دي، د دوی لپاره له هغه –سبحانه و تعالی- پرته د پاتې کیدو او صلاح هیڅ شی نشته، مخلوق هغه ته په هر لحاظ اړمن دی، او هغه په هر لحاظ له هغوی څخه بې نیازه دی؛ حتا عرش او د هغه پورته کوونکي، ځکه چې عرش یوازې د الله – جل و علا – په واسطه درول شوی دی، او د عرش پورته کوونکي ندي درول شوي مګر د الله –تبارک و تعالی- په واسطه.

او زمونږ رب –جل و علا- د ټولې نړۍ قایمونکی دی، پورته او ښکته، او ددې په منځ کې موجود مخلوقات، په ټولو حالتونو کې؛ د هغوی په اداره کولو، هغوی ته په روزۍ ورکولو او له هغوی د ساتنې، او د هغوی په ټولو چارو کې په هر وخت او هره موقع کې د پاملرنې او توجه له لحاظه.

بلکې هغه ذات –جل وعلا- د خپلو بندګانو اداره کونکی دی، څوک چې د دوی د عملونو او خبرو، د دوی د نیکو اعمالو او ګناهونو حساب ثبتوي؛ هغه ذات چې دوی ته به په آخرت کې بدله ورکوي.

﴿أَفَمَنْ هُوَ قَآئِمٌ عَلَىٰ كُلِّ نَفْسٍۭ بِمَا كَسَبَتْۗ وَجَعَلُواْ لِلَّهِ شُرَكَآءَ قُلْ سَمُّوهُمْۚ أَمْ تُنَبِّـُٔونَهُۥ بِمَا لَا يَعْلَمُ فِي ٱلْأَرْضِ أَم بِظَٰهِرٍ مِّنَ ٱلْقَوْلِۗ بَلْ زُيِّنَ لِلَّذِينَ كَفَرُواْ مَكْرُهُمْ وَصُدُّواْ عَنِ ٱلسَّبِيلِۗ وَمَن يُضْلِلِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِنْ هَادٍ۝٣٣﴾ [الرعد: 33]

(ایا نو هغه ذات چې ولاړ (او نګران) دی پر هر نفس باندې سره د هغه د هغو عملونو چې کوي يې (نو بل څوك د ده برابر کېدی شي؟) او دوی د الله لپاره شریکان مقرر کړل، ته (ورته) ووایه: تاسو د دوی نومونه (او صفتونه) ذکر کړئ، یا تاسو هغه (الله) ته د هغه څه خبر ورکوئ چې هغه يې په ځمکه کې نه پېژني، بلکې تاسو په ظاهره (بې دلیله) وینا سره (تش په خولې، دوی شریکان جوړوئ) بلکې کافران شویو کسانو ته خپل مکرونه (او دروغ) ښایسته کړی شوي دي او له سمې لارې نه بند کړی شوي دي او هغه څوك چې الله يې ګمراه کړي، نو د هغه لپاره هېڅ هدایت ورکوونکی نشته) [الرعد سورت: ایت 33]

. او د هغه د الوهيت له کمال څخه: دا دی چې آسمانونه او ځمکه د هغه په امر او ځواک سره جوړ شو او د هغه په امر او ځواک سره په خپل ځای کې مستقر او ثابت پاتې شول؛ پرته له کومې ستنې چې ورباندې تکیه شي:

﴿ إِنَّ ٱللَّهَ يُمۡسِكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ أَن تَزُولَاۚ وَلَئِن زَالَتَآ إِنۡ أَمۡسَكَهُمَا مِنۡ أَحَدٖ مِّنۢ بَعۡدِهِۦٓۚ إِنَّهُۥ كَانَ حَلِيمًا غَفُورٗا ﴾ [فاطر: 41]

(بېشکه چې الله اسمانونه او ځمکه ساتي او (نیسي يې) چې زایل نشي او قسم د ی که دواړه په زوال شي (نو) له هغه (الله) نه غير به يې هيڅوك ونه ساتلی شي) (ونه نيولی) شي، بېشکه هغه (الله) دی، ښه تحمل والا، ډېر بخښونکی) [فاطر سورت: ایت 41].

له ټولو څخه ډېر د عبادت وړ..

ځکه الله: ژوندی، پاینښت لرونکی –عزوجل- ذات دی، رب العالمين او تر ټولو زیات رحم کوونکی دی، او تر ټولو قادر، او د واکمنانو څخه تر ټولو واکمن، هغه څوک چې د خلقت او امر څښتن دی او ګټه او تاوان د هغه په لاس کې دي.

هغه څه چې په فطرت سره پيژندل شوي دي.. او عقلونه يې تاييدوي، او ټول موجودات ورباندې دلالت کوي، چې شتون او دوام يې په هر حرکت او سکون کې ليدل کيږي، هغه ذات چې مصيبت ځپلي ته ځواب ورکوي هرکله چې بلنه ورکړای شي، او د مشکل لرونکي سره مرسته کوي هر کله چې يې راوغواړي، او شر لرې کوي، تکليفونه او خنډونه ليرې کوي.

د هرې بدبختۍ او ناخوالي په وخت کې له هغه څخه مرسته غوښتل کيږي، او له هغه څخه د نیکۍ او کرم توقع کيږي.

هغه چې مخونه ورته ټيټ شول، او غړونه ورته په خشوع او خضوع شوي،

﴿ وَعَنَتِ ٱلۡوُجُوهُ لِلۡحَيِّ ٱلۡقَيُّومِۖ وَقَدۡ خَابَ مَنۡ حَمَلَ ظُلۡمٗا ﴾ [طه: 111]

(او مخونه تل ژوندي، د ټول عالم انتظام کوونکي ذات ته ټيټ شول) [طه سورت: ایت 111].

هغه د يادولو ډېر مستحق دی، تر ټولو زيات حقدار دی چې عبادت يې وشي، په شکر ويستولو کې بايد لومړيتوب ورکړل شي، او د هغه چا څخه ډېر مستحق دی چې

مرسته ور ښخه وغوښتل شي، او تر ټولو مهربانه مالک، او تر ټولو سخي دی کله چې له ورښخه وغوښتل شي، او د وړتیا پر مهال تر ټولو زیات بخښونکی دی، او تر ټولو زیات سخي دی کله چې ورته قصد وشي، او تر ټولو عادل کله چې انتقام اخلي.

او د هغه حلم او نرمي وروسته له پوهې ښخه ده، عفوه یې وروسته له قدرت ښخه، بخښنه یې وروسته له عزت ښخه، او د هغه منع کول د حکمت له مخې دي.

هغه الله، ژوندی او ډیر قائم ساتونکی دی، هیڅ شریک نلري، یو او بې مثاله دی:

﴿ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡحَيُّ ٱلۡقَيُّومُۚ ...﴾ [البقرة: 255]

(الله (چې دی) نشته هیڅ لایق د عبادت مګر هم دی دی، همېشه ژوندی دی، د ټول عالم انتظام کوونکی دی) [البقرة سورت: ایت 255].

خپل دلالت یې مفکرینو ته بیان کړی دی، او خپل ثبوتونه یې لیدونکو ته ښودلي دي، او خپلې نښانې یې نړۍ والو ته بیان کړي، د ضد کوونکو عذرونه یې قطع کړل، او د منکرینو دلیلونه یې رد کړل؛ نو د ربوبیت نښانې یې روښانه شوي، او د الوهیت دلیلونه یې روښانه شوي.

الله –جل وعلا- د خپلو مخلوقاتو انتظام کوونکی دی، هغوی ته هیڅ اړتیا نلري، او هغوی ټول هغه ته محتاج دي، ټول هغه ته محتاج دي: مقربې ملائکې، د عرش پورته کوونکي، او د اسمانونو او ځمکې اوسیدونکي،

﴿۞ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ أَنتُمُ ٱلۡفُقَرَآءُ إِلَى ٱللَّهِۖ وَٱللَّهُ هُوَ ٱلۡغَنِيُّ ٱلۡحَمِيدُ ١٥﴾ [فاطر: 15

(اې خلقو! هم تاسو الله ته محتاجان یئ، او الله، هم دی ښه بې پروا، ښه ستایل شوی دی) [فاطر سورت: ایت 15]

. هغه لپاره عزت،ځواک، عظمت، لويي، سلطان، بادشاهي، فیصله او قضاوت، قوت، ټوله ستاینه، ټول درناوی یوازې هغه لره دی.. په صفتونو او فعلونو کې بشپړ دی.

﴿ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡحَيُّ ٱلۡقَيُّومُۚ لَا تَأۡخُذُهُۥ سِنَةٞ وَلَا نَوۡمٞۚ لَّهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ ....﴾ [البقرة: 255]

(الله (چې دی) نشته هيڅ لايق د عبادت مگر هم دی دی، همېشه ژوندی دی، د ټول عالم انتظام کوونکی دی، پر ده نه پرکالي راځي، او نه خوب، خاص هم ده لره دي هغه څه چې په اسمانونو کې دي، او هغه څه چې په ځمکه کې دي) [البقرة سورت: ايت 255].

الله –عزوجل- نه ويده کيږي او هغه لپاره نه ښايي چې ويده شي، له هغه –صلی الله عليه وسلم- څخه په صحيح روايت سره راغلی چې فرمايي: «إِنَّ اللهَ -عز وجل- لَا يَنَامُ، وَلَا يَنْبَغِي لَهُ أَنْ يَنَامَ، يَخْفِضُ القِسْطَ وَيَرْفَعُهُ، يُرْفَعُ إِلَيْهِ عَمَلُ اللَّيْلِ قَبْلَ عَمَلِ النَّهَارِ، وَعَمَلُ النَّهَارِ قَبْلَ عَمَلِ اللَّيْلِ، حِجَابُهُ النُّورُ -النَّارُ- لَوْ كَشَفَهُ لَأَحْرَقَتْ سُبُحَاتُ وَجْهِهِ مَا انْتَهَى إِلَيْهِ بَصَرُهُ مِنْ خَلْقِهِ» «په حقيقت کې الله –عزوجل- نه ويده کيږي، او هغه لپاره نه ښايي چې ويده شي، او د بندګانو رزق ښکته او پورته کوي، د ورځې عمل څخه مخکې د شپې عمل ورته پورته کيږي، او د شپې له عمل څخه مخکې د ورځې کار ورته پورته کيږي، د هغه پرده رڼا - اور – ده، که هغه لرې کړي، نو د مخ وړانګې به يې ټول هغه څه وسوځوي چې له مخلوقاتو څخه يې ليدوررسيږي». [مسلم روايت کړی].

پاک دی هغه ذات چې رڼا يې اسمانونه او ځمکه روښانه کوي، او مخ يې تياره روښانه کوي! پاکي ده ژوندي او انتظام کوونکي ذات لره!

ډاډه اوسه!

څوک چې پوه شي چې الله انتظام کوونکی ذات دی؛ د هغه زړه د مخلوق څخه قطع کيږي، او زړه يې د خپل خالق، روزونکي او تدبير کونکي سره آرامتيا مومي، په نفس کې داسې اړتيا شته چې مال يې نشي پوره کولی، نه د مقام لوړوالی، نه خوندونه، او نه شهرت.. دا يوازې پر الله – عزوجل- باندې د ايمان، اطمينان او توکل په لرلو له مخې امکان لري، نو الله –سبحانه وتعالی- فرمايلی:

يوازې پر الله – عزوجل- باندې په ايمان، اطمينان او توکل سره خړوبيدلای شي ، نو الله –سبحانه وتعالی- فرمايلي دي:

(الَّذِينَ آمَنُوا وَتَطْمَئِنُّ قُلُوبُهُم بِذِكْرِ اللَّهِ ۗ أَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ) (هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی او د هغوی زړونه د الله په ذکر سره ډاډمنيږي، خبردار شئ! يوازې د الله په ذکر (ياد) سره زړونه مطمئن کيږي) [الرعد سورت: ايت 28].

اې الله موږ له تا نه سوال کوو، اې ژوندی.. اې انتظام کوونکیه ذات! دا چې زمونږ ګناهونه معاف کړې، زموږ عیبونه پټ کړې، په خپل اطاعت کې مو مرسته وکړې، جنت ته مو داخل کړې او له اوره مو وژغورې.

12 - 11

## - المَلِكُ المَلِيكُ- حقيقي پادشاه او مالک -جل جلاله-

بخاري د ابن مسعود -رضي الله عنه- څخه روايت کوي چې وايي: د يهودو يو عالم رسول الله -صلى الله عليه وسلم- ته راغی او ويې ويل: اې محمده! موږ موندلي دي چې الله -تعالى- اسمانونه په يوه ګوته، ځمکې په بله ګوته، ونې په بله ګوته، اوبه او خاوره په بله ګوته او نور ټول مخلوقات په بله ګوته کې نيسي، بيا وايي: زه پادشاه يم.

رسول الله -صلى الله عليه وسلم- وخندل تر دې چې آخرني غاښونه يې ښکاره شول ددې عالم د خبرې د پخلي په وجه باندې، بيا رسول الله -صلى الله عليه وسلم- دغه آيت تلاوت کړ:

﴿وَمَا قَدَرُواْ ٱللَّهَ حَقَّ قَدۡرِهِۦ وَٱلۡأَرۡضُ جَمِيعٗا قَبۡضَتُهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَٱلسَّمَٰوَٰتُ مَطۡوِيَّٰتُۢ بِيَمِينِهِۦۚ سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ٦٧﴾ [الزمر: 67]

(او دغو (مشرکانو) د الله تعظيم ونه کړ د هغه حق تعظيم، حال دا چې ځمکه ټوله د ده په قبضه کې ده د قيامت په ورځ کې او اسمانونه د ده په ښي لاس کې رانغاړل (راټول کړى) شوي دي، ده لره پاکي ده او هغه ډېر اوچت دى له هغو څيزونو نه چې دوى يې (له هغه سره) شريکوي) [الزمر سورت: ايت 67].

يوازې هغه پوهيږي چې هغه د څه څيز مستحق دى...!

او بل څوک نه شي کولى د هغه پوهه احاطه کړي...!

يوازې هغه کولى شي د خپل قدر ستاينه وکړي...!

د هغه پرته بل څوک د هغه ښه ستاينه نشي کولى...!

بیان او فصاحت او تعبیر.. خپلې نیمګړتیاوې اعلان کړې...!

حیاء زمونږ زړونه ډکوي، او مونږ پدې وخت کې غواړو د پاچاهانو د پاچا صفتونه بیان کړو! او مونږ دا ویاړ لرو چې د هغه – جل وعلا- د عظمت او د هغه د لوی قدرت لپاره خپلې پوزې په خاورو کې ومروړو، او دا ویاړ لرو چې زمونږ ژبې او قلمونه د هغه ستاینه کوي، که موږ د هغه پاکي، تسبیح، او تمجید کوو دا د هغه –جل و علا- احسان او منت دی پر مونږ باندې.

ډالۍ کوونکي په ستاینې سره تا ته نشي رسیدلی

حتا که دوی مبالغه هم وکړي، ځکه هغه څه چې په تاسو کې دي ډیر لوی دي

د پادشاه د نوم د سیوري لاندې:

﴿هُوَ ٱللَّهُ ٱلَّذِى لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلْمَلِكُ ٱلْقُدُّوسُ ....﴾ [الحشر: 23]

( دغه الله هغه ذات دی چې نشته هیڅ حق معبود مګر هم دی دی، چې (حقیقي) پادشاه دی [الحشر سورت: ایت 23].

زمونږ رب - عزوجل - هغه ذات دی چې په خپله پادشاهۍ کې خپل امر پلي کوي، هغه د ټولې پادشاهۍ مالک دی، او هغه بشپړ پادشاه دی، د قیامت د ورځې مالک دی، هغه د مخلوقاتو پادچاه دی، او د هغه څخه پورته هیڅ پادشاه نشته، او له هغه پرته بل هیڅ څه نشته، هغه د ټولو شیانو اختیار لري، او د هغه –سبحانه و تعالی- لپاره هیڅ مانع کوونکی یا مدافع نشته.

یو پیاوړی پاچا چې هیڅکله خپل ځواک له لاسه نه ورکوي ... د هغه په وړاندې قضاوت کیږي او بخښنه ترې غوښتل کیږي ... هغه پاچا چې هغه لره د فضا مخ او شا حاکمیت دی ... د هغه د پاچاهۍ ځواک د زماني په تیریدو سره نه کمزوری کیږي

هغه داسې یو پادشاه دی چې د خپل حلم او مهربانۍ له امله ... د هغه د نیک امتحان له امله به د هغه نافرماني او ورسره جفا کیږي ... د هر واکمن واکمني له منځه ځي ... او الله هغه بادشاه دی چې واکمني یې نه زړیږي

او ریښتینی ملکیت یوازې الله - عزوجل – لره دی؛ هیڅوک هغه سره شریک ندی، او هر څوک چې د یو څه مالک دی؛ هغه د الله لخوا ورکړل شوی دی، او هغه -صلی الله علیه وسلم- فرمايلي دي: «لَا مَالِكَ إِلَّا اللهُ -عز وجل- »، "له الله –عزوجل- پرته بل مالک نشته". او په بل روايت کې راغلي چې: «لَا مَلِكَ إِلَّا اللهُ» "له الله پرته بل پادشاه نشته" [دواړه مسلم روايت کړي دي]

﴿هُوَ ٱللَّهُ ٱلَّذِى لَآ إِلَـٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡمَلِكُ ٱلۡقُدُّوسُ ....﴾ [الحشر: 23]

( ته ووايه: ای الله!د پادشاهۍ مالکه! ته بادشاهي ورکوې هغه چا ته چې وغواړې او پادشاهي بېرته اخلې له هغه چا نه چې وغواړې، چا ته چې وغواړې عزت ورکوې او چا ته چې وغواړې ذلت ورکوې، هم ستا په لاس کې خیر دی، بېشکه ته په هر شي باندې ښه قادر يې) نو زمونږ رب جل وعلا- د اسمانونو او ځمکې د خزانو مالک دی، د هغه په لاس کې خیر دی، هغه چا ته چې وغواړي روزي ورکوي.[الحشر: 23]

او هغه - عزوجل - د مرګ، ژوند، قیامت، ګټې او ضرر مالک دی او هغه ته د ټولو کارونو اختیار راجع کیږي.

هغه په خپله بادشاهۍ کې څنګه چې وغواړي تصرف کوي، هره ورځ هغه په یو خاص حالت کې قرار لري! د رسول الله –صلی الله علیه وسلم- څخه ثابت دي چې فرمايي: «د هغه د شان او کار څخه دا دي چې: ګناهونه وبخښي، تکليف لرې کړي، ځيني خلک لوړ کړي او نور ښکته کړي» [حسن حديث دی. ابن ماجه روايت کړی]. او دا د الله پادشاهي ده – سبحانه و تعالی - هغه چا ته يې ورکوي چې غواړي:

﴿.... وَٱللَّهُ يُؤۡتِى مُلۡكَهُۥ مَن يَشَآءُ ...﴾ [البقرة: 247]

(او الله خپله پادشاهي ورکوي چا ته چې يې وغواړي) [البقرة سورت: ايت 247].

د امام احمد په مسند کې راغلي: رسول الله -صلی الله علیه وسلم- فرمايلي: «لَا تَسُبُّوا الدَّهْرَ! فَإِنَّ اللهَ -عز وجل- قَالَ: أَنَا الدَّهْرُ، الأَيَّامُ وَاللَّيَالِي لِي؛ أُجَدِّدُهَا وَأُبْلِيهَا، وَآتِي بِمُلُوْكٍ بَعْدَ مُلُوْكٍ». «زماني (وخت) ته ښکنځلې مه کوئ! ځکه چې الله -عزوجل- فرمايي: زه زمان (وخت) یم، ورځې او شپې زما دي؛ زه يې نوي کوم او له منځه يې وړم، او زه به له

بادشاهانو وروسته بادشاهان راولم». [صحيح حديث دی. لومړی يې په "صحيح مسلم" کې دی].

د يمن بادشاهان چيرته دي چې تاجونه يې درلودل ... او د هغوی ګلان او تاجونه چيرته دي

په ټولو داسې يو شی راغلی چې هېڅ چاره ترې نشته ... داسې لاړل ګواکې هغو خلکو هيڅ شتون نه درلودل.

شيطان هغوی ته د هغوی کړنې ښايسته کړې..

کله چې الله –تبارک و تعالی- فرعون ته بادشاهي ورکړه؛ هغه فکر وکړ چې اصلي مالک دی، نو هغه کبر، غرور، او خلکو باندې ظلم وکړ؛ تر دې چې هغه حالت ته ورسيد چې: د ځان لپاره يې د بادشاهۍ او الوهيت دعوه وکړه!

﴿وَقَالَ فِرْعَوْنُ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْمَلَأُ مَا عَلِمْتُ لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرِى ....﴾ [القصص: 38]

(او فرعون وويل: اې سردارانو! زه ستاسو لپاره له خپل ځان نه غير بل هېڅ معبود نه پېژنم) [القصص سورت: ايت 38]

، الله -عزوجل- هغه له منځه يوړ او د قيامت تر قاېمېدو پورې يې د ځمکې د بادشاهانو لپاره مثال او عبرت وګرځاوه؛ تر څو بادشاهي پر دوی طغيان او غلبه ونه کړي او خپل اصل، کمزوري او ميعاد هير نه کړي.

که څه هم بادشاهان د دنيا په ژوند کې د بادشاهۍ سره شباهت لري؛ ځکه دوی د جايدادونو، ماڼيو، باغونو، سرو زرو او سپينو زرو مالکان دي، او دوی دوه انتخابه لري: يا به له دوی څخه اخيستل کيږي، يا به دوی له هغې څخه اخيستل کيږي، ځکه چې دا يو لنډ مهاله ملکيت دی، او داسې امانت دی چې بايد بيرته وګرځول شي..

نو الله - عزوجل- هغوی ته يادونه وکړه چې د هغوی ورتګ الله ته دی؛

﴿.... وَلِلَّهِ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۖ وَإِلَيْهِ ٱلْمَصِيرُ ١٨﴾ [المائدة: 18]

(او خاص د الله لپاره د اسمانونو او ځمکې بادشاهي ده او د هغه څه چې د دې دواړو په مينځ کې دي او خاص د هغه په طرف ورتلل دي) [المائدة سورت: ايت 18]

. او رسول الله -صلى الله عليه وسلم- د شاهنشاه له نومولو څخه منع کړې ده، په "صحيحينو" کې راغلي دي: چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- وفرمايل: "د الله په نيز تر ټولو بد او ذليل نوم دادی چې: يو سړی د شاهنشاه په نوم باندې ونومول شي".

د قيامت د ورځې مالک..

د قيامت په ورځ به الله -جل و علا- اسمانونه په خپل ښي لاس کې او ځمکه په بل لاس کې ونيسي؛ لکه څنګه چې الله -تعالى- فرمايلي دي:

﴿وَمَا قَدَرُواْ ٱللَّهَ حَقَّ قَدۡرِهِۦ وَٱلۡأَرۡضُ جَمِيعٗا قَبۡضَتُهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَٱلسَّمَٰوَٰتُ مَطۡوِيَّٰتُۢ بِيَمِينِهِۦۚ سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ٦٧﴾ [الزمر: 67]

(او دغو (مشرکانو) د الله تعظيم ونه کړ د هغه حق تعظيم، حال دا چې ځمکه ټوله د ده په قبضه کې ده د قيامت په ورځ کې او اسمانونه د ده په ښي لاس کې رانغاړل (راټول کړی) شوي دي، ده لره پاکي ده او هغه ډېر اوچت دی له هغو څيزونو نه چې دوی يې (له هغه سره) شريکوي) [الزمر سورت: ايت 67]

. په صحيحينو کې له ابوهريره -رضي الله عنه- څخه روايت دی چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- وفرمايل: «يَقْبِضُ اللهُ -تبارك وتعالى- الأَرْضَ يَوْمَ القِيَامَةِ، وَيَطْوِي السَّمَاءَ بِيَمِينِهِ، ثُمَّ يَقُولُ: أَنَا المَلِكُ! أَيْنَ مُلُوْكُ الأَرْضِ؟». «الله –تبارک و تعالی- به د قيامت په ورځ ځمکه خپله قبضه کې راولي، او په خپل ښي لاس به اسمان راونغاړي، بيا به ووايي: زه پادشاه يم! د ځمکې پادشاهان چيرته دي؟». او په صحيح مسلم کې له عبدالله بن عمر -رضي الله عنهما- څخه روايت دی چې هغه وويل: رسول الله -صلى الله عليه وسلم- وفرمايل: «يَطْوِي اللهُ -عز وجل- السَّمَاوَاتِ يَوْمَ القِيَامَةِ، ثُمَّ يَأْخُذُهُنَّ بِيَدِهِ اليُمْنَى، ثُمَّ يَقُوْلُ: أَنَا المَلِكُ! أَيْنَ الجَبَّارُوْنَ؟ أَيْنَ المُتَكَبِّرُوْنَ؟ «الله –عزوجل- به د قيامت په ورځ اسمانونه راونغاړي، بيا به يې په خپل ښي لاس کې ونيسي، بيا به ووايي: زه پادشاه يم! زورواکي چيرته دي؟ لويي کوونکي چيرته دي؟»

بیا به ځمکې په خپل کیڼ لاس کې راونغاړي، بیا به ووایي: زه پادشاه یم! زورواکي چیرته دي؟ لویي چاري (لویي کوونکي) چیرته دي؟.

او د قیامت په ورځ به رب –سبحانه و تعالی- وفرمایي: (نن پادشاهي د چا ده)؟ هیڅوک به ځواب ورنکړي! او حق -تعالی- به په خپله ځواب ورکړي: :

﴿... لِلَّهِ ٱلْوَٰحِدِ ٱلْقَهَّارِ ١٦﴾ [غافر: 16]

[غافر سورت: ایت 16]

. خاص د الله (پادشاهي ده) چې یو دی، ښه غالب دی.

د هغه پادشاهي بشپړه ده:

که څه هم الله –عزوجل – پادشاه دی، او زمونږ له عبادت څخه بې نیاز دی؛ خو د هغه پر خپلو بندګانو د ښکلي احسان او منت په خاطر: خپل نوم (پادشاه) د خپلو نورو نومونو سره یوځای کړ؛ د دې لپاره چې نفسونه آرامتیا ومومي او د هغه سره د لیدو لپاره لیوالتیا پیدا کړي، هغه –سبحانه و تعالی- وفرمایل:

﴿ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ٣ مَٰلِكِ يَوْمِ ٱلدِّينِ ٤﴾ [الفاتحة: 3-4]

(ډېر زیات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی) (د بدلې د ورځې مالك دی) [الفاتحة سورت: ایت 3-4]،

او هغه -سبحانه وتعالی- وفرمایل:

﴿... هُوَ ٱلرَّحْمَٰنُ ٱلرَّحِيمُ ٢٢ هُوَ ٱللَّهُ ٱلَّذِى لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلْمَلِكُ ٱلْقُدُّوسُ ....﴾ [الحشر: 22-23]

(هم دی ډېر مهربان، بې حده رحم کوونکی دی دغه الله هغه ذات دی چې نشته هېڅ حق معبود مګر هم دی دی، چې (حقیقي) پادشاه دی) [الحشر سورت: ایت 22-23]

، او الله -عزوجل - موږ ته خبر راکوي چې پادشاهي له احسان او مهربانۍ پرته نه ښه کیږي او نه بشپړیږي؛ او هغه –سبحانه و تعالی – پادشاه او رحم کونکی دی. او زمونږ د رب –عزوجل- پادشاهي له نیمګړتیاوو څخه پاکه ده؛

﴿يُسَبِّحُ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ ٱلۡمَلِكِ ٱلۡقُدُّوسِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَكِيمِ١﴾ [الجمعة: 1]

(د الله لپاره پاکي بيانوي هر هغه څه چې په اسمانونو کې دي او هر هغه څه چې په ځمکه کې دي، (د هغه الله چې) بادشاه دى، ډېر پاك دى، ښه غالب دى، ډېر حکمت والا دى) [الجمعة سورت: ايت 1]

. او پدې چې د ځمکې پادشاهان په نيمګړتياوو لکه تکبر، ډير شهوت، بې عدالتۍ او ظلمونو کې اخته شول، الله -عزوجل - موږ ته خبر راکړ چې د هغه حاکميت بشپړ دى، چې په هغه کې د کمال او احسان ټول صفتونه راټول شوي دي؛ له همدې امله رسول الله -صلى الله عليه وسلم- به چې کله د وتر له لمانځه وروسته سلام ګرځاوه نو ويل به يې: «سُبْحَانَ المَلِكِ القُدُّوْسِ»، "پاکی ده مقدس پاچا لره" درې ځلې، او دريم ځل يې خپل غږ پورته کړ. [ صحيح حديث دى. نسائی روايت کړی] او بنده لپاره واجب دادى چې: د الله د بادشاهۍ او رحمت شکر ادا کړي، او تل د هغه ستاينه وکړي؛ الله –عزوجل- فرمايي:

﴿...لَهُ ٱلۡمُلۡكُ وَلَهُ ٱلۡحَمۡدُۖ ...﴾ [التغابن: 1]

(خاص د هغه لپاره بادشاهي ده او خاص د هغه لپاره ټول د کمال صفتونه دي) [التغابن سورت: ايت 1]،

هغه په خپله پادشاهۍ کې د ستاينې وړ دى، د ستاينې پرته پادشاهي نيمګړې وي، او له ستاينې پرته پادشاهي بې وزلي ده، او ستاينه له پادشاهۍ سره بې نهايت کمال او عظمت دى. او د هغه د پادشاهۍ له عظمت څخه: دا دي چې هغه پناه ورکوي څوک چې هغه ته پناه وړي، او هيڅوک نشي کولی د هغه چا ساتنه او حمايت وکړي کله چې الله د هغه د تباهۍ اراده وکړي؛

﴿قُلۡ مَنۢ بِيَدِهِۦ مَلَكُوتُ كُلِّ شَيۡءٖ وَهُوَ يُجِيرُ وَلَا يُجَارُ عَلَيۡهِ ...﴾ [المؤمنون: 88]

(ته (دوى ته) ووايه: څوك دى هغه ذات چې د هغه په لاس کې د هر شي بادشاهي ده او هغه پناه ورکوي او د هغه په خلاف پناه نشي ورکول کېدى که چېرې تاسو پوهېږئ) [المؤمنون سورت: ايت 88].

اې مالکه هغه چې ټولې چارې په خپل اختيار کې لرې ... او د هغه قضاوت په هر څه کې پلی کيږي

زه تاته پناه راوړم، اې سخي ذاته چې څوک نه مايوسه کوې...بنده ستا په عزت باندې پناه او ساتنه غواړي

اې هغه ذاته چې د هغه پادشاهي نه ختميږي!

تاريخ پوهانو ويلي: کله چې هارون الرشيد خپله ماڼۍ جوړه کړه، په هغه وخت کې د دې ماڼۍ په خير ښکلا چا نه وه ليدلې! خلک ننوتل او هغه ته يې مبارکي ويله، پدې ډله کې ابو العتاهيه هم وو؛ هغه پاڅيد او ويې ويل:

څومره چې غواړې ژوند وکړه ترڅو چې ته سالم يې ... د ماڼيو د سيورى لاندې ... تا ته به په لاس درشي هغه څه چې ته يې غواړې ... کله چې خلک سهار او ماښام په لوړو قصرونو کې راتګ وکړي ... ستا لپاره به هغه څه عملي شي چې تا اراده کړې وي ... سهار، ماښام د خلکو په تګ او راتګ سره

کله چې له سينو څخه د ځنکدن آواز پورته شي ... او کله چې سينې ستړې شي ... هلته به په يقين سره پوه شې ... چې ته نه وې مګر په خپل غرور کې وې

نو هارون تر هغه وخته پورې وژړل چې په ځمکه ولوېد او يوه مياشت نه وه تيره شوې چې هغه د مړو په قطار کې شو".

هارون!.. هغه څوک و چې وربځو ته به يې وييل: هر چېرته چې غواړې باران و اوروه؛ ستا خراج (محصول) په يقين سره ما ته رارسيږي؟! هارون.. هغه څوک وو چې يو کال به يې حج کاوه او يو کال به يې غزا کوله؟!

او عبدالملک بن مروان – د اسلامي نړۍ حاکم ته – چې کله مرګ راغی؛ هغه د خپلې ماڼۍ په شاوخوا کې يو دوبي وليده چې په خوښۍ سره سندرې وايي! عبدالملک وويل: اې کاش چې زه جامې مينځونکی وای! ای کاش چې پادشاهي او خلافت مې نه وای پيژندلی! بيا مړ شو.

او بل وايي: اې هغه ذاته چې پادشاهي يې نه ختمېږي، په هغه چا رحم وکړه چې پادشاهي يې ختمه شوه، او کله چې سعيد بن المسيب دا خبرې واورېدې نو په ځواب کې يې ورته وويل: "ټوله ستاينه الله لره ده چې دوی د مرګ په وخت کې زمونږ خوا ته را تښتي، او موږ ددوی خوا ته نه تښتو".

د پادشاه دروازه وټکوه!

ګرانه لوستونکيه! ناروغي به ليرې شي، ناروغ او ټپي به روغ شي، ګناه به وبخښل شي، پور به ادا شي، بندي به خوشې شي، غايب به را ستون شي، ګناهګار به توبه اوباسي، بې وزله به شتمن شي .. او دا ټول د پادشاهانو د پادشاه –سبحانه و تعالی- په لاس کې دي-، الله -عزوجل- په هر ساعت او هر وخت کې ستا پټنځای، پناه ګاه، او اميد دی؛ په ځانګړې توګه د شپې په پای کې؛ الله – جل و علا - هره شپه لاندينې اسمان ته راښکته کېږي او اواز کوي: «أَنَا المَلِكُ، أَنَا المَلِكُ، مَنْ ذَا الَّذِي يَدْعُوْنِي فَأَسْتَجِيبَ لَهُ؟ مَنْ ذَا الَّذِي يَسْأَلُنِي فَأُعْطِيَهُ؟ مَنْ ذَا الَّذِي يَسْتَغْفِرُنِي فَأَغْفِرَ لَهُ،؟ فَلَا يَزَالُ كَذَلِكَ حَتَّى يُضِيءَ الفَجْرُ» «زه پادشاه يم، زه پادشاه يم، آيا څوک شته چې ما وبلي نو زه يې غوښتنه ومنم؟ آيا څوک شته چې زما څخه څه وغواړي چې زه يې ورکړم؟ آيا څوک شته چې زما څخه بخښنه وغواړي او زه ورته بخښنه وکړم؟ او دا به تر هغه وخته پورې وي چې سهار روښانه شي». [مسلم روايت کړی].

او زمونږ پيغمبر - صلى الله عليه وسلم - چې پر الله تر ټولو مخلوقاتو پوه او د هغه لپاره تر ټولو ډېر عبادت کوونکی دی – مونږ دې ته هڅوي چې تل د الله –جل وعلا- پر پادشاهۍ باندې اقرار و کړو، سمدستي د لمانځه وروسته، او کله چې د شپې له خوا په خوب کی وېرېږو، او دا چې سهار او ماښام او له سفر څخه له راستنېدو وروسته دا زمونږ د اذکارو څخه وي، بيا که تاسو دا په ورځ کې سل ځله تکرار کړ نو تاسو به له ګټونکو څخه اوسئ.

په صحيح روايت کې راغلي دي چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- وفرمايل: «مَنْ قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ المُلْكُ وَلَهُ الحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، فِي يَوْمٍ مِائَةَ مَرَّةٍ؛ كَانَتْ لَهُ عَدْلَ عَشْرِ رِقَابٍ، وَكُتِبَتْ لَهُ مِائَةُ حَسَنَةٍ، وَمُحِيَتْ عَنْهُ مِائَةُ سَيِّئَةٍ، وَكَانَتْ لَهُ حِرْزًا مِنَ الشَّيْطَانِ يَوْمَهُ ذَلِكَ حَتَّى يُمْسِيَ، وَلَمْ يَأْتِ أَحَدٌ بِأَفْضَلَ مِمَّا جَاءَ بِهِ؛ إِلَّا أَحَدٌ عَمِلَ أَكْثَرَ مِنْ

ذَلِكَ» "څوک چې سل ځلې (کرتې) ووايي: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ المُلْكُ وَلَهُ الحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، يعنې د الله پرته بل معبود نشته، هغه يو دی، هغه لره هيڅ شريک نشته، هغه لره پادشاهي او ستاينه ده، او هغه په هر څه باندې قادر دی؛ ددې په مقابل کې به د هغه لپاره د لسو غلامانو د آزادولو، سل نيکۍ به ورته وليکل شی، او سل بدۍ به ترې ليرې شي، او پدې ورځ به تر ماښام پورې د شيطان له شره د هغه لپاره د حفاظت وسيله وي، او هيڅ به له هغه ښه شی نه وي راوړی؛ پرته له هغه چا چې له ده څخه يې ډير ويلي وي". [د بخاري او مسلم روايت دی].

اې د قيامت د ورځې څښتنه! زموږ د ژوند وروستۍ برخه په خير ولره، او زموږ لپاره حساب اسانه کړه؛ اې د جهانيانو ربه!

13

## کامل او له عيبونه څخه پاک -جل جلاله-

علماوو ويلي دي: د نومونو او صفتونو (توحيد) يووالی په دوو ستنو ولاړ دی، او هغه د توحيد خلاصه دی:

1- د الله –سبحانه وتعالی- د نومونو، صفتونو او افعالو د کمال ثابتول.

2- د الله –سبحانه و تعالی- پاکوالی د ټولو هغو نيمګړتياوو څخه چې د هغه له صفتونو، افعالو او کمال سره تضاد لري.

او په موږ باندې د الله له رحمت څخه دا دي چې: هغه موږ ته لارښوونه وکړه چې څنګه د هغه پاکي د تسبيح ويلو له لارې بيان کړو، هغه –عزوجل- فرمايي:

﴿وَسَبِّحُوهُ بُكْرَةً وَأَصِيلًا ۝٤٢﴾ [الأحزاب: 42]

(او تاسو د هغه پاکي بيانوئ د ورځې په اوله او اخري برخه کې) [الأحزاب سورت: ايت 42].

پاکي ده هغه ذات لره چې لا تر اوسه د هغه تسبیح کیږي ... تل او له هغه پرته د بل چا پاکي نه بيانيږي

پاکي ده هغه ذات لره چې په ذکر کولو سره يې د هغه د رضايت لار ده ... له هغه څخه او په هغه کې ژوند او خوشبويي ده

هيڅکله او نه د بل چا لپاره پاکي ده، له هغه څخه او په هغه کې ژوند او خوشبويي ده

زموږ رسول الله -صلی الله علیه وسلم- به په رکوع او سجده کې به ویل: «سُبُّوْحٌ قُدُّوْسٌ، رَبُّ المَلَائِكَةِ وَالرُّوْحِ» "پاکي دې وي پاک ذات لره، د پرښتو او روح رب لره". [مسلم روایت کړی].

او تسبیح په لغت کې: تنزيه او پاکوالي ته وايي، (سبح الله) يعنی: د هغه پاکوالی له هر ډول عيب څخه بيان کړه.

زمونږ رب – عزوجل – له هر ډول عيب، نيمګړتيا او بديو څخه پاک دی، او هغه – تبارک و تعالی- لره کمال مطلق دی.

تاسو تر ټولو حقدار ياست..

ټول کاينات عبادت کونکي دي، هرڅوک په دې جهان کې د الله– جل و علا- تسبیح وايي او دا ترټولو لوی شی دی چې پر هغه باندې د الله عبادت وشي.

او دا د اسمان اوسيدونکي د ملايکو څخه دي:

﴿.... قَالُوٓاْ أَتَجۡعَلُ فِيهَا مَن يُفۡسِدُ فِيهَا وَيَسۡفِكُ ٱلدِّمَآءَ وَنَحۡنُ نُسَبِّحُ بِحَمۡدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَۖ قَالَ إِنِّيٓ أَعۡلَمُ مَا لَا تَعۡلَمُونَ٣٠﴾ [البقرة: 30]

( هغوی وويل: ايا ته په هغې کې داسې څوك پيدا کوې چې په هغې کې به ورانی کوي او وينې به تويوي؟ حال دا چې مونږ ستا له ستايلو سره تسبيح وايو او ستا پاکوالی بيانوو، (الله) وويل: يقيناً زه پوهيږم پر هغه څه چې تاسو پرې نه پوهيږئ) [البقرة سورت: ايت 30].

په کايناتو کې هيڅ شی نشته مګر دا چې هغه د خپل خالق تسبيح وايي او اړخونه يې د خپل خالق په تسبيح سره ځواب ورکوي؛ پرته له کافرو انسانانو او پيريانو څخه.

الله -عز وجل- فرمايلي: ﴿تُسَبِّحُ لَهُ ٱلسَّمَٰوَٰتُ ٱلسَّبۡعُ وَٱلۡأَرۡضُ وَمَن فِيهِنَّۚ وَإِن مِّن شَيۡءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمۡدِهِۦ وَلَٰكِن لَّا تَفۡقَهُونَ تَسۡبِيحَهُمۡۚ إِنَّهُۥ كَانَ حَلِيمًا غَفُورٗا ٤٤﴾ [الإسراء: 44]

(خاص د هغه لپاره تسبيح وايي اووه اسمانونه او ځمکه او هغه څوك چې په دغو كې دي، او نشته هېڅ يو شى مګر د هغه له ستاينې سره تسبيح وايي او لېكن تاسو د هغو پر تسبيح نه پوهېږئ، بېشكه هغه له ازله ډېر تحمل والا، ډېر بخښونكى دى) [الإسراء سورت: ايت 44].

او هغه – تبارک و تعالی - د تسبيح وړ دی، د ذات او صفات د کمال په لرلو سره.

له ابوهريره -رضي الله عنه- څخه روايت دی چې هغه وويل: ما له رسول الله -صلى الله عليه وسلم- څخه اوريدلي دي چې ويل يې: «يو مېږي له انبياوو څخه يو نبي وچيچه، نو امر يې وکړ چې د مېږيانو کلی دې وسوځول شي؛ او وسوځول شوه، بيا الله ورته وحې وکړه: د يو مېږي په چيچلو تا يو ملت چې تسبيح وايي وسيزه؟!» [بخاري روايت کړی- او دا د هغه لفظ دی - او مسلم روايت کړی]. غرونه او مرغان د الله –سبحانه و تعالی- تسبيح بيانوي او هر څوک د الله تسبيح وايي:

﴿فَفَهَّمۡنَٰهَا سُلَيۡمَٰنَۚ وَكُلًّا ءَاتَيۡنَا حُكۡمٗا وَعِلۡمٗاۚ وَسَخَّرۡنَا مَعَ دَاوُۥدَ ٱلۡجِبَالَ يُسَبِّحۡنَ وَٱلطَّيۡرَۚ وَكُنَّا فَٰعِلِينَ ٧٩﴾ [الأنبياء: 79]

(او مونږ د داود سره غرونه تابع کړي وو چې تسبيح به يې ويله او مرغان (هم) او مونږ (د داسې كارونو) كوونكي وو) [الأنبياء سورت: ايت 79]،

نو موږ د الله –سبحانه و تعالی- د تسبيح ويلو ډېر مستحق يو. ځينو سلفو ويلي دي: آيا د تاسف ځای ندی چې د يو چا سوارلۍ چې هغه باندې سوريږي؛ او هغه جامې چې اغوندي يې؛ له هغه څخه ډېر د الله ذکر وايي؟!

زړونو واوريدل..

کله چې نيک خلک د انعامونو څخه خبر شول: دا چې تسبيح د الله لپاره ترټولو ښه او غوره وينا ده؛ په هر حالت کې د الله -سبحانه وتعالی- د تسبيح لپاره هڅه کوي، ځکه دا يو آسانه غنيمت دی، له رسول الله -صلى الله عليه وسلم- څخه روايت شوی چې هغه وفرمايل: "دوه کلمې چې په ژبه سپکې، په تله کې درنې، رحمان ته محبوبې دي: سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ، سُبْحَانَ اللهِ العَظِيمِ، يعني پاکي او ستاينه الله لره ده، پاکي عظيم الله لره

ده». [بخاري او مسلم روايت کړی]. او د رسول الله - عليه الصلاة والسلام- نه صحيح روايت دی چې هغه وفرمايل: «څوک چې په ورځ کې سل ځلې: سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ ووايي وي؛ د هغه ګناهونه به پاک شي، حتی که د سمندر د ځګ په اندازه هم وي». [بخاري او مسلم روايت کړی]. او هغه -صلى الله عليه وسلم- فرمايلي: "ايا ستاسو څخه يو څوک د دې توان نه لري چې هره ورځ زر نيکۍ وګټي؟" د ناستو کسانو څخه يو پوښتونکي ترې وپوښتل: زموږ څخه يو کس څنګه زر نيکۍ ګټلای شي؟ هغه ووېل: سل ځلې دې تسبيحات ووايي، نو د هغه لپاره به زر نيکۍ وليکل شي، يا به له هغه څخه زر ګناهونه پاک شي". [مسلم روايت کړی].

د خوشحالۍ کلياني:

د الله –سبحانه و تعالی- تسبيح ويل: يو له هغو نيکيو څخه دي چې پاتې کيږي.

او په تسبيح ويلو کې: د اطاعت کوونکو لپاره آرامي، د تښتېدونکو لپاره پټنځای، او د وېرېدونکو لپاره د پناه ځای؛ او پوهيږي چې هغه ذات چې د هغه ستاينه کوي او له هر عيب او نيمګړتيا څخه يې پاک بولي هغه: په سختۍ کې د دوی لپاره پټنځای، په يوازيتوب کې آرامتيا، او په لړو کې مرستندوی ذات دی.

څنګه به تسبيح کوونکو ته ځواب ورنکړای شي، پداسې حال کې چې هغوی الله د آسانۍ په وخت کې پيژندلی و، نو څنګه به يې هغه د سختۍ په وخت کې ونه پيژني؟!

او دا د الله پيغمبر يونس بن متا – عليه السلام- ؛ الله –عزوجل- د هغه په اړه څه ووېل؟

﴿فَلَوۡلَآ أَنَّهُۥ كَانَ مِنَ ٱلۡمُسَبِّحِينَ۝١٤٣ لَلَبِثَ فِي بَطۡنِهِۦٓ إِلَىٰ يَوۡمِ يُبۡعَثُونَ۝١٤٤﴾ [الصافات: 143-144]

(نو که دا خبره نه وي چې بېشکه هغه له تسبيح ويونکو څخه و. (نو) خامخا دې به د هغه (کب) په خېټه کې تر هغې ورځې پورې پاتې و چې دوی به بيا ژوندي راپاڅولی شي) [الصافات سورت: ايتونه 143-144].

ابن عباس -رضي الله عنهما- ويلي: «په بحر کې به کبانو آرام کاوه خو هغه به له تسبيح ويلو څخه آرام نه کاوه، او چونګښې به د اواز کولو څخه آرامېدلې، خو هغه به د الله –سبحانه و تعالی- له ذکر څخه چپ نه پاتې کيده». حسن ويلي: "يونس -عليه السلام- د کب په خيټه کې لمونځ نه و کړی، بلکې د آسانۍ پر مهال نيک کار

کړې و، نو الله تعالی د سختۍ پر مهال یاد کړ". کرجي ویلي: «دلیل پر دې دی چې تسبیح او تهلیل غمونه لرې کوي، او له مصیبتونو او آفتونو څخه ژغورل کوي». او په اثر کې راغلي دي: "که یو بنده نیک وي، هغه په اسمان کې پېژندل شوی وي؛" ځکه تسبیح یو نیک کار دی، او الله –عزوجل- فرمايي:

﴿.... إِلَيۡهِ يَصۡعَدُ ٱلۡكَلِمُ ٱلطَّيِّبُ وَٱلۡعَمَلُ ٱلصَّٰلِحُ يَرۡفَعُهُۥۚ .....﴾ [فاطر: 10]

(او نېك عمل دغه (كلمات) پورته كوي) [فاطر سورت: ايت 10]

. بنده ته په تسبیح ویلو سره روزي ورکول کیږي، دا په «الادب المفرد» کې له رسول الله -صلى الله عليه وسلم- څخه نقل شوي دي چې فرمايي: "... او سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ؛ دا د هر څه دعا ده، او په دې سره ټولو ته روزي ورکول کیږي". [صحيح حديث دی]

پاکي تا لره ده!

الله لره پاکي ده د هغو شیانو د شمیر په اندازه چې په آسمان کې یې پیدا کړي دي.

الله لره پاکي ده د هغو شیانو د شمیر په اندازه چې په ځمکه کې یې پیدا کړي دي.

الله لره پاکي ده د هغو شیانو د شمیر په اندازه چې د هغو دواړو په منځ کې شتون لري.

الله لره پاکي ده د هغو شیانو د شمیر په اندازه چې هغه پیدا کړي دي.

الله –سبحانه و تعالی- خپلو بندګانو ته امر کړی: چې د لمر په راختلو او لوېدو په وخت کې د هغه تسبیح ډیر ووايي؛ نو فرمايلي يې دي:

﴿فَسُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ حِينَ تُمۡسُونَ وَحِينَ تُصۡبِحُونَ ١٧﴾ [الروم: 17]

نو (وايئ) د الله تسبيح كله چې تاسو ماښام كوئ او كله چې تاسو سبا كوئ) [الروم سورت: ايت 17]،

او هغه -عز وجل- فرمايي- :

﴿وَسَبِّحُوهُ بُكۡرَةٗ وَأَصِيلًا ٤٢﴾ [الأحزاب: 42]

(او تاسو د هغه پاكي بيانوئ د ورځې په اوله برخه او اخري برخه كې) [الأحزاب سورت: ايت 42]

. او د تسبیح د اهمیت لپاره؛ الله تعالی د جنت خاوندانو ته د تسبیح الهام کوي لکه څنګه چې نفس ته الهام کوي؛

﴿دَعۡوَىٰهُمۡ فِيهَا سُبۡحَٰنَكَ ٱللَّهُمَّ وَتَحِيَّتُهُمۡ فِيهَا سَلَٰمٞۚ وَءَاخِرُ دَعۡوَىٰهُمۡ أَنِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ١٠﴾

[یونس: 10]

(د دوی وینا به په دغو (جنتونو) کې سُبْحَانَكَ اللهم (ای الله! ستا پاکي بیانوو) وي او په دغو (باغونو) کې به د دوی ډالۍ سلام وي او د دوی د وینا اخر به دا وي چې ټول صفتونه خاص الله لره دي چې د ټولو عالمونو ښه پالونکی دی) [یونس سورت: ایت 10]

. ابن رجب -رحمه الله- فرمایي: "او ټول عملونه پاي مومي، او ذکر هیڅ کله پای نه مومي او نه ختمیږي! ټول عملونه د دنیا په ختمیدو سره ختمیږي، او د هغه څخه په آخرت کې هیڅ شی نه پاتې کیږي، او ذکر هیڅ کله نه ختمیږي، مومن په ذکر سره ژوند کوي، او هغه سره مري، او هغه باندې بیا ژوندی کیږي.

پاکي ده هغه ذات لره چې امتونه یې ستاینه کوي

د هغه ثنا په تسبیح سره چې د نعموتونو څخه غوره دی

پاکي ده هغه ذات لره چې ستاینه یې وکړه هغه ژبې چې پوهیږي

چې د هغه تسبیح کول تر ټولو ښه رسی دی

پاکي ده هغه ذات لره چې که هغه وغواړي مجرم شرموي

او که وغواړي د لوی او کوچني ګناه ښښنه کوي

پاکي ده هغه ذات لره چې موږ له هغه ځواکمن ذات څخه د بخښنې تمه لرو

او هغه ته پناه وړو د ظالم د غچ اخیستلو څخه

الله –سبحانه و تعالی- دې موږ د هغو کسانو په ډله کې وشمیري چې د هغه تسبیح کوي، او د هغو کسانو نه چې په نومونو او صفاتو یې ایمان لري، او هغه کسان چې د هغه توحید او تعظیم مني؛ یقینا چې هغه اوریدونکی نږدې دی.

(نو (وايئ) د الله تسبيح كله چې تاسو ماښام كوئ او كله چې تاسو سبا كوئ.) (او خاص هغه لره ستاينې دي په اسمانونو اوپه ځمكه كې او (تسبيح وايئ) د ورځې په اخره برخه کې او كله چې تاسو ماسپښين كوئ) 14

## د ټولو عيبو څخه پاک -جل جلاله-

نن ورځ خپل ځان په بيه واخله! بازار شتون لري، نرخ شته، توکي ارزانه دي، په دې بازار او مالونو باندې به داسې ورځ راشي چې په هغه وخت کې به لږ يا ډېر ته لاسرسی و نلرې:

﴿...ذَٰلِكَ يَوۡمُ ٱلتَّغَابُنِۗ ...﴾ [التغابن: 9]

(دغه د تاوان د ښكاره كېدو ورځ ده) [التغابن سورت: ايت 9]،

(او (ياده کړه) هغه ورځ چې ظالم به په خپلو دواړو لاسونو خوله لګوي)

كه ته د پرهيزګارۍ په توښې سره لاړ نشې ... او د قيامت په ورځ وګورې چې نورو خلک به له هغې څخه دير څه له ځانه سره راوړي وي

نو پر دې حالت به پښيمانه شې چې ته د هغوی په څير نه وې ... او تا وا نه خيستل هغه څه چې هغوی اخيستلي وو

مورږ د الله له ښكلي نومونو څخه يو له هغه نوم سره تم كيږو چې مورږ الله ته نږدې كوي، او دغه نوم د توحيد خلاصه دی، او د اسماء او صفاتو د توحيد له دوه ستنو څخه يوه ستنه ده چې هغه: د الله – جل و علا - نوم (القدوس) دی.

هغه -سبحانه وتعالى- وفرمايل:

﴿هُوَ ٱللَّهُ ٱلَّذِي لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡمَلِكُ ٱلۡقُدُّوسُ ....﴾ [الحشر: 23]

(دغه الله هغه ذات دی چې نشته هيڅ حق معبود مګر هم دی دی، چې (حقيقي) پادشاه دی، ښه پاك دی) [الحشر سورت: ايت 23]

، او په صحيح مسلم کې راغلي: چې رسول الله -صلی الله علیه وسلم- به په رکوع او سجده کې ویل: «سُبُّوحٌ قُدُّوسٌ، رَبُّ المَلَائِكَةِ وَالرُّوحِ»، «يعني هغه د ستاينې وړ او سپېڅلی ذات دی، د ملاېکو او روح څښتن دی». او د امام احمد په مسند کې راغلي: چې رسول الله -صلی الله علیه وسلم- کله د وتر لمونځ پای ته ورساوه، ويې فرمایل: «سُبْحَانَ المَلِكِ القُدُّوسِ، سُبْحَانَ المَلِكِ القُدُّوسِ، سُبْحَانَ المَلِكِ القُدُّوسِ»، یعنی ستاینه هغه پادشاه لره ده چې پاک دی، ستاینه هغه پادشاه لره ده چې پاک دی ، ستاینه هغه پادشاه لره ده چې پاک دی ،" او په دریم ځل ویلو سره به يې خپل غږ لوړ کړ. [صحيح حديث دی]

القدوس په لغت کې پدې معنا سره راځي: طهارت، پاک او منزه، او همدارنګه د مبارک په معنا هم راځي.

زموږ رب – سبحانه و تعالی-، القدوس دی، او هغه: چې له عیبونو او نقصانونو څخه پاک دی، له میرمن او اولادونو او شریکانو څخه پاک دی، په فضیلتونو او نیکیو پیژندل شوی، او د کمال په صفاتو باندې ستایل شوی دی.

او زموږ رب – سبحانه و تعالی – د برکت خاوند دی؛ هغه ذات چې هر وخت د هغه فضل او خیر عام او خپور شو په ځمکه او اسمانونو کې، د هغه نوم، کړنې، ذات، او غوره صفتونه يې برکت دي، او هغه ذات دی چې په خپل حکمت سره خپل مخلوق پاکوي چا ته چې وغواړي؛

﴿... إِنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيُذۡهِبَ عَنكُمُ ٱلرِّجۡسَ أَهۡلَ ٱلۡبَيۡتِ وَيُطَهِّرَكُمۡ تَطۡهِيرٗا ٣٣﴾ [الأحزاب: 33]

(ببشکه همدا خبره ده چې الله غواړي ستاسو نه -ای اهل بیتو- ګناه لرې کړي او تاسو پاک کړي، په پاکولو سره) [الأحزاب سورت: ایت 33].

هغه لره پاکي ده!

او زموږ رب - عزوجل - د تقدس، پاکوالي او درناوي وړ دی؛ له ټولو مخلوقاتو څخه.

او تقدیس: د اسمان میشتو – ملائکو- عبادت دی:

﴿...وَنَحۡنُ نُسَبِّحُ بِحَمۡدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَۖ ...﴾ [البقرة: 30]

(او مونږ ستا له ستایلو سره تسبیح وایو او ستا پاکوالی بیانوو) [البقرة سورت: ایت 30]

. او ټول کائنات د الله – سبحانه و تعالی- پاکي او تسبیح بیانوي

﴿يُسَبِّحُ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۖ لَهُ ٱلۡمُلۡكُ وَلَهُ ٱلۡحَمۡدُۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ١﴾ [التغابن: 1]

(د الله پاکي بیانوي هر هغه څه چې په اسمانونوکې دي او هر هغه څه چې په ځمکه کې دي، خاص د هغه لپاره بادشاهي ده او خاص د هغه لپاره ټول د کمال صفتونه دي او هغه په هر شي باندې ښه قادر دی) [التغابن سورت: ایت 1]،

﴿تُسَبِّحُ لَهُ ٱلسَّمَٰوَٰتُ ٱلسَّبۡعُ وَٱلۡأَرۡضُ وَمَن فِيهِنَّۚ وَإِن مِّن شَيۡءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمۡدِهِۦ ....﴾ [الإسراء: 44]

(خاص د هغه لپاره تسبیح وايي اووه اسمانونه او ځمکه او هغه څوك چې په دغو کې دي، او نشته هېڅ یو شی مګر د هغه له ستاینې سره تسبیح وايي) [الإسراء سورت: ایت 44].

ته تر ټولو مستحق يې..

او په مخلوقاتو کې تر ټولو مستحق چې باید پاکي او تنزیه بیان کړي: د آدم اولاده دي.

او د الله -جل و علا- درناوی په دې شیانو باندې کیږي:

د هغه –سبحانه و تعالی- سره مینه او د هغه تعظیم له ټولو نیمګړتیاوو او عیبونو څخه لوړ دی.

او د هغه څه ثابتول چې ځان لپاره يې ثابت کړي او یا رسول الله -صلی الله علیه وسلم- د هغه لپاره تایید کړی وي، او هغه پاک ګڼل د مخلوق سره له مشابهت څخه:

او هغه پاک ګڼل د مخلوق د مشابهت څخه:

﴿... لَيۡسَ كَمِثۡلِهِۦ شَيۡءٞۖ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ ١١﴾ [الشورى: 11]

(د هغه په مثل هېڅ شی نشته او هم دغه ښه اوریدونکی، ښه لیدونکی دی) [الشورى سورت: ایت11].

له شرک څخه يې پاک کړئ، بیا د هغه قانون ته رجوع کول او هغه باندې راضي اوسيدل، او الله –سبحانه و تعالی- باندې له بدګمانۍ څخه لرې اوسيدل.

او که څوک د هغه څه خلاف ګمان وکړي چې هغه پرې ځان ستايلی او يا يې پرې رسولانو ستايلی، او يا يې هغه حقيقتونه ناچل وګڼل چې ځان يې پرې ياد کړی دی او يا يې پرې رسولانو ياد کړی دی؛ نو دغه کس په حقيقت کې په الله باندې بد ګماني کړې ده.

دا او د هغه له صفتونو څخه د پاکۍ صفت دی ... پاکی او تعظيم رحمان ذات لره ده

په هغه کې ستا برخه..

مؤمن د اطاعت په کولو، او له ګناهونو او سرغړونو څخه په لرې اوسيدلو سره ځان پاکوي، او لرې کول د هغه شي چې زړونه پرې زنګ وهلي دي، او د حرام مال له خوړلو څخه لرې والی، د مال پاکول له شبهو او شک څخه، دا هغه څه دي چې الله – جل وعلا- پخپله وينا سره د هغه يادونه کړې ده:

﴿قَدۡ أَفۡلَحَ مَن زَكَّىٰهَا۝٩ وَقَدۡ خَابَ مَن دَسَّىٰهَا ۝١٠﴾ [الشمس: 9-10]

(يقينًا کامياب شو هغه څوك چې دغه (نفس) يې پاك كړ. ( او يقينًا نامراده شو هغه څوك چې دغه (نفس) يې په خاورو كې پټ كړ) [الشمس سورت: ايتونه 9-10].

او الله –عزوجل- فرعون ته د موسی -عليه السلام- د ليږلو موخه بيان کړه، دا چې: خپل ځان بايد د الله – سبحانه و تعالی- د پاکوالي سره پاک کړي :-

﴿ٱذۡهَبۡ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ إِنَّهُۥ طَغَىٰ۝١٧ فَقُلۡ هَل لَّكَ إِلَىٰٓ أَن تَزَكَّىٰ ۝١٨ وَأَهۡدِيَكَ إِلَىٰ رَبِّكَ فَتَخۡشَىٰ۝١٩﴾ [النازعات: 17-19]

(ته فرعون ته لاړ شه، بېشكه ده سركشي شروع كړې ده. نو ته (ورته) ووايه: آيا ته دا خوښوې چې ته پاك شې. او دا چې زه تا ته ستا د رب په طرف ښوونه وكړم، پس چې ته ووېرېږې) [النازعات سورت:آيتونه 17-19]

. نو لدې امله؛ پرته لدې ايماني پاکوالي څخه کاميابي نشته،

﴿قَدۡ أَفۡلَحَ مَن تَزَكَّىٰ ١٤ وَذَكَرَ ٱسۡمَ رَبِّهِۦ فَصَلَّىٰ ١٥﴾ [الأعلى: 14-15]

(يقينًا هغه څوك كامياب شو چې پاك شو. او د خپل رب نامه يې ياده كړه، پس لمونځ يې وكړ) [الأعلى سورت: ايتونه 14-15]،

بلكې د ظالم قوم څخه تقديس او پاكوالى له منځه وړل كيږي. له رسول الله -صلى الله عليه وسلم- څخه صحيح روايت دى چې هغه وفرمايل: «إِنَّ اللهَ لَا يُقَدِّسُ أُمَّةً لَا يَأْخُذُ الضَّعِيفُ حَقَّهُ مِنَ القَوِيِّ» "الله د هغه قوم درناوى نه كوي چې كمزورى له زورور څخه خپل حق نه اخلي" [صحيح حديث دى. بيهقي په سنن الكبرى كې روايت كړى دى]. او په صحيح ډول روايت شوى دى چې هغه - عليه الصلاة والسلام- وفرمايل: " څنګه به الله يو قوم دروند كړي چې له زورورو څخه د كمزورو حق نه اخيستل كيږي؟"

او كله چې ابو الدرداء سلمان الفارسي-رضى الله عنهما- ته وليكل ترڅو له عراق څخه سپېڅلي ځمكې ته هجرت وكړي؛ سلمان په داسې فصاحت سره ځواب وركړ چې د قداست او پاكوالي مفهوم واضحوي؛ هغه وفرمايل: ځمكه د هيچا د پاكوالي سبب نه ګرځي! بلكې انسان په خپل عمل سره ځان پاكوي.

پاكې ده هغه ذات لره چې تر اوسه هم د هغه رزق شتون لري، پاكې ده هغه ذات لره چې په خاطرو سره آرمانونه وركوي

د ټولو جهانيانو لپاره تضمين دى، چې نفس ولري او ژبې د هغه بيان نه وي كړى

اې الله، موږ له تا څخه غوښتنه كوو اې پاک او ستايل شويه ... اې پاكه ربه! موږ پاک كړه، موږ ته بخښنه وكړه او په موږ رحم وكړه؛ اې د ډېر رحم څښتنه!

## السَّلَامُ )سلامتيا بخښونكى ذات (-جل جلاله-

له انس -رضي الله عنه- څخه روايت دى چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- وفرمايل: «إِنَّ السَّلَامَ: اسْمٌ مِنْ أَسْمَاءِ اللهِ -تَعَالَى-، وَضَعَهُ اللهُ فِي الأَرْضِ؛ فَأَفْشُوا السَّلَامَ بَيْنَكُمْ» «السلام: د الله –تعالى- له نومونو څخه يو دى، چې الله په ځمكه كې ايښى دى؛ نو تاسو په خپل منځ كې سلام خپور كړئ». [صحيح حديث دى. بخاري په «الأدب المفرد» كې روايت كړى].

مؤمن بيا هم له الله څخه په دنيا او آخرت کې د سلامتيا غوښتنه کوي؛ اما د دنيا سلامتيا: هغه ظاهري او باطني ده:

ظاهري: لکه د ناروغيو او مرضونو څخه روغتيا، او له هر هغه څه نه په امن کې پاتې کيدل چې بد ګڼل کيږي.

او باطني په دې دنيا کې: د دين خونديتوب، او د کفر، بدعت او نافرمانۍ څخه د يقين خونديتوب.

دا هغه څه دي چې مؤمن يې غوښتنه کوي او دا د ايمان ترټولو قوي دليل دی، که دا تاسو ته درکړل شي، نو تاسو به د روغ زړه څښتن اوسئ، او د سلامتيا کور ته به ننوځئ.

هرڅوک د سلامتيا او خونديتوب په لټه کې دي، او الله – تبارک و تعالی- سلام دی.

ابن القيم -رحمه الله- وايي: «څومره کسان به وي چې دا نوم يې ياد کړی وي نه پوهيږي چې پدې نوم کې څه رازونه او معنا ګانې شتون لري !!».

هغه –تبارک و تعالی- فرمايلي:

﴿هُوَ ٱللَّهُ ٱلَّذِى لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡمَلِكُ ٱلۡقُدُّوسُ ٱلسَّلَٰمُ ٱلۡمُؤۡمِنُ ٱلۡمُهَيۡمِنُ ...﴾ [الحشر: 23]

( دغه الله هغه ذات دی چې نشته هيڅ حق معبود مګر هم دی دی، چې (حقيقي) پادشاه دی، ښه پاك دی، سلامتيا ورکوونکی (او) امان ورکوونکی دی، نګهبان (محافظ) ښه غالب (او زورور) دی. [الحشر سورت: ايت 23].

زموږ السلام رب –جل و علا-: له هر عيب او نيمګړتيا څخه سالم دی؛ د خپل ذاتي کمال، صفتونو او خپلو اعمالو د بشپړتيا له مخې سالم دی.

نو سلامتيا: بې زاري، او ويل شوي چې : هوساينې او عافيت ته ويل کيږي.

او هغه سلام دی او په حقيقت کې هم سالم دی

له هر ډول تمثيل او نيمګړتياو څخه سالم دی

او زموږ رب - جل و علا- له هر نوم څخه پدې نوم سره ډیر مستحق دی چې ورته ورکړل شوی دی.

د سلام نوم د سیوري لاندې:

د الله –عزوجل- په صفتونو کې پدې نوم کې فکر وکړه! نو د هغه ژوند له مرګ څخه سلامتیا ده، له پرکالی او خوب څخه، او د هغه نظام چلول او قدرت یې د ستړي والي څخه سلامتیا ده.

او د هغه په پوهې کې فکر وکړه! چې له هغه څخه هیڅ څیز نه جلا کیږي، یا د هیریدلو ستونزه ورته پیدا شي، او یا په یاد راوړولو او فکر کولو ته اړمن شي!

﴿وَمَا تَكُونُ فِي شَأْنٍ وَمَا تَتْلُوا۟ مِنْهُ مِن قُرْءَانٍ وَلَا تَعْمَلُونَ مِنْ عَمَلٍ إِلَّا كُنَّا عَلَيْكُمْ شُهُودًا إِذْ تُفِيضُونَ فِيهِ ۚ وَمَا يَعْزُبُ عَن رَّبِّكَ مِن مِّثْقَالِ ذَرَّةٍ فِى ٱلْأَرْضِ وَلَا فِى ٱلسَّمَآءِ وَلَآ أَصْغَرَ مِن ذَٰلِكَ وَلَآ أَكْبَرَ إِلَّا فِى كِتَٰبٍ مُّبِينٍ ﴿٦١﴾﴾ [یونس: 61]

( او ستا له رب څخه نه په ځمکه او نه په اسمان کې د ذرې په اندازه (شی) هم نه پټیږي او نه لدې نه زیات وړوکی شی او نه له دې نه زیات غټ مګر په واضحه کتاب کې دي) [یونس سورت: ایت 61] ،

﴿.... كَانَ رَبُّكَ نَسِيًّا ﴿٦٤﴾﴾ [مریم: 64]

(او ستا رب هیڅکله هېروونکی نه دی) [مریم سورت: ایت 64]

. او د هغه خبرې له درواغو او بې انصافۍ څخه خوندي دي، بلکې د هغه خبرې په حق او انصاف سره کمال ته رسېدلې دي:

﴿وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ صِدْقًا وَعَدْلًا ۚ .....﴾ [الأنعام: 115]

(او د رښتینولۍ او عدل له لحاظه ستا د رب خبره کمال ته رسېدلې ده) [الأنعام سورت: ایت 115].

د هغه بې نیازي په یو ډول او د نورو له اړتیا څخه سالمه ده، بلکې له هغه څخه پرته ټول ورته محتاجه دی، او هغه له ټولو څخه بې نیازه دی.

او د هغه پادشاهي د هر ډول منازعه كوونكي او يا ګډون كوونكي، يا مرستيال يا غلبه كوونكي څخه سالمه ده.

او د هغه مهرباني، د هغه عفوه، د هغه بخښنه، او بنده ته يې له ګناه څخه تېريدل لري دي له دې چې هغه اړتيا ولري او يا د هغه سپکاوى وشي او يا د رول لوبولو په موخه كوم كار وكړي؛ لكه څنګه چې د هغه پرته نور خلک يې كوي.

حتى د هغه عذاب وركول او انتقام هم خالي دي لدې نه چې دا دې د ظلم، زړه يخوالي، بې رحمۍ او سختۍ له مخې وي، بلكې دا د هغه خاص حكمت او عدالت دى،

﴿... وَمَا رَبُّكَ بِظَلَّٰمٖ لِّلۡعَبِيدِ ۝٤٦﴾ [فصلت: 46]

(او ستا رب په (خپلو) بنده ګانو د هيڅ ظلم كوونكى ندى) [فصلت سورت: ايت 46].

د هغه په قضا او قدر كې فكر وكړه! هغه پاک دى له عبث، بې انصافۍ او ظلم څخه.

د هغه په شريعت او دين كې فكر وكړه! هغه له تضاد، اختلاف او ګډوډۍ څخه پاک دى.

﴿أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ ٱلۡقُرۡءَانَۚ وَلَوۡ كَانَ مِنۡ عِندِ غَيۡرِ ٱللَّهِ لَوَجَدُواْ فِيهِ ٱخۡتِلَٰفٗا كَثِيرٗا ۝٨٢﴾ [النساء: 82]

( ايا نو دوى په قرآن كې غور نه كوي او كه چېرې دا د غيرالله له طرفه وَى، دوى به په ده كې خامخا ډېر زيات اختلاف موندلى و) [النساء سورت: ايت 82].

خپل عرش باندې د هغه استوا او لوړوالى خالي دي لدې نه چې دا دې محتاج وي يو څه ته چې دا بار كړي او ورباندې استوا وكړي، بلكې عرش هغه ته محتاج دى او د هغه حمل كوونكي هغه ته محتاج دي؛ هغه د عرش، د هغه د حمل كونكو څخه بې نيازه دى، او همدارنګه پرته له خپل ذات څخه له نورو ټولو څخه بې نيازه دى.

او د هغه اوريدل او ليدل بچ دي له هر هغه څه چې تشبيه كوونكى يې تصور كوي، او يا تعطيل كوونكى يې وايي.

حتى د خپلو دوستانو سره د هغه مينه د مخلوق سره د مخلوق د مينې له نښو څخه خالي او سالمه ده. داسې چې د مخلوق مينه د ضرورت او اړتيا له مخې وي، او يا چاپلوسي وي، او يا د هغه د نږدې کېدو هدف د هغه نه فايده پورته کول وي.

د مينه والو ډالۍ:

او د الله درود او سلام په خپلو پيغمبرانو او رسولانو باندې د دوی د ايمان او نيکۍ له امله و؛ تر څو بشر همدغه تګلاره تعقيب کړي؛ او هيڅوک دې هغوی په بدۍ نه يادوي:

﴿وَسَلَٰمٌ عَلَى ٱلۡمُرۡسَلِينَ﴾ [الصافات: 181]

(او سلام دې وي په رسولانو باندې) [الصافات سورت: ايت181]

، بيا الله –عزوجل- يحيى -عليه السلام- ته عزت ورکړ؛ هغه يې په څو ځايونو کې په سلام باندې ځانګړی کړ - ويل کيږي-: دغه ځايونه د مخلوقاتو لپاره ترټولو د وحشت او تعجب ځايونه دي -: هغه ورځ چې پيدا شو؛ خپل ځان به د هغه څه څخه بهر ووينې چې هغه پکې وو، او هغه ورځ چې دی به مري؛ هغه به داسې خلک ووينې چې مخکې يې نه وو ليدلي، او کله چې بيا راژوندی شي؛ او هغه وخت به ځان په لوی محشر کې ووينې

﴿وَسَلَٰمٌ عَلَيۡهِ يَوۡمَ وُلِدَ وَيَوۡمَ يَمُوتُ وَيَوۡمَ يُبۡعَثُ حَيّٗا﴾ [مريم: 15]

(او پر ده دې سلام وي په هغې ورځ چې دی پيدا شو او په هغې ورځ چې دی به مري او په هغې ورځ چې دی به بيا ژوندی راپورته کړی شي) [مريم سورت: ايت 15].

څوک چې د الله –تبارک و تعالی- د لارښوونو پيروي کوي - د هغه له غضب او عذاب څخه خوندي دی، او دا د الله ددې قول په معنی ده:

﴿.... وَٱلسَّلَٰمُ عَلَىٰ مَنِ ٱتَّبَعَ ٱلۡهُدَىٰٓ﴾ [طه: 47]

(او (له عذاب نه) سلامتي ده د هغه چا لپاره چې د هدايت پيروي وکړي) [طه سورت : ايت 47].

او جنت: د سلامتيا کور دی:

﴿ * لَهُمۡ دَارُ ٱلسَّلَٰمِ عِندَ رَبِّهِمۡۖ ....﴾ [الأنعام: 127]

(د دوی لپاره د خپل رب په نیز د سلامتۍ کور دی) [الأنعام سورت: ایت 127].

او الله -تبارک وتعالی- به په جنت کې په خپلو بندګانو سلام وايي:

﴿سَلَٰمٞ قَوۡلٗا مِّن رَّبّٖ رَّحِيمٖ ۝٥٨﴾ [یس: 58]

(سلام دی (چې دوی ته به ویلی شي) شکاره ویل د رب له جانبه، چې ډېر مهربان دی) [یس سورت: ایت 58]

. او ملایکې هغو صالحو بندګانو ته سلام کوي کله چې د دوی روح اخلي او هغوی ته داډ ورکوي:

﴿ٱلَّذِينَ تَتَوَفَّىٰهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ طَيِّبِينَ يَقُولُونَ سَلَٰمٌ عَلَيۡكُمُ ٱدۡخُلُواْ ٱلۡجَنَّةَ بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ۝٣٢﴾ [النحل: 32]

(هغه کسان چې ملایک يې (روح) قبض کوي، په دې حال کې چې هغوی پاك وي، دوی به (ورته) وايي: پر تاسو دې سلام وي، تاسو جنت ته داخل شئ، په سبب د هغو (نیکو) عملونو چې تاسو به کول) [النحل سورت: ایت 32].

له هغې څخه ستا برخه ..

د الله له عبادت څخه د هغه د السلام –سبحانه و تعالی- په نامه عبادت کول دي: دا چې د مسلمان زړه او ژبه د مسلمانانو له هر ډول ضرر څخه سالم وي؛ ځکه رسول الله -صلی الله علیه وسلم- فرمایلي دي: «المُسْلِمُ: مَنْ سَلِمَ المُسْلِمُوْنَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ، وَالمُهَاجِرُ مَنْ هَجَرَ مَا نَهَى اللهُ عَنْهُ» "مسلمان هغه څوک دی چې د ژبې او لاس څخه يې مسلمانان په امن وي، او مهاجر هغه څوک دی چې د الله –تعالی- لخوا منع شوي کړني پرېږدي". [ بخاري او مسلم روایت کړی]. د ضرر د مخنیوي تر کچې يې حق نه ادا کېږي، بلکې د دې ستر نوم حق په بشپړ دول باید ادا شي؛ رسول الله -صلی الله علیه وسلم- فرمایلي دي: «إِنَّ السَّلَامَ: اسْمٌ مِنْ أَسْمَاءِ اللهِ -تَعَالَى-، وَضَعَهُ اللهُ فِي الأَرْضِ؛ فَأَفْشُوا السَّلَامَ بَيْنَكُمْ» «السلام: د الله –تعالی- د نومونو څخه یو نوم دی، چې الله په ځمکه کې ایښی دی؛ نو تاسو په منځ کې سلام (سوله، سلامتیا) خپره کړئ». [صحیح حدیث دی. بخاري په ادب المفرد کې روایت کړی]. او د سلام«السلام علیکم» له فضیلت څخه : دا دی چې دا

د امن او سلامتيا کور ته رسوي، په صحيح روايت سره راغلي چې رسول الله -صلی الله عليه وسلم- وفرمايل: «لَا تَدْخُلُونَ الجَنَّةَ حَتَّى تُؤْمِنُوْا، وَلَا تُؤْمِنُوْا حَتَّى تَحَابُّوْا، أَوَلَا أَدُلُّكُمْ عَلَى شَيْءٍ إِذَا فَعَلْتُمُوْهُ تَحَابَبْتُمْ؟ أَفْشُوْا السَّلَامَ بَيْنَكُمْ» «تاسو به جنت ته داخل نه شئ تر څو مو چې ايمان نه وي راوړی، او تر هغه به مؤمن نه شئ تر څو چې يو له بل سره مينه ونه کړئ، ايا زه تاسو ته د داسې لارې لارښوونه ونه کړم کچيرته هغه ترسره کړئ خپل منځ کې به مو مينه زياته شي؟ خپل منځ کې سلام خپور کړئ». [مسلم روايت کړی].

وقفه) ..تم کېدل(

داسې نه ويل کيږي چې: السلام على الله! يعني په الله تعالی دې سلام وي

ځکه سلام د الله لپاره دی او د هغه له طرفه دی، او کله چې رسول الله -صلی الله عليه وسلم- د صحابه کرامو څخه واورېدل چې ويل يې: السلام على الله! رسول الله -صلى الله عليه وسلم- وفرمايل: «إِنَّ اللهَ هُوَ السَّلَامُ، وَلَكِنْ قُوْلُوْا: التَّحِيَّاتُ لِلهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ، السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ، السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِينَ. «يقينا الله سلام دی، مګر ووايئ: ثنا،ستاينې او پاکي الله لره دي،ای نبي ! پرتا دې سلام،د الله رحمت او برکتونه وي، پر مونږ او دالله پر نيکو بندګانو دې سلام وي، شاهدي ورکوم چې بې له الله پرته بل معبود نشته او شاهدي ورکوم چې محمد -صلى الله عليه وسلم- د الله بنده او رسول دی. أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمْدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ» شاهدي ورکوم چې له الله پرته بل معبود نشته او شاهدي ورکوم چې محمد -صلى الله عليه وسلم- د الله بنده او رسول دی». [بخاري روايت کړی او مسلم هم په همدې ډول روايت کړی]. او بل روايت کې راغلي: «فَإِنَّكُمْ إِذَا قُلْتُمُوْهَا أَصَابَتْ كُلَّ عَبْدٍ لِلهِ صَالِحٍ فِي السَّمَاءِ وَالأَرْضِ» "که تاسو دا ووایاست، دا به په اسمانونو او ځمکه کې د الله هر نيک بند ته ورسيږي". [بخاري او مسلم روايت کړی].

اې الله، ته سلام يې، او ستا له طرفه سلامتيا ده، ته د برکت والا يې، اې د عظمت او عزت خاونده.

اې الله! ماته زما دين سم (برابر) کړه، هغه چې زما د هرې چارې ساتونکی (بچ کوونکی) دی، او ماته زما دنيا سمه (برابره) کړه، هغه چې زما ژوند پکې دی، او ماته

زما آخرت سم (برابر) کړه، هغه چې زما ورته بېرته ګرځېدل دي، او موږ د سلام کور ته داخل کړه، اې زموږ ربه! ته په هر څه قادر يې.

16

## المُؤْمِنُ )امن ورکونکی (ذات -جل جلاله-

د غرونو له څوکو څخه: د خلاصون لمر ځلیږي، او همدارنګه د غونډیو په څنډو کې: د رڼا هیله ځلیږي، او د غم په هره دروازه کې د خوښۍ ټکاری کیږي.

سترګې خلاصې کړه، او لاسونه پورته کړه، پر خپل ځان باندې اندیښنې سره مرسته مه کوه، مه پرېږده چې نا امیدي ستا خوا ته راشي؛ دلته داسې ذات شته چې تا ته امنیت بخښي، او تا ته ریښتیا وايي.. هغه المُؤْمِنُ – جل و علا – دی.

کب، شارک، مرغان او ځناوران؛ ټول المؤمن -سبحانه وتعالی- څخه د خوندیتوب او امان امید لري.

نو المؤمن (امن ورکونکي) - جل وعلا - ته رجوع وکړه، او هغه ته د خپل حالت شکایت وکړه؛ ځکه د هغه خلاصول د بریښنا څخه هم ګړندي دي، او هغه لره په هره شیبه کې لطفونه او مهربانیانې دي .

المؤمن – جل وعلا - د الله –عزوجل- له نیکو نومونو څخه یو نوم دی؛ او الله فرمايلي دي:

﴿هُوَ ٱللَّهُ ٱلَّذِى لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلْمَلِكُ ٱلْقُدُّوسُ ٱلسَّلَٰمُ ٱلْمُؤْمِنُ ٱلْمُهَيْمِنُ ....﴾ [الحشر: 23]

(دغه الله هغه ذات دی چې نشته هيڅ حق معبود مګر هم دی دی، چې (حقيقي) بادشاه دی، ښه پاك دی، سلامتي وركوونكی (او) امان وركوونكی دی) [الحشر سورت: ايت 23].

د (المؤمن) نوم په قرآن کریم کې په یو آیت کې ذکر شوی دی، او دغه نوم: د ویریدونکو، امید لرونکو لپاره امان او د غمځپلو لپاره خلاصون دی.

وقفه )تم کېدل ... (د المؤمن د نوم له سیوري لاندې:

علماوو ویلي دي: المؤمن دوه معناوې لري:

لومړی: تصدیق دی، او تر ټولو لوی تصدیق له هغه وخته چې الله مخلوقات پیدا کړي ترڅو چې قیامت ولاړ شي: د الله –جل وعلا- تصدیق پر خپل ځان باندې دی، او پر خپل ځان د وحدانیت او یوازې د هغه معبودیت باندې ګواهي، او په هر هغه څه چې د خپل کمال او لوړو صفتونو ستاینه کول، الله –تبارک و تعالی- د خپل ځان په اړه فرمایلي:

﴿شَهِدَ ٱللَّهُ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ ....﴾ [آل عمران: 18]

(الله ګواهي ورکړې ده د دې خبرې چې یقینًا نشته هېڅ لایق د عبادت مګر هم دی دی) [آل عمران سورت: ایت 18]

؟ دا د لوی پادشاه لخوا د غورو ګواهیو څخه دي چې صادرې شوې دي، او هغه: الله رب العالمین دی؛ تر ټولو لوی او غوره هغه څه چې د هغه په اړه ګواهي ورکول شوي، او هغه: د الله –تبارک و تعالی- وحدانیت، او د هغه لپاره د دین اخلاص، او د عدالت ټینګول دي.

او زه ګواهي ورکوم چې له هغه پرته بل رب نشته ډېر سخي او ډېر رحم کونکی دی، له هغه څخه سوال او دعا غوښتل کیږي او هغه هیله ورکوي.

هغه –عزوجل- دی چې د خپلو خبرو او وعدو تصدیق کوي:

﴿... وَمَنۡ أَصۡدَقُ مِنَ ٱللَّهِ قِيلٗا ١٢٢﴾ [النساء: 122]

(او له الله نه په خبره کې څوک زیات رښتینی دی؟!) [النساء سورت: ایت 122].

او د خپلو پیغمبرانو تصدیق یې وکړ او د هغوی د لاسونو له لارې یې نا اشنا نښانې او معجزې وښودلې:

﴿... أَنِّي قَدۡ جِئۡتُكُم بِـَٔايَةٖ مِّن رَّبِّكُمۡ ...﴾ [آل عمران: 49]

(یقینًا ما تاسو ته ستاسو د رب له طرفه لویه نښه راوړې ده) [آل عمران سورت: ایت 49]

﴿وَأَتَيۡنَٰكَ بِٱلۡحَقِّ وَإِنَّا لَصَٰدِقُونَ﴾ [الحجر: 64]

(او مونږ تا ته حق راوړی دی او بېشکه مونږ یقینًا رښتیني یو) [الحجر سورت: ایت 64]

. او د خپلو بندګانو لپاره په دنیا کی د بریا تصدیق، او په ځمکه کې واکمني، او په آخرت کې د اجر ژمنه کړې ده، هغه –جل و علا- فرمايي:

﴿ثُمَّ صَدَقۡنَٰهُمُ ٱلۡوَعۡدَ فَأَنجَيۡنَٰهُمۡ وَمَن نَّشَآءُ وَأَهۡلَكۡنَا ٱلۡمُسۡرِفِينَ ۝٩﴾ [الأنبياء: 9]

( بیا مونږ له دوی سره وعده رښتیا کړه، نو مونږ دوی ته نجات ورکړ او هغه چا ته چې زمونږ اراده (د هغوی د نجات) وه او له حد نه تېرېدونکي مو هلاك کړل) [الأنبياء سورت: ایت 9]

. او د کافرانو لپاره په دنیا او آخرت کې د عذاب او ذلت تصدیق کوي څرنګه چې هغوی سره وعده شوې ده، هغه – جل و علا- فرمايي:

﴿وَنَادَىٰٓ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِ أَصۡحَٰبَ ٱلنَّارِ أَن قَدۡ وَجَدۡنَا مَا وَعَدَنَا رَبُّنَا حَقّٗا فَهَلۡ وَجَدتُّم مَّا وَعَدَ رَبُّكُمۡ حَقّٗاۖ قَالُواْ نَعَمۡۚ فَأَذَّنَ مُؤَذِّنُۢ بَيۡنَهُمۡ أَن لَّعۡنَةُ ٱللَّهِ عَلَى ٱلظَّٰلِمِينَ﴾ [الأعراف: 44]

( او جنتیان به دوزخیانو ته اواز وکړي چې یقینًا مونږ هغه وعده چې زمونږ رب له مونږ سره کړې وه حقه وموندله، نو ایا تاسو (هم) هغه وعده حقه وموندله چې ستاسو رب (له تاسو سره) کړې وه؟ هغوی به ووايي: هو! نو د دوی په مینځ کې به یو اعلان کوونکی اعلان وکړي چې د الله لعنت په ظالمانو باندې دی) [الأعراف سورت: ایت 44].

او د الله –تبارك و تعالى- خبرتیاوې ټولې ریښتیا دي.

اې الله! زه تا باندې باور لرم اې زما ربه ... او زما لپاره هیڅ کومه دروازه نشته پرته ستا له دروازې څخه

او الله –سبحانه و تعالى- هغه کسان خوښوي چې په خپلو وعدو او خبرونو کې رښتیني وي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَكُونُواْ مَعَ ٱلصَّٰدِقِينَ﴾ [التوبة: 119]

(ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو له الله نه ووېرېږئ او له رښتینو سره ملګري شئ) [التوبة سورت: ایت 119]

. او دویم یې: امن او امان دی، او هغه د وېرې ضد دی،

﴿... وَءَامَنَهُم مِّنۡ خَوۡفِۭ﴾ [قريش: 4]

(او دوی ته يې له ويرې نه (د ساتلو لپاره) امن (او بې خوفي) ورکړې ده) [قريش سورت: ايت 4].

خلک د ناروغۍ له ويرې، د درملو د نشتوالي، د دښمنانو د تسلط، بې وزلۍ او يا د تيار مرګ تر منځ شتون لري؛ تاسو ګورئ چې دوی د خوراکي توکو د رانيولو په لټه کې دي، قلعې او کلاګانې جوړوي، روغتونونه جوړوي، بندونه جوړوي، او کمزوري خلک او هيوادونه د امنيت لپاره ځواکمنانو ته پناه وړي.

او په څو شيبو کې دغه ځواک نړيږي، او کارونه ښکاره کيږي، او د دوی سره هيڅ شی نه پاتې کيږي پرته له دې چې مؤمن –سبحانه و تعالی- ته پناه ويسي؛ هغه خپلو بندګانو ته امن ورکوونکی دی، دوی له هغه څخه تښتي او بيا ورته راستانه کيږي، هغه د دوی او د ټولو کايناتو خالق دی، د بنده ګانو ټولې چارې د هغه په لاس کې دي.

او کله چې د الله –عزوجل- عذاب پر کوم قوم راشي؛ هيڅوک نشته چې له هغه څخه يې خوندي کړي، او بشر واک نلري چې په شا يې واړوي:

﴿ءَأَمِنتُم مَّن فِي ٱلسَّمَآءِ أَن يَخۡسِفَ بِكُمُ ٱلۡأَرۡضَ فَإِذَا هِيَ تَمُورُ ١٦ أَمۡ أَمِنتُم مَّن فِي ٱلسَّمَآءِ أَن يُرۡسِلَ عَلَيۡكُمۡ حَاصِبٗاۖ فَسَتَعۡلَمُونَ كَيۡفَ نَذِيرِ ١٧﴾ [الملك: 16-17]

(ايا تاسو په امن (او بې ويرې) شوي يئ له هغه ذات نه چې په اسمان کې دی، له دې نه چې هغه تاسو په ځمکه کې ښکته ننباسي، بيا دغه (ځمکه) ناڅاپه لړزان شروع کړي. (ايا تاسو له هغه ذات، نه چې په اسمان کې دی په امن (او بې ويرې) شوي يئ، له دې نه چې پر تاسو باندې د کاڼو باران راخوشې کړي، نو تاسو به ژر پوه شئ چې زما ويرول څنګه دي) [الملک سورت: ايتونه 16-17].

درې ځايونه:

خلک په دريو ځايونو کې امنيت لټوي، او ټول يې د المؤمن –عزوجل- په لاس کې دي، چې په هر څه قادر دی، او هغه نه ورکوي مګر يوازې خپلو پرهېزګارو اولياوو ته يې ورکوي:

لومړی ځای: په دنیا کې هر اړخیز امنیت◉

﴿وَلَوۡ أَنَّ أَهۡلَ ٱلۡقُرَىٰٓ ءَامَنُواْ وَٱتَّقَوۡاْ لَفَتَحۡنَا عَلَيۡهِم بَرَكَٰتٖ مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِ ....﴾ [الأعراف: 96]

(او که چېرې د کلیو اوسېدونکو ایمان راوړی وَی او پرهېزګاره شوي وَی (، نو) مونږ به خامخا په دوي باندې له اسمان او زمکې نه برکتونه پرانستلي وی) [الأعراف سورت: ایت 96].

او دویم ځای: د ځنکدن په وخت کې د امنیت غوښتنه کوي، او کله چې د مرګ ملایک راښکته کیږي، او په برزخ کې کله چې دوه ملایکې وګوري.

نو دلته د مومنانو لپاره امنیت او ښه زیری راځي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ قَالُواْ رَبُّنَا ٱللَّهُ ثُمَّ ٱسۡتَقَٰمُواْ تَتَنَزَّلُ عَلَيۡهِمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ أَلَّا تَخَافُواْ وَلَا تَحۡزَنُواْ وَأَبۡشِرُواْ بِٱلۡجَنَّةِ ٱلَّتِي كُنتُمۡ تُوعَدُونَ ۝٣٠﴾ [فصلت: 30]

(بېشکه هغه کسان چې (په رښتیا) یې ویلي دي: زمونږ رب الله دی، بیا ټینګ ولاړ وي (نو) په دوی ملایك نازلیږي چې تاسو مه وېرېږئ او مه غمګین کیږئ او تاسو د هغه جنت زیری واخلئ چې تاسو سره به یې وعده کولی شوه) [فصلت سورت: ایت 30]

. او دریم ځای: په آخرت کې د لویې ویرې په وخت کې دی؛ چیرته چې د پرهېزګارانو لپاره ترټولو لوی امنیت دی، الله - عزوجل - فرمايي: (لَا يَحْزُنُهُمُ الْفَزَعُ الْأَكْبَرُ وَتَتَلَقَّاهُمُ الْمَلَائِكَةُ هَذَا يَوْمُكُمُ الَّذِي كُنْتُمْ تُوعَدُونَ) (دوی به هغه تر ټولو لویه ویره نه غمجن کوئ او له دوی سره به ملایك ملاقات کوي (او وایي به:) دا ستاسو هغه ورځ ده چې تاسو ته به یې وعده درکولی شوه) [الأنبياء سورت: ایت 103].

او امنیت یوازې موحدینو ته ورکول کیږي:

﴿مَن جَآءَ بِٱلۡحَسَنَةِ فَلَهُۥ خَيۡرٞ مِّنۡهَا وَهُم مِّن فَزَعٖ يَوۡمَئِذٍ ءَامِنُونَ ۝٨٩﴾ [النمل: 89]

(هغه څوك چې یوه نېکي (د توحید کلمه) راوړي، نو د هغه لپاره له هغې نه غوره (بدله) ده او دوی به د دغې ورځې د سختې وېرې نه په امان (امن والا) وي) [النمل سورت: ایت 89].

او ستا امنیت به ستا د ایمان په اندازه وي؛ ځکه الله –عزوجل- فرمايي:

﴿ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَلَمۡ يَلۡبِسُوٓاْ إِيمَٰنَهُم بِظُلۡمٍ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمُ ٱلۡأَمۡنُ وَهُم مُّهۡتَدُونَ۝٨٢﴾ [الأنعام: 82]

(هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی او له خپل ايمان سره يې ظلم (شرك) نه دی ګډ کړی (، نو دغه کسان دي چې د همدوی لپاره (له عذاب نه) امن (بچاو) دی او دغه کسان هدايت موندونکي دي) [الأنعام سورت: ايت 82].

په هغه کې ستا برخه ...

نو؛ د مومنانو لپاره د دې لوی نوم له ثمرو څخه: دا دي چې دوی پوه شي چې الله -عزوجل- په سختيو، مصيبتونو او آفتونو کې د دوی ساتنه کوي، او پدې هم پوه شي چې بدله د عمل له جنس څخه ده، نو دوی د خلکو له شر او لالچونو څخه خوندي دي؛ او هغه امان په لرلو سره چې له الله سره دی ليوالتيا لري، او د دې ويره لري چې د قيامت په ورځ به له دوی څخه امنيت او خونديتوب واخيستل شي.

د رسول الله -صلى الله عليه وسلم- څخه په صحيح سند سره روايت دی چې هغه وفرمايل: «أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِالمُؤْمِنِ؟ مَنْ أَمِنَهُ النَّاسُ عَلَى أَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ، وَالمُسْلِمُ: مَنْ سَلِمَ النَّاسُ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ» «ايا زه تاسو ته د مؤمن په اړه خبر درنکړم؟ څوک چې هغه سره خلک خپل مال او ځان په امن کې وګڼي، او مسلمان هغه څوک دی چې خلك د هغه د ژبې او لاس له شره په امن کې وي». [صحيح حديث دی. احمد په مسند کې روايت کړی دی].

اې الله! موږ په خپلو وطنونو کې خوندي ولره ... اې الله! زموږ ويره په امنيت بدله کړه، زموږ عملنامه په ښي لاس راکړه، او زموږ حساب اسانه کړه.

17

## ساتونکی او نګهبان -جل جلاله-

دا پيغام هر هغه چا ته دی چې له ژونده ستړی او تنګ شوی وي، او وخت وربانديې فشار راوړی وي، او دردونه يې ځکلي وي.. موږ تا ته زيری درکوو چې دلته د خلاصون لار شته او بريا نږدې ده، له سختيو وروسته راحت، او له سختۍ وروسته اسانتيا شته.

هلته روښانه هيله او ښه راتلونکی او ربښتيني ژمنه شتون لري:

﴿وَعۡدَ ٱللَّهِۖ لَا يُخۡلِفُ ٱللَّهُ وَعۡدَهُۥ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ ۝٦﴾ [الروم: 6]

(وعده کول د الله، الله د خپلې وعدې مخالفت نه کوي) [الروم سورت: ايت 6]

، آيا ستا مولا او پيدا کونکي ندي ويلي چې:

﴿وَلِلَّهِ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰ فَٱدۡعُوهُ بِهَاۖ ...﴾ [الأعراف: 180]

( او خاص د الله لپاره تر ټولو ښکلي نومونه دي، نو تاسو الله په دغو (نومونو) سره بلئ) [الأعراف سورت: ايت 180]،

بيا کله چې هغه پدې نمونو سره وبلې؛ نو پايله به يې څه وي؟

﴿وَقَالَ رَبُّكُمُ ٱدۡعُونِيٓ أَسۡتَجِبۡ لَكُمۡۚ ...﴾ [غافر: 60]

(او ستاسو رب فرمايي: تاسو ما وبلئ چې زه ستاسو دعا قبوله کړم). [غافر سورت: ايت 60].

دلته مونږ د هغه -عزوجل- د يو له خورا ښکلي نومونو (المهيمن –جل وعلا-) په پيژندلو سره هغه ته نږدې کيدل غواړو :

د الله –عزوجل- پيژندنه د هغه په ډېرو ښکلو نومونو او صفتونو سره: د دين اصل، د لاربښوونې اساس دی او تر ټولو غوره او واجب هغه څه دي چې زړونه يې لاسته راوړي، او نفسونه يې ترلاسه کوي، او عقلونه يې درک کوي.

د الحشر سورت په پاي کې د الله –عزوجل- نوم (المهيمن) ذکر شوی دی:

﴿هُوَ ٱللَّهُ ٱلَّذِي لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡمَلِكُ ٱلۡقُدُّوسُ ٱلسَّلَٰمُ ٱلۡمُؤۡمِنُ ٱلۡمُهَيۡمِنُ ....﴾ [الحشر: 23]

) (دغه الله هغه ذات دی چې نشته هيڅ حق معبود مګر هم دی دی، چې (حقيقي) بادشاه دی، ښه پاك دی، سلامتي ورکوونکی (او) امان ورکوونکی، او نګهبان (محافظ) دی). [الحشر سورت: ايت 23]

. او زمونږ رب المهيمن – عزوجل- هغه: د خپل مخلوق په ټولو چارو او کارونو کې مسؤول دی؛ هغه د پټو کارونو او د سينو له رازونو څخه خبر دی؛ هغه ذات چې هر څه يې په خپل علم سره راګير کړي دي، د مخلوقاتو پر کارونو ګواه دی، د دوی په

وینا او عمل کې د دوی ښارنه کوي، د دوی هیڅ عمل له هغه څخه پټ نه دی، او له هغه څخه نه په ځمکه کې او نه په اسمان کې د ذرې په اندازه (شي) پټېدای شي:

﴿... وَمَا يَعْزُبُ عَن رَّبِّكَ مِن مِّثْقَالِ ذَرَّةٍ فِي ٱلْأَرْضِ وَلَا فِي ٱلسَّمَآءِ وَلَآ أَصْغَرَ مِن ذَٰلِكَ وَلَآ أَكْبَرَ إِلَّا فِي كِتَٰبٍ مُّبِينٍ ٦١﴾ [یونس: 61]

( او ستا له رب څخه نه په ځمکه کې او نه په اسمان کې د ذرې په اندازه (شی) هم نه پټېږي او نه له دې نه زیات وړوکی شی او نه له دې نه زیات غټ مګر په واضحه کتاب کې دي) [یونس سورت: ایت61]

. دا د بنده حالات او د هغه د شپې او ورځې بدلونونه دي، د هغه پټه او ښکاره، د هغه اقامت او سفر؛ هغه ذات ته معلوم دي چې په غیبو باندې پوهه لري، او بنده پسې یې لیکلي دي:

﴿وَإِن تَجْهَرْ بِٱلْقَوْلِ فَإِنَّهُۥ يَعْلَمُ ٱلسِّرَّ وَأَخْفَى ٧﴾ [طه: 7]

(نو یقینًا هغه په پټه خبره او په ډېره پټه خبره هم پوهېږي) [طه سورت: ایت 7].

پټې مشورې او پټې خبرې د هغه لپاره ښکاره دي، او حتا ډېرې پټې خبرې هم د هغه لپاره روښانه دي.

هغه ساتونکی او نګهبان دی..

د منافقانو یوې ډلې دسیسې او پلانونه جوړول؛ نو هغه ذات چې په غیبو پوه دی د هغوی دسیسې یې ښکاره کړې، هغه –سبحانه و تعالی- فرمایي:

﴿يَسْتَخْفُونَ مِنَ ٱلنَّاسِ وَلَا يَسْتَخْفُونَ مِنَ ٱللَّهِ وَهُوَ مَعَهُمْ إِذْ يُبَيِّتُونَ مَا لَا يَرْضَىٰ مِنَ ٱلْقَوْلِ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطًا ١٠٨﴾ [النساء: 108]

( دوی (خپل جرمونه) له خلقو نه ډېر پټوي او له الله نه يې نه پټوي، حال دا چې هغه (الله) له دوی سره وي کله چې دوی د شپې د هغې خبرې په باره کې مشورې کوي چې هغه یې نه خوښوي، او الله هغو عملونو لره چې دوی یې کوي، راګېروونکی دی) [النساء سورت: ایت 108].

له بدر څخه وروسته عمير بن وهب او صفوان بن اميه د شپې د کعبې تر څنګ کيناستل؛ دوی د رسول الله -صلی الله عليه وسلم- د وژلو دسيسې جوړولې، نو الله خپل رسول د دوی په دسيسو او کړنو خبر کړ.

د اسمان پر عرش باندې حاکم او نګهبان دی ... د هغه د عزت لمخې ټول مخونه هغه ته احترام او سجده کوي

هو؛ هغه –جل و علا- ساتونکی او نګهبان دی، امانتدار، ګواه، او د خپل مخلوق پر اعمالو څارونکی دی.

ډاډه اوسه!

اې هغه څوک چې سترګې مو له اوښکو ډکې شوي! خپلې اوښکې پاکې کړه، او سترګې دې آرامې کړه، او آرام شه! ستا لپاره د کايناتو د خالق له خوا سرپرستي ده، او ستا لپاره د هغه د مهربانيو څخه پالنه ده.

او - اې بنده- ډاډه اوسه! قضاوت بشپړ شوی، انتخاب شوی، او مهربانۍ شوي دي.

څو وارې مونږ له مرګه وېرېدلي يو؛ خو موږ مړه نشو؟!

څو وارې زموږ پر مخ لارې تنګې شوې، رسۍ مو پرې شوې، او په مخونو کې مو افقونه تيارې شوې؛ خو وروسته بيا بريا او کاميابي، خير او زيرې راغلي؟!

﴿قُلِ ٱللَّهُ يُنَجِّيكُم مِّنۡهَا وَمِن كُلِّ كَرۡبٖ ثُمَّ أَنتُمۡ تُشۡرِكُونَ﴿٦٤﴾﴾ [الأنعام: 64]

(ته (ورته) ووايه: الله تاسو ته له دغه (مصيبت) نه نجات درکوي او له هر غم نه هم، بيا (هم) تاسو شرك كوئ) [الأنعام سورت: ايت 64].

څو وارې زموږ پر وړاندې نړۍ تيارې شوې، او سره له دې چې آسمانونه او ځمکې پراخه دي خو بيا هم زموږ لپاره تنګ شوي وو؛ نو دا دی عمومي خير او اسانتياوې راغلي؟!

﴿وَإِن يَمۡسَسۡكَ ٱللَّهُ بِضُرّٖ فَلَا كَاشِفَ لَهُۥٓ إِلَّا هُوَۖ وَإِن يُرِدۡكَ بِخَيۡرٖ فَلَا رَآدَّ لِفَضۡلِهِۦۚ يُصِيبُ بِهِۦ مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦۚ وَهُوَ ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ١٠٧﴾ [يونس: 107]

(او که چېرې الله تا ته څه تکلیف دروروسوي، نو له هغه نه غیر هیڅوك هغه (تکلیف) لره لرې کوونکی نشته او که چېرې هغه له تا سره د خیر اراده وکړي، نو د هغه فضل لره هېڅ منع کوونکی نشته، په خپلو بنده ګانو کې چا ته چې وغواړي وررسوي یې او هماغه ښه بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی) [یونس سورت: ایت 107].

زموږ رب المهیمن -عز وجل- دی، او ټول جلال عزت هغه لره دي، بریا او غلبه هغه لره ده، او خلاصون د هغه له لارې ترسره کیږي.

ابن کثیر له وهب بن منبه څخه یو نثر نقل کړی چې وایي: الله –تبارک و تعالی- په خپلو ځینو کتابونو کې فرمایي: (زما په عزت او جلال قسم! هیڅ بنده پر ما منګولې نه خښوي، مګر داچې اسمانونه او ځمکه هغه ته نږدې کیږي، او د هغې تر منځ هغه لپاره د وتلو لاره پیدا کوي، او زما په عزت او جلال قسم! هیڅ بنده زما څخه پرته په نورو باندې منګولې نه خښوی؛ مګر دا چې ځمکه د هغه د پښو لاندې خړوب کړي).

ستا عظمت له منځه نه ځي اې مهیمن ذاته ... ستا پادشاهي همېشنۍ او نوی ده ... او ستا حکم په هر کار کې نافذ دی ... او هغه کې به یوازې هغه څه کیږي چې ته یې غواړې

زه پادشاهانو ته لاړم، او هرې دروازې ته لاړم ... هغه باندې قوي او سخت نګهبانان مقرر دي ... خو ستا دروازه د سخاوت کان دی ... ای هغه ذاته؛ چاته چې شړل شوی بنده تلل غواړي

د نجات رسی...

زموږ رب -عزوجل – خپل کتاب چې: قرآن کریم دی پر پخوانیو کتابونو باندې یې غالب او محافظ توصیف کړی دی:

﴿وَأَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ مُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَمُهَيۡمِنًا عَلَيۡهِۖ ....﴾ [المائدة: 48]

(او (ای نبي!) مونږ تا ته کتاب په حقه سره نازل کړی دی، چې د هغو کتابونو تصدیق کوونکی دی چې له ده نه مخکې دي او د هغوی محافظ دی)، [المائدة سورت: ایت 48].

قرانکریم مخکني کتابونو باندې حاکم دی؛ هغه کې یې هغه څه سره راوستي چې په هغو کې غوره وو، او هر هغه څه چې په مخکنیو کتابونو کې منسوخ شوي دي هغه څه دي چې قرآن نسخ کړي دي، او بني اسرائیلو ته یې هغه څه وویل چې دوی په هغه کې اختلاف درلود، او د هغوی تحریف یې روښانه کړ، او پخوانیو کتابونو چې کوم حقایق په ځان کې رانغاړلي وو هغه یې روښانه کړل.

او هیڅ مسلمان په دې باندې ایمان نلري مګر دا چې د الله –سبحانه و تعالی- کتاب د هغه په سینه کې مینه او خوښي پیدا کوي؛ او هغه د الله ثنا او د هغه د لارښوونې مننه ادا کوي؛ او دا هغه څه دي چې هر انسان یې تمه لري، او مومن یې په هر رکعت کې غوښتنه کوي:

﴿ٱهۡدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلۡمُسۡتَقِيمَ٦﴾ [الفاتحة: 6]

(ته مونږ ته سَمَه (نېغه) لاره وښایَه) [الفاتحة سورت: ایت 6].

اې نګهبان ذاته! مونږ ته د هدایت کوونکو سره هدایت وکړه، او زمونږ متولي شه د هغه خلکو سره چې ته یې متولي یې، او مونږ ته او زمونږ مور او پلار او ټولو مسلمانانو ته بخښنه وکړه.

18

## پر ټولو غالب -جل جلاله-

حاکم په "المستدرک" کې د عمر بن الخطاب -رضي الله عنه- په حواله لیکلي دي: کله چې شام ته راغی، کله چې د اوبو نهر ته ورسید نو عمر له خپل اوښ څخه ښکته شو او چپلکې یې وویستلې، بیا یې د اوښ قیضه ونیوله او د ابو له نهر څخه تیر شو.

ابو عبيده بن الجراح ورته وويل: اې امير المومنين، تاسو ددې منطقې د خلكو له عرف او عادت خلاف لوی كار وكړ! تا خپلې چپلكې وويستلې، بيا دې اوښ وړاندې كړ، او له نهر څخه تير شوې.

نو عمر په خپل لاس د ابو عبيده سينه ووهله؛ او ويې ويل: اوه! اې ابو عبيده! كه پرته له تا څخه بل چا ويلې وای.

تاسو تر ټولو كم خلک وئ، نو الله تاسو ته په اسلام سره عزت دركړ، نو پرته له اسلام څخه كه عزت ولټوئ، الله –سبحانه و تعالی- به تاسو ذليل كړي.

الله -تبارك وتعالى- فرمايلي:

﴿مَن كَانَ يُرِيدُ ٱلۡعِزَّةَ فَلِلَّهِ ٱلۡعِزَّةُ جَمِيعًاۚ ....﴾ [فاطر: 10]

(هر هغه څوك چې هغه عزت غواړي، نو خاص الله ته دی ټول عزت) [فاطر سورت: ايت 10].

زمونږ رب –سبحانه و تعالی- د خپل ځان په صفت كې داسې فرمايي:

﴿وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ٩﴾ [الشعراء: 9]

(او بېشكه ستا رب خامخا هم هغه ښه غالب، بې حده رحم كوونكی دی) [الشعراء سورت: ايت 9]، *

﴿...لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٦﴾ [آل عمران: 6]

( نشته هېڅ لايق د عبادت مګر هم دی دی، چې ډېر غالبه، ښه حكمت والا دی) [آل عمران سورت: ايت 6]،

او هغه موږ ته له اوو اسمانونو څخه پورته امر وكړ چې پدې باندې پوه شئ او ډاډه اوسئ:

﴿.... وَٱعۡلَمۡ أَنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ٢٦٠﴾ [البقرة: 260]

(او پوهه شه چې يقينًا الله ډېر غالب، ښه حكمت والا دی) [البقرة سورت: ايت 260]

. او زموږ غالب رب – تبارک و تعالی -؛ هغه ذات دی چې د عزت ټولې معناوې – که هغه وصف وي او یا بادشاهي- يې په خپل ځان کې را جمع کړې دي، او هغه – سبحانه و تعالی- وفرمايل:

﴿مَن كَانَ يُرِيدُ ٱلۡعِزَّةَ فَلِلَّهِ ٱلۡعِزَّةُ جَمِيعًاۚ ...﴾ [فاطر: 10]

( هر هغه څوک چې هغه عزت غواړي، نو خاص الله ته دی ټول عزت) [فاطر سورت: ایت ١٠].

هغه د غلبې وياړ لري؛ هغه پر خپلو دښمنانو غالب او د هغوی ماتونکی دی.

هغه د منع کولو وياړ لري؛ د هغه د مخلوقاتو څخه هيڅوک هغه پاک ذات ته نشي رسيدلی، هغه په خپل ذات سره بې نياز دی.

او هغه د ځواک وياړ لري چې مشکلات د هغه د ځواک په مقابل کې ناتوان دي، او سختۍ د هغه د ځواک په مقابل کې نرمې شوې دي.

هغه غالب او برلاسی –سبحانه و تعالی- دی؛ د خپلو بندګانو څخه چې هر چاته وغواړي عزت ورکوي.

هغه غالب او برلاسی –سبحانه و تعالی- دی؛ داسې ذات چې د هغه ګاونډي ته ضرر نه رسيږي، او د هغه پيروان نه ذليل کيږي.

او هغه غالب او برلاسی ذات دی ... نا شونې ده چې د واک څښتن ته څه شی ضرر ورسولای شي ... او هغه غالب ذات دی او په خپل قدرت سره برلاسی دی ... چې دغه يې دوه صفتونه دي

او هغه غالب ذات دی کوم چې د هغه وصف دی ... او عزت لپاره درې معناوې دي ... او دا د هغه پاک ذات لپاره کامل صفتونه دي ... چې له هر اړخ څخه نيمګړيتا نلري

د غالب ذات پناه ګاه:

او کله چې مؤمنان پوهه شول او باور يې وکړ چې عزت يوازې د هغه –الله- له طرفه دی؛ هغه عزيز ذات لپاره يې عاجزي غوره کړه،او هغه ته يې مخونه واړول، دوی د

هغه پناه ګاه ته پناه یوړه، د هغه تر څنګ يې پناه واخيستله، او د هغه څخه يې د عزت غوښتنه وکړه؛ څکه چې دوی د هغه –عزوجل- دغه وينا تلاوت کړې ده:

﴿مَن كَانَ يُرِيدُ ٱلْعِزَّةَ فَلِلَّهِ ٱلْعِزَّةُ جَمِيعًاۚ .... ﴿١٠﴾﴾ [فاطر: 10]

(هر هغه څوك چې هغه عزت غواړي، نو خاص الله ته دی ټول عزت) [فاطر سورت: ايت 10]

. المدايني په خپل کتاب کې ذکر کړي دي چې وايي: «د یمن له خلکو څخه یو سړی حجاج ته راغی او د هغه ورور محمد بن یوسف څخه يې شکايت وکړ او په منبر کې له حجاج سره مخامخ شو، نو ورته پاڅېد؛ او د هغه د ورور محمد څخه يې شکايت وکړ، نو حجاج د هغه د بندي کيدو امر وکړ، او کله چې له منبر څخه ښکته شو؛ هغه يې راوغوښت په داسې حال کې چې هغه باندې په غوسه و، نو ورته يې وويل: تا څنګه جرأت وکړ چې زما د ورور شکايت وکړې؟! هغه ورته وويل: په الله قسم چې زه د الله په وړاندې ستا له ورور څخه پر تا د عزت ډېر حقدار يم، حجاج وويل: هغه پرېږدئ».

ماته په ژوند کې د ذلت په پياله کې اوبه مه راکوئ ... ماته د مرغوني اوبه عزت سره راکړئ

او هر څومره چې د مسلمان په زړه کې دغه نوم لوی شي، او په خپل ژوند کې د هغه د لاسته راوړلو لپاره کار وکړي؛ دغه لاسته راوړنه به يې زياته وي.

﴿.... وَلِلَّهِ ٱلْعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِۦ وَلِلْمُؤْمِنِينَ ....﴾ [المنافقون: 8]

(او عزت (خو) خاص د الله لپاره دی او د هغه د رسول لپاره دی او د مومنانو لپاره دی) [المنافقون سورت: ايت 8].

تر ټولو عزتمند خلک: پيغمبران دي، بيا له هغوی څخه وروسته هغه مؤنان چې د دوی پيروي کوي.

نو؛ لدې کبله په دنيا او آخرت کې عزتمند کس نشته پرته لدې چې الله تعالی هغوی ته عزت ورکړی وي.

﴿قُلِ ٱللَّهُمَّ مَٰلِكَ ٱلْمُلْكِ تُؤْتِي ٱلْمُلْكَ مَن تَشَآءُ وَتَنزِعُ ٱلْمُلْكَ مِمَّن تَشَآءُ وَتُعِزُّ مَن تَشَآءُ وَتُذِلُّ مَن تَشَآءُۖ بِيَدِكَ ٱلْخَيْرُۖ إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ٢٦﴾ [آل عمران: 26]

(ته ووایه: اې الله!د بادشاهۍ مالکه! ته بادشاهي ورکوې هغه چا ته چې وغواړې او بادشاهي بېرته اخلې له هغه چا نه چې وغواړې، چا ته چې وغواړې عزت ورکوې او چا ته چې وغواړې ذلت ورکوې، هم ستا په لاس کې خیر دی، بېشکه ته په هر شي باندې ښه قادر یې) [آل عمران سورت: ایت 26].

د هغو کسانو لپاره چې د عزت په لټه کې دي ..

نو څوک چې له الله پرته بل چا باندې د عزت غوښتونکی وي، نو هغه پر موقتي او فاني واکمنۍ، او قدرت وياړي.

او هغه به څوک وي چې د الله په مقابل کې راپورته شي او له هغه سره مبارزه وکړي او ماته ورکړي؟! د فرعون قوم په فرعون باندې عزت غوښته:

﴿.... وَقَالُواْ بِعِزَّةِ فِرْعَوْنَ إِنَّا لَنَحْنُ ٱلْغَٰلِبُونَ٤٤﴾ [الشعراء: 44]

(نو هغوی خپلې رسۍ او امساګانې وغورځولې او ويې ویل:د فرعون په عزت سره، بېشکه مونږ، خامخا همدا مونږ غالب یو) [الشعراء سورت: ایت 44]،

نو پایله یې څه وه

﴿فَأَلْقَىٰ مُوسَىٰ عَصَاهُ فَإِذَا هِيَ تَلْقَفُ مَا يَأْفِكُونَ ٤٥﴾ [الشعراء: 45]

(نو موسٰی خپله امسا وغورځوله، نو ناڅاپه هغې هغه څه ښوی تېرول چې دوی په دروغه جوړ کړي وو) [الشعراء سورت: ایت 45]

. ډېرى خلک د کافرانو او د دين دښمنانو سره عزت لټوي، خو دغو خلکو د الله –عزجل- قدر نه دی کړی، او الله يې په حق سر نه دی پېژندلی! که نه نو، دغه خلک به ددوی له سترګو وغورځي چې دوی ورته وفادار دي؛ دوی که هر څومره ځواکمن وي او د هغوی د پلویانو شمېر ډېر وي؛ د الله د عزت، ځواک، جبروت او تسلط په مقابل کې هيڅ څه هم نه دي. او الله –عزوجل- دوی ته وويل هغه عزت او خوند چې هغوی يې په لټه کې دي له بل چا سره به يې ونه مومي، بلکې د دوی حالت د منافقانو په شان شو؛ د دوی ظاهري بڼې له باطن سره توپير درلود.

﴿بَشِّرِ ٱلْمُنَٰفِقِينَ بِأَنَّ لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ۝١٣٨ ٱلَّذِينَ يَتَّخِذُونَ ٱلْكَٰفِرِينَ أَوْلِيَآءَ مِن دُونِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ۚ أَيَبْتَغُونَ عِندَهُمُ ٱلْعِزَّةَ فَإِنَّ ٱلْعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا ۝١٣٩﴾ [النساء: 138-139]

(منافقانو ته زيرى وركړه چې بېشكه د دوى لپاره ډېر دردوونكى عذاب دى. (هغه كسان چې له مومنانو نه غير كافران دوستان نيسي، ايا دوى د هغوى په خوا كې عزت لټوي؟ نو بېشكه عزت ټول د الله لپاره دى) [النساء سورت: ايتونه 138-139].

او ځيني يې په خپل ځان او خپلې قبيلې وياړي، د امام احمد په مسند كې له ابي بن كعب -رضي الله عنه- څخه روايت دى چې وايي: دوه كسانو د رسول الله -صلى الله عليه وسلم- په زمانه كې خپل نسب بيان كړ؛ يو يې وويل: زه فلانى د فلاني زوى د فلانې زوى يم، ته څوك يې؟ ته بې موره يې (د هيچا زوى نه يې)!

رسول الله -صلى الله عليه وسلم- وفرمايل: «انْتَسَبَ رَجُلَانِ عَلَى عَهْدِ مُوْسَى -عليه السلام- ؛ فَقَالَ أَحَدُهُمَا: أَنَا فُلَانُ ابْنُ فُلَانٍ، حَتَّى عَدَّ تِسْعَةً، فَمَنْ أَنْتَ؛ لَا أُمَّ لَكَ؟! قَالَ: أَنَا فُلَانِ بْنُ فُلَانِ ابْنِ الإِسْلَامِ». «د موسى -عليه السلام- په زمانه كې دوه كسانو خپل نسب بيان كړو؛ يو يې وويل: زه فلانى د فلانې زوى يم، تر دې چې نهه پلرونه يې وشميرل، نو ته څوك يې؟ ته بې موره يې؟! هغه وويل: زه فلانى د فلانې زوى د اسلام زوى يم».

قال: «فَأَوْحَى اللهُ إِلَى مُوْسَى -عليه السلام- : أَنَّ هَذَيْنِ الْمُنْتَسِبَيْنِ؛ أَمَّا أَنْتَ أَيُّهَا الْمُنْتَمِي أَوِ الْمُنْتَسِبُ إِلَى تِسْعَةٍ: فِي النَّارِ؛ فَأَنْتَ عَاشِرُهُمْ. هغه وفرمايل: الله موسى -عليه السلام- ته وحي وكړه: چې دغه دوه تړاولرونكي دي؛ اې هغه كسه چې نهو پلرونو ته ځان منسوبوې: په دوزخ كې كې دي؛ او ته به د هغوى لسم شې.

وَأَمَّا أَنْتَ يَا هَذَا! الْمُنْتَسِبَ إِلَى اثْنَيْنِ: فِي الجَنَّةِ؛ فَأَنْتَ ثَالِثُهُمَا فِي الجَنَّةِ» (او اې هغه كسه چې ځان دې دوو ته منسوب كړى: په جنت كې دي؛ او ته به په جنت كې د هغوى دريم كس شې).
[صحيح حديث دى]

او ويل شوي دي: څوك چې په خپل منصب باندې نازيږي، نو هغه دې فرعون ته وګوري، او څوك چې په خپل مال باندې نازيږي، نو هغه دې قارون ته وګوري، او څوك چې خپل نسب باندې نازيږي، هغه دې ابولهب ته وګوري. پرته له شكه عزت په تقوا كې دى.

چا چې ويلي رښتياپي ويلي دي: "نحن قوم أعزنا الله بالإسلام، فمهما ابتغينا العزة في غيره أذلنا الله". "موږ هغه قوم يو چې الله په اسلام سره عزت راکړی، نو هرکله مو چې په بل څه کې عزت ولټاوه، الله به مو ذليل کړي".

په دې زمانه کې د اسلامي امت د ذلت تر ټولو ستر لامل دا دی: چې پر الله – عزوجل- باندی په واقعي شکل وياړ او افتخار نکوي.

هغه تا ته وياړ درکوي ..

کله چې کافرانو رسول الله -صلى الله عليه وسلم- ته ګواښونه پيل کړل، او هغه ته يې بدې خبرې کولې، او خپل زور يې ښکاره کاوه؛ الله تعالى يو آيت نازل کړ تر څو خپل رسول –صلى الله عليه وسلم- ته تسليت ورکړي او هغه ته د ټولو انسانانو د کمزورۍ په اړه خبر ورکړي، د الله –سبحانه و تعالى- پدې قول سره چې فرمايي:

*﴿وَلَا يَحۡزُنكَ قَوۡلُهُمۡۘ إِنَّ ٱلۡعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًاۚ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ﴾ [يونس: 65]

(او د دوی وينا دې تا غمجن نه کړي، بېشکه عزت ټول خاص د الله لپاره دی، هم هغه ښه اورېدونکی، ښه پوهه دی) [يونس سورت: ايت 65]

. او هر څومره چې ايمان ډير وي، په هماغه اندازه د مؤمن په زړه کې عزت او افتخار ډيريږي، او په هماغه اندازه يې د بريا او غلبې ډاډ هم زيات وي؛ الله –سبحانه و تعالى- وفرمايل:

﴿وَمَا جَعَلَهُ ٱللَّهُ إِلَّا بُشۡرَىٰ لَكُمۡ وَلِتَطۡمَئِنَّ قُلُوبُكُم بِهِۦۗ وَمَا ٱلنَّصۡرُ إِلَّا مِنۡ عِندِ ٱللَّهِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَكِيمِ﴾ [آل عمران: 126]

(او الله دا (مدد) نه دی ګرځولی مګر ستاسو لپاره زېرې او لپاره د دې چې ستاسو زړونه په دې مطمئن شي او نه دی مدد مګر د الله له جانبه، چې ډېر غالب، ډېر حکمت والا دی) [آل عمران سورت: ايت 126]،

او الله -سبحانه وتعالى- فرمايلي:-

﴿... ٱللَّهُ مَن يَنصُرُهُۥٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ﴾ [الحج: 40]

(او الله به خامخا ضرور د هغه چا مدد وکړي چې د هغه (الله) مدد کوي، بېشکه الله خامخا ډېر زورور، غالب دی) [الحج سورت: ایت 40].

چا چې ایمان ترلاسه کړ عزت یې ترلاسه کړ، او چا چې عزت ترلاسه کړ د الله – عزوجل- مینه یې ترلاسه کړه، هغه – سبحانه و تعالی - وفرمایل:

﴿... فَسَوْفَ يَأْتِي ٱللَّهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُۥٓ أَذِلَّةٍ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى ٱلْكَٰفِرِينَ ...﴾ [المائدة: 54]

(نو ژر ده چې الله به داسې خلق راولي چې هغه (الله) به له دوی سره مینه کوي او دوی به له هغه (الله) سره مینه کوي، په مومنانو به ډېر نرمي کوونکي وي او په کافرانو باندې به ډېر سخت وي) [المائدة سورت: ایت 54].

ابن کثیر وایي: "څوک چې دا خوښوي چې په دنیا او آخرت کې محبوب شي، نو هغه دې باید د الله –سبحانه و تعالی- په اطاعت پابند اوسي؛ پدې سره خپل هدف ترلاسه کولای شي؛ ځکه چې الله –سبحانه و تعالی- د دنیا او آخرت مالک دی، او ټول عزت د هغه لپاره دی، لکه څنګه چې هغه – سبحانه و تعالی - فرمایي:

﴿... ٱلْعِزَّةَ فَإِنَّ ٱلْعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا ۝١٣٩﴾ [النساء: 139]

(نو بېشکه عزت ټول د الله لپاره دی) [النساء سورت: ایت 139]"

. ابراهیم الخواص -رحمه الله- ویلي: څومره چې مؤمن د الله په امر باندې فخر وکړي، الله به هغه ته د عزت جامې وراغوندي، او د مؤمنانو په زړونو کې به د هغه عزت قائم کړي. دا د هغه –سبحانه و تعالی- وینا ده چې فرمایي:

﴿....وَلِلَّهِ ٱلْعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِۦ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَلَٰكِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ لَا يَعْلَمُونَ ۝٨﴾ [المنافقون: 8]

(او عزت (خو) خاص د الله لپاره دی او د هغه د رسول لپاره دی او د مومنانو لپاره دی او لېکن منافقان پوهه نه لري) [المنافقون سورت: ایت 8]".

د عزت کلیاني )کلیدونه:(

کله چې د عزت لاملونه ترلاسه شي، عزت هم محقق کیږي:

لومړی په ایمان سره؛ الله –عزوجل- وفرمایل:

﴿....وَلِلَّهِ ٱلۡعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِۦ وَلِلۡمُؤۡمِنِينَ وَلَٰكِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ لَا يَعۡلَمُونَ٨﴾ [المنافقون: 8]

( او عزت (خو) خاص د الله لپاره دی او د هغه د رسول لپاره دی او د مومنانو لپاره دی او لیکن منافقان پوهه نه لري) [المنافقون سورت: ا۞ت 8]

. مومنانو سره عاجزي کول؛ الله –عزوجل- وفرمايل:

﴿.... أَذِلَّةٍ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ ....﴾ [المائدة: 54]

(په مومنانو به ډېر نرمي کوونکي وي او په کافرانو باندې به ډېر سخت وي) [المائدة سورت: ایت 54].

او په بخښنې سره؛ رسول الله -صلی الله علیه وسلم- وفرمايل: «مَا زَادَ اللهُ عَبْدًا بِعَفْوٍ إِلَّا عِزًّا» "الله بنده ته په بخښنې سره نه ورکوي مگر د عزت زياتوالی". [مسلم روايت کړی] او الله ته په دعا کې پدې نوم سره نږدې کيدل ، نو دا د ابراهيم -عليه السلام- له دعاګانو څخه وه:

﴿رَبَّنَا لَا تَجۡعَلۡنَا فِتۡنَةٗ لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ وَٱغۡفِرۡ لَنَا رَبَّنَآۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ٥﴾ [الممتحنة: 5]

(اې زمونږه ربه! ته مونږ د کافران شويو خلقو لپاره (ځای د) فتنې مه ګرځوه او ته مونږ ته مغفرت وکړه اې زمونږ ربه! بېشکه هم دا ته ډېر غالب، ښه حکمت والا يې) [الممتحنة سورت: ایت 5]

، او د عرش حمل کوونکي ملائکې مؤمنانو ته پر دې نوم دعا سره کړې ده:

﴿رَبَّنَا وَأَدۡخِلۡهُمۡ جَنَّٰتِ عَدۡنٍ ٱلَّتِي وَعَدتَّهُمۡ وَمَن صَلَحَ مِنۡ ءَابَآئِهِمۡ وَأَزۡوَٰجِهِمۡ وَذُرِّيَّٰتِهِمۡۚ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ٨﴾ [غافر: 8]

(ای زمونږه ربه! او ته دوی د تل استوګنې هغو جنتونو ته ننباسه چې تا يې له دوی سره وعده کړې ده، او هغه څوك چې صلاحيت ولري د دوی له پلرونو او د دوی له ښځو او د دوی له اولادونو څخه (هغه هم ننباسه)، بېشکه ته، هم ته ښه غالب، ډېر حکمت والا يې) [غافر سورت: ایت 8].

او رسول الله -صلی الله علیه وسلم – چې به د شپې لخوا کله له خوبه ويرېده، نو ويل به يې: «لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ الوَاحِدُ القَهَّارُ، رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا العَزِيزُ الغَفَّارُ» "له الله

پرته بل معبود نشته، هغه يو دی، پر ټولو قادر دی، د اسمانونو او ځمکې او د هغو ټولو شيانو رب دی چې د دوی په منځ کې دی، غالب، بخښونکی دی". [حديث صحيح دی. ابن حبان روايت کړی] او پيغمبر - صلى الله عليه وسلم - يو سړي ته تعليم ورکاوه چې کله هغه ته درد راشي بايد د الله په عزتمندۍ سره د هغه عبادت وکړي؛ هغه محبوب -صلى الله عليه وسلم- ورته وفرمايل: «اجْعَلْ يَدَكَ اليُمْنَى عَلَيْهِ، وَقُلْ سَبْعَ مَرَّاتٍ: بِاسْمِ اللّهِ، أَعُوْذُ بِعِزَّةِ اللّهِ وَقُدْرَتِهِ مِنْ شَرِّ مَا أَجِدُ وأُحَاذِر» "خپل ښی لاس دې د درد پر ځای کېږده او اوه ځلې ووايه: : «بِاسْمِ اللّهِ، أَعُوْذُ بِعِزَّةِ اللّهِ وَقُدْرَتِهِ مِنْ شَرِّ مَا أَجِدُ وأُحَاذِر» په نوم د الله؛ د الله په عزت او ځواک سره د هغه څه له شر څخه پناه نيسم چې زه يې احساسوم او ځان ترې ژغورم. [مسلم روايت کړی]

فکر وکړه!

هغه –تبارک و تعالی- خپل عزيز نوم له خپلو نورو نومونو سره تړلی دی: (قوی، حکيم، ټول پوه، ستايل شوی، بخښونکی، ډالی ورکوونکی او ځواکمن).

او دا - په الله قسم! - په مونږ باندې د هغه د رحمت، خير او احسان له کمال څخه دی.

دا زمونږ د رب د نومونو په کمال او د هغه په عالي صفتونو دليل دی، او دا چې دغه نومونه يو بل سره يوځای دي؛ نو هغه –سبحانه و تعالی- په خپل بشپړ عزت، قوت، ځواک، او سخت نيولو سره؛ په خپل حکمت او پوهه کې کامل دی، په خپلو بندګانو رحم او لطف کوونکی دی، په خپلو چارو، قول، عمل او احکامو کې د ستاينې وړ دی.

د هغه عزت: حکمت، رحم، او عدالت دی،

﴿... لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ۝٦﴾ [آل عمران: 6]

( نشته هيڅ لايق د عبادت مګر هم دی دی، چې ډېر غالبه، ښه حکمت والا دی) [آل عمران سورت: ايت 6].

او څرنګه چې د هغه عزت: د کمال او عظمت عزت دی؛ الله د تل لپاره ددې ستاينې مستحق دی، هغه – سبحانه و تعالی- فرمايي:

﴿... ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَمِيدِ ١﴾ [إبراهيم: 1]

(ډېر غالب، ډېر ستايل شوي) [إبراهيم سورت: ايت1].

اې هغه مالکه! چې ټولې چارې په اختيار کې لري ... او د هغه قضاوت په هر څه کې پلی کيږي

زه په تا پناه نيسم، اې سخي ذاته چې څوک نه مايوسه کوې ... بنده ستا په عزت باندې پناه او ساتنه غواړي

﴿سُبۡحَٰنَ رَبِّكَ رَبِّ ٱلۡعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ ١٨٠ وَسَلَٰمٌ عَلَى ٱلۡمُرۡسَلِينَ ١٨١ وَٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ١٨٢﴾ [الصافات: 180-182]

ستا رب لره پاکي ده چې د عزت (او غلبې) مالك دى، له هغو خبرو نه چې دوى (مشركان) يې بيانوي. او سلام دې وي په رسولانو باندې. و او ټول د كمال صفتونه خاص الله لره دي چې د عالمونو شبه پالونكى دى) [الصافات سورت : ايتونه 180-182].

اې غالب الله! په خپل اطاعت سره مونږ ته عزت راکړه، او ستا د نافرمانۍ له امله مو مه خواروه.

19

## ترټولو زبردست -جل جلاله-

کله چې وخت تير شي، او ورونه دې پرېږدي، او تياره را خواره شي، او ورځې بدلې شي، او ناروغۍ زياتې شي، او مصيبتونه ډېر شي، او غمونه لوي شي؛ غږ وکړه: اې الله! اې د ماتو زړونو جبران کونکی ذاته! زما ناتواني جبران کړه او زما په کمزورۍ رحم وکړه؛ نو الله ستا غږ اوري.

الله –عزوجل- د خپل ځان په اړه فرمايي:

﴿هُوَ ٱللَّهُ ٱلَّذِي لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡمَلِكُ ٱلۡقُدُّوسُ ٱلسَّلَٰمُ ٱلۡمُؤۡمِنُ ٱلۡمُهَيۡمِنُ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡجَبَّارُ ٱلۡمُتَكَبِّرُۚ سُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ٢٣﴾ [الحشر: 23]

(دغه الله هغه ذات دی چې نشته هېڅ حق معبود مګر هم دی دی، چې (حقيقي) بادشاه دی، ښه پاك دی، سلامتي وركوونکی (او) امان وركوونکی دی، نګهبان (محافظ) ښه غالب (او زورور)، ډېر عظمت والا، ډېر لويۍ والا دی، الله پاك دی له هغو (شيانو) څخه چې دوی يې ورسره شريكوي) [الحشر سورت : ايت 23].

او الجبار –سبحانه و تعالی- : هغه ځوک چې مات شوی زړه جبرانوي، غريبان شتمنوي ، هره سختي آسانوي؛ هغه د هغو کسانو زړونه چې د هغه د عظمت او جلال تابع دي په ځانګړي توګه جبرانوي.

الجبار – سبحانه وتعالی - هر څه باندې غلبه لري؛ هغه ذات چې هر څه هغه ته غاړه ږدي، او ورته تابع دي.

او الجبار – سبحانه وتعالی - د هر څه څخه لوړ او ټول مخلوق څخه پورته دی، په خپل عرش باندې برقرار دی.

يوازې زمونږ رب د قدرت څښتن دی او هغه په خپل ځواک سره ظالمان مغلوبوي، او هغه ځوک دی چې په خپل عظمت سره له هغوی څخه لوړوالی لري.

الله –عزوجل- په دې نوم سره د خپل ځان ستاينه وکړه؛ هغه – سبحانه و تعالی - وفرمايل:

﴿هُوَ ٱللَّهُ ٱلَّذِي لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡمَلِكُ ٱلۡقُدُّوسُ ٱلسَّلَٰمُ ٱلۡمُؤۡمِنُ ٱلۡمُهَيۡمِنُ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡجَبَّارُ ٱلۡمُتَكَبِّرُۚ سُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ٢٣﴾ [الحشر: 23]

(ښه غالب (او زورور)، ډېر عظمت والا، ډېر لويۍ والا دی) [الحشر سورت: آيت 23]

. رسول الله -صلی الله عليه وسلم- به په سجده او رکوع کې دا دعا کوله: «سُبْحَانَ ذِي الجَبَرُوْتِ وَالمَلَكُوتِ وَالكِبْرِيَاءِ وَالعَظَمَةِ» "پاکي ده هغه ذات لره چې قهر، سلطنت، غرور او لويۍ خاوند دی" [صحيح حديث دی. ابوداود روايت کړی].

د هغه مخالفت مه کوه!

الجبار: د الله په حق کې د ستاینې او کمال صفت دی؛ لیکن کله چې د انسان په اړه دا صفت وکارول شي، ډیری وخت: د سپکاوي، نیمګړتیا او د عیب صفت کې کارول کېږي، ایا ته نه وینې هغه انسان چې د جبار یا لویۍ دعوه کوي؟ ورګه ورته ضرر رسوي، چینجي یې خوري، مچ یې ګډوډوي، او د لوږې په قید کې وي، او موږوالی یې د مرګ سبب ګرځي؟!

نو لدې کبله؛ پیغمبرانو په ځمکه کې په نا حقه سره د (تجبر او تکبر) له صفتونو څخه خپل قومونه منع کول، او الله تعالی فرمايلي:

﴿وَإِذَا بَطَشْتُم بَطَشْتُمْ جَبَّارِينَ۝١٣٠﴾ [الشعراء: 130]

(او كله چې تاسو نيول كوئ (،نو) نيول كوئ، په داسې حال كې چې ظلم كوونكي يئ) [الشعراء سورت : ايت 130]

. او څوک چې کبر وکړي الله – جل جلاله- د هغه په زړه باندې مهر لګوي:

﴿... كَذَٰلِكَ يَطْبَعُ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ قَلْبِ مُتَكَبِّرٍ جَبَّارٍ۝٣٥﴾ [غافر: 35]

(همداسې الله د تكبر كوونكي او جبر كوونكي په هر (جز د) زړه باندې مهر لګوي) [غافر سورت : ايت 35]،

او الله –عزوجل- ظالمانو ته د عذاب ګواښ کړی دی:

﴿وَٱسْتَفْتَحُواْ وَخَابَ كُلُّ جَبَّارٍ عَنِيدٍ۝١٥ مِّن وَرَآئِهِۦ جَهَنَّمُ وَيُسْقَىٰ مِن مَّآءٍ صَدِيدٍ۝١٦﴾ [إبراهيم: 15-16]

(او (بالاخره) هغو (رسولانو له الله نه) فتحه وغوښته او هر متكبر سركښه نامراده شو. (چې د هغه په وړاندې جهنم دى او پر هغه به د وينو زوبو اوبه څښولى شي) [إبراهيم سورت: ايت 15-16]

. او په حدیث کې راغلي: رسول الله -صلى الله عليه وسلم- وفرمایل: «تَخْرُجُ عُنُقٌ مِنَ النَّارِ يَوْمَ القِيَامَةِ؛ لَهَا عَيْنَانِ تُبْصِرَانِ، وَأُذُنَانِ تَسْمَعَانِ، وَلِسَانٌ يَنْطِقُ، يَقُولُ: إِنِّي وُكِّلْتُ بِثَلَاثَةٍ: بِكُلِّ جَبَّارٍ عَنِيدٍ، وَبِكُلِّ مَنْ دَعَا مَعَ اللهِ إِلَهًا آخَرَ، وَبِالمُصَوِّرِينَ» «د قيامت په ورځ به د اور څخه يوه غاړه راښکاره شي؛ هغې لره به سترګې وي چې کتل به کوي، او غوږونه به وي چې اوريدل به کوي، او ژبه به يې وي چې خبرې به کوي، او وايي به: زه په دريو ( ډوله خلکو ) ګمارل شوې يم: په هر ظالم او

سرکښ، هر هغه چا چې له الله سره بل معبود بللی دی، او تصویر جوړوونکي». [صحيح حديث دی. ترمذي روايت کړی]. او د هغه –عليه الصلاة والسلام- څخه په مستند ډول روايت شوی چې فرمايي: «تَحَاجَّتِ الجَنَّةُ وَالنَّارُ؛ فَقَالَتِ النَّارُ: أُوثِرْتُ بِالمُتَكَبِّرِينَ، وَالمُتَجَبِّرِينَ..» «جنت او دوزخ يو بل سره مجادله وکړه نو اور وويل: زه په متکبرانو او متجبرانو باندې ستا څخه غوره شوی يم». [مسلم روايت کړی] .. نو متکبران چيرته دي .. متجبران چيرته دي؟

پادشاهان او د پادشاهانو زامن او هغه څوک چې؟

ټول سرونه به هغوی ته په عاجزۍ سره ځوړند وو؟

د وخت پيښو دوی باندې اواز وکړ، او دوی بدل شول

او وطنونه يې په نورو وطنونو بدل کړل

د اسمان دروازه وټکوه!

زموږ د نبي -صلى الله عليه وسلم- له دعاوو څخه: «اللَّهُمَّ! اغْفِرْ لِي، وَارْحَمْنِي، وَاجْبُرْنِي، وَاهْدِنِي، وَارْزُقْنِي» «اې الله! ما وبخښه، پر ما رحم وکړه، ما ورغوه، ما ته لارښوونه وکړه، ما ته روزي راکړه». [صحيح حديث دی. ترمذي روايت کړی].

د ژوند ماتې ډيرې دي، او موږ هره ورځ د دې ژوند له انديښنو سره ماتيږو؛ نو په هره لحظه کې الله –سبحانه و تعالی- ته اړتيا لرو؛ ترڅو زموږ ماتې ورغوي، او زموږ کمزوري پياوړي کړي.

ځواني، بوډاتوب، بې وزلي او شتمني، د الله په خاطر، دغه وخت څنګه تېرويږ شو؟!

ناروغ په خپل بستر پروت وی، د ناروغۍ سره مبارزه کوي؛ نو غږ کوي چې اې الله! نو زورور او جبار ذات هغه بې وزلي جبرانوي، او د هغه لخوا ورته شفا راښکته شي.

فقير ماتيږي او د خرما د پردې په اندازه هم څه نلري، د بدبختۍ له امله اوښکې تويوي، او د فقر له امله ژاړي، او اسمان ته ګوري او وايي: اې الله! نو، ځواکمن ذات د هغه ماتوالی رغوي، د هغه اړتياوې پوره کوي، او مصيبت يې له منځه وړي.

مظلوم ماتيږي، خپلې ژړاګانې پټوي، او خپلې اوښکې پاکوي، او د الله په دروازه کې پريوځي او وايي: اې الله!  نو زورور او جبار ذات د هغه غچ اخلي، او خپل لښکر ورلېږي، او خپل نصرت نازلوي.

بندي په پنجره کې ماتيږي؛ هغه په اوسپنو او زنځيرونو تړل شوی وي؛ نو غږ وکړي چې: اې الله! نو زورور او جبار ذات د هغه کمزورۍ جبران کوي او د هغه لپاره دروازې خلاصوي، او ناګهانه زنځيرونه پرانيستل شي، او خلاصون رامنځ ته شي.

عقيم او بې اولاده ماتيږي، او خپګان يې راونغاړي، اميد يې کمزوری شي؛ نو خپل جاي نماز رواخلي، اوږده ژړا وکړي، او غږ وکړي چې: اې ربه ماته له خپلې خوا نيک اولاد راکړه! نو زورور او جبار ذات هغه ورغوي ، او خپل امر او مرسته ورولېږي؛ نو ناشونی شتون ومومي، او مسکا رامنځ ته شي او حمل واخلي.

هغه غالب او جبار – عزوجل- دی؛ غوټې خلاصوي، زړونه، هډوکي او روحونه رغوي، اوښکې وچوي، مصيبتونه او سختۍ له منځه وړي، او خوشحالۍ را ليږي.

ټول ورته اواز کوي: زموږ ستونزه رفع کړه، او زمونږ په کمزوريو رحم وکړه!

﴿يَسۡـَٔلُهُۥ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ كُلَّ يَوۡمٍ هُوَ فِي شَأۡنٖ ٢٩﴾ [الرحمن: 29]

(له ده نه سوال کوي هر هغه څوك چې په ا سمانونو او ځمکه کې دي، هر وخت هغه په يو کار کې دی) [الرحمن سورت: ايت 29].

او که د ځارنې پام ستا خوا ته شو ... نو ته ويده شه ټولې پېښې امن دی

او هره ماته چې تا د الله خوا ته متوجه کوي، هغه به ورغوي حتا که تا وردروي.

الله  -عز وجل- فرمايي- :

﴿وَإِن مِّن شَيۡءٍ إِلَّا عِندَنَا خَزَآئِنُهُۥ وَمَا نُنَزِّلُهُۥٓ إِلَّا بِقَدَرٖ مَّعۡلُومٖ ٢١﴾ [الحجر: 21]

(او نشته هيڅ شيز مګر زمونږ سره د هغه خزانې دي او مونږ هغه نه نازلوو مګر په معلومې اندازې سره) [الحجر سورت: ايت21]

، د هغه –سبحانه و تعالی- په لاس کې د خلاصون کلیاني دي، او که تا ته درد دروړسیده او د اندیښنو سره مخ شوې؛ نو تر ټولو پوهه پادشاه ته رجوع وکړه، د زړونو او ماتو رغونکي ته اواز وکړه: اې د مات شویو رغونکیه! زما ماتیدا ورغوه، زما په کمزورۍ رحم وکړه، او زما اندیښنه لرې کړه،

﴿أَمَّن يُجِيبُ ٱلۡمُضۡطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكۡشِفُ ٱلسُّوٓءَ ...﴾ [النمل: 62]

(بلکې هغه ذات (غوره دی) چې د مجبور ( او عاجز) سوال قبلوي، کله چې دغه (الله) وبلي او هغه تکلیف (او سختي) لرې کوي؟) [النمل سورت: ایت 62] .

او ممکن د یو مصیبت په نازلیدو سره یو ځوان ته خفګان او سترتیا ورسیږي،

نو د الله سره د هغه څخه د وتلو لاره شته

د مصیبتونو حلقې تنګې شي نو چې کله ښېخې تنګې شي

نو کولاو به شي حال دا چې هغه فکر کاوه چې هیڅکله به پرانستل نه شي

مرهم شه!

او په یاد ولرئ: ستونزې د دنیا ماتې دي، نو که تاسو یو څوک په مصیبت کې ولیده؛ نو هغه څوک جوړ شه چې الله یې د هغه د رغونې لپاره کاروي؛ځکه چې تر ټولو لوی اجر به د قیامت په ورځ د هغه چا لپاره چې د خلکو ستونزې حلوي.

په مستند ډول روایت دی چې هغه -صلی الله علیه وسلم- وفرمایل: «مَنْ فَرَّجَ عَنْ مُسْلِمٍ كُرْبَةً؛ فَرَّجَ اللهُ عَنْهُ بِهَا كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ يَوْمَ القِيَامَةِ» «څوک چې د مسلمان یوه ستونزه خلاصه کړي؛ الله به یې د قیامت د ورځې له ستونزو څخه یوه ستونزه خلاصه کړي». [مسلم روایت کړی]

﴿.... وَأَحۡسِن كَمَآ أَحۡسَنَ ٱللَّهُ إِلَيۡكَۖ ....﴾ [القصص: 77]

(او احسان کوه، لکه چې تا سره الله احسان کړی دی). [القصص سورت: ایت 77]،

﴿.... وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ١٣٤﴾ [آل عمران: 134]

(او الله نېکي کوونکي خوښوي) [آل عمران سورت: ایت 134].

ته د مرهم په څير اوسه حتا كه تا باندې سخت حالات راشي ...او خوږ شه حتا كه نور خلک ستا په مقابل کې تريخ وي

اې الله! اې د ماتو زړونو رغونكيه، زموږ ماته ورغوه، او زموږ په ضعف رحم وکړه، او زموږ له ګناهونو څخه تېر شه؛ ستا په رحمت سره، اې تر ټولو ډېر رحم کوونكيه!

20

## د لويې خاوند -جل جلاله-

لويي يوازې د الله –عزوجل- لپاره ده، الله د خپل ځان په تعريف کې فرمايي:

﴿وَلَهُ ٱلۡكِبۡرِيَآءُ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ۝٣٧﴾ [الجاثية: 37]

(او خاص ده لره په اسمانونو او ځمكه کې لويي ده او همدى ښه غالب، ښه حكمت والا دى) [الجاثية سورت : ايت 37]، او الله -تبارك وتعالى- فرمايي- :

﴿هُوَ ٱللَّهُ ٱلَّذِي لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡمَلِكُ ٱلۡقُدُّوسُ ٱلسَّلَٰمُ ٱلۡمُؤۡمِنُ ٱلۡمُهَيۡمِنُ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡجَبَّارُ ٱلۡمُتَكَبِّرُۚ سُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يُشۡرِكُونَ۝٢٣﴾ [الحشر: 23]

(دغه الله هغه ذات دى چې نشته هېڅ حق معبود مګر همدى دى، چې (حقيقي) بادشاه دى، ښه پاك دى، سلامتي وركوونكى (او) امان وركوونكى دى، نګهبان (محافظ) ښه غالب (او زورور)، ډېر عظمت والا، ډېر لويې والا دى، الله پاك دى له هغو (شيانو) نه چې دوى يې ورسره شريكوي) [الحشر سورت : ايت 23].

زمونږ رب - عزوجل - د ټولو بديو، ګناهونو، او د بندګانو له ظلم څخه لوى دى.

او زمونږ رب – سبحانه و تعالى - هغه ثوک دى چې د جابرو خلكو پر وړاندې لويې كوي، كله يې چې په عظمت ورسره ځان برخوال كړي.

د هغه – جل و علا- ذات له ټولو بديو څخه لوى دى، داسې لويي چې د هغه د صفاتو شان او مقام سره نه ښايي، لكه د حدث او بدى صفتونه.

د کبريا اصل: ډېره کول دي، او زموږ رب - عزوجل - له نيمګړتياوو، بديو او عيبونو څخه لرې دی.

د عاجزۍ بنده ګۍ..

د (ت) توری د هغه په نوم (متکبر) کې د ناوړه چلند او تکلف توری نه دي؛ لکه څنګه چې ويل کيږي: فلانی کس لويي کوي خو لوی نه دی، بلکه دغه د (ت) توری د ځانګړتيا او اختصاص لپاره دی.

تکبر له هغه –تبارک وتعالی- پرته بل هيچا ته نه ښايي؛ ځکه چې پادشاهي يوازې هغه لره ده او له هغه پرته ټول مملوک دي، او يوازې هغه څښتن دی او نور د څښتن تابع دي، هغه يوازينی خالق دی او نور مخلوق دي، او يوازې هغه د کمال، ښکلا، عظمت او جلال په صفاتو کې بې سارې دی.

نو؛ الله –تبارک و تعالی- دا صفت د ځان لپاره ځانګړی کړی، او هر چا چې دغه صفت د ځان لپاره غوره کړ د سخت عذاب ګواښ يې ورته کړی دی.

پدې اړه رسول الله –صلى الله عليه وسلم فرمايي: «قَالَ اللَّهُ -عز وجل- : الكِبْرِيَاءُ رِدَائِي، وَالعَظَمَةُ إِزَارِي، فَمَنْ نَازَعَنِي وَاحِدًا مِنْهُمَا؛ قَذَفْتُهُ فِي النَّارِ» «چې الله –عزوجل- فرمايلي: غرور زما ځادر دی، او لويي زما لنګ دی، نو څوک چې په دې کې زما سره شخړه وکړي؛ اور ته به يې واچوم». [صحيح حديث دی. ابوداود روايت کړی].

خطابي فرمايي: «او د ځادر او ازار (لنګ) څخه يې ځکه د مثال په ډول کار واخيست – الله ښه پوهيږي -، وايې: لکه څنګه چې يو سړی په خپل ځادر او ازار کې هيڅوک نه شريکوي؛ نو پدې اساس زه هم نه غواړم چې مخلوق په کبرياء او عظمت کې را سره شريک شي، او الله ښه پوهيږي».

او د مخلوق مقام: د بندګۍ، تواضع، تسليمۍ، او لوی متعال ذات ته غاړده ايښودل دي، هغه د جلال او عزت لرونکی دی. شايد پدې کې به له رازونو څخه يو راز وي چې د رکوع او سجدې په وخت کې د الله ياد وشي،او د هغه د کبرياء او عظمت يادونه په رکوع او سجدې کې وشي.

رسول الله -صلى الله عليه وسلم- به په خپلې ركوع او سجده كې داسې ويل: «سُبْحَانَ ذِي الجَبَرُوْتِ وَالمَلَكُوتِ وَالكِبْرِيَاءِ وَالعَظَمَة» "پاک دی؛ څواکمن، د سلطنت، لويي او عظمت څښتن". [صحيح حديث دی. ابوداود روايت کړی]. او الله –سبحانه و تعالی- خپل پيغمبران او صالح بندګان له تکبر څخه پاک کړي دي، او هغوی له غرور او تکبر څخه پناه غوښتله:

﴿وَقَالَ مُوسَىٰٓ إِنِّي عُذۡتُ بِرَبِّي وَرَبِّكُم مِّن كُلِّ مُتَكَبِّرٖ لَّا يُؤۡمِنُ بِيَوۡمِ ٱلۡحِسَابِ٢٧﴾ [غافر: 27]

(او موسی وويل چې بېشکه ما د خپل رب او ستاسو د رب پناه نيولې ده له هر تکبر کوونکي نه، چې د حساب په ورځې ايمان نه لري) [غافر سورت: ايت 27].

پايلو ته فکر وکړه!

او په چا کې چې دا صفتونه وي، د هغه نفس به فاسد شي، د هغې څخه به د هغه نيکی ليرې شي، او په زړه به يې زنګ ولګول شي.

﴿... كَذَٰلِكَ يَطۡبَعُ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ قَلۡبِ مُتَكَبِّرٖ جَبَّارٖ٣٥﴾ [غافر: 35]

(همداسې الله د تکبر کوونکي او جبر کوونکي په هر(جز د) زړه باندې مهر لګوي) [غافر سورت: ايت 35]،

او الله -سبحانه وتعالی وفرمايل:

﴿.... إِن فِي صُدُورِهِمۡ إِلَّا كِبۡرٞ مَّا هُم بِبَٰلِغِيهِۚ ....﴾ [غافر: 56]

(د دوی په سينو کې نه دی مګر کبر چې دوی دغه (د کبر مقتضا) ته رسېدونکي نه دي) [غافر سورت: ايت 56]

. د متکبرانو امام ابليس دی؛

﴿إِلَّآ إِبۡلِيسَ ٱسۡتَكۡبَرَ وَكَانَ مِنَ ٱلۡكَٰفِرِينَ٧٤﴾ [ص: 74]

(غير له ابليس نه، هغه لويي وکړه او شو له کافرانو څخه) [ص سورت: ايت 74]، دغه صفتونه د ظالمو پادشاهانو دي؛ لکه د فرعون او نورو ظالمانو په څېر:

﴿وَٱسۡتَكۡبَرَ هُوَ وَجُنُودُهُۥ فِي ٱلۡأَرۡضِ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّ وَظَنُّوٓاْ أَنَّهُمۡ إِلَيۡنَا لَا يُرۡجَعُونَ٣٩﴾ [القصص: 39]

(او ده او د ده لښکرو په ځمکه کې ناحقه (تکبر او) اولويي وکړه او دا يې وګڼله چې يقينًا دوى به مونږ ته نه راګرځول کېږي) [القصص سورت: ايت 39]

. د چا چې مال او اولاد ډير شي، او الله سره پرې مقابله وکړي؛ په يقين سره لويى د هغه زړه ته لاره موندلې، او د حق د منلو مخه يې نيولې ده؛ لکه د وليد بن المغيره په څېر:

﴿ثُمَّ أَدۡبَرَ وَٱسۡتَكۡبَرَ ٢٣﴾ [المدثر: 23]

(بيا يې شا كړه او لويي يې وكړه) [المدثر سورت: ايت 23]

. لويي (تكبر): د هغو ملتونو د بربادۍ لامل دى چې له حقه يې انكار كړى وو؛

﴿فَأَمَّا عَادٞ فَٱسۡتَكۡبَرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّ ....﴾ [فصلت: 15]

(نو هر چې عاديان وو، نو دوى خو په ځمكه كې ناحقه لويي وكړه) [فصلت سورت: ايت 15]

. او الله –عزوجل- د صالح -عليه السلام- د قوم په باره كې فرمايلي:

﴿قَالَ ٱلَّذِينَ ٱسۡتَكۡبَرُوٓاْ إِنَّا بِٱلَّذِيٓ ءَامَنتُم بِهِۦ كَٰفِرُونَ ٧٦﴾ [الأعراف: 76]

(تكبر كوونكو كسانو ووېل: بېشكه مونږ په هغه څه چې تاسو پرې ايمان راوړى دى، كفر كوونكي يو) [الأعراف سورت: ايت 76]

. او د متكبرانو انجام: دوزخ او بد برخليک دى:

﴿.... أَلَيۡسَ فِي جَهَنَّمَ مَثۡوٗى لِّلۡمُتَكَبِّرِينَ ٦٠﴾ [الزمر: 60]

(ايا په دوزخ كې د تكبر كوونكو لپاره ځاى نشته!) [الزمر سورت: ايت 60].

او په ترمذي كې نقل شوي دي: چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- وفرمايل: «يُحْشَرُ الْمُتَكَبِّرُونَ يَوْمَ القِيَامَةِ أَمْثَالَ الذَّرِّ فِي صُوَرِ الرِّجَالِ، يَغْشَاهُمُ الذُّلُّ مِنْ كُلِّ مَكَانٍ، يُسَاقُونَ إِلَى سِجْنٍ فِي جَهَنَّمَ، يُقَالُ لَهُ: بُولَسُ، تَعْلُوهُمْ نَارُ الأَنْيَارِ، يُسْقَوْنَ مِنْ عُصَارَةِ أَهْلِ النَّارِ: طِينَةِ الخَبَالِ» «متكبره خلک به د قيامت په ورځ د وړو ميږيو په څېر چې د انسانانو په شكل وي حشر كيږي، پداسي حال كې چې له هرې خوا ذلت هغوى راګير كړي وي، دوى به د جهنم زندان ته بوتلل شي، چې هغه ته: بُولَسُ وايي، د دوى په سر به د اورونو اور وي،او دوى ته به د دوزخيانو د وينو او زخمونو زوې ورڅښول كيږي» [صحيح حديث دى] - الله دې مونږ له دې څخه وساتي-.

دارو )علاج:(

او څوک چې په لويي (تکبر) اخته وي، هغه دې خپل باطن ته د هوښيارانو په څير وګوري، او خپل ظاهر ته دې د حيواناتو په څير نه ګوري!

او د خپل وجود اصل دې په ياد راولي، او دا چې له کوم ځايه راوتلی دی؟ او په دې دنيا کې يې پای.. بد بويه لرونکې مرداره ده!

ويل شوي دي : «مطرف بن عبدالله بن الشخير مهلب بن ابی صفره ته وکتل، په داسې حال کې چې هغه يوه چپن اغوستې وه او تر شا يې ځان پسې کش کوله، او په تکبر سره روان و، ويې ويل: اې ابو عبدالله! دا څه ډول تګ دی چې الله او د هغه رسول ورڅخه کرکه کوي؟ المهلب وويل: ته ما نه پيژنې؟ هغه وويل: زه تاسو پيژنم. ستا پيل يوه وړه او ناځيزه نطفه وه، او ستا پای يو ناپاک بدبويه جسد دی، او ستا په داخل  کې ډکې او تشې متيازې دي».

که خلک د هغه څه په اړه فکر وکړي چې د دوی په ګيډو کې دي ... نه به ځوانان او نه به لويان د کبر احساس وکړي

مناوي -رحمه الله- فرمايي: «انسان بايد هيڅا ته سپکاوی ونه کړي؛ شايد تحقير شوی سړی تر ټولو پاک زړه، او تر ټولو پاک عمل، او تر ټولو خالص نيت لرونکی وي، د الله د بندګانو توهينول زيان، ذلت او بې ارزښتي را منځ ته کوي».

ابن تيميه ويلي: "ويريدونکی ګناهګار له متکبر عبادت کوونکي څخه غوره دی".

هوښيار بايد تواضع ولري او د علماوو او ضعيفو خلکو سره ناسته او د ناروغانو پوښتنه وکړي، او څوک چې د ځنکدن په حالت کې وي او مصيبت ځپلی وي د هغه ليدلو ته بايد ورشي، د متکبرانو ژوندليک او د هغوی له حالاتو څخه دې ځان خبر کړي؛ چې هغوی څنګه وو؟ او څه شول؟

ګويا کې تا د پخوانيو خلکو په اړه ندي اوريدلي

او تا په پاتې نورو خلکو کې ونه ليدل چې وخت هغوی سره څه وکړل

که ته نه پوهيږې، نو دا د هغوی کورونه دي

له تا وروسته بادونو او قبرونو نابود کړل

اې الله! مونږ له تا څخه ستا په المتکبر (لويي) نوم سره غوښتنه کوو: ترڅو زمونږ په کمزوريو رحم وکړۍ، او زمونږ عيبونه وپوښې، ګناهونه مو وبخښې، او د متکبرانو په ډله کې مو مه شميرې، اې د جهانونو ربه!

22 - 21

## د هر شي پيداکونکی او نوښتګر -جل جلاله-

اې د ځمکې سيلانيه دا طبيعت دی زمونږ سره تم شه ... چې زه تاسو ته د خالق بې مثاله جوړښت دروښايم ... ستاسو شاوخوا ځمکه او اسمان ولړزيدل ... د ښو نښانو او آثارو لپاره

پاک دی هغه ذات چې کايناتو ته يې شکل ورکړی...دا شکلونه دی او هغه تقدير ټاکونکی دی

اسمانونه او ځمکه چا پيدا کړي؟ ميوه او دانه چا پيدا کړي؟ چا سهار جلا کړ او شپه يې د ارام لپاره وګرځوله، لمر او سپوږمۍ يې په حساب شوي اندازه څرخيږي؟ د انسان پيدايښت چا له ختو څخه پيل کړ؟ چا ټول مخلوق له يو نفس څخه پيدا کړ؟ او هر څه ته يې د پيدايښت بڼه ورکړه او بيا يې ورته هدايت وکړ؟

﴿هَٰذَا خَلۡقُ ٱللَّهِ فَأَرُونِي مَاذَا خَلَقَ ٱلَّذِينَ مِن دُونِهِۦۚ ....﴾ [لقمان: 11]

(دغه د الله مخلوق دی، نو تاسو (ای مشرکانو!) ما ته وښيئ څه شی دی هغه چې دغو (بتانو) پيدا کړي دي، چې غير له هغه (الله) نه دي). [لقمان سورت: ايت 11].

پاکي ده هغه ذات لره چې عظمت يې د پوهانو ذهنونه حيران کړي!

پاکي ده هغه ذات لره چې د فکر کوونکو په سترګو کې د هغه نوښتونه څرګنديږي!

پاکي دی هغه ذات لره چې د هغه وړانګې د لارې څارونکو بصيرت ځلانده کوي!

﴿..... فَتَبَارَكَ ٱللَّهُ أَحۡسَنُ ٱلۡخَٰلِقِينَ١٤﴾ [المؤمنون: 14]

(نو الله ډېر برکت والا دی چې تر ټولو ښه پیدا کوونکی دی) [المؤمنون سورت: ایت 14].

مونږ د الله –عزوجل- د دوو نومونو سره تمکیږو، چې هغه: الخالق او الخلاق (پیدا کوونکی او نوښتګر -جل وعلا-) دي:

الله -سبحانه وتعالی- فرمايي- :

﴿إِنَّ رَبَّكَ هُوَ ٱلۡخَلَّٰقُ ٱلۡعَلِيمُ٨٦﴾ [الحجر: 86]

(بېشکه ستا رب، هم دی ښه پیداکوونکی، پې حده علم والا دی) [الحِجر سورت: ایت 86]،

او فرمايي:

﴿هُوَ ٱللَّهُ ٱلۡخَٰلِقُ ٱلۡبَارِئُ ٱلۡمُصَوِّرُۖ ....﴾ [الحشر: 24]

(هم دغه الله پیدا کوونکی، (له نشت نه وجود ته) راوېستونکی، صورت ورکوونکی دی) [الحشر سورت: ایت 24].

او زمونږ رب هغه ذات دی چې ټول شیان يې له نشت څخه وروسته پیدا کړل، او هغه يې پرته له مخکینۍ بېلګې پیدا کړل، او د الله - سبحانه وتعالی - کړنې د هغې اندازې پورې مقدر شوي دي چې هغه ورته اندازه کړې دي.

د خالق عظمت...

په کایناتو کې هر څه د ده لخوا رامینځته شوي، او هغه يې په ربوبیت او الوهیت اعتراف کوي، او هرڅه چې ته په خپل شاوخوا کې ګورئ - او هغه څه چې تاسو يې نه ګورئ - د الله تعالی په شتون دلالت کوي؛ هغه هغه ذات دی چې ټول مخلوقات يې پیدا کړي او هغه يې په خپل حکمت سره جوړ او روغ کړي، او هغه يې په خپل حکمت سره انځور کړي، او هغه لا تر اوسه په دې ستر وصف سره يادیږي.

هډوکي يې په غوښو پوښلي، او غوښه يې پوستکي باندې پوښلې، ځاروېو ته يې وړۍ او ویښتان ور اغوستي، او په جنین کې يې روح د مور په ګېډه کې پو کړی، بیا يې هغه راوویست، روزي يې ورکړه، ساتنه يې وکړه، او هغه ته يې ښوونه وکړه، او انسان يې په غوره شکل کې پیدا کړ، او هغه ته يې دوه سترګې، ژبه او دوه شونډې ورکړې، او هغه ته يې د خیر او شر لاره وښودله.

﴿ٱلَّذِي خَلَقَكَ فَسَوَّىٰكَ فَعَدَلَكَ ۝٧ فِيٓ أَيِّ صُورَةٖ مَّا شَآءَ رَكَّبَكَ ۝٨﴾ [الانفطار: 7-8]

(هغه ذات چې ته يې پيدا کړې، نو ته يې ښه برابر کړې. په هر صورت (شکل) کې چې هغه غوښتل، ته يې پيوند (او جوړ) کړې) [الانفطار سورت: ايتونه 7-8]،

﴿.... فَتَبَارَكَ ٱللَّهُ أَحۡسَنُ ٱلۡخَٰلِقِينَ ۝١٤﴾ [المؤمنون: 14]

(نو الله ډېر برکت والا دى چې تر ټولو ښه پيدا کوونکى دى) [المؤمنون سورت : ايت 14].

او همدارنګه ګواهي ورکوي، چې الله پاک ... نوښتګر دى او ددې جسدونو بيرته را ژوندى کونکى دى

زمونږ رب – تبارک و تعالى – مخلوقات پيدا کړي دي ترڅو هغه وپېژني او عبادت يې وکړي:

﴿وَمَا خَلَقۡتُ ٱلۡجِنَّ وَٱلۡإِنسَ إِلَّا لِيَعۡبُدُونِ ۝٥٦﴾ [الذاريات: 56]

(او ما پېريان او انسانان ندي پيدا کړي مګر د دې لپاره چې دوى زما عبادت وکړي) [الذاريات سورت : ايت 56].

د کائناتو همغږي:

ټول مخلوقات پې ځايه او يا د لوبو لپاره ندي پيدا شوي – الله لدې څيز څخه پاک او منزه دى! - هغه – تبارک و تعالى- فرمايي:

﴿وَمَا خَلَقۡنَا ٱلسَّمَآءَ وَٱلۡأَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَا لَٰعِبِينَ ۝١٦﴾ [الأنبياء: 16]

(او مونږ اسمان او ځمکه او هغه څه چې د دواړو په مينځ کې دي (داسې) ندي پيدا کړي، چې لوبې کوونکي يو) [الأنبياء سورت: ايت 16].

شته ټول موجودات د رب –تبارک و تعالى- د صفتونو او ستاينو شاهدان دي، دا ټول په زړه پورې نومونو او د دوى واقعيتونو ته اشاره کوي، هغوى ته اواز کوي او هغوى ته اشاره کوي.

د مخلوقاتو کربښو ته پام وکړه، څکه چې ... تا ته د ستر واکمن (پادشاه) څخه پیغامونه دي ... او په هغو کې لیکل شوي که په ریښتیا سره دغو کربښو ته پام وکړې ... چې له الله پرته هرڅه باطل دي

د خپل رب د صفتونو اثبات ته اشاره کوي ... چوپ او صامت کائنات لارښوونه کوي، او هغه څوک چې ګویا دی

الله -سبحانه وتعالی- فرمایلي- :

﴿إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ ۝٤٩﴾ [القمر: 49]

(بېشکه مونږ هر شي لره، مونږ هغه په (ازلي) اندازې سره پیدا کړی دی) [القمر سورت: ایت 49].

ډاکټران وايي: د ستوني جوړښت په خورا دقت سره اندازه شوی دی؛ څکه چې که د اوسني حالت په پرتله لږ څه پراخه شوی وای، د انسان غږ به ورک شوی وای؛ او که د اوسني حالت په پرتله لږ څه تنګ شوی وای، تنفس کول به ستونزمن شوي وای، یا به تنفس آرام وای خو غږ به ورک شوی وای، او یا به غږ واضح وی خو تنفس به ستونزمن وای.

﴿.... صُنْعَ اللَّهِ الَّذِي أَتْقَنَ كُلَّ شَيْءٍ ۚ إِنَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَفْعَلُونَ ۝٨٨﴾ [النمل: 88]

[(وګورئ) کاریګري د الله هغه چې هر شی يې محکم کړی دی، بېشکه هغه ښه خبردار دی په هغو کارونو چې تاسو يې کوئ] [النمل سورت: ایت 88].

که اوسني حالت څخه زموږ د سترګو لید له خپل حد څخه ډېر وای، زموږ ژوند به دوزخ وای!

که تاسو د اوبو هغه پیالې ته وګورئ چې تاسو يې اوس څښئ، تاسو به هغه روښانه، صفا، خوږه وویني، او که ستاسو د سترګو ځواک لږ څه زیات شوی وای، او د هغې دقت ډېر وای، نو تا به پدې پیاله کې عجیب او غریب او ناشنا ژوندي کائنات، او بې شمېره ګټور جراثیم لیدلی وای! نو هغه مهال به دې هیڅکله اوبه نه وې څکلې،

﴿إِنَّا كُلَّ شَيۡءٍ خَلَقۡنَٰهُ بِقَدَرٖ ۝٤٩﴾ [القمر: 49]

بېشکه موږ هر شي لره، موږ هغه په (ازلي) اندازې سره پیدا کړی دی. [القمر سورت: ایت 49]

. او که د اوربېدلو کچه لږه لوړه شوې وای، نو د شپې به دې خوب نه و کړای؛ ځکه چې ټول غړونه به دې تر لاسه کول، یوازې ستا په معده کې د هاضمې سیستم غړونه تقریبا د یوې لوی کارخانې په څیر دي

﴿إِنَّا كُلَّ شَيۡءٍ خَلَقۡنَٰهُ بِقَدَرٖ ۝٤٩﴾ [القمر: 49]

(بېشکه موږ هر شي لره، موږ هغه په (ازلي) اندازې سره پیدا کړی دی) [القمر سورت: ایت 49].

که د لمس حاسه زیاته شوې وی، تا به د ساکن برېښنا احساس کړې وه چې ستا ژوند به په یوه نه زغمونکي دوزخ بدل شوی و،

﴿وَفِيٓ أَنفُسِكُمۡۚ أَفَلَا تُبۡصِرُونَ ۝٢١﴾ [الذاريات: 21]

(او ستاسو په ځانونو کې هم، ایا نو تاسو نه وینئ) [الذاریات سورت: ایت 21].

﴿هَٰذَا خَلۡقُ ٱللَّهِ فَأَرُونِي مَاذَا خَلَقَ ٱلَّذِينَ مِن دُونِهِۦ....﴾ [لقمان: 11]

(دغه د الله مخلوق دی، نو تاسو (ای مشرکانو!) ما ته وښیئ څه شی دی هغه چې دغو (بتانو) پیدا کړی دی، چې غیر له هغه (الله) نه دي) [لقمان سورت: ایت 11].

او د ځینو هغو کسانو په اړه به حیران شي چې د فطرت معکوس او د ناروغه زړونو خاوندان دي! دوی د الله په اړه استدلال کوي، حال دا چې الله د دوی په ضمیرونو کې ځای په ځای شوی دی:

﴿وَجَحَدُواْ بِهَا وَٱسۡتَيۡقَنَتۡهَآ أَنفُسُهُمۡ ....﴾ [النمل: 14]

(او دوی له دغو (معجزو) نه انکار وکړ، حال دا چې د دوی نفسونو په دغو یقین کړی و) [النمل سورت: ایت 14].

﴿وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّنۡ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُۚ قُلِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ٢٥﴾ [لقمان: 25]

(او قسم دی که ته له دوی نه پوښتنه وکړې چې اسمانونه او ځمکه چا پیدا کړې دي (، نو دوی به خامخا ضرور ووايي چې الله، ته ووايه: ټول د کمال صفتونه خاص الله لره دي بلکې د دوی زیاتره نه پوهېږي) [لقمان سورت: ایت 25].

ډاډه اوسه!

او مؤمن پوهیږي چې هغه خالق ته ګران دی؛ نو پدې سره د هغه ځان ډاډمنیږي او پوهیږي چې هغه چا چې پیدا کړی دی هغه به یې له پامه ونه غورځوي، او الله به د هغه ساتنه وکړي، او دا چې هغه په خپلې سختۍ او خوښۍ، په شتمنۍ او فقر، په سختۍ او خوشحالیو ټولو حالتونو کې په خیر دی،

﴿أَلَآ إِنَّ أَوۡلِيَآءَ ٱللَّهِ لَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ٦٢﴾ [یونس: 62]

(خبر شئ! بېشکه د الله دوستان چې دي؛ پر هغوی باندې نه څه وېره شته او نه دوی غمجن کېږي) [یونس سورت: ایت 62].

اې الله! موږ له تا څخه ستا په نوم چې خالق دی، غوښتنه کوو، چې موږ د خپلو اولیاوو په ډله کې وشمیرې.

## 23

## پیداکوونکی -جل جلاله-

د هغه -صلی الله علیه وسلم- څخه روایت دی چې هغه فرمایلي: «قَالَ سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ -علیهما السلام- : لَأَطُوفَنَّ اللَّيْلَةَ عَلَى مِائَةِ امْرَأَةٍ، أَوْ تِسْعٍ وَتِسْعِينَ؛ كُلُّهُنَّ يَأْتِي بِفَارِسٍ يُجَاهِدُ فِي سَبِيلِ اللهِ، فَقَالَ لَهُ صَاحِبُهُ: إِنْ شَاءَ اللهُ، فَلَمْ يَقُلْ: إِنْ شَاءَ اللهُ، فَلَمْ يَحْمِلْ مِنْهُنَّ إِلَّا امْرَأَةٌ وَاحِدَةٌ؛ جَاءَتْ بِشِقِّ رَجُلٍ. سليمان بن داود -علیهما السلام- وویل: زه به نن شپه په سلو ښځو، یا نهه نوي ښځو باندې وګرځم، دوی ټول به داسې غازیان دنیا ته راولي چې د الله په لاره کې به جهاد وکړي، ملګري یې ورته وویل: ان شاء الله وواېه، هغه ان شاء الله ونه ویل، له دوی څخه یوازې یوه یې حامله شوه؛ هغې هم نیمایې هلک وزیږاوه. وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ! لَوْ قَالَ: إِنْ شَاءَ اللهُ؛

لَجَاهَدُوا فِي سَبِيلِ اللهِ فُرْسَانًا أَجْمَعُونَ» په هغه ذات مې دې قسم وي چې د محمد نفس (ساه) د هغه په لاس کې دی! که چېرته يې إِنْ شَاءَ اللهُ ويلی وی، نو دوی ټولو به د الله تعالی په لاره کې د شاهسوارانو په شکل جهاد کړی وی. [متفق عليه]. بنده د الله –عزوجل- له دروازې پرته خپلو اړتياوو ته لاس رسی نه لري؛ نو الله هغه:

﴿هُوَ ٱللَّهُ ٱلْخَٰلِقُ ٱلْبَارِئُ ٱلْمُصَوِّرُۖ لَهُ ٱلْأَسْمَآءُ ٱلْحُسْنَىٰۚ يُسَبِّحُ لَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِۖ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ﴿٢٤﴾﴾ [الحشر: 24]

( هم دغه الله پيدا کوونکی، (له نيشت نه وجود ته) راوېستونکی، صورت ورکوونکی دی، خاص د همده لپاره تر ټولو ښکلي نومونه دي، د ده پاکي بيانوي هر هغه شی چې په اسمانونو او ځمکه کې دي، او هم دی ښه غالب، ډېر حکمت والا دی) [الحشر سورت: ايت 24].

يا الله ټوله ستاينه تا لره ده! موږ ته دې د تخليق نعمت ډالۍ کړ چې داسې د يادولو (وړ) شی نه و:

﴿هَلْ أَتَىٰ عَلَى ٱلْإِنسَٰنِ حِينٌ مِّنَ ٱلدَّهْرِ لَمْ يَكُن شَيْـًٔا مَّذْكُورًا﴿١﴾﴾ [الإنسان: 1]

( يقينًا په انسان باندې داسې وخت هم راغلی دی چې دی څه داسې د يادولو (وړ) شی نه و) [الإنسان سورت: ايت 1]

. او الله –عزوجل- خپل لوړ ذات په الباریٔ -جل وعلا- نوم سره د خپل ځان ستاينه وکړه، په خپلې دې وينا سره چې فرمايي:

﴿هُوَ ٱللَّهُ ٱلْخَٰلِقُ ٱلْبَارِئُ ٱلْمُصَوِّرُۖ .... ﴾ [الحشر: 24]

(هم دغه الله پيدا کوونکی، (له نيشت نه وجود ته) راوېستونکی، صورت ورکوونکی دی) [الحشر سورت: ايت 24].

البرء په لغت کې: دوه معناوې لري؛ لومړی: پيدا کول.

دويم: له يو څه څخه ځان لرې کول او له هغه څخه ځان خلاصول.

او د بریٔ معنا: کله چې پاک او لرې شي.

زمونږ ساه اچونکی رب: پيدا کوونکی او نوښتګر دی چې له نشت څخه شته کوي، او هغه؛ هغه ذات دی چې ځينې مخلوق يې پر نورو غوره کړې دی، او يو نسل يې له

بل څخه توپیر کړی، او هر مخلوق یې په داسې طریقه پیدا کړی چې د هغه د جوړښت هدف سره مناسب دی؛ هغه یو شی له هیڅ شي څخه پیدا کوي، او هغه ته داسې ځانګړتیا ورکوي چې د نورو مخلوقاتو څخه توپیر لري.

او هغه –سبحانه و تعالی- دی چې مخلوق یې له توپیر او تنافر څخه لرې ساتلی دی؛

﴿ٱلَّذِى خَلَقَ سَبۡعَ سَمَٰوَٰتٖ طِبَاقٗاۖ مَّا تَرَىٰ فِي خَلۡقِ ٱلرَّحۡمَٰنِ مِن تَفَٰوُتٖۖ فَٱرۡجِعِ ٱلۡبَصَرَ هَلۡ تَرَىٰ مِن فُطُورٖ ٣﴾ [الملك: 3]

(هغه (الله) چې اووه اسمانونه يې طبقې طبقې (لاندې باندې) پیدا کړي دي، ته به د رحمٰن په پیداکونه کې هیڅ خلل (او فرق) ونه وینې، پس سترګې بېرته راواړه، ایا ته کوم څیرې والی (او چاود) وینې) [الملك سورت: ایت 3].

زمونږ پیداکوونکی رب په خپل ذات، صفاتو او اعمالو کې له هر ډول نیمګړتیاوو او عیبونو څخه پاک دی.

او د هغه په الباریٔ نوم کې د هغه ټول مخلوق لیدل کیږي.

او د هغه لطفونه تل لیدل کیږي او ښکته کیږي

نو پاکي ده هغه ذات لره چې ټول مخلوق ورته سجدې کړي

کله چې هغوی تسبیح، تکبیر او تهلیل وایي

الله -سبحانه وتعالی- فرمایي- :

﴿هُوَ ٱللَّهُ ٱلۡخَٰلِقُ ٱلۡبَارِئُ ٱلۡمُصَوِّرُۖ ...﴾ [الحشر: 24]

(هم دغه الله پیدا کوونکی، (له نیشت نه وجود ته) راوېستونکی، صورت ورکوونکی دی). [الحشر:24].

الخلق: یعني تقدیر.

البرء: له هیڅ څخه پیدا کول.

او التصویر: انځور ورکول دي.

نو کله چې الله - عزوجل – وغواړي چې یو شی پیدا کړي په خپلې پوهې او حکمت سره هغه اندازه کوي، نو هغه يې په خپل علم او حکمت سره جوړوي - یعنې: هغه پیدا کوي؛ په داسې شکل چې خپله يې اراده کړې وي او غوښتلي يې وي –سبحانه و تعالی-.

نا شاپې نه دی..

له یوه حکیم نه پوښتنه وشوه: الله دې څنګه پېژندلی؟ هغه وویل: د مخلوقاتو په پاڼو کې د وړتیا په قلمونو سره؛

﴿ٱلَّذِيٓ أَحۡسَنَ كُلَّ شَيۡءٍ خَلَقَهُۥۖ ....﴾ [السجدة: 7]

(هغه (الله) چې ښایسته کړی يې دی هر شی چې ده پیدا کړی دی) [السجدة سورت: ایت 7]،

﴿مَا خَلَقۡنَٰهُمَآ إِلَّا بِٱلۡحَقِّ ....﴾ [الدخان: 39]

(مونږ دوی دواړه نه دي پیدا کړي مګر په حقه سره) [الدخان سورت: ایت 39].

د ځمکې د نباتاتو په اړه فکر وکړه او وګوره ... د هغه څه نښې چې پاچا پیدا کړي ... د سپینو زرو څخه جوړې شوې چشمې ... چې د وهل شوو سرو زرو په څېر دي

سترګو په تور کې ګواکې د سرو زرو شفافه ټوټه ده ... دا پدې دلالت کوي چې الله لره هیڅ شریک نشته

﴿قُلِ ٱنظُرُواْ مَاذَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ ...﴾ [یونس: 101]

(ته (ورته) ووایه: تاسو وګورئ په اسمانونو او ځمکه کې څه (څه دلیلونه) دي) [یونس سورت: ایت 101]،

آیا د هغه له جوړښت او په زړه پورې تخلیق، او حیرانونکی وړتیا، او د هغه د حکمت له نخښو پرته بل څه شته؟! تر ټولو د الوهیت مستحق څوک دی؟ ایا هغه څوک چې پیدا کوونکی دی آیا تر ټولو لومړی د عبادت، ستاینې او یووالي مستحق ندی؟! او ډېری خلک پوهیږي چې دا ټول الله پیدا کړي دي؛ لیکن ډېری يې مشرکان دي؛

﴿وَمَا يُؤْمِنُ أَكْثَرُهُم بِٱللَّهِ إِلَّا وَهُم مُّشْرِكُونَ۝١٠٦﴾ [يوسف: 106]

(او د دوی زیاتره پر الله ایمان نه لري، مګر په داسې حال کې چې دوی شرك کوونکي وي) [یوسف سورت: ایت 106]

، نو خلک يې په دوه ډولو وويشل:

مؤمنان: او هغوی تر ټولو غوره مخلوق دي.

او مشرکان: او دوی تر ټولو بد مخلوق دي.

او بنده خپل عمل ته ګوري؛ که ښه وي، نو د الله شکر دې ادا کړي؛ ځکه چې هغه يې د نیکۍ وړ ګرځولی، او که هغه يې خپل ځان او نفس ته پرېښی و، او د الله په تقوا سره يې سپمولی نه وي؛ هغه به تر ټولو بد مخلوق وی.

له همدې امله موسی -علیه السلام- خپل قوم ته امر وکړ چې الله ته توبه وباسي، کله چې دوی په الله باندې د ایمان لرلو څخه انحراف وکړ، او د ځان لپاره يې د خوسکي په بڼه د خپلو ګاڼو څخه بت جوړ کړ:

﴿وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِۦ يَٰقَوْمِ إِنَّكُمْ ظَلَمْتُمْ أَنفُسَكُم بِٱتِّخَاذِكُمُ ٱلْعِجْلَ فَتُوبُوٓاْ إِلَىٰ بَارِئِكُمْ فَٱقْتُلُوٓاْ أَنفُسَكُمْ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ عِندَ بَارِئِكُمْ فَتَابَ عَلَيْكُمْ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ۝٥٤﴾ [البقرة: 54]

(او (یاد کړه) هغه وخت چې موسیٰ خپل قوم ته وويل: ای زما قومه! يقيناً تاسو د سخي په (معبود) نيولوسره په خپلو ځانونو باندې ظلم کړی دی، لهٰذا خپل خالق ته توبه وباسئ، نو خپل ځانونه قتل کړئ، دا (وژل) ستاسو لپاره ستاسو د خالق په نيز بهتر دي، بيا هغه ستاسو توبه قبوله کړه، يقيناً هم هغه ښه توبه قبلوونکی، بې حده رحم کوونکی دی) [البقرة سورت: ایت 54].

او مؤمن هرکله چې د الله تعالی له ښکلو نومونو څخه په يو نوم پوه شي او زده يې کړي؛ د هغه په عزت او سرلوړۍ کې لوړوالی راځي، او د الله –عزوجل- سره يې شوق او مینه زیاتیږي، او د دې نوم په پېژندلو سره الله ته نږدې کیږي.

او هغه پوهیږي چې الله عزوجل - په هر څه باندې قادر دی.

اې ناشنا پیداکوونکی ذاته! پر مونږ رحم وکړه، او خپل رحمتونه پر مونږ نازل کړه.

24

## صورت جوړونکی -جل جلاله-

ابن القيم -رحمه الله- فرمايلي: او که تاسو د هغه څه په اړه فکر وکړئ چې الله – سبحانه و تعالی- په خپل کتاب کې خپلو بندګانو ته د فکر کولو بلنه ورکړې؛ هغه – سبحانه و تعالی- به تاسو ته د هغه د پيژندلو، د توحيد، صفات، کمال، او د هغه د عظمت ستاينو لارښوونه وکړي.

د کائناتو، ځمکې، او د ټولو افقونو په کتاب کې څومره درسونه دي ... عقلمندو، څېړونکو او د نظر خاوندانو لپاره

د زمکې په ټولو څنډو کې ... په ځان کې، په اوازونو او تصوېرونو کې

موږ د الله –تبارک وتعالی- د صورت جوړوونکي نوم سره تم کيږو:

الله -سبحانه وتعالی- فرمايلي:

﴿هُوَ ٱللَّهُ ٱلۡخَٰلِقُ ٱلۡبَارِئُ ٱلۡمُصَوِّرُۖ ....﴾ [الحشر: 24]

(هم دغه الله پيدا کوونکی، (له نشت نه وجود ته) راوېستونکی، صورت ورکوونکی دی). [الحشر سورت: ايت 24]

. زموږ رب –سبحانه و تعالی-، هغه ذات چې خپل مخلوقات يې لکه څنګه چې غوښتل، جوړ کړل، او ټول موجودات يې جوړ کړل؛ هغه يې ترتيب او هر يو ته يې يو ځانګړی انځور ورکړ، او يو متفاوت شکل يې ورکړ چې د هغې په تنوع او کثرت کې توپير لري، او هغه – سبحانه و تعالی - هر يو انځور په ځانګړې توګې سره سم جوړ کړ، څرنګه چې هغه يې غواړي. او په هغه شکل چې هغه غوره کړی وي، او په هر کيفيت سره چې ويې غواړي پلی کوي:

﴿فِيٓ أَيِّ صُورَةٖ مَّا شَآءَ رَكَّبَكَ ٨﴾ [الانفطار: 8]

(په هر صورت (شکل) کې چې هغه غوښتل، ته يې پيوند (او جوړ) کړې) [الانفطار سورت: ايت 8].

زموږ رب – سبحانه و تعالی- هغه ذات دی چې خپل مخلوق یې چمتو کړی چې د هغوی شکلونه او بدنونه د هغه د تقدیر، پوهې او رحمت سره توافق لري، او د مخلوقاتو منافعو او ګټو سره مطابقت لري؛ دا په مختلفو انځورونو، او په مختلفو بڼو سره جوړ شوی؛ له اوږد او لنډ، ښکلا او بدرنګۍ، نارینه او ښځینه، هر یو په خپلې ځانګړې طریقې سره.

هغه – سبحانه و تعالی - فرمایلي:

﴿وَلَقَدۡ خَلَقۡنَٰكُمۡ ثُمَّ صَوَّرۡنَٰكُمۡ ...﴾ [الأعراف: 11]

(او یقینًا یقینًا مونږ تاسو پیدا کړئ، بیا مو ستاسو صورتونه جوړ کړل) [الأعراف سورت: ایت 11]،

او فرمایلي یې دي:

﴿خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ بِٱلۡحَقِّ وَصَوَّرَكُمۡ فَأَحۡسَنَ صُوَرَكُمۡۖ وَإِلَيۡهِ ٱلۡمَصِيرُ٣﴾ [التغابن: 3]

(پس ستاسو صورتونه یې ډېر ښکلي کړي دي او خاص ده ته بېرته ورتګ دی) [التغابن سورت: ایت 3].

اې له مونږ په غیب او حاضر باندې پوه ذاته

اې د مخلوقاتو، جوړښت او انځور ورکولو ربه

ما ګواهي ورکړه چې ته یو او واحد ذات یې

داسې ګواهي چې نه غیر عادلانه ده او نه دروغ

په پټه او ښکاره مې ستا لورې ته خپل مخ وګرځاوه

تا لره تولې ستاینې، تهلیلونه او تکبیرونه دي

او هغه –سبحانه و تعالی- فرمایلي:

﴿هُوَ ٱللَّهُ ٱلۡخَٰلِقُ ٱلۡبَارِئُ ٱلۡمُصَوِّرُۖ ...﴾ [الحشر: 24]

( هم دغه الله پیدا کوونکی، (له نیست نه وجود ته) راوېستونکی، صورت ورکوونکی دی) [الحشر سورت: ایت 24]،

نو دا درې نومونه: الخالق (د هر شي پيداکونکی)، البارئ (د نشت نه وجود ته راوستونکی)، المصور ( صورت جوړوونکی) که سره يوځای شي، د هر يو لپاره يوه معنی په ګوته کوي؛ دلته تخليق: تقدير دی، او البرء دلته: اختراع ده، او التصوير دلته: هرڅه ته خپل انځور ورکول دي، او کله چې يو له بل څخه جلا شي، معنا يې يو ده. زموږ رب – سبحانه و تعالی-، اراده وکړه او اندازه يې کړل او فرمان يې ورکړ او بيا يې جوړ کړ، يعنې: هغه يې پيدا کړی، بيا يې هر مخلوق په مناسب شکل سره ځانګړی کړی:

﴿... سُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يَصِفُونَ ٩١﴾ [المؤمنون: 91]

(پاك دی الله له هغو خبرو نه چې دوی يې بيانوي) [المؤمنون سورت: ايت 91]

. رسول الله -صلى الله عليه وسلم- به په سجده کې ويل: «اللَّهُمَّ لَكَ سَجَدْتُ، وَبِكَ آمَنْتُ، وَلَكَ أَسْلَمْتُ، سَجَدَ وَجْهِي لِلَّذِي خَلَقَهُ، وَصَوَّرَهُ، وَشَقَّ سَمْعَهُ وَبَصَرَهُ، تَبَارَكَ اللهُ أَحْسَنُ الخَالِقِينَ» «اې الله، تا ته مې سجده وکړه، او په تا مې ايمان راوړ، او ما تاته غاړه کېښوده، زما مخ هغه ذات ته سجده کړې ده چې هغه يې پيدا کړی، غوږ او سترګه يې ورته جوړ کړي، الله ډير د برکت خاوند او تر ټولو غوره خالق دی». [مسلم روايت کړی].

بشپړ دلالتونه:

د انسان پيدايښت: د فکر کونکو لپاره نخښه، د عبرت اخيستونکو لپاره عبرت، او د نصيحت اخيستونکو لپاره موعظه دهد انسان او د هغه د خلقت په ذات کې: د هغه د خالق او پيدا کونکي په اړه ترټولو لوی دليلونه دي.

او انسان ته تر ټولو نږدې شی: د هغه ځان دی، او هغه کې د حيرانتيا شيان دی چې د الله –جل و علا- د عظمت څرګندونه کوي - چې عمرونه به تير شي خو مونږ به د هغو په ځينو باندې واقف شو، مګر انسان له هغه څخه مخ اړوي، او که انسان لږ فکر وکړي له خپل کفر او انکار څخه به واوړي،

﴿قُتِلَ ٱلۡإِنسَٰنُ مَآ أَكۡفَرَهُۥ ١٧ مِنۡ أَيِّ شَيۡءٍ خَلَقَهُۥ ١٨ مِن نُّطۡفَةٍ خَلَقَهُۥ فَقَدَّرَهُۥ ١٩ ثُمَّ ٱلسَّبِيلَ يَسَّرَهُۥ ٢٠ ثُمَّ أَمَاتَهُۥ فَأَقۡبَرَهُۥ ٢١ ثُمَّ إِذَا شَآءَ أَنشَرَهُۥ ٢٢﴾ [عبس: 17-22]

(انسان دې هلاك كړى شي، دى څومره ډېر ناشكره دى!) (دى دغه (الله) له څه شي نه پيدا كړى دى؟ له نطفې نه يې پيدا كړى دى، پس دى يې اندازه كړى دى. بيا يې ده ته لاره ور اسانه كړې ده. بيا يې دى مړ كړ، نو دى يې په قبر كې كېښود. بيا چې كله وغواړي دى به ژوندى كړي) [عبس سورت: ايتونه 17-22]

. له اوو ملياردو څخه زيات انسانان د ځمكې پر سر ژوند كوي، هر يو يې د نورو انځورونو، ځانګړتياوو، رنګونو او بدنونو كې توپير لري.. او پلار يې يو دى او مور يې يوه ده: آدم او حوا، مګر دا د الله –تبارك و تعالى- جوړښت دى؛

﴿... صُنۡعَ ٱللَّهِ ٱلَّذِيٓ أَتۡقَنَ كُلَّ شَيۡءٍۚ إِنَّهُۥ خَبِيرُۢ بِمَا تَفۡعَلُونَ ٨٨﴾ [النمل: 88]

[(وګورئ) كاريګري د الله؛ هغه چې هر شى يې محكم كړى دى، بېشكه هغه ښه خبردار دى په هغو كارونو چې تاسو يې كوئ] [النمل سورت: ايت 88]،

آيا دا ټول د شكر او منښې قابل ندي؟! بنده د الله –سبحانه و تعالى- نعمتونه كله چې د مور په رحم كې نطفه و ويني، بيا يې غوږ او ليد جوړ كړ او په هغه كې يې روح واچاوه، بيا يې هغه ته خواړه او اوبه وركړې، او جامې يې ورواغوستلې، هغه ته يې پناه وركړه او هغه يې وساته، او له هرڅه څخه چې يې وغوښتل هغه ته يې وركړل؛

﴿أَلَمۡ نَجۡعَل لَّهُۥ عَيۡنَيۡنِ ٨ وَلِسَانٗا وَشَفَتَيۡنِ ٩ وَهَدَيۡنَٰهُ ٱلنَّجۡدَيۡنِ ١٠﴾ [البلد: 8-10]

ايا مونږ ده ته دوه سترګې نه دي وركړي. او يوه ژبه او دوه شونډې. اومونږ ده ته دوه لارې ښودلي دي) [البلد سورت: ايتونه 8-10].

يو له سترو شكرونو څخه دا دى چې: د الله –عزوجل- نعمتونو څخه د هغه په فرمانبردارۍ كې كار واخيستل شي، او د هغه له نافرمانۍ او هغه څه څخه چې هغه ناراضه كوي ځان وساتل شي.

بالاخره..

عاقل انسان د خلكو په شكلونو او انځورونو پسې نه خاندي، ځكه چې هغه پوهېږي چې دا ټول الله تعالى پيداكړي،

﴿هُوَ ٱلَّذِي يُصَوِّرُكُمۡ فِي ٱلۡأَرۡحَامِ كَيۡفَ يَشَآءُۚ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٦﴾ [آل عمران: 6]

(دی همغه ذات دی چې په رَحِمونو کې ستاسو شکلونه (صورتونه) جوړوي څنګه چې وغواړي، نشته هېڅ لايق د عبادت مګر هم دی دی، چې ډېر غالبه، ښه حکمت والا دی). [آل عمران سورت: ایت 6].

نو الله : الخالق (د هر شي پیداکونکی)، الباريء (نا اشنا ډول پیداکوونکی)، المصور (صورت جوړونکی) دی؛ بد شکل لرونکی انسان هیڅ ګناه نلري ترڅو هغه ته پيغور ورکړل شي او ملامت شي، او د ښکلي شکل لرونکي انسان هیڅ غوره والی او ځواک نه لري ترڅو د هغه څخه مننه وشي او پورته وشمیرل شي.

یو سړي حکیم ته وویل: اې بد څېره لرونکیه! هغه ورته وویل: زما د مخ جوړول زما په اختیار کې نه و ترڅو چې ما ښکلی کړی و، نو که څوک د هنر کار ته سپکاوی وکړي، نو هغه د هغه جوړونکي ته سپکاوی کوي. حدیث کې راغلي: رسول الله -صلی الله علیه وسلم- فرمایلي: «كُلُّ خَلْقِ اللهِ -عز وجل- حَسَنٌ» "د الله –جل جلاله- ټول مخلوقات ښایسته دي". [«د الباني السلسلة الصحيحة» ].

که تا په مصیبت اخته کس ولیده؛ نو د هغه د رغیدو لپاره د الله ستاینه وکړه، او لکه څنګه چې ویل شوي: "په خپل ورور باندې مسخره مه کوه، ځکه چې الله به هغه روغ کړي او تا به رنځور کړي"

عبدالله بن مسعود -رضي الله عنه- به ویل: "مصیبت ویلو ته سپارل کیږي، که چیرته زه سپي باندې وخندم، زه ډاریږم چې زما څخه به سپی جوړ شي". او د ابراهیم النخعي –رحمه الله- څخه نقل شوي، هغه وویل: " زه چې کله عیبجن شی وګورم، هیڅ شی ما نه منع کوي چې د هغه په اړه خبرې وکړم پرته لدې چې زه هم د هغه په څیر اخته نشم".

اې الله! اې الخالق (د هر شي پیداکونکی)، الباريء (نااشنا پیداکوونکی)، المصور (صورت جوړونکی) ذاته ! موږ له تا څخه سوال کوو چې: موږ د خپل غوره مخلوق څخه وګرځوه، او موږ باندې تا ته د وړاندې کیدلو په ورځ رحم وکړه.

25

# د ګناه عفوه کوونکی -جل جلاله-

کله چې ګناهکارانو واورېدل:

﴿فَأُوْلَٰٓئِكَ عَسَى ٱللَّهُ أَن يَعۡفُوَ عَنۡهُمۡۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَفُوًّا غَفُورٗا٩٩﴾ [النساء: 99]

(نو دغه خلق (چې دي) امېد دی چې الله به هغوی ته بخښنه وکړي او الله له ازله ښه عفوه کوونکی، ښه بخښونکی دی) [النساء سورت: ایت 99]

؛ د عاجزۍ لاسونه يې پورته کړل، خپل شکايتونه يې هغه ته وړاندې کړل، د هغه دروازې ته يې خپل بارونه واچول، د هغه څنګ ته يې پناه ویوړه، ډېره بخښنه يې وغوښتله، او بیا هغوی اواز وکړ: اې عفوه کوونکی او بخښونکی ذاته ! مونږ له تاسو پرته بل څوک نه لرو.

نو سخي او بخښونکي ذات د هغوی حالت ته وکتل، او د دوی رازونو باندې خبر شو؛ د هغوی څخه يې خطاګاني لرې کړې، او د هغوي ګناهونه يې له منځه یوړل، او د هغوی درجې يې لوړې کړې.

نو بخښونکي ذات لره پاکي ده! او پاکي دی هغه ذات لره چې دوی يې د ښښنې لپاره غوره کړل، او هغوی يې د خپلې بخښنې لپاره غوره کړل!

که تاسو ته مصیبتونه راشي، او ناخوالې دررسیږي، او یا مو د ګناهونو بار دروند شي؛ د هغه په نوم اواز وکړه، او بخښنه ترې وغواړه.

اې ربه، که زما ګناهونه لوی او ډیر وي ... زه پوهیدلی یم چې ستا بخښنه ډیره لویه ده ... او که ستا څخه یوازې نیک انسان امید ولري ... نو مجرم به چا ته پناه یوسي او له چا څخه به مرسته وغواړي

اې ربه زه ستا څخه په عاجزۍ سره غواړم لکه څرنګه چې تاسو امر کړی ... نو که ته زما لاس خوشې کړې، پر ما به څوک رحم وکړي

الله –سبحانه و تعالی- وفرمایل:

﴿...إِنَّ ٱللَّهَ لَعَفُوٌّ غَفُورٌ۝٦٠﴾ [الحج: 60]

(بېشکه الله خامخا ډېر معافي کوونکی، ډېر بخښونکی دی) [الحج سورت: ایت 60].

زموږ رب –سبحانه و تعالی- د خپلو بندګانو ګناهونه په پراخه کچه بخښي؛ تر لامحدوده کچې پورې، هغه – جل و علا - له ګناهونو څخه تیرېږي، او د ګناهونو اثار په بشپړه توګه لیرې کوي؛ او د بندګانو څخه به د قیامت په ورځ د هغې غوښتنه نه کوي، او د کرام الکاتبین له دیوان څخه به يې پاک کړي، حتا د هغوی له زړونو څخه به يې هیر کړي، چې په یادولو سره يې شرمنده نه شي او د هرې بدۍ پر ځای به نیکي ثبت کړي.

او زمونږ رب – سبحانه و تعالی - هغه ذات دی چې و - او اوس هم دی - د بخښنې لپاره پیژندل شوی دی، د خپلو بندګانو لپاره د غفران او ښښنې په صفت موصوف دی، هرڅوک د هغه بخښنې، رحمت او سخاوت ته اړمن دي، او د بخښنې او عفوې ژمنه يې کړې ده څوک يې چې اسباب له ځانه سره ولري.

او هغه –سبحانه و تعالی- هغه ذات دی چې بخښنه قبلوي، او هغه: اسانتیا راوستونکی دی، چې خپلو بندګانو لپاره يې د هغوی واجبات اسانه کړي دي، د هغه نیمګړتیاوو او کمزوریو له امله چې د بنده لخوا واقع کیږي، نو څوک چې د لمونځ اراده وکړي الله هغه باندې يې اودس فرض کړی دی، او کله چې يې اودس مات شي، نو د هغه چا لپاره بخښنه کوي چې تیمم وکړي هرکله چې اوبه و نه مومي، د خپلو بندګانو د ضعف په پام کې نیولو سره.

ویل شوي دي: عفو د مغفرت په پرتله ډیره اغیزمنه ده؛ ځکه چې عفوې سره د ستر او پردې احساس کوي، او مغفرت له پاکولو احساس ورکوي، نو پاکول د ستر او پردې په پرتله ډیره مؤثر دي.

او د هغه بخښنه دوه ډوله ده:

عمومي بخښنه: دا د کفارو او نورو ټولو مجرمینو لپاره ده؛ د هغو سزاګانو په ردولو سره چې له لاملونو سره تاکل شوي دي، او د نعمتونو د قطع کیدولو سبب ګرځي،

ځکه چې هغوی په ښکنځلو او شرک سره الله په تکلیفوي، حال دا چې الله هغوی ته شفا او روزي ورکوي، او د دوی لپاره دنیا پراخه کوي، هغوی ته فرصت ورکوي او خپله بخښنه او زغم سره له دوی څخه نه غافله کیږي، نو د الله خیر او نیکي په بندګانو باندې راښکته کیږي او د دوی بدۍ ورته پورته کیږي، الله د بندګانو له عبادت څخه بې نیازه دی، هغه په مینې سره دوی ته نعمتونه ورکوي، او دوی په قهر او غضب سره د هغه نافرماني کوي، حال دا چې هغوی ټول الله ته محتاج دي.

خاصه بخښنه: دا هغه بخښنه ده چې د توبه کونکو، بخښنې غوښتونکو، دعا کوونکو، عبادت کوونکو، او مصیبت ځپلو، ثواب غوښتونکو مومنانو لپاره ده.

هغه بخښوونکی دی ..

او د هغه –تبارک و تعالی- د بخښنې له عظمت څخه: دا ده چې هرچا ته چې په دې دنیا کې بخښنه وکړي، الله ډېر مهربان ذات دی لدې چې د قیامت په ورځ د خپلې بخښنې څخه په شا شي، هغه کریم او سخي دی او له خپل بخښنې څخه نه په شا کیږي، او دا د الله –جل وعلا- طریقه ده چې له خپلو اولیاو او دوستانو سره یې کوي.

او د هغه –تبارک و تعالی- د عظمت څخه: دا ده چې په دې دنیا کې هغه توبه کوونکي ګناهکاران بخښي؛ هغه - عزوجل - په آخرت کې ټینګار کوونکو موحدینو ته بخښنه کوي.

او د هغه –عزوجل- د عظمت څخه: دا چې هغه د خپل بنده ګناه بخښي که د هغه جرم هر څه وي؛ حتی که د هغه –سبحانه و تعالی- حق هم وي، او د هغه بد عملونه په نیکیو بدلوي، نو څوک کولی شي د ګناه بدله په داسې شي سره بدله کړي بغیر له رب –سبحانه و تعالی- څخه؟ او که د هغه د بخښنې عظمت نه وای، نو ځمکه به د خپلو اوسیدونکو سره ډوبه شوې وه؛ د هغې ګناهونو په سبب چې په ځمکه کې تر سره کیږي.

د هغه –عزوجل- د بخښنې له عظمت څخه: دا دي چې خپلو بندګانو ته د هغو اسبابو لارښوونه کوي چې له مخې یې د هغه سپیڅلې بخښنه ترلاسه کیږي؛ له

کارونو، اخلاقو، قولونو او عملونو څخه، ځکه چې که بنده زيات نيک عملونه ترسره کړي، نو په خپلو ډېرو ګناهونو او خطاګانو باندې برلاسی کيږي.

هغه ته ورو ګرځه!

بخښونکی ذات -تبارك وتعالى-؛ تا ته د اوو اسمانونو له پاسه غږ کوي او وايي:

﴿وَقَالَ رَبُّكُمُ ٱدۡعُونِيٓ أَسۡتَجِبۡ لَكُمۡۚ ...﴾ [غافر: 60]

(او ستاسو رب فرمايي: تاسو ما وبلئ چې زه ستاسو دعا قبوله کړم). [غافر سورت: ايت 60]،

څه شی تاسو د هغه له سخاوت څخه سستوي؟! او څه شی تا اړ باسي چې د ډېرو رجوع کوونکو او توبه کوونکو په ليکو کې د شامليدو لپاره ځنډ وکړې؟

نو ته د الله چې د پادشاهانو پادشاه، کريم او بخښونکی ذات دی د هغه په دربار کې په عاجزۍ سره ودريږه؛ هغه څوک چې د هغه په لاس کې د خلاصون او خوشحالۍ کلياني، عفو او بخښنه ده.

﴿أَلَمۡ يَعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ هُوَ يَقۡبَلُ ٱلتَّوۡبَةَ عَنۡ عِبَادِهِۦ وَيَأۡخُذُ ٱلصَّدَقَٰتِ وَأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ١٠٤﴾ [التوبة: 104]

(ايا دوی نه پوهيدل چې يقيناً الله دی چې هغه د خپلو بنده ګانو توبه قبلوي) [التوبة سورت: ايت 104]

، بلال ابن سعد وويل: «تاسو داسې رب لرئ، چې ستاسو په عذاب ورکولو سره ګړندی ندی، تيروتنه معافوي، توبه قبلوي او راستنيدونکي ته مخې ته ورځي، او شا اړوونکي سره خواخوږي کوي». او دا د رسول الله -صلى الله عليه وسلم- له دعا څخه وه: «اللَّهُمَّ! إِنَّكَ عَفُوٌّ تُحِبُّ العَفْوَ؛ فَاعْفُ عَنِّي» «اې الله! ته بخښونکی يې او بخښنه خوښوې؛ ما وبخښه». [صحيح حديث دی. ابن ماجه روايت کړی]. ابن القيم -رحمه الله- فرمايي: "که هغه تاسو ته بخښنه وکړي، ستاسو اړتياوې به تاسو ته پرته له غوښتنې راشي". سفيان ثوري -رحمه الله- ويلي: «زه نه غواړم خپله محاسبه خپل پلار او مور ته وسپارم؛ ځکه زه پوهيږم چې الله -سبحانه و تعالى- پر ما له دوی څخه ډېر مهربان دی».

او کله چې زما زړه سخت شو او  لارې راتنګې شوې... ستا د بخښنې طرف ته مې خپل امید پوړۍ وګرځولې ... خپل ګناهونه راته لوی ښکاره شو نو کله چې مې پرتله کړل ... ستا د بخښنې سره، نو ستا بخښنه نوره هم ډېره لویه وه

او ته همېشه له ګناه څخه د بخښنې خاوند يې ... ته د احسان او منت له وجې سخا او بخښنه کوې

د بخښنې کیلي:

علماوو ویلي دي: الله ته تر ټولو محبوب مخلوق هغه دی: څوک چې د هغه –تبارک و تعالی- د نومونو او صفاتو د غوښتنو سره متصف وي، نو هغه –سبحانه و تعالی- رحم کوونکی دی رحم کوونکي خوښوي، بخښونکی دی بخښونکي خوښوي، نو الله –سبحانه و تعالی- د خپل بنده لپاره هغه څه دی لکه څنګه چې بنده د هغه د مخلوق لپاره دی، ځکه چې الله –عزوجل- فرمايي:

﴿فَبِمَا رَحۡمَةٖ مِّنَ ٱللَّهِ لِنتَ لَهُمۡۖ وَلَوۡ كُنتَ فَظًّا غَلِيظَ ٱلۡقَلۡبِ لَٱنفَضُّواْ مِنۡ حَوۡلِكَۖ ...﴾ [آل عمران: 159]

(نو (یوازې) د الله د رحمت په سبب ته د دوی لپاره نرم يې او كه چېرې ته بدخویَه، سخت زړی وَی (،نو) خامخا دوی به ستا له چاپېره نه خواره شوي وو) [آل عمران سورت: ایت 159]

. او د بخښنې رسۍ تقوا ته تر ټولو نږدې درجه او مقام دی؛ بلکه د هغه د سخاوت او مهربانۍ څخه دي: دا چې هغه د بندګانو د بخښنې په مقابل کې لویه بخښنه کوي، الله –عزوجل- فرمایلي:

﴿إِن تُبۡدُواْ خَيۡرًا أَوۡ تُخۡفُوهُ أَوۡ تَعۡفُواْ عَن سُوٓءٖ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَفُوّٗا قَدِيرًا ١٤٩﴾ [النساء: 149]

(كه تاسو څه نېكي ښكاره كوئ، یا هغه پټوئ، یا د بدۍ په هكله معافي كوئ، بېشكه الله له ازله ښه معافي كوونكى، ښه قادر دى) [النساء سورت: ایت 149]

. د ابوبکر صدیق -رضي الله عنه- په واقعه کې، کله چې هغه قسم وکړ چې مسطح (د هغه د خپلوانو څخه و) ته به نفقه نه ورکوي، وروسته لدې چې د رسول الله –

صلی الله علیه وسلم- پر میرمنې عایشه –رضي الله عنها- يې تور پورې کړ، د افک په مشهوره واقعه کې، الله –تبارک و تعالی- وفرمایل:

﴿وَلَا يَأۡتَلِ أُوْلُواْ ٱلۡفَضۡلِ مِنكُمۡ وَٱلسَّعَةِ أَن يُؤۡتُوٓاْ أُوْلِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَٱلۡمَسَٰكِينَ وَٱلۡمُهَٰجِرِينَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۖ وَلۡيَعۡفُواْ وَلۡيَصۡفَحُوٓاْۗ أَلَا تُحِبُّونَ أَن يَغۡفِرَ ٱللَّهُ لَكُمۡۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٌ ٢٢﴾ [النور: 22]

(او په تاسو کې دې د فضیلت او پراخۍ خاوندان له دې قسم نه خوري چې نه به ورکوي (نفقه) خپلوانو او مسکینانو او د الله په لار کې هجرت کوونکو ته او دوی دې معافي وکړي او تېر دې شي، ایا تاسو دا نه خوښوئ چې الله تاسو ته بخښنه وکړي او الله ښه بخښونکی، ډېر رحم کوونکی دی) [النور سورت: ایت 22].

څوک چې بخښنه وکړي او د هغه څه تمه وکړي چې له الله سره دي؛ الله –سبحانه و تعالی- به ورته په دنیا او آخرت کې د هغه څخه ډېر څه ورکړي چې هغه يې تمه درلوده.

او په صحیح حدیث کې راغلي دي چې هغه - علیه الصلاة والسلام- وفرمایل: «مَا زَادَ اللَّهُ عَبْدًا بِعَفْوٍ إِلَّا عِزًّا» "الله بنده ته په بخښنې سره نه ورکوي مګر عزت". [مسلم روایت کړی]. نووي -رحمه الله- فرمايلي: "هغه څوک چې د عفوې او بخښنې سره وپېژندل شو، په زړونو کې به لوی شي، او د هغه عزت او وقار به هم ډېر شي".

اموي خلیفه عبدالملک بن مروان په زړه پورې خطبه ورکړه، بیا يې خطبه ودروله، سخت يې وژړل، بیا يې وویل: «اې ربه، زما ګناهونه لوی دي، او ستا لږه بخښنه تر هغو لویه ده، ستا په لږې بخښنې سره زما لوی ګناهونه و بخښه».

دا خبره حسن البصري ته ورسېده؛ هغه وژړل او ويې ویل: که کومه خبره په سرو زرو لیکل شوي وای، دا خبره باید لیکل شوي وای!».

او يو بانډه چې دعا وکړه: «اې الله! تا موږ ته امر کړی دی چې هغه څوک معاف کړو چې پر موږ يې ظلم کړی دی، مونږ پر خپلو ځانونو ظلم کړی دی، نو مونږ ته عفوه وکړه».

او موږ تا ته دغه دعا کوو: (رَبَّنَا ظَلَمْنَا أَنفُسَنَا وَإِن لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ) (اې زمونږه ربه! مونږ پر خپلو ځانونو ظلم کړی دی او که چېرې ته مونږ ونه بخښې او پر مونږ رحم ونه کړې (، نو) مونږ به خامخا لازمًا له تاوانیانو څخه شو) [الأعراف سورت: ایت 23].

اې الله! ته بښونکی یې، بخښنه خوښوې؛ موږ ته بخښنه وکړه؛ اې د ډېر رحم څښتنه!

27 - 26

## الغَفُوْرُ الغَفَّارُ -جل جلاله- د ډېرو او لویو ګناهونو بخښونکی ذات -جل جلاله-

طبراني د ابو طویل له قوله په صحیح سند سره نقل کړی دی چې: هغه رسول الله -صلی الله علیه وسلم- ته راغی؛ ویې فرمایل: د داسې سړي په اړه څه فکر کوې چې ټول ګناهونه یې کړي وي او هیڅ یې نه وي پرېښي، په دې کې یې هیڅ کوچنی او ستر څیز یې نه وي پرېښی مګر دا چې هغه یې کړی وي، نو آیا د ده لپاره توبه شته؟

ویې ویل: اسلام دې قبول کړی؟ ویې ویل: اما زه: فأشهد أن لا إله إلا الله، وحده لا شريك له، وأنك رسول الله، یعنې زه شاهدي ورکوم چې له الله پرته بل معبود نشته، هغه یوازې دی بل شریک نه لري او ته د الله رسول یې، هغه وویل: هو؛ ته نیک کارونه وکړه او بد کارونه پرېږده، نو الله به دا ټول ستا لپاره نیک وګرځوي» هغه وویل: زما خیانتونه او بد عملونه؟! ویې ویل: هو، ویې ویل: الله اکبر (الله ډېر لوی دی)! هغه تکبیرونه ویل تردې چې پناه شو.

او له الله څخه د بخښنې غوښتنه کوم

او پوهیږم چې الله عفوه او بخښه کوي

که خلک ګناهونه لوی ګڼي، نو دغه ګناهونه

که څه هم لوی وي، د الله د رحمت په مقابل کې کوچني دي

زموږ بحث د داسې نوم په اړه دی چې يو ګناهکار او مؤمن يې نه اوري مګر دا چې زړه يې ورسره تړل کيږي، او په دې سره ډېر خوشحاله کيږي، او د اميد دروازې هغه ته پرانستل کيږي، هغه د الله: الغفور او الغفار – تبارک و تعالی- نوم دی.

هغه –سبحانه و تعالی- فرمايلي:

﴿۞ نَبِّئۡ عِبَادِيٓ أَنِّيٓ أَنَا ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ٤٩﴾ [الحجر: 49]

(ته زما بنده ګانو ته خبر ورکړه چې بېشکه زه، همدا زه ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی يم) [الحجر سورت: ايت 49]،

او فرمايلي يې دي:

﴿فَقُلۡتُ ٱسۡتَغۡفِرُواْ رَبَّكُمۡ إِنَّهُۥ كَانَ غَفَّارٗا ١٠﴾ [نوح: 10]

(نو ما (دوی ته) وويل: تاسو له خپل رب نه بخښنه وغواړئ بېشکه دی ډېر بخښونکی دی) [نوح سورت: ايت 10]

، او فرمايلي يې دي:

﴿.... إِنَّ رَبَّكَ وَٰسِعُ ٱلۡمَغۡفِرَةِۚ ...﴾ [النجم: 32]

(بېشکه ستا رب د بخښنې وسيع کوونکی دی) [النجم سورت: آيت 32].

الغفر په لغت کې: پټولو او پوښلو ته وايي.

او زموږ رب –سبحانه و تعالی - د خپلو بندګانو د ګناهونو پوښونکی دی، چې په خپل ستر او پردې سره يې پټوي؛ له هغه پرته د دوی ګناهونه بل څوک نه شي موندلی، او دا چې د هغوی له خطاګانو او ګناهونو څخه تير شي.

هغه –عزوجل- د خپلو بنده ګانو ګناهونه وخت په وخت سره بې شمېره بخښي، څومره چې بنده له ګناه څخه توبه وباسي، د الله –عزوجل- له لوري بخښنه تکراريږي.

طبراني او نورو ذکر کړي دي: يو سړی رسول الله -صلی الله عليه وسلم- ته راغی او ويې ويل: اې د الله رسوله! زموږ څخه يو چا ګناه وکړه؟ وېې وويل: هغه باندې به ليکل کېږي، بيا يې وويل: له هغه څخه دې بخښنه وغواړي او توبه دې وباسي؟ هغه وويل: «يُغْفَرُ لَهُ وَيُتَابُ عَلَيْهِ، وَلَا يَمَلُّ اللهُ حَتَّى تَمَلُّوا» "هغه به بخښل کيږي او توبه يې قبليږي، او الله تر هغه پورې نه ستړې کيږي ترڅو چې تاسو ستړي نه شئ". [حسن حديث دی. دا په "المعجم الکبير و الاوسط" کې راغلی دی].

او هغه بخښونکی دی، که د (ځمکې) په اندازه ګناه وکړي ... پرته له شرک څخه نور ګناهونه وکړي

نو هغه به درته د هغې (ځمکې) په اندازه بخښنه وکړي ... پاکي ده هغه ذات لره چې ډېر بخښونکی دی

الله –عزوجل- د ټولو توبه کوونکو، ګناهکارانو او خطاکارانو لپاره خپله دروازه خلاصه کړې ده؛ نو هغه – سبحانه و تعالی - فرمايلي:

﴿۞ قُلۡ يَٰعِبَادِيَ ٱلَّذِينَ أَسۡرَفُواْ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡ لَا تَقۡنَطُواْ مِن رَّحۡمَةِ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَغۡفِرُ ٱلذُّنُوبَ جَمِيعًاۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ٥٣﴾ [الزمر: 53]

(ته (دوی) ته ووايه: ای زما هغو بنده ګانو چې په خپلو ځانونو يې زياتی کړی دی! تاسو د الله له رحمت نه مه نا اميده کېږئ، بېشکه الله ټول ګناهونه بخښي، بېشکه دغه (الله)، هم دی ښه بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی) [الزمر سورت: ايت 53]

، بلکې له اوو اسمانونو پورته يې غږ وکړ چا چې ويلي وو: الله له دريو څخه دريم دی؛ هغوی ته يې د توبې غږ وکړ؛ ترڅو هغوی ته بخښنه وکړئ؛ هغه وفرمايل:

﴿أَفَلَا يَتُوبُونَ إِلَى ٱللَّهِ وَيَسۡتَغۡفِرُونَهُۥۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ٧٤﴾ [المائدة: 74]

(ايا دوی ولې الله ته توبه نه وباسي او له هغه نه بخښنه نه غواړي؟! حال دا چې الله ډېر بخښونکی، بې حده مهربان دی) [المائدة سورت: ايت 74]

. ټول ګناهونه بخښل کيږي؛ پرته له هغه چا چې الله ته ورشي په داسې حال کې چې مشرک وي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغۡفِرُ أَن يُشۡرَكَ بِهِۦ وَيَغۡفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُۚ وَمَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱفۡتَرَىٰٓ إِثۡمًا عَظِيمًا ﴿٤٨﴾﴾ [النساء: 48]

(بېشکه الله نه بخښي دا چې له هغه سره دې (ثوک) شريک کړی شي او هغه بخښي هغه (ګناه) چې له دې (شرک) نه کمه وي د چا لپاره چې وغواړي او ثوک چې له الله سره شريک ونيسي، نو يقينًا هغه ډېره لويه ګناه راجوړه کړله) [النساء سورت: ايت 48].

او په دې اړه آيتونه ډېر دي.

اما په حديثو کې؛ قدسي حديث کې راغلي: «قَالَ اللهُ -تبارك وتعالى- : يَا ابْنَ آدَمَ! إِنَّكَ مَا دَعَوْتَنِي وَرَجَوْتَنِي؛ غَفَرْتُ لَكَ عَلَى مَا كَانَ فِيكَ وَلَا أُبَالِي، يَا ابْنَ آدَمَ! لَوْ بَلَغَتْ ذُنُوبُكَ عَنَانَ السَّمَاءِ ثُمَّ اسْتَغْفَرْتَنِي؛ غَفَرْتُ لَكَ وَلَا أُبَالِي، يَا ابْنَ آدَمَ! إِنَّكَ لَوْ أَتَيْتَنِي بِقُرَابِ الأَرْضِ خَطَايَا ثُمَّ لَقِيتَنِي لَا تُشْرِكُ بِي شَيْئًا؛ لَأَتَيْتُكَ بِقُرَابِهَا مَغْفِرَةً» «الله – تبارک وتعالی- فرمايلي: اې د آدم اولاده! که ته ما وبلې او له ما څخه هيله وکړې؛ زه به تاته د هغه څه په خاطر بخښنه کوم چې په تا کې وو او زه يې پروا نه لرم، اې د آدم اولاده! که ستا ګناهونه د اسمان وريځو ته ورسيږي او بيا له ما څخه بخښنه وغواړې؛ زه به تا وبخښم او پروا يې نه لرم، اې د آدم اولاده! که ته د ځمکې په اندازه ګناهونو سره ما ته راشې او زما سره ملاقات وکړې او زما سره دې هيح څيز شريک کړی نه وي، زه به تا ته د هغې په اندازه بخښنه وکړم». [صحيح حديث دی. ترمذي روايت کړی].

دا د هغه چا لپاره دی چې يوازې د بخښنې غوښتلو لپاره راځي، د بيرته نه ستنيدو هوډ لري، په توبه کې مخلص وي، او که الله د هغه په اخلاص پوه شي، نو هغه به د هغه بد عملونه په ښه عمل بدل کړي، دا د هغه سخاوت او مهرباني له خپلو بندګانو سره ده.

مه مايوسه کيږئ!

او نيک عملونه د ګناهونه کفاره دي، الله –سبحانه و تعالی- فرمايي:

﴿... إِنَّ ٱلۡحَسَنَٰتِ يُذۡهِبۡنَ ٱلسَّيِّـَٔاتِۚ ...﴾ [هود: 114]

(بېشکه نیکیاني بدیاني لرې کوي) [هود سورت: ایت 114]،

او په صحیح حدیث کې راغلي دي چې هغه -علیه الصلاة والسلام- فرمایلي دي: «وَأَتْبِعِ السَّيِّئَةَ الحَسَنَةَ تَمْحُهَا» "د هرې بدۍ وروسته نیکۍ وکړئ، دا به هغه له منځه یوسي". [حسن حدیث دی. ترمذي روایت کړی].

هغه مصیبتونه چې بنده ته رسیږي - که په خپل ځان، د هغه په اولاد یا د هغه په مال کې وي - د هغه بد عملونه کفاره کوي؛ که هغه د الله څخه د ثواب تمه ولري، صبر وکړي، او د الله –تبارک و تعالی- په حکم راضي وي.

او الله –عزوجل- د خپل بنده په توبې د هغه سړي په پرتله ډېر خوشحالیږي چې په دښته کې یې خپله سورلۍ ورکه کړې وي چې د هغه خوراک او څښاک هغې باندې بار وي او بیا یې ومومي.

او په هره پیمانه چې د بنده ګناه لویه وي او یا له هغه څخه تکرار شي؛ الله په خپل رحمت کې تر هغه لوی دی تر هغه وخته پورې چې بنده بخښنه غواړي:

﴿... وَرَحۡمَتِي وَسِعَتۡ كُلَّ شَيۡءٖۚ ....﴾ [الأعراف: 156]

(او زما رحمت هر شی راګېر کړی دی) [الأعراف سورت: ایت 156]،

او له هغه - علیه الصلاة والسلام - څخه ثابت دي چې هغه د خپل رب – عزوجل- څخه روایت کوي، او فرمایي: "یو بنده ګناه وکړه؛ بیا یې وویل: اې الله! زما ګناه وبخښه، بیا هغه –تبارک و تعالی- وفرمایل: زما بنده ګناه وکړه، او پوه شو چې هغه لره رب شته چې ګناه بخښي، او ګناه باندې یې نیسي، بیا یې ګناه وکړه او ویې ویل: اې ربه! زما ګناه وبخښه، نو الله –تبارک و تعالی- وفرمایل: زما بنده ګناه وکړه، او پوه شو چې هغه لره رب شته چې ګناه بخښي، او ګناه باندې یې نیسي، ویې فرمایل: زما بنده ګناه وکړه، او پوه شو چې هغه لره رب شته چې ګناه بخښي، او ګناه باندې یې نیسی، بیا یې ګناه وکړه او ویې ویل: اې ربه! زما ګناه وبخښه، نو الله –تبارک و تعالی- وفرمایل: هر څه چې کوي وې کړه! [مسلم روایت کړی] یعنې: تر څو چې ته توبه ویستونکی، ډېر دعا کوونکی، او رجوع کوونکی اوسې.

## د خپل ښښتن لپاره تواضع وکړه !

او د الله –عزوجل- دروازه د ټولو توبه کوونکو او دعا کوونکو لپاره پرانیستي ده، هغه عفو کوونکی او بخښونکی و؛ او دی، او هغه چا ته يې د بخښنې او عفوې ژمنه کړې ده چې د بخښنې اسباب له ځانه سره ولري:

﴿وَإِنِّي لَغَفَّارٌ لِّمَن تَابَ وَءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحًا ثُمَّ ٱهْتَدَىٰ۝٨٢﴾ [طه: 82]

(او بېشکه زه خامخا ډېر بخښونکی يم هغه چا ته چې توبه وباسي او ايمان راوړي او نېک عمل کوي، بیا په نېغه لار روان اوسي) [طه سورت: ايت 82]،

او هغه څوک چې دومره ګناهونه او بدۍ ولري چې د حساب او شميرلو څخه تير وي؛ نو له الله څخه دې بخښنه وغواړي د هغه څه څخه چې الله شميرلي او هغه باندې پوهه دی. د دې مطلب دا ندی: چې مسلمان په خطاګانو او ګناهونو کې اسراف وکړي، او په دې بهانه دې د الله نافرمانۍ ته زړه ښه کړي: چې الله بښونکی او مهربان دی! الله –سبحانه و تعالی- فرمايلي:

﴿رَّبُّكُمۡ أَعۡلَمُ بِمَا فِي نُفُوسِكُمۡۚ إِن تَكُونُواْ صَٰلِحِينَ فَإِنَّهُۥ كَانَ لِلۡأَوَّٰبِينَ غَفُورًا۝٢٥﴾ [الإسراء: 25]

(ستاسو رب پر هغه څه ښه پوهه دی چې ستاسو په نفسونو کې دي که تاسو نېکان يئ، نو بېشکه هغه له پيله د توبه کوونکو لپاره ډېر مغفرت کوونکی دی) [الإسراء سورت: ايت 25]،

فضيل ابن عياض -رحمه الله- فرمايلي: "بخښنه پرته له پريښودلو.. د درواغجنو توبه ده".

## د ژغورنې رسۍ ..

هغه ټولو مخلوقاتو ته امر وکړ چې بخښنه وغواړي او د هغوی په سر کې: پيغمبران دي؛

﴿فَقُلۡتُ ٱسۡتَغۡفِرُواْ رَبَّكُمۡ إِنَّهُۥ كَانَ غَفَّارًا ۝١٠﴾ [نوح: 10]

(نو ما (دوی ته) وويل: تاسو له خپل رب نه بخښنه وغواړئ بېشکه دی ډېر بخښونکی دی) [نوح سورت: ايت 10]،

او په مستند ډول روايت شوی دی چې هغه - عليه الصلاة والسلام - فرمايلي: «وَاللهِ! إِنِّي لَأَسْتَغْفِرُ اللهَ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ فِي اليَوْمِ أَكْثَرَ مِنْ سَبْعِينَ مَرَّةً» «په الله قسم! زه په ورځ کې له اويا ځلو څخه زيات له الله څخه بخښنه غواړم او هغه ته توبه کوم». [بخاري روايت کړی]، دا د پيغمبرانو په حق کې دی؛ د دوی څخه راښکته خلک په اولی طريقه بايد بخښنه وغواړي. رسول الله -صلى الله عليه وسلم- علي بن ابي طالب -رضی الله عنه- ته وفرمايل: «أَلَا أُعَلِّمُكَ كَلِمَاتٍ إِذَا قُلْتَهُنَّ غَفَرَ اللَّهُ لَكَ؛ وَإِنْ كُنْتَ مَغْفُورًا لَكَ؟»، قَالَ: «قُلْ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ العَلِيُّ العَظِيمُ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ الحَلِيمُ الكَرِيمُ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، سُبْحَانَ اللَّهِ رَبِّ العَرْشِ العَظِيمِ» «آيا زه تا ته هغه کلمات در زده نه کړم چې که هغه ووايې، الله به تا وبخښي؛ حتا که ته بخښل شوی هم وې؟"هغه وفرمايل: ووايه: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ العَلِيُّ العَظِيمُ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ الحَلِيمُ الكَرِيمُ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، سُبْحَانَ اللَّهِ رَبِّ العَرْشِ العَظِيمِ، يعنې: له الله پرته بل معبود نشته، لوړ او لوی دی، له الله پرته بل معبود نشته، حليم او مهربان دی، له الله پرته بل معبود نشته، پاک دی الله چې د لوی عرش څښتن دی». [صحيح حديث دی، ترمذي روايت کړی]. او علي -رضي الله عنه- فرمايي: "حيرانتيا ده هغه چاته چې هلاک کيږي او له هغه سره نجات وي! وويل شول: هغه څه شی دی؟ ويې ويل: استغفار. قتاده -رحمه الله- ورته وويل: قرآن ستاسو د مرض او دوا په لور لارښوونه کوي؛ او ستاسو مرض ستاسو ګناهونه دي، او ستا د دوا استغفار دی". شيخ الاسلام - رحمه الله - فرمايي: «ګناهونه د ضرر سبب دی، او استغفار د هغه اسباب له منځه وړي، لکه څنګه چې الله – سبحانه و تعالی- فرمايي:

(او الله دوی ته عذاب ورکوونکی ندی، په داسې حال کې چې دوی بخښنه (استغفار) غواړي) ". ابن کثير وايي: «او په چا کې چې دا صفت وي، يعنې: د «استغفار» صفت، نو الله به د هغه رزق اسانه کړي. د هغه خپل شان او ځواک به محفوظ ولري».

زه تا ته د هغو ګناهونو څخه شکايت کوم چې زه له هغو څخه انکار نشم کولی ... اې زما اميده، مهرباني وکړه زما ګناهونه ما ته وبخښه ... مخکې له دې چې ته د حشر په ميدان کې زما څخه پوښتنه وکړې ... کوم چې د وحشتونو په ورځ کې دې هم په ياد دی

زه ستا څخه هیله کوم، اې د احسان ښښتنه چې د جزا په ورځ يې راته وبخښه .. څرنګه چې ما له تا څخه غوښتنه کوله او هماغه خير يې راته و پوښه چې په ځمکه کې دې راته پوښلې وه.

د "لا اله الا الله" او "استغفار" د يوځاى کولو راز د هغه –سبحانه و تعالى- په دې وينا کې دى:

﴿فَٱعۡلَمۡ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱللَّهُ وَٱسۡتَغۡفِرۡ لِذَنۢبِكَ وَلِلۡمُؤۡمِنِينَ ....﴾ [محمد: 19]

(نو ته پوهه شه چې بېشکه شان دا دى چې د عبادت هېڅ لايق نشته مګر الله دى او د خپلې ګناه مغفرت وغواړه او د مومنو سړيو او مومنو ښځو لپاره هم) [محمد سورت: ايت 19]

: "توحيد د شرک ريښه لرې کوي، او استغفار د هغه څانګې له منځه وړي.

تر ټولو غوره حمد: د: لا اله الا الله، ويل دي ، يعني له الله پرته بل معبود نشته، او تر ټولو غوره دعا: استغفر الله ويل دى، يعني زه له الله څخه بخښنه غواړم، نو هغه ته يې په توحيد سره امر وکړ، او دا چې د خپل ځان او د مؤمنانو ښځو او ورونو لپاره بخښنه وغواړي.

اې الله! مونږ، زمونږ مور او پلار او ټولو مسلمانانو ته بخښنه وکړه؛ اې د جهانونو ربه!

28

## الكَبِيرُ -جل جلاله- د بزرګۍ خاوند -جل جلاله-

د دروازې په درشل کې ..

ستا رب –سبحانه و تعالى-، هغه ذات چې د ټولو قدرتونو اوملکوت ښښتن دى، لوى او عالي دى؛ خپلې اړتياوې د هغه دروازې ته ورسوه، او د هغه په حضور کې خپل زړه متواضع ولره؛ هغه به ستا حاجتونه پوره کړي، ستا ناروغي به لرې کړي، ستا پور به ادا کړي، او ستا انديښنه به لرې کړي، او ستا په خوله به موسکا راولي..

هغه لوي الله –تبارك وتعالى- دى.

ستا هيلې د لوى الله سره... حقايق دي.

او ستا ارمانونه كه هر څومره لوړ وي، د لوى ذات په نيز .. ډير كوچني دي.

او ستا خواهشات د لوى ذات په نيز .. تا ته به درکړل شي، او ستا ليوالتيا به تا ته راشي.

هغه – تبارک و تعالى - لوى دى؛ د ويرې په وخت کې ستا پټنځاى او مصيبتونو کې ستا مرسته کوونکى... هغه لوى الله دى.

﴿عَٰلِمُ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ ٱلۡكَبِيرُ ٱلۡمُتَعَالِ۝٩﴾ [الرعد: 9]

(د غيبو او د ښکاره و عالم دى، ډېر لوى، لوړ برتر دى) [الرعد سورت: ايت 9].

زموږ لوى څښتن – تبارک و تعالى -؛ څوک چې په خپل ذات کې لوى او لوړ دى، هيڅکله له هغه – عزوجل- څخه لوى او ستر شتون نه لري.

﴿وَمَا قَدَرُواْ ٱللَّهَ حَقَّ قَدۡرِهِۦ وَٱلۡأَرۡضُ جَمِيعٗا قَبۡضَتُهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَٱلسَّمَٰوَٰتُ مَطۡوِيَّٰتُۢ بِيَمِينِهِۦۚ ....﴾ [الزمر: 67]

(او دغو (مشركانو) د الله تعظيم ونه کړ د هغه حق تعظيم، حال دا چې ځمكه ټوله د ده په قبضه كې ده د قيامت په ورځ كې او اسمانونه د ده په ښي لاس كې رانغاړل (راټول كړى) شوي دي) [الزمر سورت: ايت 67].

او زموږ رب – تبارک و تعالى - د هغه په صفاتو کې خورا لوى دى؛ دا صفتونه ټول د کمال، عظمت او جلال صفتونه دي، هيڅوک د هغه په نومونو کې شريک، مانند، شبيه، او ملګرى شتون نلري،

او زموږ رب – تبارک و تعالى- په خپلو اعمالو کې تر ټولو لوى دى، او د هغه د مخلوق عظمت د هغه د عملونو په عظمت ګواهي ورکوي،

﴿لَخَلۡقُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ أَكۡبَرُ مِنۡ خَلۡقِ ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ ۝٥٧﴾ [غافر: 57]

(يقينًا د اسمانونو او ځمكې پيدا كول د خلقو له پيدا كولو نه ډېر لوى دي او لېكن د خلقو اكثريت نه پوهېږي) [غافر سورت: ايت 57].

زمونږ رب – تبارک و تعالی - ډېر لوی او د لويي خاوند دی، هغه ذات چې د هغه د جلال او عظمت په مقابل کی هر لوی، کوچنی ښکاري.

او زموږ رب  – عزوجل – له ټولو نیمګړتیاوو، بدیو او عیبونو څخه ډېر لوی او لوړ دی.

او زمونږ رب - عزوجل - چې له هر ډول شر ، بدۍ او ظلم څخه پورته دی؛

﴿... ٱلۡكَبِيرُ ٱلۡمُتَعَالِ ۝٩﴾ [الرعد: 9]

(ډېر لوی، لوړ برتر دی) [الرعد سورت: ایت 9]،

﴿ذَٰلِكُم بِأَنَّهُۥٓ إِذَا دُعِيَ ٱللَّهُ وَحۡدَهُۥ كَفَرۡتُمۡ وَإِن يُشۡرَكۡ بِهِۦ تُؤۡمِنُواْۚ فَٱلۡحُكۡمُ لِلَّهِ ٱلۡعَلِيِّ ٱلۡكَبِيرِ ۝١٢﴾ [غافر: 12]

(نو حکم خاص هغه الله لره دی چې ډېر اوچت، ډېر لوی دی) [غافر سورت: ایت 12].

ټوله ستاینه، فضل او پادشاهي تا لره ده اې زموږ ربه

هیڅ شی ستا څخه د ویاړ په لحاظ لوړ ندی

پاکي ده هغه ذات لره چې خلق د هغه د قدر درناوی نه کوي

هغه ذات چې د عرش د پاسه واحد او تنها دی

عقلونه لنډ شول!

او الله – جل و علا - له هر څه څخه لوی دی، او د هر هغه څخه لوی دی چې زموږ علم يې احاطه وشي کولی.

﴿يَعۡلَمُ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡ وَلَا يُحِيطُونَ بِهِۦ عِلۡمٗا ۝١١٠﴾ [طه: 110]

(او دوی د هغه د علم احاطه نشي کولی) [طه سورت: ایت 110].

الله – تبارک و تعالی - لدې څخه لوی دی چې مونږ د هغه د ذات یا د هغه د صفاتو په اړه وپوهیږو؛ له همدې امله مونږ د الله په اړه له فکر کولو څخه منع کړی شوي یو؛ ځکه چې مونږ په خپلو کوچنیو، نیمګړو او محدودو عقلونو سره هغه نشو

درک کولی، په الاوسط کې د طبراني له قوله راغلي چې: رسول الله -صلی الله علیه وسلم- وفرمایل: "د الله د نعمتونو په اړه فکر وکړئ او د الله –عزوجل- په اړه فکر مه کوئ". [صحیح حدیث دی] او د هغه – عزوجل- په جلال او لویۍ یوازې هغه پوهیږی؛ نه کوم نږدې ملایک، او نه کوم رالیږل شوی پیغمبر؛ هغه یوازې الله - عزوجل – ته ځانګړی شوی دی.

غوره وینا ..

نو الله - عزوجل - له هر څه څخه لوی دی؛ د ذات، احترام، معنی، عزت او عظمت له لحاظه؛ له همدې امله ویل کیږي چې: د عربو لپاره ترټولو غوره کلمه د تعظیم او اجلال په معنی کې: د (الله اکبر) لفظ دی؛ ځکه چې دا د عظمت له صفت څخه ډیر بشپړ دی؛ او کله چې موږ ووایو: (الله اکبر) پدې کې عظمت شامل دی او په معنی کې له هغه څخه زیات دی.

له همدې امله په لمانځه او اذان کې مشروع الفاظ دي په: (الله اکبر) سره راغلي دي؛ ځکه چې دا د (الله اعظم) له ویلو څخه ډیر بشپړ دی، لکه څنګه چې په حدیث کې راغلی: «قَالَ اللَّهُ -عز وجل- : الكِبْرِيَاءُ رِدَائِي، وَالعَظَمَةُ إِزَارِي، فَمَنْ نَازَعَنِي وَاحِدًا مِنْهُمَا؛ قَذَفْتُهُ فِي النَّارِ» «الله –عزوجل- وفرمایل: لویي زما څادر دی او عظمت زما جامه ده، نو ددې هریو په اخیستلو کې چې څوک زما سره شخړه وکړي؛ هغه به اور ته واچوم». [صحیح حدیث دی. ابوداود روایت کړی]. امام ابن تیمیه -رحمه الله- فرمایي: نو هغه عظمت د لنګ (پرتوګ) په څیر او لویي یې د څادر په څیر معرفي کړه، او دا معلومه خبره ده چې څادر غوره ده، نو کله چې تکبیر د تعظیم په پرتله ډیر موثر و، هغه یې پدې لفظ سره بیان کړ، او پدې کې تعظیم هم شاملیږي.

بادشاه ته د ننوتلو کیلیاني:

نو لدې امله؛ دا کلمه په لمانځه کې د داخلېدو لپاره وضع شوې ده، ځکه چې مسلمان په دې سره پاچاهانو ته د غلامانو په څیر ننوځي، او کله چې د داخلېدو شرف یې حاصل کړ، نو تر ټولو موثر لفظ (الله اکبر) دی،او د هغه حال داسې وایي چې: "الله اکبر، زه له لدې لفظ سره خپل مالک، خالق او خپل روزي ورکوونکي ته ننوځم،

او الله اكبر د ژوند له اندیښنو څخه ډېر لوی دی". که يې په اخلاص او فکر سره وويل؛ د الله عظمت به يې په زړه کې پیدا شي، غړي به يې عاجز شي، له الله څخه به حيا وکړي، او د هغه وقار او لويي به يې پرينږدي چې د هغه زړه له هغه پرته نورو سره مشغول شي، د دې کلمې د عظمت له امله دا کلمه د مسلمان په ډېرو عبادتونو کې ورسره مل ده، ترڅو دالله رضا ترلاسه کړي، ابن القيم -رحمه الله- فرمايي: "(وَرِضْوَانٌ مِّنَ اللَّهِ أَكْبَرُ) (او د الله له جانبه رضامندي تر ټولو لويه ده) د الله رضا د بنده څخه د جنت او هغه څه چې په کې دی لويه ده؛ ځکه چې رضا د الله صفت دی، او جنت د هغه مخلوق دی.

غالب هغه دی چې لوی ذات ته پناه يوسي..

(الله اكبر) كه له زړه سره ګډ شي؛ مؤمن هغه سره وياړمن شي، او په الله باور او اعتماد وکړي، او په هغه باندې توکل وکړي، د هغه په نيز به هر څه د الله د لويۍ او عظمت په مقابل کې کوچني وي.

تاريخ پوهان وايي: "حجاج د مقام ابراهيم تر شا دوه رکعته لمونځ اداء کړ؛ د يمن له خلکو څخه يو فقير راغی او د کعبې شاوخوا يې طواف کاوه، او د طواف پر مهال د يمني فقير په جامو کې نېزه ونښتله او بيا د حجاج پر بدن وغورځيده؛ نو حجاج وويريده، بيا يې وويل: هغه ونيسئ! نو عسکرو ونيوه او ويې ويل: هغه ماته رانږدې کړئ؛ هغه يې ورته ورنږدې کړ. حجاج وويل: ته ما پيژنې؟ هغه وويل: زه تا نه پيژنم! حجاج وويل: په يمن کې ستاسو والی څوک دی؟ ويې ويل: محمد بن يوسف - د حجاج ورور- ده هغه په شان ظالم او يا تر هغه بدتر دی، ويې ويل: ته نه پوهېږې چې زه يې ورور يم؟ ويې ويل: ته حجاج يې؟ ويې ويل: هو، غريب سړي وويل: ته بدبخته يې! او بدبخته ستا ورور دی! ويې ويل: زما ورور دی په يمن کې څنګه پرېښود؟ هغه وويل: ما هغه په خېټورۍ او چاقوالي حالت کې پريښود، هغه وويل: ما له تا څخه د هغه د روغتيا پوښتنه نه ده کړې، ما د هغه د عدالت په اړه وپوښتل، هغه وويل: ما هغه متجاوز او ظالم پرېښود، ويې ويل: ته نه پوهېږې چې هغه زما ورور دی؟ ته له ما څخه نه وېرېږې؟ ويې ويل: اې حجاجه، ته څه فکر کوې په

کومه پیمانه چې ستا ورور په تا نازیږي زه به په خپل واحد او یکتا ذات باندې له هغه څخه زیات نه نازیږم ؟! طاووس - راوي - ووېل: په الله قسم زما ویښتان ودریدل ! بیا حجاج هغه سړی خوشې کړ؛ نو هغه د کعبې طواف بیرته پیل کړ او پرته له الله څخه له هیچا څخه نه ویریده.

د هغوی کفنونه د فداکارۍ په وینو رنګ شوي وو

الله د هغې زنځیرونو څخه لوی دی چې دوی یې ورځکول

ستا په لاس کې د لاربښوونې رسۍ غښتلی اړخ لري

په لاره او زموږ د ارواحو په یو اړخ کې

هغه کوم لوی کار دی، لویه غمیزه او لویه اندیښنه ده چې د لوی الله لپاره به د هغه حل ستونزمن وي؟

نو؛ الله – عزوجل- لوی دی، او هر لوی سړی چې تاسو لیدلی وي، او یا مو اوریدلي وي او یا مو پیژندلی وي؛ الله د هغه رب دی، الله د هغه څخه لوی دی، نو هغه به څرنګه ستونزې وي چې د عزت، لویۍ او عظیم الله له ارادې سره مقابله وکولی شي؟

نو؛ الله – تبارک و تعالی- لوی ذات دی، هغه ذات چې ستاسو ستونزې به حل کړي، ستا ټول دردونه په روغتیا، او ستا ټول ارمانونه به په حقیقت او ستاسو ټولې اوښکې به په موسکاګانو بدلې کړي.

نو خپل لاسونه د الله رسۍ باندې ټینګ وساته

ځکه چې هغه ستا ستنه ده کله چې نورې ستنې تا سره جفا وکړي

اې الله! موږ له تا څخه ستا په لوی نوم غوښتنه کوو: چې پر موږ جنت ته د ننوتلو او له اور څخه د خلاصون پیرزوینه وکړې.

31 - 30 – 29

## الأَعْلَى العـَلِيُّ  المُتَعـَالِ -جل جلاله- د لوی مرتبې خاوند، تر ټولو لوړ او برتر ذات -جل جلاله-

کله چې مصیبت واقع شي، بدبختي او ناورين راشي؛ زړه پورته خوا ته ګرځي، لاسونه لوی څښتن ته پورته کيږي، سترګې اسمان خوا ته ګوري او د لوړ، لوی او برتر الله څخه د خلاصون په تمه وي.

زموږ رب – عزوجل – هغه: تر ټولو لوړ، ډېر لوی او برتر دی، هغه – تبارک و تعالی– فرمايلي:

﴿.... وَهُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡعَظِيمُ۝٢٥٥﴾ [البقرة: 255]

(او هم هغه ډېر اوچت، ډېر لوی دی) [البقرة سورت: ايت 255]،

او فرمايلي يې دي:

﴿سَبِّحِ ٱسۡمَ رَبِّكَ ٱلۡأَعۡلَى۝١﴾ [الأعلى: 1]

(ته پاکي بيان کړه د خپل رب د نامې چې تر ټولو اوچت دی) [الأعلى سورت: ايت 1]،

او الله  -سبحانه وتعالی -فرمايلي- :

﴿عَٰلِمُ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ ٱلۡكَبِيرُ ٱلۡمُتَعَالِ۝٩﴾ [الرعد: 9]

(د غيبو او د ښکاره و عالم دی، ډېر لوی، لوړ برتر دی) [الرعد سورت: ايت 9].

زموږ رب تر ټولو لوړ- ډېر لوی - او برتر دی: هغه ذات چې له هغه څخه لوړ نشته او هغه لپاره له ټولو اړخونو څخه مطلق لوړوالی دی:

* د ذات لوړوالی : زموږ رب –سبحانه و تعالی-، په خپل عرش باندې برقراره دی، د خپل مخلوق څخه جلا دی، هغه د ټولو مخلوقاتو څخه لوړ دی،

﴿ٱلرَّحۡمَٰنُ عَلَى ٱلۡعَرۡشِ ٱسۡتَوَىٰ۝٥﴾ [طه: 5]

(رحمٰن په عرش باندې برقراره شو) [طه سورت: ايت 5]

. * د مقام او منزلت لوړوالی : هغه – سبحانه و تعالی - د لوی مقام خاوند دی، د هغه صفات د کمال، ښکلا او عظمت صفتونه دي، دغه صفتونو ته د مخلوق هیڅ صفت نږدې کیدلی نشي او نه ورسره مشابهت لري، بلکې بندګان د هغه – سبحانه و تعالی- له صفتونو څخه یو صفت هم احاطه کولی نشي،

﴿يَعۡلَمُ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡ وَلَا يُحِيطُونَ بِهِۦ عِلۡمٗا﴾ [طه: 110]

(او دوی د هغه د علم احاطه نشي کولی) [طه سورت: ایت 110]

. * د غلبې او تسلط لوړوالی: زموږ رب –سبحانه و تعالی- ټولو مخلوقاتو باندې غلبه او تسلط لري، ځکه چې ټول د هغه د تسلط، واک او عظمت لاندې دي

﴿وَهُوَ ٱلۡقَاهِرُ فَوۡقَ عِبَادِهِۦ...﴾ [الأنعام: 18]

(او همدی غالب دی، د خپلو بنده ګانو له پاسه دی) [الأنعام سورت: ایت 18].

په آسمانونو او د عرش د پاسه دی

د ټولو مخلوقاتو څخه توپیر لري او متصف دی

په خپلو ټولو عالي صفاتو سره چې بشپړ دی

او د ا د الله په ستاینو کې پټ شیان ندي

الله چیرته دی؟!

په صحیح مسلم کې له ستر صحابي معاویه بن الحکم السلمي -رضي الله عنه- څخه روایت دی چې فرمایي: ما یوه وینځه درلوده چې د اُحُد په اطرافو کې یې پسونه پیول، یوه ورځ مې وکتل چې لیوه د هغې له پسونو څخه یو له ځان سره یوړ، او زه بني آدم یم، په غوسه کیږم لکه څنګه چې هغوی په غوسه کیږي، مګر ما یوه څپیړه ووهله.

نو زه رسول الله -صلی الله علیه وسلم- ته راغلم، هغه ماته دا خبره ډېره لویه کړه، ما وویل: اې د الله رسوله، آیا زه یې ازاده نه کړم؟ هغه وویل: هغه ماته راولئ! نو ما هغه راوستله، هغې ورته وویل: "الله چیرته دی؟" هغې وویل: "په اسمان کې دی،" هغه وویل: "زه څوک یم؟" هغې وویل: ته د الله رسول یې، هغه وویل: «أَعْتِقْهَا، فَإِنَّهَا مُؤْمِنَةٌ». "هغه آزاد کړه، ځکه هغه مومنه

ده". دا چې الله په اسمان کې دی پدې معنی چې: په لوړه د اسمان د پاسه دی، او (په) د (پر) په معنا ده؛ لکه څنګه چې دغه معنا د الله –سبحانه و تعالی- پدې قول کې راغلی ده:

﴿... وَلَأُصَلِّبَنَّكُمْ فِي جُذُوعِ ٱلنَّخْلِ ....﴾ [طه: 71]

(او زه به خامخا ضرور تاسو د کجورو په تنو کې په دار کوم) [طه سورت: ایت 71]،

او داسې ګمان دې و نشی چې آسمان الله احاطه او راګیر کړی دی؛ الله تعالی لوی دی د دې نه چې د هغه مخلوق دی هغه احاطه او راګیر کړي.

زه دلته دې خبرې سره تم کیږم - ګرانه لوستونکیه! - او وایم: ایا دا جواز لري چې الله - عزوجل – په هغه څه سره یاد کړو چې هغه پرې خپل ځان نه وي توصیف کړی؛ لکه دا چې الله په هر ځای کې دی؟

شیخ الاسلام ابن تیمیه -رحمه الله- په "مجموع الفتاوی" کې ویلي دي: او هغه – سبحانه و تعالی - خپل ځان په لوړوالی سره یاد کړ، دا د هغه د ستاینې او تعظیم له صفتونو څخه دی؛ ځکه چې دا د کمال له صفتونو څخه دی، او همدارنګه هغه خپل ځان د لوی، پوهه، غالب، قادر، غالب، بردبار او داسې نورو صفتونو سره یاد کړی، او دا چې هغه ژوندی او ورېتیا لرونکی دی، او همداسې نور د هغه د ښایسته نومونو له معنی څخه.

د دې د ضد صفتونو بیانول جواز نلري، او دا جواز نلري چې د( لوړ) ضد صفت باندې یاد شي چې هغه: د ټیټ صفت دی، او نه د قوي د ضد په صفت چې هغه کمزوری دی.

بلکې هغه – سبحانه و تعالی – له دې نیمګړتیاوو څخه پاک دی چې د کمال له صفاتو سره په ټکر کې دي چې د هغه لپاره ثابتې شوي دي.

دا د دوی له توحید څخه دي: لکه د هغه - سبحانه و تعالی- لوړوالی د اسمانونو څخه پورته دی، نو هغه -سبحانه و تعالی -په خپل ذات کې تر ټولو لوړ دی، او هغه؛ هغه ذات دی چې عرش باندې برقراره دی.

نو هغه -سبحانه وتعالی- په خپل ذات کې تر ټولو لوړ دی ... څکه چې ناشونې ده چې د دې خلاف بیان شي ... او هغه؛ هغه ذات دی چې په حقه سره عرش باندې برقراره دی ... بېشکه چې د کایناتو چارې يې سمبال کړې دي

هغه -عز وجل- فرمايلي:

﴿إِنَّ رَبَّكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ ....﴾ [الأعراف: 54]

(بېشکه ستاسو رب هغه الله دی چې اسمانونه او ځمکه يې په شپږو ورځو کې پیدا کړې دي، بیا د عرش له پاسه برقرار شو). [الأعراف سورت: ایت 54]

. او الله –عزوجل- په خپل کتاب کې د جبرائیل او ملائکو راکوزېدل ذکر کړي دي:

﴿تَنَزَّلُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ وَٱلرُّوحُ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِم مِّن كُلِّ أَمْرٍ ۝٤﴾ [القدر: 4]

(په دغه (شپه) کې (نور) ملايك او روح (جبريل) د خپل رب په حکم سره راکوزيږي لپاره (د پوره کولو) د هر (مقرر شوي) کار) [القدر سورت: ایت 4]

. او ښکته کېدل یوازې له پورته څخه کیږي. او هغه – سبحانه و تعالی - ذکر کړي چې ملائکې هغه ته ورخېژي او پورته کیږي:

﴿تَعْرُجُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ وَٱلرُّوحُ إِلَيْهِ فِى يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُۥ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ ۝٤﴾ [المعارج: 4]

(چې د ده په طرف پورته ملایکې او روح ورخېژي، په هغې ورځ کې چې د هغې مقدار پنځوس زره کاله دی) [المعارج سورت: ایت 4]

. او هغه -سبحانه وتعالی- ذکر کړي چې نیک عملونه او ښې خبرې ورته پورته کیږي:

﴿..... إِلَيْهِ يَصْعَدُ ٱلْكَلِمُ ٱلطَّيِّبُ وَٱلْعَمَلُ ٱلصَّٰلِحُ يَرْفَعُهُۥ ....﴾ [فاطر: 10]

(نو خاص الله ته دی ټول عزت، همدغه (الله) ته پاکیزه خبرې پورته خېژي او نيك عمل دغه (کلمات) پورته کوي) [فاطر سورت: ایت 10].

نو عملونه چا ته پورته کیږي؟

او که زمونږ رب - سبحانه وتعالی - په هر ځای کې دی؛ په نازليدو باندې څه کوي؟
- لوړ دی الله له هغه څه چې دوی يې وايي.

زمونږ رب – عزوجل – بې شبيه، بې مثاله، بې مانند، او د هغه په څير هيڅ څيز نشته.

زمونږ رب – عزوجل – له ښځې او اولاد نيولو څخه ډير اوچت دی:

﴿وَأَنَّهُۥ تَعَٰلَىٰ جَدُّ رَبِّنَا مَا ٱتَّخَذَ صَٰحِبَةً وَلَا وَلَدًا ٣﴾ [الجن: 3]

(او بېشکه شان دا دی چې زمونږ د رب شان ډېر اوچت دی، ده نه ښځه نيولې ده او نه اولاد) [الجن سورت: ايت 3].

او زمونږ رب – عزوجل – په خپل الوهيت کې له شريک نيولو څخه ډېر لوړ دی:

﴿فَلَمَّآ ءَاتَىٰهُمَا صَٰلِحًا جَعَلَا لَهُۥ شُرَكَآءَ فِيمَآ ءَاتَىٰهُمَاۚ فَتَعَٰلَى ٱللَّهُ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ١٩٠﴾ [الأعراف: 190]

(نو کله چې الله دوی ته روغ بچی ورکړ، دوی له الله سره په هغه څه کې شريکان جوړ کړل چې دوی ته يې ورکړی و، نو الله ډېر اوچت دی له هغه څه نه چې دوی يې (ورسره) شريکوي) [الأعراف سورت: ايت 190].

لار..

څوک چې د دريو نومونو په معنا پوه شي: (لوی، لوړ او تر ټولو پورته)؛ هغه پوهيږي چې الله - عزوجل - د کمال په صفتونو کې لوی، د نيمګړتيا له صفتونو څخه لوړ دی، او له مخلوق څخه پورته دی.

نو څوک چې ددې منظرې حق ادا کړي – د پوهې او عبوديت له لحاظه- بې نيازه به شي، او هغه به عزت او وقار ترلاسه کړي؛

﴿وَرَفَعۡنَٰهُ مَكَانًا عَلِيًّا ٥٧﴾ [مريم: 57]

(او دی مونږ ډېر اوچت ځای ته پورته کړی دی) [مريم سورت: ايت 57].

په دواړو جهانونو کې سرلوړې په لاندې څيزونو حاصليږي:

په ايمان سره:

﴿وَمَن يَأۡتِهِۦ مُؤۡمِنٗا قَدۡ عَمِلَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَأُوْلَٰٓئِكَ لَهُمُ ٱلدَّرَجَٰتُ ٱلۡعُلَىٰ ٧٥﴾ [طه: 75]

(او هغه څوك چې ده ته په داسې حال كې راشي چې مومن وي، نېك عملونه يې كړي وي (،نو د دوی لپاره ډېرې اوچتې درجې دي) [طه سورت: ايت 75]

. پوهه:

﴿... يَرۡفَعِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمۡ وَٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَ دَرَجَٰتٖۚ ...﴾ [المجادلة: 11]

(الله به په تاسو كې هغه كسان په درجو كې اوچت كړي چې ايمان يې راوړی دی او هغه كسان چې هغوی ته علم وركړی شوی دی) [المجادلة سورت: ايت 11]

. او په عاجزۍ سره، دا په مستند ډول روايت شوي چې هغه -عليه الصلاة والسلام- وفرمايل: «وَمَا تَوَاضَعَ أَحَدٌ لِلهِ إِلَّا رَفَعَهُ اللهُ» "هيڅوک د الله په وړاندې عاجزي نکوي مګر دا چې الله به د هغه مقام لوړ کړي". [مسلم روايت كړی]. او كله چې له صحابه كرامو –رضی الله عنهم- څخه يو كس وغوښتل چې په جنت كې له پيغمبر -صلى الله عليه وسلم- سره ملګرى شي؛ هغه ورته وويل: «فَأَعِنِّي عَلَى نَفْسِكَ بِكَثْرَةِ السُّجُودِ» «نو بيا په ډېرو سجدو كولو سره زما د ملګرتيا حاصلولو لپاره د ځان سره مرسته وكړه». [مسلم روايت كړی]
او په سجده كې ذكر: (سبحان ربي الأعلى) دی، الله – عزوجل- فرمايي:

﴿سَبِّحِ ٱسۡمَ رَبِّكَ ٱلۡأَعۡلَى ١﴾ [الأعلى: 1]

(ته پاكي بيان كړه د خپل رب د نامې چې تر ټولو اوچت دی) [الأعلى سورت: ايت 1].

له دوی څخه ځينو د سجدې په اړه دا خبره توجيه كړې ده: ځكه چې دا د بنده په نهايت عاجزۍباندې دلالت كوي، چې د با ارزښت څيز باندې يې الله ته ترسره كوي، او هغه: د هغه مخ دی، پداسې حال كې چې په خاوره يې ږدي، نو مناسب ده چې د خپلې نهايت عاجزۍ په حالت كې د خپل رب صفت وكړي چې ښېشكه دا: اوچت دی.

نو له دې امله چې د بنده وضعيت په دې شكل كې وي، نو هغه به الله –سبحانه و تعالى- ته ډېر نږدې وي، هغه – صلى الله عليه وسلم- وفرمايل: «أَقْرَبُ مَا يَكُوْنُ العَبْدُ مِنْ

رَبِّهِ وَهُوَ سَاجِدٌ؛ فَأَكْثِرُوا الدُّعَاءَ» «بنده د سجدې په وخت کې خپل رب ته تر ټولو نږدې وي، نو ډېرې دعاګانې وکړئ». [مسلم روايت کړی].

خپل ارمان ته ورسيدي ..

او وروسته له دې چې پوهه شو چې ځمکه د ترټولو لوی او لوړ – جل و علا- لخوا اداره کيږي؛ هغه ذات چې د هغه په لاس کې د اسمانونو او ځمکې واک دی؛ نو ای رنځوره! شفا ورکوونکی په اسمان کې دی، او اې فقيره! شتمن په اسمان کې دی، او اې پريشانه! جبار ذات په آسمان کې دی، اې بې اولاده! وهاب ذات په اسمان کې دی، ای قرضداره! روزي ورکونکی په اسمان کې دی، اې غمجنه! چاره ساز او خلاصونکی په اسمان کې دی..

نو خپل زړه او مخ سره اسمان ته مخ کړه، او لوی او لوړ الله راوبله، او د هغه څه په تمه شه چې ته ورباندې خوشحاليږې؛ ځکه چې تا ته له اوو اسمانونو د پاسه د الله –عزوجل- په وينا زيری درکول شوی دی:

﴿وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِى عَنِّى فَإِنِّى قَرِيبٌ ۖ أُجِيبُ دَعْوَةَ ٱلدَّاعِ إِذَا دَعَانِ ۖ فَلْيَسْتَجِيبُوا۟ لِى وَلْيُؤْمِنُوا۟ بِى لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ ۝١٨٦﴾ [البقرة: 186]

(او کله چې زما په باره کې له تا نه زما بنده ګان تپوس وکړي، نو يقيناً زه قريب يم، د دعا کوونکي دعا قبلوم کله چې له ما نه دعا غواړي، پس دوی دې زما حکم ومني، او پر ما دې ايمان راوړي، د دې لپاره چې دوی سمه لار ومومي) [البقرة سورت: ايت 186].

ستا ستاينه ده، اې د سخاوت، جلال او لوړ والي خاونده

ستا له برکت څخه دی چا ته چې وغواړې ورکوې او چا ته چې و نه غواړې نه ورکوې

اې زما الله، که زما ګناهونه ډېر او لوی وي

نو زما له ګناه څخه ستا بخښنه لويه او پراخه ده

اې الله ته زما حالت، فقر او غربت وينې

او ته زما پټې خبرې اورې

اې زما الله، كه ته ما نا اميده كړې او ما وشړې
نو هغه څوک دی چې زه له هغه څخه امید ولرم او زما شفاعت وكړي
اې الله! مونږ ستا په لوړ نوم باندې ستا څخه غوښتنه کوو: چې په دنیا او آخرت کې زموږ مقام لوړ کړې.

33 - 32

## تسلط لرونکی او پر ټولو زورور ذات -جل جلاله-

ابو یعلی په خپل "مسند" کې له ابو هريره -رضي الله عنه- څخه روايت كړی دی چې فرمايي: «فرعون د خپلې مېرمنې په لاسونو او پښو څلور میخونه وهلي وو، نو كله به چې هغوی له هغې څخه جلا شول، ملايكو به وربانديې سيوري كړ، او هغې به ویل:

﴿وَضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱمۡرَأَتَ فِرۡعَوۡنَ إِذۡ قَالَتۡ رَبِّ ٱبۡنِ لِي عِندَكَ بَيۡتًا فِي ٱلۡجَنَّةِ وَنَجِّنِي مِن فِرۡعَوۡنَ وَعَمَلِهِۦ وَنَجِّنِي مِنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ۝١١﴾ [التحريم: 11]

(ای زما ربه! ته ما ته زما لپاره خپلې خوا کې په جنت کې یو کور جوړ کړه او ته ما له فرعون او د هغه له عمل نه خلاصه کړه او ته ما ته له ظالم قوم نه نجات راکړه) [التحريم سورت: ايت 11]» [صحيح حديث دی].

د ظالم فرعون له کوټې څخه د ځمکې یوه له سترو مېرمنو څخه راوځي! او د هغه له ماڼۍ څخه موسی -علیه السلام- راوځي!!!

هغه فرعون چې داسې یې ویلي وو:

﴿.... قَالَ سَنُقَتِّلُ أَبۡنَآءَهُمۡ وَنَسۡتَحۡيِۦ نِسَآءَهُمۡ وَإِنَّا فَوۡقَهُمۡ قَٰهِرُونَ ۝١٢٧﴾ [الأعراف: 127]

(ژر به مونږ د دوی زامن ووژنو او د دوی ښځې (جينكۍ) به ژوندۍ پرېږدو او بېشكه مونږ د دوی له پاسه زورور یو) [الأعراف سورت: ايت 127]،

نو قهار او زورور ذات دغه سرکش باندې غالب شو، او هغه يې هغو خلکو ته چې وروسته له هغه څخه راځي عبرت وګرځاوه:

﴿فَٱلۡيَوۡمَ نُنَجِّيكَ بِبَدَنِكَ لِتَكُونَ لِمَنۡ خَلۡفَكَ ءَايَةٗۚ وَإِنَّ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلنَّاسِ عَنۡ ءَايَٰتِنَا لَغَٰفِلُونَ ٩٢﴾ [يونس: 92]

(پس نن ورځ به مونږ ستا بدن پر لوړ ځای واچوو، د دې لپاره چې ته د هغه چا لپاره چې له تا نه وروسته دي، نښه جوړه شې او بېشکه په خلقو کې ډېر زمونږ له ایتونو څخه یقینًا غافلان دي) [یونس سورت: ایت 92]

. نو الله – سبحانه و تعالى- د خپل لوړ ذات ستاینه وکړه او ویې ویل:

﴿وَهُوَ ٱلۡقَاهِرُ فَوۡقَ عِبَادِهِۦۚ وَهُوَ ٱلۡحَكِيمُ ٱلۡخَبِيرُ ١٨﴾ [الأنعام: 18]

(او همدی غالب دی، د خپلو بنده ګانو له پاسه دی او همدی ښه حکمت والا، ښه خبردار دی) [الأنعام سورت: ایت 18].

نو زمونږ رب - عزوجل – خپل واک باندې غالب دی، او خپلو کائناتو باندې تصرف کوونکی دی او هیڅ شی د هغه د ارادې مخه نه شي نیولی..

جابرانو باندې غالب شوی دی، قیصریان یې مات کړل، او سرونه ورته ټیټ شول، او ستونزې د هغه د ځواک په مقابل کې آسانه شوې، او مخونه ورته ټیټ شول، مخلوقاتو ورته غاړه کېښوده، او د هغه د عظمت او غرور له امله عاجزه شول.

او زمونږ رب – سبحانه و تعالى- هغه ذات دی چې مخلوقات هغه ته خضوع او عاجزي کوي، او د هغه د عزت، ځواک، او کمال له امله تابع او ذلیله دي.

تسلط لرونکی او پر ټولو زورور ذات -عزوجل- د ټولو بره او لاندې نړۍ لپاره؛ هیڅ حادثه نه پیښیږي، او د هغه له اجازې پرته هیڅ اوسیدونکی نشي اوسیدلی، د هر څه اراده چې وکړي هغه کیږي او د څه شي اراده چې و نکړي هغه نه کیږي، دا زمونږ د رب د دوو نومونو: (القاهر، القهار) معنی ده.

او همدا شان د هغه د صفتونو څخه یو قهار دی ... او مخلوق د پادشاه په ځواک سره تابع کیږي

که هغه ژوندی، غالب او زورور نه وای ... هیڅ کله به غلبې او سلطنت شتون نه و درلودلای

هغه قهار ذات دی:

مجبور او عاجز انسان ته څوک ځواب ورکوي که هغه ورته بلنه ورکړي ترڅو له هغه څخه شر لرې کړي؟ څوک هڅوکي بیا راژوندي کوي کله چې خاورې شي؟ او مخلوق بیرته را ژوندی کوي لکه څنګه یې چې په لومړي ځل پیدا کړي و، او دا کار د هغه لپاره اسانه دی؟ کله چې مظلوم سره ظلم وشي څوک به د هغه ملاتړ وکړي؟ او څوک دی چې د کمزوري سره مرسته وکړي کله چې یې حق وخوړل شي؟

زموږ قاهر، حکیم رب – عزوجل-؛ هغه ذات چې هیڅ شی بې ځایه نه پیدا کوي، هیڅ شی بې ځایه نه پریږدي، او هیڅ عمل نه مني او یا قانون نه جوړوي پرته له حکمت څخه، که څوک ورباندې پوهه شو پوه به وي او که څوک ور څخه بې خبره و بې خبره به وي.

تا ته ټول کارونه بیرته راګرځي

له تا څخه امیدونه او زیري شتون لري

نو څوک د توحید او عبادت وړ دی؟ ایا الله هغه قادر ذات نه دی چې سیال نلري.

په همدې اړه یوسف -علیه السلام- له خپلو دوو ملګرو سره په زندان کې بحث وکړ او ویې ویل:

﴿يَٰصَٰحِبَيِ ٱلسِّجۡنِ ءَأَرۡبَابٞ مُّتَفَرِّقُونَ خَيۡرٌ أَمِ ٱللَّهُ ٱلۡوَٰحِدُ ٱلۡقَهَّارُ ٣٩﴾ [یوسف: 39]

(ای د زندان دواړو ملګرو! ایا ګڼ او متفرق خدایان غوره دي یا که هغه الله چې یو دی، ډېر قوي او غالب دی) [یوسف سورت: ایت 39].

آیا داسې مظلوم مو لیدلی چې ځان ته ګټه او یا تاوان ورسولی شي؟ نو څنګه کولای شو چې د مظلوم او ضعیف څخه غوښتنه او پر هغه توکل وکړو، او الله هغه یو، غالب ذات دی؟!

د رسول الله -صلى الله عليه وسلم- له دعاګانو څخه يوه دعا دا وه کله چې له خوب څخه وارخطا پاڅيده: «لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ الوَاحِدُ القَهَّارُ، رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا، العَزِيزُ الغَفَّارُ» "له الله پرته بل معبود نشته، هغه يو پر ټولو غالب دی، د اسمانونو او ځمکې او د هغو ټولو شيانو رب دی چې د دوی په منځ کې دي، هغه غالب، او بخښونکی دی". [صحيح حديث دی. ابن حبان روايت کړی].

خپل کار هغه ته وسپاره..

کله چې مؤمن په دې پوه شي چې الله يو او غالب ذات دی؛ الله ته خپله تسليمي اعلان کړي، او خپل کار يې الله ته وسپاري، او په هغه توکل وکړي، له الله پرته د بل چا تعظيم ونه کړي، او هغه له الله پرته له هيڅا و نه ويريږي، او د کمزورې مخلوق ويره پريوتله؛ حتی که هغوی د ځواک او غلبې ادعا هم وکړي.

دا د فرعون جادوګران کله چې د دوی په زړونو کې ايمان داخل شو، او پوهه شول چې الله يو او غالب دی؛ کله چې فرعون هغوی ته ګواښ وکړ، هغوی د ځمکې د ظالم په ځواب کې وويل:

﴿قَالُواْ لَا ضَيۡرَۖ إِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا مُنقَلِبُونَ ۝٥٠﴾ [الشعراء: 50]

(هغوی وويل: هيڅ ضرر نشته، بېشکه مونږ خپل رب ته بېرته ورتلونکي يو) [الشعراء سورت: ايت 50]

. او الله - عزوجل – پر ظالمانو او ګناهکارانو غالب دی:

﴿وَهُوَ ٱلۡقَاهِرُ فَوۡقَ عِبَادِهِۦۚ وَهُوَ ٱلۡحَكِيمُ ٱلۡخَبِيرُ ۝١٨﴾ [الأنعام: 18]

(او همدی غالب دی، د خپلو بنده ګانو له پاسه دی او همدی ښه حکمت والا، ښه خبردار دی) [الأنعام سورت: ايت 18]،

د نوح قوم باندې په طوفان سره غالب شو، د صالح قوم باندې په چغې سره غالب شو، د عاد قوم باندې په باد سره غالب شو، د لوط قوم باندې په تيږو سره غالب شو، او په قارون په خسف سره غالب شو، د سبأ په قوم په لوږې او تندې او د رزق په تنګی سره غالب شو، او په بنی اسراييلو په ويرې، د دښمنانو تسلط او ډيرو

وژنو سره غالب شو، او د دوی په ځینو قومونه باندې په شکل بدلولو او طاعون سره غالب شو. نو د الله –عزوجل- قهر او غلبه ښکاره ده:

﴿.... وَمَا ظَلَمْنَٰهُمْ وَلَٰكِن كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿١١٨﴾﴾ [النحل: 118]

(او مونږ پر هغوی باندې ظلم نه دی کړی او لېکن هغوی وو چې پر خپلو ځانونو يې ظلم کاوه) [النحل سورت: ايت 118]

◉ هغه الله چې د مخلوقاتو قدرت يې په خپل قدرت سره له منځه يوړ، او د ټولو مخلوقاتو قدرتونه د هغه د قدرت په مقابل کې له منځه لاړل؛

﴿... لِّمَنِ ٱلْمُلْكُ ٱلْيَوْمَ ۖ لِلَّهِ ٱلْوَٰحِدِ ٱلْقَهَّارِ ﴿١٦﴾﴾ [غافر: 16]

(نن ورځ د چا بادشاهي ده؟ خاص د الله (بادشاهي ده) چې يو دی، ښه غالب دی) [غافر سورت: ايت 16].

رازي -رحمه الله - وايي: «کله چې دا خطاب ښکاره شو هغه زوروران او متکبران څه شول؟!

چیر ته دي انبياء، رسولان او مقربې ملائکې د دې ملامتيا څخه؟!

چيرته دي د ګمراهۍ، الحاد او توحيد او ارشاد خاوندان؟

آدم او د هغه اولاد چيرته دي؟

ابليس او د هغه پلويان چيرته دي؟

داسې ښکاري چې لاړل او محو شول...!

نفسونه او روحونه له منځه تللي، او جسمونه تلف شول، او اړيکې پرې شوې، يوازې هغه موجود ذات پاتې شو چې تر اوسه هم شته او تر ازله پورې به وي.

اړينه نه ده چې په دې دنيا کې ټول مسايل حل شي: داسې ظلمونه شته چې د قيامت په ورځ به له سره ليدل کيږي! او دا حقيقت د ظالمانو په زړونو کې د ګرمو سندانونو (څټکو) څخه ډير سخت دي.

﴿.... وَأَنَّ مَرَدَّنَآ إِلَى ٱللَّهِ ....﴾ [غافر: 43]

(او دا چې بېشکه زمونږ بېرته ورتلل خاص الله ته دي) [غافر سورت: ایت 43].

شافعي وېلي: "په قرآن کې یو آیت دی چې د ظالم په زړه کې لکه غشی او د مظلوم په زړه کې لکه مرهم تاثیر کوي، وویل شو: هغه کوم یو دی؟! هغه وویل د الله – سبحانه و تعالی- دغه قول:

﴿... وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيًّا ۝٦٤﴾ [مریم: 64]

(او ستا رب هیڅکله هېروونکی نه دی) [مریم سورت: ا۝ت 64]".

اې د ظلم او استبداد څښتنه! د بدکارانو شر او د بدکارانو دسیسو نه مو وساته.

34

## الوَهـَّابُ -جل جلاله- ډالۍ )بخشش (ورکوونکی ذات -جل جلاله-

همدارنګه د هغه د نومونو څخه الوهاب دی

د هغه ورکړه په ټولو زمانونو کې وګوره

د پورته اسمانونو او ځمکې اوسیدونکي

د هغه له ورکړو څخه نه جلا کیږي

الله د خپل لوړ ذات په ستاینه کې فرمايي:

﴿أَمْ عِندَهُمْ خَزَآئِنُ رَحْمَةِ رَبِّكَ ٱلْعَزِيزِ ٱلْوَهَّابِ ۝٩﴾ [ص: 9]

(ایا له دوی سره ستا د رب د رحمت خزانې دي (هغه رب) چې ډېر غالب، عطا کوونکی دی؟) [ص سورت: ایت 9]

. زمونږ رب – تبارک و تعالی – په پراخه پیمانه ډالۍ ورکوونکی دی، چې د ځمکې او اسمانونو ټول مخلوقات پکې شامل دي، د هغه ورکړه په اوس او راتلونکي وخت کې نه قطع کیږي، هغه پرته له پوښتنې یا وسیلې څخه ورکوي، او پرته له کوم سبب او دوکې څخه نعمتونه ورکوي:

﴿رَبَّنَا لَا تُزِغۡ قُلُوبَنَا بَعۡدَ إِذۡ هَدَيۡتَنَا وَهَبۡ لَنَا مِن لَّدُنكَ رَحۡمَةًۚ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡوَهَّابُ ٨﴾ [آل عمران: 8]

(اى زمونږه ربه! زمونږ زړونه مه کږوه وروسته له دې چې تا مونږ ته سمه لار وښودله او مونږ ته له خپلې خوا نه رحمت راکړه، يقينًا هم ته، (د نعمت او رحمت) بې حده عطا کوونکى يې) [آل عمران سورت: ايت 8]،

﴿أَمۡ عِندَهُمۡ خَزَآئِنُ رَحۡمَةِ رَبِّكَ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡوَهَّابِ ٩﴾ [ص: 9]

(ايا له دوى سره ستا د رب د رحمت خزانې دي (هغه رب) چې ډېر غالب، عطا کوونکى دى؟) [ص سورت: ايت 9].

هغه د هر شي ورکونکى دى:

ستر خالق، جواد، سخي، او ورکوونکي ذات لره پاکي ده!

الکرم: د هغه له صفتونو څخه يو صفت دى، الجود: د هغه يو له سترو صفتونو څخه دى، او العطاء: د هغه د ډالۍ لپاره دى، له هغه څخه څوک ډېر سخاوت لري؟!

مخلوقات د هغه نافرماني کوي، مګر هغه د دوى څارنه کوي، په بسترونو کې دوى داسې ساتي لکه څنګه چې دوى د هغه هيڅ نافرماني نه وي کړې، او د دوى پالنه کوي ګواکې دوى ګناه نه وي کړې، ګناهګار باندې سخاوت کوي، او نافرمان باندې فضل او مهربان کوي.

هغه څوک دى چې هغه ته يې بلنه ورکړې وي او ځواب يې نه وي ورکړى؟! يا چا ترې غوښتنه کړې وي او هغه ته يې نه وي ورکړې؟ او يا هغه څوک دى چې د هغه دروازې ته يې خپل بار اچولى وي او هغه بيرته شړلى وي؟

پاک دى هغه ذات چې په فکرونو سره اميدونه ورکوي ... هغه اميدونه چې په نفس کې وي او په ژبې سره نه وي ويل شوى

پاک دى هغه ذات چې اوس هم د هغه رزق ... د ټولو جهانيانو لپاره تضمين شوى دى

په بنده باندې د الله –تبارک و تعالی- نعمتونه له هغه وخته تر سترګو کيږي چې هغه د مور په رحم کې نطفه وه، بيا يې ورله غوږ او ليد جوړ کړ او په هغه کې يې روح واچوه، بيا يې ورته خواړه ورکړل، ښکاک يې ورکړ او جامې يې ورته واچولې، هغه ته يې پناه ورکړه او هغه کافي کړ، او له هر څه څخه چې يې وغوښتل هغه يې ورکړل

او الله –جل و علا- بنده ته وايي:

﴿أَلَمْ نَجْعَل لَّهُۥ عَيْنَيْنِ۝٨ وَلِسَانًا وَشَفَتَيْنِ۝٩ وَهَدَيْنَٰهُ ٱلنَّجْدَيْنِ۝١٠﴾ [البلد: 8-10]

(ايا مونږ ده ته دوه سترګې نه دي ورکړي (او يوه ژبه او دوه شونډې) (اومونږ ده ته دوه لارې ښودلې دي) [البلد سورت: ايتونه 8-10]،

﴿۞يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ أَنتُمُ ٱلْفُقَرَآءُ إِلَى ٱللَّهِۖ وَٱللَّهُ هُوَ ٱلْغَنِيُّ ٱلْحَمِيدُ۝١٥﴾ [فاطر: 15]

(اې خلقوا! هم تاسو الله ته محتاجان يئ، او الله، هم دى ښه بې پروا، ښه ستايل شوى دى) [فاطر سورت: ايت 15].

هغه ته پيدا کړې او روزي يې درکړه، تا ته يې ژوند درکړ او مړ به يې کړې، مينه يې درکړه او تاته يې ځيزونه درکړل، ناروغ يې کړې او روغ يې کړې، وږى يې کړې او موړ يې کړې، تږى يې کړې او اوبه يې درکړې، ته يې وخندولې او وېې ژړولې، تاته يې پوهه درکړه په هغه څه چې ته پرې نه پوهيدې، او تا ته يې هغه څه در زده کړل چې ته پرې نه پوهيدې، ستا رزق يې چمتو کړ.

هغه ستا دعاء يې قبوله کړه، ستا غوښتنه يې قبوله کړه، ستا پر دښمن غالب شو، تاته يې رسول ولېږه، تاته يې کتاب وښود، او تاته يې يوه طريقه وښوده... نو له دې وروسته هم ته د هغه نافرماني کوې؟!

﴿قُتِلَ ٱلْإِنسَٰنُ مَآ أَكْفَرَهُۥ۝١٧﴾ [عبس: 17]

(انسان دې هلاك كړى شي، دى څومره ډېر ناشكره دى)! [عبس سورت: ايت 17].

د هغه په درشل..

آيا دنيا تا باندې تنګه شوېده؟

ایا ناروغۍ دردولی يې؟

ایا پورونو ترلی يې؟

آیا فقر بې برخې کړی يې؟

آیا میرمن او اولاد غواړې؟

ایا ستا ذهن حیران دی او ستا فکرونه ګډوډ دي؟

نو په دې وخت کې ته باید ورکوونکي ذات ته رجوع وکړې، هغه چې ډیر ورکوونکی دی، یوازې خپل لاسونه پورته کړه او د هغه دروازې ته ودریږه او د هغه تر څنګ پناه ونیسه؛ ته به وګورې چې لوږه څنګه په مړښت بدلیږي، او تنده به دې ماته شي، او د شپې له ویښ پاتې کیدو وروسته به خوب درشي، او له ناروغۍ وروسته به روغتیا ومومې، او غایب به راشي، او ورک شوی به لاره پیدا کړي، کړاونه به خلاص شي، او تیاره به لرې شي.

هغه ورکونکی –سبحانه و تعالی- دی؛ هغه چې اوښکې په موسکا، ویره په امن، او ډار په خوندیتوب بدلوي، شپې ته په صبح صادق زیری ورکوي، اندیښمن ته د ناڅاپه آرامۍ زیری ورکوي، او مصیبت ځپلي ته په پټه توګه زیری ورکوي.

د الله – سبحانه وتعالی- خزانې ډکې دي او هیڅکله نه ختمیږي، او هغه فرمايي:

﴿وَقَالَ رَبُّكُمُ ٱدْعُونِىٓ أَسْتَجِبْ لَكُمْ ....﴾ [غافر: 60]

(تاسو ما وبلئ چې زه ستاسو دعا قبوله کړم) [غافر سورت: ایت 60]،

نو څوک چې له الله څخه څه شی غواړي، باید لویه غوښتنه دې وکړي؛ ځکه چې هیڅ شی له هغه څخه لوی ندی! دا سلیمان -علیه السلام- د دنیا او آخرت خیر غواړي:

﴿قَالَ رَبِّ ٱغْفِرْ لِى وَهَبْ لِى مُلْكًا لَّا يَنۢبَغِى لِأَحَدٍ مِّنۢ بَعْدِىٓ ۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلْوَهَّابُ ۝٣٥﴾[ص: 35]

(ده وویل: ای زما ربه! ته ما وبخښه او ما ته داسې باچاهي راکړه چې له ما نه پس د چا لپاره هم مناسب نه وي، بېشکه هم ته ښه عطا کوونکی يې) [ص سورت: ایت 35]

. او دا زکریا دی چې بوډاتوب ته رسیدلی او ښځه یې شنډه ده؛ خو هغه وایي:

﴿هُنَالِكَ دَعَا زَكَرِيَّا رَبَّهُۥۖ قَالَ رَبِّ هَبۡ لِي مِن لَّدُنكَ ذُرِّيَّةٗ طَيِّبَةًۖ إِنَّكَ سَمِيعُ ٱلدُّعَآءِ ۝٣٨﴾ [آل عمران: 38]

(ای زما ربه! ما ته له خپلې خوا نه ښه پاکیزه اولاد راکړه، یقینًا ته د دعا ښه اورېدونکی یې) [آل عمران سورت: ایت 38].

وهاب )ورکوونکي (ذات ته رجوع وکړه!

او پادشاهي، حاکمیت، مال، اولاد او هوساینه ټول د ډېر مهربان پادشاه –سبحانه و تعالی- له خوا دي،

﴿.... وَٱللَّهُ يُؤۡتِي مُلۡكَهُۥ مَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٞ ۝٢٤٧﴾ [البقرة: 247]

(او الله خپله بادشاهي ورکوي چا ته چې یې وغواړي، او الله پراخه فضل والا، ښه عالم دی) [البقرة سورت: ایت 247]،

﴿.... يَخۡلُقُ مَا يَشَآءُۚ يَهَبُ لِمَن يَشَآءُ إِنَٰثٗا وَيَهَبُ لِمَن يَشَآءُ ٱلذُّكُورَ ۝٤٩﴾ [الشورى: 49]

(چا ته چې وغواړي جینکۍ ورکوي او چا ته چې وغواړي هلکان ورکوي) [الشورى سورت: ایت 49]

. او تر ټولو لوی شی چې یو بنده خپل رب ته دعا کوي: هغه د اهل علم دعا ده، هغه کسان چې د الله په زړه پورې نومونو سره د هغه د ویلو په راز باندې پوهیږي؛ دوی له هغه څخه د ثبات او رحمت غوښتنه وکړه:

﴿رَبَّنَا لَا تُزِغۡ قُلُوبَنَا بَعۡدَ إِذۡ هَدَيۡتَنَا وَهَبۡ لَنَا مِن لَّدُنكَ رَحۡمَةًۚ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡوَهَّابُ ۝٨﴾ [آل عمران: 8]

(اې زموږ ربه! زموږ زړونه مه کږوه وروسته له دې چې تا موږ ته سمه لار وښودله او موږ ته له خپلې خوا نه رحمت راکړه، یقینًا هم ته، (د نعمت او رحمت) بې حده عطا کوونکی یې) [آل عمران سورت: ایت 8].

نو لدې کبله؛ الله – سبحانه و تعالی- په هر رکعت کې مقرر کړې او موږ یې باید تلفظ کړو، او موږ هیله لرو چې الله به هغه موږ ته راکړي، او هغه: هدایت دی:

﴿ٱهۡدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلۡمُسۡتَقِيمَ۝٦﴾ [الفاتحة: 6]

(ته مونږ ته سَمَه (نېغه) لاره وښَيَه) [الفاتحة سورت: ایت 6].

راز د دعا په خوږوالي کې دی!

هغه د هغه چا سره مینه لري، چې له هغه څخه غوښتنه کوي، او که د دوی دعا نه وي د دوی پروا به يې نه کوله:

﴿قُلۡ مَا يَعۡبَؤُاْ بِكُمۡ رَبِّي لَوۡلَا دُعَآؤُكُمۡۖ فَقَدۡ كَذَّبۡتُمۡ فَسَوۡفَ يَكُونُ لِزَامَۢا۝٧٧﴾ [الفرقان: 77]

(ته (دوی ته) ووایه: زما رب ستاسو څه پروا کوي که ستاسو دعا کول نه وي) [الفرقان سورت: ایت 77].

او د هغو دعاګانو له جملې څخه چې الله ته د نږدې کیدو لپاره زموږ رب- سبحانه و تعالی- موږ ته په خپل قول کې راښودلي دي:

﴿وَٱلَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا هَبۡ لَنَا مِنۡ أَزۡوَٰجِنَا وَذُرِّيَّٰتِنَا قُرَّةَ أَعۡيُنٖ وَٱجۡعَلۡنَا لِلۡمُتَّقِينَ إِمَامًا۝٧٤﴾ [الفرقان: 74]

(او هغه کسان دي چې وایي: ای زمونږه ربه! ته مونږ ته زمونږ له ښځو نه او زمونږ له اولادونو نه د سترګو یخ والی راوبخښه او ته مونږ د متقیانو امام وګرځوه) [الفرقان سورت: ایت 74].

بلکې هغه – سبحانه و تعالی- له دې دعا وروسته د جنت وعده وکړه:

﴿أُوْلَٰٓئِكَ يُجۡزَوۡنَ ٱلۡغُرۡفَةَ بِمَا صَبَرُواْ وَيُلَقَّوۡنَ فِيهَا تَحِيَّةٗ وَسَلَٰمًا۝٧٥﴾ [الفرقان: 75]

(دغه کسان دي چې د صبر کولو په سبب به دوی ته د اوچتو ماڼیو بدله ورکولی شي او په دې (جنت) کې به د ژوند په دعا او سلام سره د دوی استقبال کولی شي) [الفرقان سورت: ایت 75].

خوک چې په الله پورې تړلی وي، او هغه ته پناه ویسي په هر هغه څه چې هغه مهم وي او غواړي يې، او د هغه دروازې ټکول يې په عاجزۍ، دعاء، او اوږد مناجات سره عادت وي؛ الله به هغه ته عزت ورکړي او ساتنه به يې وکړي، او هغه ته به د هغه څه څخه ډیر ورکړي چې هغه غوښتل، او د هغه د ژوند په اوږدو کې به د هغه لپاره مرسته او ملاتړ کوونکی وي.

او زموږ د رب - عزوجل - په دې دنیا کې ورکول د امتحان په توګه وي، او په آخرت کې یې د اجر او جزا په توګه ورکوي.

نو په دې دنیا کې د هغه ورکول د هغه له ارادې سره تړلي دي، او د خلکو ازمایل د هغه په حکمت سره دي؛ ترڅو بنده د دعا او امید په وخت کې خپل رب سره تړلی اوسي، او په خپل توحید او ایمان د دعا او قضاء تر منځ خوشحاله اوسي.

دا تر ټولو ستره ډالۍ او ورکول دي؛ که بنده د ازموینې په حقیقت پوهه شي.

او کله چې بنده په دې پوه شو، ددغې نوم له لارې به بنده د خپل رب سره مینه پیدا کړي، د هغه ستاینه او شکر ادا کوي، او تل به د هغه سره تړلی اوسي.

اې الله تا لره ثنا او ستاینه ده، اې غوره ورکوونکیه

او اې د موخو د ترلاسه کولو لپاره غوره هیلې

او اې هغه غوره ذاته چې د مصیبت د خلاصیدو تمه ور څخه کیدی شي

او اې غوره ذاته چې ډالۍ او ورکړې ورکوي

اې الله! له خپل رحمت څخه موږ ته راکړه؛ ته ورکونکی یې، مونږ، زمونږ مور او پلار او ټولو مسلمانانو ته بخښنه وکړه؛ اې د جهانونو ربه!

35

## الرَّزَّاقُ -جل جلاله- روزي ورکونکی ذات -جل جلاله-

له لوږې وروسته مړښت، له تندې وروسته د تندې ماتیدا، له فقر وروسته شتمنې، له شپګیرۍ وروسته خوب، له ناروغۍ وروسته روغتیا ده، پور به ادا شي، رزق به زیات شي، بندیان به ازاد شي، کړاونه به خلاص شي، او تیارې به لیرې شي،

﴿...فَعَسَى ٱللَّهُ أَن يَأۡتِيَ بِٱلۡفَتۡحِ أَوۡ أَمۡرٖ مِّنۡ عِندِهِۦ ...﴾ [المائدة: 52]

[نو قريب ده چې الله فتح راولي، يا له خپلې خوا نه کوم بل حکم (راولي)] [المائدة سورت: ايت 52].

که اړتياوې مو محاصره کړي، او ستونزې درته پيښې شي، او انديښنې مو راګير کړي، پورونه مو ډېر شي، او رزق مو کم شي؛ نو ته بايد هغه روزونکي ته رجوع وکړې، چې تشويش او غم لرې کوي، او د اړمن غږ بلنې ته ځواب ورکوي.

روزونکی له نږدې وپېژنه، او په دې ستر نوم سره ژوند وکړه؛ هغه څوک چې د اورېدونکي غوږ ته په ننوتو سره يې زړه ډاډمن شي، او روح يې آرام شي، او حالت يې بدل شي.

﴿إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلرَّزَّاقُ ذُو ٱلۡقُوَّةِ ٱلۡمَتِينُ ۝٥٨﴾ [الذاريات: 58]

(بېشکه همدغه الله ښه روزي ورکوونکی، قوت والا، (او) ډېر مضبوط دی) [الذاريات سورت: ايت 58]

. زموږ روزي ورکوونکی رب، د روزۍ کفالت کوونکی، او د هر نفس ساتونکی دی، د هغه رزق او رحمت ټول مخلوق ته بسنه کوي؛ الله –جل وعلا- مؤمن له کافر څخه ځانګړی کړی نه دی، او نه يې دوست له دښمن څخه ځانګړی کړی، څرنګه يې چې زورور ته رسوي کمزوري ته يې هم رسوي، د مور په ګېډه کې يې جنين ته رسوي، او مرغۍ په خپل استوګنځای کې، او مار ته يې په خپل سوري کې، او په سمندر کې يې کبانو ته رسوي.

﴿وَكَأَيِّن مِّن دَآبَّةٖ لَّا تَحۡمِلُ رِزۡقَهَا ٱللَّهُ يَرۡزُقُهَا وَإِيَّاكُمۡۚ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ۝٦٠﴾ [العنكبوت: 60]

(او په ځمکه ډېر خوځنده (زنده سر) دي چې خپل رزق نه پورته کوي، الله دوی ته او تاسو ته روزي درکوي او هغه ښه اورېدونکی، ښه عالم دی). [العنکبوت سورت:ايت 60].

دغه نوم په قرآن کريم کې په واحد ډول يو ځل، او پنځه ځلې د جمعې په بڼه ذکر شوی دی.

(الرزاق) د مبالغې په بڼه راغلی؛ د دې لپاره چې تاسو خپل ځان ډاډمن کړئ، او پوهه شئ چې هغه کریم او مهربان دی، او دا چې زړونه یوازې د هغه –جل وعلا- سره تړلي وي.

له ابوهریره -رضي الله عنه- څخه روایت دی هغه وویل: یو سړي اړتیا درلوده، نو هغه دښتې ته لاړ، او د هغه میرمن وویل: اې الله! موږ ته څه راکړه چې موږ یې اوړه کړو او ډوډۍ پخه کړو.

نو هغه سړی راغی چې ګوري کاسه (لګن، خانک) له خمیره اوړو څخه ډک دي او په تناره کې غوښې پخیږي، او اسیاب (پل) غنم اوړه کوي؛ هغه وویل: دا د کوم ځایه راغلي دي؟ هغې وویل: د الله له رزق څخه، بیا یې د آسیاب (پل) شا او خوا جارو کړل.

رسول الله -صلی الله علیه وسلم- وفرمایل: «لَوْ تَرَكَهَا لَدَارَتْ -أو قال: طَحَنَتْ- إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ» "که هغه یې پرېښودلی وی؛ نو د قیامت تر ورځې پورې به څرخیدلی وی، او یا یې وویل: اوړه کړی وی". [صحیح حدیث دی. طبراني په المعجم الاوسط کې روایت کړی دی].

تقدیرونه لیکل شوي دي ..

که په سمندر کې په یوه ډبره کې شتون ولري

سخته، داغداره، او اطراف یې ښویه وي

د بنده لپاره رزق دی که الله هغه ټاکلی وي نو هغه به وچوي

ترڅو چې هغه ته ورکړي هر څه چې ددی په منځ کې وي

او یا ورته لاره په پورته اوو اسمانونو کې وی

نو الله به د ورختلو لپاره لار اسانه کړې وای

تر څو هغه څه ترلاسه کړي چې په لوح محفوظ کې لیکل شوي دي

هغه به د رزق خوا ته ورشي، او که نه رزق به د هغه خوا ته ورشي

په صحیح بخاري کې راغلي دي چې رسول الله -صلی الله علیه وسلم- وفرمایل: «إِنَّ اللهَ -عز وجل- قَدْ وَكَّلَ بِالرَّحِمِ مَلَكًا؛ فَيَقُولُ: أَيْ رَبِّ نُطْفَةٌ، أَيْ رَبِّ عَلَقَةٌ، أَيْ رَبِّ مُضْغَةٌ! فَإِذَا أَرَادَ اللهُ

أَنْ يَقْضِيَ خَلْقًا قَالَ المَلَكُ: أَيْ رَبِّ! ذَكَرٌ أَوْ أُنْثَى؟ شَقِيٌّ أَوْ سَعِيدٌ؟ فَمَا الرِّزْق؟ فَمَا الأَجَلُ؟ فَيُكْتَبُ كَذَلِكَ فِي بَطْنِ أُمِّهِ». «يقينا، الله - عزوجل – په رحم باندې پرښته مقرر کړې ده؛ هغه وايي: اې د نطفې ربه، اې د وينې د ټوټې ربه، اې د غوښې د ټوټې ربه! نو کله چې الله غوښتلي وي چې يو مخلوق جوړ کړي، پرښته وايي: اې ربه! نارينه که ښځينه؟ بدبخته که خوشبخته؟ رزق يې څومره دی؟ اجل يې څه وخت دی؟ نو دا به د هغه د مور په رحم کې ورته وليکل شي».

نو ستا رزق د روزي ورکوونکي له طرفه تضمين شوی دی، نو هغه د حرص کوونکي حرص نه شي جلبولی، او نه يې کرکه کوونکی ردولی شي.

په حديث کې راغلي: چې نبي -صلى الله عليه وسلم- وفرمايل: «إِنَّ الرِّزْق لَيَطْلُبُ العَبْدَ كَمَا يَطْلُبُهُ أَجَلُهُ» "بيشکه چې روزي بنده په هماغه شکل لټوي لکه څنګه يې چې اجل لټوي". [صحيح حديث دی. د ابن حبان روايت دی]. او هغه -عليه الصلاة والسلام- فرمايلي: "يو نفس تر هغه وخته نه مري تر څو چې خپل رزق يې پوره کړی نه وي". [صحيح حديث دی. ابن ماجه روايت کړی]. او الله په اندازه رزق نازلوي، ځکه چې هغه د خپلو بندګانو په حال ښه پوهيږي او دا چې د هغوی لپاره څه ښه دي.

﴿۞ وَلَوْ بَسَطَ ٱللَّهُ ٱلرِّزْقَ لِعِبَادِهِۦ لَبَغَوْاْ فِي ٱلْأَرْضِ وَلَٰكِن يُنَزِّلُ بِقَدَرٍ مَّا يَشَآءُۚ إِنَّهُۥ بِعِبَادِهِۦ خَبِيرُۢ بَصِيرٞ ٢٧﴾ [الشورى: 27]

(او که چېرې الله د خپلو بنده ګانو لپاره روزي پراخه کړې، نو دوی به په ځمکه کې خامخا سرکشي وکړي او لېکن هغه په يوې اندازې سره څومره چې وغواړي نازلوي يې، بېشکه هغه په خپلو بنده ګانو ښه خبردار، ښه ليدونکی دی) [الشورى سورت: ايت 27]

، ابن کثير -رحمه الله- فرمايي: "هغه باخبر او ښه ليدونکی دی چې څوک د شتمنۍ مستحق دی او څوک د فقر مستحق دی".

د هغه خزانې ډکې دي..

د الله روزي نه ختميږي، او دا ټول يې له کوم فشار، لګښت او سختۍ څخه ترسره کيږي؛ هغه پرته له توښې څخه روزي ورکوونکی دی.

په قدسي حديث کې راغلي: «يَا عِبَادِي! لَوْ أَنَّ أَوَّلَكُمْ وَآخِرَكُمْ وَإِنْسَكُمْ وَجِنَّكُمْ قَامُوا فِي صَعِيدٍ وَاحِدٍ فَسَأَلُونِي؛ فَأَعْطَيْتُ كُلَّ إِنْسَانٍ مَسْأَلَتَهُ؛ مَا نَقَصَ ذَلِكَ مِمَّا عِنْدِي إِلَّا كَمَا يَنْقُصُ المِخْيَطُ إِذَا

أُدْخِلَ البَحْرَ» «اې زما بندګانو! که ستاسو اول او اخر، انسانان او پيريان، که په يوه غونډۍ ودرېږي بيا زما څخه غوښتنه وکړي؛ او زه هر يو ته د هغه غوښتنه ورکړم؛ نو دغه ورکړه به د هغه څه څخه چې زما سره دي کم نکړي، مګر دا چې له سمندر څخه هغه څه کم شي چې يوه ستنه يې له ځانه سره پورته کړي کله چې سمندر کې ننويستل شي». [مسلم روايت کړی]. که څه هم الله ټول مخلوق ته روزي ورکوي؛ دا يوه پراخه مهرباني ده، او له هغه –صلى الله عليه وسلم- څخه په مستند ډول روايت شوی دی چې فرمايي: «مَا أَحَدٌ أَصْبَرُ عَلَى أَذًى سَمِعَهُ مِنَ اللهِ، يَدَّعُونَ لَهُ الوَلَدَ، ثُمَّ يُعَافِيهِمْ وَيَرْزُقُهُمْ» "هيڅوک له الله څخه دير صبر لرونکی ندی، دوی هغه ته د اولاد لرلو دعوه کوي، خو هغه دوی ته شفا او روزي ورکوي". [بخاري او مسلم روايت کړی].

تم شه!

د رزق کثرت د الله –سبحانه و تعالى- په مينې باندې دلالت نه کوي! دا هغه څه دي چې کافران او جاهلان فکر کوي: چې د رزق زياتوالی د الله تعالى په مينه او رضا باندې دلالت کوي، پدې اړه الله فرمايي:

﴿وَقَالُواْ نَحۡنُ أَكۡثَرُ أَمۡوَٰلٗا وَأَوۡلَٰدٗا وَمَا نَحۡنُ بِمُعَذَّبِينَ ٣٥ قُلۡ إِنَّ رَبِّي يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقۡدِرُ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ٣٦﴾ [سبأ: 35-36]

(او دوی به ويل: مونږ د مال او اولاد په لحاظ ډېر زيات يو او مونږ به په عذاب کولی نشو. ته ( دوی ته) ووايه: بېشکه زما رب رزق پراخوي چا ته چې وغواړي او تنګوي يې او ليکن د خلقو اکثريت نه پوهېږي) [سبأ سورت: ايتونه 35-36].

همدارنګه د روزۍ کموالی پر اهانت دلالت نه کوي؛

﴿فَأَمَّا ٱلۡإِنسَٰنُ إِذَا مَا ٱبۡتَلَىٰهُ رَبُّهُۥ فَأَكۡرَمَهُۥ وَنَعَّمَهُۥ فَيَقُولُ رَبِّيٓ أَكۡرَمَنِ١٥ وَأَمَّآ إِذَا مَا ٱبۡتَلَىٰهُ فَقَدَرَ عَلَيۡهِ رِزۡقَهُۥ فَيَقُولُ رَبِّيٓ أَهَٰنَنِ١٦ كَلَّاۖ بَل لَّا تُكۡرِمُونَ ٱلۡيَتِيمَ١٧﴾ [الفجر: 15-17]

(نو هر چې انسان دی، کله چې ده لره خپل رب وازمايي، پس ده ته عزت ورکړي او ده ته نعمت ورکړي، نو دی وايي: زما رب ما ته عزت راکړ. او خو هر کله چې دې وازمايي، پس په ده باندې د ده رزق تنګ کړي، نو دی وايي: زما رب زه سپك كړم) هيڅ کله نه) [الفجر سورت: ايتونه 15-17].

یو له سترو ځیزونو څخه چې بنده ته د زړه خوښي او سکون ورکوي: خپل رب باندې تکیه کول دي، په خپل روزي ورکونکي باندې توکل دی، د هغه په ساتنه او پالنه باندې اکتفا کوي،

﴿إِنَّ وَلِـِّۧيَ ٱللَّهُ ٱلَّذِي نَزَّلَ ٱلۡكِتَٰبَۖ وَهُوَ يَتَوَلَّى ٱلصَّٰلِحِينَ ١٩٦﴾ [الأعراف: 196]

(بېشکه زما مددګار هغه الله دی چې کتاب يې نازل کړی دی او هغه د نېکانو مدد او ملګرتيا کوي) [الأعراف سورت: ایت 196].

او که الله د بنده خیال وساتي؛ تقوا به يې په زړه کې واچوي، او دا د رزق یو له سترو وسيلو څخه دی؛ او دا د ټولو اقتصادي نظريو څخه لويه نظريه ده:

﴿وَلَوۡ أَنَّ أَهۡلَ ٱلۡقُرَىٰٓ ءَامَنُواْ وَٱتَّقَوۡاْ لَفَتَحۡنَا عَلَيۡهِم بَرَكَٰتٖ مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِ وَلَٰكِن كَذَّبُواْ فَأَخَذۡنَٰهُم بِمَا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ٩٦﴾ [الأعراف: 96]

(او که چېرې د کلیو اوسېدونکو ایمان راوړی وَی او پرهېزګاره شوي وَی (، نو) مونږ به خامخا په دوی باندې له اسمان او ځمکې نه برکتونه پرانستلي وی او لیکن دوی تکذیب وکړ، نو مونږ دوی د هغو عملونو په سبب ونیول چې دوی کول) [الأعراف سورت: ایت 96]،

﴿..... وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ يَجۡعَل لَّهُۥ مَخۡرَجٗا ٢ وَيَرۡزُقۡهُ مِنۡ حَيۡثُ لَا يَحۡتَسِبُۚ ....﴾ [الطلاق: 2-3]

(او هغه څوك چې له الله نه ووېرېږي، (نو) هغه به د ده لپاره د وتلو څه ځای پیدا کړي. وَيَرْزُقْهُ) او ده ته به له هغه ځایه رزق ورکړي چې دی به ګمان هم نه کوي) [الطلاق سورت: ایتونه 2-3].

او د الله – عزوجل- سنت په کایناتو کې دادی چې: روزي له اطاعت سره تړلې ده:

﴿وَلَوۡ أَنَّهُمۡ أَقَامُواْ ٱلتَّوۡرَىٰةَ وَٱلۡإِنجِيلَ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيۡهِم مِّن رَّبِّهِمۡ لَأَكَلُواْ مِن فَوۡقِهِمۡ وَمِن تَحۡتِ أَرۡجُلِهِمۚ ....﴾ [المائدة: 66]

(او که یقینًا دوی (احکام د) تورات او انجیل قایم کړي وی او هغه چې دوی ته د دوی د رب له جانبه نازل کړی شوي دي (،نو) دوی به خامخا خوراك کړی و د خپل له پاسه نه او د خپلو پښو له لاندې نه) [المائدة سورت: ایت 66].

او همدارنګه ددی ضد؛ ګناهونه د رزق مخه نيسي او برکت له منځه وړي:

﴿ظَهَرَ ٱلۡفَسَادُ فِي ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِ بِمَا كَسَبَتۡ أَيۡدِي ٱلنَّاسِ لِيُذِيقَهُم بَعۡضَ ٱلَّذِي عَمِلُواْ لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُونَ ٤١﴾ [الروم: 41]

(په وچه او لونده (بر او بحر) کې فساد خور شو، په سبب د هغو (عملونو) چې د خلقو لاسونو کړي دي، د دې لپاره چې هغه (الله) په دوی ځينې برخه (د سزا) د هغو عملونو وڅکوي چې دوی کړي دي، د دې لپاره چې دوی راواپس شي) [الروم سورت: ايت 41].

هيره شوې روزي!

ښه اخلاق، په وطن کې امن، سالم بدن، د يوې ورځې روزي، د محبوب سره ملاقات، د ورور موجوديت، د زوی خندا، ښه ميرمن، ښه ملګری، د روح سکون، سترګې چې ويني، ژبه چې خبرې کوي، غوږ چې اوري، ښه خوب، او د دې څخه لوی: هغه څوک چې الله ورباندې د مور او پلار او يا د هغو څخه د يوه په شتون باندې احسان کړی وي.

او که تا ته ښه اخلاق درکړ شوی وی ... نو ته د روزۍ تقسيمونکي لخوا غوره شوی يې

نو د ځينو خلکو نصيب مال دی او د ځينو نصيب ... علم دی او د ځينو نصيب ښايسته اخلاق دي

بالاخره..

بنده بايد د شيطان د ويرولو څخه خبردار اوسي چې د رزق په اړه يې ويروي؛ الله –عزوجل- فرمايي:

﴿ٱلشَّيۡطَٰنُ يَعِدُكُمُ ٱلۡفَقۡرَ وَيَأۡمُرُكُم بِٱلۡفَحۡشَآءِۖ وَٱللَّهُ يَعِدُكُم مَّغۡفِرَةٗ مِّنۡهُ وَفَضۡلٗاۗ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٞ ٢٦٨﴾ [البقرة: 268]

(شيطان تاسو له غريبۍ څخه ويروي او تاسو ته د بې حيايۍ حکم کوي او الله تاسو سره له خپل جانب نه د مغفرت او فضل وعده کوي او الله پراخه فضل والا، ښه پوه دی) [البقرة سورت: ايت 268].

او له سلفو څخه يو وايي: خلکو په روزئ کې شيطان باندې باور وکړ، او په الله يې باور و نکړ!!

نفس ويريږي چې فقير نشي

فقر تر هغې شتمنۍ غوره دی چې انسان د هغې په وجه سرکشه کيږي

د نفس شتمني کافي ده څکه چې

انکار وکړي، نو ټول هغه څه چې په ځمکه کې دي د هغې لپاره بسنه نه کوي

اې الله! موږ باندې د هدايت او تقوا، عفت او بډاينې پيرزوينه وکړه او ته تر ټولو ښه روزي ورکونکی يې.

36

## الفَتــَّاحُ )اسان کوونکی (-جل جلاله-

اې له ژونده ستړی شويه، له ژونده تنګ راغليه، ای هغه څوکه چې ورځې درباندې سختې شوې، او دردونه دې څکلي دي! هلته ښکاره خلاصون، نږدې بريا، له سختيو وروسته راحت، او له سختۍ وروسته اسانتيا شته، ستا له مخې او تر شا پټ لطف او مهربانۍ، روښانه هيله او د خير څخه ډک راتلونکی، او رښتينې ژمنه شتون لري:

﴿وَعۡدَ ٱللَّهِۖ لَا يُخۡلِفُ ٱللَّهُ وَعۡدَهُۥ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ ٦﴾ [الروم: 6]

(وعده کول د الله، الله د خپلې وعدې مخالفت نه کوي) [الروم سورت: ايت 6].

له الفتاح ذات سره ستا خفګان خلاص او پای مومي، او له الفتاح سره ستا پريشانی راحت دی.

الله – سبحانه و تعالی- د خپل ځان په اړه فرمايي:

﴿قُلۡ يَجۡمَعُ بَيۡنَنَا رَبُّنَا ثُمَّ يَفۡتَحُ بَيۡنَنَا بِٱلۡحَقِّ وَهُوَ ٱلۡفَتَّاحُ ٱلۡعَلِيمُ ٢٦﴾ [سبأ: 26]

(او هم دی ښه فيصله کوونکی، ښه عالم دی) [سبإ سورت: ايت 26].

زموږ رب – تبارک و تعالی - د زړونو بندونه په هدایت، ایمان او تقوی سره خلاصوي.

او زموږ رب – سبحانه وتعالی- هغه ذات دی چې په آخرت کې د خپلو بنده ګانو په منځ کې په حقه سره پرانیزي، قضاوت او فیصله کوي؛ هغه قضاوت چې په هغه کې بې انصافي، انحراف او بې عدالتي نه وي، بلکې هغه به انصاف او حق وي، او الله تر ټولو غوره پرانیستونکی دی:

﴿قُلْ يَجْمَعُ بَيْنَنَا رَبُّنَا ثُمَّ يَفْتَحُ بَيْنَنَا بِٱلْحَقِّ وَهُوَ ٱلْفَتَّاحُ ٱلْعَلِيمُ ۝٢٦﴾ [سبأ: 26]

(ته ووایه: زمونږ رب به زمونږ په مینځ کې جمع وکړي، بیا به زمونږ په مینځ کې په حقه سره فیصله وکړي او هم دی ښه فیصله کوونکی، ښه عالم دی) [سبأ سورت: ایت 26]

. او زموږ رب – سبحانه و تعالی- له خپلو بنده ګانو څخه تکلیفونه لرې کوي، ژر راحت ورکوي، مشقت لرې کوي، مشکلات لرې کوي، او رحمتونه خوروي، د روزی دروازې پرانیزي، او خپلو بندګانو ته دنیاوي چارې خلاصوي چې د هغوی ژوند سره اړخ ولګوي او ژوند یې سم شي.

﴿مَّا يَفْتَحِ ٱللَّهُ لِلنَّاسِ مِن رَّحْمَةٍ فَلَا مُمْسِكَ لَهَا ۖ وَمَا يُمْسِكْ فَلَا مُرْسِلَ لَهُۥ مِنۢ بَعْدِهِۦ ۚ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ۝٢﴾ [فاطر: 2]

( هر هغه شی چې الله یې د خلقو لپاره له رحمته پرانیزي، نو د هغه (رحمت) هیڅوک بندوونکی نشته او هر شی چې هغه یې بند کړي، نو د هغه راخلاصوونکی نشته د هغه (الله) نه بعد، همغه ښه غالب، ښه حکمت والا دی) [فاطر سورت: ایت 2].

او زموږ رب –سبحانه و تعالی-، هغه ذات دی چې د علم، حکمت، پوهې او بصیرت دروازې یې د خپلو پیغمبرانو، اولیاوو او صالحو بندګانو پر مخ پرانیستې دي:

﴿....وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ۖ وَيُعَلِّمُكُمُ ٱللَّهُ ۗ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ۝٢٨٢﴾ [البقرة: 282]

(او له الله نه ووېرېږئ، او الله تاسو ته ښودنه کوي، او الله په هر شي باندې ښه پوه دی) [البقرة سورت: ایت 282].

او زموږ رب – سبحانه و تعالى- هغه څوک دى چې د خپلو نيکو او مومنو بندګانو لپاره يې سلطنتونه او ښارونه پرانيستي.

﴿إِنَّا فَتَحۡنَا لَكَ فَتۡحٗا مُّبِينٗا١﴾ [الفتح: 1]

(بېشکه مونږ تا ته فتح درکړې ده، ښکاره فتح) [الفتح سورت: ايت 1].

او زموږ رب – سبحانه و تعالى – هغه ذات دى چې نافرمانانو ته هر ډول نعمتونه پرانيزي؛ ترڅو هغوى راګير کړي:

﴿فَلَمَّا نَسُواْ مَا ذُكِّرُواْ بِهِۦ فَتَحۡنَا عَلَيۡهِمۡ أَبۡوَٰبَ كُلِّ شَيۡءٍ حَتَّىٰٓ إِذَا فَرِحُواْ بِمَآ أُوتُوٓاْ أَخَذۡنَٰهُم بَغۡتَةٗ فَإِذَا هُم مُّبۡلِسُونَ ٤٤﴾ [الأنعام: 44]

(نو کله چې دوى هغه شى هېر کړ په څه سره چې دوى ته نصيحت شوى و، بيا نو مونږ په دوى باندې د هر شي دروازې پرانستلې تر دې چې دوى لويې وکړه، په سبب د هغه څه چې دوى ته ورکړل شوي وو (،نو) مونږه دوى ناڅاپه ونيول، بيا نو دوى ناګهانه نا امېده وو) [الأنعام سورت: ايت 44] .

همدا ډول الفتاح د هغه له نومونو څخه يو نوم دى ... او فتحه د هغه په اوصافو کې دوه حکمونه دي ... د حکم له مخې فتح، او دا زموږ د الله قانون دى ... او د تقدير فتح دوهمه فتحه ده

او رب پدې دواړو صفتونو سره فتاح دى ... د رحمان ذات فتح په عدل او احسان کې ده

حقيقت ..

ما په دې تعريف کې هغه څه ذکر کړي چې علماوو د الله د نوم (الفتاح) د تعريف په اړه ذکر کړي دي: او هغه جامع تعريف دى، خو په دې کرښو کې به د هغه – عزوجل- پر دې قول تم کېږم:

﴿مَّا يَفۡتَحِ ٱللَّهُ لِلنَّاسِ مِن رَّحۡمَةٖ فَلَا مُمۡسِكَ لَهَاۖ وَمَا يُمۡسِكۡ فَلَا مُرۡسِلَ لَهُۥ مِنۢ بَعۡدِهِۦۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٢﴾ [فاطر: 2]

(هر هغه شی چې الله يې د خلقو لپاره له رحمته پرانيزي، نو د هغه د (رحمت) هيڅوك بندوونكی نشته او هر شی چې هغه يې بند كړي، نو د هغه راخلاصوونكی نشته د هغه (الله) نه بعد، همغه ښه غالب، ښه حكمت والا دی) [فاطر سورت : ايت 2]:

هغه حقيقت چې مؤمن بايد تل په ياد ولري، هغه دا دی چې: د الله –عزوجل- له لارې پرته هيڅ شی نشي تيريدلی، او د الله –عزوجل- د ميدان پرته بل هيڅ اړتيا شتون نلري، او د الله –عزوجل- له لوري پرته د هيڅ شي منځ ته راتلی نشي، هغه يوازې ذات دی چې په جهان كې هيڅ ځواک او قوت نشته مګر د الله –عزوجل- لخوا.

دا ممكنه نه ده چې يوه حجره حركت وكړي، او نه يوه ذره چې شتون ولري، او نه يو تبخير شوی څاڅكی، او نه پاڼه رالويږي پرته د هغه –عزوجل- د ځواک او قدرت - په واسطه.

او ټوله نړۍ نشي كولی د هغې بدۍ مخه ونيسي چې الله –عزوجل- نه وي غوښتلې، او ټوله نړۍ نشي كولی چې له تا څخه د هغه شر مخه ونيسي چې الله –عزوجل- ستا لپاره مقرر كړی وي.

ځينو سلفو خپل يو ورور ته ليكلي وو: اما بعد؛ كه الله درسره وي، له چا څخه وېرېږې؟ او كه ستا پر خلاف وي، نو له چا څخه هيله لرې؟!

## كلياني د هغه په لاس كې دي...

وروسته لدې چې دردونه ناروغ په تكليف كړي او دردونه يې ستړی كړي، نړۍ پرې راتنګه شي، او ډاكټران يې وسې شي، نو هغه روغتيا ته ضرورت لري، او د درملو دروازې د هغه پر مخ بندې شي، نو الرحمن، الفتاح، العليم، الشافي هغه ته د سبب له لارې شفا وركوي، او په يو ضعيف او نږدې سبب سره او يا بغير له كوم سبب څخه شفا وركوي... يقينا هغه –تبارک و تعالی- الفتاح دی.

حالات مو ماتوي، كړاوونه او كړكېچونه دې مخې ته راځي، دردونه مو په زړه كې درېږي، او دروازه مو پر مخ بندېږي؛ آن تر دې چې ته به فكر وكړې چې دغه انديښنه

او کړاو به نه لرې کيږي؛ نو الفتاح ذات به خپله فتحه په آسانۍ سره دروليږي، او د هغه اراده ترسره کيږي لکه څنګه چې هغه وغواړي.

فقر دې راګير کړي، او پورونه دې لاندې کړي، او خيرې به مو بدلې شي، د اولاد په يادولو مو زړه مات شي، له پور ورکوونکي څخه ډارېږي، فکر دې نارامه شي؛ او فکرونه مو ګډوډ شي. او دروازه دې پر مخ وتړل شي.

دلته هغه الفتاح - عزوجل – ذات په پټه توګه خلاصون راوليږي؛ نو پور پرې شي، او فقر له منځه لاړ شي، روح به خوشاله شي.. دا الفتاح ذات دی؛ چا چې د روزۍ دروازې خلاصې کړې.

زوی لاړ شي، پلار مسافر شي، محبوب او ملګری لاړ شي، دنيا تنګه شي؛ روح تنګ شي، فکرونه ګډوډ شي، او کله چې غايب را په ياد شي زړه ولړزيږي؛ دلته مومن د الفتاح پادشاه دروازې ته پريوځي، د غايب د بيرته راستنيدو او ساتلو غوښتنه وکړي؛ که هغه بندي وي او يا مسافر، نو پدې وخت که زيری د اوو اسمانونو له پاسه راشي؛ د غايب په رارسيدو، د بندي په خلاصيدو، او د محبوب بيرته راستنيدلو؛

﴿أَمَّن يُجِيبُ ٱلۡمُضۡطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكۡشِفُ ٱلسُّوٓءَ ....﴾ [النمل: 62]

(بلکې هغه ذات (غوره دی) چې د مجبور ( او عاجز) سوال قبلوي، کله چې دغه (الله) وبلي او هغه تکليف (او سختي) لرې کوي) [النمل سورت: ايت 62].

## هغه ته ورمخ کړه!

هغه آسان کوونکی او پوه ذات – جل و علا-؛ څومره لوړ مقام والا دی، تر ټولو لوړه مرتبه لري، خپل مخلوق ته تر ټولو نږدې، او د خپلو بندګانو لپاره ډېر مهربان دی.

د خلاصوونکي (آسانوونکی) ذات دروازه خلاصه ده، نو کله دې چې ولیده چې رسۍ ټينګيږي؛ نو پوه شه چې هغه پرې کيږي، او کله چې تياره ډيره شي؛ نو د نږدې سهار زيري راتلونکي ته په تمه شه، د لوی ښتن او خلاصوونکي ذات څخه مه سترې کيږه، ځکه چې د يو حالت دوام ناممکن دی، او ترټولو غوره عبادت: د خلاصون انتظار

دی، او ورځې تغیر کوي، او وخت بدلیږي، او شپې امیدواري دي، او غیب پټ دي، الفتاح

﴿يَسۡـَٔلُهُۥ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ كُلَّ يَوۡمٍ هُوَ فِي شَأۡنٖ ٢٩﴾ [الرحمن: 29]

(هر وخت هغه په یوکارکې دی) [الرحمن سورت: ایت 29]،

و

﴿... لَا تَدۡرِي لَعَلَّ ٱللَّهَ يُحۡدِثُ بَعۡدَ ذَٰلِكَ أَمۡرٗا ١﴾ [الطلاق: 1]

(کېدای شي چې الله له دغه نه وروسته کوم (ښه) کار پیدا کړي) [الطلاق سورت: ایت 1]،

﴿فَإِنَّ مَعَ ٱلۡعُسۡرِ يُسۡرًا ٥ إِنَّ مَعَ ٱلۡعُسۡرِ يُسۡرٗا ٦﴾ [الشرح: 5-6]

(فَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا(5) (نو بېشکه له سختۍ سره اساني شته) إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا (6)) (بېشکه له سختۍ سره اساني شته) [الشرح سورت: ایتونه 5-6].

ډاکټر ته ووایه، کله چې مرګ ورته ورسیده:

اې ډاکټره ستا له طبابت سره سره چا مړ کړې؟

ناروغ ته ووایه چې هغه وژغورل شو او روغ شو وروسته لدې چې

د طبابت هنرونه ناکام شول: ته چا روغ کړې؟

روغ کس ته ووایه چې بغیر له کوم علت څخه مړ شي:

اې روغ کسه چا په مرګ باندې پوهه کړې؟

دا حیرانتیاوې دي ترڅو چې هغې څخه واخلې

ستا سترګې او ستا غوږونه پرې خلاص شي

اې انسانه، آرام شه، خه شي

د الله جل جلاله په اړه ته دوکه کړی یې؟

روزي د آسانوونکي ذات لخوا تقسيم شوې، نو ممکن دی د یو کس په اوږد لمونځ سره آسانه شوي وي خو د زياتې روزۍ له امله نه وي، او بل کس لپاره په صدقه ورکولو سره آسانه شوي وي خو د علم  له امله نه وي، او بل کس لپاره په قرآن سره آسانتيا وي خو د نيکو کارونو له امله نه وي، او بل کس لپاره په عزت او له خپل مور او پلار سره په نيکۍ کولو آسانتيا وي... نو مبارک دې وي د هغه چا لپاره چې آسانتياوې ورته شتون ولري.

نو کله چې الله د خپل بنده باطن خوښ کړي ... په هغه باندې به د الفتاح ورکړې ځرګندې شي

او کله چې الله ته د مصلح نيت پاک وي ... هغه ته به بنده ګان په خپلو روحونو باندې رامايله شي

اې الله! موږ لپاره د ځمکې او اسمانونو برکتونه پرانيزه، او زموږ لپاره د خپل رحمت دروازې خلاصې کړه، او موږ د نيکۍ کيلي او د بديو بندوونکي وګرځوه. اې آسانوونکيه، اې د علم څښتنه!

37

## السَّمِـيعُ )اوریدنکی  (ذات -جل جلاله-

په داسې وخت کې چې الله غواړې چې ته پوهه شې: چې هغه د عرش د پاسه برقراره دی، هغه غواړي چې تاسو ډاډه شئ: چې هغه ستا خبرې اوري او ستا کارونه ويني؛ او له هغه څخه ستا هيڅ شی پټ ندی، ستا مناجات، غږ او خبرې اوري، ستا خاطرې د هغه لپاره روښانه دي، ستا دعاګانې اوريدل کيږي، ستا غوښتنه منل کيږي، ستا د بخښنې غوښتنه او توبه قبليږي.

آيا دردونو مات کړی يې؟ آيا ستا روح د خپل رب په شوق کې ژاړي؟ الله ستا ژړا اوري، او هغه ستا د شا (څټ) رګ څخه هم تا ته نږدې دی؛ هغه تا ته ځواب

درکوي، ستا غم محو کوي، ستا پریشانۍ خلاصوي ... هغه اوریدونکی، ښه پوه ذات دی. هغه – سبحانه و تعالی- د خپل ځان په ستاینه کې فرمایي:

﴿... وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ١٣٧﴾ [البقرة: 137]

(او هم هغه ښه اورېدونکی، ښه پوه دی) [البقرة سورت: ایت 137]،

د الله (السمیع) نوم: د هغه ګران کتاب کې په څلور پنځوس ځایونو کې ذکر شوی دی. زموږ رب – سبحانه و تعالی- اوریدونکی دی؛ د هغه اوریدل ټول آوازونه را ګیروي، د پورته او ښکته نرۍ ټول غږونه اوري؛ پټ او ښکاره غږونه، ګواکې دا ټول یو غږ وي، د هغه په نیز غږونه یو له بل سره نه ګډېږي، او ټولې ژبې له هغه څخه نه پټېږي، نږدې او لرې، پټ او ښکاره ورته برابر دي، هغه – سبحانه و تعالی- فرمایي :

﴿سَوَآءٞ مِّنكُم مَّنۡ أَسَرَّ ٱلۡقَوۡلَ وَمَن جَهَرَ بِهِۦ وَمَنۡ هُوَ مُسۡتَخۡفِۭ بِٱلَّيۡلِ وَسَارِبُۢ بِٱلنَّهَارِ ١٠﴾ [الرعد: 10]

(د هغۀ په وړاندې ټول) (یو برابر دي، څوك چې په تاسو كې خبره ورو وكړي او څوك چې يې څرګنده وكړي او هغه څوك چې هغه په شپه كې پټېدونكى دى او په ورځ كې ظاهرېدونكى دى) [الرعد سورت: ایت 10].

او پدې نوم کې د خالق –سبحانه و تعالی- اشتراک له مخلوق سره د مشابهت په معنی ندی –الله تردې ډیر لوړ دی!-؛ ځکه چې د مخلوق صفتونه د هغه د ضعف، کمزورۍ او د هغه د خلقت سره مطابقت لري، او د خالق –تبارک و تعالی- صفات د هغه د کمال او عظمت سره ښايي .

﴿فَاطِرُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ جَعَلَ لَكُم مِّنۡ أَنفُسِكُمۡ أَزۡوَٰجٗا وَمِنَ ٱلۡأَنۡعَٰمِ أَزۡوَٰجٗا يَذۡرَؤُكُمۡ فِيهِۚ لَيۡسَ كَمِثۡلِهِۦ شَيۡءٞۖ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ ١١﴾ [الشورى: 11]

(د هغه په مثل هېڅ شی نشته او هم دغه ښه اورېدونکی، ښه لیدونکی دی) [الشوری سورت: ایت 11].

دلته د اورېدا معنا: اورېدل او احاطه کول دي.

﴿قَدۡ سَمِعَ ٱللَّهُ قَوۡلَ ٱلَّتِي تُجَٰدِلُكَ فِي زَوۡجِهَا وَتَشۡتَكِيٓ إِلَى ٱللَّهِ وَٱللَّهُ يَسۡمَعُ تَحَاوُرَكُمَآۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعُۢ بَصِيرٌ ١﴾ [المجادلة: 1]

(یقینًا الله د هغې ښځې خبره واورېدله چې له تا سره یې د خپل خاوند په باره کې بحث (او سوال و جواب) کاوه او الله ته یې شکایت کاوه او الله ستاسو د دواړو سوال او جواب اورېده، بېشکه الله ښه اورېدونکی، ښه لیدونکی دی) [المجادلة سورت: ایت 1]

، او د: ځواب ورکولو او قبلولو په معنا راځي:

﴿.... إِنَّ رَبِّي لَسَمِيعُ ٱلدُّعَآءِ﴿٣٩﴾﴾[إبراهيم: 39]

(بېشکه زما رب خامخا د دعا ښه اورېدونکی دی) [إبراهيم سورت: ایت 39].

او هغه اوریدونکی دی، چې هر څه ویني او اوري

پټ او ښکاره په کاېناتو کې

او د هر غږ لپاره حاضر غوږ لري

نو پټ او ښکاره هغه ته یو شان دی

او اورېدل د هغه نه پراخه اواز والا دي چې

پټ دي او همدارنګه نږدې

هغه اوریدونکی او نږدې دی:

په "صحیحینو" کې راغلي دي: چې رسول الله -صلی الله علیه وسلم – له صحابه و-رضي الله عنهم – ځخه واورېدل چې په لوړ اواز یې خپل رب رابله: هغه -صلی الله علیه وسلم- وفرمایل: «أَيُّهَا النَّاسُ! ارْبَعُوْا عَلَى أَنْفُسِكُمْ؛ فَإِنَّكُمْ لاَ تَدْعُوْنَ أَصَمَّ وَلَا غَائِبًا، وَلَكِنْ تَدْعُوْنَ سَمِيعًا بَصِيرًا»، "اې خلکو! ځانونو باندې رحم وکړئ؛ ځکه چې تاسو کوڼ او غایب نه رابلئ، بلکه تاسو اوریدونکی او لیدونکی رابلئ". او هرکله چې بنده خپل غږونه او مناجات پای ته ورسوي نو اجابت به راځرګند شي.. ځکه چې هغه ښه اوریدونکی او ډېر پوه دی.

هغه د مجبورانو غږ اوري، د ارمنو دعا قبلوي، د مصیبت ځپلو سره مرسته کوي، او د ثنا ویونکو ثنا اوري، او د دعا کونکو دعا اوري، په توره شپه کې د ښویه ډبرې پر سر د تور میږي د پښو غږ اوري، د زړونو خاطرې اوري، د نفسونو اندیښنې اوري، او د ضمیرونو مناجات اوري.

یوه ښځه راغله چې له رسول الله -صلی الله علیه وسلم- سره د خپل میړه د شخړې په اړه خبرې وکړي - او هغه خوله – رضی الله عنها – او عایشه -رضی الله عنها- د کور په کونج کې وې، هغه وایي چې هغې به یوه کلمه اوریدله او یوه کلمه به یې نه اوریدله، او

له دي بحث وروسته جبرائيل -عليه السلام- پر محمد -صلی الله علیه وسلم- د الله –عزوجل- دغه قول نازل کړ:

﴿قَدۡ سَمِعَ ٱللَّهُ قَوۡلَ ٱلَّتِي تُجَٰدِلُكَ فِي زَوۡجِهَا وَتَشۡتَكِيٓ إِلَى ٱللَّهِ وَٱللَّهُ يَسۡمَعُ تَحَاوُرَكُمَآۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعُۢ بَصِيرٌ ١﴾ [المجادلة: 1]

(یقینًا الله د هغې ښځې خبره واورېدله چې له تا سره يې د خپل خاوند په باره کې بحث (او سوال و جواب) کاوه او الله ته يې شکايت کاوه او الله ستاسو د دواړو سوال او جواب اورېده، بېشکه الله ښه اورېدونکی، ښه ليدونکی دی) [المجادلة سورت: ایت 1]

، څومره عجيب نږدې والی، لويه پوهه، او د اورېدلو احاطه لري! الله خپلو اولياوو ته غوږ نيسي: هغه هم د ځواب، ساتنې او توفيق اورېدا، داسې اورېدا چې د هغوی ويره آراموي لکه څرنګه چې يې د موسی -عليه السلام- ويره آرامه کړه، کله چې هغه د فرعون په لوري له تګ څخه ويره اعلان کړه، نو هغه – جل و علا - ورته وفرمايل:

﴿قَالَ لَا تَخَافَآۖ إِنَّنِي مَعَكُمَآ أَسۡمَعُ وَأَرَىٰ ٤٦﴾ [طه: 46]

[(الله) وويل: تاسو مه وېرېږئ، بېشکه زه له تاسو سره يم، زه اورم او زه وينم] [طه سورت: ایت 46].

الله د دوی ساتونکی دی او الله له دوی سره حساب کونکی دی؛ او هغه کافي دی د حسابۍ لپاره !

د خلاصون کيلياني:

که ويرې تا په څپېړه ووهي، او مشکلات درباندې راشي؛ نو خپل رب ته په دې ستر نوم سره ځان نږدې کړه؛ لکه څنګه چې انبياوو -عليهم السلام- پدې نوم سره الله تعالی ته ځان نږدې کړی و، هغه ذات چې مناجات اوري، د اړتيا په وخت کې ځواب ورکوي، او شر لمنځه وړي .. نو بل چا ته خپل مشکل مه څرګندوه، هغه ته په سجده پرېوځه، د هغه په دروازه کې خپله سوارلۍ ښکته کړه، له هغه سره خبرې وکړه او د هغه په وړاندې وژاړه، بيا د خلاصون په تمه شه.

زکريا -عليه السلام- الله هغه ته هغه څه ورکړل چې د هغه په زړه کې و ورو سته له دې چې هغه په پټه رابللی و؛

﴿إِذۡ نَادَىٰ رَبَّهُۥ نِدَآءً خَفِيّٗا ٣﴾ [مريم: 3]

(کله چې ده خپل رب ته اواز وکړ ډېر ورو اواز) [مريم سورت: ايت 3]،

نو هغه ته يې صالح اولاد ورکړ؛ وروسته لدې چې د هغه په نوم يې تضرع او غوښتنه وکړه:

﴿هُنَالِكَ دَعَا زَكَرِيَّا رَبَّهُۥۖ قَالَ رَبِّ هَبۡ لِي مِن لَّدُنكَ ذُرِّيَّةٗ طَيِّبَةًۖ إِنَّكَ سَمِيعُ ٱلدُّعَآءِ ٣٨﴾ [آل عمران: 38]

(اې زما ربه! ما ته له خپلې خوا نه ښه پاکيزه اولاد راکړه، يقينًا ته د دعا ښه اورېدونکی يې) [آل عمران سورت: ايت 38]

. ابراهيم -عليه السلام- په دې نوم له الله څخه غوښتنه کوي چې عمل يې قبول کړي؛ کله چې هغه او د هغه زوی اسماعيل -عليهما السلام- د کعبې د جوړولو کار پای ته ورساوه:

﴿...رَبَّنَا تَقَبَّلۡ مِنَّآۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ١٢٧﴾ [البقرة: 127]

(ای زمونږه رَبه! زمونږ نه (دا عمل) قبول کړه، ته چې يې، خاص ته، ښه اورېدونکی، ښه عالم يې) [البقرة سورت: ايت 127]

. په دې مبارک نوم سره ابراهيم -عليه السلام- د الله شکر ادا کړ چې د هغه دعا يې قبوله کړه:

﴿ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي وَهَبَ لِي عَلَى ٱلۡكِبَرِ إِسۡمَٰعِيلَ وَإِسۡحَٰقَۚ إِنَّ رَبِّي لَسَمِيعُ ٱلدُّعَآءِ ٣٩﴾ [إبراهيم: 39]

(ټوله ثنا خاص د هغه الله لپاره ده چې ما ته يې سره له زوړوالي نه اسماعيل او اسحاق رابخښلي دي، بېشکه زما رب خامخا د دعا ښه اورېدونکی دی) [إبراهيم سورت: ايت 39]

. په دې نوم سره، د عمران مېرمن د خپل کار په منلو سره خپل رب ته نږدې کيږي؛ کله چې هغې په هغه څه نذر وکړ چې د هغې په ګېډه کې و:

﴿إِذۡ قَالَتِ ٱمۡرَأَتُ عِمۡرَٰنَ رَبِّ إِنِّي نَذَرۡتُ لَكَ مَا فِي بَطۡنِي مُحَرَّرٗا فَتَقَبَّلۡ مِنِّيٓۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ٣٥﴾ [آل عمران: 35]

(کله چې د عمران ښځې وویل: اې زما ربه! بېشکه ما تا لپاره نذر منلی دی د هغه چې زما په ګېډه کې دی، په دې حال کې چې ازاد به وي، نو ته یې له ما نه قبول کړه، بېشکه هم ته ښه اورېدونکی، ښه پوه یې) [آل عمران سورت: ایت 35]

. د فاسدو پلانونو له مخې دنیا په یوسف -علیه السلام- باندې راتنګه شوه؛ نو خپل رب ته یې یې اواز وکړ:

﴿قَالَ رَبِّ ٱلسِّجۡنُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِمَّا يَدۡعُونَنِيٓ إِلَيۡهِۖ وَإِلَّا تَصۡرِفۡ عَنِّي كَيۡدَهُنَّ أَصۡبُ إِلَيۡهِنَّ وَأَكُن مِّنَ ٱلۡجَٰهِلِينَ ٣٣ فَٱسۡتَجَابَ لَهُۥ رَبُّهُۥ فَصَرَفَ عَنۡهُ كَيۡدَهُنَّۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ٣٤﴾ [یوسف: 33-34]

(هغه وویل: اې زما ربه! بندي خانه ما ته ډېره خوښه ده له هغه کار نه چې دوی ما هغه ته بلي او که ته زما څخه د دوی مکر و فریب وانهړوې (، نو) زه به دوی ته مایله شم او شم به له جاهلانو نه. (نو خپل رب یې د ده دعا قبوله کړه، نو له ده نه یې د دوی مکر او فریب وګرځاوه، بېشکه هغه، هم هغه ښه اورېدونکی، ښه پوه دی) [یوسف سورت: ایتونه 33-34]

. یونس -علیه السلام- د کب په ګېډه کې غږ کوي:

﴿... لَّآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنتَ سُبۡحَٰنَكَ إِنِّي كُنتُ مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ٨٧﴾ [الأنبياء: 87]

(نشته هېڅ لایق د عبادت مګر ته یې، ته پاك یې، بېشکه هم زه له ظالمانو څخه یم) [الأنبياء سورت: ایت 87]،

هغه کمزوری غږ چې له دریو تیارو څخه راوتلی اسمان یې خیري کړ، نو بیا اوریدونکي او پوه ذات – جل و علا- هغه له غمه وژغوره:

﴿فَٱسۡتَجَبۡنَا لَهُۥ وَنَجَّيۡنَٰهُ مِنَ ٱلۡغَمِّۚ وَكَذَٰلِكَ نُـۨجِي ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٨٨﴾ [الأنبياء: 88]

(نو مونږ د هغه دعا قبوله کړه او مونږ هغه له غم نه خلاص کړ) [الأنبياء سورت: ایت 88].

او الله – سبحانه و تعالی- خپل بنده ازمایي ترڅو د هغه شکایتونه، زارۍ او دعاګانې واوري، الله –سبحانه و تعالی- فرمایي:

﴿قَالَ إِنَّمَآ أَشۡكُواْ بَثِّي وَحُزۡنِيٓ إِلَى ٱللَّهِ ....﴾ [یوسف: 86]

(هغه وویل: بېشکه همدا خبره ده چې زه د خپلې پرېشانۍ او غم فریاد الله ته کوم) [یوسف سورت: ایت 86].

اوریدونکی ذات ستا ساتنه کوي..

انسي او جني شیطانان به په تا راټول شي؛ نو تا ته به وسوسې او قهر در اچوي تر څو ته خفه او غمجن شې، نو الله تا ته امر کوي چې له هغه څخه مرسته وغواړه او له هغوی څخه د هغه په دوو نومونو (السمیع العلیم) سره پناه وغواړه:

﴿وَإِمَّا يَنزَغَنَّكَ مِنَ ٱلشَّيۡطَٰنِ نَزۡغٞ فَٱسۡتَعِذۡ بِٱللَّهِۚ إِنَّهُۥ سَمِيعٌ عَلِيمٌ٢٠٠﴾ [الأعراف: 200]

(او که چېرې د شیطان له طرفه کومه وسوسه تا (په ګناه کولو) ورتېز کړي، نو په الله پورې پناه ونیسه، بېشکه هغه ښه اورېدونکی، ښه پوه دی) [الأعراف سورت: ایت 200].

د کعبې کور ته نږدې دوه قریشي او یو ثقفي یا دوه ثقفي او یو قریشي سره یو ځای کیږي؛ او د صحابه کرامو په اړه وايي: د دوی په ګېډو کې غوړ ډېر دي، خو زړونه يې لږ عقل لري، یو يې وویل: ته فکر کوې چې الله –تعالی- هغه څه اوري چې موږ يې وایو؟

بل وویل: که په لوړ غږ خبرې وکړو هغه يې اوري، او که پټې خبرې وکړو هغه يې نه اوري.

او بل وویل: که هغه واوري کله چې موږ په لوړ غږ خبرې وکړو؛ نو هغه زموږ پټې خبرې هم اوري! بیا الله – سبحانه و تعالی- دغه آیت نازل کړ:

﴿وَمَا كُنتُمۡ تَسۡتَتِرُونَ أَن يَشۡهَدَ عَلَيۡكُمۡ سَمۡعُكُمۡ وَلَآ أَبۡصَٰرُكُمۡ وَلَا جُلُودُكُمۡ وَلَٰكِن ظَنَنتُمۡ أَنَّ ٱللَّهَ لَا يَعۡلَمُ كَثِيرٗا مِّمَّا تَعۡمَلُونَ ٢٢ وَذَٰلِكُمۡ ظَنُّكُمُ ٱلَّذِي ظَنَنتُم بِرَبِّكُمۡ أَرۡدَىٰكُمۡ فَأَصۡبَحۡتُم مِّنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ٢٣﴾ [فصلت: 22-23]

(او تاسو به (د ګناه د کولو په وخت کې) ځان له دې نه نه پټولو چې په تاسو به ستاسو غوږونه او ستاسو سترګې او ستاسو څرمنې ګواهي ورکړي او لیکن تاسو به دا خیال کاوه چې بېشکه الله په ډېرو هغو کارونو نه پوهېږي چې تاسو يې کوئ. (او دغه ستاسو هغه (خراب) ګمان دی چې تاسو

به په خپل رب (دغه) ګمان کاوه، دغه تاسو هلاك كړئ، نو له تاوانیانو څخه شوئ) [فصلت سورت: ایتونه 22-23].

پند او نصیحت ..

زموږ نبي -صلى الله عليه وسلم- به په دغو دوو نومونو:(السميع العليم) پناه غوښته، کله چې د شپې لمانځه لپاره پاڅېده؛ هغه به ویل: «أَعُوذُ بِاللهِ السَّمِيعِ العَلِيمِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ؛ مِنْ هَمْزِهِ وَنَفْخِهِ وَنَفْثِهِ» "زه هغه الله ته پناه غوارم چې اوریدونکی او پوهه دی د رټل شوي شیطان څخه؛ د هغه د هڅولو، او پو کولو څخه". [صحیح حدیث دی. ابوداود روایت کړی]. او هغه – صلى الله عليه وسلم- په دغو دوو نومونو سره (السميع العليم) پناه غوښتله، له هر هغه مصیبت څخه چې ورته رسیده: «مَنْ قَالَ: بِسْمِ اللهِ الَّذِي لَا يَضُرُّ مَعَ اسْمِهِ شَيْءٌ، فِي الأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ، وَهُوَ السَّمِيعُ العَلِيمُ، ثَلَاثَ مَرَّاتٍ؛ لَمْ تُصِبْهُ فَجْأَةُ بَلَاءٍ حَتَّى يُصْبِحَ، وَمَنْ قَالَهَا حِينَ يُصْبِحُ ثَلَاثُ مَرَّاتٍ؛ لَمْ تُصِبْهُ فَجْأَةُ بَلَاءٍ حَتَّى يُمْسِيَ» "چاچې وویل: د هغه الله په نامه چې ضرر نشي رسولی د هغه له نوم سره هیڅ یو شی پر ځمکه او نه په آسمان کې او هغه اوریدونکی او پوهه دی، درې ځلې، نو تر سهاره پورې به ورته هیڅ شی ضرر ونه رسوي، او چا چې سهار درې ځلې وویل، نو تر شپې پورې به ورته هیڅ شی ضرر ونه رسوي". [صحیح حدیث دی. ابوداود روایت کړی].

او د دې نوم (السميع) په احساس کولو سره تا دې ته هڅوي چې دایم هغه – سبحانه و تعالی- ته نږدې اوسې.

اې اوریدونکیه.. اې د علم خښتنه! موږ له هغو کسانو څخه وګرځوه چې ستا نه یې غواړي او ته یې ځواب ورکوې، او هغه تاته تضرع او عاجزي کوي او ته وربانديې ورحمیږې.

38

## البـَصِيرُ )هر څه لیدونکی (ذات -جل جلاله-

ابو نعیم په الحلیه کې لیکلي دي چې امیر المؤمنین عمر بن الخطاب -رضي الله عنه- د شپې له خوا د مدینې په کوڅو کې تېر شو؛ له یوې بوډۍ ښځې یې واورېدل چې

خپلې لور ته يې وويل: «شيدې له اوبو سره ګډې کړه، نجلۍ ورته وويل: ته نه پوهېږې چې عمر -رضی الله عنه- د شيدو له اوبو سره ګډول منع کړي؟ بوډۍ وويل: او عمر چېرته دی چې مونږ ووينې؟! نجلۍ چې د الله – تبارک و تعالی- لخوا يې د هغوی دواړو په ليدلو يقين درلود وويل: که عمر مونږ ونه ويني؛ د عمر رب خو مو ويني!».

په دې دنيا کې داسې خلک شته چې په لوړ مقام، دايمي امن، دايمي خوښۍ، او په حق کې استقامت، او له بندګۍ څخه خوند اخلي؛ او دا يوازې د دې لپاره دي چې دوی پوهيږي چې: الله هر هغه څه ګوري چې دوی يې کوي.

د الله (البصير) نوم په قرآن کريم کې په دوه څلويښتو ځايونو کې ذکر شوی دی، هغه – سبحانه و تعالی - فرمايلي:

﴿...إِنَّ ٱللَّهَ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ١١٠﴾ [البقرة: 110]

(بېشکه الله هغه عمل لره ښه ليدونکی دی چې تاسو يې کوئ) [البقرة سورت: ايت 110]،

زمونږ رب چې هر څه ويني؛ که هرڅومره دقيق او واړه وي، نو هغه په توره شپه کې د تور ميږي د پښو اواز اوري چې په خويه ډبرې روان وي، هغه هر هغه څه ګوري چې د اوو ځمکو لاندې دي، لکه څرنګه يې چې د اوو اسمانونو څخه پورته ويني.

هغه د هر څه ليدونکي، په ټولو حالاتو او په پټو چارو پوه دی: با خبر دی، د باطني چارو په اړه معلومات لري.

او هغه ليدونکی دی، د تور ميږي ګرځيدا ويني ...د ځمکې او ډبرې لاندې ... او د هغې په غړو کې د خوړو لارې ويني ... او هغه د دوی د سپينوالي رګونه په واضح ډول ګوري

او د سترګو خيانتونه ويني ... او همدارنګه د سترګو د بڼو اوړېدل راوړېدل هم ويني

زمونږ رب – سبحانه و تعالی - د ځان لپاره د (ليدلو) صفت ثابت کړی دی نو الله لره دوه ريښتيني سترګې دي څنګه چې د هغه د ذات – سبحانه و تعالی- سره لايقې دي - مونږ په هغو باندې باور لرو پرته له تحريف، تعطيل، تمثيل، او تاويل څخه.

﴿... لَيۡسَ كَمِثۡلِهِۦ شَيۡءٞۖ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ ١١﴾ [الشورى: 11]

(د هغه په مثل هېڅ شی نشته او هم دغه ښه اورېدونکی، ښه ليدونکی دی) [الشورى سورت: ايت 11]

. او په دې نوم کې له خالق سره د مخلوق تړاو د مشابهت معنا نلري: ځکه د مخلوق صفتونه د هغه د ضعف، عاجزۍ او د خلقت په تناسب دي، او د خالق صفتونه د هغه –سبحانه و تعالی- د کمال او عظمت لايق دي؛

﴿...لَيۡسَ كَمِثۡلِهِۦ شَيۡءٞۖ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ ١١﴾ [الشورى: 11]

(د هغه په مثل هېڅ شی نشته او هم دغه ښه اورېدونکی، ښه ليدونکی دی) [الشورى سورت: ايت 11].

او د هغه –عزوجل- له رحمت څخه  په خپلو بندګانو باندې دا دي: چې هغوی په رحمت سره مخاطب کړي، او هغوی د خپل ځان اطاعت او اخلاص ته وهڅوي؛ سربېره پر دې چې هغه ذات له هغوی څخه بې نيازه دی؛ او د غالب الله په کتاب کې هغه – سبحانه و تعالی- فرمايي: (إِنَّ اللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ) ، بیشکه چې الله هغه څه ويني چې تاسو يې کوئ، تر ځلويښت ځله ډير ياد کړی دی، ترڅو مؤمن ته تذکر حاصل شي، او غافلانو ته خبر ورکړي چې الله د دوی په اعمالو باندې خبر دی.

د اطاعت )تابعدارۍ (خوړوالی ..

څوک چې پوهه شي چې د هغه رب يې ګوري؛ هغه شرميږي چې الله هغه په خپلو نافرمانيو يا په هغه څه کې چې د هغه نه خوښيږي وګوري؛ او څوک چې پوه شي چې الله هغه ويني؛ هغه خپل عمل او عبادت په ښه شکل ترسره کوي، او په خپل عمل او عبادت  کې به دومره اخلاص وکړي تر دې چې د احسان مقام ته ورسيږي؛ کوم چې د اطاعت لوړ مقام دی؛ چې محبوب -صلى الله عليه وسلم- يې په اړه فرمايلي: «أَنْ تَعْبُدَ اللَّهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ، فَإِنَّ لَمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَإِنَّهُ يَرَاكَ» «د الله داسې عبادت وکړه لکه څنګه چې ته هغه ګورې، که چېرته ته هغه نه وينې، نو هغه تا ويني» [بخاري او مسلم روايت کړي] نو کله چې هغه دې مقام ته ورسيد هغه به له الله سره د بندګانو په خاص معيت کې وي، لکه څرنګه چې الله – تبارک و تعالی- په قدسي حديث کې فرمايلي دي: «وَمَا يَزَالُ عَبْدِي يَتَقَرَّبُ إِلَيَّ بِالنَّوَافِلِ حَتَّى أُحِبَّهُ، فَإِذَا أَحْبَبْتُهُ؛ كُنْتُ سَمْعَهُ الَّذِي يَسْمَعُ بِهِ، وَبَصَرَهُ الَّذِي يُبْصِرُ بِهِ» "او زما بنده په نوافلو سره ما ته نږدې کيږي ترڅو چې زه هغه سره مينه وکړم، نو کله چې زه

هغه سره مينه وکړم؛ زه د هغه لپاره غوږ یم چې په هغه سره اوري، او د هغه لپاره سترګه یم چې په هغه سره ويني". [بخاري روايت کړی].

څوک چې پوه شي چې الله هغه ګوري چې له څه ازموينې سره مخ دی، زړه به يې آرامه شي، د نفس لپاره به يې سکون راشي، او ډاډه به شي چې خلاصون نږدې دی.

او څوک چې پوه شي چې هغه يې ويني نو له الله څخه به حيا وکړي چې هغه په خپلو اعمالو او خبرو کې خيانت کوونکی ووینې او پداسې حال چې بندګانو ته يې فريب ورکوي..

ابن عمر -رضي الله عنه- له خپلو څو ملګرو سره مکې ته روان شو، په لاره کې يې استراحت وکړ، يو شپون له غره څخه راښکته شو، ابن عمر -رضی الله عنه- ورته وویل: اې شپونه! پر موږ يوه پسه خرڅ کړه!

شپون وویل: زه مريا يم - يعنې زه يو اخيستل شوی غلام يم.

ابن عمر -رضي الله عنه- ورته وويل: خپل بادار ته ووايه: لیوه وخوړ، شپانه ورته وويل: الله چيرته دی؟

ابن عمر وژړل، غلام (شپون) يې له خپل بادار څخه واخيست او ازاد يې کړ.

که چيرته کوم وخت په خلوت کې وې، مه وايه

چې يواځې يم، ليکن ووايه چې ما باندې څارونکی شته

او دا فکر مه کوه چې الله به يوه لحظه درڅخه غافل وي

او نه هغه څه چې پټ وي له هغې څخه به غايب وي

ځينو هڅه وکړه چې يوې کوچۍ ښځې سره زنا وکړي؛ نو هغه ورته وويل: يواځې ستوري موږ ويني، هغې ورته وويل: ددې ستورو خالق چيرته دی؟

ويل شوي دي: چا چې الله په خپلو خيالونو کې څارونکی وګڼه؛ الله به هغه د غړو په حرکاتو کې وساتي.

او که ته هغه اوو کسانو ته وګورې چې الله به په هغه ورځ هغوی تر خپل سیوري لاندې راولي چې د هغه له سیوري پرته به بل سیوری نه وي؛ ته به د هغوی ترمنځ مشترک شی دا ومومې: چې هغوی په سمه طریقه ایمان راوړی و، داسې چې الله یې وینې؛ نو دوی د هغه عبادت کاوه لکه څنګه چې دوی هغه وینې؛ نو له دوی امله هغوی دغه منزلت ترلاسه کړ.

په دغه نوم سره یې د موسی -علیه السلام- د قوم څخه یو صالح سړي دعا وکړه، او الله – تبارک و تعالی- ته یې پناه یوړه، او د فرعون او د هغه د قوم د مکر او فریب څخه یې پدې نوم باندې منګولې ولګولې:

﴿فَسَتَذۡكُرُونَ مَآ أَقُولُ لَكُمۡۚ وَأُفَوِّضُ أَمۡرِيٓ إِلَى ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ بَصِيرُۢ بِٱلۡعِبَادِ﴿٤٤﴾﴾ [غافر: 44]

(او زه خپل کار الله ته سپارم، بېشکه الله (خپلو) بنده ګانو لره ښه لیدونکی دی) [غافر سورت: ایت 44]،

نو پایله یې څه وه؟ الله د هغه دعا قبوله کړه:

﴿فَوَقَىٰهُ ٱللَّهُ سَيِّـَٔاتِ مَا مَكَرُواْۖ وَحَاقَ بِـَٔالِ فِرۡعَوۡنَ سُوٓءُ ٱلۡعَذَابِ﴿٤٥﴾﴾ [غافر: 45]

(نو الله هغه د دوی د مکرونو له بدیو نه بچ وساته او (پخپله) اٰل فرعون ډېر سخت عذاب ګېر کړل) [غافر سورت: ایت 45] .

ای هغه ځوکه چې د مچیو قطار شوي وزرونه وینې

د شپې په تکه توره تیاره کې

او د هغه رګونه چې د هغې په غاړه کې دي

او د ضعیفو هډوکو مغز هم وینې

ما باندې د توبې ویستلو احسان وکړه چې پاک شي

هغه څه چې ما مخکې کړي وو

مؤمن ته له پټو ګناهونو او په هغه باندې د اصرار کولو څخه خبرداری ورکول کيږي او دا چې توبه هم و نه باسي، په صحيح حديث کې له ثوبان -رضي الله عنه- څخه نقل شوي، چې وايي: رسول الله -صلى الله عليه وسلم- وفرمايل: «لَأَعْلَمَنَّ أَقْوَامًا مِنْ أُمَّتِي يَأْتُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِحَسَنَاتٍ أَمْثَالَ جِبَالِ تِهَامَةَ بِيضًا، فَيَجْعَلُهَا اللهُ -عز وجل- هَبَاءً مَنْثُورًا»، «زه به پوه شم چې زما د امت ځينې خلک به د قيامت په ورځ د تهامې د سپينو غرونو په څير د نيکو عملونو سره راشي، نو الله –عزوجل- به يې عملونه برباد کړي»، ثوبان وويل: ای د الله رسوله! مونږ ته يې بيان کړه، موږ ته يې واضح کړه؛ داسې نه چې مونږ د هغوی له ډلې څخه نه شو او مونږ به خبر هم نه يو! هغه وفرمايل: «أَمَا إِنَّهُمْ إِخْوَانُكُمْ، وَمِنْ جِلْدَتِكُمْ، وَيَأْخُذُونَ مِنَ اللَّيْلِ كَمَا تَأْخُذُونَ، وَلَكِنَّهُمْ أَقْوَامٌ إِذَا خَلَوْا بِمَحَارِمِ اللهِ انْتَهَكُوهَا» «خبردار! دوی ستاسو ورونه دي، او ستاسو له جنس څخه دي، او دوی د شپې څخه اخلي لکه څنګه چې تاسو يې اخلی (د شپې عبادت کوي)، مګر دا هغه خلک دي چې کله د الله د محرماتو سره يواځې شي سرغړونې کوي». [ابن ماجه روايت کړی] او هغوی ريا کاران دي چې د خلکو لپاره عبادت کوي او الله نه يادوي مګر لږ.

او خلوت لوړوي او يا راښکته کوي، نو څوک چې په خلوت کې د الله تعظيم وکړي، خلک به د هغه په ښکاره کې تعظيم وکړي.

ابن رجب الحنبلي -رحمه الله- فرمايي: «کوچنی نفاق د باطن او ظاهر توپير له امله رامنځته کيږي»، او ويې ويل: «ښه پايله نشي راتلی مګر د چا چې باطن يې ښه وي؛ ځکه چې د مرګ شيبه نشي جعلي کيدلی، نو په هغه وخت کې نه راوځي مګر هر هغه څه چې دننه په زړه کې وي».

اې الله اې ليدونکی ذاته! زموږ په کمزوريو رحم وکړه او زموږ له نيمګړتياوو او زموږ له تيروتنو څخه تير شه او د مسلمانانو مرګ مو په نصيب کړه؛ اې د جهانونو ربه.

39

## التَّوَّ ابُ )ډير ژر توبه قبلونکی (ذات -جل جلاله-

عمر بن الخطاب -رضي الله عنه- فرمايي: "توبه کوونکو سره کښينئ! ځکه چې هغوی نرم زړونه لري".

بدي مې وکړه او ښه مې ندي کړي او تا ته توبه کوونکی راغلی يم ... او غلام کله کولی شي چې د خپل بادار څخه وتښتي

د بخښنې امید لري نو که نا امیده شو ... نو په ځمکه کې به د هغه نه بل څوک نا امیده پیدا نشي

مونږ د الله – جل وعلا- د (التواب) له نوم سره پاتي کيږو:

د الله (التواب) نوم څومره خوږ دی! دغه نوم ګناهګار ته امید ورکوي چې نوې د خوښۍ مرحله پیل کړي، او هغه پرې د نا امیدۍ او تیارو له دایرې څخه راووځي،

﴿أَلَمۡ يَعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ هُوَ يَقۡبَلُ ٱلتَّوۡبَةَ عَنۡ عِبَادِهِۦ وَيَأۡخُذُ ٱلصَّدَقَٰتِ وَأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ١٠٤﴾ [التوبة: 104]

(ایا دوی نه پوهېدل چې یقینًا الله دی چې هغه د خپلو بنده ګانو توبه قبلوي او صدقې اخلي او دا چې ببشکه الله، هم دی ښه توبه قبلوونکی، بې حده مهربان دی) [التوبة سورت: ایت 104].

زموږ رب –سبحانه و تعالی- توبه قبلوونکی دی، هغه خپل ځان په توبه قبلونکي (التواب) د مبالغې صيغې سره وصف کړی، له دې امله چې د هغه بندګان پرله پسې ګناهونه کوي؛ لدې امله د مبالغی د صيغې په بڼه راغلی، ترڅو د لویو خطاګانو په مقابل کې پراخه توبه قرار ولري.

هغه – سبحانه و تعالی – د توبه کوونکو توبه قبلوي، او د رجوع کونکو ګناهونه معافوي؛ حتا که توبه تکرار شي، قبليدل هم تکراریږي  تر لا یتناهی پورې.

الله  -سبحانه وتعالی- فرمایي- :

﴿فَمَن تَابَ مِنۢ بَعۡدِ ظُلۡمِهِۦ وَأَصۡلَحَ فَإِنَّ ٱللَّهَ يَتُوبُ عَلَيۡهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٌ٣٩﴾    [المائدة: 39]

(نو چا چې له خپل ظلم نه پس توبه وکړه او (د ځان) اصلاح یې وکړه، نو بېشکه الله د ده توبه قبلوي، بېشکه الله ډېر بخښونکی، یې حده مهربان دی) [المائدة سورت: ایت 39].

په المستدرک کې راغلي: یو سړی رسول الله -صلی الله علیه وسلم- ته راغی او ویې ویل: اې د الله رسوله! له موږ څخه یو کس ګناه کوي، هغه وفرمایل: هغه باندې لیکل کېږي، بیا یې وویل: له هغه څخه بخښنه غواړي او توبه وباسي، ویې فرمایل: «يُغْفَرُ لَهُ وَيُتَابُ عَلَيْهِ، وَلَا يَمَلُّ اللَّهُ حَتَّى تَمَلُّوا» "هغه بخښل کیږي او توبه یې قبلیږي، او الله نه ستړې کیږي تر هغه چې تاسو ستړي نشئ". [حسن حدیث دی].

هر څوک چې الله ته نصوحا توبه وباسي؛ الله یې توبه قبولي.

الله څومره مهربان دی!

او د الله سخاوت ته وګوره چې خپل بنده ته عزت ورکوي چې د توبې قبلول یې د بنده د توبې څخه مخکې او وروسته له توبې څخه ټاکلی دي، نو د بنده توبه د خپل رب –سبحانه و تعالی- د دوو توبو په منځ کې ده، : مخکې او وروسته.

لومړی الله د هغه توبه قبوله کړه: د اجازې، توفیق او الهام له مخې؛ کله چې د هغه زړه یې توبې ته په حرکت راوست، بیا یې توبه وویسته، او دا احسان د مهربان، رحم کوونکي او بخښوونکي الله له طرفه دی.

بیا چې کله هغه په ربښتیا توبه وباسي نو الله یې توبه قبوله کړي، ګناهونه او خطاګانې یې ورته وبخښي، الله – سبحانه و تعالی- فرمایي:

﴿... ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ لِيَتُوبُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ۝١١٨﴾ [التوبة: 118]

(بیا هغه (الله) پر دوی مهرباني وکړه، د دې لپاره چې دوی توبه وباسي، بېشکه چې الله، هم دی ښه توبه قبلوونکی، یې حده مهربان دی) [التوبة سورت: ایت 118].

له الله پرته بل معبود نشته، هغه لره د اول او آخري توبې احسان دی.

همدارنګه د هغه له صفاتو څخه دا دي چې توبه قبلوي ... او توبه د هغه په صفتونو کې دوه ډوله ده

بنده ته د توبې اجازه ورکول او د هغې قبلول ... وروسته د توبې نه د احسان کوونکی ذات په احسان سره

همدارنګه د نیک عمل اجر په همدې شکل دی؛ بنده ته يې الهام کړی، بیا يې اجر ورکړی؛ نو الله په احسان او فضل سره پیل کوونکی دی، او په ورکړه او مهربانۍ سره احسان کوونکی دی.

پند او نصیحت ..

او توبه: پر ټولو انسانانو واجب ده، د ژوند په ټولو پړاوونو کې د مؤمنانو او نافرمانو په ګډون؛ ځکه الله – سبحانه و تعالی- فرمایلي دي:

﴿.... وَتُوبُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ٣١﴾ [النور: 31]

(او تاسو ټول الله ته توبه وباسئ اې مومنانو! د دې لپاره چې تاسو کامیاب شئ) [النور سورت: ایت31].

توبه: له هغه کمال څخه ده چې الله تعالی يې خوښوي، کوم کمی نه دی، او الله – سبحانه و تعالی- فرمایلي دي:

﴿.... إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلتَّوَّٰبِينَ وَيُحِبُّ ٱلۡمُتَطَهِّرِينَ ٢٢٢﴾ [البقرة: 222]

(یقینًا الله ډیر توبه وېستونکي خوښوي او ښه پاك اوسېدونکي خوښوي) [البقرة سورت: ایت 222]،

او الله -سبحانه وتعالی- فرمایلي دي - :

﴿لَّقَد تَّابَ ٱللَّهُ عَلَى ٱلنَّبِيِّ وَٱلۡمُهَٰجِرِينَ وَٱلۡأَنصَارِ ....﴾ [التوبة: 117]

(یقینًا الله په مهربانۍ سره رجوع وکړه په خپل نبي او مهاجرو او انصارو باندې) [التوبة سورت: ایت 117]،

. هغه -سبحانه وتعالی- د ادم -علیه السلام- په اړه وفرمایل:

﴿فَتَلَقَّىٰٓ ءَادَمُ مِن رَّبِّهِۦ كَلِمَٰتٖ فَتَابَ عَلَيۡهِۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ٣٧﴾ [البقرة: 37]

(نو ادم له خپل رب نه څو کلمې زده کړې، نو د هغه توبه يې قبوله کړه) [البقرة سورت: ايت 37]

. او د إبراهيم او إسماعيل -عليهما السلام- په اړه يې وفرمايل:

﴿... وَأَرِنَا مَنَاسِكَنَا وَتُبْ عَلَيْنَآ إِنَّكَ أَنتَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ١٢٨﴾ [البقرة: 128]

(او مونږ ته زمونږ د عبادت طريقې وښيه او زمونږه توبه قبوله کړه، يقيناً همدا ته ډېر ښه توبه قبلوونکی، يې حده رحم کوونکی يې) [البقرة سورت: ايت 128].

او د موسی -عليه السلام- په اړه يې وفرمايل:

﴿... وَخَرَّ مُوسَىٰ صَعِقًا فَلَمَّآ أَفَاقَ قَالَ سُبْحَٰنَكَ تُبْتُ إِلَيْكَ وَأَنَا۠ أَوَّلُ ٱلْمُؤْمِنِينَ ١٤٣﴾ [الأعراف: 143]

(نو کله چې په خود شو، وېې ويل: زه ستا پاکي بيانوم، زه تا ته توبې وباسم او زه تر ټولو اول ايمان راوړونکی يم) [الأعراف سورت: ايت 143].

دا معلومه خبره ده: چې پيغمبران د لويو او کوچنيو ګناهونو له اقرار څخه پاک دي او په هغه څه سره چې هغه يې د توبې په اړه ويلي دي، د دوی درجې لوړوي او د دوی نيک عملونه لويوي؛ ځکه چې هغه؛ هغه کسان خوښوي چې توبه کوونکي او پاک وي.

او په صحيح البخاري کې له هغه - عليه الصلاة والسلام - څخه روايت دی چې فرمايي: «وَاللهِ! إِنِّي لَأَسْتَغْفِرُاللّٰهَ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ فِي اليَوْمِ أَكْثَرَ مِنْ سَبْعِينَ مَرَّةً». «په الله قسم! زه په ورځ کې له اويا ځلو څخه زيات له الله څخه بخښنه غواړم او هغه ته توبه کوم».

که چېرته تاسو ګناه نه کولی..

او الله پوهيږي چې بندګان يې له نيمګړتياوو او کميو خالي ندي، او په همدې ډول يې پيدا کړي دي؛ ترڅو په دوی کې خپل رحم، بخښنه او توبه وښيي، او هغه - عليه الصلاة والسلام – فرمايي: «لَوْ أَنَّكُمْ لَمْ تَكُنْ لَكُمْ ذُنُوبٌ يَغْفِرُهَا اللهُ لَكُمْ، لجَاءَ اللهُ بِقَوْمٍ لهُمْ ذُنُوبٌ يَغْفِرُهَا لهُمْ» "که تاسو کومه ګناه نه درلوده چې الله به يې تاسو ته بخښې، نو الله به داسې خلک راوستي وای چې هغوی ګناهونه لرل ترڅو يې هغوی ته بخښنه کړې وای". [مسلم روايت کړی] هغه - عليه الصلاة والسلام- وفرمايل: «كُلُّ ابْنِ آدَمَ خَطَّاءٌ، وَخَيْرُ الخَطَّائِينَ

التَّوَّابُونَ» "د آدم ټول اولاد خطا کوونکي دي، او تر ټولو غوره خطا کوونکي هغه دي چې توبه وباسي" [صحیح حدیث دی. ترمذي روایت کړی]. الله – تبارک و تعالی- د خپلو بندګانو د توبې په قبلولو سره د خپل ځان ستاینه کړې ده. هغه وویل:

﴿غَافِرِ ٱلذَّنۢبِ وَقَابِلِ ٱلتَّوۡبِ شَدِيدِ ٱلۡعِقَابِ ذِي ٱلطَّوۡلِۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ إِلَيۡهِ ٱلۡمَصِيرُ ٣﴾ [غافر: 3]

(د ګناهونو بخښونکی او د توبې قبلوونکی دی، ډېر سخت عذاب والا د لوی فضل والا دی، نشته دی هېڅ حق معبود مګر هم دی دی، خاص هم ده ته بېرته ورتلل دي) [غافر سورت: ایت 3]

. او الله غواړي: چې د هغه بندګان پوهه شي : چې هغه د خپل بنده توبه قبلوي؛ حتی که د هغه ګناهونه لوی وي.

﴿...ٱللَّهَ يَغۡفِرُ ٱلذُّنُوبَ جَمِيعًاۚ ...﴾ [الزمر: 53]

(بېشکه الله ټول ګناهونه بخښي) [الزمر سورت: ایت 53].

زمونږ رب له مونږ او زمونږ له عبادت څخه بې پروا دی، خو لدې سره هم د خپل بنده په توبه ډېر خوشحالیږي، کله چې توبه وکړي، نو الله څومره عزتمند دی! او الله څومره ښکلی دی! او الله څومره مهربانه دی!

په صحیحینو کې له رسول الله - علیه الصلاة والسلام- څخه روایت دی چې فرمایي: «لَلَّهُ أَشَدُّ فَرَحًا بِتَوْبَةِ عَبْدِهِ المُؤْمِنِ مِنْ رَجُلٍ فِي أَرْضٍ دَوِّيَّةٍ مَهْلِكَةٍ، مَعَهُ رَاحِلَتُهُ عَلَيْهَا طَعَامُهُ وَشَرَابُهُ، فَنَامَ فَاسْتَيْقَظَ وَقَدْ ذَهَبَتْ، فَطَلَبَهَا حَتَّى أَدْرَكَهُ العَطَشُ. "الله د خپل مومن بنده په توبه دومره خوشحالیږي لکه چې په تباه کوونکي دښته کې د یو سړي خپله سوارلۍ وي چې په هغې باندې د هغه خواړه او څښاک وي، او هغه ویده شي او کله چې ویښ شي، ګوري چې سوارلۍ یې تللې ده، نو هغه یې و لټوي تر څو چې تنده پرې راشي.

ثُمَّ قَالَ: أَرْجِعُ إِلَى مَكَانِيَ الَّذِي كُنْتُ فِيهِ؛ فَأَنَامُ حَتَّى أَمُوتَ، فَوَضَعَ رَأْسَهُ عَلَى سَاعِدِهِ لِيَمُوتَ، فَاسْتَيْقَظَ وَعِنْدَهُ رَاحِلَتُهُ، وَعَلَيْهَا زَادُهُ وَطَعَامُهُ وَشَرَابُهُ، فَاللهُ أَشَدُّ فَرَحًا بِتَوْبَةِ العَبْدِ المُؤْمِنِ مِنْ هَذَا بِرَاحِلَتِهِ وَزَادِهِ». بیا له ځان سره ووایي: زه به بیرته هغه ځای ته لاړ شم چیرې چې زه وم؛ او ویده به شم ترڅو چې مړ شم، نو هغه خپل سر په خپل مټ کېښود چې مړ شي، نو کله چې را ویښ شو

ګوري چې سوارلۍ يې تر څنګ ولاړه ده، او په هغې باندې د هغه غوټې اوخوراک او څښاک دی، نو الله د مؤمن بنده په توبه تر دې هم زيات خوشحاليږي چې دغه سړی په خپلې سوارلۍ او غوټې خوشحاله شو».

ابن تيميه -رحمه الله- فرمايلي: "هرڅوک چې توبه کوي نو هغه د الله محبوب دی".

﴿... إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلتَّوَّٰبِينَ وَيُحِبُّ ٱلۡمُتَطَهِّرِينَ ٢٢٢﴾ [البقرة: 222]

(يقيناً الله ډېر توبې وېستونكي خوښوي او ښه پاك اوسېدونكي خوښوي) [البقرة سورت: ايت 222].

نو هغه ذات چې پر خپلو بندګانو باندې دغسې د رحمت صفت ولري: ټوله مينه بايد هغه ته ورکړل شي، او يوازې د هغه عبادت وشي پرته له شريک نيولو څخه، او د دې مينې اغيزې د هغه په خالص عبادت کولو سره ښکاره شي، او هغه ته د هغه د اطاعت او له هغه چا سره مينه کول چې هغه له هغوی سره مينه کوي، او د هغه چا څخه نفرت وکړي چې هغه له هغوی څخه نفرت کوي.

بلال بن سعد ووېل: تاسو لره داسې رب دی چې په تاسو کې يو چا ته په عاجله توګه سزا نه ورکوي، خندا لري کوي، توبه قبلوي، او رجوع کوونکی ته مخ کوي، او په شا تګ کوونکی سره خواخوږي کوي.

﴿وَهُوَ ٱلَّذِي يَقۡبَلُ ٱلتَّوۡبَةَ عَنۡ عِبَادِهِۦ وَيَعۡفُواْ عَنِ ٱلسَّيِّـَٔاتِ وَيَعۡلَمُ مَا تَفۡعَلُونَ ٢٥﴾ [الشورى: 25]

(او دی همغه ذات دی چې د خپلو بنده ګانو توبه قبلوي او د بديو معافي کوي او په هغو کارونو پوهيږي چې تاسو يې کوئ) [الشورى سورت: ايت 25].

د دروازې په درشل کې ..

توبه: له نافرمانۍ څخه اطاعت ته، له بدۍ څخه نېکۍ ته، او د نافرمانۍ له وحشت څخه د مهربان ذات نږدې کېدلو ته تېښته ده.

دا د خالق څخه د هغه دروازې ته تيښته ده، دا د خالق څخه د هغه د دروازې خولې ته تېښته ده، او د جبار ذات څخه د هغه ساحې ته، او د هغه له عذاب څخه

د هغه په بخښنې سره پناه غوښتل، او د هغه له عقاب  څخه بخښنې ته، او د هغه څخه پر هغه باندې چې مونږ د هغه ثنا ویل نشو شمیرلی، او پرته له هغه څخه د خلاصون هیڅ څه نشته، او له هغه څخه تیښته نشته مګر د هغه خوا ته؛

﴿فَفِرُّوٓاْ إِلَى ٱللَّهِۖ إِنِّي لَكُم مِّنۡهُ نَذِيرٞ مُّبِينٞ ۝٥٠﴾ [الذاريات: 50]

(نو تاسو الله ته وتښتئ، بېشکه زه ستاسو لپاره د هغه له جانبه ښکاره وېروونکی یم) [الذاریات سورت: ایت 50].

اې ربه، که زما ګناهونه لوی او ډېر وي ... نو بېشکه زه پوهېږم چې ستا بخښنه ډېره لویه ده

نو که له تا څخه له نیکانو پرته بل څوک امید و نلري ... نو مجرم به له چا څخه مرسته وغواړي او چا ته به پناه ویسي؟

علي بن ابي طالب -رضي الله عنه- فرمايي: «تعجب دی د هغه چا لپاره چې هلاک شي او له هغه سره نجات وي! وویل شول: هغه څه دي؟ ویې ویل: توبه او استغفار». ابن القیم -رحمه الله- فرماېلي: «ډېری هغه څه چې یو مسلمان ګناه ته اړ باسي (په توبه باندې تکیه کول دی) او که چیرې هغه پوه شي چې د تکیه کولو او د توبې تر منځ به ممکن مانع راشي نو ویره به يې راپورته شي».

او رښتیني توبه یوازې په دې کیدی شي: د ګناه پریښودل، پښیمانه کیدل، د هغې د نه تکرارولو هوډ کول، او د هغه په ځای نیک عمل سره کول، بیا که حقوق العبد وي هغه باید د هغه خښتن ته وسپارل شي.

شقیق البلخي –رحمه الله- ویلي: «د توبې نخښه: د هغه څه لپاره ژړل چې مخکې شوي دي، په ګناه کې د اخته کیدو ویره، د بدانو پریښودل، او د ښو خلکو سره پاتې کیدل دي».

صادقانه توبه قبلیږي پرته له دوو وختونو څخه: کله چې لمر له لویدیځ څخه پورته شي، او د ځنکدن په وخت کې.

او الله –عزوجل- به خپل مؤمن بنده ازمايي چې د هغه څه په واسطه د بنده بندګي بشپړه کړي، او هغه خپل رب ته تضرع، عاجزي، او رجوع وکړي.

نو ځومره خلک له الله څخه لرې شوي دي؛ او الله –عزوجل- هغوی باندې تنګستيا راوستلې تر څو هغه بيرته راستون شي، او کله چې بيرته راستون شي نو د هغه د نړدې کيدو خوند وڅکي، او د استقامت او توبې د نعمت احساس وکړي؛ هغه د دې مصيبت او سختۍ لپاره د الله شکر ادا کړي چې د هغه د نجات او برياليتوب لامل وګرځيد.

﴿وَلَنُذِيقَنَّهُم مِّنَ ٱلۡعَذَابِ ٱلۡأَدۡنَىٰ دُونَ ٱلۡعَذَابِ ٱلۡأَكۡبَرِ لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُونَ٢١﴾ [السجدة: 21]

(او مونږ به خامخا هرومرو په دوی د نژدې (لږ) عذاب نه وڅكوو، له ډېر لوی عذاب نه مخكې، د دې لپاره چې دوی (له كفر نه اسلام ته) راوګرځي) [السجدة سورت: ايت 21]

. نو که له خپلې سرغړونې او انحراف سره پريښودل شوې او توبه دې ونه ويستله، او نعمتونه دې خپلې مخې ته وليدل؛ نو پوه شه چې هغه ستا څخه کرکه لري، او دا چې دا د هغه له خوا ستا د راګيرولو لپاره يو فرصت دی؛ ځکه الله –عزوجل- فرمايلي:

﴿فَلَمَّا نَسُواْ مَا ذُكِّرُواْ بِهِۦ فَتَحۡنَا عَلَيۡهِمۡ أَبۡوَٰبَ كُلِّ شَيۡءٍ حَتَّىٰٓ إِذَا فَرِحُواْ بِمَآ أُوتُوٓاْ أَخَذۡنَٰهُم بَغۡتَةٗ فَإِذَا هُم مُّبۡلِسُونَ ٤٤﴾ [الأنعام: 44]

(نو كله چې دوی هغه شی هېر كړ په څه سره چې دوی ته نصيحت شوی و، بيا نو مونږ په دوی باندې د هر شي دروازې پرانستلې تر دې چې دوی لويي وكړه، په سبب د هغه څه چې دوی ته وركړل شوي وو (،نو) مونږه دوی ناڅاپه ونيول، بيا نو دوی ناګهانه نااميده وو) [الأنعام سورت: ايت 44]

. نو کله دې چې توبه اعلان کړه؛ نو له الله څخه د استقامت غوښتنه وکړه، ځکه دا د رسول الله -صلی الله علیه وسلم- له دعاوو څخه وه: «اللَّهُمَّ يَا مُقَلِّبَ القُلُوْبِ! ثَبِّتْ قَلْبِي عَلَى دِينِكَ» "اې الله، د زړونو بدلوونکيه! زما زړه په خپل دين ټينګ وساته" [صحيح حديث دی. بخاري په «الادب المفرد» کې روايت کړی].

اې الله! زموږ توبه قبوله کړه، ځکه ته تر ټولو زيات توبه قبلوونکی او مهربان يې، او موږ او زموږ مور او پلار ته بخښنه وکړه؛ ځکه ته بخښونکی او مهربان يې.

40

## العـَلِيمُ )پراخ علم لرونکی (ذات -جل جلاله-

سينې په خيالونو، فکرونو، نيتونو او ارادو پوښلې دي، چې د هغې د اوريدلو هيڅ کومه لاره نشته، هيڅ ليد ورته نه رسيږي؛ مګر حکيم او پوه ذات له هغې څخه باخبره دی.

ضميرونه د افکارو له ذخيرو څخه پټ ساتل کيږي؛ نه نږدې ملايکې، نه رالیږل شوی پيغمبر، نه کوم محبوب دوست، او نه يو باصلاحيته عالم، او نه هم يو سرکښ شيطان په دې پوهيږي؛ مګر په غيبو پوه ذات هغو باندې پوهيږي.

جنين د مور په رحم کې د يوې پردې تر شا په بله پرده کې پوښل کيږي؛ نو معلومه نه وي چې ژوندی دی که مړ؟ نارينه ده که ښځينه؟ بد نصيب دی که خوش نصيب؟

هغه نه خپل ژوند، خپل معاش او نه خپل عمر پيژني! هغه څوک چې په هرڅه پوهيږي په دې پوهيږي.

﴿... وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ﴿٢٨٢﴾﴾ [البقرة: 282]

(او الله په هر شي باندې ښه پوه دی) [البقرة سورت: ايت 282].

پوهه: د ناپوهۍ ضد دی.

او زموږ  د رب – سبحانه و تعالی- پوهه ظاهر او باطن، پټ او ښکاره، پورته او لاندې نړۍ، تير زمان، حاضر او راتلونکي باندې احاطه لري.

﴿يَعۡلَمُ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡ وَلَا يُحِيطُونَ بِهِۦ عِلۡمٗا ﴿١١٠﴾﴾ [طه: 110]

(دغه (الله) پوهېږي په هر هغه څه چې د دوی په وړاندې دي او په هر هغه څه چې د دوی وروسته دي او دوی د هغه د علم احاطه نشي کولی) [طه سورت: ایت 110].

او هغه – عزوجل- هر هغه څه باندې خبر دی چې د هغه مخلوق په سینو پټ کړي دي؛ د ایمان او کفر، حق او باطل، خیر او شر له لحاظه.

﴿.. إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ١١٩﴾ [آل عمران: 119]

(بېشکه الله ښه پوهه دی پر هغو (خبرو) چې په سینو (زړونو) کې دي) [آل عمران سورت: ا۝ت 119]۝

﴿.. وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ٢٨٢﴾ [البقرة: 282]

(او الله په هر شي باندې ښه پوه دی) [البقرة سورت: ایت 282].

پټې خبرې د هغه په نیز په لوړ اواز خبرې دي، او رازونه هغه لره ښکاره دي، او پټ شیان د هغه په نیز څرګند دي.

او هغه په هر څه پوه دی، او د هغه علم په هرڅه احاطه کړې ده ... په کاېناتو کې له پټو او ښکاره وو ... او په هر شي باندې د هغه پاک ذات پوهه دی ... لرې شیان هغه ته تر نږدې شیانو ډیر نیږدې دي

هېڅ ناپوهي د هغه په پوهې باندې مخکې نه ده او نه هېڅکله ... څه شی هېروي لکه څنګه چې انسان هېروي

هغه پوه ذات دی:

پاڼه د هغه په پوهې سره غورځېږي، تېت اواز د هغه په پوهې سره منځ ته راځي، او خبره د هغه په پوهې سره کېږي، نیت د هغه په پوهې سره تړل کېږي، او ځاځکی د هغه په پوهې سره راښکته کېږي.

د ژوندي او مړ، لوند او وچ، حاضر او غائب، پټ او لوړ، ډیر او لږ معلومات:

﴿۞ وَعِندَهُۥ مَفَاتِحُ ٱلۡغَيۡبِ لَا يَعۡلَمُهَآ إِلَّا هُوَۚ وَيَعۡلَمُ مَا فِي ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِۚ وَمَا تَسۡقُطُ مِن وَرَقَةٍ إِلَّا يَعۡلَمُهَا وَلَا حَبَّةٖ فِي ظُلُمَٰتِ ٱلۡأَرۡضِ وَلَا رَطۡبٖ وَلَا يَابِسٍ إِلَّا فِي كِتَٰبٖ مُّبِينٖ ٥٩﴾ [الأنعام: 59]

(او خاص له الله سره د غیبو چابیانې دي، یوازې هغه پر دغو عالم دی او هغه عالم دی پر هغه څه چې په وچه او سمندر کې دي، او هېڅ یوه پاڼه نه غورځېږي مګر هغه پرې عالم دی او د ځمکې په تیارو کې نه یوه دانه (پرېوځي) او نه لوند څیز او نه وچ مګر (دا ټول) په ښکاره کتاب (لوح محفوظ) کې دي) [الأنعام سورت: ایت 59].

او ځینو صحابه وو له خپل ځان سره خبرې وکړې او چا ته يې څرګندې نکړې، بلکه هغه یې پټې وساتلې؛ نو الله – عزوجل- دا نازل کړ:

﴿... عَلِمَ ٱللَّهُ أَنَّكُمۡ كُنتُمۡ تَخۡتَانُونَ أَنفُسَكُمۡ ....﴾ [البقرة: 187]

(الله ته معلوم دي چې یقینًا تاسو له خپلو ځانونو سره خیانت کاوه) [البقرة سورت: ایت 187].

او رسول الله -صلى الله عليه وسلم- خپلو ځینو مېرمنو ته یوه خبره بیان کړه، نو ځینې یې بیان کړ او له نورو څخه یې مخ واړوه، هغې وویل: دا چا درته وویل؟

﴿... قَالَتۡ مَنۡ أَنۢبَأَكَ هَٰذَاۖ قَالَ نَبَّأَنِيَ ٱلۡعَلِيمُ ٱلۡخَبِيرُ ٣﴾ [التحریم: 3]

(ده وویل: ما ته ډېر پوه (او) ښه خبردار ذات خبر راکړ) [التحریم سورت: ایت 3].

عمیر بن وهب او صفوان بن امیه – له بدر وروسته – د شپې کعبې سره نږدې کېناستل او د رسول الله -صلى الله عليه وسلم- د وژلو پلان یې جوړاوه؛ بیا الله – عزوجل- خپل پیغمبر ته د دوی د دسیسې خبر ورکړ او د دوی له کړنو يې خبر کړ:

﴿قَالَ رَبِّي يَعۡلَمُ ٱلۡقَوۡلَ فِي ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِۖ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ٤﴾ [الأنبياء: 4]

[(رسول دوی ته) وویل: زما رب په اسمان او ځمکه کې په هره خبره پوهېږي او هم هغه ښه اورېدونکی، ښه عالم دی]. [الأنبياء سورت: ایت 4]

. او په تبوک کې منافقینو یو بل سره خبرې وکړې او د رسول الله -صلى الله عليه وسلم - او صحابه وو – رضي الله عنهم- او د دین په اړه یې توهین او ملنډې ووهلې؛ نو په غیبو پوهیدونکي ذات خپل پیغمبر ته د دوی له مکر، چالاکۍ او ملنډو څخه خبر ورکړ.

﴿أَلَمۡ يَعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ سِرَّهُمۡ وَنَجۡوَىٰهُمۡ وَأَنَّ ٱللَّهَ عَلَّٰمُ ٱلۡغُيُوبِ٧٨﴾ [التوبة: 78]

(ايا دوى پر دې نه دي پوه شوي چې بېشکه الله د دوى پر پټو (نيتونو) او د دوى پر پټو مشورو عالم دى او (دوى پر دې نه دي پوهه شوي) چې بېشکه الله پر ټولو پټو خبرو ښه عالم دى) [التوبة سورت: ايت 78].

د الله پوهه بشپړه او پراخه ده:

﴿إِنَّمَآ إِلَٰهُكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِي لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۚ وَسِعَ كُلَّ شَيۡءٍ عِلۡمٗا ٩٨﴾ [طه: 98]

(بېشکه همدا خبره ده چې ستاسو معبود هغه الله دى چې نشته هېڅ لايق د عبادت مګر هم دى دى، ده د علم په لحاظ هر شی، راګېر کړی). [طه سورت: ايت 98].

هيڅ يو مخلوق د هغه –عزوجل- د پوهې په کمال کې ورته والی نلري:

﴿... لَيۡسَ كَمِثۡلِهِۦ شَيۡءٞۖ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ١١﴾ [الشورى: 11]

(د هغه په مثل هېڅ شی نشته او هم دغه ښه اورېدونکی، ښه ليدونکی دی). [الشورى سورت: ايت 11].

﴿لَّقَدۡ صَدَقَ ٱللَّهُ رَسُولَهُ ٱلرُّءۡيَا بِٱلۡحَقِّۖ لَتَدۡخُلُنَّ ٱلۡمَسۡجِدَ ٱلۡحَرَامَ إِن شَآءَ ٱللَّهُ ءَامِنِينَ مُحَلِّقِينَ رُءُوسَكُمۡ وَمُقَصِّرِينَ لَا تَخَافُونَۖ فَعَلِمَ مَا لَمۡ تَعۡلَمُواْ فَجَعَلَ مِن دُونِ ذَٰلِكَ فَتۡحٗا قَرِيبًا٢٧﴾ [الفتح: 27]

(پس هغه ته معلوم دي هغه څه چې تاسو ته معلوم ندي، نو له دغې نه مخکې يې نژدې برى عطا کړ). [الفتح سورت: ايت 27]،

او که انسانان يو څه باندې پوهه ترلاسه کړي، هغه د الله –سبحانه وتعالى- له تعليم څخه دي چې هغوى ته يې ورکړې دى؛ او هره شرعي او قدري پوهه غالب او حکيم الله – سبحانه و تعالی- ته ورګرځي؛

﴿قَالُواْ سُبۡحَٰنَكَ لَا عِلۡمَ لَنَآ إِلَّا مَا عَلَّمۡتَنَآۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡعَلِيمُ ٱلۡحَكِيمُ٣٢﴾ [البقرة: 32]

(هغوى ووېل : ته پاك يې، مونږ ته هېڅ علم نشته سِوا له هغه نه چې تا مونږ ته راښودلی دی، بېشکه، خاص ته، ښه عالم، ښه حکمت والا يې). [البقرة سورت: ايت 32].

او الله -سبحانه وتعالى- فرمايي- :

﴿... وَعَلَّمَكَ مَا لَمْ تَكُن تَعْلَمُۚ وَكَانَ فَضْلُ ٱللَّهِ عَلَيْكَ عَظِيمًا ﴿١١٣﴾﴾ [النساء: 113]

(او تا ته يې هغه څه درزده کړي دي چې ته پرې نه پوهېدلې). [النساء سورت: ايت 113].

او که خلک خپله پوهه او هغه څه چې دوی يې معلومات لري راټول کړي؛ دا به د الله د پراخې پوهې په تړاو خورا بې ارزښته وي؛

﴿وَيَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلرُّوحِۖ قُلِ ٱلرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّي وَمَآ أُوتِيتُم مِّنَ ٱلْعِلْمِ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٨٥﴾﴾ [الإسراء: 85]

(او دوی له تا نه د روح په باره کې پوښتنه کوي ته (ورته) ووايه: روح زما د رب له امره څخه دی او تاسو ته له علم څخه برخه نه ده درکړل شوې مګر ډېره لږه). [الإسراء سورت: ايت 85]

. خضر موسی -عليه السلام- ته وويل کله چې دوی په کښتۍ کې سپاره شول، نو يوه مرغۍ يې وليدله چې د کښتۍ په څنډه کيناسته، نو مښوکې باندې يې په سمندر کې يوه يا دوه ځلې ټونګه ووهله، خضر ورته وويل: "اې موسی! زما او ستا پوهې د الله په پوهه کې څه کمښت نه دی راوستی مګر څومره چې د مرغۍ مښوکې له سمندر څخه کمه کړېده...".

حقيقت..

او زموږ رب – عزوجل- ، د غيبو په پوهې باندې ځانګړی دی:

﴿۞ وَعِندَهُۥ مَفَاتِحُ ٱلْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَآ إِلَّا هُوَۚ ...﴾ [الأنعام: 59]

(او خاص له الله سره د غيبو چابياني دي، يوازې هغه پر دغو عالم دی) [الأنعام سورت: ايت 59]،

او له هغه څخه يې پنځه ياد کړل:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ عِندَهُۥ عِلْمُ ٱلسَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ ٱلْغَيْثَ وَيَعْلَمُ مَا فِي ٱلْأَرْحَامِۖ وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ مَّاذَا تَكْسِبُ غَدًاۖ وَمَا تَدْرِي نَفْسُۢ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوتُۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرُۢ ﴿٣٤﴾﴾ [لقمان: 34]

(بېشکه الله چې دی، خاص له هغه سره د قيامت علم دی او هغه باران نازلوي او هغه (په يقيني طريقه، بې له وسايلو) پوهېږي په هر هغه څه چې په رحمونو کې دي او هېڅ يونفس نه پوهېږي

چې هغه به سبا ته څه کار کوي او هېڅ يو نفس نه پوهېږي چې په کومه ځمکه (سيمه) کې به مري، بېشکه الله ښه عالم، ښه خبردار دی) [لقمان سورت: ايت 34].

دا د غيبو پنځه چابيانې دي چې يوازې الله هغه باندې پوهيږي:

1- د قيامت پوهه: د اخرت د ژوند لپاره د پيل چابي.

2- د باران ورل : د نباتاتو سره د ځمکې د ژوند چابي.

3- د رحمونو پوهه: د دنيا د ژوند چابي.

4- په دې پوهيدل چې سبا به څه کيږي: په راتلونکي کې د ترلاسه کولو چابي.

5- د مرګ د ځای پوهه: د برزخ د ژوند چابي، او د هر انسان قيامت د دې پر اساس وي.

د غيب علم بې له شکه تر دې زيات او پراخ دی چې يوازې تر دغو پنځو پورې محدود وي، او دلته خبر ورکول دا دی: د ځينو مهمو بيانول، نه د ټولو په ادعا سره، ځکه چې الله فرمايي:

﴿قُل لَّا يَعۡلَمُ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ ٱلۡغَيۡبَ إِلَّا ٱللَّهُۚ ....﴾ [النمل: 65]

(ته (دوی ته) ووايه: هر هغه څوک چې په اسمانونو او ځمکه کې دي په غيبو نه پوهېږي غير له الله نه او دوی نه پوهېږي) [النمل سورت: ايت 65].

او څوک چې دا دعوه کوي چې له الله – سبحانه و تعالی- پرته بل څوک په غيبو پوهيږي هغه په هغه څه کفر وکړ چې پر محمد -صلى الله عليه وسلم- نازل شوی دی.

او پيغمبران په غيبو هيڅ نه پوهيږي؛ پرته له هغه څه چې الله ورته ويلي وي، عايشه -رضی الله عنها- وايي: «څوک چې دا دعوه کوي چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- له هغه څه نه خبر ورکوي چې سبا به کيږي؛ نو هغه په الله باندې لوی تهمت ويلی دی!»

﴿.... وَلَوۡ كُنتُ أَعۡلَمُ ٱلۡغَيۡبَ لَٱسۡتَكۡثَرۡتُ مِنَ ٱلۡخَيۡرِ وَمَا مَسَّنِيَ ٱلسُّوٓءُۚ ...﴾ [الأعراف: 188]

(او که چېرې زه پر غیبو عالم وَی (، نو) ما به خامخا ډېر خیر حاصل کړی و او ما ته به هېڅ تکلیف نه و رارسېدلی) [الأعراف سورت: ایت 188]،

نو د هغه چا به څه حال وي چې د دوی نه په ټېټه مرتبه کې دي؟!

په دې کې ستا برخه ...

چاته چې الله پوهه ورکړې ده، که څه هم لږه وي؛ الله –عزوجل- هغه ته منزلت ورکړی:

﴿... يَرۡفَعِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمۡ وَٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَ ...﴾ [المجادلة: 11]

(الله به په تاسو کې هغه کسان په درجو کې اوچت کړي چې ایمان یې راوړی دی او هغه کسان چې هغوی ته علم ورکړی شوی دی) [المجادلة سورت: ایت 11]،

نو د هغه کس مقام به څه وي چې یو متقي عالم او الله وپېژني، او د هغه حق ادا کړي؟ هغوی د الله په علم یقین لري؛ نو هغه لره د هغوی ویره او تعظیم ډېر شو، نو له همدې امله الله د هغوی پاکوالی له اوو اسمانونو د پاسه بیان کړ؛ او فرمايي:

﴿...إِنَّمَا يَخۡشَى ٱللَّهَ مِنۡ عِبَادِهِ ٱلۡعُلَمَٰٓؤُاْۗ ...﴾ [فاطر: 28]

(بېشکه هم دا خبره ده چې له الله نه د هغه په بنده ګانو کې یوازې عالمان وېرېږي). [فاطر سورت: ایت 28].

نو پوهه: د عزتمند صفتونو اصل دی، کوم چې انسان لوړو مقامونو ته رسوي.

او دې مقام ته رسیدل نه کیږي مګر په علم سره او دا چې له الله څخه يې په دوامداره توګه وغواړي، او زموږ د رسول الله -صلی الله علیه وسلم- د دعا په متابعت سره چې الله ورته ښوولي دي:

﴿... وَقُل رَّبِّ زِدۡنِي عِلۡمٗا﴿١١٤﴾﴾ [طه: 114]

(ای زما ربه ما ته (زما) په علم کې زیاتوالی راکړې). [طه سورت: ایت 114]

. ابن حزم -رحمه الله- فرمایلي: او په علومو کې تر ټولو عزتمند: هغه ده چې تا خپل رب ته نږدې کړي. ابن القيم -رحمه الله- فرمايي: "که چیرته د ډېرو خلکو ناپوهي

ددې خوند –د پوهې خوند- او منزلت څخه نه وای؛ نو هغوی به ددې خوند د تر لاسه کولو لپاره په تورو يو بل سره جګړه کړې وای،خو دا د سختيو په پرده پوښل شوې ده، او هغوی له هغه څخه د ناپوهۍ په پرده کې پټ پاتې شوي دي؛ ترڅو الله د هغه لپاره هغه څوک غوره کړي چې هغه غوښتي وي، او الله د لوی فضل والا دی".

(اې الله، اې پوه ذاته! موږ ته هغه څه را زده کړه چې موږ ته ګټه رسوي، او موږ ته د هغه څه څخه ګټه راکړه چې تا موږ ته را زده کړي دي، او زموږ پوهه زياته کړه).

41

## العـَظـِيمُ )لوی او د عظمت څښتن (ذات -جل جلاله-

تا لره پاکي ده اې عظيم ذاته!

له هر چا څخه چې وغواړې واک اخلې، له شتمنۍ وروسته يې بې وزله کوې، له لوړتيا وروسته يې ټيټوې، له عزت وروسته يې ذليلوې، له ځواک وروسته يې کمزوری کوې، که وغواړې د چا مقام لوړوې، چا ته چې وغواړې توفيق ورکوې، چا ته چې وغواړې مقبوليت وربخښې، چا ته چې وغواړې ورکوې يې او چا ته چې و نه غواړې نه يې ورکوې؛ ټول خير او نيکي ستا په اختيار کې دي؛ ته هر څه باندې ځواکمن يې.

له تا پرته بل معبود نشته، لوی او حليم ذاته.

ستا صفتونه ډېر دي، اې ستر ذاته، نا شونی ده چې

تا باندې د ثنا ويوونکي ثنا وشميرل شي

العظيم -عزوجل-: د الله له نيکو نومونو څخه يو نوم دی، زموږ د لوی رب يو لوی نوم دی، چې په اساس او معنا کې: جلال او عظمت، عزت او لوړ مقام ته ويل کيږي.

د لوی وقار، پياوړي وينا، او لوړې معنا لرونکی دی، هغه – تبارک و تعالی - فرمايلي:

﴿.... وَهُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡعَظِيمُ﴾ [البقرة: 255]

(او هم هغه ډېر اوچت دی، ډېر لوی دی). [البقرة سورت: ايت 255].

او العظيم- عزوجل -: د عظمت ، ستر او لوړ مقام لرونکی دی، او هغه؛ هغه ذات دی چې د عقل له حد څخه تير شوی دی چې د هغه د ماهيت او حقيقت د پوهيدو تصور نشئ کيدلی.

زمونږ رب په خپل ذات کې لوی دی، په عظمت او لويې کې د هغه په شان هېڅ څېز نشته..

د هغه له عظمت څخه: دا دي چې د هغه په لاس کې اسمانونه او ځمکه د خردل (سرسې) له دانې څخه هم کوچنی دی.

﴿وَمَا قَدَرُواْ ٱللَّهَ حَقَّ قَدۡرِهِۦ وَٱلۡأَرۡضُ جَمِيعٗا قَبۡضَتُهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَٱلسَّمَٰوَٰتُ مَطۡوِيَّٰتُۢ بِيَمِينِهِۦۚ سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ٦٧﴾ [الزمر: 67]

(او دغو (مشرکانو) د الله تعظيم ونه کړ د هغه حق تعظيم، حال دا چې ځمکه ټوله د ده په قبضه کې ده د قيامت په ورځ کې او اسمانونه د ده په ښي لاس کې رانغاړل (راټول کړی) شوي دي، ده لره پاکي ده او هغه ډېر اوچت دی له هغو څیزونو نه چې دوی يې (له هغه سره) شريکوي) [الزمر سورت: ايت 67]

. او له هغه - عليه الصلاة و السلام - څخه صحيح روايت دی چې هغه فرمايلي دي: «ما السَّمَاوَاتُ السَّبعُ فِي الكُرْسِيِّ إِلَّا كَحَلْقَةٍ مُلْقَاةٍ بِأَرْضِ فَلَاةٍ، وَفَضْلُ العَرْشِ عَلَى الكُرْسِيِّ كَفَضْلِ تِلْكَ الفَلَاةِ عَلَى تِلْكَ الحَلْقَةِ» "اوه اسمانونه په کرسی کې ندي مګر لکه داسې چې يوه کړۍ (رنګ) په يوه لويه دښته کې غورځول شوی وي؛ او د عرش لوی والی (غوره والی) په کرسی باندې داسې دی لکه د دغې دښتې لوی والی (غوره والی) په دغې کړۍ (رنګ) باندې». [صحيح حديث دی. ابن ابي شيبه روايت کړی].

دا عظمت په کرسی او عرش کې دی - او دا د هغه له مخلوقاتو څخه دي -؛ نو د الله -سبحانه و تعالی- عظمت به څه ډول وي – چې تر ټولو لوړ مثال لري- ، هغه

ذات چې پر عرش باندې برقراره شوی، او هغه -جل جلاله- د خپل ټول مخلوق څخه لوړ دی.

او زمونږ رب – عزوجل – په خپلو صفاتو کې لوی دی، او هغه د کمال په ټولو صفتونو سره یاد شوی، په خپل رحمت کې لوی دی، په خپل توان کې لوی دی، په خپلو په ډالیو او ورکړو کې لوی دی، او په خپله ښکلا کې لوی دی.

په قدسي حدیث کې راغلي: «الكِبْرِيَاءُ رِدَائِي، وَالعَظَمَةُ إِزَارِي، فَمَنْ نَازَعَنِي وَاحِدًا مِنْهُمَا؛ قَذَفْتُهُ فِي النَّارِ» "غرور زما څادر دی او عظمت زما لنګ دی، نو څوک چې په دې دواړو کې له یوه څخه زما سره شخړه وکړي؛ هغه به اور ته واچوم". [صحیح حدیث دی. ابوداود روایت کړی].

او زمونږ رب په خپلو عملونو کې لوی دی؛ ځکه چې دا د حکمت، عدالت، فضل او ارادې ورټیا وړاندوینه کوي.

او هغه په هر لحاظ لوی دی چې د هغه تعظیم ته اړتیا لري ... چې هیڅ انسان د هغه شمیرل نشي کولی

نو الله – عزوجل- په خپلې لویې کې بشپړ دی:

﴿وَمَا قَدَرُواْ ٱللَّهَ حَقَّ قَدۡرِهِۦ وَٱلۡأَرۡضُ جَمِيعٗا قَبۡضَتُهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَٱلسَّمَٰوَٰتُ مَطۡوِيَّٰتُۢ بِيَمِينِهِۦۚ سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ٦٧﴾ [الزمر: 67]

(او دغو (مشرکانو) د الله تعظیم ونه کړ د هغه حق تعظیم، حال دا چې ځمکه ټوله د ده په قبضه کې ده د قیامت په ورځ کې او اسمانونه د ده په ښي لاس کې رانغاړل (راټول کړی) شوي دي، ده لره پاکي ده او هغه ډېر اوچت دی له هغو څیزونو نه چې دوی یې (له هغه سره) شریکوي) [الزمر سورت: ایت 67].

خپل لاسونه پورته کړه!

هغه لره مسایل لویي ندي؛ که څومره لوي او بې شمیره هم وي، صحیح روایت دی چې هغه -علیه الصلاة والسلام- فرمایلي: «إِذَا دَعَا أَحَدُكُمْ فَلَا يَقُلْ: اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي إِنْ شِئْتَ! وَلَكِنْ لِيَعْزِمِ المَسْأَلَةَ وَلْيُعَظِّمِ الرَّغْبَةَ؛ فَإِنَّ اللهَ لَا يَتَعَاظَمُهُ شَيْءٌ أَعْطَاهُ» «کله چې یو کس ستاسې نه دعا کوي نو داسې دې نه وایي: یا الله ما ته بخښنه وکړه که ستا خوښه وي! لیکن کلکه غوښتنه دې وکړي او خپله غوښتنه دې په ښې طریقې سره وغواړي، بیشکه الله تعالی نه هیڅ

لوی شی نه غوښتل کیږي مگر هغه یې ورکوي». [بخاري او مسلم روایت کړی - او دا یې لفظ دی -].

او زموږ رب په خپل رحمت او بخښنه کې لوی دی، په زغم کې لوی دی، او په خپلې مهربانۍ او لوی سخاوت کې لوی دی، د هغه په نیز هیڅ شی لوی نه دی چې هغه وبخښي.

په « صحیحینو» کې د شفاعت په حدیث کې راغلي دي: چې نبي - صلی الله علیه وسلم- وفرمایل: «..یَا مُحَمَّدُ! ارْفَعْ رَأْسَكَ، وَقُلْ يُسْمَعْ، وَسَلْ تُعْطَهْ، وَاشْفَعْ تُشَفَّعْ! "اې محمده! خپل سر پورته کړه، ووایه هغه به اوریدل کیږي، او وغواړه هغه به تاته درکړل شي، او شفاعت وکړه ستا شفاعت به قبول شي!

فَأَقُولُ: يَا رَبِّ! ائْذَنْ لِي فِيمَنْ قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، فَيَقُولُ: وَعِزَّتِي وَجَلَالِي وَكِبْرِيَائِي وَعَظَمَتِي! لَأُخْرِجَنَّ مِنْهَا مَنْ قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ». بیا به ووایم: اې ربه! د هغه چا په اړه اجازه راکړئ چې : لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، یې ویلي وي، بیا به هغه وفرمایي: زما په عزت، جلال، کبریاء او عظمت قسم! زه به له هغه څخه هغه کسان وباسم چې : لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ یې ویلي وي».

او کله چې زما زړه سخت شو، او لارې مې تنګې شوې ... ما خپل امید ستا د بخښنې طرف ته زینه وګرځوله،

په ما باندې زما ګناه درنه شوه نو کله مې چې پرتله کړه ... ستا د بخښنې سره نو ستا بخښنه ډیره لویه شوه

چا چې لوی ذات ته پناه یوړه وژغورل شو..

له رسول الله -صلی الله علیه وسلم- څخه روایت دی: چې کله به جومات ته داخل شو نو ویل به یې: «أَعُوذُ بِاللهِ العَظِيمِ، وَبِوَجْهِهِ الكَرِيمِ، وَسُلْطَانِهِ القَدِيمِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ»، قال: «فَإِذَا قَالَ ذَلِكَ؛ قَالَ الشَّيْطَانُ: حُفِظَ مِنِّي سَائِرَ اليَوْمِ» «زه په ستر الله، او د هغه په عزتمند مخ، او د هغه په قدیمي پادشاهۍ سره له رټل شوي شیطان څخه پناه غواړم» (پیغمبر صلی الله علیه وسلم) وویل: «کله چې داسې ووایي، نو شیطان ووایي: ټوله ورځ له ما څخه ساتل شوی دی». [صحیح حدیث دی. ابوداود روایت کړی]. او څوک چې په خپله ژبه د الله – عزوجل- لویی بیان کړي؛ هغه بریالی شو، د قیامت په ورځ به یې تله درنه وي، په صحیح روایت سره راغلي دي چې هغه -علیه الصلاة والسلام- فرمایلي: «كَلِمَتَانِ

خَفِيفَتَانِ عَلَى اللِّسَانِ، ثَقِيلَتَانِ فِي المِيزَانِ، حَبِيبَتَانِ إِلَى الرَّحْمَنِ: سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ، سُبْحَانَ اللهِ العَظِيمِ» "دوه کلمې چې په ژبه سپکې، په تله کې درنې، رحمن ته محبوبې دي: سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ، سُبْحَانَ اللهِ العَظِيمِ." (پاکي وايم د الله تعالی په ستاینې د هغه سره، پاکي وایم د لوی الله تعالی). [بخاري او مسلم روایت کړي]. بلکه، هغه خپلو بندګانو ته امر کړی چې د دې نوم سره تسبیح وکړي؛ هغه – عزوجل- فرمايلي:

﴿فَسَبِّحۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلۡعَظِيمِ ٧٤﴾ [الواقعة: 74]

(نو ته د خپل عظیم رب د نوم پاکي بیانوه). [الواقعة سورت: ایت 74].

او رسول الله -صلى الله عليه وسلم- خپل امت ته امر کړی چې په خپلو لمونځونو کې د الله -جل جلاله- په دغه نوم سره تسبیح ووايي: «فَأَمَّا الرُّكُوعُ فَعَظِّمُوا فِيهِ الرَّبَّ -عز وجل- » "اما په رکوع کې، د رب –عزوجل- تعظیم وکړئ". [مسلم روایت کړی].

د خلاصون چابي:

که تاسو ته کوم آفت راشي، ستاسو سینه ستړې شي، او تاسو په اندیښنه کې ډوب شوئ؛ نو ووایئ: «لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ العَظِيمُ الحَلِيمُ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ رَبُّ العَرْشِ العَظِيمِ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَرَبُّ الأَرْضِ، وَرَبُّ العَرْشِ الكَرِيمِ» "له الله پرته بل معبود نشته، لوی او د زغم خاوند دی، له الله پرته بل معبود نشته، د لوی عرش څښتن دی، له الله پرته بل معبود نشته، د اسمانونو او ځمکې او لوی عرش څښتن دی". [بخاري او مسلم روایت کړی]. او که له پادشاه څخه ووېرېدې؛ د الله پادشاهي لویه ده، عبدالله بن مسعود ویلي: "اې الله! د اوو اسمانونو او د لوی عرش څښتنه؛ زما ګاونډ او مرستندوی شه د فلان زوی د فلان څخه او د هغه له ډلې چې ستا له مخلوقاتو څخه دي، د دې نه چې هغوی په ما باندې برلاسي شي او یا ما باندې ظلم وکړي؛ ستا ګاونډ غالب دی، او ستا ستاینه لویه ده، او له تا پرته بل معبود نشته". او هغه – صلى الله عليه وسلم- به هر سهار او ماښام د الله په عظمت سره پناه غوښتله له دې چې په ځمکه کې ډوب شي؛ هغه به ویل: «اللَّهُمَّ! أَعُوذُ بِعَظَمَتِكَ مِنْ أَنْ أُغْتَالَ مِنْ تَحْتِي» «اې الله! زه ستا په عظمت پناه غواړم له دې چې زه له لاندې خوا څخه ووژل شم». [صحيح حديث دی. ترمذي روایت کړی]. له همدې کبله؛ څوک چې لوی ذات ته پناه یوسي، او لوی ذات ته نږدې شي، هغه به له متقیانو څخه وي؛ هغه به د دنیا امنیت او د آخرت اجر ترلاسه کړي، نو الله - عزوجل - فرمایلي دي:

﴿... وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ يُكَفِّرۡ عَنۡهُ سَيِّـَٔاتِهِۦ وَيُعۡظِمۡ لَهُۥٓ أَجۡرًا ٥﴾ [الطلاق: 5]

(او هغه څوك چې له الله نه ووېرېږي، هغه به له ده نه د ده ګناهونه لرې کړي او د ده لپاره به اجر ډېر لوی کړي). [الطلاق سورت: ا۞ت 5].

او د الله په نيز تر ټولو لويه درجه: د هغه چا لپاره ده چې الله – عزوجل- د هغوی په کله فرمايي:

﴿ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَهَاجَرُواْ وَجَٰهَدُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡ أَعۡظَمُ دَرَجَةً عِندَ ٱللَّهِۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَآئِزُونَ ٢٠﴾ [التوبة: 20]

((هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی او هجرت يې کړی دی او د الله په لاره کې يې په خپلو مالونو او ځانونو سره جهاد کړی دی، د الله په نيز په درجه کې تر ټولو لوی دی، اوهمدغه کسان کامياب دي). [التوبة سورت: ايت 20]

. او څوك چې له الله سره شريك راوړي، او ايمان يې د الله –عزوجل- له عظمت څخه کم شي؛ نو سزا د عمل له جنس څخه ده، او هغه به: دوزخ وي - الله دې مونږ له هغه څخه وساتي!

﴿خُذُوهُ فَغُلُّوهُ ٣٠ ثُمَّ ٱلۡجَحِيمَ صَلُّوهُ ٣١ ثُمَّ فِي سِلۡسِلَةٖ ذَرۡعُهَا سَبۡعُونَ ذِرَاعٗا فَٱسۡلُكُوهُ ٣٢ إِنَّهُۥ كَانَ لَا يُؤۡمِنُ بِٱللَّهِ ٱلۡعَظِيمِ ٣٣﴾ [الحاقة: 30-33]

[(وبه ويل شي:) دی ونيسئ، پس دی په زولنو سره وتړئ. بيا يې دوزخ ته واچوئ. بيا يې په يو ځنځير کې چې د هغه ګزونه (اوږدوالی) اويا ګزه وي، پس دی ننه باسئ. بېشکه ده به ډېر لوی الله باندې ايمان نه راوړ] [الحاقة سورت: ايتونه 30-33].

## مسلمان به څنګه د خپل رب تعظيم کوي؟

د الله –تبارک و تعالی- تعظيم: د هغه د نومونو او صفتونو په تعظيم کې وي، او په زړه کې د هغه تعظيم کول پر دې چې هغه سره مينه، د هغه په عظمت اعتراف، او د هغه پر وړاندې عاجزي وکړي، د امام احمد په مسند کې راغلي: «مَنْ تَعَظَّمَ فِي نَفْسِهِ، أَوْ اخْتَالَ فِي مِشْيَتِهِ؛ لَقِيَ اللهَ وَهُوَ عَلَيْهِ غَضْبَانُ» «چا ته چې خپل ځان لوړ ښکاره شي، او يا په خپل تګ کې غرور وکړي؛ هغه به الله سره په داسې حال کې ملاقات وکړي چې هغه به له هغه

ښخه ناراضه وي». [صحیح حدیث دی] د الله – تبارک و تعالی- تعظیم په ژبه، او په ډیر ذکر سره کیږي،

﴿فَسَبِّحۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلۡعَظِيمِ ٧٤﴾ [الواقعة: 74]

(نو ته د خپل عظیم رب د نوم پاکي بیانوه) [الواقعة سورت: ایت 74].

او د هغه – تبارک و تعالی – د تعظیم له جملې ښخه د غړو په کارولو په اطاعت کې سره کیږي؛ او د هغه تعظیم دا دی: چې د هغه اطاعت وشي او نافرماني ونه شي، او د هغه یادونه وشي او هیر نشي، مننه وشي او کفران یې ونه شي.

او د هغه – تبارک و تعالی – د تعظیم له جملې ښخه: د هغه د رسولانو، ملایکو، عبادتونو؛ لکه لمونځ، زکات، روژه، حج او عمره او د هغه د دین نورو عبادتونو او احکامو تعظیم وشي؛

﴿ذَٰلِكَۖ وَمَن يُعَظِّمۡ شَعَٰٓئِرَ ٱللَّهِ فَإِنَّهَا مِن تَقۡوَى ٱلۡقُلُوبِ ٣٢﴾ [الحج: 32]

(دغه (حکم بیان شو) او څوک چې د الله د نښو تعظیم وکړي، نو بېشکه دا د زړونو له تقویٰ ښخه دی). [الحج سورت: ایت 32]

. او د هغه – تبارک و تعالی – د تعظیم له جملې ښخه: د هغه د لوی کتاب تعظیم کول دي ، نو الله – سبحانه و تعالی- د خپل لوی کتاب په اړه فرمایي:

﴿وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَٰكَ سَبۡعٗا مِّنَ ٱلۡمَثَانِي وَٱلۡقُرۡءَانَ ٱلۡعَظِيمَ ٨٧﴾ [الحجر: 87]

[او یقینًا یقینًا مونږ تا ته بیا بیا لوستل کېدونکي اوه ایتونه درکړي دي او عظیم قرآن (هم)]. [الحجر سورت: ایت 87].

او د هغه – تبارک و تعالی – د تعظیم له جملې ښخه: د هغه او د مومنانو د حرمتونو (احکامو) تعظیم دی.

﴿ذَٰلِكَۖ وَمَن يُعَظِّمۡ حُرُمَٰتِ ٱللَّهِ فَهُوَ خَيۡرٞ لَّهُۥ عِندَ رَبِّهِۦۗ ....﴾ [الحج: 30]

(دغه (حکم بیان شو) او څوک چې د الله د حرمتونو (احکامو) تعظیم کوي، نو دغه (کار) د ده لپاره د خپل رب په نیز ډیر غوره دی). [الحج سورت: ایت 30]

. او د هغه – تبارك و تعالی- له تعظيم څخه دا دي: چې بنده د خپل رب په خبره د بل چا خبرې ته لومړيتوب ورنکړي؛ که د هغه هر ډول مقام وي:

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُقَدِّمُواْ بَيۡنَ يَدَيِ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٞ ۝١﴾ [الحجرات: 1]

(اې هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو د الله او د هغه د رسول په مخکې مه وړاندې کېږئ، او له الله نه ووېرېږئ، بېشکه الله ښه اورېدونکی، ښه پوه دی). [الحجرات سورت: ايت 1].

اې د مخلوق پيدا کوونکی نوښتګر او ضامن ذاته

د ټولو روزي، او ستا سخاوت د وريځو په څير راښکته کېږي

ستا صفتونه ډير اوچت دي، اې ستر ذاته! او ناشوني ده چې

چې ويوونکي ستا ستاينه وشمېرلی شي

دغه ده زه راغلم او زما ښه ګومان زما شفاعت کوونکی دی

او زما وسيله پښېمانتيا او رواني اوښکې دي

نو خپل بنده ته د تېرو کړنو بخښنه وکړه او هغه ته

توفيق د هغه څه ورکړه چې ته يې خوښوې، ځکه ستا مهرباني پوره ده

او هغه څه ورسره وکړه چې ته د کومو ښېګڼو کوونکی يې

او ګومان او ټول ګومان دا دی چې تاسو به دغه وکړئ

زه له لوی الله څخه سوال کوم: چې موږ د پرهېزګارانو له ډلې څخه وګرځوي چې د نعمتونو جنتونه وګټي!

42

## القَوِيُّ )د قوت خاوند (ذات -جل جلاله-

اې ربه، زه ستا انګړ ته توبه ايستلی راغلی يم

تسلیم شوی او نیوونکی ستا د رسۍ یم
زما يې څه له زورور سره چې ته اې
زما ربه لوی مقام والا يې او ستا ځواک څومره ډیر دی
زه په ژوند کې ټولو پناه ځایونو ته تللی یم
مګر ستا له پناه ګاه څخه مې عزتمند ځای و نه موند

زمونږ موضوع زمونږ د رب –سبحانه وتعالی- په اړه ده چې فرمايي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلرَّزَّاقُ ذُو ٱلۡقُوَّةِ ٱلۡمَتِينُ ٥٨﴾ [الذاريات: 58]

(بېشکه هم دغه الله ښه روزي ورکوونکی، قوت والا، (او) ډېر مضبوط دی) [الذاريات سورت: ايت 58]،

او ویونکی:

﴿وَرَدَّ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِغَيۡظِهِمۡ لَمۡ يَنَالُواْ خَيۡرٗاۚ وَكَفَى ٱللَّهُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٱلۡقِتَالَۚ وَكَانَ ٱللَّهُ قَوِيًّا عَزِيزٗا ٢٥﴾ [الأحزاب: 25]

(او الله کافران سره له خپلې غصې نه بېرته وشړل، په داسې حال کې چې هېڅ خير يې ونه موند او الله مومنان له جنګ نه وساتل، الله ډېر زورور، ښه غالب دی) [الأحزاب سورت: ايت 25]، او ویونکی:

﴿... إِنَّ ٱللَّهَ قَوِيٌّ عَزِيزٞ ٢٥﴾ [الحديد: 25]

(بېشکه الله ډېر قوي، ښه غالب دی) [الحديد سورت: ايت 25].

زمونږ قوي رب -عزوجل- هغه څوک دی چې ضعف یا نیمګړتیا نه ورسیږي، او د سستۍ او بې حسۍ څخه نه متاثره کیږي.

او زمونږ رب – عزوجل – هغه ذات دی چې هیڅ غالب هغه باندې غالبیدلای نشي، او نه کوم مانع هغه منعه کولای شي، او نه کوم دافع هغه دفعه کولای شي، او نه د هغه فیصله څوک بیرته راګرځولی شي، هغه د بشپړ قدرت او بشپړې ارادې خاوند دی.

او هغه - عزوجل – غیر متناهي قدرت لرونکی دی.

او زموږ رب - عزوجل - په خپل قدرت کې بشپړ دی، په هر څه قادر دی؛ هغه په هیڅ حالت کې ناتوانه یا ضعیف ندی، او د هغه –سبحانه و تعالی- حکم په هر وخت کې چې وغواړي پلی کیږي؛ په ځمکه او آسمانونو کې.

هغه – عزوجل- په خپل نیولو او عذاب کې قوي دی.

په قدرت کې یواځې دی

﴿...أَنَّ ٱلۡقُوَّةَ لِلَّهِ جَمِيعٗا ...﴾ [البقرة: 165]

(چې یقینًا قوت ټول خاص د الله لپاره دی) [البقرة سورت: ایت 165].

او د هغه په وصف کې هغه په خپل ځواک کې ځواکمن دی ... او هغه په تا باندې قادر دی، اې پادشاه وروره

ځواک د هغه څخه دی..

مونږ باندې څه شوي دي چې خپل زړونه د هغه خوا ته متوجه نکړو؟! او مونږ باندې څه شوي دي چې په خپلو دندو او اړتیاوو کې پر هغه تکیه ونکړو؟! مونږ د هغه زور او شتمنۍ ته څومره بې وزله یو!!

موږ د هغه – تبارک و تعالی- له قدرت او توفیق پرته بل هیڅ ځواک نه لرو، او موږ د هغه له لارې پرته د نافرمانۍ او د نفس د بدیو د مخنیوي لپاره هیڅ ځواک نه لرو.

دغه ځواک د الله - عزوجل- له خوا چا ته چې هغه وغواړي ورکول کیږي؛ د عامې روزۍ په څیر.

او انسان کمزوری دی.. کمزوری پیدا شوی، کمزوری زیږیدلی، او کمزوری به مري؛ الله – تبارک و تعالی- وفرمایل:

﴿... وَخُلِقَ ٱلۡإِنسَٰنُ ضَعِيفٗا٢٨﴾ [النساء: 28]

(او انسان ډېر کمزوری پیدا کړی شوی دی). [النساء سورت: ایت 28]،

او هغه -عز وجل- وفرمايل:-

﴿۞ ٱللَّهُ ٱلَّذِي خَلَقَكُم مِّن ضَعۡفٖ ثُمَّ جَعَلَ مِنۢ بَعۡدِ ضَعۡفٖ قُوَّةٗ ثُمَّ جَعَلَ مِنۢ بَعۡدِ قُوَّةٖ ضَعۡفٗا وَشَيۡبَةٗۚ يَخۡلُقُ مَا يَشَآءُۚ وَهُوَ ٱلۡعَلِيمُ ٱلۡقَدِيرُ ٥٤﴾ [الروم: 54]

(الله هغه ذات دی چې تاسو يې له ضعف نه پيدا کړئ، بيا يې له کمزورى نه بعد قوت پيدا کړ، بيا يې له قوت نه پس کمزوري او بوډاوالی (دوېښتو سپين والی) پيدا کړ، څه چې هغه وغواړي پيدا کوي يې، او همغه ښه عالم، ښه قدرت والا دی). [الروم سورت: ايت 54].

د الله ورځې ..

کله چې ډېری بندګانو دا حقيقت هير کړ - چې په انسان کې اصل دا دی چې هغه ضعيف دی، او له الله پرته بل هيڅ ځواک او واک نلري؛ شيطان هغوی په خپل قوت باندې غولولي دي؛ تر دې چې هغوی د الله –عزوجل- ځواک هېر کړ، نو هغوی په خپله سرکشۍ کې نور هم مخکې لاړل!

او دا د عاد قوم دی، په اړه يې الله –عزوجل- فرمايي:

﴿فَأَمَّا عَادٞ فَٱسۡتَكۡبَرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّ وَقَالُواْ مَنۡ أَشَدُّ مِنَّا قُوَّةًۖ أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّ ٱللَّهَ ٱلَّذِي خَلَقَهُمۡ هُوَ أَشَدُّ مِنۡهُمۡ قُوَّةٗۖ وَكَانُواْ بِـَٔايَٰتِنَا يَجۡحَدُونَ ١٥﴾ [فصلت: 15]

(نو هر چې عاديان وو، نو دوی خو په ځمکه کې ناحقه لويي وکړه او ويې ويل: په قوت کې زمونږ نه څوك زيات سخت (او مضبوط) دي؟! ايا دوی نه ويني چې بېشکه هغه الله چې تاسو يې پيدا کړي يئ؛ هغه له تاسو نه په قوت کې ډېر سخت دی. او دغو به زمونږ له ايتونو نه انکار کاوه) [فصلت سورت: ايت 15]

. او کله چې هود -عليه السلام- هغوی ته وويل: له الله څخه ووېرېږئ او يوازې د هغه عبادت وکړئ! هغوی وويل:

﴿... مَنۡ أَشَدُّ مِنَّا قُوَّةًۖ ...﴾ [فصلت: 15]

(زمونږ نه څوك زيات سخت (او مضبوط) دي؟!) [فصلت سورت: ايت 15]، موږ بندګان تسخير کړي دي، او موږ د خپل قوت په زور د هر ډول عذاب د شنډولو توان لرو ...!! هغوی د بدن اوږدوالي وغولول، ابن عباس -رضی الله عنهما- وايي:

"په هغوی کې تر ټولو اوږد قد لروونکی: سل ګزه وو، او تر ټولو لنډ قد لرورنکی شپیته ګزه وو". نو کله چې ننګونه خپل اوج ته ورسېده او نافرماني خپلې انتها ته ورسېده؛ الله – عزوجل- په دوی باندې په څو ډېرو سپېرو ورځو کې ډېر زورور یخ باد راخوشې کړ، الله – تبارک وتعالی- وفرمايل:

﴿فَأَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمۡ رِيحٗا صَرۡصَرٗا فِيٓ أَيَّامٖ نَّحِسَاتٖ لِّنُذِيقَهُمۡ عَذَابَ ٱلۡخِزۡيِ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَلَعَذَابُ ٱلۡأٓخِرَةِ أَخۡزَىٰۖ وَهُمۡ لَا يُنصَرُونَ١٦﴾ [فصلت: 16]

(نو مونږ په دوی باندې په څو ډېرو سپېرو ورځو کې ډېر زورور یخ باد راخوشې کړ، د دې لپاره چې مونږ په دوی باندې په دنیایي ژوند کې د رسوایۍ عذاب وڅکو، او یقینًا د اخرت عذاب ډېر رسواکوونکی دی، په داسې حال کې چې د دوی به مدد نه شي کېدلی) [فصلت سورت: ایت 16].

او دا په څمکه کې د الله -سبحانه وتعالی- د طرېقو نه یوه طرېقه ده، او د تاریخ په اوږدو کې هم دي: هر هغه څوک چې په خپل ځواک سره مغرور او متکبر وي د هغه اخري انجام د عادیانو په شان وي، د جبار او بادشاه ذات قوت یې رانېسي.

نو؛ هغه - سبحانه وتعالی- وفرمايل:

﴿قُلۡ سِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ ثُمَّ ٱنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُكَذِّبِينَ ١١﴾ [الأنعام: 11]

(ته ووایه: تاسو په څمکه کې وګرځئ، بیا تاسو وګورئ چې د دروغ ګڼونکو انجام څنګه و؟) [الأنعام سورت: ایت 11]،

شاید دوی د پخوانیو قومونو د هلاکت څخه عبرت واخلي! په لسګونو قومونه په الله او د هغه پر رسولانو کافران شوي وو، او په ځمکه کې دوی په ځواک، چارو او ودانیو باندې دوکه شول؛ نو الله دوی ونیول، د غالب او ځواکمن ذات په نیولو سره:

﴿فَكُلًّا أَخَذۡنَا بِذَنۢبِهِۦۖ فَمِنۡهُم مَّنۡ أَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِ حَاصِبٗا وَمِنۡهُم مَّنۡ أَخَذَتۡهُ ٱلصَّيۡحَةُ وَمِنۡهُم مَّنۡ خَسَفۡنَا بِهِ ٱلۡأَرۡضَ وَمِنۡهُم مَّنۡ أَغۡرَقۡنَاۚ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيَظۡلِمَهُمۡ وَلَٰكِن كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ٤٠﴾ [العنكبوت: 40]

( نو (په دوی کې) هر یو مونږ په خپلې ګناه سره ونیوه، نو په دوی کې ځینې هغه دي چې مونږ پرې کاڼي وېشتونکی باد راخوشې کړ او ځینې په دوی کې هغه دي چې دوی سختې چغې ونیول او ځینې په دوی کې هغه دي چې مونږ هغوی په ځمکه کې ننه ابستل او ځینې په دوی کې هغه دي

چې مونږ (په اوبو کې) غرق کړل او الله له سره داسې نه و چې په دوی یې ظلم کړی وی او لېکن دوی په خپلو ځانونو (پخپله) ظلم کاوه) [العنکبوت سورت: ایت 40]

. مشرکینو رسول الله -صلی الله علیه وسلم – او د هغه صحابه –رضی الله عنهم- محاصره کړل: د احزاب په غزوه کې هغوی غوښتل چې دوی د ځمکې څخه محوه کړي؛ نو الله –عزوجل- د خپلو لښکرو څخه یو لښکر راولیږه: یو توند باد، چې بالاخره هغوی یې د ښار شاوخوا څخه وتښتېدل:

﴿وَرَدَّ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِغَيۡظِهِمۡ لَمۡ يَنَالُواْ خَيۡرٗاۚ وَكَفَى ٱللَّهُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٱلۡقِتَالَۚ وَكَانَ ٱللَّهُ قَوِيًّا عَزِيزٗا ٢٥﴾ [الأحزاب: 25]

(او الله کافران سره له خپلې غصې نه بېرته وشړل، په داسې حال کې چې هېڅ خیر یې ونه موند او الله مومنان له جنګ نه وساتل، الله ډېر زورور، او غالب دی). [الأحزاب سورت: ایت 25].

یو ماشوم پادشاه له منځه وړي، اوبه یو قوم ډوبوي، سمندر یو لښکر له منځه وړي، میاشی نمرود ذلیلوي، ځمکه قارون تیروي، او مرغان ابرهه نابودوي..

هغه پیاوړی ذات دی؛ هغه –سبحانه و تعالی- به تا په خپل ځواک سره حیران کړي.

د مخلوق هرڅیز د الله لپاره دی ... او مخلوق لره د هیڅ څیز صلاحیت نشته

آیا تا خبر نکړم؟!

هرځومره چې د بنده پوهه د الله د (القوي) په نوم ډیره شي؛ د هغه توکل به پر الله -عزوجل- باندې ډیر شي، او خپل ځواک به د هغه له ځواک څخه ترلاسه کړي، او هغه هغه وخت تر لاسه کولای شي چې له خپل ځواک او قوت څخه تیر شي، او هغه -علیه الصلاة والسلام- خپل یو صحابي ته وفرمایل: «أَلاَ أَدُلُّكَ عَلَى كَلِمَةٍ هِيَ كَنْزٌ مِنْ كُنُوزِ الجَنَّةِ؟ لاَ حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ» «ایا زه تا ته د یوې کلمې لارښوونه ونکړم چې هغه د جنت له خزانو څخه یوه خزانه ده؟ لاَ حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ. یعنې نشته د ګناه نه اړول په او نیکۍ باندې طاقت ورکول مګر د الله تعالی په مرسته ». [بخاري او مسلم روایت کړی دی، – او دا لفظ د بخاري دی –]، یعنې حالت له یو حالت څخه بل ته نه بدلیږي، او نه هم د دې توان لري چې د الله – تبارک وتعالی- له مرستې او ملاتړ پرته بدل شي. عبدالله

ابن مسعود -رضي الله عنه- فرمايي: " لا حول ولا قوة إلا بالله: د الله له نافرمانۍ څخه ګرځيدل پرته د الله له عصمت څخه ناشوني دي، او د هغه د مرستې پرته د هغه د اطاعت کولو ځواک نشته". ابن القيم -رحمه الله- وايي: «او دغه کلمه په سختو کارونو کې، د سختيو په زغملو، د پاچاهانو او د هغو کسانو څخه چې له هغوی څخه يې ويره کيږي، او د ستونزو په لرلو سره خورا اغيزه لري، او د فقر په له منځه وړلو کې هم اغيزه لري!». او الله – سبحانه و تعالی- خوښوي چې تا عاجز ووينئ او د هغه ځواک ياد کړې

﴿وَلَوۡلَآ إِذۡ دَخَلۡتَ جَنَّتَكَ قُلۡتَ مَا شَآءَ ٱللَّهُ لَا قُوَّةَ إِلَّا بِٱللَّهِۚ إِن تَرَنِ أَنَا۠ أَقَلَّ مِنكَ مَالٗا وَوَلَدٗا۝٣٩﴾ [الكهف: 39]

(او کله چې ته خپل باغ ته داخل شوې تا ولې ونه ويل چې مَاشَاءَ اللّٰهُ لَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ (کيږي هغه چې الله يې اراده وکړي، هيڅ طاقت نشته مګر د الله په توفيق سره) که ته ما له خپل ځان نه په مال او اولاد کې کم وينې). [الكهف سورت: ايت 39].

او د متواضعو خلکو لپاره د الله مينه؛ هغه د مؤمنانو په منځ کې غښتلي او قوي مومنان خوښوي، او هغه –عليه الصلاة والسلام- وفرمايل: «المُؤْمِنُ القَوِيُّ خَيْرٌ وَأَحَبُّ إِلَى اللهِ مِنَ المُؤْمِنِ الضَّعِيف، وَفِي كُلٍّ خَيْرٌ» "قوي مؤمن د ضعيف مؤمن په پرتله د الله تعالی په نيز غوره او محبوب دی، او په ټولو کې خير دی". [مسلم روايت کړی].

او دا دوه صفتونه د هغه –عزوجل- په دې قول کې سره يو ځای شوي دي:

﴿... ۦ أَذِلَّةٍ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ ...﴾ [المائدة: 54]

(په مومنانو به ډېر نرمي کوونکی وي او په کافرانو باندې به ډېر سخت وي) [المائدة سورت: ايت 54]،

د يو ملت لپاره د علم او عمل پرته بل هيڅ ځواک نشته؛ ځکه چې الله – سبحانه و تعالی- فرمايلي دي:

﴿وَأَعِدُّواْ لَهُم مَّا ٱسۡتَطَعۡتُم مِّن قُوَّةٖ وَمِن رِّبَاطِ ٱلۡخَيۡلِ تُرۡهِبُونَ بِهِۦ عَدُوَّ ٱللَّهِ وَعَدُوَّكُمۡ وَءَاخَرِينَ مِن دُونِهِمۡ لَا تَعۡلَمُونَهُمُ ٱللَّهُ يَعۡلَمُهُمۡۚ ...﴾ [الأنفال: 60]

( او تاسو قوت او تړلي اسونه تیار کړئ څومره چې استطاعت لرئ، چې په دې سره به تاسو د الله دښمنان او خپل دښمنان وېروئ او له دوی نه سوا نور خلق (هم) چې تاسو هغوی نه پېژنئ، الله هغوی پېژني). [الأنفال سورت: ایت 60].

د الله لپاره په داسې شکل اوسه لکه څرنګه چې هغه يې غواړي، هغه به تا ستا لپاره د هغه څه څخه پورته وي چې ته يې غواړې!

اې الله، اې قوي، اې عزت والا! ظالمو خلکو باندې موږ ته برى راکړه.

43

## المَتِينُ )د ډېر قوت خاوند (ذات جل جلاله

له ابو هريره -رضي الله عنه- څخه روايت دى هغه وويل: يو سړي اړتيا درلوده، نو هغه دښتې ته لاړ، او د هغه مېرمن وويل: اې الله! موږ ته څه راکړه چې موږ يې اوړه کړو او ډوډۍ پخه کړو.

نو هغه سړى راغى چې ګوري لګن (خانک) له ډوډۍ څخه ډک دى، او په تندور کې غوښې پخيږي، او پل غنم اوړه کوي؛ هغه وويل: دا د کوم ځايه راغلي دي؟ هغې وويل: د الله له رزق څخه، بيا يې د پل غاړې جارو کړې.

رسول الله -صلى الله عليه وسلم- وفرمايل: «لَوْ تَرَكَهَا لَدَارَتْ -أو قال: طَحَنَتْ- إِلَى يَوْمِ القِيَامَةِ» "که هغه يې پرېښودلى وى؛ نو د قيامت تر ورځې پورې به څرخيدلى وى، يا يې وويل: اوړه کړې وى". (صحيح حديث دى. طبراني په المعجم الاوسط کې روايت کړى دى). دغه پيغام هغه چا ته دى چې غم او پريشانۍ را ګير کړى وي، حالت يې کمزورى وي، له ژونده ستړى شوى وي، ورځې ورباندې تنګې شوې وي، او پرله پسې ستونزو سره لاس او ګرېوان وي؛ زه تا ته زيرى درکوم چې هلته نږدې خلاصون، ښکاره بريا، له سختۍ وروسته اسانتيا، او له کمزورۍ وروسته قوت شتون لري.

﴿وَعۡدَ ٱللَّهِۖ لَا يُخۡلِفُ ٱللَّهُ وَعۡدَهُۥ ....﴾ [الروم: 6]

(وعده کول د الله، الله د خپلې وعدې مخالفت نه کوي) [الروم سورت: ايت 6].

مونږ د الله يو له خورا ښکلي نومونو المتين –جل جلاله- سره تم کيږو:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلرَّزَّاقُ ذُو ٱلۡقُوَّةِ ٱلۡمَتِينُ ۝٥٨﴾ [الذاريات: 58]

(بېشکه هم دغه الله ښه روزي ورکوونکی، قوت والا، (او) ډېر مضبوط دی) [الذاريات سورت: ايت 58].

نو زمونږ رب – سبحانه و تعالی- المتين دی، يعني: ترټولو قوي او پياوړی دی.

الله – سبحانه و تعالی - په ځواک او قدرت کې آخري حد ته رسيدلی دی؛ نو هغه ډير ځواکمن دی، د هغه ځواک نه قطع کيږي، د هغه په اعمالو کې سختي نه راځي، او هغه ته ستوماني نه راځي، يوازې هغه لره ټول عزت دی، او هغه په خپل کار کې غالب دی، او هغه قادر ذات دی چې کمزوري ورته نه راځي.

هغوی چيرته دي؟!

او الله چې پياوړی او پاک دی: مونږ ته د هغو قومونو په اړه خبر راکړ چې د هغه له امر او د هغه د رسولانو په وړاندې يې سرکشي وکړه، او حتا د قدرت او ظلم دعوا يې وکړه، نو هغوی سره يې کلک حساب وکړ:

﴿فَأَمَّا عَادٞ فَٱسۡتَكۡبَرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّ وَقَالُواْ مَنۡ أَشَدُّ مِنَّا قُوَّةًۖ أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّ ٱللَّهَ ٱلَّذِي خَلَقَهُمۡ هُوَ أَشَدُّ مِنۡهُمۡ قُوَّةٗۖ وَكَانُواْ بِـَٔايَٰتِنَا يَجۡحَدُونَ ۝١٥﴾ [فصلت: 15]

(نو هر چې عاديان وو، نو دوی خو په ځمکه کې ناحقه لويي وکړه او ويې ويل:په قوت کې زمونږ نه څوك زيات سخت (او مضبوط) دي؟! ايا دوی نه ويني چې بېشکه هغه الله چې تاسو يې پيدا کړي يئ؛ هغه له تاسو نه په قوت کې ډېر سخت دی. او دغو به زمونږ له ايتونو نه انکار کاوه) [فصلت سورت: ايت 15].

نو پايله دا شوه لکه څنګه چې هغه – تبارك و تعالی- وفرمايل:

﴿.... فَأَصۡبَحُواْ لَا يُرَىٰٓ إِلَّا مَسَٰكِنُهُمۡۚ كَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡمُجۡرِمِينَ۝٢٥﴾ [الأحقاف: 25]

(نو دوی سبا ته داسې شول چې يوازې د دوی (خالي) کورونه ليدل کېدل، مونږ همداسې مجرم قوم ته بدله ورکوو) [الأحقاف سورت: ايت 25].

هغه پاچاهان او هغه څوک چې په ځمکه کې اوسيدل چيرته دي
دوی له هغه څه څخه جلا شوي دي چې دوی جوړ کړي وو او پکې اوسيدل
او دوی چې هر څه کړي وو اوس د قبر ګرو شوي دي
هغوی خاورې شول وروسته له دې چې وراسته شول
سرتيري چيرته دي، نه يې څه دفع کړل او نه يې ګټه ورسوله
چيرته دي هغه څه چې يې راټول کړي او خوندي کړي وو
د عرش د څښتن فرمان دوی ته په بيړه راغی
مال ونتوانيد چې هغوی وژغوري او مرسته ورسره وکړي

ستا هيله پوره کيږي..

ريښتينی مومن بنده پوهيږي: چې الله –عزوجل- قوي او پياوړی دی، او دا چې الله په هر څه ځواکمن دی، هيلې پوره کوي، لرې نږدې کوي، او خوبونه په حقيقت بدلوي.

او دا ابراهيم -عليه السلام- خپله کورنۍ يوې بې کرونده درې ته بيايي؛ او هغه ضعيفه ښځه او کوچنی ماشوم به په دې دره کې اوسيږي؛ او الله باندې پر توکل سره وايي په داسې حال کې چې د الله پر ځواک باور لري:

﴿رَّبَّنَآ إِنِّيٓ أَسۡكَنتُ مِن ذُرِّيَّتِي بِوَادٍ غَيۡرِ ذِي زَرۡعٍ عِندَ بَيۡتِكَ ٱلۡمُحَرَّمِ ....﴾ [إبراهيم: 37]

، (اې زمونږه ربه! بېشکه ما و اوسول خپل ځينې بچې په داسې ناو (دره) کې چې د فصل والا نه دی، ستا د عزتمن کور په خوا کې)، زما ربه! ما دوی ستا دروازې ته نږدې کړل، او له تاسو پرته د دوی اميدونه پرې شول:

﴿..رَبَّنَا لِيُقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ ...﴾ [إبراهيم: 37]

(رَبَّنَا لِيُقِيمُوا الصَّلَاةَ) ، (اې زمونږ ربه! د دې لپاره چې دوی لمونځ قايم کړي) زما ربه! د دې لپاره چې ستاسو خدمت وکړي، تاسو زما په پرتله دوی ته ډير مهم ياست.

﴿... فَٱجۡعَلۡ أَفۡـِٔدَةٗ مِّنَ ٱلنَّاسِ تَهۡوِيٓ إِلَيۡهِمۡ .... ﴾ [إبراهيم: 37]

(نو ته د خلقو زړونه راوګرځوه، چې په مينې سره د دوی خوا ته راځغلي) [إبراهيم سورت: ايت 37]،

نو د بندګانو زړونه ورته وګرځوه هرکله چې هغوی ته کومه اړتيا پيدا شي؛ ته د هر څه کولو توان لرې.

که ته ضعيف وې او ستا رب څواکمن او پياوړی وي؛ نو ته مه وېرېږه! څوک چې پر الله توکل کوي هغه د هغه لپاره کافي دی، او څوک چې الله باندې بې نياز او شتمن وي هغه به الله بې نياز کړي، او الله –تبارک و تعالی- غيرت کوي چې د مؤمن زړه له هغه پرته نورو سره تړلی وي، او يا په نورو باندې تکيه وکړي، او يا د خپل مخ اوبه د بل چا په وړاندې بوځي.

د يوسف –عليه السلام- کيسه يو له غوره، روښانو او څرګندو کيسو څخه ده؛ ځکه چې په هغه کې له يو حالت څخه بل حالت ته، له مصيبت څخه انعام او احسان ته، له ذلت څخه عزت ته، له غلامۍ څخه پادشاهۍ ته، له بيلتون او جدايۍ څخه ملاقات او يو ځای کيدو ته، له غم څخه خوښۍ ته، له سوکالۍ څخه فقر ته او سوکالۍ ته، او له انکار څخه اعتراف ته دی.

نو بيا د قوي په اړه ضعيف ته شکايت مه کوه.

او که بني آدم ته شکايت وکړې نو دا پدې معنا ده ... چې له مهربان ذات څخه هغه چا ته شکايت کوې چې رحم نکوي

نو څواک: دا دی چې له الله -عزوجل– پرته بل هيچا باندې تمسک او اعتماد ونشي؛ که هغه اشخاص وي او يا ملتونه وي، ايا ته د اسلامي امت حالت نه ګورې کله يې چې پر الله توکل پريښود، او د هغه له دښمن سره يې خپلې هيلې وتړلې؟! هغوی د الله په نيز لويدلي دي، او همدارنګه د خپلو دښمنانو له سترګو څخه وغورځيدل! نو هغوی په ذلت او تاوان کې دي، او هيڅکله به عزت او برلاسي دوی ته نه راګرځي تر څو چې دوی په څواکمن او پياوړي الله باندې کلک نه وي ودريدلې، هغه ذات چې هيڅ شريک نه لري. الله – سبحانه و تعالی- فرمايلي:

﴿كَتَبَ ٱللَّهُ لَأَغۡلِبَنَّ أَنَا۠ وَرُسُلِيٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ قَوِيٌّ عَزِيزٞ ٢١﴾ [المجادلة: 21]

(الله ليکلي دي چې خامخا (او) لازمًا به زه غالب کېږم او زما رسولان، بېشکه الله ډېر قوي، ښه غالب دی) [المجادلة سورت: ایت 21].

اې الله! موږ ستا پياوړي (المتين) نوم باندې له تا څخه غواړو: چې موږ او زمونږ مور او پلار او ټولو مسلمانانو ته بخښنه وکړې.

46 - 45 – 44

## د قدرت خاوند، مطلق قادر، او د قدرت ښکاره کوونکی ذات -جل جلاله-

څوک چې د الله –عزوجل- حکم تطبيق کړي، نو الله به د هغه کار سم کړي، او څوک چې خپل شته امکانات د الله لپاره مسخر او وقف کړي، نو الله به هغه لپاره خپل ټول امکانات مسخر او وقف کړي، او دا ټول کاينات د الله په لاس او تصرف کې دي؛ هغه – تبارک و تعالی- مطلق قادر، او د قدرت خاوند دی.

مسلم په خپل صحيح کې روايت کړی چې رسول الله -صلی الله علیه وسلم- وفرمايل: «بَيْنَمَا رَجُلٌ بِفَلاةٍ مِنَ الأَرْض، فَسَمِعَ صَوْتًا فِي سَحَابَةٍ: اسْقِ حَدِيقَةَ فُلَانٍ؛ فَتَنَحَّى ذَلِكَ السحاب، فَأَفْرَغَ مَاءَهُ فِي حَرَّةٍ، فَانْتَهَى إِلَى الحَرَّةِ، فَإِذَا هُوَ فِي أَذْنَابِ شِرَاجٍ، وَإِذَا شَرَاجَةٌ مِنْ تِلْكَ الشِّرَاجِ قَدِ اسْتَوْعَبَتْ ذَلِكَ المَاءَ كُلَّهُ، فَتَبِعَ المَاءَ؛ فَإِذَا رَجُلٌ قَائِمٌ فِي حَدِيقَتِهِ، يُحَوِّلُ المَاءَ بِمِسْحَاتِهِ، فَقَالَ لَهُ: يَا عَبْدَ اللهِ! مَا اسْمُكَ؟ قَالَ: فُلَانٌ -بِالاسْمِ الَّذِي سَمِعَ فِي السَّحَابَةِ-. «یو سړی په صحرا کې و، په وريځ کې يې غږ واوريد چې : د فلاني باغ ته اوبه ورکړئ؛ نو هغه وريځه راغله او خپلې اوبه يې په يوې دښته کې توی کړې، اوبه کاږجنې دښتې ته ورسېدې، نو کله چې د درې بيخ ته ورسيدې، نو د دې درې څخه يوې ويالې دغه ټولې اوبه راجمع کړې، نو هغه سړي د اوبو مسير تعقيب کړ؛ ګوري چې يو سړی په خپل باغ کې ولاړ دی او خپله چاړی (بيل) سره اوبه را ګرځوي، هغه ورته وويل: اې د الله بنده! ستا نوم څه دی؟ هغه وويل: فلان - هماغه نوم چې دې په وريځو کې اوريدلی وو- .

فَقَالَ لَهُ: يَا عَبْدَ اللهِ! لِمَ سَأَلْتَنِي عَنِ اسْمِي؟ قَالَ: إِنِّي سَمِعْتُ صَوْتًا فِي السَّحَابِ الَّذِي هَذَا مَاؤُهُ، يَقُولُ: اسْقِ حَدِيقَةَ فُلَانٍ بِاسْمِكَ، فَمَا تَصْنَعُ فِيهَا؟ هغه ورته وويل: اې د الله بنده! ولې دې زما نوم وپوښت؟ وې ويل: په وريځو کې مې يو غږ واورېد، چې دا يې اوبه دي، ويل يې: د فلاني – ستا په نوم- باغ ته اوبه ورکړه، نو ته پدې باغ کې څه کوې؟

قالَ: أَمَّا إِذَا قُلْتَ هَذَا؛ فَإِنِّي أَنْظُرُ إِلَى مَا خَرَجَ مِنْهَا؛ فَأَتَصَدَّقُ بِثُلُثِهِ، وَآكُلُ أَنَا وَعِيَالِي ثُلُثَهُ، وَأَرُدُّ ثُلُثَهُ». ويې ويل: نو که خبره داسي وي؛ زه د باغ محصولاتو ته ګورم؛ زه د هغې دريمه برخه صدقه ورکوم، زه او له خپلې کورنۍ سره د هغې دريمه برخه خورو، او دريمه برخه يې بيرته ورکوم».

﴿أَوَلَمۡ يَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَيَنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ وَكَانُوٓاْ أَشَدَّ مِنۡهُمۡ قُوَّةٗۚ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُعۡجِزَهُۥ مِن شَيۡءٖ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ إِنَّهُۥ كَانَ عَلِيمٗا قَدِيرٗا ٤٤﴾ [فاطر: 44]

(او الله كله هم داسې نه دی چې هغه لره دې عاجزه کړي هېڅ کوم شی په اسمانونکې او په ځمکه کې، بېشکه هغه (الله) له ازله ښه پوه، ښه قادر دی) [فاطر سورت: ايت 44]،

﴿أَلَمۡ تَعۡلَمۡ أَنَّ ٱللَّهَ لَهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ يُعَذِّبُ مَن يَشَآءُ وَيَغۡفِرُ لِمَن يَشَآءُۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ٤٠﴾ [المائدة: 40]

(ايا ته پوه نه يې چې بېشکه خاص د الله لپاره د اسمانونو او ځمکې بادشاهي ده، چا ته چې وغواړي عذاب ورکوي او چا ته چې وغواړي بخښنه کوي او الله پر هر شي باندې ښه قادر دی). [المائدة سورت: ايت 40].

زموږ رب - عزوجل - په هر څه قادر دی، هيڅ شی هغه نشي عاجزولی، او له هغه څخه هيڅ شی نه پاتي کيږي، د هغه د مخلوقاتو برعکس، نو هغه – تبارک و تعالی- ته عجز او سستي نه رسيږي.

او زموږ رب – عزوجل- هغه ذات دی چې هر څيز باندې ځواک لري، او هغه باندې قادر دی، نو هغه –تبارک و تعالی- بشپړ قدرت لري؛ په خپل قدرت سره يې موجودات پيدا کړل، په خپل قدرت سره يې اداره کړل، او په خپل قدرت سره يې جوړ او مضبوط کړل، او په خپل قدرت سره ژوندي کول او مړه کول کوي، او بندګان د بدلې لپاره بيرته راژوندي کوي؛ نيکانو ته د نيکيو بدله ورکوي،او بدکارانو ته د بدکاريو سزا ورکوي.

(زموږ رب -عز وجل- هغه ذات دی چې

﴿إِنَّمَآ أَمۡرُهُۥٓ إِذَآ أَرَادَ شَيۡـًٔا أَن يَقُولَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ٨٢﴾ [يس: 82]

کله د يو شي اراده وکړي، دا چې هغه ته ووايي چې پيدا شه، نو هغه پيدا شي). [يس سورت: ايت 82].

زورور دی، او هيڅ شی هغه نشي عاجزولی کله چې ... د يو شي اراده وکړي د واک څښتن

د هغه د ځواک بشپړتيا ..

او زموږ د ځواکمن رب – عزوجل- له قدرت څخه: دا دی چې هغه:

﴿...يُعَذِّبُ مَن يَشَآءُ وَيَغۡفِرُ لِمَن يَشَآءُۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ۝٤٠﴾ [المائدة: 40]

(چا ته چې وغواړي عذاب ورکوي او چا ته چې وغواړي بخښنه کوي او الله پر هر شي باندې ښه قادر دی) [المائدة سورت: ايت 40]،

او هغه -تبارك وتعالی- :

﴿.. هُوَ ٱلۡقَادِرُ عَلَىٰٓ أَن يَبۡعَثَ عَلَيۡكُمۡ عَذَابٗا مِّن فَوۡقِكُمۡ أَوۡ مِن تَحۡتِ أَرۡجُلِكُمۡ أَوۡ يَلۡبِسَكُمۡ شِيَعٗا وَيُذِيقَ بَعۡضَكُم بَأۡسَ بَعۡضٍۗ ...﴾ [الأنعام: 65]

(همغه قادر دی په دې باندې چې پر تاسو باندې ستاسو له پاسه نه عذاب راولېږي، يا ستاسو د پښو له لاندې طرف نه، يا تاسو د ېبلو، ېبلو ډلو په جوړولو سره ګډوډ کړي او په ځينو باندې د ځينو نورو (د) جنګ (مزه) وڅکي) [الأنعام سورت: ايت 65]

. او د هغه د ځواک دليل: دا چې هغه کولی شي مونږ راولي او موږ جمع کړي هر چيرې چې يو او هر چيرې چې لاړ سو.

﴿... أَيۡنَ مَا تَكُونُواْ يَأۡتِ بِكُمُ ٱللَّهُ جَمِيعًاۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ۝١٤٨﴾ [البقرة: 148]

(په هر ځای کې چې تاسو يئ الله به تاسو (ټول) په جمع راولي، يقينًا الله په هر شي باندې ښه قادر دی) [البقرة سورت: ايت 148]

. او له هغه څه څخه چې زموږ رب – تبارک و تعالی- د خپل لوی قدرت په اړه موږ ويوهولو: دا چې هغه به د قيامت په ورځ ځمکه په خپل لاس کې قبضه کړي، او اسمانونه به په خپل ښي لاس کې رانغاړي، هغه – سبحانه و تعالی- وفرمايل:

﴿وَمَا قَدَرُواْ ٱللَّهَ حَقَّ قَدۡرِهِۦ وَٱلۡأَرۡضُ جَمِيعٗا قَبۡضَتُهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَٱلسَّمَٰوَٰتُ مَطۡوِيَّٰتُۢ بِيَمِينِهِۦۚ سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ۝٦٧﴾ [الزمر: 67]

(او دغو (مشرکانو) د الله تعظيم ونه کړ د هغه حق تعظيم، حال دا چې ځمکه ټوله د ده په قبضه کې ده د قيامت په ورځ کې او اسمانونه د ده په ښي لاس کې رانغاړل (راټول کړی) شوي دي، ده لره پاکي ده او هغه ډېر اوچت دی له هغو ځيزونو نه چې دوی يې (له هغه سره) شريکوي). ، [الزمر سورت: ايت 67].

تقديرونه ليکل شوي دي..

او زموږ رب – سبحانه و تعالی- چې د مقدارونو ټاکونکی او ويشونکی دی، هغه د شيانو په اندازه او وخت د دوی له پيدا کولو د مخه پوهيده، بيا يې هغه څه پيدا کړل چې د هغه په اړه دمخه پوهيده چې هغه به شتون ولري؛

﴿... ذَٰلِكَ تَقۡدِيرُ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡعَلِيمِ ۝٣٨﴾ [يس: 38]

(دغه د ډېر غالب، ښه پوهه ذات مُقَدر (اندازه) کول دي). [يس سورت: ايت 38].

او الله د مخلوق د پيدا کولو څخه زرګونه کاله دمخه د هغوی اندازې ليکلې وې، او هغه -عليه الصلاة والسلام- وفرمايل: «كَتَبَ اللهُ مَقَادِيرَ الخَلَائِقِ قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ بِخَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ، وَعَرْشُهُ عَلَى المَاءِ» «الله د اسمانونو او ځمکې له پيدا کولو څخه پنځوس زره کاله مخکې د مخلوق اندازې ليکلې وې، او د هغه عرش د اوبو د پاسه وو». [مسلم روايت کړی]. نو؛ دا هماغه ايمان دی چې؛ کله جبرائيل -عليه السلام- له رسول الله -صلى الله عليه وسلم- څخه د ايمان په هکله پوښتنه وکړه، هغه وفرمايل: «أَنْ تُؤْمِنَ بِاللهِ، وَمَلَائِكَتِهِ، وَكُتُبِهِ، وَرُسُلِهِ، وَاليَوْمِ الآخِرِ، وَتُؤْمِنَ بِالقَدَرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ» "دا چې په الله، د هغه پر ملائکو، د هغه پر کتابونو، د هغه پر رسولانو او د آخرت په ورځ، او د خير او شر په تقدير ايمان ولرې". [بخاري او مسلم روايت کړی –او لفظ د هغه دی-].

مه حيرانيږه!

زموږ رب – تبارک و تعالی- په خپل کتاب کې زموږ لپاره د خپل قدرت په اړه دغه وينا بيان کړې ده:

﴿.... وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُعۡجِزَهُۥ مِن شَيۡءٖ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ إِنَّهُۥ كَانَ عَلِيمٗا قَدِيرٗا ۝٤٤﴾ [فاطر: 44]

(او الله کله هم داسې نه دی چې هغه لره دې عاجزه کړي هېڅ کوم شی په اسمانونو کې او په ځمکه کې، بېشکه هغه (الله) له ازله ښه پوهه، ښه قادر دی) [فاطر سورت: ایت 44].

که الله – عزوجل- له تاسره مرسته وکړي؛ یو څه چې معمولا سبب نه وي هغه به ترټولو لوی سبب وګرځي.

او که قدیر ذات – عزوجل- وغواړي تاته عزت درکړي؛ د هغه چا په واسطه به عزت درکړي چې د هغه څخه د خیر تمه نه وي او هغه به ستا لپاره د لوی ډالۍ لامل وګرځول شي.

او که قادر ذات – عزوجل- وغواړي چې له تا څخه د بدی مخه ونیسي؛ بدي به تاته نه ښکاره کوي، او یا به بدي ستا لوري ته لاره و نه مومي.

او که هغه – عزوجل- وغواړي تا له نافرمانۍ څخه وساتي؛ له هغه سره به ستا کرکه پیدا کړي، یا به یې ترلاسه کول درته ستونزمن کړي، یا به تا له هغه څخه لرې کړي، او یا به ته و هڅول شي چې هغه ګناه ترسره کړې مګر دا چې یو څه او یا څوک راشي او له هغه څخه مو منصرف کړي.

نو مونږ څومره اړ یو چې د ځواکمن – عزوجل- دروازه وټکوو!

ابراهیم الخلیل -علیه السلام- خپله کورنۍ خپل رب – عزوجل- ته سپاري او دعا کوي:

﴿...فَٱجۡعَلۡ أَفۡـِٔدَةٗ مِّنَ ٱلنَّاسِ تَهۡوِيٓ إِلَيۡهِمۡ ....﴾ [إبراهيم: 37]

(نو ته د خلقو زړونه راوګرځوه چې په مینې سره د دوی خوا ته راځغلي) [إبراهیم سورت: ایت 37]،

نو مکه د وخت په اوږدو کې د زړونو ارمان وګرځیده. او دا سلیمان -علیه السلام- دعا کوي:

﴿رَبِّ هَبۡ لِي حُكۡمٗا وَأَلۡحِقۡنِي بِٱلصَّٰلِحِينَ٨٣﴾ [الشعراء: 83]

(اې زما ربه! ما ته حکم (علم وحکمت) راکړه او ما له نېکانو سره پیوست کړه) [الشعراء سورت: ايت 83]،

نو الله – عزوجل- هغه لره پیریان تابع کړل. یونس -علیه السلام- د شپې، سمندر او د کب خېټې په تیارو کې دعا کوي:

﴿...لَّآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنتَ سُبۡحَٰنَكَ إِنِّي كُنتُ مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ٨٧﴾ [الأنبياء: 87]

(نشته هېڅ لايق د عبادت مګر ته يې، ته پاک يې، بېشکه هم زه له ظالمانو څخه يم) [الأنبياء سورت: ايت 87]

؛ نو د کب ګېډه د هغه لپاره یوه لوښې جوړ شو. او د رسول الله -صلی الله علیه وسلم- له دعاوو څخه یوه دعا دا وه: « اللَّهُمَّ! إِنِّي أَسْتَخِيرُكَ بِعِلْمِكَ، وَأَسْتَقْدِرُكَ بِقُدْرَتِكَ، وَأَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ؛ فَإِنَّكَ تَقْدِرُ وَلَا أَقْدِرُ» «اې الله! زه ستا په پوهې سره ستا څخه د خیر غوښتنه کوم، زه ستا په ځواک سره د ځواک غوښتنه کوم، او ستا څخه د مهربانۍ غوښتنه کوم؛ ځکه چې ته توان لرې او زه يې نلرم». [بخاري روايت کړی]. او د الله – جل و علا- قدرت باندې له هر شر او ضرر څخه پناه غوښتل کیږي؛ او دغه دعا کې رسول الله -صلی الله علیه وسلم- ناروغ ته ښوودلې دي: «أَعُوذُ بِعِزَّةِ اللهِ وَقُدْرَتِهِ مِنْ شَرِّ مَا أَجِدُ، سَبْعَ مَرَّاتٍ» "زه د الله په عزت او قدرت پناه غواړم د هغه څه له شر څخه چې زه يې مومم، اوه ځلې". [مسلم روايت کړی]. او د الله – عزوجل- دغه قول چې فرمايي:

﴿...وَٱللَّهُ قَدِيرٞۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٧﴾ [الممتحنة: 7]

(او الله ښه قادر دی، او الله ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی) [الممتحنة سورت: ايت 7]،

په دې کې: اشاره شوې ده چې د هغه –عزوجل- بخښنه او په بندګانو باندې د هغه رحمت د بشپړ ځواک څخه دی، نو هيڅ ګناه د هغه لپاره دومره لويه نه ده چې هغه و نه بخښي، او هيڅ عيب د هغه لپاره دومره لوی نه دی چې هغه پټ نکړي، او هيڅ رحمت نشته چې هغه و نه ليږدوي.

نو ټول داسې ندي چې توان او قوت ولري او په هغه چا رحم وکړي او وې بخښي چې هغه باندې برلاسی وي.

او نه هغه څوک چې بخښنه او رحم کوي قدرت لرونکی دی، نو هغه – سبحانه و تعالی- د بشپړتیا توان سره، بیا هم بخښونکی، او ډیر رحم کوونکی دی.

هر څه لپاره اندازه شته:

او الله –سبحانه و تعالی- وفرمایل:

﴿.... وَمَن يَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِ فَهُوَ حَسۡبُهُۥٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ بَٰلِغُ أَمۡرِهِۦۚ قَدۡ جَعَلَ ٱللَّهُ لِكُلِّ شَيۡءٖ قَدۡرٗا ٣﴾ [الطلاق: 3]

(او هغه څوك چې په الله باندې توكل وكړي، نو همدی د ده لپاره بس (او كافي) دی، بېشكه الله خپل كار ته رسېدونكی دی، يقينًا الله د هر شي لپاره يوه اندازه مقرر كړې ده) [الطلاق سورت: ايت 3]،

څوک چې له خپل رب څخه ووېرېږي او په هغه توکل وکړي؛ نو د الله مرسته د هغه لپاره ځند نه کوي، او د هغه له مهربانۍ څخه نه مایوسه کیږي، او هغه د رحمت څخه نا امیده کیږي؛ خلاصون به ضرور راځي؛ ځکه چې الله – عزوجل- په هر څه قادر دی.

مګر الله - عزوجل - د هرڅه لپاره اندازه ټاکلې ده؛ هغه لپاره ټاکل شوی وخت دی چې هغه نه تجاوز نکوي، او داسې وخت چې له هغه څخه نه تیریږي، نو هرکله چې ټاکل شوې نیټه راشي؛ نو یو ساعت نه ځنډیږي او نه هم مخکې کیږي.

بنده به د یو کار په نه کیدلو باندې نا امیده ویده شي، او کله چې پاځیږي هغه کار به شوی وي؛

﴿... وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ مُّقۡتَدِرًا ٤٥﴾ [الكهف: 45]

(او الله په هر شي باندې قدرت لرونكی دی). [الكهف سورت: ايت 45].

د ستونزو لپاره ټاکلی وخت وي او بیا له منځه ځي، او د هغه لپاره یو وخت دی او بیا ځي؛ ځکه چې الله – عزوجل- د هر څه لپاره اندازه ټاکلې ده.

ونه تر هغه وخته پورې میوه نه نیسي تر څو چې خپل وخت یې نه وي راغلی، او لمر تر هغه وخته پورې نه راخیژي چې وخت یې نه وي راغلی، او حامله ښځه تر هغه وخته پورې زیږون نه کوي چې نیټه یې نه وي راغلې.

﴿... قَدۡ جَعَلَ ٱللَّهُ لِكُلِّ شَيۡءٖ قَدۡرٗا﴾ [الطلاق: 3]

(یقینًا الله د هر شي لپاره یوه اندازه مقرر کړې ده). [الطلاق سورت: ایت 3].

اې الله! موږ ته بخښنه وکړه او پر موږ رحم وکړه؛ تاسو د هر څه کولو توان لرئ.

47

## الحَفِيظُ )غوره ساتونکی (ذات -جل جلاله-

په "صحیحینو" کې راغلي: چې عامر بن طفیل او اربد بن قیس رسول الله -صلی الله علیه وسلم- ته ورغلل او د هغه د وژلو هڅه یې وکړه؛ نو هغوی ته یې ښیرا (بد دعا) وکړه.

نو عامر بن طفیل؛ د بنو سلول د یوې ښځې په کور کې و چې په ستوني کې یوه غده پیدا شوه، نو پر خپل آس باندې یې خیز کړه، او غشی یې را واخیست، او خپل آس خوا ته نږدې شو او ویې ویل: د اوښ په څیر غده، او د یوې سلولی ښځې په کور کې مرګ! نو همدغه یې حال و تر هغه چې له خپل آس څخه په ځمکه مړ پریوت.

او اربد بن قیس؛ هغه له اوښ سره ووتلو ترڅو یې خرڅ کړي، نو الله پر هغه او د هغه په اوښ باندې تندر ولېږه او دواړه یې وسوځول. نو رسول الله -صلی الله علیه وسلم- چا وساته؟! هغه ساتونکی الله دی.

او په خپل کتاب کې فرمايي:

﴿... فَٱللَّهُ خَيۡرٌ حَٰفِظٗاۖ وَهُوَ أَرۡحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ﴾ [یوسف: 64]

(نو الله ډېر غوره ساتونکی دی او هغه تر ټولو زیات رحم کوونکی دی). [یوسف سورت: ایت 64].

زموږ رب – سبحانه و تعالی- د اسمانونو او ځمکې او هغه څه چې د هغو په منځ کې دي ساتنه کوي، او د هغو دوام د هغه په قدرت سره ترسره دی، او هغوی نه له

منځه ځي او نه لرې کيږي، او هغوی حمل کول هغه نشي عاجزولی؛ ځکه چې هغه د بشپړ قدرت او ځواک خښتن دی، آيا تا د هغه – سبحانه و تعالی- وينا ندي اوريدلې:

﴿۞ إِنَّ ٱللَّهَ يُمۡسِكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ أَن تَزُولَاۚ وَلَئِن زَالَتَآ إِنۡ أَمۡسَكَهُمَا مِنۡ أَحَدٖ مِّنۢ بَعۡدِهِۦٓۚ ...﴾ [فاطر: 41]

(بېشکه چې الله اسمانونه او ځمکه ساتي او (نيسي يې) چې زايل نشي او قسم د ی که دواړه په زوال شي (نو) له هغه (الله) نه غير به يې هيڅوك ونه ساتلی شي) (ونه نيولی شي). [فاطر سورت: ايت 41].

او زموږ رب – سبحانه و تعالی- د خپل مخلوق خير او شر، پټ او ښکاره، کوچني او ستر کارونه ټول حفظوي، د هغوی خبرې يې شميرلې دي، او نيتونو باندې پوهه دی؛ نو له هغه څخه هيڅ څيز نه غايبيږي،

﴿قَدۡ عَلِمۡنَا مَا تَنقُصُ ٱلۡأَرۡضُ مِنۡهُمۡۖ وَعِندَنَا كِتَٰبٌ حَفِيظُۢ ٤﴾ [ق: 4]

(او زمونږ سره يو ښه ياد ساتونکی کتاب دی). [ق سورت: ايت 4]

. او هغه – سبحانه و تعالی- خپل بنده له خطرونو، مصيبتونو، بدو پايلو څخه ساتي، او د هغه لپاره يې له ملايکو څخه ساتونکي نيولي دي او هغوی: يو بل پسې راتلونکي (ملايك) دي، هغه – سبحانه و تعالی- وفرمايل:

﴿لَهُۥ مُعَقِّبَٰتٞ مِّنۢ بَيۡنِ يَدَيۡهِ وَمِنۡ خَلۡفِهِۦ يَحۡفَظُونَهُۥ مِنۡ أَمۡرِ ٱللَّهِۗ ...﴾ [الرعد: 11]

(د دغه (انسان) لپاره د ده له مخې او د ده له شا نه نوبت په نوبت په يو بل پسې راتلونکي (ملايك) دي چې د الله په امر سره د ده ساتنه کوي). [الرعد سورت: ايت 11].

او الله خپل مخلوق په دوه ډوله ساتي:

عمومي، چې هغه: د هغه ساتنه د ټولو مخلوقاتو لپاره ده؛ چې د هغوی لپاره يې د هغوی مصلحتونه اسان کړي دي، هغه – سبحانه و تعالی- فرمايي:

﴿... إِنَّ رَبِّي عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٍ حَفِيظٞ ٥٧﴾ [هود: 57]

[هود:57].

(بېشکه زما رب په هر شي باندې ښه نګران او ساتونکی دی). [هود:57].

او ځانګړې ساتنه - او دا په دوارو ډولونو کې غوره ساتنه ده– او هغه: د هغه ساتنه د خپلو دوستانو لپاره د هغوی په دنیوی مصلحتونو، بدنونو، ماشومانو، او مال کې ده، نو د دوی د ساتنې لپاره يې يو بل پسې راتلونکي (ملايك) ګمارلي دي، او د دوی دين يې له شکونو، شهوتونو، او د دوی د دښمنانو له انسي او جني شيطانانو څخه خوندي کړی، او بيا هغوی په ايمان سره وفاتوي، هغه – سبحانه و تعالی- فرمايلي:

﴿لَهُۥ مُعَقِّبَٰتٌ مِّنۢ بَيۡنِ يَدَيۡهِ وَمِنۡ خَلۡفِهِۦ يَحۡفَظُونَهُۥ مِنۡ أَمۡرِ...﴾ [الرعد: 11]

(د دغه (انسان) لپاره د ده له مخې او د ده له شا نه نوبت په نوبت په يو بل پسې راتلونکي (ملايك) دي چې د الله په امر سره د ده ساتنه کوي). [الرعد سورت: ايت 11]

. او زمونږ رب چې د خپل ګران کتاب د ساتنې تضمين يې کړی؛ د عصرونو او زمانو په اوږدو کې له تحريف او بدلون څخه:

﴿إِنَّا نَحۡنُ نَزَّلۡنَا ٱلذِّكۡرَ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ ۝٩﴾ [الحجر: 9]

(بېشکه همدا مونږ پخپله ذکر نازل کړی دی او بېشکه مونږ د ده خامخا ساتونکي يو). [الحجر سورت : ايت 9].

کعبه يې له زوال څخه وژغورله؛ که څه هم دا په يوه نا کرل شوې دره کې د تيرو کور دی؛ تر څو د هغه د ساتنې د عظمت، او د هغه د لوی ورتيا او د هغه د ځواک ګواه پاتې شي.

ستا ملاتړ کوي ..

د قريشو کافران د يو غار په شاوخوا کې راټول شوي چې دوه سړي په کې دي: محمد -صلى الله عليه وسلم - او ابوبکر -صديق رضی الله عنه - چې غواړي دوی ووژني، نو د ابوبکر -رضي الله عنه- په زړه کې ويره خپره شوه، نو د هغه ستر ملګري ورته وکتل او يې ويل: «مَا ظَنُّكَ بِاثْنَيْنِ اللهُ ثَالِثُهُمَا؟» «د هغو دوو کسانو په اړه ستا څه ګمان دی چې د هغوی دريم الله وي»؟ [بخاري او مسلم روايت کړی]

او که چيرته د ساتنې سترګې تا باندې ولړيږي ... نو ته ويده شه او ټولې ويرې امان دي

هغه ساتونکی دی... !

طاغوتيان او ظالمان اولياوو ته دسيسې جوړوي؛ او الله د خپلو اولياوو ساتنه کوي، لکه څرنګه چې موسی -عليه السلام- فرمايي:

﴿..رَبَّنَآ إِنَّنَا نَخَافُ أَن يَفۡرُطَ عَلَيۡنَآ أَوۡ أَن يَطۡغَىٰ ۝٤٥ قَالَ لَا تَخَافَآۖ إِنَّنِي مَعَكُمَآ أَسۡمَعُ وَأَرَىٰ ۝٤٦﴾ [طه: 45-46]

(اې زمونږه ربه! بېشکه مونږ له دې نه وېرېږو چې دی به زمونږ سره زياتی وکړي، يا به سرکشي شروع کړي. (وويل: تاسو مه وېرېږئ، بېشکه زه له تاسو سره يم، زه اورم او زه وينم) [طه سورت: ايتونه 45-46]؛

نو الله هغه ته زيری ورکړ، هغه يې وساته، او دښمن باندې يې بريا ورکړه. نو پر دښمنانو باندې څوک برلاسی دی؟ هغه الله دی د خپلو اولياوو ساتونکی؛ حتا که د هغوی شمير لږ هم وي؛

﴿... وَإِن يَكُن مِّنكُمۡ أَلۡفٌ يَغۡلِبُوٓاْ أَلۡفَيۡنِ بِإِذۡنِ ٱللَّهِۗ ...﴾ [الأنفال: 66]

(او که په تاسو کې زر تنه (صبر کوونکي) وي (،نو) پر دوه زره به غالبه شي، د الله په حکم سره). [الأنفال سورت: ايت 66]،

﴿وَلَا تَهِنُواْ وَلَا تَحۡزَنُواْ وَأَنتُمُ ٱلۡأَعۡلَوۡنَ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ۝١٣٩﴾ [آل عمران: 139]

(او تاسو مه کمزوري کېږئ او مه غمجن کېږئ، پداسې حال کې چې هم تاسو به غالبه يئ، (خو) که تاسو مومنان يئ). [آل عمران سورت: ايت 139].

رباني انعام:

ساتونکی – عزوجل- د خپلو اولياوو د اولاد ساتنه کوي؛ د هغوی په ژوندانه کې او د هغوی د مړينې نه وروسته؛ نو دا يعقوب -عليه السلام- دی، الله تعالی له ډېرو کلونو وروسته خپل محبوب يوسف -عليه السلام- ته ور وګرځاوه، او ويې فرمايل:

﴿..فَٱللَّهُ خَيۡرٌ حَٰفِظٗاۖ وَهُوَ أَرۡحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ ۝٦٤﴾ [يوسف: 64]

(نو الله ډېر غوره ساتونکی دی او هغه تر ټولو زيات رحم کوونکی دی). [يوسف سورت: ايت 64].

او د موسى او خضر -عليهما السلام- په خبر کې راغلي، کله چې دوی د يوه کلي خلکو ته ورغلل او د هغه له خلکو څخه يې خواړه وغوښتل؛ هغوی د دوی له ميلمه کولو څخه انکار وکړ، نو دوی په هغه کلي کې يو ديوال وموند، نږدې وه چې ړنګ شي، نو خضر -عليه السلام- هغه ودراوه:

﴿وَأَمَّا ٱلۡجِدَارُ فَكَانَ لِغُلَٰمَيۡنِ يَتِيمَيۡنِ فِي ٱلۡمَدِينَةِ وَكَانَ تَحۡتَهُۥ كَنزٞ لَّهُمَا وَكَانَ أَبُوهُمَا صَٰلِحٗا فَأَرَادَ رَبُّكَ أَن يَبۡلُغَآ أَشُدَّهُمَا وَيَسۡتَخۡرِجَا كَنزَهُمَا رَحۡمَةٗ مِّن رَّبِّكَۚ وَمَا فَعَلۡتُهُۥ عَنۡ أَمۡرِيۚ ذَٰلِكَ تَأۡوِيلُ مَا لَمۡ تَسۡطِع عَّلَيۡهِ صَبۡرٗا٨٢﴾ [الكهف: 82]

(او پاتې شو دېوال، نو هغه د دوه يتيمو هلکانو و، چې په ښار کې وو، او له هغه نه لاندې د هغو دواړو لپاره خزانه وه او د دغو دواړو پلار نېك (سړی) و، نو ستا رب اراده وكړه چې دوی دواړه خپلې ځوانۍ (او قوت) ته ورسيږي او (بيا) خپله خزانه راوباسي، ستا د رب د مهربانۍ په وجه او دغه (كار) ما (له خپله ځانه) په خپل حكم نه دی كړی، دغه حقيقت د هغه څه دی چې تا په هغو د صبر كولو طاقت ونشو كولای). [الكهف سورت: ايت 82].

عادل خليفه عمر بن عبدالعزيز په داسې حال کی وفاتيږي چی اووه زامن او اوه لورګانې يې پرېښودې، او له الله – عزوجل- پرته يې هيڅ شی هغوی ته پرينښوده، نو الله د هغه د اولادونو ساتنه وکړه، علماوو وويل: د هغه زامن په خلکو کې تر ټولو شتمن وو.

يوه ارزښتناکه سپارښتنه:

رسول الله -صلى الله عليه وسلم- ابن عباس -رضي الله عنهما- ته سپارښتنه کوي: «يَا غُلَامُ! إِنِّي أُعَلِّمُكَ كَلِمَاتٍ: احْفَظِ اللَّهَ يَحْفَظْكَ! احْفَظِ اللَّهَ تَجِدْهُ تُجَاهَكَ!» "اې ځوانه! زه تاته يو څو کلمې در زده کوم: د الله حدود او احکام عملي کړه نو الله به ستا ساتنه وکړي! د الله حدود او احکام عملي کړه نو ته به الله ستا په وړاندې ومومې!». [صحيح حديث دی. ترمذي روايت کړی]. او کله چې محب الدين الطبري – او هغه لوی شافعی امام دی- ته وويل شو: «تاسو په داسې حال کې له کښتۍ څخه ټوپ واچاوه چې ته د ډير عمر لرونکی يې؟ هغه وويل: - داسې خبره يې وکړه چې په تاريخ کې ثبت شوه-! -: دا د بدن هغه غړي دي چې موږ په ماشومتوب کې د هغې محافظت کړی وو؛ نو الله هغه زموږ لپاره په بوډاتوب کې ساتلي دي».

﴿... فَٱللَّهُ خَيۡرٌ حَٰفِظٗاۖ وَهُوَ أَرۡحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ ٦٤﴾ [يوسف: 64]

(نو الله ډېر غوره ساتونکی دی او هغه تر ټولو زيات رحم کوونکی دی). [يوسف سورت: ايت 64]

. علماء فرمايي: د الله -تعالى- د اوامرو ساتنه د هغه په اطاعت سره وکړه، او د هغه د نواهيو څخه په ډډه کولو سره، او د هغه د حدودو په نه تيريدو سره؛ نو هغه به ستا ځان، دين، مال، اولاد او په هر هغه څه کې چې الله -تعالى- په دې دنيا کې له خپل فضل څخه درکړي، حفاظت کوي، هغه – صلى الله عليه وسلم- وفرمايل: «احْفَظِ اللهَ يَحْفَظْكَ! احْفَظِ اللهَ تَجِدْهُ تُجَاهَكَ!» «د الله حدود او احکام عملي کړه نو الله به ستا ساتنه وکړي! د الله حدود او احکام عملي کړه نو ته به الله هر مهال ستا په وړاندې ومومې!». [صحيح حديث دی. ترمذي روايت کړی]. او په آخرت کې؛ الله هغوی ته د سترې بريا زيری ورکړ او وې فرمايل:

﴿... وَٱلۡحَٰفِظُونَ لِحُدُودِ ٱللَّهِۗ وَبَشِّرِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ١١٢﴾ [التوبة: 112]

(او د الله د حدودو حفاظت کوونکي دي او ته مومنانو ته زيری ورکړه). [التوبة سورت: ايت 112].

او تر کومه حده چې تاسو د الله د حدودو ساتنه کوئ، په هماغه به ددوستۍ اندازه وي، او پدې کې دا شامل دي:

د توحيد ساتنه، او د دين د شعائر (اعمالو) ساتنه؛ په ځانګړې توګه لمونځ:

﴿حَٰفِظُواْ عَلَى ٱلصَّلَوَٰتِ وَٱلصَّلَوٰةِ ٱلۡوُسۡطَىٰ وَقُومُواْ لِلَّهِ قَٰنِتِينَ ٢٣٨﴾ [البقرة: 238]

(د لمونځونو ساتنه کوئ او (خصوصًا) د ښځي منځني لمونځ، او الله ته ودريږئ اطاعت کوونکي). [البقرة سورت: ايت 238].

غوږونه، سترګې او زړه يې له حرامو څخه وساتل:

﴿... إِنَّ ٱلسَّمۡعَ وَٱلۡبَصَرَ وَٱلۡفُؤَادَ كُلُّ أُوْلَٰٓئِكَ كَانَ عَنۡهُ مَسۡـُٔولٗا ٣٦﴾ [الإسراء: 36]

(بېشکه غوږونه او سترګې او زړه، په دغو کې د هر يو باره کې به تپوس کيږي). [الإسراء سورت: ايت 36]،

﴿.. فَٱلصَّٰلِحَٰتُ قَٰنِتَٰتٌ حَٰفِظَٰتٌ لِّلۡغَيۡبِ بِمَا حَفِظَ ٱللَّهُۚ ...﴾ [النساء: 34]

(نو نېکې ښځې اطاعت کوونکې دي او د الله په ساتنې سره پسې شا (د ځان او مال) حفاظت کوونکې دي). [النساء سورت: ايت 34]

. او د فرج (د شهوت ځايونه) ساتل:

﴿وَٱلَّذِينَ هُمۡ لِفُرُوجِهِمۡ حَٰفِظُونَ٥﴾ [المؤمنون: 5]

(او هغه چې هغوی د خپلو فرجونو (د شهوت ځايونو) ساتونکې دي). [المؤمنون سورت: ايت 5]

. او د قسمونو ساتل:

﴿... وَٱحۡفَظُوٓاْ أَيۡمَٰنَكُمۡۚ ...﴾ [المائدة: 89]

(او تاسو د خپلو قسمونو حفاظت کوئ). [المائدة سورت: ايت 89].

په صحيح روايت کې راغلي چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- به دا دعا کوله: «اللَّهُمَّ! احْفَظْنِي مِنْ بَيْنِ يَدَيَّ وَمِنْ خَلْفِي، وَعَنْ يَمِينِي وَعَنْ شِمَالِي، وَمِنْ فَوْقِي، وَأَعُوذُ بِعَظَمَتِكَ مِنْ أَنْ أُغْتَالَ مِنْ تَحْتِي» «اې الله! له وړاندې او وروسته، له ښي او چپ خوا، او د پورته لخوا زما ساتنه وکړه، او ستا لويې ته پناه غواړم چې له لاندې خوا څخه ترور نشم». [صحيح حديث دی. ترمذي روايت کړی]، او کله يې چې غوښتل ويده شي، نو هغه –صلى الله عليه وسلم- له الله څخه د ساتنې غوښتنه کوله.

زيری..

کله چې يو نيک بنده يو څه الله ته وسپاري، هغه به يې ساتنه وکړي؛ څرنګه چې روايت دی چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- ابوهريره -رضي الله عنه- ته وفرمايل: «أَسْتَوْدِعُكَ اللهَ الَّذِي لَا تَضِيعُ وَدَائِعُهُ» "زه تا الله ته سپارم، هغه چې امانتونه يې هيڅکله نه ضايع کيږي". [ صحيح حديث دی. ابن ماجه روايت کړی]. په بل حديث کې راغلي: رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فرمايلي: «إِنَّ اللهَ إِذَا اسْتُودِعَ شَيْئًا حَفِظَهُ» "کله چې يو څه الله ته وسپارل شي، د هغه ساتنه کوي". صحيح حديث دی. بيهقي په سنن الكبرى کې روايت کړی دی. څومره غوره ده چې خپلو اولادونو ته دې د پناه غوښتنه وکړې

لکه څرنګه چې رسول الله -صلی الله علیه وسلم- کول؛ حسن او حسین -رضي الله عنهما- ته به یې د پناه غوښتنه کوله - او کله چې دې هغوی الله ته وسپارل پدې معنا چې ساتونکي ذات – سبحانه و تعالی- ته دې سپارلي دي؛

﴿... فَٱللَّهُ خَيۡرٌ حَٰفِظٗاۖ وَهُوَ أَرۡحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ﴾ [یوسف: 64]

(نو الله ډېر غوره ساتونکی دی او هغه تر ټولو زیات رحم کوونکی دی). [یوسف سورت: ایت 64].

اې الله! مونږ خپل ځان، خپل مور او پلار، خپل اولاد او هر هغه نعمت چې تا موږ ته راکړی دی تا ته سپارو.

## الغَنِيُّ)بې نیازه (ذات -جل جلاله-

په صحیح بخاري کې راغلي دي چې رسول الله -صلی الله علیه وسلم- وفرمایل: «بَيْنَا أَيُّوبُ يَغْتَسِلُ عُرْيَانًا، فَخَرَّ عَلَيْهِ جَرَادٌ مِنْ ذَهَبٍ؛ فَجَعَلَ أَيُّوبُ يَحْتَثِي فِي ثَوْبِهِ. "پداسې حال کې چې ایوب بربنډ غسل کاوه، د سرو زرو ملخان ورباندې راولوېدل؛ نو ایوب شروع شو چې په خپلو جامو کې یې راټولول.

او د هغه رب ورته غږ وکړ: اې ایوبه! ایا ته ما نه وې مالداره کړی د دې څه نه چې ته یې وینې؟ ویې ویل: ولې نه ستا په عزت مې دې قسم وي! مګر ستاسو له برکت څخه زه بې نیازه پاتې کېدلی نشم».

شاید یو انسان ته مال ورکړل شي، املاک ورکړل شي، اولادونه ورکړل شي، د منزلت خاوند شي، یا لوی مقام تر لاسه کړي، او لوړه درجه ترلاسه کړي، پراخه رهبري یا ځواکمنه رهبري ترلاسه کړي.. کیدای شي نوکران د هغه شا او خوا را تاو وي، سرتیرو احاطه کړی وي، او لښکر د هغه ساتنه وکړي ، خلک هغه ته تابع وي، سرونه ورته ښکته وي، او خلک یې تابع وي ... ددې هر څه باوجود -دا ټول- هر یو الله –جل و علا- ته محتاجه دي:

﴿۞ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ أَنتُمُ ٱلۡفُقَرَآءُ إِلَى ٱللَّهِۖ وَٱللَّهُ هُوَ ٱلۡغَنِيُّ ٱلۡحَمِيدُ﴾ [فاطر: 15]

(اې خلقو! هم تاسو الله ته محتاجان يئ، او الله، هم دی ښه بې پروا، ښه ستایل شوی دی).
[فاطر سورت: ایت 15].

او زموږ رب – عزوجل- بې حاجته دی؛ هغه ذات چې له هغه پرته څوک بې نیازه نشي پاتې کیدلی، او ټول هغه لره  بې وزله او اړمن دي.

زموږ رب په خپل ذات، صفات او واک کې بې حاجته دی، په خپله بډاینه کې بشپړ دی، نو هیڅا ته اړتیا نلري.

او زمونږ د رب له کمالاتو څخه: دا چې د اطاعت کوونکي اطاعت ورته ګټه نه رسوي او نه د نافرمانو نافرماني هغه ته زیان رسوي؛ که ټوله نړۍ هم کافران شي! هغه - عزوجل - وفرمایل:

﴿... وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَنِيٌّ عَنِ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٩٧﴾ [آل عمران: 97]

(او څوك چې كافر شو، نو بېشكه الله له مخلوقاتو نه بېخي بې پروا دى). [آل عمران سورت: ایت 97].

او د هغه د بډایتوب له کمال څخه: دا دي چې هغه د خپلو بندګانو خیر غواړي، او له هغوی څخه شر لرې کوي؛ دا کار نکوي مګر د مهربانۍ او احسان له مخې.

﴿وَرَبُّكَ ٱلۡغَنِيُّ ذُو ٱلرَّحۡمَةِۚ ...﴾ [الأنعام: 133]

(او هم ستا رب ښه بې پروا، (او) رحمت والا دى). [الأنعام سورت: ایت 133]

. او د هغه د بډاینې له کمال څخه: دا دي چې هغه له نیمګړتیاوو او عیبونو څخه پاک دی، او هر هغه څه چې د هغه د بډاینې سره په ټکر کې وي، نو نه یې ځان لپاره ښځه او نه یې زوی نیولی، نه یې په بادشاهۍ کې شریک لري، او نه یې د ذلت له مخې ځان لپاره دوست نیولی، او د هغه سره هیڅوک سیال ندی، زموږ رب – عزوجل- فرمايي:

﴿وَقُلِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي لَمۡ يَتَّخِذۡ وَلَدٗا وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ شَرِيكٞ فِي ٱلۡمُلۡكِ وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ وَلِيّٞ مِّنَ ٱلذُّلِّۖ وَكَبِّرۡهُ تَكۡبِيرَۢا ١١١﴾ [الإسراء: 111]

(او ته ووايه: ټوله ثنا هغه الله لره خاص ده چې نه يې څوك اولاد نيولی دی او نه د هغه لپاره په بادشاهۍ کې څوك شريك شته او نه د هغه لپاره د عاجزۍ په وجه څوك دوست شته او ته د هغه لويي بيانوه، لويي کامله). [الإسراء سورت: ايت 111].

او د هغه د بډايتوب او سخاوت له کمال څخه: دا دي چې هغه خپلو بندګانو ته د هغه د رابللو امر کوي او د دوی دعاګانو ته د قبولتيا ژمنه کوي:

﴿وَقَالَ رَبُّكُمُ ٱدۡعُونِيٓ أَسۡتَجِبۡ لَكُمۡۚ ...﴾ [غافر: 60]

(او ستاسو رب فرمايي: تاسو ما وبلئ چې زه ستاسو دعا قبوله کړم). [غافر سورت: ايت 60]،

او په صحيح روايت کې راغلي دی چې هغه - عليه الصلاة والسلام - وفرمايل: «لَيْسَ شَيْءٌ أَكْرَمَ عَلَى اللَّهِ -عز وجل- مِنَ الدُّعَاءِ» "د الله – عزوجل- په نيز له دعا څخه بل څه د قدر وړ نشته". [حسن حديث دی. ترمذي روايت کړی].

ټوله نړۍ الله لره اړمن دي ..

ټوله نړۍ؛ پيريان او انسانان، بډايه او فقيران، زاړه او ځوانان، د دوی حاکم او ټيټ خلك، ځواکمن او کمزوري: دوی ټول الله لره اړمن دي، او په هر ساعت کې هغه ته اړتيا لري.

او د الله له سخاوت څخه: دا چې هغه خپل نوم (الغني) يې له خپل (الرحمة) صفت سره يو ځاي کړی دی، د هغه – سبحانه و تعالی- پدې قول کې:

﴿وَرَبُّكَ ٱلۡغَنِيُّ ذُو ٱلرَّحۡمَةِۚ ...﴾ [الأنعام: 133]

(او هم ستا رب ښه بې پروا، (او) رحمت والا دی). [الأنعام سورت: ايت 133]

؛ دا د دې لپاره چې بندګانو ته ووايي چې: هغه د دوی له عبادت څخه مستغني دی، او د دې سره سره په هر څه کې پر دوی رحم کوي. حتی په عبادتونو او مکلفيتونو کې، او د هغه له رحمت څخه: دا چې هغه لږ قبلوي او په ډيرو يې شميري. د هغه له سخاوت څخه دا هم دي چې خپل نوم (الغني) يې له خپل نوم (الحميد) سره يوځای کړی، الله – سبحانه و تعالی- فرمايي:

﴿وَقَالَ مُوسَىٰٓ إِن تَكۡفُرُوٓاْ أَنتُمۡ وَمَن فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا فَإِنَّ ٱللَّهَ لَغَنِيٌّ حَمِيدٌ ٨﴾ [إبراهيم: 8]

(او موسی وویل: که کافران شئ تاسو او هغه څوك چې په ځمكه كې دي، ټول، نو بېشكه الله خامخا ډېر بې پروا، ډېر ستايل شوی دی). [إبراهيم سورت: ايت 8]

، پدې معنا چې: ډير د ستاينې وړ دی؛ د خپلو سترو نعمتونو په لرلو سره.

نو ټول ورته اړتيا لري؛ په هر کوچني او لوی، او په هر ساعت او هره ثانيه کې.

او دا تر ټولو کامل مخلوق په بندګۍ کې خپل رب ته دعا کوي، او هغه ته د خپلې بې وزلۍ او اړتيا څرګندونه کوي، او د سترګو د رپيدو په اندازه هم له هغه څخه بې نيازه نشي پاتې کيدلی، نو د هغه - عليه الصلاة والسلام- له دعاوو څخه دي: «أَصْلِحْ لِي شَأْنِي كُلَّهُ، وَلَا تَكِلْنِي إِلَى نَفْسِي طَرْفَةَ عَيْنٍ» "زما ټول کارونه زما لپاره سم کړه، او ما د سترګو د رپيدو په اندازه هم ځان ته مه پرېږده". [صحيح حديث دی. نسائی روايت کړی].

ته په هر ساعت کې بې نيازه ذات ته اړتيا لرې، څومره چې خپله فقر هغه ته وښيې، نو په هماغه پيمانه به بدله درکړي.

او په ياد ولره: چې الله غني دی، او د هغه بډاينه ذاتی ده، حتا که د اسمانونو او ځمکې خلک وغواړي او هر يو ته د هغه غوښتنه ورکړی شي، نو د هغه په بادشاهۍ کې به هيڅ کموالی رانشي. په «صحيح مسلم» کې راغلي دي: «لَوْ أَنَّ أَوَّلَكُمْ وَآخِرَكُمْ وَإِنْسَكُمْ وَجِنَّكُمْ قَامُوا فِي صَعِيدٍ وَاحِدٍ، فَسَأَلُونِي؛ فَأَعْطَيْتُ كُلَّ إِنْسَانٍ مَسْأَلَتَهُ، مَا نَقَصَ ذَلِكَ مِمَّا عِنْدِي إِلَّا كَمَا يَنْقُصُ المِخْيَطُ إِذَا أُدْخِلَ البَحْرَ». "که ستاسو لومړي او وروستي، انسانان او پيريان، پر يوې غونډۍ پورته شي، او زما څخه وغواړي؛ نو زه هر انسان ته د هغه غوښتنه ورکړم، دا د هغه څه څخه نه کميږي چې زه يې لرم، مګر په دومره اندازه لکه د سمندر څخه چې څه کم شي کله چې ستنه ورننويستل شي".

د بې نيازۍ چابي:

زه څنګه بې نيازۍ ته ورسيږم؟

ځواب: لکه څنګه چې په قدسي حديث کې راغلي: «ابْنَ آدَمَ! تَفَرَّغْ لِعِبَادَتِي أَمْلَأْ قَلْبَكَ غِنًى، وَامْلَأْ يَدَيْكَ رِزْقًا. "اې د آدم اولاده! خپل ځان زما عبادت ته وقف کړه، زه به ستا زړه په مالدارۍ او ستا لاسونه په رزق سره ډک کړم. اې د آدم اولاده! زما څخه مه لرې کيږه، بيا به زه ستا

زړه له بې وزلۍ، او ستا لاسونه به له کار څخه ډک کړم». [صحیح حدیث دی. حاکم په مستدرک کې روایت کړی دی].

نو کله چې زړه په الله - عزوجل - بې حاجته شي، او هغه باندې قناعت وکړي، او په هغه څه خوشحاله شي چې الله ورته ورکړی وي؛ هغه به د خپل خالق په واسطه له ټول مخلوق څخه بې نیازه شي، د خپل رزق په واسطه تر ټولو به باعزت مخلوق وي، او د خپل مالک په واسطه به تر ټولو پیاوړی ضعیف وي، نو دا بې نیازي پرته له مال، او ځواک پرته له واک، او عزت پرته له قبیلې څخه دی، نو څومره ستره بې حاجتي ده؛ او څومره د ارزښت وړ ده!

په صحیح حدیث کې رسول الله – صلى الله عليه وسلم- فرمایلي: «قَدْ أَفْلَحَ مَنْ أَسْلَمَ، وَرُزِقَ كَفَافًا، وَقَنَّعَهُ اللهُ بِمَا آتَاهُ» "چا چې اسلام قبول کړ، کامیاب شو، هغه ته کفایت ورکړل شو، او الله په هغه څه راضي کړ چې هغه ورته ورکړي". [مسلم روایت کړی]. که انسان د ټولې دنیا مالک هم شي هغه به موړ نشي؛ تر څو چې په زړه کې مالداري نه وي، او لکه څرنګه چې په "صحیح ابن حبان" کې راغلي: رسول الله - عليه الصلاة والسلام- وفرمایل: «يَا أَبَا ذَرٍّ! أَتَرَى كَثْرَةَ المَالِ هِيَ الغِنَى؟ إِنَّمَا الغِنَى غِنَى القَلْبِ وَالفَقْرُ فَقْرُ القَلْبِ» «اې ابوذره! ایا ته فکر کوې چې د مال ډیر والی مالدراي ده؟ بلکې مالداري د زړه مالدراي ده او فقر د زړه فقر دی». [صحیح حدیث دی] څوک چې د زړه بډاینه ولري؛ هغه ته به هیڅ ضرر نه رسیږي چې په دنیا کې ورسره مخامخ کیږي، او د چا چې په زړه کې فقر وي؛ نو د نړۍ ډیر شیان یې هم نشي بډایه کولی، په صحیح حدیث کې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فرمایلي دي: «وَارْضَ بِمَا قَسَمَ اللهُ لَكَ تَكُنْ أَغْنَى النَّاسِ» "په هغه څه راضي شه چې الله درته تقسیم کړی وي، نو ته به تر ټولو بډایه اوسې". [حسن حدیث دی. ترمذي روایت کړی]. او په بل حدیث کې راغلي: «وَمَنْ يَسْتَعْفِفْ يُعِفَّهُ اللهُ، وَمَنْ يَسْتَغْنِ يُغْنِهِ اللهُ» «او څوک چې له سوال کولو څخه ځان وساتي الله تعالی به یې د خلکو د سوال کولو نه وساتي، او څوک چې له خلکو څخه ځان بې نیازه وګڼي، الله به یې بډایه کړي». [بخاري او مسلم روایت کړي].

نفس د غریب کیدلو څخه ویره لري

فقر تر هغې مالدارۍ غوره دی چې انسان سرکښه کوي

او د نفس بې حاجتي کافي ده او که

انکار وکړي، نو ټول هغه څه چې په ځمکه کې دي د هغې لپاره به بسنه ونکړي

نو په اسلام کې شتمن هغه څوک دی: څوک چې په زړه کې له خلکو څخه شتمن وي، او الله –سبحانه و تعالی- ته فقیر وي، هغه –صلی الله علیه وسلم- فرماېلي: «شَرَفُ الْمُؤْمِنِ صَلَاتُهُ بِاللَّيْلِ، وَعِزُّهُ: اسْتِغْنَاؤُهُ عَمَّا فِي أَيْدِي النَّاسِ» "د شپې لمونځ مؤمن لپاره شرف دی، او د هغه عزت: شتمن اوسیدل له هغه څه څخه چې د خلکو په لاس کې دي". [حسن حدیث دی. حاکم روایت کړی].

او کله چې اعرابي ته وویل شو: یوه ډوډۍ په یو دینار شوه!

هغه ځواب ورکړ: په الله قسم! زه یې په کیسه کې نه یم؛ حتا که د غنمو یوه دانه په دینار هم شي! زه د الله عبادت کوم لکه څرنګه چې هغه ماته امر کړی دی او هغه ماته روزي راکوي لکه څرنګه چې هغه ما سره ژمنه کړې ده!

نسفي -رحمه الله- فرمایي: واسطي ویلي دي: «هغه څوک چې الله باندې ځان بې نیازه کړي هیڅکله به بل چاته محتاج نشي، او څوک چې د الله په واسطه عزتمن او غالب شي هغه به هیڅکله نه ذلیل کیږي؛ او حسین ویلي: په هره پیمانه چې بنده الله ته ځان محتاج کړي، په هماغه پیمانه به په الله باندې غني او بې نیازه وي».

یو حکیم ویلي: "یو سړی به ماسره جفا وکړي، نو کله چې له هغه څخه په الله باندې خپله شتمنتیا په یاد راولم، زما په ځیګر کې یخ والی پیدا کیږي". ابن سعدي -رحمه الله- فرمایي: " شتمني د زړه شتمني ده، څومره خلک دي چې شتمن وي خو زړه به یې فقیر او پښیمانه به وي؟"

زه د خپل ځواک، ټول عمر او قوت څخه بې زاره یم

او زه خپل مالک ته په خورا فقر کې یم

د انسان شتمني پر رحمان ذات باندې له شتمنۍ څخه زیاته شتمني ده

په دې سره د هیبت او عزت جامې اغوستل کیږي

اې الله! مخکې له دې چې مونږ يې له تا څخه وغواړو تا مونږ ته هر څه راکړي؛ نو که مونږ يې له تا څخه وغواړو څنګه به وي؟!

اې الله! مونږ خپل ځانته په اړمنېدلو سره شتمن کړه، او مونږ مه بې وسې کوه چې ستا څخه بې نيازه شو؛ يقينا چې ته بې نياز يې، له تا پرته بل الله نشته.

اې الله! ستا له حرامو څخه مونږ په حلالو شتمن کړه، او ستا په فضل مو له تا پرته له نورو مستغني کړه.

50 - 49

## الحَكَمُ الحَكِيمُ )د مخلوقاتو مطلق حاکم، د لوی حکمت خاوند ( ذات -جل جلاله-

په سنن نسائي کې د هاني څخه روايت دی چې کله رسول الله -صلى الله عليه وسلم- ته يو پلاوی راغی نو له هغه (پلاوي) څخه يې واوريدل، چې هغوی به هاني په: ابا الحکم کنيې سره ياداوه؛ نو رسول الله -صلى الله عليه وسلم- راوغوښت او ورته يې فرمايل: «إِنَّ اللهَ هُوَ الحَكَمُ، وَإِلَيْهِ الحُكْمُ، فَلِمَ تُكْنَّى أَبَا الحَكَمِ؟»، فقال: إن قومي إذا اختلفوا في شيء أتوني، فحكمت بينهم؛ فرضي كلا الفريقين؛ فقال رسول الله -صلى الله عليه وسلم- : «مَا أَحْسَنَ مِنْ هَذَا! فَمَا لَكَ مِنَ الوَلَدِ؟» قال: لي شريح، ومسلم، وعبد الله، قال: «فَمَنْ أَكْبَرُهُمْ؟»، قلت: شريح، قال: «فَأَنْتَ أَبُو شُرَيْحٍ» الله الحکم دی، او ټول حکم هغه لره دی، نو تا ولې خپل ځان باندې ابا الحکم نوم ايښی دی؟ هغه وويل: هر کله چې زما قوم کې اختلاف پيدا شي نو هغوی ما ته راځي، زه د هغوی په منځ کې فيصله کوم؛ نو دواړه خواوې راضي کيږي؛ نو رسول الله – صلى الله عليه وسلم- وفرمايل: " دا څومره ښه خبره ده! آيا ته زوی لرې؟" وې ويل: زه شريح، مسلم او عبدالله لرم، وې ويل: په دوی کې تر ټولو لوی څوک دی؟ ما ويل: شريح، هغه وفرمايل: ته ابو شريح يې". [صحيح حديث دی] زمونږ د رب – عزوجل- له نومونو څخه: الحکم او الحکيم (د مخلوقاتو مطلق حاکم، د لوی حکمت خاوند) دی، الله – سبحانه و تعالى- فرمايي:

﴿... لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٦﴾ [آل عمران: 6]

(نشته دی هېڅ لایق د عبادت مګر هم دی دی، چې ډېر غالبه، ښه حکمت والا دی). [آل عمران سورت: ایت 6]،

او هغه -سبحانه وتعالی- وفرمایل- :

﴿... ٱللَّهِ مَوْلَىٰهُمُ ٱلْحَقِّۚ أَلَا لَهُ ٱلْحُكْمُ وَهُوَ أَسْرَعُ ٱلْحَٰسِبِينَ﴾ [الأنعام: 62]

(د حکم (او فیصلې کولو) ټول اختیار خاص د هغه دی، او هغه تر ټولو ژر حساب کوونکی دی) [الأنعام سورت: ایت 62].

«الحکیم دوه معناوې لري:

لومړی: هغه څوک چې ټول شیان يې محکم او مکمل کړي وي، او الله –تبارک و تعالی– حکیم دی؛ ځکه چې هغه په خپلو خبرو او کارونو کې تر ټولو ماهر او محکم دی؛ د هغه خبرې او عمل ټول سم دي، اوچت کمال ته رسېدلي دي.

او په هغه کې مهارت شتون لري چې د حکمت هدف دی: دا دی چې هر څيز يې په خپل ځای کې ایښی دی؛ او خپل مخلوق يې په غوره توګه اداره کړی، او خپل مخلوق يې په غوره توګه جوړ کړی، نو د هغه په اداره کولو او ارزونو کې هیڅ عیب نه راځي، او د هغه په کار کې هیڅ ډول کموالی او نیمګړتیا نه پیدا کیږي، او د هغه په کار کې هیڅ ډول تیروتنه او خطا شتون نلري، او الله – تبارک و تعالی- رښتیا ویلي دي:

﴿... صُنْعَ ٱللَّهِ ٱلَّذِىٓ أَتْقَنَ كُلَّ شَىْءٍۚ...﴾ [النمل: 88]

[(وګورئ) کاریګري د الله هغه چې هر شی يې محکم کړی دی]. [النمل سورت : ا◉ت 88].

او لکه څنګه چې هغه خپل مخلوق مضبوط کړی د خپل کتاب –چې هغه قران کریم- دی ایتونه يې هم مضبوطې کړې دي؛ هغه –جل جلاله– فرمایلي دي:

﴿.... فَيَنسَخُ ٱللَّهُ مَا يُلْقِى ٱلشَّيْطَٰنُ ثُمَّ يُحْكِمُ ٱللَّهُ ءَايَٰتِهِۦۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ﴾ [الحج: 52]

(نو الله هغه لرې کوي چې شیطان يې غورځوي، بیا الله خپل ایتونه مضبوطوي، او الله ښه عالم، ښه حکمت والا دی). [الحج سورت: ایت 52]

، او خپل کتاب يې په حکمت لرونکي کتاب باندې وصف کړی:

﴿تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡحَكِيمِ ٢﴾ [لقمان: 2]

(دغه د حکمت لرونکي کتاب ایتونه دي). [لقمان سورت: ایت 2].

د الحکیم دویمه معنا: دا ده چې هغه –تبارک و تعالی- د خپلو بندګانو په منځ کې قضاوت کوونکی او حاکم دی، نو الله -عزوجل- د خپلو بندګانو په منځ کې قاضي او حاکم دی، یعني: هغه د خپلو بندګانو تر منځ قضاوت کوي، او د خپل قانون او شریعت له مخې د هغوی تر منځ فیصله کوي.

او ځان یې په پریکړې کولو سره ځانګړی کړی؛ نو د هیچا لپاره جواز نلري چې د هغه څه څخه سرغړونه وکړي، چې هغه د ځان لپاره ځانګړی کړی، ځکه چې الله - عزوجل - فرمایلي دي:

﴿... إِنِ ٱلۡحُكۡمُ إِلَّا لِلَّهِۖ يَقُصُّ ٱلۡحَقَّۖ وَهُوَ خَيۡرُ ٱلۡفَٰصِلِينَ ٥٧﴾ [الأنعام: 57]

(حکم (د فیصلې اختیار) یوازې له الله سره دی، هغه حق بیانوي او هغه ډېر غوره فیصله کوونکی دی). [الأنعام سورت: ایت 57]،

او الله -عز وجل- فرمايي:-

﴿... ٱللَّهِ مَوۡلَىٰهُمُ ٱلۡحَقِّۚ أَلَا لَهُ ٱلۡحُكۡمُ وَهُوَ أَسۡرَعُ ٱلۡحَٰسِبِينَ ٦٢﴾ [الأنعام: 62]

(د حکم (او فیصلې کولو) ټول اختیار خاص د هغه دی، او هغه تر ټولو ژر حساب کوونکی دی). [الأنعام سورت: ایت 62]

". او الله د قاضي او حاکم په توګه غوره کول د هغه د کتاب او د هغه د رسول - صلی الله علیه وسلم- د سنتو په تحکیم سره کیږي هر کله چې اختلاف پیدا شي؛ الله فرمايي:

﴿وَمَا ٱخۡتَلَفۡتُمۡ فِيهِ مِن شَيۡءٖ فَحُكۡمُهُۥٓ إِلَى ٱللَّهِۚ ...﴾ [الشورى: 10]

(او هر هغه شی چې تاسو په هغه کې اختلاف وکړئ، نو د هغه حکم (فیصله) الله ته ده). [الشورى سورت: ایت 10].

هغه يوازې الله –عزوجل- دی چې د خپلو بندګانو په منځ کې د قضاوت وړ دی؛ ځکه چې هغه د دوی رب، خالق او معبود دی.

﴿أَفَغَيۡرَ ٱللَّهِ أَبۡتَغِي حَكَمٗا وَهُوَ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ إِلَيۡكُمُ ٱلۡكِتَٰبَ مُفَصَّلٗاۚ ...﴾ [الأنعام: 114]

(ايا نو زه له الله نه سِوا بل کوم حَکَم (عادل قاضي) ولټوم، حال دا چې همغه دی چې تاسو ته يې کتاب نازل کړی دی، چې ښه تفصيل يې شوی دی). [الأنعام سورت: ايت 114].

او زمونږ رب تر ټولو ډېر ښه حکم او فيصله کونکی دی، ځکه هغه –تبارک و تعالی- په هر څه پوهېږي، او د هرې مسئلې لپاره مناسب حکم ورکوي؛ الله – عزوجل- فرمايي:

﴿وَٱتَّبِعۡ مَا يُوحَىٰٓ إِلَيۡكَ وَٱصۡبِرۡ حَتَّىٰ يَحۡكُمَ ٱللَّهُۚ وَهُوَ خَيۡرُ ٱلۡحَٰكِمِينَ ١٠٩﴾ [يونس: 109]

(او ته متابعت کوه د هغه څه چې تا ته وحي کيږي او صبر کوه تر هغه پورې چې الله فيصله وکړي او هغه تر ټولو غوره فيصله کوونکی دی). [يونس سورت: ايت 109].

مؤمن تر هغه وخته مؤمن نه دی چې تر څو د الله -تعالی- شريعت ته غاړه کې نه ږدي، او په هغه کې چې هر څه راغلي وي ورته تسليم نشي، الله – تبارک و تعالی- وفرمايل:

﴿فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤۡمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيۡنَهُمۡ ثُمَّ لَا يَجِدُواْ فِيٓ أَنفُسِهِمۡ حَرَجٗا مِّمَّا قَضَيۡتَ وَيُسَلِّمُواْ تَسۡلِيمٗا ٦٥﴾ [النساء: 65]

(پس داسې نه ده، ستا پر رب مې دې قسم وي! دوی مومنان کېدی نشي تر هغه پورې چې دوی په خپل مينځ کې په پېښو جګړو کې تا فيصله کوونکی ومني، بيا په خپلو نفسونو کې ستا د کړې فيصلې په باره کې هيڅ تنګي ونه مومي او په ښو منلو سره يې ومني). [النساء سورت: ايت 65].

او هغه امت چې د اسلام دعوه کوي هغوی لره بريا نشته ترڅو چې د الله شريعت خپل قانون جوړ کړي.

## د حکمت والا ذات جايزه ..

او چا ته چې حکمت ورکړل شو، نو ډېر خير ورکړل شوی دی، او الله له خپلو بندګانو څخه چا ته چې وغواړي حکمت ورکوي.

﴿وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا لُقۡمَٰنَ ٱلۡحِكۡمَةَ ...﴾ [لقمان: 12]

(او يقيناً مونږ لقمان ته حکمت ورکړی و). [لقمان سورت: ايت 12]،

او ټولو پیغمبرانو ته حکمت ورکړل شوی وو او هغه کې پر یو بل باندې برتری ورکړی شوی وه. په صحیحینو کې راغلي: رسول الله -صلی الله علیه وسلم- وفرمایل:
«كَانَتِ امْرَأَتَانِ مَعَهُمَا ابْنَاهُمَا، جَاءَ الذِّئْبُ فَذَهَبَ بِابْنِ إِحْدَاهُمَا، فَقَالَتْ لِصَاحِبَتِهَا: إِنَّمَا ذَهَبَ بِابْنِكِ، وَقَالَتِ الأُخْرَى: إِنَّمَا ذَهَبَ بِابْنِكِ. "دوه ښځې وې چې هرې يوې سره د هغې زوی هم و، لیوه راغی او د یوې زوی یې له ځان سره یوړ، نو یوې یې بلې ته وویل: لیوه ستا زوی یې له ځانه سره یوړ، هغې بلې وویل ستا زوی یې یوړ.

فَتَحَاكَمَتَا إِلَى دَاوُدَ -علیه السلام- ؛ فَقَضَى بِهِ لِلْكُبْرَى، فَخَرَجَتَا عَلَى سُلَيْمَانَ ابْنِ دَاوُدَ -علیهما السلام- فَأَخْبَرَتَاهُ؛ فَقَالَ: ائْتُونِي بِالسِّكِّينِ أَشُقُّهُ بَيْنَهُمَا. نو هغوی دواړو د فیصلې لپاره داود -علیه السلام- ته ورغللې؛ نو هغه پرېې د مشرې لپاره فیصله وکړه، نو هغوی دواړه سلیمان بن داود -علیهما السلام- ته لاړلې او کیسه یې بیانه کړه؛ هغه وویل: ماته یو چاقو راوړئ چې ستاسو تر منځ یې دوه ټوټې کړم.

فَقَالَتِ الصُّغْرَى: لاَ تَفْعَلْ -يَرْحَمُكَ اللَّهُ!- هُوَ ابْنُهَا؛ فَقَضَى بِهِ لِلصُّغْرَى». نو کشرې وویل: داسې مه کوه -الله دې په تا رحم وکړي- هغه د هغې زوی دی؛ نو هغه کشرې ښځې لپاره فیصله وکړه».

ډاډه اوسه!

او په یاد ولره: چې الله لوی حکمت لري؛ هغه پرته له حکمت څخه نه ورکوي، او پرته له حکمت څخه نه منع کوي، او هغه څه چې الله یې ستا لپاره غوره کوي ستا له غوره کولو څخه ښه دی،

﴿... وَكَانَ بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ رَحِيمٗا ۝٤٣﴾ [الأحزاب: 43]

(او هغه په مومنانو ډېر رحم کوونکی دی). [الأحزاب سورت: ايت 43].

سفيان الثوري وويل: «د هغه منع کول ورکړه ده؛ او دا ځکه چې هغه د بخل او کموالي له مخې نه منع کوي؛ بلکې د بنده خیر ته په کتلو سره د خپل اختیار او ښه نظر له مخې یې له هغه څخه منع کوي». تاسو ممکن ته هغه څه وغواړې چې پایله

يې د ستايلو نه وي، او ممکن هغه کې ستا مرګ وي! ابن مسعود -رضي الله عنه- فرمايي: «بنده به د تجارت او رهبرۍ د تر لاسه کولو په لټه کې شي ترڅو چې هغه لاس ته راوړي، نو الله به ورته وګوري؛ او ملايکو ته به ووايي: دغه کار له هغه څخه لرې کړئ، ځکه چې که دغه کار ورته اسانه کړم، نو هغه به اور ته داخل کړم؛ نو الله به هغه کار له هغه څخه لرې کړي، او هغه به په وړاند وينو پيل وکړي او وايي به چې: فلانی له ما څخه مخکې شو، فلاني له ما څخه يې واخيست، هغه نه ورکول نه وو مګر د الله- عزوجل- فضل او احسان وو». له ځينو سلفو څخه روايت دي چې يو سړي د الله څخه د جهاد غوښتنه کوله، په خوب کې يې يو اواز واورېد: "که ته جهاد وکړې، ته به ونيول شي، او که ته ونيول شې، ته به نصراني شې!".

﴿... وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ وَأَنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ٢١٦﴾ [البقرة: 216]

(او الله ښه پوهيږي او تاسو نه پوهيږئ). [البقرة سورت: ايت 216] .

هغه برکت والا دی، ځکه چې هغه الله جل جلاله دی ... هغه سخي، کريم او بشپړ دی مثال يې نشي ورکول کېدلی

او هغه د خپل قضاوت په واسطه څه چې وغواړي پريکړه کوي ... زغمونکی ذات دی، او د هيڅ شي د تيريدلو څخه ويره نلري چې عجله وکړي

## ځان وساته!

بيا هم ځان وساته د دې نه چې په الله باندې بد ګوماني وکړې کله چې حکمت له تا څخه پټ وي، او خپل ځان ته جهل منسوب کړه! ځکه چې عقلونه د هغه د حکمت په مطالعه کې نيمګړي دي، ملايکې -الله ته د دوی نږدېوالي او د هغه د عظمت او ځواک په پوهيدو سره هم- ځمکې ته د ادم په راښکته کېدلو کې د هغه حکمت باندې پوهې نه شوې؛ نو هغوی وويل:

﴿.... أَتَجۡعَلُ فِيهَا مَن يُفۡسِدُ فِيهَا وَيَسۡفِكُ ٱلدِّمَآءَ وَنَحۡنُ نُسَبِّحُ بِحَمۡدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَۖ قَالَ إِنِّيٓ أَعۡلَمُ مَا لَا تَعۡلَمُونَ٣٠﴾ [البقرة: 30]

(ايا ته په هغې کې داسې څوك پيدا کوې چې په هغې کې به وراني کوي او وينې به تُویَوي؟ حال دا چې مونږ ستا له ستايلو سره تسبيح وايو او ستا پاکوالی بيانوو، (الله) وويل: يقينًا زه پوهېږم پر هغه څه چې تاسو پرې نه پوهېږئ). [البقرة سورت: ايت 30].

له الله سره خاموش اوسه کله چې د هغه تقدير او عمل راشي؛ تر څو تا ته خپلې ډېرې مهرباني ښکاره کړي.

عمر -رضي الله عنه- وفرمايل: "که مونږ ته له غيب څخه پرده پورته شي، نو هيڅ‌ا به له مونږ څخه د ځان لپاره کوم شی نه وي غوره کړی مګر هغه چې الله تعالی ورته غوره کړی دی".

د حديبيې په سوله کې عمر -رضي الله عنه- رسول الله -صلى الله عليه وسلم- ته راغی؛ ویې ویيل: ای د الله رسوله ! ألسنا على حق وهم على باطل؟! آیا مونږ پر حق او هغوی پر باطل ندي؟!

قال: «بَلَى». هغه وویل: ولې نه.

قال: أليس قتلانا في الجنة وقتلاهم في النار؟! ویې ویل: آیا زمونږ مړي په جنت کې او د هغوی مړي په دوزخ کې ندي؟!

قال: «بَلَى». هغه وویل: ولې نه.

قال: ففيم نعطي الدنية في ديننا ونرجع ولما يحكم الله بيننا وبينهم؟! ویې ویل: نو ولې مونږ په خپل دين کې کموالی راولو او بېرته وګرځو، او لا تراوسه الله زمونږ او د دوی ترمنځ فيصله نه ده کړې؟!

فقال: نو هغه وویل: «يَا ابْنَ الخَطَّابِ! إِنِّي رَسُولُ اللهِ، وَلَنْ يُضَيِّعَنِي اللهُ أَبَدًا»؛ فأنزل الله سورة (الفتح)، فعلم الناس أن الصلح: فتح. "اې د خطاب زويه! زه د الله رسول يم او الله به هيڅکله ما ضايع نه کړي. بيا الله د الفتح سورت نازل کړ، بيا خلک پوه شول چې سوله: فتحه او بريا ده.

[بخاري او مسلم روايت کړی]. قلمونه پورته شوي دي، او صحيفې وچې شوي دي، او پريکړه شوې ده، او اندازې ليکل شوي دي؛

﴿قُل لَّن يُصِيبَنَآ إِلَّا مَا كَتَبَ ٱللَّهُ لَنَا هُوَ مَوۡلَىٰنَاۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٥١﴾ [التوبة: 51]

(ته ( دوی ته) ووایه: مونږ ته به له سره مصیبت راونه راسېږي مګر هغه چې الله زمونږ لپاره لیکلی دی، همغه زمونږ کارساز دی او پس لازم ده چې مومنان خاص په الله باندې توکل وکړي).
[التوبة سورت: ایت 51].

او الله له ټولو رحم کوونکو څخه ډیر رحم کوونکی دی، او هغه تر ټولو ښه قضاوت کوونکی دی؛ د چټکې آرامۍ او خلاصون زیري په تمه اوسه؛ له اوښکو وروسته موسکا ده، له وېرې وروسته آرامي ده، او له وېرې وروسته سکون دی، خو ته یوازې له الله څخه ووېرېږه.

آلوسي وېلي: "څوک چې له الله –سبحانه و تعالی- څخه ووېرېږي، د هغه له زړه څخه به د حکمت چینې وبهېږي، او د هغه د تقوا له مخې به هغه ته دقیق رازونه راڅرګند شي".

﴿... وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ١٣٠﴾ [آل عمران: 130]

﴿... وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ٢٠٠﴾ [آل عمران: 200]

(او له الله نه ووېرېږئ، د دې لپاره چې تاسو کامیاب شئ). [آل عمران سورت:130 و200 ایتونه].

اې د حکمت څښتنه! مونږ ته د خپل حکمت دروازې خلاصې کړه، او په هغه څه مو راضي کړه چې تا مونږ ته ویشلي دي؛ ته په هر څه پوه او د حکمت څښتن یې.

51

## اللَّطِـيفُ )په بارکیو پوه (ذات -جل جلاله-

مونږ د الله –جل و علا- د : (اللطیف -جلا جلاله-) له نوم سره تم کیږو؛ د هغه له رڼاګانو څخه برخمن کیږو او د هغه له سیوري څخه برخمن کیږو:

هغه –سبحانه و تعالی- فرمایي:

﴿.... إِنَّ رَبِّي لَطِيفٞ لِّمَا يَشَآءُۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلۡعَلِيمُ ٱلۡحَكِيمُ ١٠٠﴾ [یوسف: 100]

(ببشکه زما رب باريك تدبير والا دی، د هغه (شي) لپاره چې اراده يې وکړي، ببشکه هغه، هم هغه، ښه عالم، ښه حکمت والا دی). [يوسف سورت: ايت 100].

او الله -سبحانه وتعالی- فرمايي- :

﴿لَّا تُدۡرِكُهُ ٱلۡأَبۡصَٰرُ وَهُوَ يُدۡرِكُ ٱلۡأَبۡصَٰرَۖ وَهُوَ ٱللَّطِيفُ ٱلۡخَبِيرُ ١٠٣﴾ [الأنعام: 103]

( (سترګې د هغه ادراك نشي کولی او هغه د سترګو ادراك کوي او هغه ډېر باريکبين، ښه خبردار دی). [الأنعام سورت: ايت 103].

او لطف په لغت کې: نيکی، ښه راغلاست، عزت، مهرباني او دقيقو کارونو باندې پوهې ته وايي.

هر کله چې عمل کې مهرباني او لطف کې ادراک يوځای شي، د اللَّطِـيف (په بارکيو پوه) معنا بشپړيږي.

زمونږ رب – جل و علا– په بارکيو پوه دی؛ هغه څوک چې له هغه څخه بل هيڅ څوک لطيف او په باريکيو پوه ندی؛ خپلو بندګانو باندې مهربان دی؛ پر ګناه باندې سمدستي عذاب نه ورکوي، هغه څخه څيز پټ نه پاتې کيږي؛ که هر څومره دقيق، باريک، او کوچنی وي.

او زموږ رب –سبحانه و تعالی- هغه ذات چې پر خپلو بندګانو مهربان او هغوی باندې احسان کوونکی دی له هغه ځايه پر دوی مهربان دی چې دوی نه پوهيږي.

﴿ٱللَّهُ لَطِيفُۢ بِعِبَادِهِۦ يَرۡزُقُ مَن يَشَآءُۖ ... ﴾ [الشورى: 19]

(الله په خپلو بنده ګانو ډېر مهربان دی، هغه روزي ورکوي چا ته چې وغواړي). [الشورى سورت: ايت 19]،

او هغه؛ هغه ذات دی چې دوی ته يې له هغه ځايه څخه روزي چمتو کړې چې د هغوی تمه نه کيدله. او زموږ رب – سبحانه وتعالی- هغه ذات دی، چې نه په حواسو سره راګيريږي، او نه په سترګو ليدل کيږي:

﴿لَّا تُدۡرِكُهُ ٱلۡأَبۡصَٰرُ وَهُوَ يُدۡرِكُ ٱلۡأَبۡصَٰرَۖ وَهُوَ ٱللَّطِيفُ ٱلۡخَبِيرُ ١٠٣﴾ [الأنعام: 103]

(سترګې د هغه ادراك نشي کولی او هغه د سترګو ادراك کوي او هغه ډېر باريکبين، ښه خبردار دی). [الأنعام سورت: ايت 103]

. الله هغوی ته له بسنې څخه ډير ورکړ، او د هغوی د ځواک څخه يې په لږ څيز مکلف کړل، او د هغوی لپاره يې په لنډ وخت کې خوښيو ته د رسيدلو اسانتياوې برابرې کړلې:

﴿إِنَّ رَبِّي لَطِيفٌ لِّمَا يَشَآءُۚ ..﴾ [يوسف: 100]

(ببشکه زما رب باريك تدبير والا دی، د هغه (شي) لپاره چې اراده يې وکړي). [يوسف سورت: ايت 100].

او هغه پر خپل بنده مهربانه دی ... او د هغه په وصف کې نرمي په دوه ډوله ده ... په خپلې پوهې سره د څيزونو رازونه درک کوي ... او مهرباني د نيکيو په ځايونو کې ترڅو تا ته خپل عزت او مهرباني ښکاره کړي ... او بنده له دې عالي شان کار څخه غافل دی

هغه په بارکيو پوه دی:

ستا مهربان او په بارکيو پوه رب – تبارک و تعالی-؛ تا ته خپل احسان په نرمی مهربانۍ سره دررسوي، او هغه ستا په حالت ستا څخه ښه پوه دی، او ستا څخه تا باندې ډير مهربان دی.

نو کله چې په باريکيو پوه ذات –جل و علا- وغواړي چې پر تا رحم وکړي؛ نو ستا نفس لره د ايمان رڼا درلېږی؛ نو ستا سينه به د هغې په رڼا سره ځليږي، د بد کاريو او فتنو څخه به نفرت کوي، د نافرمانيو څخه به ډډه کوي،

﴿... وَهُوَ يُدۡرِكُ ٱلۡأَبۡصَٰرَۖ وَهُوَ ٱللَّطِيفُ ٱلۡخَبِيرُ ١٠٣﴾ [الأنعام: 103]

(او هغه ډېر باريکبين، ښه خبردار دی). [الأنعام سورت: ايت 103].

نو کله چې په باريکيو پوه ذات – جل و علا- وغواړي چې تا سره مرسته وکړي داسې څيز باندې به امر وکړي چې معمولا دغه کار له اسبابو څخه نه وي؛ نو دا به ستا د بريا تر ټولو ستر لامل وګرځي؛ واقعا چې هغه:

﴿... ٱللَّطِيفُ ٱلۡخَبِيرُ۝١٠٣﴾ [الأنعام: 103]

( ډېر باریکبین، ښه خبردار دی). [الأنعام سورت: ایت 103]

. کله چې په باریکیو پوه ذات –جل و علا- غواړي چې تا ته شفا درکړي؛ ستا د شفا لپاره به یو عجیب سبب درولیږي، او شاید ترټولو ضعیف سبب وي؛

﴿... وَهُوَ ٱللَّطِيفُ ٱلۡخَبِيرُ۝١٠٣﴾ [الأنعام: 103]

(او هغه ډېر باریکبین، ښه خبردار دی). [الأنعام سورت: ایت 103].

هرکله چې په باریکیو پوه ذات – تبارک و تعالی - غواړي چې تاسو ته روزي درکړي؛ کارونه به اسانه کړي چې ممکن ستا څخه پټ وي، مګر الله هغې باندې پوه دی، ممکن یو فقیر انسان تا ته واستوي او ته هغه لپاره یو څه ورکړې، او هغه ستا لپاره دعا وکړي؛ نو د هغه دعا لپاره د اسمان دروازې پرانستل شي، او تا ته روزي در واستول شي، او هغه څه ترسره کیږي چې د هغه اراده وي، او ته د هغه درک نشي کولی؛ چې هغه :

﴿... ٱللَّطِيفُ ٱلۡخَبِيرُ۝١٠٣﴾ [الأنعام: 103]

(او هغه ډېر باریکبین، ښه خبردار دی). [الأنعام سورت: ایت 103].

ایا د هغه د ملاقات شوق نه درځي؟!

که بنده پوه شي چې په باریکیو پوهه ذات د هغه لپاره څه تدبیر نیسي؛ د هغه ملاقات لپاره به یې زړه اوبه شي.

په څومره ناروغیو به اخته کیدلې نو هغه یې له تا څخه لرې کړې...!

څومره مصیبتونه به ستا خوا ته راغلي وي او هغه به یې ستا څخه ګرځولي وي ...!

څومره پوروته به یې پرې کړي وي...!

او څومره غمونه به یې خلاص کړي وي...!

ستا د ځواک یا قوت په واسطه نه، مګر د هغه په مهربانۍ او سخاوت سره!

که خلک د پادشاهانو دروازې ټکوي؛ ته د لوی پادشاه دروازه وټکوه.

او که هغوی د امیر دروازې ته ودرېږي؛ نو ته د مهربان الله دروازې ته ودرېږه.

او که ناروغي تا ته ورسیږي، او پور تا باندې بار شي، او غایب پسې غمجن شې، او ماشوم باندې وویرېږي، او بې وزلي مو سترې کړي؛ نو په یاد ولره چې هغه :

﴿... ٱللَّطِيفُ ٱلۡخَبِيرُ۝١٠٣﴾ [الأنعام: 103]

(ډېر باریکبین، ښه خبردار دی). [الأنعام سورت: ایت 103].

ځکه هغه هغه څوک دی چې د خلاصون کیلیانې ورسره دي، او خزانې یې ډکې دي، او ښېګڼه او ورځ د الله په لاس کې دي.

﴿وَإِن مِّن شَيۡءٍ إِلَّا عِندَنَا خَزَآئِنُهُۥ ...﴾ [الحجر: 21]

(او نشته هیڅ څیز مګر زمونږ سره د هغه خزانې دي). [الحجر سورت: ایت 21].

خوښي له هغه سره ده، امنیت له هغه سره دی، راحت له هغه سره دی، قناعت له هغه سره دی، شفا له هغه سره ده، او د هغه په لاس کې د هر څه پادچاهي ده، او هغه پر هر څه واک لري.

نو ته د هیڅ څه اندیښنه مه کوه کچیرې ته له الله –تبارک و تعالی- سره اوسې؛ که څه هم د دنیا کړاونه تا باندې زیات شي، نو پوهه شه چې دغه کړاونه به تا لوړ مقام ته ورسوي؛ لکه څرنګه یې چې یوسف -علیه السلام - ورساوه.

ستا له ژوند څخه که څومره شیان پناه (ورک) شي او ته به فکر کوې چې هغه به ستا د خوښۍ لامل و، داډ ه اوسه چې الله هغه شیان له تا څخه لرې کړي دي مخکې لدې چې ستا د بدبختۍ لامل شي.

د خوښۍ چابي:

او که غواړې چې د مهربان الله – عزوجل- په ملتیا کې اوسې؛ نو د هغه په شریعت خوشحاله اوسه، د هغه په نعمت شکر وباسه، د هغه په پادشاهۍ کې فکر وکړه، د هغه په یاد کې خوشحاله اوسه، د هغه له ویناوو څخه خوند واخله، هغه د رب په توګه، او د هغه کتاب د لارښود په توګه، او د هغه پیغمبر د رسول په توګه ومنه.

د الله – تبارک و تعالی- ملتیا له سبب پرته نه راځي، او لاس ته نه راځي پرته له ستړیا څخه، نو په هغه وخت کې به ستا په زړه کې اُنس او صمیمیت پیدا شي، او ستا اندیښنې به له منځه لاړې شي، د ژوند ستړیاوې او د دنیا مصیبتونه به هیرې کړې.

په باریکیو پوه ذات لپاره تواضع وکړه!

زموږ رب (په باریکیو پوه) مهرباني خوښوي، او له تاسره مینه کوي کچیرته له مخلوق سره په مهربانۍ او رحم چلند وکړې.

په صحیح حدیث کې هغه -صلی الله علیه وسلم- فرمایلي: «أَلَاَ أُخْبِرُكُمْ بِمَنْ يَحْرُمُ عَلَى النَّار -أَوْ بِمَنْ تَحْرُمُ عَلَيْهِ النَّارُ-: عَلَى كُلِّ قَرِيبٍ هَيِّنٍ سَهْلٍ» "ایا زه تاسو خبر نکړم چې څوک په اور باندې حرام دی– او یا اور د چا لپاره حرام دی: پر هر نږدې، نرم، او اساني کوونکي باندې". [ صحیح حدیث دی. ترمذي روایت کړی].

هرکله مو چې د الله مهربانۍ ته اړتیا پیدا شوه ترڅو تاسو له هغه څه څخه روغ کړي چې تاسو ته یې زیان رسیدلی؛ نو الله ته خپل ضعف او کمزوري څرګنده کړه، او پر مسلمانانو مهربانه اوسه؛ په ځانګړې توګه ضعیفانو باندې.

اې زما الله، ته د احسان وړ یې ... او ستا لپاره سخاوت او لویه مهرباني ده ... اې زما الله، زما په زړه کې غمونه دي ... او زما حال باندې دوست نه خوشحالیږي

اې زما الله، زما لپاره بخښنه وکړه ځکه چې زه ... پر دروازو باندې متواضع او ذلیل ولاړ یم

اې الله! پر مونږ رحم وکړه، موږ لره ستا خوا ته نږدې والی په برخه کړه، ستا په اطاعت کولو باندې زموږ سره مرسته وکړه، او مونږ ته ښه پایله راکړه.

52

## الخَبـِيرُ )خبرداره (ذات -جل جلاله-

نسائي په صحيح سند سره روايت کړی دی چې يو اعرابي رسول الله -صلی الله عليه وسلم- ته راغی؛ نو هغه پرې ايمان راوړ او د هغه متعابعت يې وکړ، بيا يې وويل: زه له تا سره هجرت کوم، نو رسول الله -صلی الله عليه و سلم- خپلو ځينو اصحابو ته د هغه په هکله سپارښتنه وکړه.

کله چې د خيبر غزا پای ته ورسيدله رسول الله -صلی الله عليه وسلم- اسيران ونيول، نو هغه يې تقسيم کړل او هغه ته يې هم تقسيم ورکړ، او هغه شا ساتله، نو هر کله چې اعرابي راغی نو هغوی اسير ورته وړاندې کړ، هغه وويل: دا څه شی دی؟ هغوی وويل: دا هغه برخه ده چې رسول الله -صلی الله عليه وسلم- تا ته وېشلې ده. نو هغه يې له ځانه سره واخيست او رسول الله -صلی الله عليه وسلم- ته يې راوړ؛ او وې ويل: دا څه دي؟ هغه وويل: دا ستا برخه ده چې ما ستا لپاره تقسيم کړې دی، هغه وويل: ما ددې لپاره ستا متابعت نه وو کړی، مګر ما ددې لپاره ستا متابعت کړی وو چې دلته ولګيږم -او خپلې ستونې ته يې اشاره وکړه- او مړ شم، او جنت ته ننوځم.

نو رسول الله -صلی الله عليه وسلم- وفرمايل: «إِنْ تَصْدُقِ اللهَ يَصْدُقْكَ»، فلبثوا قليلًا، ثم نهضوا في قتال العدو، فأتي به النبي -صلى الله عليه وسلم- يحمل قد أصابه سهم حيث أشار. پدې معنا چې که ته له الله سره ريښتينی اوسې هغه به ستا خبره ريښتيا کړي، لږه موده وروسته د دښمن سره جګړې لپاره پاڅيدل، نو کس رسول الله –صلی الله عليه وسلم- ته راوړل شو او په هماغه ځای کې چې اشاره کړې وه يو غشی لګيدلی و.

نو رسول الله -صلی الله عليه وسلم- وفرمايل: «أَهُوَ هُوَ؟»، قالوا: نعم، قال: «صَدَقَ اللهَ فَصَدَقَهُ»، ثم كفنه النبي -صلى الله عليه وسلم- في جبة النبي -صلى الله عليه وسلم- ، ثم قدمه فصلى عليه، فكان فيما ظهر من صلاته: پدې معنا چې «ايا دا هماغه دی؟» هغوی وويل: «هو»، هغه وويل: «الله ته يې رښتيا وويلې، نو هغه هم د هغه رښتينولې قبوله کړه» بيا رسول الله -صلی الله عليه وسلم- په خپل چپن کې کفن ورکړ، او بيا يې هغه مخکې کيښود او د جنازې لمونځ يې ادا کړ، د هغه له دعاوو څخه دا څرګنده شوه: «اللَّهُمَّ هَذَا عَبْدُكَ خَرَجَ مُهَاجِرًا فِي سَبِيلِكَ فَقُتِلَ شَهِيدًا؛ أَنَا شَهِيدٌ عَلَى ذَلِكَ». "اې الله دغه بنده ستا په لاره کې مهاجر وتلی وو او شهيد مړ شو؛ او زه هغه باندې ګواه يم". د غړو عملونه د زړونو د عملونو تابع وي؛ د قيامت په ورځ ژغورنه د زړه د سلامتيا پر بنسټ وي؛

﴿يَوۡمَ لَا يَنفَعُ مَالٞ وَلَا بَنُونَ٨٨ إِلَّا مَنۡ أَتَى ٱللَّهَ بِقَلۡبٖ سَلِيمٖ٨٩﴾ [الشعراء: 88-89]

(په هغې ورځ چې نه به مال نفع رسوي او نه زامنګر هغه چا ته چې الله ته په ډېر سلامت زړه راغلی وي). [الشعراء سورت: ایتونه 88-89].

له پوهه او باخبر الله څخه پرته زړونو باندې څوک خبر ندي! الله – تبارک و تعالی- د خپل ځان په اړه فرمايي:

﴿... وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِيرٞ ٢٣٤﴾ [البقرة: 234]

(او الله پر هغو عملونو چې تاسو يې کوئ؛ ښه خبردار دی). [البقرة سورت: ایت 234].

زمونږ رب د خپلو بندګانو په رازونو، او هغه څه چې د هغوی په زړونو کې پټ وي، له هغه څخه باطني خبرې پټې ندي، او د هغه په پادشاهۍ او کايناتو کې هيڅ شی نه پيښيږي، او د ذرې په اندازه څيز هم حرکت نه کوي او نه مستقر کيږي، او هيڅ نفس ته پريشاني او ډاډ نه پيښيږي مګر دا چې د هغو په اړه هغه لره معلومات شته.

هغه په ظاهري، باطني، پټ او ښکاره، مکلفيتونو، ناممکنو، ممکنو، پورته او ښکته نړۍ، په تيرو، حاضرو او راتلونکو کارونو باندې پوه دی؛ او له هغه څخه هيڅ څيز پټ نه دی.

هغه د څيزونو د پايلو او د هغو د مصير په اړه خبر ورکوي او دا چې څه به پيښيږي،

﴿ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَا فِي سِتَّةِ أَيَّامٖ ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ عَلَى ٱلۡعَرۡشِۚ ٱلرَّحۡمَٰنُ فَسۡـَٔلۡ بِهِۦ خَبِيرٗا ٥٩﴾ [الفرقان: 59]

(هغه (الله) چې اسمانونه او ځمکه، او هغه څه چې د دواړو په منځ کې دي، په شپږو ورځو کې پيدا کړي دي، بيا په عرش باندې برقرار شو، (دغه) رحمان دی، نو ته د ده په باره کې له ښه خبردار نه تپوس وکړه). [الفرقان سورت: ايت 59].

الله د څيزونو په ښکاره وو باندې پوه دی، او د څيزونو په باطن باندې باخبر دی.

په حقايقو او معناوو باندې باخبر دی ... پوهه دی، او دليل ويلو او موافقت کولو ته اړتيا نلري

احاطه کوونکی دی او هيڅ څيز له هغه څخه نه خطا کيږي ... او هغه څه چې پټ دي له هغه څخه پټ نه دي

## د احسان مقام:

څوک چې پوه شي چې الله د هغه په باطن باندې پوه دی، او هغه يې ويني؛ هغه له الله څخه حيا کوي چې هغه په داسې کار ووينې چې د هغه نه خوښيږي، بيا خپل عمل سم او په اخلاص سره عبادت وکړي؛ تر څو چې هغه د احسان مقام ته ورسيږي؛ کوم چې په صحيح حديث کې راغلي دي: «أَنْ تَعْبُدَ اللهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ، فَإِنْ لَمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَإِنَّهُ يَرَاكَ» «دا چې د الله داسې عبادت وکړې چې ګواکې ته هغه وينې، نو که ته هغه نشې ليدلی هغه به تا هرومرو ويني». [بخاري اومسلم روايت کړی]. ابو حاتم ووېل: "په دنيا کې د انسان د طاعتونو قطب: د پټو کارونو اصلاح، او د ضمير د خرابولو پريښودل دي".

## راز په زړه کې دی!

تاسو به يو ښه کار وګورئ چې دوه سړي يې کوي؛ له يوه څخه قبليږي او له بل څخه نه قبليږي! يو کس لمونځ کوي او قبليږي، او بل کس چې د ده تر څنګ لمونځ کوي، نو هغه به له خپل لمونځ څخه ګټه نه پورته کوي پرته له هغه څه چې هغه له خپل لمونځ څخه پوهيدلی وي، هغه –صلى الله عليه وسم- وفرمايل: «إِنَّ الرَّجُلَ لِيُصَلِّي الصَّلَاةَ، وَلَعَلَّهُ لَا يَكُونُ لَهُ مِنهَا إِلَّا عُشْرُهَا، أَوْ تُسْعُهَا، أَوْ ثُمُنُهَا، أَوْ سُبُعُهَا، أَوْ سُدْسُهَا»؛ حتى أتى على العدد. "په حقيقت کې يو سړی لمونځ کوي، او ممکن هغه ته د دې لمونځ لسمه، يا نهمه، يا اتمه، يا اوومه، او يا شپږمه برخه ثواب ورسيږي" تر هغه چې شميرې ته راغی. [صحيح حديث دی. ابن حبان روايت کړی]. او دا يو کس صدقه او خيرات ورکوي؛ او هغه الله قبلوي او د هغه لپاره به يې وده کوي -لکه څنګه چې مونږ خپل آس ته وده ورکوو- او بل کس به هم صدقه او خيرات ورکوي؛ نو الله به هغه بيرته وګرځوي او قبوله به يې نکړي، او حتی د هغه په وجه به عذاب ورکړي!

﴿إِن تُبْدُواْ ٱلصَّدَقَٰتِ فَنِعِمَّا هِيَۖ وَإِن تُخْفُوهَا وَتُؤْتُوهَا ٱلْفُقَرَآءَ فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْۚ وَيُكَفِّرُ عَنكُم مِّن سَيِّـَٔاتِكُمْۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ۝٢٧١﴾ [البقرة: 271]

(که تاسو خيراتونه په ښکاره وکړئ، نو دا يو ښه کار دی او که تاسو دا په پټه وکړئ او فقيرانو ته يې ورکړئ، نو دا ستاسو لپاره ډېر غوره دی او هغه (الله) به له تاسو نه ستاسو ځينې ګناهونه لرې کړي، او الله پر هغو (کارونو) چې تاسو يې کوئ ؛ ښه خبردار دی). [البقرة سورت: ايت 271].

هغه څوک چې د خلکو په مخ کې ستړګې ښکته کوي او ځان ښودنه کوي ! بیا چې کله   یوازې شي نو حرامو ته ګوري او حرام څیزونه ترسره کوي؛ ایا له هغه، د هغه له زړه او له با خبر او لیدونکي ذات پرته بل څوک پرې خبر لري؟

﴿يَعۡلَمُ خَآئِنَةَ ٱلۡأَعۡيُنِ وَمَا تُخۡفِي ٱلصُّدُورُ ١٩﴾ [غافر: 19]

[هغه د سترګو په خیانت پوهېږي او په هغو خبرو چې سینې یې پټوي (او رازونه وي)]. [غافر سورت: ایت 19].

د اطاعت او نافرمانۍ تر منځ د ژوند کولو یو خطر دا دی چې ته نه پوهیږې چې پایله (خاتمه) به په کوم وخت کې وي.

خلوت یا لوړوي یا ښکته کوي، نو څوک چې په یوازیتوب کې د الله تعظیم وکړي، خلک به د هغه په ښکاره کې تعظیم وکړي.

امام مالک -رحمه الله- فرمايي: "كه څوک خوښوي چې زړه کې یې پراخي راشي، او د مرګ د سخت ځنکدن او د قیامت د ورځې له وحشتونو څخه وژغورل شي؛ نو د هغه د پټې عمل باید له ښکاره څخه ډیر وي". ابن رجب -رحمه الله- فرمايي: "ښه پایله نشي رامنځته کیدلی پرته له هغه چا څخه چې باطني ژوند یې ښه وي، ځکه چې د مرګ شیبه جعلي نه شي کیدلی، او یوازې هغه څه به را ښکاره شي چې زړه کې وي".

او الله – سبحانه و تعالی- د خپل ځان په اړه فرمايي چې هغه له هر څه څخه باخبر دی، بلکه هغه –عزوجل- خپل نوم (الخبیر) سره شل ځلي تړلی دی، چې هغه د انسان د هر فعل، عمل، او کړنې باندې پوه دی؛ ترڅو هغه تقوا ته وهڅوي؛

﴿... ٱعۡدِلُواْ هُوَ أَقۡرَبُ لِلتَّقۡوَىٰۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرُۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ ٨﴾ [المائدة: 8]

(عدل کوئ، دا تقوا ته ډېر نژدې دی او له الله نه وویریږئ، بیشکه الله ښه خبر دی پر هغو کارونو چې تاسو یې کوئ). [المائدة سورت: ایت 8].

او هغه یې و هڅاوه ترڅو خپل باطني، او ظاهري کړنو ته وګوري، نو پدې نوم (الخبیر) سره که د چا ایمان زیات شو؛ نو هغه پوهیږي چې د هغه په  نړۍ کې څه تیریږي، او د هغه نړۍ: د هغه زړه، بدن، او هغه رازونه چې زړه هغه باندې یادیږي؛ له دوکې، خیانت او د شر پټولو څخه.

او الله- عزوجل - شکلونو ته نه ګوري، مګر زړونو او عملونو ته ګوري.

﴿۞ أَفَلَا يَعۡلَمُ إِذَا بُعۡثِرَ مَا فِي ٱلۡقُبُورِ ۝٩ وَحُصِّلَ مَا فِي ٱلصُّدُورِ ۝١٠ إِنَّ رَبَّهُم بِهِمۡ يَوۡمَئِذٖ لَّخَبِيرُۢ ۝١١﴾ [العاديات: 9-11]

(ایا نو دی نه پوهیږي کله چې هغه (مړي) راوښکل شي چې په قبرونو کې دي؟ او هغه څه راښکاره کړی شي چې په سینو کې دي. بېشکه د دوی رب په دغې ورځ کې په دوی باندې یقینًا ښه خبردار دی). [العادیات سورت : ایتونه 9-11].

ملتیا:

او کله چې مؤمن بنده خپله برخه د الله له نوم (الخبیر- جل وعلا -) څخه واخلي؛ نو هغه به د الله ملتیا او نږدیوالی له ځانه سره ولري، او کله چې د هغه نږدیوالی له ځانه سره ولري، نو هغه لوړوي او پاکوي يې، او نورو ته د نږدې کیدلو څخه يې مشغولوي، او په تلپاتې احتیاط او پرله پسې وېره کې يې ساتي، او الله ورته په دنیا کې کفایت ورکوي، او دنیا ورته مجبور کیږي چې ورشي، او هغه به له خپلې کورنۍ سره یو ځای کړي، او په هر هغه څه کې به برکت واچوي چې هغه ورته روزي ورکړې ده، او هغه لره خفګان، اندیښنه او شیطان لاره نشي موندلی؛ ځکه چې الله – تبارک و تعالی- وفرمایل:

﴿... وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ يَجۡعَل لَّهُۥ مَخۡرَجٗا ۝٢﴾ [الطلاق: 2]

(او هغه څوک چې له الله نه ووېرېږي، (نو) هغه به د ده لپاره د وتلو څه ځای پیدا کړي) [الطلاق سورت: ایت 2].

اې هغه ذاته چې هر څه چې په ضمیر کې دي هغه ویني او اوري ... ته چمتو کوونکی يې د هر هغه څېز چې تمه يې کیږي ... اې هغه ذاته چې د ټولو سختیو لپاره یوازې له هغه څخه د امید تمه کیږي ... اې هغه ذاته چې د شکایت او ویرې په وخت کې هغه ته رجوع کیږي ... ما ته ستا لپاره زما له فقر نه پرته بله وسیله نشته ... نو تا ته په عاجزۍ سره خپله يې وزلي له منځه وړم.

ستا د دروازې د ټکولو پرته بله چاره نه لرم ... نو که زه بېرته وګرځول شوم، نو زه به بیا کومه دروازه وټکوم ... لرې خبره ده چې ستا د جلال او مقام څخه ګنهکار نا امیده شي ... نو ستا فضل او احسان ډیر دی او ستا ورکړه پراخه ده.

اې الله! پر مونږ لطف وکړه، اې باخبر ذاته .. اې په رازونو او وجدانونو باندې پوه ذاته!

53

## الحَلِيمُ )ډير تحمل والا (ذات -جل جلاله-

العز بن عبدالسلام -رحمه الله- فرمايي: «د الله – عزوجل- پيژندنه او د هغه د ښکلو نومونو او لوړو صفاتو پيژندل له غوره اعمالو څخه دي د عزت، ثمره لرونکو او اغيزمنو کارونو له پلوه».

مونږ د الله – عزوجل- له نومونو څخه يو نوم سره تم کيږو: او هغه الحليم - جل و علا- دی.

الله -سبحانه وتعالی- وفرمايل- :

﴿وَٱللَّهُ غَنِيٌّ حَلِيمٞ۝٢٦٣﴾ [البقرة: 263]

(او الله ډېر بې پروا، ډېر تحمل والا دی) [البقرة:263]، و

﴿... إِنَّهُۥ كَانَ حَلِيمًا غَفُورٗا۝٤٤﴾ [الإسراء: 44]

(بېشکه هغه له ازله ډېر تحمل والا، ډېر بخښونکی دی) [الإسراء:44].

زمونږ رب – عزوجل – بخښونکی او صبر کوونکی دی، هغه څوک چې غوسه يې نه پاروي، د جاهل ناپوهي او د ګناهکارانو ګناه د هغه شان ښکته نه راولي، د خپلو بندګانو په شرک، کفر او د هغوی ډيرو ګناهونو باندې د عذاب ورکولو بيړه نلري.

له هغه څخه څوک ډير تحمل والا دی؟! مخلوق د هغه نافرماني کوي، او هغه د دوی څارنه کوي، دوی په خپلو بسترونو کې داسې ساتي لکه څنګه چې دوی د هغه

هيڅ نافرماني نه وي کړې، او د دوی د ساتنې مسوليت اخلي ګواکې هغوی هيڅ ګناه نه وي کړې، هغه په ګناهکار مهرباني کوي، او مجرم باندې خپل فضل او احسان جاري ساتي.

هغه )حليم (ډېر تحمل والا ذات دی!

يو اړمن او بې وسه کس د هغه پر وړاندې ودرېږي پداسې حال کې چې هغه نافرمان او ګناهکار وي؛ نو الله د هغه بلنه قبلوي، او له هغه څخه يې وغواړي نو ورته يې ورکوي،

﴿فَإِذَا رَكِبُواْ فِي ٱلۡفُلۡكِ دَعَوُاْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ فَلَمَّا نَجَّىٰهُمۡ إِلَى ٱلۡبَرِّ إِذَا هُمۡ يُشۡرِكُونَ ۝٦٥﴾ [العنكبوت: 65]

(نو کله چې دوی په کشتۍ کې سپاره شي (، نو) دوی الله بولي، په داسې حال کې چې خاص هغه لره دين خالص کوونکي وي، نوکله چې هغه (الله) دوی ته وچې ته نجات ورکړي (نو) ناڅاپه دوی (له الله سره) شريکان نيسي). [العنکبوت سورت: ايت 65].

له الله پرته بل معبود نشته! هغه د فضل خاوند دی او له هغه څخه د فضل تمه کيږي، هغه سخي دی او له هغه څخه د سخاوت تمه کيږي، هغه تحمل والا دی او له هغه څخه د زغم تمه کيږي.

او هغه تحمل والا دی، او خپل بنده ته ... د نافرمانۍ له امله په تلوار سره عذاب نه ورکوي تر څو توبه و باسي

او په "صحيحينو" کې له ابو موسى اشعري -رضي الله عنه- څخه روايت دی چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- وفرمايل: «مَا أَحَدٌ أَصْبَرَ عَلَى أَذًى يَسْمَعُهُ مِنَ اللهِ -تَعَالَى-؛ إِنَّهُمْ يَجْعَلُونَ لَهُ نِدًّا وَيَجْعَلُونَ لَهُ وَلَدًا، وَهُوَ -مَعَ ذَلِكَ- يَرْزُقُهُمْ، وَيُعَافِيهِمْ، وَيُعْطِيهِمْ!». «هيڅوک به د الله – تعالى- څخه ډير صبر والا نه وي کله چې هغه ځيز واوری چې هغه ورباندې اذيت کيږي؛ دوی هغه لره مثل او زوی نيسي، او هغه –ددې با وجود- دوی ته روزي، شفا، او نور نعمتونه ورکوي!».

## الله څومره تحمل والا دی!

زمونږ څومره تیروتنې الله پوښلي دي؟! په څومره ګناهونو مونږ نه یو نیول شوي؟! او څومره ګناهونه مو کړي دي؛ او هغه مونږ ته غږ کوي - او هغه زمونږ څخه بډای دی -:

﴿۞ نَبِّئۡ عِبَادِيٓ أَنِّيٓ أَنَا ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ۝٤٩﴾ [الحجر: 49]

( ته زما بنده ګانو ته خبر ورکړه چې بېشکه زه، همدا زه ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی یم). [الحجر سورت: ایت 49].

نو پاکي ده تحمل والا ذات لره! پیدا کوي مګر د بل کس عبادت کیږي، روزي ورکوي مګر د بل کس څخه مننه کیږي، بندګانو لپاره د هغه خیر راښکته کیږي او د دوی شر ورته پورته کیږي، هغه د نعمتونو په واسطه دوی ته ځان محبوبوي پداسې حال کې چې هغه له دوی څخه بډای دی، او دوی د هغه په نافرمانۍ سره د نفرت سبب ګرځي حال داچې دوی د هغه لپاره خورا بې وزله دي.

﴿وَلَوۡ يُؤَاخِذُ ٱللَّهُ ٱلنَّاسَ بِظُلۡمِهِم مَّا تَرَكَ عَلَيۡهَا مِن دَآبَّةٖ وَلَٰكِن يُؤَخِّرُهُمۡ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗىۖ فَإِذَا جَآءَ أَجَلُهُمۡ لَا يَسۡتَـٔۡخِرُونَ سَاعَةٗ وَلَا يَسۡتَقۡدِمُونَ۝٦١﴾ [النحل: 61]

(او که چیرې الله خلق د ظلم په وجه نیولی (، نو) هغه به د دې (ځمکې) پر سر هېڅ خوځنده نه و پرېښې او لېکن هغه دوی تر مقررې نېټې وروسته کوي، نو کله چې د دوی نېټه راشي (بیا به نو) دوی یوه ګړۍ نه وروسته کېږي او نه مخکې کېږي). [النحل سورت: ایت 61].

## پټه خبره!

د هغه – تبارک و تعالی- له غضب څخه باید ځان وساتو؛ ځکه چې زغم کوونکی که په غوسه شي، هیڅ شی د هغه د غصې مخه نه شي نیولی، او د هغه –سبحانه و تعالی- زغم د هغه د ځواک او ورېتیا څخه وي، او زغم کوونکی الله نه په غصه کیږي مګر په هغه چا چې د رحمت مستحق نه وي، او د هغه لپاره زغم کول مناسب نه وي هغه هم وروسته لدې چې مهلت او فرصت وکړي.

هغه – تبارک و تعالی - وفرمایل:

﴿فَلَمَّآ ءَاسَفُونَا ٱنتَقَمۡنَا مِنۡهُمۡ فَأَغۡرَقۡنَٰهُمۡ أَجۡمَعِينَ٥٥﴾ [الزخرف: 55]

(نو كله چې دوی مونږ خفه كړو (،نو) مونږ له دوی نه انتقام واخيست، پس مونږه دوی ټول غرق كړل). [الزخرف سورت: ايت 55]

. الله به كافرانو باندې رحم وكړي او روزي به وركړي، او په دنيا كې به عذاب نه وركوي؛ خو هغه – سبحانه و تعالی- يې په اخرت كې له هغوی څخه نه سپموي، او نه به يې بخښي؛ بلكې ملايكې به هغوی اور ته دننه كوي؛ د دوی لپاره به هيڅ عذر او زارۍ ونه منل شي، او نه به د دوی څخه عذاب سپک شي،

﴿فَوَرَبِّكَ لَنَحۡشُرَنَّهُمۡ وَٱلشَّيَٰطِينَ ثُمَّ لَنُحۡضِرَنَّهُمۡ حَوۡلَ جَهَنَّمَ جِثِيّٗا٦٨ ثُمَّ لَنَنزِعَنَّ مِن كُلِّ شِيعَةٍ أَيُّهُمۡ أَشَدُّ عَلَى ٱلرَّحۡمَٰنِ عِتِيّٗا٦٩﴾ [مريم: 68-69]

(نو قسم دی ستا په رب چې مونږ به خامخا ضرور دوی او شيطانان ټول راجمع كړو، بيا به مونږ دوی خامخا ضرور د دوزخ چاپېره په ګونډو پراته راحاضر كړو. بيا به خامخا ضرور مونږ له هرې ډلې نه راوباسو هر هغه څوك چې د سركشۍ په لحاظ په رحمٰن باندې ډېر سخت دی) [مريم سورت: ايت 68-69]،

﴿يَسۡتَعۡجِلُونَكَ بِٱلۡعَذَابِ وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيطَةُۢ بِٱلۡكَٰفِرِينَ٥٤﴾ [العنكبوت: 54]

(او دوی د عذاب په راتلو سره په تا تلوار كوي، حال دا چې جهنّم خو كافرانو لره خامخا راګېرووونكی دی). [العنكبوت سورت: ايت 54].

د اطاعت خوږوالی!

او بنده د دې سپېڅلې صفت په خپلولو سره هلې ځلې كوي؛ او هغه د: (زغم لرلو) صفت دی، او هغه –تبارك و تعالی-: (زغم كوونكی) دی او په خپلو بندګانو كې يې زغم كوونكي خوښيږي، سخاوت كوي او سخاوت كوونكي يې خوښيږي.

خبردار اوسې چې د يو كس زغم تر ټولو لويه فيصدې ده ... چې د هغه د اوچت مقام په واسطه د كريم ذات سره افتخار لاسته راوړي

نو اې ربه ما ته زغم راوبخښه ځكه چې زه ... فكر كوم چې له زغم كولو څخه به حليم كس پښېمانه نه شي

او الله – تبارك و تعالى- د خپل پيغمبر ابراهيم الخليل -عليه السلام- ستاينه وكړه او ويې فرمايل:

﴿إِنَّ إِبۡرَٰهِيمَ لَحَلِيمٌ أَوَّٰهٞ مُّنِيبٞ ٧٥﴾ [هود: 75]

(بېشکه ابراهيم يقينًا ډېر حلم والا، ډېر نرم زړى (او الله ته) رجوع كوونكى و). [هود سورت: ايت 75]،

دا د اسماعيل -عليه السلام- له ځانګړنو څخه دى (نو مونږ ده ته د ډېر حلم والا هلك زېرى وركړ).

او زمونږ پيغمبر - صلى الله عليه وسلم- د دې اخلاقو څخه لويه برخه درلوده.

په صحيحينو كې له انس -رضي الله عنه- څخه روايت دى چې هغه وفرمايل: زه له رسول الله -صلى الله عليه وسلم- سره وم او د هغه پر غاړه نجراني چپنه وه چې كلكه غاړه يې درلوده، يو اعرابي راغى؛ نو هغه يې كلك راكښ كړ، نو ما د رسول الله -صلى الله عليه وسلم- غاړې ته وكتل چې د چپنې غاړې په كې نښه كړې وه، بيا يې وويل: اې محمده! د الله هغه مال چې له تاسره دى امر وكړه چې له هغه څخه ما ته راكړل شي، نو هغه ورته مخ كړ او ويې خندل، بيا يې هغه ته د وركولو امر وكړ.

رسول الله -صلى الله عليه وسلم- د اشج بن عبدالقيس -رضي الله عنه- ستاينه وكړه او ويې فرمايل: «إِنَّ فِيكَ لَخَصْلَتَيْنِ يُحِبُّهُمَا اللهُ: الحِلْمُ، وَالأَنَاةُ» "تا كې دوه ځانګړتياوې دي چې الله يې خوښوي: نرمي، او زغم". [د مسلم روايت].

له ميمون بن مهران څخه روايت دى: «چې يوه ورځ د هغه وينځه له يوې كاسې سره چې په هغې كې ګرمه شوربا وه راغله، او هغه سره ميلمانه وو، نو د هغې پښه وښويدله؛ او شوربا هغه باندې توى شوه، نو ميمون غوښتل چې هغه ووهي، نو وينځې وويل: اې زما مالكه! د الله – تبارك و تعالى- كلام وكاروه:

﴿ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ فِي ٱلسَّرَّآءِ وَٱلضَّرَّآءِ وَٱلۡكَٰظِمِينَ ٱلۡغَيۡظَ وَٱلۡعَافِينَ عَنِ ٱلنَّاسِۗ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ١٣٤﴾ [آل عمران: 134]

(یعني چې غصې لره زغمونکي وي) هغه ورته وويل: و مې کړ، هغې وويل: هغه څه وکړه چې له هغې وروسته راځي: (یعني خلقو ته معافي کوونکي وي) ويې ويل: ما بخښلې يې، وينځې وويل: (یعني الله نيکي کوونکي خوښَوي) [آل عمران:134]،

ويې ويل: ما له تا سره احسان وکړ، ته د الله تبارک و تعالی- په خاطر آزاده يې».

ابو حاتم – رحمه الله- وفرمایل: کله چې يو عاقل په قهر او غصه شي نو په کار ده چې: د ده په وړاندې د الله زغم راياد کړي، کله چې هغه د الله د نافرمانيو سرغړونو او د هغه له حرمتونو سرغړونې کوي، بيا يې هم په وړاندې له زغم څخه کار اخلي، او د هغه غصه هغه دې ته نه اړ باسي چې د ګناهونو لاملونو ته مخه کړي.

په پای کې..

که تاسو ته مصيبت يا بدبختي راشي؛ نو الله ته دعا وکړئ او د (حليم) نوم په دعا کې ياد کړئ؛ رسول الله -صلى الله عليه وسلم- به په سختيو کې دا دعا ويله: «لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ العَظِيمُ الحَلِيمُ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ رَبُّ العَرْشِ العَظِيمِ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَرَبُّ الأَرْضِ، وَرَبُّ العَرْشِ الكَرِيمِ» "له الله پرته بل معبود نشته، لوی او زغم والا دی، له الله پرته بل معبود نشته، د لوی عرش څښتن دی، له الله پرته بل معبود نشته، د اسمانونو او ځمکې او عرش څښتن دی". [بخاري او مسلم روايت کړی].

اې الله! لکه څنګه چې ته د خپلو بندګانو په وړاندې له زغمه کار اخلې، نو خپل زغم زموږ لپاره په دواړو جهانونو کې د خوښۍ سبب وګرځوه.

54

## الرَّؤُوْفُ )ډير شفقت کوونکی (ذات -جل جلاله-

په صحيحينو کې له رسول الله -صلى الله عليه وسلم- څخه راغلي دي چې فرمايي: «أَسْرَفَ رَجُلٌ عَلَى نَفْسِهِ، فَلَمَّا حَضَرَهُ المَوْتُ أَوْصَى بَنِيهِ؛ فَقَالَ: إِذَا أَنَا مِتُّ فَأَحْرِقُونِي، ثُمَّ اسْحَقُونِي، ثُمَّ اذْرُونِي فِي الرِّيحِ فِي البَحْرِ، فَوَاللهِ! لَئِنْ قَدَرَ عَلَيَّ رَبِّي لَيُعَذِّبَنِّي عَذَابًا مَا عَذَّبَهُ أَحَدًا. "يو سړي خپل ځان سره زياتی کړی و، او کله چې مرګ ورته راغی، نو خپلو زامنو ته يې امر وکړ؛ ويې ويل: کله چې زه مړ شوم، ما وسوځوئ، بيا مې ميده او خاورې کړئ، بيا مې باد ته په سمندر کې وغورځوئ، قسم په الله! که زما رب ما ومومي ما ته به داسې عذاب راکړي چې هيڅ چا ته به يې نه وي ورکړی.

نو هغوی هماغسې وکړل، هغه ځمکې ته وویل: څه دې چې اخستي دي هغه بیرته راکړه، تر دې چې هغه کس بېرته په خپلو پښو ودرید، نو هغه ته یې وویل: ته څه مجبور کړې چې دا کار وکړې؟ هغه وویل: ای ربه ستا له ویرې -یا به وواېي: ستا له ډاره- نو هغه ته یې په دې وجه بخښنه وکړه».

او زموږ رب - عزوجل - د خپل ځان ستاینه وکړه او هغه – سبحانه و تعالی- خپلو بندګانو ته د دې په ویلو سره زیری ورکړ:

﴿... إِنَّ رَبَّكُمْ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ۝٧﴾[النحل: 7]

(بېشکه ستاسو رب یقینًا ډېر نرمي کوونکی، بې حده مهربان دی). [النحل سورت: ایت 7].

الرأفة: شدید او بشپړ رحمت ته واېي.

او هغه په هر لحاظ غوره دی، هغه – تبارک و تعالی- وفرمایل:

﴿... إِنَّ ٱللَّهَ بِٱلنَّاسِ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ۝١٤٣﴾ [البقرة: 143]

(بېشکه ستاسو رب یقینًا ډېر نرمي کوونکی، بې حده مهربان دی). [البقرة سورت: ایت 143].

او زموږ رب – عزوجل- هغه ذات دی چې انسان یې پیدا کړ، د هغه ساتنه یې وکړه، په هغه یې رحم وکړ، د هغه سره یې احسان وکړ، ټول کاینات یې د هغه تابع کړل، د هغه څخه یې بدي لرې کړه، او خیر یې ورته نږدې کړ؛ دا د هغه د مهربانۍ او سخاوت څخه دي.

بلکه د هغه – عزوجل- د مهربانۍ څخه دا دي چې هغه د اطاعت کوونکو اطاعت قبلوي، که هر څومره کوچنی وي، او د هغه چا ایمان ساتي چې په هغه یې ایمان راوړی وي او له لاسه یې ورنکړي، او دا د هغه –سبحانه و تعالی- له احسان څخه دي چې له خپلو اولیاوو سره یې کوي :

﴿... وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُضِيعَ إِيمَٰنَكُمْۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِٱلنَّاسِ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ۝١٤٣﴾ [البقرة: 143]

(او الله کله هم داسې نه دی چې ستاسو ایمان (لمونځونه) ضایع کړي، یقینًا الله پر خلقو باندې خامخا ډېر نرمي کوونکی، بې حده رحم کوونکی دی). [البقرة سورت: ایت 143].

بشپړې نښانې:

او د هغه د مهربانۍ له عظمت څخه: دا دي چې خپلو بندګانو ته يې خبرداری ورکړ، هغوی يې وهڅول او ويې ويرول، وعده يې ورکړه او اخطار يې ورکړ، د مهربانۍ له مخې، د هغوی د صلاح او د مصلحتونو په پام کې نيولو سره،

﴿.... وَيُحَذِّرُكُمُ ٱللَّهُ نَفۡسَهُۥۗ وَٱللَّهُ رَءُوفُۢ بِٱلۡعِبَادِ٣٠﴾ [آل عمران: 30]

(او الله كله همداسې ندی چې ستاسو ايمان (لمونځونه) ضايع كړي، يقينًا الله پر خلقو باندې خامخا ډېر نرمي كوونكی، بې حده رحم كوونكی دی). [آل عمران سورت: ايت 30].

د هغه د مهربانۍ له نښو څخه دا هم دی چې په خپل رسول باندې يې کتاب نازل کړ تر څو خلک له تیارو څخه رڼا ته راوباسي، هغه – عزوجل- فرمايي:

﴿هُوَ ٱلَّذِي يُنَزِّلُ عَلَىٰ عَبۡدِهِۦٓ ءَايَٰتِۭ بَيِّنَٰتٖ لِّيُخۡرِجَكُم مِّنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ بِكُمۡ لَرَءُوفٞ رَّحِيمٞ٩﴾ [الحديد: 9]

(دی همغه ذات دی چې په خپل بنده باندې څرګندې نښې (دليلونه) نازلوي، د دې لپاره چې دغه (الله) تاسو له تيارو نه رڼا ته وباسي او بېشكه الله پر تاسو باندې يقينًا ډېر نرمي كوونكی، بې حده رحم كوونكی دی). [الحديد سورت: ايت 9].

د هغه د مهربانۍ له دلایلو څخه دا دی: چې هغه زموږ لپاره د انتقال وسايل تابع کړي دي؛ لکه په پخوانيو زمانو کې آسونه، کچرې او خره، او په اوسنۍ زمانه کې موټر، الوتکې، ريل ګاډي او داسې نور، الله – سبحانه و تعالی- فرمايي:

﴿وَتَحۡمِلُ أَثۡقَالَكُمۡ إِلَىٰ بَلَدٖ لَّمۡ تَكُونُواْ بَٰلِغِيهِ إِلَّا بِشِقِّ ٱلۡأَنفُسِۚ إِنَّ رَبَّكُمۡ لَرَءُوفٞ رَّحِيمٞ٧﴾ [النحل: 7]

(او دوی ستاسو درانه بارونه پورته كوي هغه ښار ته چې تاسو هغه ته رسېدونكي نه وئ مګر د ځانونو په مشقت سره، بېشكه ستاسو رب يقينًا ډېر نرمي كوونكی، بې حده مهربان دی). [النحل سورت: ايت 7].

او د هغه د عظمت له مهربانۍ څخه: دا دي چې هغه څه چې د دوی د ژوند او د دوی د مالونو څخه يې اخيستي دي يوازې د هغه خالص ملکيت دی، نو هغه –

تبارك و تعالی- د دوی څخه خپل ملکيت په بې شميره قيمت اخلي، هغه – تبارك وتعالی- فرمايلي:

﴿وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَشۡرِي نَفۡسَهُ ٱبۡتِغَآءَ مَرۡضَاتِ ٱللَّهِۚ وَٱللَّهُ رَءُوفُۢ بِٱلۡعِبَادِ ٢٠٧﴾ [البقرة: 207]

(او بعضې له خلقو نه هغه څوك دي چې د الله د رضا لټولو لپاره ځان خرڅوي، او الله په بنده ګانو باندې ډېر نرمي کوونکی دی). [البقرة سورت: ايت 207]

. او د هغه د مهربانۍ له عظمت څخه: دا چې هغه د خپلو اولياوو دعا ته قبلوي، هغه –عزوجل- فرمايلي:

﴿وَٱلَّذِينَ جَآءُو مِنۢ بَعۡدِهِمۡ يَقُولُونَ رَبَّنَا ٱغۡفِرۡ لَنَا وَلِإِخۡوَٰنِنَا ٱلَّذِينَ سَبَقُونَا بِٱلۡإِيمَٰنِ وَلَا تَجۡعَلۡ فِي قُلُوبِنَا غِلّٗا لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ رَبَّنَآ إِنَّكَ رَءُوفٞ رَّحِيمٌ ١٠﴾ [الحشر: 10]

(او د هغو کسانو لپاره دي چې له دوی (هجرت کوونکو او انصارو) نه وروسته راغلي دي؛ دوی وايي: ای زموږه ربه: ته موږ ته مغفرت وکړه او زموږ هغو وروڼو ته چې زموږ نه يې په ايمان سره سبقت (او ړومبی والی) يې کړی دی او ته زموږ په زړونو کې د هغو کسانو لپاره هېڅ بغض (او کينه) مه پيدا کوه چې ايمان يې راوړی دی ای زموږه ربه! بېشکه ته ډېر نرمي کوونکی، بې حده رحم کوونکی يې). [الحشر سورت: ايت 10]

. او د هغه د رحم له عظمت څخه: دا دي چې هغه حدود ټاکلي چې د هغه حدونو مخه نيسي چې د تقوا مخه نيسي، څکه چې رحمت پر رحمت شوي کس باندې راځي؛ څکه چې دا تر ټولو نرم او تر ټولو غوره رحمت دی، الله – عزوجل- فرمايي:

﴿وَلَوۡلَا فَضۡلُ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ وَرَحۡمَتُهُۥ وَأَنَّ ٱللَّهَ رَءُوفٞ رَّحِيمٞ ٢٠﴾ [النور: 20]

(او که پر تاسو باندې د الله فضل او د هغه رحمت نه وي او دا چې بېشکه الله ډېر نرمي کوونکی، بې حده رحم کوونکی دی). [النور سورت: ايت 20].

د هغه د رحمت له نخښو څخه: کفارو او ګناهکارانو لپاره مهلت ورکول دي چې دوی ته په ناڅاپه ډول عذاب ورکړي، په داسې حال کې چې دوی نه پوهيږي، بلکې هغوی ته مهلت ورکوي، شفا ورکوي، او روزي ورکوي، هغه –تبارك و تعالی- وفرمايل:

﴿أَوۡ يَأۡخُذَهُمۡ عَلَىٰ تَخَوُّفٖ فَإِنَّ رَبَّكُمۡ لَرَءُوفٞ رَّحِيمٌ ٤٧﴾ [النحل: 47]

(يا دوی په وېره ونيسي، پس يقينًا ستاسو رب خامخا ډېر نرمي كوونكی، بې حده مهربان دی).
[النحل سورت: ايت 47].

﴿... وَيُمۡسِكُ ٱلسَّمَآءَ أَن تَقَعَ عَلَى ٱلۡأَرۡضِ إِلَّا بِإِذۡنِهِۦٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِٱلنَّاسِ لَرَءُوفٞ رَّحِيمٞ ٦٥﴾ [الحج: 65]

او د هغه د مهربانۍ له دلايلو څخه دا دي چې هغه ( اسمان ساتي له دې نه چې په ځمكه راولوېږي مګر (خو) د هغه په حكم سره، بېشكه الله په خلقو باندې خامخا ډېر نرمي كوونكی، مهربان دی).
[الحج سورت: ايت 65].

پيغام ..

هر هغه چا ته چې په فقر کې راګير وي، په کړاوونو کې ډوب وي، د هغه ښيره بدله شوې وي، او زړه يې مات شوی وي.

هغه چا ته چې پور وربانديې بار وي، فکر يې حيران وي، ذهن يې ګډوډ وي، او داسې فکر وکړي چې دنيا هغه باندې تنګه شوې ده.

هغه چا ته چې دردونو کړولی او ستړی کړی وي، او ډاکټرانو د يې وسۍ ځواب ورکړی وي، او دروازه يې پر مخ تړلی وي.

هغه چا ته چې اندېښمن وي، په غم کې ډوب وي، او دنيا ورته شا کړې وي؛ دنيا د ټولې پراخۍ سره پرې راتنګه شوي وي.

هغه چا ته چې زوی يې ورڅخه لرې شوی وي، محبوب يې مسافر شوی وي، او ملګرې يې تللی وي، له ځان څخه تنګ وي، روح يې تنګ شوی وي؛ زړه يې ولړزيږي؛ ګل ازغي وګرځي، او ښکلې نړۍ غمجنه او مړاوې شي..

نو د هغه –عزوجل- وينا په ياد ولره چې فرمايي:

﴿... إِنَّ رَبَّكُمۡ لَرَءُوفٞ رَّحِيمٞ ٧﴾ [النحل: 7]

(بېشكه ستاسو رب يقينًا ډېر نرمي كوونكی، بې حده مهربان دی) [النحل سورت: ايت 7]،

او دا تکرار کړه:

﴿... وَٱللَّهُ رَءُوفُۢ بِٱلۡعِبَادِ﴿٢٠٧﴾﴾ [البقرة: 207]

(او الله په بنده ګانو باندې ډېر نرمي کوونکی دی) [البقرة سورت: ايت 207]،

او غږ وکړه: اې رؤف ذاته! زما په حال رحم وکړه، زما په ضعف رحم وکړه، زما پریشانۍ او بدۍ لرې کړه.

ابن القیم وویل: "او الله – سبحانه وتعالی- خپل بنده ازمايي، ترڅو د هغه شکايتونه، عاجزي او دعاګانې واوري".

﴿قَالَ إِنَّمَآ أَشۡكُواْ بَثِّي وَحُزۡنِيٓ إِلَى ٱللَّهِ ...﴾ [يوسف: 86]

(هغه وويل: بېشکه همدا خبره ده چې زه د خپلې پرېشانۍ او غم فریاد الله ته کوم). [يوسف سورت: ايت 86]

. او دلته؛ د آرامۍ او خلاصون لپاره انتظار وباسه؛ الله – عزوجل- فرمايلي:

﴿أَمَّن يُجِيبُ ٱلۡمُضۡطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكۡشِفُ ٱلسُّوٓءَ وَيَجۡعَلُكُمۡ خُلَفَآءَ ٱلۡأَرۡضِۗ أَءِلَٰهٞ مَّعَ ٱللَّهِۚ قَلِيلٗا مَّا تَذَكَّرُونَ﴿٦٢﴾﴾ [النمل: 62]

(بلکې هغه ذات (غوره دی) چې د مجبور ( او عاجز) سوال قبلوي، کله چې دغه (الله) وبلي او هغه تکلیف (او سختي) لرې کوي او تاسو د ځمکې خلیفه ګان جوړوي، ايا له الله سره بل معبود شته؟ تاسو ډېر لږ شانته نصیحت قبلوئ). [النمل سورت: ايت 62].

هغه –سبحانه و تعالی- رؤوف او مهربان دی، نو هغه څومره لوی شان او لوړ مقام والا دی! او خپل مخلوق ته نږدې دی! او پر خپلو بندګانو رحم کوونکی دی!

که تا چیرته ولیدل چې رسۍ ټینګیږي؛ نو پوه شه چې هغه به پرې کیږي، او که چیرته تیاره زیاته شي؛ نو د نږدې سهار د زیری څرګندونه کوي.

له رؤوف او مهربان رب –جل و علا- څخه مه ستړی کیږه، د یو حال او وضعیت دوام ناشونی دی، او غوره عبادت: د خلاصون لپاره انتظار دی، او ورځې بدلیږي، زمانه بدلیږي، او شپو کې دننه رازونه دي، او غیب پټ دي، او الرؤوف ذات فرمايلي:

﴿...كُلَّ يَوۡمٍ هُوَ فِي شَأۡنٖ﴿٢٩﴾﴾ [الرحمن: 29]

(هر وخت هغه په يوکار کې دی). [الرحمن سورت: ايت 29]

او هغه -جل وعلا- وفرمايل- :

﴿... لَعَلَّ ٱللَّهَ يُحۡدِثُ بَعۡدَ ذَٰلِكَ أَمۡرٗا ١﴾ [الطلاق: 1]

(کېدی شي چې الله له دغه نه وروسته کوم (ښه) کار پيدا کړي). [الطلاق سورت: ايت 1]،

او الله -سبحانه وتعالی- فرمايلي- :

﴿فَإِنَّ مَعَ ٱلۡعُسۡرِ يُسۡرًا ٥ إِنَّ مَعَ ٱلۡعُسۡرِ يُسۡرٗا ٦﴾ [الشرح: 5-6]

(نو بېشکه له سختۍ سره اساني شته. بېشکه له سختۍ سره اساني شته). [الشرح سورت: ايتونه 5-6].

زړونو سجده وکړه..

الله – سبحانه و تعالی- خپل رسول -صلی الله عليه وسلم- په دې صفت سره ياد کړی دی چې فرمايلي دي:

﴿لَقَدۡ جَآءَكُمۡ رَسُولٞ مِّنۡ أَنفُسِكُمۡ عَزِيزٌ عَلَيۡهِ مَا عَنِتُّمۡ حَرِيصٌ عَلَيۡكُم بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ رَءُوفٞ رَّحِيمٞ ١٢٨﴾ [التوبة: 128]

(لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِّنْ أَنفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُم بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ) (يقينًا يقينًا تاسو ته له هم ستاسو له جنسه نه رسول راغلی دی، هغه څه چې تاسو په تکليف کې اچوي؛ پر ده ډېر سخت (او درانه) دي، ستاسو (د هدايت) لپاره پر تاسو باندې ډېر حرصناک دی، په مومنانو باندې ډېر نرمي کوونکی، ډېر مهربان دی). [التوبة سورت: ايت 128]،

يعني: هغه پر مؤمنانو ډېر مهربان او رحم کوونکی دی، حتا د هغوی د مور او پلار څخه ډېر مهربان دی.

له همدې کبله؛ د هغه حق پر مخلوق باندې په ټولو حقونو لومړيتوب لري، او ټول مکلفيت لري چې پر هغه ايمان راوړي، د هغه تعظيم، عزت او احترام وکړي.

رسول الله -صلی الله عليه وسلم- په ټوله شپه په دې ايت سره لمونځ کاوه:

﴿إِن تُعَذِّبۡهُمۡ فَإِنَّهُمۡ عِبَادُكَۖ وَإِن تَغۡفِرۡ لَهُمۡ فَإِنَّكَ أَنتَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ١١٨﴾ [المائدة: 118]

(که چېرې ته دوی ته عذاب ورکوې، نو يقيناً دوی ستا بنده ګان دي او که چېرې ته دوی ته بخښنه کوې، نو بېشکه هم ته ډېر غالب، ښه حکمت والا يې). [المائدة سورت: ايت 118]،

نو د هغه رب –عزوجل- چې الرؤوف ذات دی ورته وويل چې موږ به تا په خپل امت باندې راضي کړو.

او مؤمن په خپل ځان رحم کوي، او هغه د نجات لارو ته رسوي، او د هلاکت له لارو څخه يې ساتي، او همدا ډول هغه د نورو په اړه همدا فکر وي.

ابن رجب -رحمه الله- فرمايي: "څوک چې د الله د بندګانو سره سخي وي، الله به ورسره د خپل عطا او فضل سره سخاوت وکړي، او بدله د کار له جنس څخه وي".

الهی! ته زما حالت، زما فقر، او بې وزلي ګورې

او ته زما پټې خبرې اورې

الهی! ستا د بخښنې خوند ما باندې وڅکه هغه ورځ چې

نه اولاد او نه مال ګټه رسولی شي

اې الله موږ له تا څخه غوښتنه کوو، اې رؤوف ذاته! چې مونږ خپل جنت ته داخل کړې، او له خپل اوره مو وساتې.

55

## الوَدُوْدُ )ډېر محبت کوونکی (ذات -جل جلاله-

او کله چې مونږ په داسې يو مجلس کې ناست وو، چې شبنم پرې راورېده

په يو ښکلی باغ او ځايناستې کې

موږ لره د ځای ښکلا را څرګنده شوه

او موږ هيله وکړه، او ته زموږ هيله وګرځيدې

زمونږ ډیر محبت کوونکی رب –سبحانه و تعالی-؛ د فرمانبردارانو دوست، د تښتیدونکو پټنځای، د پناه وړونکو لپاره پناه ځای، او د ویریدونکو لپاره د امنیت ځای.

د توبه کوونکو او پاکي خوښونکو لپاره دوست، د سخاوت کوونکو څخه ډیر سخي، او مخکې لدې چې څوک ور څخه غوښتنه وکړي هغه ته يې ورکوي.

په ورکولو کې تر ټولو سخي، په رحم کولو کې تر ټولو ډېر رحم کوونکی، او تر ټولو کریم چې د هغه په لوري اراده کوي، په سختۍ کې د پناه ځای، په یوازیتوب کې آرامتیا، او په لږ شمیر کې مرسته کوونکی دی –سبحانه وتعالی-.

د الله (الودود) – سبحانه و تعالی- د نوم په اړه خبرې کوو:

هغه – سبحانه و تعالی- فرمايلي:

﴿... إِنَّ رَبِّي رَحِيمٌ وَدُودٌ﴾ [هود: 90]

(بېشکه زما رب ډېر مهربان، پې حده مينه کوونکی دی). [هود سورت: ایت 90]،

او هغه -سبحانه وتعالی- وفرمايل- :

﴿وَهُوَ ٱلۡغَفُورُ ٱلۡوَدُودُ ۝١٤ ذُو ٱلۡعَرۡشِ ٱلۡمَجِيدُ ۝١٥﴾ [البروج: 14-15]

(او هم دی ډېر بخښونکی، ډېر محبت کوونکی دی. (د عرش مالك دی، لوی شان (او عزت) والا دی) [البروج سورت: ایتونه 14-15].

الود: مينې ته وايي.

زموږ رب –سبحانه و تعالی- خپلو اولیاوو ( دوستانو) سره د خپل ځان د معرفت، او ښکلي صفتونو له لارې مينه او خواخوږي کوي..

دغه مينه او خواخوږي د اولیاوو او پرهيزګارانو لپاره ځانګړې ده؛ نو د هغوی لپاره يې د هغه سره د مينې او خواخوږۍ لاملونه برابروي، او د هغوی زړونه د هغه مينه جذبوي، نو هغوی ته يې ښکلي نومونه، پراخ، لوی، او ښکلي صفتونه ور ياد کړل؛ نو هغه لره روغ او مستقيم زړونه جذب شول.

او زما زړه ستا سره له مينې کولو څخه مخکې خالي وه
او د مخلوق په ياد کې به يې خوشحالۍ او لوبې کولې
کله چې زما زړه ستا د مينې غوښتنه وکړه، هغې قبوله کړه
زه فکر نکوم چې هغه به ستا څخه لرې شي

او زموږ رب – تبارک و تعالی - ډېر محبت کوونکی دی، هغه د خپلو نافرمانو او توبه کوونکي مخلوق سره مينه او خواخوږي کوي؛ هغوی ته يې د بخښنې د ترلاسه کولو اسباب او د بخښنې لارې، او د هغه د رحمت د پراخوالي دلايل بيان کړي دي.

هغه –سبحانه و تعالی- وفرمايل:

﴿۞ قُلْ يَٰعِبَادِىَ ٱلَّذِينَ أَسْرَفُوا۟ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا۟ مِن رَّحْمَةِ ٱللَّهِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَغْفِرُ ٱلذُّنُوبَ جَمِيعًا ۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلْغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٥٣﴾﴾ [الزمر: 53]

(ته (دوی) ته ووايه: ای زما هغو بنده ګانو چې په خپلو ځانونو يې زياتی کړی دی! تاسو د الله له رحمت نه مه نااميده کېږئ، بېشکه الله ټول ګناهونه بخښي، بېشکه دغه (الله)، هم دی ښه بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی). [الزمر سورت: ايت 53]،

او هغه -سبحانه وتعالی- وفرمايل: (او زما رحمت هر شی راګېر کړی دی).

او زموږ رب –تبارک و تعالی- خپلو بندګانو سره په خپلو نعمتونو او سترو ظاهري او باطني نعمتونو له لارې مينه او خواخوږي کوي، ځکه چې هغه؛ هغه ذات دی چې دوی يې پيدا کړي، دوی يې ساتلي، دوی يې ژوندي کړي، اصلاح کړي يې دي، د دوی کارونه يې بشپړ کړي، او دوی ته يې ايمان او اسلام ته لارښوونه کړې ده؛ چې دا تر ټولو ستر نعمت دی.

او هغه ډېر محبت کوونکی دی چې له هغوی سره مينه کوي ... او د هغه دوستان د هغه سره مينه کوي او فضل او منت د منان ذات لپاره دي ... او هغه؛ هغه ذات دی چې مينه يې د هغوی په زړونو کې ځای پر ځای کړې ده ... او په مقابل کې يې هغوی ته دويمه مينه ورکړې ده

دا واقعاً لوی احسان دی ... چې هېڅ بدله يې نشته او نه د هغوی نه د منني تمه لري

## خالص احسان:

که د الودود نوم معنی يو بنده لره څرګنده شي؛ زړه به يې له خپل رب سره وتړل شي؛ هغه به په مينه، ليوالتيا او خوښوالي کې مشغول شي چې له هغه څخه به بل نه خوږ او نه پاک څيز ومونډل شي!

او دا تر ټولو لوی هغه څه دي چې عبادت کوونکي يې پرې عبادت کوي، او هغه ته نږدې کېدونکی پرې نږدې کيږي؛

﴿... يُحِبُّهُمۡ وَيُحِبُّونَهُۥٓ ...﴾ [المائدة: 54]

[(الله) به له دوی سره مينه کوي او دوی به له هغه (الله) سره مينه کوي]. [المائدة سورت: ايت 54].

او د حالت پاکوالی د الله د نومونو او صفتونو د پوهې د پاکوالي له مخې وي.

او مؤمن بنده پوهيږي چې دغه حالت د بنده د زور او قوت له لارې نه را منځته کيږي، بلکې دا د هغه الودود ذات لخوا دی کله چې له خپل بنده سره مينه وکړي، نو په زړه کې يې مينه اچوی، او کله چې بنده د خپل رب –سبحانه و تعالی- په توفيق سره له هغه سره په رښتيني توګه مينه وکړي، الله به هغه لره يوه بله مينه هم ورکړي، او هغه همدغه خالص احسان دی؛ ځکه چې سبب او مسبب دواړه د الله له لوري ترسره کيږي.

او کله چې بنده له خپل رب سره ريښتيني مينه وکړي د عبوديت اخلاص به يوازې هغه لره څرګند شي، او دا به د دې سبب شي چې بنده له هغه چا سره مينه وکړي چې الله او بنده له هغه سره مينه کوي، او له هغه چا څخه نفرت کوي چې پخپله او الله له هغه څخه نفرت کوي، او د ولاء او براء ( دوستي او بې زاري) حقيقت دی؛

﴿لَّا تَجِدُ قَوۡمٗا يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ يُوَآدُّونَ مَنۡ حَآدَّ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَلَوۡ كَانُوٓاْ ءَابَآءَهُمۡ أَوۡ أَبۡنَآءَهُمۡ أَوۡ إِخۡوَٰنَهُمۡ أَوۡ عَشِيرَتَهُمۡۚ أُوْلَٰٓئِكَ كَتَبَ فِي قُلُوبِهِمُ ٱلۡإِيمَٰنَ وَأَيَّدَهُم بِرُوحٖ مِّنۡهُۖ وَيُدۡخِلُهُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ رَضِيَ ٱللَّهُ عَنۡهُمۡ وَرَضُواْ عَنۡهُۚ أُوْلَٰٓئِكَ حِزۡبُ ٱللَّهِۚ أَلَآ إِنَّ حِزۡبَ ٱللَّهِ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ٢٢﴾ [المجادلة: 22]

(ته به داسې قوم ونه مومې چې په الله او په ورځ د اخرت ايمان لري، چې دوى به له هغو كسانو سره دوستي كوي چې د الله او د هغه د رسول مخالفت كوي اګر چې دغه خلق د دوى پلرونه وي، يا د دوى زامن، يا د دوى ورونه، يا د دوى قبيله وي، دغه كسان دي چې هغه (الله) د دوى په زړونو كې ايمان ليكلى دى او دوى يې په هغه روح سره قوي كړي دي چې د ده له جانبه دى او هغه به دوى داسې جنتونو ته داخل كړي چې د هغو له لاندې ولې بهيږي، چې دوى به هغه كې تل تر تله وي، الله له دوى نه راضي شو او دوى له هغه نه راضي شول، دغه كسان د الله لښكر دى اګاه شئ! بېشكه د الله لښكر، هم دوى كامياب دي). [المجادلة سورت: ايت 22].

## يوازې د مينه والو لپاره!

او رښتينى مؤمن په نيكو عملونو سره الله لره نږديوالى غواړي چې د الله –عزوجل- د مينې سبب ګرځي؛ له اقوالو او اعمالو څخه، او تر ټولو لوى يې: د الله –عزوجل- او د هغه د رسول -صلى الله عليه وسلم- اطاعت دى، او هغه –سبحانه و تعالى- فرمايلي:

﴿قُلۡ إِن كُنتُمۡ تُحِبُّونَ ٱللَّهَ فَٱتَّبِعُونِي يُحۡبِبۡكُمُ ٱللَّهُ ...﴾ [آل عمران: 31]

[(اې نبي!) ته ووايه: كه چېرې ئ تاسو چې له الله سره مينه كوئ، بيا نو زما پيروي وكړئ، الله به له تاسو سره مينه وكړي]. [آل عمران سورت: ايت 31].

او بنده هغه څه ته ادامه وركوي كوم چې الله عزوجل- يې خوښوي، او په هغه څه كې چټكتيا كوي چې د هغه مالک يې غواړي، تر هغه چې د هغه مينه او نږدېوالى لاس ته راوړي. «إِذَا أَحَبَّ اللهُ العَبْدَ نَادَى جِبرِيلَ: إِنَّ اللهَ يُحِبُّ فُلَانًا فَأَحْبِبْهُ! فَيُحِبُّهُ جِبرِيلُ، فَيُنَادِي جِبرِيلُ فِي أَهْلِ السَّمَاءِ: إِنَّ اللهَ يُحِبُّ فُلَانًا فَأَحِبُّوهُ! فَيُحِبُّهُ أَهْلُ السَّمَاءِ، ثُمَّ يُوضَعُ لَهُ القَبُولُ فِي الأَرْضِ» «كله چې الله له بنده سره مينه ولري، نو جبرائيل ته غږ وكړي: الله له فلاني سره مينه لري، نو له هغه سره مينه وكړه! نو جبرئيل له هغه سره مينه وكړي، بيا جبرائيل د اسمان پر

اوسیدنوکو غږ کوي: الله له فلاني سره مینه لري، نو له هغه سره مینه وکړئ! نو د اسمان اوسیدونکي هم له هغه سره مینه وکړي، بیا په ځمکه کې هغه لره قبولوالی حاصل شي». [بخاري روایت کړی]. هغه –سبحانه و تعالی- وفرمایل:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ سَيَجۡعَلُ لَهُمُ ٱلرَّحۡمَٰنُ وُدّٗا٩٦﴾ [مريم: 96]

(بېشکه هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او نېك عملونه یې کړي دي ژر به رحمٰن د دوی لپاره (د خلقو په زړونو کې) مینه (او محبت) پیدا کړي). [مریم سورت: ایت 96].

«سَمْعَهُ الَّذِي يَسْمَعُ بِهِ، وَبَصَرَهُ الَّذِي يُبْصِرُ بِهِ، وَيَدَهُ الَّتِي يَبْطِشُ بِهَا، وَرِجْلَهُ الَّتِي يَمْشِي بِهَا» او کله چې الله –عزوجل- له بنده سره مینه وکړي؛ نو «الله به د هغه غوږ اوسي چې هغه باندې اوري، او د هغه سترګه به شي چې هغه باندېویني، او د هغه لاس به شي چې هغه سره نیول کوي، او د هغه پښه به شي چې هغه ورباندې ګرځي». [بخاري روایت کړی]. ابن القیم -رحمه الله- فرمایي: هغه اسباب چې د الله –عزوجل- مینه منځ ته راولي لس دي:

یو له هغو څخه: د قرآن کریم لوستل او د هغه په معنی پوهیدل او هغه څه چې هغه یې غواړي..

دویم: له فرض لمانځه وروسته په نفلي اعمالو سره الله ته نږدې کېدل..

دریم: په هر حالت کې د هغه د ذکر دوام؛ په ژبه، زړه، کار او حال کې ...

څلورم: هغه څه ته ترجیح ورکول چې هغه یې خوښوي او ستا زړه یې غواړي کله چې ستاسو خواهشات غلبه وکړي.

پنځم: له زړه نه د هغه د نومونو او صفتونو مطالعه کول، او د هغو لیدل او هغو باندې ځان پوهول.

شپږم: د هغه د نیکۍ، احسان، نښاني، باطني او ظاهري نعمتونو لیدل...

اووم - او دا خورا حیرانونکی دی -: د الله – سبحانه و تعالی- پر وړاندې په بشپړ ډول د زړه ماتیدل ( تواضع کول)...

اتم: د نزول په وخت کې له هغه سره د مناجات او دعاء لپاره خلوت کول...

نهم: له ریښتینو مینه والو سره کښېناستل او د هغوی د خبرو خوندورې میوې اخیستل...

لسم: د هر هغه سبب لرې کول چې د زړه او الله –عزوجل- تر منځ مانع وي.

د مینې دلیل:

هره سترګه د محبوب لپاره د سترګو یخوالی نه وي ... او نه هر څوک چې را وبلل شي ځواب ورکوي.

مینه وال د محبوب لوري ته د اواز کوونکي غږ اوري (حي الفلاح!): نو هغوی خپلې بسترې پرېږدي، او خوب له ځانه لرې کړي، او په پښو ودرېږي؛ د لمر په ګرمۍ او یا د یخنۍ په شدت کې، داسې روان وي لکه چې دا په ورېښمو د پاسه روان وي، او د هغوی غوږونو کې دا اوري چې : ( د مبارزې خوا ته ودرومۍ!) هغوی خپله خوښې، روح، او نفس قربانوي، او پدې لاره کې خپلې وینې تویوي.

په هغوی دا ایت لوستل کېږي :

﴿.. أَنفِقُواْ مِمَّا رَزَقۡنَٰكُم ..﴾ [البقرة: 254]

(له هغه (مال) نه څه حصه خرچ کوئ چې مونږ تاسو ته درکړی دی) [البقرة سورت: ایت 254]

؛ نو دوی خورا قیمتي شیانو کې یو بل سره سیالي کوي، او دوی ترټولو ګران او غوره شیان ورکوي چې دوی پې خوښوي، او د الله په لاره کې داسې ورکړې کوي چې د فقر څخه هیڅ ویره ونلري. او هغوی ته دا ایت تلاوت شي:

﴿... وَلِلَّهِ عَلَى ٱلنَّاسِ حِجُّ ٱلۡبَيۡتِ ...﴾ [آل عمران: 97]

(او خاص د الله لپاره په خلقو باندې د (هغه د) کور حج کول فرض دي) [آل عمران سورت: ایت 97]

؛ نو دوی له هرې ژورو او لرو دښتو او درو څخه راځي، ګېډوډو ویښتانو او تشو خیټو او تږو زړونو سره وايي: اې الله زه حاضر یم! زه حاضر یم تا لره هیڅ شریک نشته زه حاضر یم!

د دوی او نورو حالت داسې دی لکه شاعر چې ویلي دي:

ځوک چې د مینې په ډک زړه سره خوب نشي کولی ... هغه نه پوهیږي چې ځیګر ځنګه ماتیږي

جلال الدین رومي وايي: «مینه ترخه خوږوي، او خاوره سره زر جوړوي، او ناپاکه پاکوي، او درد دوا کوي، زندان باغ جوړوي، له ناروغۍ ځخه نعمت جوړوي، او غصه مهربانۍ ته اړوي، او اوسپنه نرموي، ډبره ویلي کوي، مړی راژوندی کوي، او هغه لره ژوند ورکوي».

اې کاش چې ته خوږ شې ځکه چې ژوند تریخ دی ... او کاش چې ته راضي شې او اګر که خلک غصه وي ... او اې کاش چې زما او ستا تر منځ لارې ودانې شي ... او زما او د مخلوقاتو تر منځ لارې خرابې وي

که زه ستا مینه ترلاسه کړم، نور هر څه به اسانه شي ... او هر څه چې د خاورې پر سر دي خاورې دي

ابن القیم -رحمه الله- د مینې په اړه وايي: او دا: د بندګۍ راز او د هغه توحید دی: دا پر هغه باندې شاهدي ورکول دي (لا إله إلا الله) نشته بل معبود پرته له الله ځخه. رسول الله -صلی الله علیه وسلم- له خلکو سره خبرې کولې یو اعرابي ورته وویل: قیامت به کله وي یا رسول الله؟ هغه وفرمایل: «مَا أَعْدَدْتَ لَهـَا»، قال: ما أعددت لها من كثير صلاة ولا صوم ولا صدقة؛ ولكني أحب الله ورسوله، قال: «أَنْتَ مَعَ مَنْ أَحْبَبْتَ» «د هغې لپاره دې څه تیار کړي دي، وېې ویل: ما د هغې لپاره ډېر لمونځ، روژه او صدقه نه ده تیاره کړې؛ خو زه له الله او د هغه له رسول سره مینه لرم، هغه وویل: ته به له هغه چا سره یې چې مینه ورسره لرې». [بخاري او مسلم روایت کړی].

زه له صالحانو سره مینه لرم خو له هغوی ځخه نه یم ... امید دی چې د هغوی د مینې په وجه به زما سپارش وشي

او له هغو کسانو ځخه کرکه لرم چې د هغوی تجارت نافرمانۍ وي ... حتا که موږ په توکو او توښه کې یو شان هم اوسو.

نښه..

هرم بن حیان ویلي: «هیڅ بنده د زړه له کومې الله –عزوجل- ته نه راګرځي؛ مګر دا چې الله تعالی د مؤمنانو زړونه هغه ته را ګرځوي تر ځو چې هغه ته د دوی مینه

ورکړي». نو مؤمن: مينه ناک وي؛ هغه له خلکو سره مينه کوي او هغوی له هغه سره مينه کوي، او هغه له خلکو سره الفت کوي او هغوی له هغه سره الفت او مينه کوي، لکه څرنګه چې رسول الله -صلی الله عليه وسلم- فرمايي: «المُؤْمِنُ يَأْلَفُ وَيُؤْلَفُ» "مومن مينه کوي او مينه ورسره کيږي". حسن حديث دی. طبراني په «المعجم الاوسط» کې روايت کړی دی. دا ځکه چې هغه د خپلو مسلمانو ملګرو لپاره نيکي خوښوي او له هغوی څخه شر لرې کوي، او په صحيح حديث کې راغلي دي چې رسول الله –صلی الله عليه وسلم- به دغه دعا ويله: «اللَّهُمَّ! وَأَسْأَلُكَ حُبَّكَ، وَحُبَّ مَنْ يُحِبُّكَ، وَحُبَّ عَمَلٍ يُقَرِّبُنِي إِلَى حُبِّكَ» «اې الله! او زه له تا څخه ستا د مينې او د هغه چا د مينې غوښتنه کوم چې تا سره مينه لري او د هغو عملونو مينه چې ما ستا مينې ته نږدې کوي». [صحيح حديث دی. ترمذي روايت کړی].

اې ډير محبت کوونکيه ذاته! موږ له تا څخه ستا د مينې او د هغه چا د مينې غوښتنه کوو چې تا سره مينه لري او د هغو عملونو مينه چې ما ستا مينې ته نږدې کوي.

-

56

## البـَرُّ)ښه سلوک کوونکی  (ذات-جل جلاله-

اې فقير بنده! د خپل مهربان رب دروازه ټينګه ونيسه، او په غالب، او پوه رب باندې پياوړی اوسه، او د هغه په اطاعت سره هغه ته نږدې شه؛ ځکه چې هغه ښه سلوک کوونکی او مهربان ذات دی.

بيا دلته؛ هغه پر تا باندې د خپلو نعمتونو فضل کوي؛ او که ته د هغه اطاعت وکړې هغه به تا ته عزت او فضل درکړي، او که تا هغه څه چې تير شوي ضايع کړل، هغه به په تا باندې رحم وکړي او تا ته به مهلت او فرصت درکړي، نو که تا توبه وکړه او له ګناهونو څخه پښيمانه شوې، ستا څخه به منته وکړي، او که تا نافرماني او بد چلند وکړ ستا ستر او پرده به وکړي.

چا چې د هغه د بندګۍ او محبت خوند څکلی وي نو څنګه به د هغه لرې والی وزغمي؟ یا هغه چا چې د هغه پر وړاندې د ذلت خوند څکلی وي نو هغه به څنګه د هغه لوري ته نه ورګرځي؟!

که د سرګردانو مینانو برخه په مخلوقاتو کې

لیلا او سلما وي چې زړه او عقل اخلي

نو بیا د هغه مین به څه حال وي چې

زړه یې وغواړي چې پورته اسمان خوا ته لاړ شي

او هغه چا ریښتیا ویلي چې ویلي یې دي: «په الله قسم! هغه لاره خومره د وحشت او تیارو لاره ده چې الله د هغې لارې تامینوونکی نه وي، او هغه لاره به څومره د ورکې لاره وي چې د هغې لارې لارښود نه وي".

ښه سلوک کوونکي او مهربان ذات لره پاکي ده! چې د هغه احسان، خیر او نیکمرغي د ځمکې او اسمانونو ټولو اوسیدونکو لپاره ظاهري او باطني خیر او نیکي؛ هر وخت کې خپره کړې ده.

او الله تعالی وفرمایل:

﴿..وَأَسۡبَغَ عَلَيۡكُمۡ نِعَمَهُۥ ظَٰهِرَةٗ وَبَاطِنَةٗۗ ...﴾ [لقمان: 20]

(او پر تاسو باندې یې خپل نعمتونه، چې ظاهري او باطني دي ؛ پوره کړې دي). [القمان سورت: ایت 20]،

او الله د خپل لوړ ذات ستاینه په دې وینا سره کړې ده:

﴿.. إِنَّهُۥ هُوَ ٱلۡبَرُّ ٱلرَّحِيمُ ٢٨﴾ [الطور: 28]

(ببشکه هم دی ډېر احسان کوونکی، بې حده رحم کوونکی دی). [الطور سورت: ایت 28].

زموږ رب –سبحانه و تعالی- چې پر خپلو بندګانو عطف کوونکی، مهربان، او هغوی باندې له نرمۍ څخه کار اخلي، د هغوی دنیوي او شرعي چارو ته سمون ورکوي.

او د هغه –تبارک و تعالی- د نیکۍ له کمال څخه دا دی چې هغه د نیکۍ کار کوونکي ته څو چنده اجر ورکولو باندې احسان کوي، ظالم او تیری کوونکو ته په بخښنې باندې احسان کوي.

او زموږ رب پر خپلو بندګانو مهربان دی؛ هغه د دوی لپاره اسانتیا غواړي او سختي نه غواړي.

هغه خپلو اولیاوو باندې احسان کوونکی دی؛ ځکه چې هغوی یې خپلې دوستۍ باندې ځانګړي کړل، هغوی یې د خپل عبادت لپاره غوره کړل، او له هغوی څخه یې هر ډول شر، بدي، او آفتونه لرې کړل.

د هغه د نیکۍ ورتیا په هغه څه کې ځرګندیږي چې هغه د خپل ابدیت په کور کې د خپلو ساتونکو لپاره چمتو کړې دي:

﴿إِنَّا كُنَّا مِن قَبۡلُ نَدۡعُوهُۖ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلۡبَرُّ ٱلرَّحِيمُ۝٢٨﴾ [الطور: 28]

(بېشکه مونږ له دې نه مخکې هم دغه (الله) باله، بېشکه هم دی ډېر احسان کوونکی، بې حده رحم کوونکی دی). [الطور سورت: ایت 28] .

او پاکي ده هغه لره ده چې نیکي د هغه له صفتونو څخه ده

او هغه احسان او دنیکو کارونو ډیر والی دی

له نیکۍ څخه یې سرچینه اخیستې ده چې هغه د هغه وصف دی

نو پدې اساس نیکي په دوه ډوله ده

وصف او فعل دی، نو هغه نیکی او احسان کوونکی دی

د ښو ورکوونکی او تل احسان کوونکی دی

نو الله –سبحانه و تعالی-: پر خپلو بندګانو باندې احسان کوونکی دی، دوی باندې مهربانه، دوی باندې احسان کوونکی، دوی په نیکۍ، سخاوت، فضل، شکر او قبلیدو سره نازوي؛

﴿.... وَأَسۡبَغَ عَلَيۡكُمۡ نِعَمَهُۥ ظَٰهِرَةٗ وَبَاطِنَةٗۗ ..﴾ [لقمان: 20]

(او پر تاسو باندې يې خپل نعمتونه، چې ظاهري دي او باطني دي؛ پوره کړي دي). [القمان سورت: ایت 20].

ټول ستا په خدمت کې دي..

هغه ملايکې چې د رحمٰن د عرش حمل کوونکی او د هغې په شاوخوا کې دي؛ دوی تا ته د بخښنې دعا کوي!

هغه ملايکې چې تا باندې مقررې شوي دي ستا ساتنه کوي، او هغه ملايکې چې په اوبو او بوټو باندې مقررې شوي دي ستا د رزق لپاره هڅه کوي او په هغې کې کار کوي.

فلکونه او سيارې ستا د ګټو لپاره مسخرې شوي دي، لمر، سپوږمۍ او ستوري ستا لپاره مسخرې شوي دي، په دوامداره توګه په حرکت کې دي ترڅو ستا د وخت او زمان محاسبه وکړي، او ستا رزق تنظيم کړي.

نو ټوله ښکته نړۍ ستا لپاره تابع ده؛ ځمکه، غرونه، سمندرونه، ونې، ميوې، نباتات، حيوانات... هر څه چې په کې دي ستا دي؛

﴿وَسَخَّرَ لَكُم مَّا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا مِّنۡهُۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَتَفَكَّرُونَ ١٣﴾ [الجاثية: 13]

(او تاسو لپاره يې په کار لګولي دي هر هغه څه چې په اسمانونو کې دي او هر هغه څه چې په ځمکه کې دي، په داسې حال کې چې دا ټول د هغه له جانبه (مسخر) دي، ببشکه په دغو کې د هغه قوم لپاره يقينًا ډېرې نښې دي چې غور فکر کوي). [الجاثية سورت: ایت 13].

د نيکۍ وږمه..

د هغه – سبحانه و تعالی- له احسان څخه: دا دی چې مونږ ته د هغه په لوري لاره اسانوي؛ هغه زموږ لپاره خپل شريعت اسانه، له تکلف او تکليف څخه لرې وساته، او پر مونږ يې هغه کار ندی تحميل کړی چې مونږ يې نه شو زغملای:

﴿... وَمَا جَعَلَ عَلَيۡكُمۡ فِي ٱلدِّينِ مِنۡ حَرَجٖۚ ...﴾ [الحج: 78]

(او په تاسو باندې يې په دين کې هېڅ حرج (مشقت) ندی ايښی). [الحج سورت: ایت 78]،

﴿لَا يُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفۡسًا إِلَّا وُسۡعَهَاۚ ...﴾ [البقرة: 286]

(او الله هېڅ یو نفس نه مکلف کوي مګر د هغه له وَس سره سم). [البقرة سورت: ایت 286]،

﴿وَلَقَدۡ يَسَّرۡنَا ٱلۡقُرۡءَانَ لِلذِّكۡرِ فَهَلۡ مِن مُّدَّكِرٖ ١٧﴾ [القمر: 17]

(او یقینًا مونږ دا قرآن (د یادولو او پند اخیستلو لپاره) اسان کړی دی، نو آیا څوک پند اخیستونکی شته؟) [القمر سورت: ایت 17]

. او له مونږ سره د هغه له نیکیو څخه: دا دي چې هغه –تبارک وتعالی-- زمونږ څخه لږ څه قبلوي، په ډېرو انعام ورکوي، او ډېر ګناهونه معافوي، او دا لوی حدیث زمونږ لپاره کافي دی؛ کوم چې رسول الله -صلی الله علیه وسلم- وفرمایل: «إِنَّ اللهَ كَتَبَ الحَسَنَاتِ وَالسَّيِّئَاتِ، ثُمَّ بَيَّنَ ذَلِكَ: "الله ښه او بد لیکلي، او بیا يې بیان کړي دي:

فَمَنْ هَمَّ بِحَسَنَةٍ فَلَمْ يَعْمَلْهَا؛ كَتَبَهَا اللهُ عِنْدَهُ حَسَنَةً كَامِلَةً، وَإِنْ هَمَّ بِهَا فَعَمِلَهَا؛ كَتَبَهَا اللهُ -عز وجل- عِنْدَهُ عَشْرَ حَسَنَاتٍ، إِلَى سَبْعِمِائَةِ ضِعْفٍ إِلَى أَضْعَافٍ كَثِيرَةٍ. نو څوک چې د ښه کار نیت وکړي او بیا يې تر سره نکړي؛ الله هغه ورته بشپړ نیک عمل په توګه لیکي، او که نیت وکړي او بیا يې ترسره کړي؛ الله –عزوجل- په خپل نیز لس نیکۍ لیکي، تر اوه سوه چنده او له هغه څخه هم ډیر.

وَإِنْ هَمَّ بِسَيِّئَةٍ فَلَمْ يَعْمَلْهَا؛ كَتَبَهَا اللهُ عِنْدَهُ حَسَنَةً كَامِلَةً، وَإِنْ هَمَّ بِهَا فَعَمِلَهَا؛ كَتَبَهَا اللهُ سَيِّئَةً وَاحِدَةً» او که د بدۍ نیت وکړي او بیا يې تر سره نکړي؛ الله هغه ورته بشپړ نیک عمل په توګه لیکي، او که نیت وکړي او بیا يې ترسره کړي؛ الله –عزوجل- يې په خپل نیز یوه بدي لیکي». [بخاري او مسلم روایت کړی]. او پر مونږ باندې د هغه احسان: دا دی چې هغه د خپل بنده په توبه خوشحالیږي، او که مونږ ګناه وکړو هغه مونږ نه شرموي؛ بلکه، هغه زمونږ لپاره د توبې دروازې خلاصې کړې دي:

﴿۞ قُلۡ يَٰعِبَادِيَ ٱلَّذِينَ أَسۡرَفُواْ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡ لَا تَقۡنَطُواْ مِن رَّحۡمَةِ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَغۡفِرُ ٱلذُّنُوبَ جَمِيعًاۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ٥٣﴾ [الزمر: 53]

(ته (دوی) ته ووایه: ای زما هغو بنده ګانو چې په خپلو ځانونو يې زیاتی کړی دی! تاسو د الله له رحمت نه مه نا امیده کیږئ، بیشکه الله ټول ګناهونه بخښي، بیشکه دغه (الله)، هم دی ښه بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی). [الزمر سورت: ایت 53].

او له هغه- عليه الصلاة والسلام- څخه په مستند ډول روايت شوي دي: «قَالَ اللهُ - سبحانه وتعالى- : يَا ابْنَ آدَمَ! إِنَّكَ مَا دَعَوتَنِي وَرَجَوتَنِي غَفَرْتُ لَكَ عَلَى مَا كَانَ مِنْكَ وَلَا أُبَالِيْ. -چې الله– سبحانه و تعالی- فرمايلي: ای د آدم اولاده! هرکله چې ته ما ته دعا وکړې او له ما څخه بخښنه وغواړې، زه به تاته د هغه څه بخښنه وکړم چې تا کړي دي او زه يې پروا نه کوم.

يَا ابْنَ آدَمَ! لَوْ بَلَغَتْ ذُنُوبُكَ عَنَانَ السَّمَاءِ ثُمَّ استَغْفَرْتَنِي غَفَرْتُ لَكَ وَلَا أُبَالِيْ. اې د آدم اولاده! که ستا ګناهونه د اسمان څوکو ته ورسيږي او بيا له ما څخه بخښنه وغواړې، زه به تاته بخښنه وکړم او پروا يې هم نه کوم.

يَا ابْنَ آدَمَ! إِنَّكَ لَوْ أَتَيْتَنِي بِقُرَابِ الأَرْضِ خَطَايَا ثُمَّ لَقِيْتَنِي لَا تُشْرِكُ بِي شَيْئًا لأَتَيْتُكَ بِقُرَابِهَا مَغفِرَةً»[حديث صحيح. رواه الترمذي]. اې د آدم اولاده! که ته ما ته د ځمکې په اندازه له ګناهونو سره راشې او بيا ماسره مخ شې چې له ما سره دې هيڅ شرک نه وي کړی، زه به تاته بښنه وکړم. [صحيح حديث دی. ترمذي کړی].

ستا ستاينه ده، هغه ستاينه چې په هغه سره موږ ستا په يادولو سره خوند اخلو ... که څه هم زه ټوله ثنا او ستاينه نه شم شمېرلی ... تا لره داسې نيکې ستاينې دي چې اسمان ډکوي ... او د هغه غاړې ښندې او ځمکه او وچه او درياب

اې الله ما په خپل رحمت کې وپوښه، کوم چې ... پراخه دی او ټول مخلوق يې په کښې راغونډ کړي دي.

هغه کې ستا برخه ...

او زموږ رب نيک دی، نيکی خوښوي، او هغه باندې امر کوي، او بندګانو کې دغه اخلاق خوښوي.

او تر ټولو بشپړ آيتونه: د هغه – سبحانه وتعالی- دا وينا ده:

﴿۞ لَّيۡسَ ٱلۡبِرَّ أَن تُوَلُّواْ وُجُوهَكُمۡ قِبَلَ ٱلۡمَشۡرِقِ وَٱلۡمَغۡرِبِ وَلَٰكِنَّ ٱلۡبِرَّ مَنۡ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ وَٱلۡكِتَٰبِ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ وَءَاتَى ٱلۡمَالَ عَلَىٰ حُبِّهِۦ ذَوِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَٱلۡيَتَٰمَىٰ وَٱلۡمَسَٰكِينَ وَٱبۡنَ ٱلسَّبِيلِ وَٱلسَّآئِلِينَ وَفِي ٱلرِّقَابِ وَأَقَامَ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَى ٱلزَّكَوٰةَ وَٱلۡمُوفُونَ بِعَهۡدِهِمۡ إِذَا عَٰهَدُواْۖ وَٱلصَّٰبِرِينَ فِي ٱلۡبَأۡسَآءِ وَٱلضَّرَّآءِ وَحِينَ ٱلۡبَأۡسِۗ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ صَدَقُواْۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُتَّقُونَ ١٧٧﴾ [البقرة: 177]

( (نېکي دا نده چې خپل مخونه د مشرق او مغرب په طرف وګرځوئ، او لېکن نېکي (د هغه چا) ده چې پر الله او پر ورځ د اخرت او پر ملایکو او پر کتابونو او پر نبیانو یې ایمان راوړی دی او د هغه په مینه (کې) خپلوانو او یتیمانو او مسکینانو او مسافرو او سوالګرو ته مال ورکوي او په (ازادولو د) څټونو کې (یې لګوي) او لمونځ قايموي او زکات ورکوي او د خپلو وعدو پوره کوونکي وي کله چې وعده وکړي، (خصوصًا) چې په سختۍ او تکلیف او د جنګ په وخت کې صبر کوونکي دي، دا هغه خلق دي چې رښتیني دي او همدغه خلق متقیان دي). [البقرة سورت: ایت 177]

. او بنده به په آخرت کې د هغه له خوا د الله نېکۍ ته نه رسیږي مګر د هغه څه په پیروۍ کولو چې د هغه د نېکۍ او رضایت لامل کیږي، هغه –سبحانه و تعالی- وېلي:

﴿لَن تَنَالُواْ ٱلۡبِرَّ حَتَّىٰ تُنفِقُواْ مِمَّا تُحِبُّونَۚ وَمَا تُنفِقُواْ مِن شَيۡءٖ فَإِنَّ ٱللَّهَ بِهِۦ عَلِيمٞ ٩٢﴾ [آل عمران: 92]

(تاسو به (پوره) نېکۍ ته له سره ونه رسېږئ تر هغه پورې چې له هغه (څیز) نه څه حصه خرچ کړئ چې تاسو یې خوښَوئ، او تاسو چې څه څیز هم خرچ کوئ، نو بېشکه الله په هغه ښه عالم دی)، [آل عمران سورت: ایت 92

رازي -رحمه الله- فرمايي: "هرڅوک چې د الله د بندګانو لپاره د خیر او آرامۍ دروازې پراخې کړي، الله به د هغه لپاره د دنیا او آخرت نعمتونه پراخه کړي".

اې الله! موږ باندې احسان وکړه، او موږ د سختو عذابونو څخه وساته؛ په يقين سره چې ته نیک او مهربان يې!

57

## القَريبُ )ډېر نږدې (ذات -جل جلاله-

الله -عز وجل- وفرمایل- :

﴿وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌۖ أُجِيبُ دَعۡوَةَ ٱلدَّاعِ إِذَا دَعَانِۖ فَلۡيَسۡتَجِيبُواْ لِي وَلۡيُؤۡمِنُواْ بِي لَعَلَّهُمۡ يَرۡشُدُونَ ١٨٦﴾ [البقرة: 186]

(او کله چې زما په باره کې له تا نه زما بنده ګان تپوس وکړي، نو یقینًا زه قریب یم، د دعا کوونکي دعا قبلوم کله چې له ما نه دعا غواړي، پس دوی دې زما حکم ومني، او پر ما دې ایمان راوړي، د دې لپاره چې دوی سمه لار ومومي). [البقرة سورت: ایت 186].

هغه پوښتنه چې الله –جل و علا- په يو آيت کې په خپله ځواب ورکړی دی، چې د هر مومن زړه ته خوږه، دوستانه ارامتيا، ډاډمن قناعت، کافي اعتماد، او يقيني شفا ورکوي.

او د همدې آرامتيا او مينه ناک نږدېوالي په رڼا کې؛ د الله –جل جلاله- د نوم (القريب) سره معرفت ترلاسه کوو:

هغه – سبحانه و تعالى- فرمايلي:

﴿...إِنَّهُۥ سَمِيعٌ قَرِيبٌ۝٥٠﴾ [سبأ: 50]

(بېشکه هغه ښه اورېدونکی، ډېر نژدې دی). [سبا سورت: ايت 50].

نفسونو ته ډير په زړه پورې نوم دی، او ډيرې معنا ګانې او دلالتونه لري..

د دې نوم لفظ د هغه د معنا ښکاره کوي لکه څنګه چې په صفا پياله کې صفا اوبه ښکاريږي.

زموږ رب –جل وعلا– خپلو بندګانو ته نږدې دی، په خپل عرش باندې برقراره دی؛ او هغه؛ هغه څوک دی چې د خپل مخلوق څخه پورته دی، په رازونو او هغه څه چې ضميرونه يې پټوي پوه دی، او ملتيا يې د هر چا لپاره ده.

او د مخلوق سره د هغه نږدې والی دوه ډوله:

لومړی: عمومي نږدې والی چې هغه: د هغه  سبحانه و تعالى- نږدې والی هر چا ته په خپله پوهه، ليدل او هر څه باندې احاطه کول دي، او هغه د ټولو مخلوقاتو څخه لوړ دی، او انسان ته د هغه د شا رګ څخه هم نږدې دی.

او دا عمومي موجوديت دی:

﴿... وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ ٱلْوَرِيدِ۝١٦﴾ [ق: 16]

(او مونږ ده ته (د ده) د ورمېږ له رګ نه زيات نژدې يو). [ق سورت: ايت 16].

دويم: خاص نږديوالی، چې دا: د هغه -سبحانه و تعالى - نږديوالی د هغه د عبادت کوونکو، سوال کوونکو او مينه والو ته دی، او دا هغه نږديوالی دی چې لاندې ځيزونو

ته اړتیا لري: مینه او ملاتړ، د حرکاتو او سکناتو تائیدول، او دعا کوونکو ته ځواب ویل، او د عبادت کوونکو لپاره قبولي او اجر ورکول دي.

دا هغه نږدې والی دی چې د هغه واقعیت نه په سترګو کیږي، بلکې د هغې اغیزې ښکاره کیږي؛ لکه د هغه لطف او احسان، پالنه، توفیق او لارښوونې پر خپل بنده باندې:

﴿وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ أُجِيبُ دَعْوَةَ ٱلدَّاعِ ...﴾ [البقرة: 186]

(او کله چې زما په باره کې له تا نه زما بنده ګان تپوس وکړي، نو یقینًا زه قریب یم، د دعا کوونکي دعا قبلوم کله چې له ما نه دعا غواړي). [البقرة سورت: ایت 186].

او هغه نږدې دی، او د هغه نزدېکت خاص دی په ... رابلونکي او ایمان والاو باندې

هغه - علیه الصلاة والسلام – په صحیح حدیث کې فرمایي: «وَالَّذِي تَدْعُونَهُ أَقْرَبُ إِلَى أَحَدِكُمْ مِنْ عُنُقِ رَاحِلَةِ أَحَدِكُمْ» "او هغه څوک چې تاسو یې بلئ هغه تاسو ته ستاسو د سوارلۍ له غاړې څخه ډیر نږدې دی". [مسلم روایت کړی].

په توره شپه کې د ښوې (هموارې) ډبرې پر سر د تور میږي غږ اوري.

د الله په حمایت کې..

او الله –عزوجل- خپلو اولیاوو ته نږدې دی، د خپلو بندګانو ساتنه کوي، په خپله پالنه کې یې احاطه کوي، هغوی باندې د رحمت باران ورو‌ي، د سترګو د رپېدو په اندازه یې ځانته نه پرېږدي، هغوی خپلو ځانونو ته نه سپاري، هغوی باندې د هغه دښمنانو ته واک نه ورکوي، او شیطان ته اجازه نه ورکوي چې پر دوی باندې لاره ومومي.

هغوی د ځانګړې ملتیا په قیمت سره راغلي؛ او هغه: نږدېوالی، بریا، ملاتړ، او ساتنه ده،

﴿...ٱللَّهُ إِنِّي مَعَكُمْ لَئِنْ أَقَمْتُمُ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَيْتُمُ ٱلزَّكَوٰةَ وَءَامَنتُم بِرُسُلِي وَعَزَّرْتُمُوهُمْ وَأَقْرَضْتُمُ ٱللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا ...﴾ [المائدة: 12]

(او الله وفرمایل: بېشکه زه له تاسو سره یم، یقینًا که چېرې تاسو لمونځ قایم وساتئ او زکات ادا کړئ او زما پر رسولانو ایمان راوړئ او تاسو د هغوی مدد وکړئ او تاسو الله ته ډېر ښکلی قرض ورکړئ). [المائدة سورت: ایت 12].

هغوی خپل رب باندې مطمين دي، او هغوی د هغه –سبحانه و تعالی- په اړه ښه نظر لري؛ او هغه د دوی لپاره په هر وخت کې وي..

دا نوح -علیه السلام- نهه سوه او پنځوس کاله وروسته له دعوت، ازموینو، تکلیفونو او سختیو څخه وروسته خپل رب ته دعا وکړه؛ نو هغه یې دعا قبوله کړه، هغه ته یې نجات ورکړ، او دښمنان یې ورله له منځه یوړل.

او دا ابراهیم -علیه السلام- دی خپل رب ته یې پناه یوړه؛ نو هغه له اوره وژغوره.

او یونس بن متی (علیه السلام) یې له لوی مصیبت څخه خلاص کړ، یوسف یې بیرته یعقوب ته راستون کړ، او هغوی یې سره یو ځای کړل، او له خپلو وروڼو سره یې مینه پیدا کړه، او د یعقوب سترګې یې بیرته ورته ورکړې.

او زمونږ رسول -صلی الله علیه وسلم– باندې داسې حالات راغلي وو چې د سر ویښتان یې سپینول، او زړونه یې ستوني ته رسېدل، او ځینو اصحابو یې د الله په اړه هر ډول ګمانونه کول، نو هغه به خپل مولا ته عاجزي او دعا کوله؛ بیا به الله -عزوجل– خپله وعده پوره کوله، او مراد به یې پوره کاوه، او د حق کلمه به یې لوړوله..

نو الله -عزوجل- ټولو مومنو مخلوقاتو ته نږدې دی، دوی ویني او د دوی ساتنه کوي.

یوه ښځه راغله چې د خپل مېړه په اړه له رسول الله -صلی الله علیه وسلم- سره بحث وکړي، او عایشه -رضي الله عنها- د کور په یوه طرف کې وه، او وايي چې هغې به د دوی یوه خبره اوریده او یوه به یې نه اوریدله، او له بحث وروسته جبرائیل -علیه السلام- محبوب محمد -صلی الله علیه وسلم- باندې په دې وینا سره نازلیږي:

﴿قَدۡ سَمِعَ ٱللَّهُ قَوۡلَ ٱلَّتِي تُجَٰدِلُكَ فِي زَوۡجِهَا وَتَشۡتَكِيٓ إِلَى ٱللَّهِ وَٱللَّهُ يَسۡمَعُ تَحَاوُرَكُمَآۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعُۢ بَصِيرٌ ١﴾ [المجادلة: 1]

(يقينًا الله د هغې ښځې خبره واورېدله چې له تا سره يې د خپل خاوند په باره کې بحث (او سوال و جواب) کاوه او الله ته يې شکايت کاوه او الله ستاسو د دواړو سوال او جواب اورېده، بېشکه الله ښه اورېدونکی، ښه ليدونکی دی). [المجادلة سورت: ايت 1]،

پاک دی هغه ذات چې د هغه غوږ د ټولو غږونو د اوريدلو وړتيا لري!

هغه نږدې دی:

ددعا په وخت کې خپل غږ مه پورته کوه! هغه نږدې دی ستا اواز اوري..

رسول الله -صلى الله عليه وسلم- د صحابه وو -رضى الله عنهم- څخه واوريدل چې په لوړ اواز يې خپل رب ته دعا کوله؛ نو هغه وفرمايل: «أَيُّهَا النَّاسُ! ارْبَعُوْا عَلَى أَنْفُسِكُمْ؛ فَإِنَّكُمْ لاَ تَدْعُوْنَ أَصَمَّ وَلَا غَائِبًا، وَلَكِنْ تَدْعُوْنَ سَمِيعًا بَصِيرًا» "اې خلکو! خپلو ځانونو باندې رحم وکړئ؛ ځکه چې تاسو کوڼ او غايب نه رابلئ، بلکه تاسو اوريدونکی او ليدونکی ذات رابلئ". [بخاري او مسلم روايت کړی]. او الله په هغه څه خبر دی چې ستا په ضمير او فکرونو کې دي، نو ته په خپل زړه کې هغه راوبله هغه به يې قبوله کړي.. هغه –سبحانه وتعالى- نږدې دی:

﴿إِذۡ نَادَىٰ رَبَّهُۥ نِدَآءً خَفِيّٗا٣﴾ [مريم: 3]

(کله چې ده خپل رب ته اواز وکړ ډېر ورو اواز). [مريم سورت: ايت 3].

هغه په خپل ځان کې ياد کړه هغه به يې واوري او تا به ياد کړي؛ ځکه هغه –سبحانه و تعالى- نږدې دی-.

په متفق عليه قدسي حديث کې راغلي: «إِنْ ذَكَرَنِي فِي نَفْسِهِ ذَكَرْتُهُ فِي نَفْسِي، وَإِنْ ذَكَرَنِي فِي مَلَإٍ ذَكَرْتُهُ فِي مَلَإٍ خَيْرٌ مِنْهُمْ». "که هغه ما خپل ځان کې ياد کړي، زه به يې خپل ځان کې ياد کړم، او که هغه ما په عام ځای کې ياد کړي، نو زه به يې د هغه څخه په ښه ډله کې ياد کړم".

او هيڅ داسې انسان نشته مګر چې د نږدې الله -جل وعلا- له خوا هغه ته ډالۍ نه وي؛ د کړاوونو په لرې کولو او يا د مصيبت څخه د خلاصون په برخه کې، او يا د ضرر په مخنيوي، د خطر په منع کولو، او د محبوب په ترلاسه کولو، او يا د غوښتنې په ترلاسه کولو سره ...

نو د نږدې الله دروازه خلاصه ده، د هغه ورکړه ورکول کیږي، د هغه سخاوت لوی دی، مهرباني یې لویه ده؛ څومره حاجتونه مو پوره شوي دي، څومره دعاګانې مو قبولې شوي دي، څومره برکتونه نازل شوي دي، او څومره رحمتونه خپاره شوي دي؟!

د بې وزلې جامه ...

هر کله چې ته پوه شوې چې الله –جل و علا- تا ته نږدې دی، او هغه ستا د باطن څخه خبر دی؛ هغه ستا دعا اوري، ستا ځای ویني او پوهیږي چې ستا په زړه کې څه دي؛ نو ته د نیکې کوونکو څخه اوسه:

﴿... إِنَّ رَحۡمَتَ ٱللَّهِ قَرِيبٞ مِّنَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ٥٦﴾ [الأعراف: 56]

(بېشکه د الله رحمت نیکې کوونکو ته ډېر نژدې دی). [الأعراف سورت: ایت 56].

هغه ته نژدې شه؛ که ته د یو لویشت په اندازه هم هغه ته نږدې شې، نو هغه به د یو ګز په اندازه تا ته نږدې شي، په قدسي حدیث کې راغلی: «وَمَنْ تَقَرَّبَ إِلَيَّ شِبْرًا تَقَرَّبْتُ إِلَيْهِ ذِرَاعًا، وَمَنْ تَقَرَّبَ إِلَيَّ ذِرَاعًا تَقَرَّبْتُ إِلَيْهِ بَاعًا، وَإِذَا أَقْبَلَ إِلَيَّ يَمْشِي أَقْبَلْتُ إِلَيْهِ أُهَرْوِلُ» "او څوک چې ما ته یو ولیشت نږدې شي، زه به هغه ته یو ګز نږدې شم، او څوک چې ما ته یو ګز نږدې شي، زه به هغه ته د هغه دوه برابره نږدې شم، او څوک چې زما خوا ته کرار کرار راشي، زه به هغه ته په منډو ورشم". [بخاري او مسلم روایت کړی دی - او لفظ د مسلم دی]. هغه ته نږدې کیدل د فرایضو له لارې کیږي مخکې لدې چې د نوافلو له لارې وشي؛ «وَمَا تَقَرَّبَ إِلَيَّ عَبْدِي بِشَيْءٍ أَحَبَّ إِلَيَّ مِمَّا افْتَرَضْتُ عَلَيْهِ، وَمَا يَزَالُ عَبْدِي يَتَقَرَّبُ إِلَيَّ بِالنَّوَافِلِ حَتَّى أُحِبَّهُ» «ما ته زما هغه بنده خوښیږي چې د فرایضو په ادا کولو سره زما لورې ته نږدېوالی ترلاسه کوي، او هغه ما ته د نوافلو په ترسره کولو خپل ځان نږدې کوي تر څو زه ورسره مینه وکړم». [بخاري روایت کړی]. هرڅومره چې بنده د بندګۍ په درجو کې تکامل ته ورسیږي، هغومره الله –سبحانه وتعالی- ته نږدې کیږي، او هرڅومره چې د الله پر وړاندې عاجزي وکړي او د خپل رب او محبوب پر وړاندې ودریږي، خپله پوزه او مخ په ځمکه کیږدي؛ د هغه نږدیوالی به خپل رب ته ډیر شي، او مقام به یې لوړ شي، له هغه –صلی الله علیه وسلم- څخه په صحیح حدیث کې روایت شوی دی چې هغه فرمایي: «أَقْرَبُ مَا يَكُوْنُ العَبْدُ مِنْ

رَبِّهِ وَهُوَ سَاجِدٌ؛ فَأَكْثِرُوا الدُّعَاء» «بنده د سجدې په حالت کې خپل رب ته ډېر نږدې وي؛ نو ډېرې دعاګانې وکړئ». [مسلم روايت کړی].

نو په سجده کې: د تعظيم لوی دليل دی، او د بندګۍ تر ټولو لوړه درجه ده، او د عاجزۍ تر ټولو غوره ځرګندونه ده، د مينې تر ټولو ښکلي پيغامونه دي، د اطاعت تر ټولو خوږې صحنې دي، او د افتقار او بې وزلۍ تر ټولو غوره جامه ده.

هرڅومره چې الله –جل وعلا- ته ډېرې سجدې وکړې هغومره به د الله تعالى په نيز لوړوالى ولرې، او له هغه شخه –صلى الله عليه وسلم- روايت دی چې وې فرمايل: «عَلَيْكَ بِكَثْرَةِ السُّجُودِ لِلهِ، فَإِنَّكَ لَا تَسْجُدُ لِلَّهِ سَجْدَةً إِلَّا رَفَعَكَ اللهُ بِهَا دَرَجَةً، وَحَطَّ عَنْكَ بِهَا خَطِيئَةً» "الله ته ډېرې سجدې وکړه، ځکه چې ته الله ته سجده نه کوې مګر دا چې الله ستا يوه درجه لوړوي، او يوه تېروتنه دې پاکوي". [مسلم روايت کړی]. نو دلته ته ابدي نعمتونه ترلاسه کوې:

﴿أُوْلَٰٓئِكَ ٱلۡمُقَرَّبُونَ ١١﴾ [الواقعة: 11]

[هم دوی نژدې کړی شوي دي (الله ته)]. [الواقعة سورت: ايت 11]،

﴿عَيۡنٗا يَشۡرَبُ بِهَا ٱلۡمُقَرَّبُونَ٢٨﴾ [المطففين: 28]

(يوه چينه ده چې له دې نه به (د الله) مقربين څښي). [المطففين سورت: ايت 28].

داسې رب دې تا ته مبارک وي و ستا رجوع کول دې تا ته مبارک وي!

حتا که اسمان لرې ښکاري ... هغه ذات چې د اسمان څخه پورته دی نږدې دی

نو خپل لاسونه په دعا کې الله ته پورته کړه ... ځکه چې زخمونه په دعا سره شفا مومي

د اسمان لرې والی مور ته څه ضرر رسوي ... که ته اې د اسمان ربه نږدې اوسې

اې الله تا ويلي دي او ستا وينا رښتيا ده:

﴿وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌۖ أُجِيبُ دَعۡوَةَ ٱلدَّاعِ إِذَا دَعَانِۖ فَلۡيَسۡتَجِيبُواْ لِي وَلۡيُؤۡمِنُواْ بِي لَعَلَّهُمۡ يَرۡشُدُونَ ١٨٦﴾ [البقرة: 186]

(او كله چې زما په باره کې له تا نه زما بنده ګان تپوس وكړي، نو يقيناً زه قريب يم، د دعا کوونکي دعا قبلوم کله چې له ما نه دعا غواړي، پس دوی دې زما حکم ومني، او پر ما دې ایمان راوړي، د دې لپاره چې دوی سمه لار ومومي). [البقرة سورت: ایت 186].

اې تر ټولو نږدې او اجابت کوونکی الله!! زمونږ دعاګانې قبولې کړه، زمونږ پر کمزورتيا رحم وکړه، زمونږ تكليف لرې کړه، زمونږ په ټولو چارو کې نېکه خاتمه راکړه، او مونږ د دنيا له ذلت او د آخرت له عذاب څخه وژغوره، او زمونږ مور او پلار او ټولو مسلمانانو ته بخښنه وکړه؛ اې د دعا اورېدونکيه!

58

## المُجِيبُ )دعا قبلونکی (ذات -جل جلاله-

مورږ د شبنم په څير يوه خبره واوريدله ... نو هغې په نفس کې بدلونونه او نوښتونه راوستل

نو هغې زمورږ اميدونه تازه كړل ... او زمورږ د دردونو لپاره د آرامتيا ځای وګرځيده

عطا وويل: «طاووس – رحمه الله- ماته راغی او راته يې وويل: اې عطا ! هغه چا ته خپل شكايت مه وړاندې کوه چې خپله دروازه يې ستا پر مخ تړلې وي، له هغه چا څخه خپل حاجتونه وغواړه چې دروازه يې د قيامت تر ورځې پورې درته خلاصه وي، ستا څخه غواړي چې له هغه څخه وغواړې او د قبليدو ژمنه يې هم درسره كړيده».

﴿...وَٱسۡتَعۡمَرَكُمۡ فِيهَا فَٱسۡتَغۡفِرُوهُ ثُمَّ تُوبُوٓاْ إِلَيۡهِۚ إِنَّ رَبِّي قَرِيبٞ مُّجِيبٞ ٦١﴾ [هود: 61]

(نو تاسو لده نه مغفرت وغواړئ، بيا تاسو ده ته رجوع وكړئ، بېشكه زما رب ډېر نژدې دی، د دعا قبلوونكى دی). [هود سورت: ایت 61].

زمورږ رب –سبحانه و تعالى- ځواب وركوونكى دی، هغه ذات چې خپل سوالګر ته هغه څه ورکوي چې هغه يې غواړي، پريشان او انديښمنو سره مرسته کوي، ويريدونكو ته خونديتوب او امان ورکوي، آن تر دې چې هغه چا سره مرسته کوي چې هغوی کافران دي، او هغه يې په ورځ کی د يو ساعت لپاره هم ندی پيژندلی ! هغه

د دوي غوښتنې ته ځواب ورکوي، او په خپل سخاوت سره د دوی سختۍ لمنځه وړي، چې شاید هغوی ایمان راوړي. خو ډېری خلک کوښښ کوي چې احسان هېر کړي، له ښه وو او نېکیو څخه انکار وکړي، الله –عزوجل- فرمايي:

﴿فَإِذَا رَكِبُواْ فِي ٱلۡفُلۡكِ دَعَوُاْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ فَلَمَّا نَجَّىٰهُمۡ إِلَى ٱلۡبَرِّ إِذَا هُمۡ يُشۡرِكُونَ ۝٦٥﴾ [العنکبوت: 65]

(فَإِذَا رَكِبُوا فِي الْفُلْكِ دَعَوُا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ فَلَمَّا نَجَّاهُمْ إِلَى الْبَرِّ إِذَا هُمْ يُشْرِكُونَ) (نو کله چې دوی په کښتۍ کې سواره شي (، نو) دوی الله بولي، په داسې حال کې چې خاص هغه لره دین خالص کوونکي وي، نوکله چې هغه (الله) دوی ته وچې ته نجات ورکړي (نو) ناڅاپه دوی (له الله سره شریکان نیسي). [العنکبوت سورت: ایت 65].

ددروازې په درشل ..

او د خلکو پر مخ که دروازې وتړلی شي، او ځمکه پرې راتنګه شي، او د دوی لپاره غمونه سخت شي، او واقعې لویې شي، او په مخلوقاتو کې ددوی لپاره هیڅ پناه ځای او پټنځای و نه موندل شي؛ هغوی په خپل فطرت سره الله –سبحانه و تعالی- ته رجوع کوي، او د هغه خوا ته پناه وړي، او د هغه په درشل باندې پرېوځي:

﴿...ثُمَّ إِذَا مَسَّكُمُ ٱلضُّرُّ فَإِلَيۡهِ تَجۡـَٔرُونَ ۝٥٣﴾ [النحل: 53]

(بیا چې کله تاسو ته ضرر دروسېږي، نو (بیا هم) خاص هغه ته زارۍ کوئ). [النحل سورت: ایت 53].

او د الله کرم، مهرباني او احسان څخه دا چې: هغه خوښوي چې له هغه څخه په سختیو او اسانیو وختونو کې غوښتنه وشي، او څوک چې الله د اسانیو په وخت کې وپېژني هغه یې د سختیو په وخت کې پېژني، له هغه –صلی الله علیه وسلم- څخه په صحیح توګه روایت شوي چې فرمایي: «مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَسْتَجِيبَ اللهُ لَهُ عِنْدَ الشَّدَائِدِ وَالكَرْبِ؛ فَلْيُكْثِرِ الدُّعَاءَ فِي الرَّخَاءِ» «څوک چې دا خوښوي چې الله یې د مصیبت او د سختیو په وخت کې غوښتنه قبوله کړي؛ نو هغه باید د اسانتیا په وخت کې ډېره دعا وکړي». [حسن حدیث دی. ترمذي روایت کړی]. له امام احمد بن حنبل -رحمه الله- څخه پوښتنه وشوه: زمونږ

او د رحمن عرش تر منځ څومره فاصله ده؟ هغه وويل: «د رېښتيني زړه څخه د زړه له کومې دعا کول».

پند ..

او مومن بنده د دعا د قبليدو د خنډونو څخه د دعا پر مهال ويرېږي، د هغو له جملې څخه:

1- په اخلاص سره د الله خوا ته نه تلل.

2- په مسئله کې قاطعيت او په دعا کې اصرار نه کول.

3- رسول الله -صلى الله عليه وسلم – باندې درود نه ويل.

4- د دعا په قبليدو باندې تلوار کول.

5- د حرام خوړل، د حرام څښل او يا د حرامو اغوستل.

6- په ښو باندې د امر کولو او له بديو څخه د منع کولو پريښودل.

په نبوي سنت کې داسې وختونه او حالتونه ذکر شوي دي چې پدې کې تمه کيږي چې دعاګانې به قبولې شي، له هغې له جملې څخه:

1) د اذان او اقامت تر منځ دعا.

2) د شپې په اخري شيبو کې.

3) د سجدې په حالت کې.

4) د جمعې د ورځې يو ساعت.

5) د سفر په وخت کې.

6) د مظلوم دعا.

7) زوی ته د پلار ښيرا.

او پدې کې موضوع پراخه ده، مګر کله چې ته خپل لاسونه پورته کوې په یاد ولره چې دا ستا د رب لخوا تا باندې فضل دی، هغه غواړي چې تا ته درکړي. نو ښه ګومان او د مسئلې اراده وکړه؛ الله –جل و علا- وفرمایل:

﴿وَقَالَ رَبُّكُمُ ٱدۡعُونِيٓ أَسۡتَجِبۡ لَكُمۡۚ...﴾ [غافر: 60]

(تاسو ما وبلئ چې زه ستاسو دعا قبوله کړم). [غافر سورت: ایت 60]

. علي بن ابي طالب -رضي الله عنه- وفرمایل: "په دعا سره د مصیبتونو فوجونه له منځه ویسئ". انس بن مالک -رضي الله عنه- فرمایلي: "د دعا څخه مه عاجزه کیږه؛ ځکه چې له دعا سره هیڅوک له منځه نه ځي". ابن حجر -رحمه الله- فرمایلي: "دعا کوونکي ته څواب ورکول کیږي، مګر د ځوابونو په توپیر سره؛ ځینې وختونه په هغه شکل راځي چې دعا کوونکي غوښتی وي، او ځینې وختونه د هغه بدله ورکول کیږي".

زه تا ته پناه دروړم او ستا پرته بل څوک پناه ورکوونکی نشي ... نو دې ضعیف بنده ته چې ستا د حمایت غوښتونکی دی پناه ورکړه ... زه ضعیف یم، ستا په ځواک باندې مرسته غواړم ... زما ګناهونه او نافرمانۍ ستا په ځېنو قوتونو سره ... اې زما ربه ما ګناه کړې ده او زما ګناهونو ډېر په تکلیف کړی یم ... نشته د هغو بخښونکې پرته له تا څخه

اې الله زه دعا کوم چې زما تیروتنې و بخښې ... او په خپل هدایت سره زما مرسته او مدد وکړې ... نو زما دعا قبوله کړه او زما زاریو ته ځواب راکړه ... هغه کس به یوه ورځ هم نا امیده نشي چې له تا څخه یې څه غوښتلي وي او هیله یې کړې وي

ابن القیم -رحمه الله- فرمایي: "د بنده لپاره دا بده خبره ده چې بندګانو ته سوال وکړي؛ حال دا چې د هغه مولا لره ټول هغه څیزونه شته چې هغه یې غواړي!".

اې ځواب ورکوونکی الله! زموږ دعا قبوله کړه، زموږ په ضعف رحم وکړه، او مونږ او زمونږ مور او پلار له اور څخه وژغوره.

59

## المَجِيدُ )د لوی شان خاوند (ذات -جل جلاله-

ستا رب ستاینه خوښوي..

په صحیح حدیث کې هغه -صلی الله علیه وسلم- فرمایلي: «وَلاَ أَحَدَ أَحَبُّ إِلَيْهِ المِدْحَةُ مِنَ اللهِ، وَمِنْ أَجْلِ ذَلِكَ: وَعَدَ اللهُ الجَنَّةَ»[رواه مسلم]، وفي رواية: «وَلاَ أَحَدَ أَحَبُّ إِلَيْهِ المِدْحَةُ مِنَ اللهِ؛ فَلِذَلِكَ مَدَحَ نَفْسَهُ» «له الله څخه بل هیڅوک ډیره ستاینه نه خوښوي، او د دې لپاره: الله د جنت وعده کړې ده» [مسلم روایت کړی]، او په بل روایت کې دي: «او د الله په څیر بل هیڅوک نشته چې ستاینه خوښه کړي؛ له همدې امله هغه د خپل ځان ستاینه وکړه». [بخاري روایت کړی].

او د بخاري په الادب المفرد کې راغلي: چې اسود بن سریع وایي: زه شاعر وم، نو رسول الله -صلی الله علیه وسلم- ته راغلم؛ ما وویل: ایا زه تاسو ته هغه ستاینې ونه وایم چې ما هغې باندې د خپل رب ستاینه کړیده؟

هغه وفرمایل: «إِنَّ رَبَّكَ يُحِبُّ المَحَامِدَ» «ستا رب ستاینه خوښوي» او پر دې یې څه زیات نکړل. [حسن حدیث دی].

ډالۍ کوونکي په ستاینې سره تا ته نشي رسیدلی ... حتا که دوی مبالغه هم وکړي، ځکه هغه څه چې په تاسو کې دي ډیر لوی دي

زموږ ستاینه الله ته ګټه نه رسوي، او زموږ نیمګړتیاوې الله باندې اثر نکوي؛ نو الله – تبارک و تعالی- په خپل ذات کې بډای دی، هغه په خپلو صفتونو باندې ستایل شوی دی نه د خلکو په ستاینې او تمجید سره، او نه د هغوی په منې سره د هغه پر نعمتونو باندې.

مګر د الله – سبحانه و تعالی- له مهربانۍ څخه پر موږ باندې: دا چې زمونږ د ژوند جوړیدا د هغه د شکر او ستاینې په کولو سره ترسره کیږي؛ ترڅو نفس خپل رب ته پاک، مستقیم او ډاډه شي.

دا لیکنه چې زه يې تاسو ته وړاندې کوم او دا کتاب د الله –جل جلاله- له تمجید څخه دی چې موږ باندې يې پیرزو کړی دی؛ زه له هغه څخه غواړم چې زموږ له ټولو څخه يې قبوله کړي، او له ځان سره يې د ملاقات د ورځې لپاره مونږ ته ذخیره کړي.

ټوله ستاینه، نعمتونه او ملک تا لره دي اې زموږ ربه ... له تا څخه بل هیڅ څیز لوی او لوړ مقام والا نه دی

هغه – تبارک و تعالی – فرمایلي دي:

﴿... إِنَّهُۥ حَمِيدٌ مَّجِيدٌ ۝٧٣﴾ [هود: 73]

(بېشکه هغه (الله) ډېر ستایل شوی، د ډېرې لویي والا دی). [هود سورت: ایت 73].

او المجید: له مجد څخه اخیستل شوی دی، او هغه: پوره او بشپړ عزت، پراخوالي او کثرت ته ویل کیږي.

زموږ رب- عزوجل – ډېر سخاوت والا دی، د جلال خاوند دی، او هغه کوم عظمت او جلال دی چې له هغه –تبارک و تعالی- څخه به لوړ او بشپړ وي؟!

هغه په دې صفاتو سره توصیف شوی دی لکه: عزت، لويي، عظمت او جلال، او هغه د هر څیز څخه لوی دی، او له ټولو شیانو څخه لوړ مقام والا او برلاسی دی.

او زموږ د رب –تبارک و تعالی- هر صفت ډېر لوړ مقام والا دی؛ هغه په خپل علم کې په بشپړ دول سره پوه دی، خورا مهربان دی چې د هغه رحمت په هر څه کې شامل دی، په هر څه قادر دی، هیڅ شی هغه نشي عاجزولی، په خپل زغم کې بشپړ حلیم دی، په خپل حکمت کې خورا حکیم دی.

د هغه ټول نومونه او صفتونه د کمال والا دي؛ مونږ نشو کولی د هغه ستاینې وشمیرو، هغه داسې ذات دی چې پخپله يې د خپل ځان ستاینه کړېده.

### تا لره ستاینه ده..

الله –سبحانه و تعالی– د خپل ځان تمجید او ستاینه کړې ده، ځکه هغه د کمال، عظمت او جلال والا دی، په قدسي حدیث کې راغلي دي: «أَنَا الجَبَّارُ، أَنَا المُتَكَبِّرُ، أَنَا المَلِكُ، أَنَا المُتَعَالِي؛ يُمَجِّدُ نَفْسَهُ» «زه ځواکمن یم، زه متکبر یم، زه پادشاه یم، زه لوړ یم؛ خپل

ځان وياړمن بيانوي». [صحيح حديث دی. احمد په مسند کې روايت کړی دی]. او زموږ رب د خپل عظمت او لوړ مقام په لړلو سره د ستاينې وړ دی:

﴿... إِنَّهُۥ حَمِيدٌ مَّجِيدٌ ۝٧٣﴾ [هود: 73]

(بېشکه هغه (الله) ډېر ستايل شوی، د ډېرې لويي والا دی). [هود سورت: ايت 73].

او هغه – تبارك و تعالی- په خپلو بندګانو باندې ډېر مهربان دی چې هغوی ته نعمتونه ورکوي، او دا چې خپلو اولياوو ته د ستاينې او د هغه –تبارك و تعالی- د خاص عبوديت لپاره توفيق ورکوي.

په قدسي حديث کې راغلي: «وَإِذَا قَالَ: (مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ) [الفاتحة: 4]، قال: مَجَّدَنِي عَبْدِي» «او کله چې هغه ووېل: (مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ) د بَدلې د ورځې مالك دی [[الفاتحة: 4] (الله تعالی) وفرمايل: زما بنده زما ستاينه يې وکړه». [مسلم روايت کړی] او له هغه – صلی الله عليه وسلم- څخه په صحيح حديث کې روايت شوی دی چې کله به يې سر له رکوع څخه پورته کاوه نو ويل به يې: «رَبَّنَا لَكَ الحَمْدُ، مِلْءَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ، وَمِلْءَ مَا شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ، أَهْلَ الثَّنَاءِ وَالمَجْدِ» "اې زموږ ربه ستا لپاره ستاينه ده، د اسمانونو او ځمکې د ډکوالي په اندازه، او د هر هغه څه د ډکوالي په اندازه چې ته يې له هغې وروسته غواړې، ته د ستاينې او جلال وړ يې". [مسلم روايت کړی]

له هغه سره اوسه!

د هغه –سبحانه و تعالی- له جلال څخه رسولانو او پيغمبرانو خپل جلال ترلاسه کړي؛ له همدې امله صحابه وو –رضي الله عنهم– له رسول الله –صلی الله عليه وسلم– څخه وپوښتل: موږ پوهيږو چې تا باندې څنګه سلام واچوو؛ مګر تاسو باندې څنګه درود ووايوو؟

هغه وفرمايل: « اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ، وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ؛ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ» "اې الله! پر محمد او د هغه پرکورنۍ رحمت ووروه، لکه پر ابراهيم او د هغه پر کورنۍ دې چې لورولي ، بېشکه ته ستايلی او لوی يې». [بخاري روايت کړی او مسلم هم په همدې ډول روايت کړی].

د کامیابۍ دره:

او قرآن: د الله -سبحانه وتعالی- کلام دی، او هغه:

﴿... قُرۡءَانٞ مَّجِيدٞ﴿٢١﴾﴾ [البروج: 21]

بلکې دغه د لوی قدر والا قرآن دی [البروج:21]،

عزتمند، کریم، لوی دی، په نیکۍ، فضل او سخاوت کې پراخ دی.

او الله –عزوجل- په خپل سپېڅلي قرآن کې د خپل ځان ستاینه کړې ده، نو تر ټولو لوی آیت یې: هغه آیت دی چې د هغه ستاینه او د هغه صفتونه په کې ذکر شوي دي؛ لکه د البقره سورت، الکرسي آیت، چې د الله –عزوجل- په کتاب کې تر ټولو لوی آیت دی، او سورت اخلاص چې تر ټولو غوره سورت دی، تر دې چې په صحیح حدیث کې رسول الله -صلی الله علیه وسلم- فرمایلي: «إِنَّهَا تَعْدِلُ ثُلُثَ الْقُرْآنِ» "دا د قرآن د دریمې برخې سره برابر دی". [مسلم روایت کړی].

یو له سترو شیانو څخه چې بنده پرې د خپل رب لویي او ستاینه بیانوي: د شپې او د ورځې په لړ کې د هغه د کتاب تلاوت کول دي، او د هغه په احکامو باندې ټینګار کول، هغه کې فکر کول او پرې عمل کول دي؛ د پوهې، عاجزۍ او فهم له لحاظه.

او څوک چې د قرآن والاو له ډلې څخه وي، هغه د الله له ډلې څخه دی، هغه ډله چې د الله هغه ځانګړې ډله ده، په صحیح حدیث کې هغه –صلی الله علیه وسلم- فرمایلي: «إِنَّ اللهَ يَرْفَعُ بِهَذَا الكِتَابِ أَقْوَامًا، وَيَضَعُ بِهِ آخَرِينَ» "په حقیقت کې الله ځینې خلک په دې کتاب سره لوړوي او ځینې ښکته کوي". [مسلم روایت کړی].

عمر بن خطاب له نافع بن حارث سره په عسفان کې وکتل، عمر هغه په مکه کې په دندې ګمارلی و، هغه ورته وویل: تا د وادي خلکو باندې څوک وګماره؟ هغه وویل: ابن ابزا، وې ویل: ابن ابزا څوک دی؟ وې ویل: زموږ له خادمانو څخه یو خادم دی، وې ویل: نو تا پر هغوی باندې خادم وټاکه؟! هغه وویل: هغه د الله د کتاب قاري دی، او د میراث په علم پوه دی.

عمر -رضي الله عنه- وویل: بېشکه زمونږ رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فرمايلي: «إِنَّ اللهَ يَرْفَعُ بِهَذَا الكِتَابِ أَقْوَامًا، وَيَضَعُ بِهِ آخَرِينَ» "په حقيقت کې الله ځينې خلک په دې کتاب سره لوړوي او ځينې ښکته کوي". [مسلم روايت کړی].

عزت د هغه چا لپاره دی چې هغه قبول کړي او عمل پرې وکړي، او ذلت د هغه چا لپاره دی چې له هغه څخه مخ اړوي.

د هغو ځيزونو له جملې څخه چې د رب – تبارک وتعالی- تمجيد وربانديې کيږي: د هغه ښه ستاينه کول دي په: الحمد لله، الله اکبر، سبحان الله او لا اله الا الله ويلو سره، او څوک چې په دې ستاينو باندې مداومت وکړي، د دنيا او آخرت خير به تر لاسه کړي.

بخاري په خپل صحيح کې له ابوهريره -رضي الله عنه- څخه روايت کړی دی چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فرمايلي: «إِنَّ لِلَّهِ مَلاَئِكَةً يَطُوْفُونَ فِي الطُّرُقِ يَلْتَمِسُوْنَ أَهْلَ الذِّكْرِ؛ فَإِذَا وَجَدُوْا قَوْمًا يَذْكُرُوْنَ اللهَ؛ تَنَادَوْا: هَلُمُّوْا إِلَى حَاجَتِكُمْ! فَيَحُفُّوْنَهُمْ بِأَجْنِحَتِهِمْ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا. "الله لره پرښتې دي چې په لارو ګرځي، د ذکر حلقې لټوي؛ نو کله چې دوی داسې خلک ومومي چې د الله ذکر کوي؛ نو غږ وکړي: راشئ خپلې اړتيا ته! نو دوی په خپلو وزرونو باندې د لاندني اسمان پورې ويوښي.

فَيَسْأَلُهُمْ رَبُّهُمْ -وَهُوَ أَعْلَمُ مِنْهُمْ-: مَا يَقُوْلُ عِبَادِي؟ قَالُوْا: يَقُوْلُوْنَ: يُسَبِّحُوْنَكَ وَيُكَبِّرُوْنَكَ وَيَحْمَدُوْنَكَ وَيُمَجِّدُوْنَكَ. بيا الله له دوی څخه پوښتنه وکړي –پداسې حال کې چې هغه ښه پوهيږي-: زما بندګان څه وايي؟ دوی وايي: هغوی ستا تسبيح، تکبير، تحميد، او تمجيد بيانوي.

فَيَقُوْلُ: هَلْ رَأَوْنِي؟ فَيَقُوْلُوْنَ: لاَ -وَاللهِ!- مَا رَأَوْكَ؟ هغه به وفرمايي: ايا زه يې ليدلی يم؟ دوی به ووايي: نه - په الله قسم – تاسو يې نه يئ ليدلي؟

فَيَقُوْلُ: وَكَيْفَ لَوْ رَأَوْنِي؟ يَقُوْلُوْنَ: لَوْ رَأَوْكَ كَانُوا أَشَدَّ لَكَ عِبَادَةً، وَأَشَدَّ لَكَ تَمَجِيدًا وَتَحْمِيدًا، وَأَكْثَرَ لَكَ تَسْبِيحًا. هغه به وفرمايي: که هغوی ما ووينې نو څنګه به وي؟ دوی به ووايي: که هغوی تاسو ووينې، نو ستا عبادت به ډېر وکړي، او ستا ډېر تمجيد، تحميد او تسبيح او ستاينه به ادا کړي.

يَقُوْلُ: فَمَا يَسْأَلُوْنِي؟ يَقُوْلُوْنَ: يَسْأَلُوْنَكَ الجَنَّةَ. هغه به وفرمايي: له ما څخه څه غواړي؟ هغوی به ووايي: له تا څخه د جنت غوښتنه کوي.

يَقُوْلُ: وَهَلْ رَأَوْهَا؟ يَقُوْلُوْنَ: لاَ -وَاللهِ!- يَا رَبِّ مَا رَأَوْهَا. هغه به وفرمايي: ايا هغوی جنت ليدلی دی؟ هغوی به ووايي: نه - په الله قسم! هغوی جنت ندی ليدلی.

يَقُولُ: فَكَيْفَ لَوْ أَنَّهُم رَأَوْهَا؟ يَقُوْلُوْنَ: لَوْ أَنَّهُمْ رَأَوْهَا؛ كَانُوا أَشَدَّ عَلَيْهَا حِرْصًا، وَأَشَدَّ لَهَا طَلَبًا، وَأَعْظَمَ فِيهَا رَغْبَةً. هغه به وفرمايي: كه هغوی ليدلی وای نو څنګه به و؟ هغوی به ووايي: كه هغوی ليدلی وای د هغوی حرص به نور هم ډېر وای؛ او د هغې خورا غوښتونكي به وای، او د هغې لپاره به يې خورا ليوالتيا درلوده.

قَالَ: فَمِمَّ يَتَعَوَّذُوْنَ؟ يَقُوْلُوْنَ: مِنَ النَّارِ. هغه به وفرمايي: له څه شي څخه پناه غواړي؟ هغوی به ووايي: له اوره.

يَقُولُ: وَهَلْ رَأَوْهَا؟ يَقُوْلُوْنَ: لاَ -وَاللهِ!- يَا رَبِّ! مَا رَأَوْهَا. هغه به وفرمايي: ايا هغوی اور ليدلی دی؟ هغوی به ووايي: نه - په الله قسم! هغوی اور ندی ليدلی.

يَقُولُ: فَكَيْفَ لَوْ رَأَوْهَا؟ يَقُوْلُوْنَ: لَوْ رَأَوْهَا كَانُوا أَشَدَّ مِنْهَا فِرَارًا، وَأَشَدَّ لَها مَخَافَةً. هغه به وفرمايي: كه هغوی ليدلی وی نو څنګه به و؟ هغوی به ووايي: كه يې ليدلی وی، نو له هغه نه به ډېر تښتېدونكي وای، او د هغه نه به ډېر وېريدونكی وی.

فَيَقُوْلُ: فَأُشْهِدُكُمْ أَنِّي قَدْ غَفَرْتُ لهُمْ! هغه به وفرمايي: نو زه تاسو ګواه نيسم چې ما هغوی ته بخښنه وكړه!

يَقُوْلُ مَلَكٌ مِنَ المَلَائِكَةِ: فِيهِمْ فُلَانٌ لَيْسَ مِنْهُمْ، إِنَّمَا جَاءَ لِحَاجَةٍ! يوه ملايكه به ووايي: په دوی كې فلانی هم شته چې له دوی څخه نه دی، خو د اړتيا لپاره راغلی دی!

قَالَ: هُمُ الجُلَسَاءُ لاَ يَشْقَى بِهِمْ جَلِيسُهُمْ». هغه به وفرمايي: دوی هغه ناست خلک دی چې هغوی سره ناست كس نه بد بخته كيږي».

نو كه د دوی سره ناست كس نه بدبخته كيږي؛ نو د هغوی مقام به څه وي؟!

عرش:

زموږ رب چې خپل عرش باندې برقراره دی چې په (المجيد) سره يې وصف كړی، او الله–عزوجل- د ځان لپاره هيڅ شی نه غوره كوي مګر دا چې ترټولو غوره، بشپړ او خورا بشپړ وي، له همدې كبله حق يې دی چې مجيد اوسي.

ای ربه تا لره ستاينه، نعمتونه او پادشاهي ده

له تا څخه بل هيڅ شی د مجد او عظمت وړ نه دی

هغه د اسمان د عرش مالک او تسلط لرونكی دی

د هغه د جلال لپاره مخونه عاجزې او سجدې كوي

پاکي ده هغه ذات لره چې مخلوق د هغه قدر نه پېژني

او هغه ځوک چې د عرش څخه پورته دی یو او واحد دی

اې الله! ستا په مجید نامه سره مونږ سوال کوو: چې مونږ، زمونږ مور او پلار او ټولو مسلمانانو ته بخښنه وکړې.

60

## الحَمِيدُ )د حمد او تعریف لایق (ذات -جل جلاله-

په صحیح البخاري کې راغلي: چې رسول الله -صلى الله علیه وسلم- خپلو اصحابو ته لمونځ ورکړ، کله یې چه خپل سر له رکوع څخه پورته کړ؛ او ویې ویل: "سمع الله لمن حمده"، الله واوریدل چا چې د هغه ستاینه وکړه ! «د هغه شاته یو سړي وویل: ربنا و لک الحمد؛ حمدًا کثیرًا طیبًا مبارکًا فیه، یعني زمونږ ربه ستا ستاینه ده؛ په ډېر ښه او برکتي ستاینې سره، او کله چې لمونځ پای ته ورسید، ویې فرمایل: خبرې کوونکی ځوک و؟ هغه وویل: زه وم، هغه وفرمایل: ما څه د پاسه دیرش ملائکې ولیدلې چې کوښښ یې کاوه څوک یې اول ولیکي!» څنګه به پر هغه باندې کوشش نکوي په داسې حال کې چې الله ستاینه خوښوي؟!

ستا ستاینه ده، هغه ستاینه چې مونږ د هغه په ذکر سره خوند اخلو

او که څه هم زه د هغه ستاینې او شکرانې نشم شمیرلی

الله – سبحانه و تعالی- د خپل عالي ذات په ستاینه کې داسې فرمایلي دي:

﴿... وَهُوَ ٱلۡوَلِيُّ ٱلۡحَمِيدُ ۝٢٨﴾ [الشورى: 28]

(او هم دی ښه کارساز، ښه ستایل شوی دی). [الشورى سورت: ایت 28].

زمونږ رب –سبحانه و تعالی- چې په خپل ذات، نومونو، صفتونو او عملونو کې ستایل شوی دی؛ هغه په نومونو کې غوره نوم، او په صفتونو کې بشپړ صفتونه، او په فعلونو کې غوره او بشپړ فعلونه لري.

او زموږ رب –سبحانه و تعالی– په خپله شرع کې ستایل شوی؛ ځکه دا د ټولو مخلوقاتو لپاره بشپړ او خورا ګټور شریعت دی.

او زموږ رب –سبحانه و تعالی- چې په خپل وحدانیت سره ستایل شوی دی، او هغه د شریک، مثل، او ملګري د ذلت له وجې څخه پورته دی، هغه –تبارک و تعالی- فرمایلي:

﴿وَقُلِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي لَمۡ يَتَّخِذۡ وَلَدٗا وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ شَرِيكٞ فِي ٱلۡمُلۡكِ وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ وَلِيّٞ مِّنَ ٱلذُّلِّۖ وَكَبِّرۡهُ تَكۡبِيرَۢا١١١﴾ [الإسراء: 111]

(او ته ووایه: ټوله ثنا هغه الله لره خاص ده چې نه يې څوك اولاد نیولی دی او نه د هغه لپاره په بادشاهۍ کې څوك شریك شته او نه د هغه لپاره د عاجزۍ په وجه څوك دوست شته او ته د هغه لويي بیانوه، لويي كامله). [الإسراء سورت: ایت 111].

او زمونږ رب –سبحانه و تعالی- چې په هره ژبه او په هر حالت کې د هغه ستاینه کیږي، ټول مخلوقات د هغه ستاینه کوي؛ جمادات او خبرې کوونکي په هر وخت کې د هغه په نعمتونو، فضلونو، او د هغه –سبحانه و تعالی- د کمال او عظمت ستاینه کوي:

﴿تُسَبِّحُ لَهُ ٱلسَّمَٰوَٰتُ ٱلسَّبۡعُ وَٱلۡأَرۡضُ وَمَن فِيهِنَّۚ وَإِن مِّن شَيۡءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمۡدِهِۦ وَلَٰكِن لَّا تَفۡقَهُونَ تَسۡبِيحَهُمۡۚ إِنَّهُۥ كَانَ حَلِيمًا غَفُورٗا٤٤﴾ [الإسراء: 44]

(خاص د هغه لپاره تسبیح وايي اووه اسمانونه او ځمكه او هغه څوك چې په دغو كې دي، او نشته هېڅ يو شی مګر د هغه له ستاینې سره تسبیح وايي او لیكن تاسو د هغو پر تسبیح نه پوهېږئ، بېشكه هغه له ازله ډېر تحمل والا، ډېر بخښونكی دی). [الإسراء سورت: ایت 44].

نو زموږ رب –سبحانه و تعالی- ؛ په ټولو صیغو او شکلونو سره د ستاینې وړ دی، حتا که دوی د هغه ستاینه هم ونکړي، هغه د ستاینې څښتن دی؛ د هغه د فضل، کرم، ورکړې او رحمت په خاطر.

او له هغه پرته په ټولو شرایطو کې د هیڅ چا ستاینه نکیږي.

خپل رب ته عاجزي وکړه!

او هغه –سبحانه و تعالی- پرته له نورو څخه ستاينه يې د خپل ځان لپاره غوره کړه، او نور کسان يې د خپل ځان د ستاينو څخه منع کړل؛ هغه وفرمايل:

﴿... فَلَا تُزَكُّوٓاْ أَنفُسَكُمۡۖ ....﴾ [النجم: 32]

(نو تاسو د خپلو ځانونو تزکيه (پاکوالی) مه کوئ). [النجم سورت: ايت 32].

زموږ رب –سبحانه و تعالی- د خپل ځان ستاينه کوي چې موږ يې وپېژنو، او د دې لپاره چې مونږ د هغه په ستاينو سره هغه ته ورسيږو، هغه ته وګرځو، د هغه د بخښنې په تمه شو، او د هغه د ورکړې اميد ولرو، او همدا راز مونږ د هغه څخه د جنت هيله لرو.

نو دا څومره لويه مهرباني ده؟! هغه ستا سره د نيکو کارونو په کولو کې مرسته کوي او پر هغه باندې ستا ستاينه کوي؟!

﴿... وَنُودُوٓاْ أَن تِلۡكُمُ ٱلۡجَنَّةُ أُورِثۡتُمُوهَا بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ۝٤٣﴾ [الأعراف: 43]

(او دوی ته به اواز وکړی شي چې دا جنت دی چې تاسو د ده وارثان ګرځول شوي يئ، په سبب د هغو عملونو چې تاسو به کول). [الأعراف سورت: ايت 43]،

که ستا رب وغواړي چې پر تا خپل فضل وکړي؛ فضل به پيدا کړي او تاته به يې منسوب کړي، تا ته به مال درکړي، او ته به لدې مال څخه انفاق وکړې، بيا به له دې وروسته.. الله –جل وعلا- ستا د انفاق کوولو لپاره ستا ستاينه وکړي؛ که څه هم مال د الله لخوا تا ته درکړل شوی دی! او زموږ د رب – سبحانه و تعالی- له مهربانيو څخه پر موږ باندې: دا چې خپله ستاينه يې تقسيم کړې ده؛ تر څو بنده پوه شي چې څنګه د الله ستاينه او ثنا ووايي؛ هغه –سبحانه و تعالی- وفرمايل:

﴿ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ۝٢﴾ [الفاتحة: 2]

(ټول (د کمال) صفتونه خاص د الله لپاره دي چې د ټولو عالَمونو ښه پالونکی دی)، [الفاتحة سورت : ايت 2]،

او فرمايي:

﴿ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَجَعَلَ ٱلظُّلُمَٰتِ وَٱلنُّورَۖ ....﴾ [الأنعام: 1]

(ټول د کمال صفتونه خاص هغه الله لره دي چې اسمانونه او ځمکه يې پيدا کړي دي، او پيدا کړې يې دي تيارې او رڼا). [الأنعام سورت: ايت 1].

ټوله ستاينه تا لره ده..

د مؤمنانو تر ټولو لويه ځانګړنه دا ده چې هر وخت د الله –سبحانه و تعالی- ستاينه کوي؛ په اسانيو او سختيو کې؛ ځکه هغوی پوهيږي چې د الله –جل و علا- په ټولو کارونو کې دوی لپاره حکمت او خير دی.

په صحيح حديث کې هغه -عليه الصلاة والسلام- فرمايلي: «إِذَا مَاتَ وَلَدُ العَبْدِ قَالَ اللهُ لِمَلائِكَتِهِ: قَبَضْتُمْ وَلَدَ عَبْدِي؟ فَيَقُوْلُوْنَ: نَعَمْ. «کله چې د بنده ماشوم مړ شي، الله خپلو پرښتو ته وايي: تاسو زما د بنده د ماشوم روح قبض کړ؟ هغوی وايي: هو.

فَيَقُولُ: قَبَضْتُمْ ثَمَرَةَ فُؤَادِهِ؟ فَيَقُوْلُوْنَ: نَعَمْ. هغه به وفرمايي: تاسو د هغه د زړه ميوه ترې واخيستله؟ هغوی وايي: هو.

فَيَقُولُ: مَاذَا قَالَ عَبْدِي؟ فَيَقُوْلُوْنَ: حَمِدَكَ وَاسْتَرْجَعَ. هغه به وفرمايي: نو زما بنده څه وويل؟ نو هغوی وويل: ستا ستاينه يې وکړه او انا لله و انا اليه راجعون يې وويل.

فَيَقُولُ اللهُ: ابْنُوا لِعَبْدِي بَيْتًا فِي الجَنَّةِ وَسَمُّوهُ: بَيْتَ الحَمْدِ» نو الله به وفرمايي: زما د بنده لپاره په جنت کې يو کور جوړ کړئ او نوم يې بيت الحمد کيږدئ». [ترمذي روايت کړی]. نو؛ د غوره ذکرونو څخه: د بنده دغه وينا ده: (الحمد لله) هغه –سبحانه و تعالی- فرمايلي:

﴿... وَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ قَبۡلَ طُلُوعِ ٱلشَّمۡسِ وَقَبۡلَ ٱلۡغُرُوبِ ٣٩﴾ [ق: 39]

(او د خپل رب له ستاينې سره تسبيح وايه له لمر ختلو نه مخکې او له لمر ډوبېدلو نه مخکې). [ق سورت: ايت 39].

په صحيح حديث کې هغه -عليه الصلاة والسلام- فرمايلي: «مَنْ قَالَ: سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ فِي يَوْمٍ مِائَةَ مَرَّةٍ؛ حُطَّتْ خَطَايَاهُ، وَإِنْ كَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ البَحْرِ» "څوک چې : ورځ کې سل ځلې سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ، ووايي، يعني خاص الله لره پاکي او ستاينه

ده، د هغه ګناهونه به توی شي، حتا که د سمندر د ځګ په څیر هم وي". [بخاري او مسلم روایت کړی].

او کله چې له رسول الله -صلی الله علیه وسلم- څخه پوښتنه وشوه: کومه وینا غوره ده؟

قال: «مَا اصْطَفَى اللهُ لِمَلَائِكَتِهِ أَوْ لِعِبَادِهِ: سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ» هغه وفرمایل: «هغه چې الله د خپلو ملایکو او یا د خپلو بندګانو لپاره غوره کړې ده: سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ، یعنې خاص الله لره پاکي او ستاینه ده». [مسلم روایت کړی]. ستاینه په ژبه، زړه او غړو سره ترسره کیږي. طبراني په المعجم الکبیر کې روایت کړی چې رسول الله -صلی الله علیه وسلم- وفرمایل: «إِنَّ أَفْضَلَ عِبَادِ اللهِ يَوْمَ القِيَامَةِ: الحَمَّادُوْنَ» «د قیامت په ورځ به د الله په بندګانو کې تر ټولو غوره بندګان هغه وي چې ډیرې ستاینې یې کړی وي». [صحیح دی].

تا لره ستاینه ده، ښه ستاینه چې اسمان ډکوي

او د هغې شاوخوا، ځمکه، دښته، او سمندر

تا لره تلپاتې او مبارکې ستاینې دي

د سمندر رنګ به د هغه د لیکلو لپاره لږ وي

ستا ستاینه ده، اې د کبریا څښتنه، او هغه څوک

چې ستا په ستاینې سره شکر کوي په یقین سره هغه شکر ترلاسه کړی دی

اې الله! ستا ستاینه ده لکه څنګه چې ستاسو با د عزتمند مخ او د ځواک عظمت دی.

62 - 61

## الشَّـاكِرُ الشَّكُورُ )ډېر قدردان (-جل جلاله-

بخاري په خپل صحيح کې روايتوي چې رسول الله -صلی الله عليه وسلم- فرمايلي: «أَنَّ رَجُلًا رَأَى كَلْبًا يَأْكُلُ الثَّرَى مِنَ العَطَشِ؛ فَأَخَذَ الرَّجُلُ خُفَّهُ، فَجَعَلَ يَغْرِفُ لَهُ بِهِ حَتَّى أَرْوَاهُ؛ فَشَكَرَ اللهُ لَهُ، فَأَدْخَلَهُ الجَنَّةَ». «يو سړي وليدل چې يو سپی له تندې څخه خاورې خوري؛ نو هغه سړي خپله موزه واخيسته او په هغې کې يې اوبه ورکولې تر څو يې تنده ماته شوه؛ نو الله د هغه څخه مننه وکړه، او هغه يې جنت ته داخل کړ». هغه –سبحانه و تعالی- د خپل ذات په ستاينه کې فرمايي:

﴿... وَكَانَ ٱللَّهُ شَاكِرًا عَلِيمًا ١٤٧﴾ [النساء: 147]

(او الله له همېشه شکر قبلوونکي، ښه پوه دی). [النساء سورت: ايت 147]،

او الله -سبحانه وتعالی- فرمايي:-

﴿... وَٱللَّهُ شَكُورٌ حَلِيمٌ ١٧﴾ [التغابن: 17]

(او الله ښه قدردان، ښه تحمل والا دی). [التغابن سورت: ايت 17].

زموږ رب – سبحانه و تعالی - په لږ اطاعت سره مننه کوي؛ او هغه باندې ډېر اجر ورکوي، بلکې څو چنده ثواب ورکوي؛ له شميرلو او حساب څخه ډېر اجر ورکوي

﴿مَن جَآءَ بِٱلۡحَسَنَةِ فَلَهُۥ عَشۡرُ أَمۡثَالِهَاۖ وَمَن جَآءَ بِٱلسَّيِّئَةِ فَلَا يُجۡزَىٰٓ إِلَّا مِثۡلَهَا وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ ١٦٠﴾ [الأنعام: 160]

(څوک چې يوه نېکي راوړي، نو د هغه لپاره د هغې لس چنده دي او څوک چې يوه بدي راوړي، نو هغه ته به يوازې د هغې په مثل سزا ورکولی شي او پر دوی به ظلم نه کېږي). [الأنعام سورت: ايت 160]

. او زمونږ رب –سبحانه و تعالی- د بندګانو په شکر کولو سره له هغوی څخه مننه کوي؛ او هغوی د خپل له ډېر خير او فضل څخه برخمن کوي، حال دا چې هغه ذات دا ټول هغوی ته ورکړي دي،

﴿وَمَا بِكُم مِّن نِّعۡمَةٖ فَمِنَ ٱللَّهِۖ ...﴾ [النحل: 53]

(او پر تاسو چې هر نعمت شوی دی، نو د الله له طرفه دی). [النحل سورت: ایت 53]

. او زموږ رب –سبحانه و تعالی- د خپل بنده ځخه داسې مننه کوي چې د خپلو د ملائکو په منځ کې او په پورته اسمان کې د هغه ستاینه کوي، او د خپلو بندګانو په منځ کې د هغه شکر برقراروي، او د هغوی د کړنو په خاطر له هغوی ځخه مننه کوي،

﴿ذُرِّيَّةَ مَنْ حَمَلْنَا مَعَ نُوحٍۚ إِنَّهُۥ كَانَ عَبْدًا شَكُورًا ۝٣﴾ [الإسراء: 3]

(اې د هغه چا اولاده چې موږ له نوح سره سواره کړي وو، بېشکه هغه ډېر شکر ایستونکی بنده و). [الإسراء سورت: ایت 3].

او زموږ رب –سبحانه و تعالی- ډېرې خطاګانې بخښي، او لږ مقدار نیک عملونه هم قبلوي او هغه باندې اجر ورکوي؛

﴿.... إِنَّ رَبَّنَا لَغَفُورٌ شَكُورٌ ۝٣٤﴾ [فاطر: 34]

(بېشکه زمونږ رب خامخا ډېر بخښونکی، بې حده قدردان دی). [فاطر سورت: ایت 34].

زموږ رب –سبحانه و تعالی- ډېر د نعمت ورکوونکی دی، او هغه په لږې ستاینې او شکر کولو سره راضي کیږي.

په صحیح مسلم کې له رسول الله -صلی الله علیه وسلم- ځخه روایت دی چې هغه فرمایلي: «إِنَّ اللهَ لَيَرْضَى عَنِ العَبْدِ أَنْ يَأْكُلَ الأَكْلَةَ فَيَحْمَدَهُ عَلَيْهَا، أَوْ يَشْرَبَ الشَّرْبَةَ فَيَحْمَدَهُ عَلَيْهَا». "بیشکه الله د بنده ځخه راضي کیږي که چیرې بنده خواړه وخوري بیا د الله ستاینه وکړي، او یا څه وڅښي بیا د الله ستاینه وکړي". د ابو داود په سنن کې راغلي دي: چې رسول الله -صلی الله علیه وسلم- وفرمایل: «مَنْ قَالَ حِينَ يُصْبِحُ: اللَّهُمَّ! مَا أَصْبَحَ بِي مِنْ نِعْمَةٍ فَمِنْكَ وَحْدَكَ، لَا شَرِيكَ لَكَ، فَلَكَ الحَمْدُ، وَلَكَ الشُّكْرُ؛ فَقَدْ أَدَّى شُكْرَ يَوْمِهِ، وَمَنْ قَالَ مِثْلَ ذَلِكَ حِينَ يُمْسِي؛ فَقَدْ أَدَّى شُكْرَ لَيْلَتِهِ» «کله چې چا باندې سهار راشي او ووايي: اې الله! کوم نعمتونه چې ماته راکړ شوي دي هغه یوازې ستا له طرفه دي، ته هيڅ شريک نلرې، تا لره ستاينه او شکر دی؛ نو دغه کس د خپلې ورځې شکر ادا کړ، او څوک چې ماښام کې داسې ووايي؛ هغه د خپلې شپې شکر ادا کړ». [حسن حديث دی].

ورئې کړل نو وې ستايه!

او د هغه –سبحانه و تعالى- د شکر له کمال څخه دا دى چې هغه بنده ته ورکړه ورکوي او هغه ته د هغه څه لپاره توفيق ورکوي چې پر هغه باندې د هغه شکر ادا کړي؛ نو هغه؛ هغه ذات دى چې ورکوي نو ستاينه کوي، له هغه څخه سبب او مسبب دواړه دي، الله –عزوجل- وفرمايل:

﴿إِنَّ هَـٰذَا كَانَ لَكُمْ جَزَآءً وَكَانَ سَعْيُكُم مَّشْكُورًا ۝٢٢﴾ [الإنسان: 22]

(بېشکه دا (نعمت) ستاسو لپاره بدله ده. او ستاسو سعي (کوشش) قبول کړى شوى دى). [الإنسان سورت: ايت 22]

. پاکې ده هغه ذات لره چې پر مونږ باندې يې د هلوځلو احسان وکړ، بيا يې مونږ ته توفيق راکړ، او بيا پرې مونږ بدله راکوي ! ايا دا د فضل او احسان انتها نده؟ نو خاص هغه لره ستاينه او شکر دى.

او هغه د شکر قبلوونکى دى، نو هغه به د دوى هلې ځلې ضايع نکړي ... بلکه هغه به څو چنده کړي بغير له شميرلو څخه

تر ټولو لويه بدله ..

کله چې د الله تعالى پيغمبر سليمان –عليه السلام- په غصې سره خپل آسونه ذبح کړل -ځکه چې آس يې هغه د الله له ذکر څخه مشغول کړى و، نو هغه وغوښتل چې بيا هغه سره مشغول نشي-؛ نو د هغې په بدل کې: باد ورکړ شو.

کله چې يوسف الصديق –عليه السلام- د زندان سختۍ وزغمله؛ الله ترې قبوله کړه داسې چې هغه ته يې واک ورکړ؛

﴿وَكَذَٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِى ٱلْأَرْضِ يَتَبَوَّأُ مِنْهَا حَيْثُ يَشَآءُ ۚ نُصِيبُ بِرَحْمَتِنَا مَن نَّشَآءُ ۖ وَلَا نُضِيعُ أَجْرَ ٱلْمُحْسِنِينَ ۝٥٦﴾ [يوسف: 56]

(او همدارنګه مونږ يوسف ته په ځمکه (د مصر) کې اقتدار ورکړ، چې په دې (ملك) کې به يې چېرې چې غوښتل؛ ځاى نيوه (اوسېدلو)، مونږ خپل رحمت کوو پر چا چې مونږ وغواړو او مونږ د نېکې کوونکو اجر نه ضايع کوو). [يوسف سورت: ايت 56].

اوکله چې د هغه پیغمبرانو (علیهم السلام) د الله تعالی لپاره خپل عزت د هغه د دښمنانو مقابل کې ولګاوه؛ هغوی ته یې سپکې سپورې او ښکنځلې وکړې؛ نو الله دوی ته دا بدله ورکړه چې الله او د هغه ملاېکو هغوی باندې درود وویل، او د دوی لپاره یې په اسمانونو او د هغه په مخلوقاتو کې غوره ستاینه وکړه، نو هغوی یې خورا مخلص وګرځول

﴿إِنَّآ أَخۡلَصۡنَٰهُم بِخَالِصَةٖ ذِكۡرَى ٱلدَّارِ ۝٤٦﴾ [ص: 46]

(مونږ دوی په یو خالص خوی سره خالص کړي دي چې هغه د اخرت یادول دي). [ص سورت: ایت 46].

اوکله چې صحابه و –رضي الله عنهم– خپل کورونه پرېښودل، او د الله د خوښې لپاره یې پرېښودل؛ نو په خپل رضوان او خوښۍ سره یې هغوی ته بدله ورکړه: دنیا یې د هغوی تر قبضې لاندې راوستله او دنیا یې د هغوی په واسطه فتحه کړه.

هغه –سبحانه و تعالی – ډېر قدردان ذات دی؛ بنده له اور څخه د یوې ذرې د خیر کار په کولو سره را باسي، دغه لږه اندازه هم نه ضایع کوي، په یوه متفق علیه حدیث کې راغلي چې رسول الله -صلی الله علیه وسلم- وفرمایل: "یو سړی پر سړک روان وو، د ازغي یوه څانګه یې په لاره وموندله او هغه یې د لارې نه لرې کړه، نو الله تعالی د هغه دا نیکي قبوله کړه، او هغه ته یې بخښنه وکړه". نو د هغه چا به څه حال وي چې د خلکو له لارې معنوي خنډونه لرې کوي؟ نو د هغه چا به څه حال وي چې د خلکو په چارو کې اسانتیاوې راولي، د هغوی غمونه لرې کوي، د هغوی د اړتیاوو په پوره کولو کې ورسره مرسته کوي، او د هغوی په زړونو کې خوښي راولي؟! او دا ټول د هغه –سبحانه و تعالی- له خوا دي؛ چې تا ته یې په اول او آخر کې توفیق درکړې.

لکه څنګه چې هغه –سبحانه و تعالی– په حقیقت کې ډېر قدر دان دی؛ هغه ته د خپل مخلوق تر ټولو محبوب کس: هغه څوک دی چې د قدردانۍ په صفت پېژندل شوی وي، او همدارنګه د هغه تر ټولو بد مخلوق هغه دی: چې دغه صفت و نلري او ددې صفت مخالف صفت لرونکی وي.

امام ابن القیم -رحمه الله- فرمایلي: "نعمتونه د الله له طرفه ازمایښت او امتحان دی؛ چې په هغې کې د شکر کوونکي شکر او د انکار کوونکو انکار څرګندېږي".

او شکر په دوه ډوله دی:

لومړی: چې په ژبه باندې وي، او هغه: د نعمتونو ورکوونکي ستاينه کول دي.

او بل: د ټولو اندامونو سره شکر ادا کول، او د الله –عزوجل- په اطاعت کې يې کارول دي.

او دا د ټولو پيغمبرانو او صالحينو (عادت) عمل دی.

بخاري روايت کوي: رسول الله -صلى الله عليه وسلم- به د شپې لمونځ لپاره ولاړيده تر دې چې پښې به يې وپړسېدلې، نو عايشې -رضى الله عنها- به ورته وويل: ته دا کار ولې کوې حال دا چې الله ستا مخکيني او راتلونکي ګناهونه بخښلي؟! نو هغه وفرمايل: «أَفَلَا أَكُوْنُ عَبْدًا شَكُوْرًا؟!». "ايا زه بايد شکر ګذار بنده و نه اوسم؟!". او الله –عزوجل- د داود -عليه السلام- کورنۍ د هغوی د شکر ادا کولو له امله ستاينه وکړه:

﴿...ٱعۡمَلُوٓاْ ءَالَ دَاوُۥدَ شُكۡرٗاۚ ...﴾ [سبأ: 13]

(اې آل داوده! تاسو (نيك) عمل کوئ د شکر لپاره). [سبا سورت: ايت 13].

او که څه هم چې د الله –جل وعلا- په بندګانو کې لږ شمېر هغه دي چې د شکر عبادت يې ترسره کړی؛ نو بنده باندې يې واجب کړي چې د هغه د شکر او قبلولو لپاره مدد وغواړي.

نو لدې کبله پيغمبر -صلى الله عليه وسلم- معاذ ته نصيحت کوي چې له هر لمانځه وروسته بايد ووايي: «اللَّهُمَّ أَعِنِّي عَلَى ذِكْرِكَ وَشُكْرِكَ وَحُسْنِ عِبَادَتِكَ!» "اې الله، ما سره مرسته وکړه چې ستا ذکر، شکر ادا کړم، او ښه عبادت کوونکی اوسم!". [صحيح حديث دی. ابوداود روايت کړی]. په بل حديث کې راغلي دي چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- وفرمايل: «رَبِّ اجْعَلْنِي لَكَ شَكَّارًا، لَكَ ذَكَّارًا» "اې ربه، ما تا لره شکر ګزار، او ذکر کوونکی جوړ کړه". [صحيح حديث دی. ابوداود روايت کړی]. بيا د رب العالمين له لوري د دې ضمانت په اړه فکر وکړه، که ته شکر ويستونکی وې؛ نو الله –عزوجل- فرمايي:

﴿مَّا يَفۡعَلُ ٱللَّهُ بِعَذَابِكُمۡ إِن شَكَرۡتُمۡ وَءَامَنتُمۡۚ وَكَانَ ٱللَّهُ شَاكِرًا عَلِيمٗا ١٤٧﴾ [النساء: 147]

(الله تاسو ته په عذاب درکولو څه کوي که تاسو شکر وباسئ؟! او ایمان راوړئ او الله همېشه شکر قبلوونکی، ښه پوه دی). [النساء سورت: ایت 147]

. او شکر تا لره دی، الله –عزوجل- فرمايي:-

﴿... وَمَن يَشْكُرْ فَإِنَّمَا يَشْكُرُ لِنَفْسِهِۦ ۖ وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَنِىٌّ حَمِيدٌ ﴿١٢﴾﴾ [لقمان: 12]

(او هر چا چې شکر وکړ، نو بېشکه همدا خبره ده چې هغه د ځان لپاره شکر کوي، او هر چا چې ناشکري وکړه، نو بېشکه الله ډېر بې پروا، ښه ستایل شوی دی). [لقمان سورت: ایت 12]،

او څوک چې ډېر غواړي، هغه باید شکر وباسي

﴿وَإِذْ تَأَذَّنَ رَبُّكُمْ لَئِن شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ ۖ ...﴾ [إبراهيم: 7]

(او كله چې ستاسو رب اعلان وكړ چې قسم دى كه تاسو شكر وباسئ (،نو) زه به خامخا هرومرو تاسو ته (په نعمتونو كې) اضافه والى راولم). [إبراهیم سورت: ایت 7].

. الله څومره مهربانه دی! خبردار چې ځان له نورو سره په نعمتونو او ورکړو کې پرتله کړې؛ ځکه چې دا به ستاسو د غم او تکلیف لامل شي، او د هغه –سبحانه و تعالی- په قول عمل وکړه:

﴿... فَخُذْ مَآ ءَاتَيْتُكَ وَكُن مِّنَ ٱلشَّٰكِرِينَ ﴿١٤٤﴾﴾ [الأعراف: 144]

نو ته هغه څه ونيسه چې ما تا ته دركړي دي، او له شكر كوونكو څخه شه [الأعراف سورت: ایت 144].

د زړونو کیلي:

او د الله –جل وعلا- د شکر څخه: د هغه چا شکر ادا کول چې الله د هغو له لارې هغه باندې احسان کړی وي، او لومړی يې مور او پلار دي:

﴿.....أَنِ ٱشْكُرْ لِى وَلِوَٰلِدَيْكَ إِلَىَّ ٱلْمَصِيرُ ﴿١٤﴾﴾ [لقمان: 14]

(دا چې ته زما او د خپل مور و پلار شكر كوه، خاص ما ته بېرته راتله دي). [لقمان سورت: ایت 14].

د امام احمد په مسند کې راغلي دي: «مَنْ لَا يَشْكُرِ النَّاسَ لَا يَشْكُرُ اللهَ» "هغه څوک چې د خلکو شکر نه ادا کوي د الله شکر نه ادا کوي". [صحیح حدیث دی]

مبارک دی هغه ذات چې د مخلوق شکر هغه لره لږ دی

ځکه چې د هغه د نیکیو لاسونه محدود ندي

او د نعمتونو شکر کوونکي د هغو د شکر کولو لپاره شکر ته اړتیا لري

همدا راز د شکر ادا کولو شکر، شکر ته اړتیا لري

او په هر شکر کې نعمت دی وروسته له نعمت څخه

پرته لدې چې لرې وي، د نعمت په تناسب شکر لږ دی

نو که څوک چې دا کار وکړي هغه د واجب حق ادا کړی

له شکر سربیره یې تحمل کړي هغه څه چې لوی دي

اې الله! موږ له شکر کوونکو څخه وګرځوه؛ اې د جهانونو ربه!

64 - 63

## الأَكْرَمُ  الكَرِيمُ )ډېر مهربان  سخاوتمند  (ذات -جل جلاله-

هغه – صلی الله علیه وسلم- په صحیح حدیث کې فرمایلي: «إِنِّي لَأَعْلَمُ آخِرَ أَهْلِ الجَنَّةِ دُخُوْلًا الجَنَّةَ، وَآخِرَ أَهْلِ النَّارِ خُرُوْجًا مِنْهَا: رَجُلٌ يُؤْتَى بِهِ يَوْمَ القِيَامَةِ؛ فَيُقَالُ: اعْرِضُوْا عَلَيْهِ صِغَارَ ذُنُوبِهِ، وَارْفَعُوْا عَنْهُ كِبَارَهَا! فَتُعْرَضُ عَلَيْهِ صِغَارُ ذُنُوْبِهِ، فَيُقَالُ: عَمِلْتَ يَوْمَ كَذَا وَكَذَا كَذَا وَكَذَا، وَعَمِلْتَ يَوْمَ كَذَا وَكَذَا كَذَا وَكَذَا؟ «زه وروستی کس چې جنت ته ننوځي پیژنم، او وروستی کس چې له دوزخ څخه را ويستل کيږي پیژنم: یو سړی به راوستل شي؛ وبه ويل شي: د هغه واړه ګناهونه ورته وړاندې کړئ، او لوی ګناهونه ترې لرې کړئ! بیا به هغه ته د هغه واړه ګناهونه وړاندې شي، او ورته به وویل شي: تا فلانۍ او فلانۍ او فلانۍ ورځ کې دا کړي، او په فلانۍ او فلانۍ او فلانۍ ورځ کې دي دا کړي؟

فَيَقُوْلُ: نَعَمْ، لَا يَسْتَطِيعُ أَنْ يُنْكِرَ؛ وَهُوَ مُشْفِقٌ مِنْ كِبَارِ ذُنُوبِهِ أَنْ تُعْرَضَ عَلَيْهِ. هغه به ووايي: هو، انکار به نه شي کولی؛ او هغه دا تشویش کوي چې د هغه لوی ګناهونه ورته وړاندې نشي.

فَيُقَالُ لَهُ: فَإِنَّ لَكَ مَكَانَ كُلِّ سَيِّئَةٍ حَسَنَةً، فَيَقُوْلُ: رَبِّ! قَدْ عَمِلْتُ أَشْيَاءَ لَا أَرَاهَا هَا هُنَا». بيا به ورته وويل شي: ستا د هرې بدۍ پر ځای نيکي درکول کيږي، هغه به ووايي: اې ربه! ما خو ځيني کارونه کړي دي چې زه يې دلته نه وينم».

ابو ذر -رضي الله عنه- د حديث راوي وايي: ما رسول الله -صلى الله عليه وسلم- وليد چې وې خندل، تر دې چې د ژامي غاښونه يې ښکاره شول. [مسلم روايت کړی].

الله څومره مهربان دی! او الله څومره حليم دی! او الله څومره لوی دی!

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡإِنسَٰنُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ ٱلۡكَرِيمِ ٦﴾ [الانفطار: 6]

(اې (کافره) انسانه! ته په خپل کريم (او سخي) رب باندې څه شي دوکه کړی يې؟) [الانفطار سورت: ايت 6]،

﴿... وَمَن شَكَرَ فَإِنَّمَا يَشۡكُرُ لِنَفۡسِهِۦۖ وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ رَبِّي غَنِيّٞ كَرِيمٞ ٤٠﴾ [النمل: 40]

(او څوك چې شكر وباسي، نو هغه يوازې د ځان لپاره شكر وباسي او څوك چې ناشكري كوي، نو بېشكه زما رب ډېر بې پروا، ډېر كرم كوونكى دى). [النمل سورت: ايت 40].

او سخاوت: د خير او ستاينې لپاره يو جامع لفظ دی، د هغه څخه مراد يوازې ورکول ندي، بلکه د ورکولو بشپړه معنا ده، له همدې امله؛ د نوم د معنا په اړه د اهل علمو په نيز ډېر اقوال شتون لري، او ټول نومونه يې چې را نقل کړي دي حق دي.

زموږ رب –جل وعلا- د ډېر خير او ورکړې څښتن دی، تل د خير ورکوونکی دی، هغه لره لوی مقام او شان دی، له نيمګړتياوو او افتونو څخه پاک دی، ورکوونکی، انعام کوونکی، او احسان کوونکی دی؛ هغه ذات چې پرته له عوض او پرته له سببه ورکوي، محتاج او غير محتاج ته يې ورکوي، که وعده وکړي وفا کوي، هغه ته کوچنۍ او لوی اړتياوې وړاندې کيږي، هغه څوک چې ورته رجوع وکړي هغه نه ضايع کيږي، له ګناهونو څخه تيريږي، بدۍ بخښي، بلکه بدۍ په نيکۍ بدلوي، مخکې له دې چې وغواړو هغه موږ ته راکوي.

موږ ته يې غوږونه او سترګې، زړونه او غړي، څواک، ښکاره او پټې وړتياوې راکړې دي؛ چې موږ نشو کولی هغه وشميرو

﴿... وَإِن تَعُدُّواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ لَا تُحۡصُوهَآۗ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَظَلُومٞ كَفَّارٞ۝٣٤﴾ [إبراهيم: 34]

(او که تاسو د الله نعمتونه وشمېرئ (نو) تاسو به هغه ونشمېرلی شئ، بېشکه انسان خامخا ډېر ظلم کوونکی، ډېر ناشکره دی). [إبراهيم سورت: ايت 34]،

پرته له دې چې د هغه څخه يې وغواړو موږ باندې مهرباني کوي، او مخکې له دې چې موږ يې له هغه څخه وغواړو؛ د خپلې مهربانۍ او احسان له مخې، نو هغه يې ورکوي او ستاينه کوي.

زموږ مهربان رب –جل وعلا-؛ هغه ذات چې د قدرت باوجود بخښنه کوي، او که وعده وکړي وفا کوي، نو مؤمنانو ته په دنيا او آخرت کې د فضل، خير، برکت او بيلابيلو نعمتونو او ورکړې وعده کړېده.

بلکه د هغه –سبحانه و تعالی- له سخاوت او مهربانۍ څخه دا دي چې هغه د خپلو نافرمانو بندګانو عذاب د خپلې ارادې سره تړلی دی؛ که وغواړي عذاب ورکوي، او که وغواړي هغوی ته بخښنه کوي.

زموږ رب چې سوال کوونکي بې ځوابه نه پرېږدي.. "هغه ژوندی او سخي دی".

ورپې کړل او وپې ستايه:

نو هغه ايمان ورکوي، بيا يې پر هغه ستاينه کوي:

﴿...وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَهۡدِي مَن يَشَآءُۗ وَمَا تُنفِقُواْ مِنۡ خَيۡرٖ فَلِأَنفُسِكُمۡۚ وَمَا تُنفِقُونَ إِلَّا ٱبۡتِغَآءَ وَجۡهِ ٱللَّهِۚ وَمَا تُنفِقُواْ مِنۡ خَيۡرٖ يُوَفَّ إِلَيۡكُمۡ وَأَنتُمۡ لَا تُظۡلَمُونَ۝٢٧٢﴾ [البقرة: 272]

(او لېکن الله سمې لارې ته راړوي چا ته چې وغواړي، او هغه څه چې تاسو يې له مال څخه خرچ کوئ؛ نو ستاسو ځانونو لپاره (يې فايدې) دي او تاسو يوازې د الله د مخ لَتوَنې (رضا) لپاره انفاق کوئ، او هغه څه چې تاسو يې له مال څخه لګوئ (انفاق کوئ، نو) هغه به تاسو ته پوره پوره درکړی شي، په داسې حال کې چې پر تاسو به ظلم نه کیږي). [البقرة سورت: ايت 272]. جنيد له يوه سړي څخه واورېدل چې ويل يې:

﴿... إِنَّا وَجَدۡنَٰهُ صَابِرٗاۚ نِّعۡمَ ٱلۡعَبۡدُ إِنَّهُۥٓ أَوَّابٞ۝٤٤﴾ [ص: 44]

(بېشكه مونږ هغه صابر وموندہ، (هغه) ښه سړی و، بېشكه هغه ډېر رجوع كوونكی و). [ص سورت: ايت 44]؛

هغه وفرمايل: سبحان الله! ورېي كړل او بيا يې وستايه، يعني: هغه ته يې صبر وركړ، بيا هغه ستايي اوصفت يې كوي.

زه الله ته ستاينه، شكر او ثنا ډالۍ كوم

زموږ مولا لره ستاينه ده، او پر هغه تكيه كيږي

او زه ګواهي وركوم چې له الله پرته بل رب نشته

سخي، او مهربان دی، او هغه اميد بخښونكی دی

نو پاكي ده هغه ذات لره چې سخي او مهربان دی !!

مهرباني د هغه له صفتونو څخه ده، سخاوت د هغه له سترو صفتونو څخه دی، او وركړه د هغه له لوړو ډاليو څخه ده؛ نو څوک به له هغه څخه په سخاوت او مهربانۍ كې لوی وي؟!

هغه ډير سخي دی:

مخلوق د هغه نافرماني كوي، او هغه د دوی څارنه كوي، په خپلو بسترونو كې د هغوی داسې ساتنه كوي لكه څنګه چې دوی د هغه هيڅ نافرماني نه وي كړې، او د دوی پالنه كوي لكه څنګه چې دوی هيڅ ګناه نه وي كړې، او د ګناهګار سره سخاوت كوي، او بد كار سره مهرباني كوي .. څوک دی چې هغه يې را بللی وي او ځواب يې نه وي وركړی؟ او څوک دی چې له هغه يې سوال كړی وي او هغه نه وي وركړی؟ يا هغه څوک دی چې د هغه دروازه يې ټكولې وي او هغه شړلی وي؟! نو هغه د فضل څښتن دی او له هغه څخه د فضل تمه كيږي، هغه سخي دی او له هغه څخه د سخاوت تمه كيږي، هغه سخي او مهربان دی او له هغه څخه د سخاوت او مهربانۍ تمه كيږي.

له ستاينې څخه بې نيازه..

زموږ رب –تبارک و تعالی- زموږ له شکر څخه بې نيازه دی، د شکر ګټې هغه ته نه ورګرځي، او د انکار کوونکو انکار هغه ته ضرر نه رسوي، بيا هم هغه (سخي او مهربان) دی چې په تلوار سره سزا نهورکوي؛

﴿... وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ رَبِّي غَنِيٌّ كَرِيمٌ ۝٤٠﴾ [النمل: 40]

(او څوك چې ناشكري كوي، نو بېشكه زما رب ډېر بې پروا، ډېر كرم كوونكى دى). [النمل سورت: ايت 40].

او د هغه – سبحانه و تعالی- د بډايتوب او سخاوت له کمال څخه: دا چې بندګان يې د خپل عبادت لپاره پيدا کړي دي؛ او د هغو ټولو د رزق ضمانت يې کړی دی، که هغه مؤمن وي او که کافر، که انسانان وي او که پيريان:

﴿وَمَا خَلَقْتُ ٱلْجِنَّ وَٱلْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ۝٥٦ مَآ أُرِيدُ مِنْهُم مِّن رِّزْقٍ وَمَآ أُرِيدُ أَن يُطْعِمُونِ ۝٥٧ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلرَّزَّاقُ ذُو ٱلْقُوَّةِ ٱلْمَتِينُ ۝٥٨﴾ [الذاريات: 56-58]

(او ما پېريان او انسانان نه دي پيدا كړي مګر د دې لپاره چې دوى زما عبادت وكړي. زه له دوى نه هېڅ رزق نه غواړم او نه دا غواړم چې دوى ما ته خوراك راكړي. بېشكه هم دغه الله ښه روزي وركوونكى، قوت والا، (او) ډېر مضبوط دى). [الذاريات سورت: ايتونه 56-58].

له اميدونه څخه ډېر ورکوي..

د هغه د عظمت له جملې څخه: دا چې مسايل او دعاګانې پر هغه باندې لويې او ډېر والی نکوي؛ که هر څومره ډېرې او لويې وي، په صحيح حديث کې هغه –صلی الله عليه وسلم- فرمايي: «إِذَا دَعَا أَحَدُكُمْ؛ فَلَا يَقُلْ: اللَّهُمَّ اغْفِر لِي إِنْ شِئْتَ! وَلَكِنْ لِيَعْزِمِ المسألةَ، وَلِيُعْظِمْ رَغْبَتَهُ؛ فَإِنَّ اللّهَ -عز وجل- لَا يَتَعَاظَمُهُ شَيْءٌ أَعْطَاهُ» "که ستاسو څخه يو څوک دعا وکړي، داسې دې نه وايي چې: اې الله ما وبخښه، که ستا خوښه وي! ليکن خپله غوښتنه دې کلکه وغواړي، او خپل طلب دې لوړ کړي؛ ځکه چې د الله په نيز د هيڅ شي ورکول لوی نه دي". [مسلم روايت کړی] بلکه د هغه –سبحانه و تعالی- له سخاوت څخه دا دی: چې هغه –سبحانه وتعالی- لره دعا کول يې ترټولو با عزت عبادت ګرځولی دی، په صحيح حديث کې هغه –صلی الله عليه وسلم- فرمايي: «لَيْسَ شَيْءٌ أَكْرَمَ عَلَى اللهِ -سُبْحَانَهُ-

مِنَ الدُّعَاءِ» "د الله – سبحانه- په نيز له دعا څخه بل هيڅ شی د عزت وړ نه دی". [حسن حديث دی. ابن ماجه روايت کړی]. بلکې د هغه –سبحانه و تعالی- ستر سخاوت ته وګوره: هغه –صلى الله عليه وسلم- فرمايلي: «إِنَّ اللَّهَ حَيِيٌّ كَرِيمٌ يَسْتَحِي إِذَا رَفَعَ الرَّجُلُ إِلَيْهِ يَدَيْهِ أَنْ يَرُدَّهُمَا صِفْرًا خَائِبَتَيْنِ» "په حقيقت کې، الله ډير د حيا او سخاوت څښتن دی، او حيا کوي کله چې يو سړی خپل لاسونه ورته پورته کړي او هغه بيرته نااميده او تش وګرځوي". [صحيح حديث دی. ترمذي روايت کړی]. او د هغه سخاوت دوامداره دی؛ تر هغه وخته نه دريږي چې ته ورسره ملاقات وکړې، نو ته وګوره د قيامت په ورځ به تا ته ترټولو ستره او لويه ډالی وړاندې کيږي -که چيرته مومن اوسيږې -.

﴿أُوْلَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ حَقّٗاۚ لَّهُمۡ دَرَجَٰتٌ عِندَ رَبِّهِمۡ وَمَغۡفِرَةٞ وَرِزۡقٞ كَرِيمٞ ٤﴾ [الأنفال: 4]

(همدغه خلق په حقه مومنان دي، د دوی لپاره د خپل رب په نيز درجې دي او بخښنه او عزتمن رزق دی). [الأنفال سورت: ايت 4].

بلکې له هيلې څخه ډير ورکوي، او په متفق عليه قدسي حديث کې راغلي دي: «قَالَ اللَّهُ -عز وجل- : أَعْدَدْتُ لِعِبَادِيَ الصَّالِحِينَ: مَا لَا عَيْنٌ رَأَتْ، وَلَا أُذُنٌ سَمِعَتْ، وَلَا خَطَرَ عَلَى قَلْبِ بَشَرٍ» «الله –عزوجل- فرمايلي: ما د خپلو نيکانو بندګانو لپاره هغه څه چمتو کړي دي چې نه کومې سترګې ليدلي دي، نه کوم غوږ اوريدلي دي، او نه د چا په زړه کې تير شوي دي»، او د دې ټولو څخه لوی څيز: د هغه مهربان ذات مخ ته کتل دي؛

﴿وُجُوهٞ يَوۡمَئِذٖ نَّاضِرَةٌ ٢٢ إِلَىٰ رَبِّهَا نَاظِرَةٞ ٢٣﴾ [القيامة: 22-23]

(په دغې ورځ کې به څه مخونه تازه روښانه وي‌خپل رب ته به کتونکي وي. [القيامة سورت: آيتونه 22-23].

اې الله! موږ لدې ډلې څخه جوړ کړه؛ اې تر ټولو مهربان ذاته!

تله:

د قيامت په ورځ د عزت او ذلت تله: تقوا ده؛

﴿... إِنَّ أَكۡرَمَكُمۡ عِندَ ٱللَّهِ أَتۡقَىٰكُمۡۚ ...﴾ [الحجرات: 13]

(بېشکه د الله په نيز په تاسو کې ډېر عزتمن، ستاسو زيات پرهېزګار دی). [الحجرات سورت: ايت 13]،

د کفارو لپاره عزت نشته، بلکې سپکاوی دی:

﴿... وَكَثِيرٌ حَقَّ عَلَيۡهِ ٱلۡعَذَابُۗ وَمَن يُهِنِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِن مُّكۡرِمٍۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَفۡعَلُ مَا يَشَآءُ۩۞﴾ [الحج: 18]

(او (په دوی کې) ډېر داسې دي چې په هغو باندې عذاب ثابت شوی دی او هغه څوک چې الله يې سپک کړي، نو ده ته هيڅوك عزت ورکوونکی نشته، بېشکه الله کوي هغه څه چې اراده يې وکړي). [الحج سورت: ايت 18]،

په دنيا کې د خلکو مقياس ته اعتبار نشته؛ کوم چې الله –تبارک و تعالی- په دې ډول ذکر کړی دی:

﴿فَأَمَّا ٱلۡإِنسَٰنُ إِذَا مَا ٱبۡتَلَىٰهُ رَبُّهُۥ فَأَكۡرَمَهُۥ وَنَعَّمَهُۥ فَيَقُولُ رَبِّيٓ أَكۡرَمَنِ ۞ وَأَمَّآ إِذَا مَا ٱبۡتَلَىٰهُ فَقَدَرَ عَلَيۡهِ رِزۡقَهُۥ فَيَقُولُ رَبِّيٓ أَهَٰنَنِ ۞﴾ [الفجر: 15-16]

(نو هر چې انسان دی، کله چې ده لره خپل رب وازمايي، پس ده ته عزت ورکړي او ده ته نعمت ورکړي، نو دی وايي: زما رب ما ته عزت راکړ. او خو هر کله چې دی وازمايي، پس په ده باندې د ده رزق تنګ کړي، نو دی وايي: زما رب زه سپك کړم). [الفجر سورت: ايتونه 15-16]

. ابن الجوزي -رحمه الله- فرمايي: "او په عامو خلکو باندې د شيطان له فريب څخه: دا چې دوی ګناهونه کوي، او که تاسو يې مخه ونيسئ، دوی به ووايي: رب ډېر مهربان دی، او بخښنه پراخه ده!".

پند او نصيحت..

څوک چې قرآن سره تعلق پيدا کړي؛ هغه ته به دواړو جهانونو کې د عزت زيری ورکول کيږي، ځکه چې الله –سبحانه و تعالی- فرمايلي:

﴿إِنَّهُۥ لَقُرۡءَانٞ كَرِيمٞ ٧٧﴾ [الواقعة: 77]

(بېشکه دا خامخا ډېر عزتمن قرآن دی). [الواقعة سورت: ايت 77]،

ډېر خير لرونکی، د ډيرې پوهې لرونکی، حافظ ته عزت ورکوي، او لوستونکي ته وياړ ورکوي. او د سخاوت څښتن –سبحانه و تعالی- ډوب شوی ژغوري، غايب بيرته راولي، مصيبت ځپلي ته عافيت بخښي، د مظلومانو سره مرسته کوي، ګمراه ته هدايت کوي، غريبان شتمنوي، ناروغ ته شفا ورکوي، د ستونزمن ستونزه خلاصوي، او خوښ ګڼي چې په خپلو نومونو سره وبلل شي، او نبي –صلى الله عليه وسلم- به د ستونزو پر مهال داسې ويل: «لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ العَظِيمُ الحَلِيمُ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ رَبُّ العَرْشِ العَظِيمِ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَرَبُّ الأَرْضِ، وَرَبُّ العَرْشِ الكَرِيمِ» "له الله پرته بل معبود نشته، لوی او بردبار دی، له الله پرته بل معبود نشته، د لوی عرش څښتن دی، له الله پرته بل معبود نشته، د اسمانونو او ځمکې څښتن دی". [بخاري او مسلم روايت کړی]. او الله سخيان خوښوي، ابن رجب -رحمه الله- فرمايي: "څوک چې د الله پر بندګانو باندې سخاوت وکړي، الله به پر هغه باندې په خپله ورکړه او فضل سره سخاوت وکړي، او اجر د عمل له جنس څخه دی".

زه غايبيږم مګر د لطفونو څښتن نه غايبيږي ... او له هغه څخه هيله لرم چې هغه به ما نه ناهيلی کوي ... او له هغه څخه له هغه وخته د خوندیتوب غوښتنه کوم ... چې زه ورسره مخ يم، هغه چې پاپله يې وېښتان سپينوي ... او خپله غوښتنه په هر حال کې هغه چا ته وړاندې کوم ... چې په هغه سره زړونه ډاډمنيږي ... او زه د الله له دروازې پرته بله دروازه نه لرم ... نه څوک ملګری او نه څوک دوست لرم

هغه سخي انعام کوونکی نيک او نرمي کوونکی دی ... ډېر ښه پرده اچوونکی او د غوښتونکي د دعا قبلوونکی دی ... نو ای د بادشاهانو بادشاه زما ګناهونه وبخښه ... يقينا زه ګناهونو ستا څخه لري کړی يم ... او له بده مرغه خواهشاتو رنځور کړی يم ... خو مګر ستا نه پرته ما لره بل څوک ډاکټر (رنځپوه) نشته.

اې مهربان الله! مونږ په خپل جنت بخښنې او رضايت باندې ونازوه.

65

## المُقِيتُ )مخلوق ته په روزۍ سره قوت ورکوونکی (ذات -جل جلاله-

صحيح روايت دی چې هغه -صلی الله علیه وسلم- فرمايلي: «إِنَّ اللهَ -تَعَالَى- يَقُوْلُ: يَا ابْنَ آدَمَ! تَفَرَّغْ لِعِبَادَتِي أَمْلأْ صَدْرَكَ غِنًى، وأَسُدُّ فَقْرَكَ، وَإِنْ لَا تَفْعَلْ؛ مَلأْتُ يَدَكَ شُغْلًا، وَلَمْ أَسُدَّ فَقْرَكَ» «الله –تعالى- فرمايي: اې د آدم اولاده! خپل ځان زما د عبادت لپاره وقف کړه، زه به ستا زړه له شتمنۍ ډک کړم، او ستا د فقر مخه به ونيسم، او که داسې دې و نه کړل؛ زه به ستا لاسونه په کار باندې ډک کړم، او ستا د فقر مخه به و نه نيسم». [صحيح حديث دی. ترمذي روايت کړی]. او په صحيح حديث کې راغلي: «يَدُ اللهِ مَلْأَى لاَ يَغِيضُهَا نَفَقَةٌ، سَحَّاءُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ، أَرَأَيْتُمْ مَا أَنْفَقَ مُنْذُ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ؟ فَإِنَّهُ لَمْ يَغِضْ مَا فِي يَدِهِ» «د الله لاس ډک دی او د ورځې او شپې انفاق کول هغه نه کموي، ايا تاسو نه ګورئ چې هغه د اسمانونو او ځمکې له پيدا کولو راهيسې څومره انفاق کړی دی؟ هغه څه چې د هغه په لاس کې وو ندي کم شوي». [بخاري روايت کړی -او دا د هغه لفظ دی- او مسلم هم روايت کړی].

هغه الله –سبحانه و تعالی- باندې د اسمانونو او ځمکې چارې ولاړې دي او د دنيا او آخرت چارې د هغې په واسطه سمباليږي، لوند او وچ ورته تسليم دي.

د بادشاهۍ واک د هغه په لاس کې دی، د شيانو اندازې د هغه سره دي، د معاملاتو چابياني د هغه سره دي، د بندګانو برخليک هغه ته ورګرځي، ټول عزت هغه لره دی، او ملک ټول هغه لره دی، د هغه د ورکړې منع کوونکی نشته، او د هغه د منعې ورکوونکی نشته.

نو ايا هغه سخي، ځواکمن، رحم کوونکی او قوت ورکوونکی ذات لدې عاجزه کيدلی شي چې تا ته يوه ډوډۍ، خوراک او څښاک درکړي، چې ستا روح ورسره ژوندی شي؟

او مونږ به څومره نيکمرغه يو چې د الله له خورا ښکلي نومونو څخه يو نوم سره تم شو، چې هغه المقيت –تبارک و تعالی- دی.

الله – عزوجل- فرمايي:

﴿مَّن يَشْفَعْ شَفَٰعَةً حَسَنَةً يَكُن لَّهُۥ نَصِيبٌ مِّنْهَاۖ وَمَن يَشْفَعْ شَفَٰعَةً سَيِّئَةً يَكُن لَّهُۥ كِفْلٌ مِّنْهَاۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ مُّقِيتًا۝٨٥﴾ [النساء: 85]

(چا چې سفارش وکړ، ښه سفارش، هغه ته به په دې (سفارش) سره (د ثواب) برخه وي او چا چې سفارش وکړ، بد سفارش (، نو) هغه ته به پدې سره (د ګناه) پېټی وي او الله له همېشه پر هر شي باندې قدرت لرونکی دی). [النساء سورت: ایت 85].

المقیت: په هر شي قدرت لرونکی؛ چا چې خواړه (روزي) پیدا کړي دي.

المقیت: الحفیظ؛ څوک چې هر څیز ته د اړتیا په اندازه له ساتنې څخه ورکوي.

نو زمونږ رب – سبحانه و تعالی- هغه لوی ذات دی چې ټولو موجوداتو ته یې خواړه رسولي دي، او هغوی ته یې د هغه رزق رسولی او په خپله خوښه، حکمت او ستاینې سره یې ویشلی دی.

نو هر مخلوق ته روزي شته: د بدنونو قوت او روزي: خوراک او څښاک دی، د ارواحو قوت او روزي: علوم دي، او د ملائکو قوت او روزي: ستاینه ده.

نو الله –عزوجل- خپلو بنده ګانو ته قوت (روزي) ورکوونکی دی، د هغوی ساتونکی، د هغوی د حالاتو شاهد، او له هغوی څخه باخبر دی.

رب –سبحانه و تعالی- د بندګانو د مصلحتونو پر اساس عمل کوي؛ او هغوی ته قوت او روزي ورکوي.

تر ټولو ښه روزي: عقل دی، او چا ته چې عقل ورکړل شوی وي، الله –تبارک و تعالی- هغه ته عزت ورکړی دی.

اې الله! تا لره هغه احسان دی چې تول مخلوق ته رسیدلی دی

چې په ټول مخلوق کې په ډیره پیمانه شتون لري

او له تا پرته، ستا خزانې له بل چا سره نشته چې

په لګښت او انفاق سره ډیریږي، تر څو پرې بخل وکړي

زه تا ته پناه راوړم اې الله، زمونږ له بدو کړونو څخه

چې ستاسو نعمتونه له مونږ څخه وګرځول شي

ډاډه اوسه!

د هغه څه په اړه مه بوخت کېږه چې تا ته تضمين شوي دي؛ الله د خپل ځان په باره کې فرمايلي دي: (المقيت، قوت او روزي ورکوونکی) او د خپل ځان په اړه يې فرمايلي دي: (الرزاق، روزي ورکوونکی).

او المقيت – قوت او روزي ورکوونکی- له الرزاق څخه خاص دی؛ نو، القوت: هغه څه چې په هغه سره بدن تغذيه کيږي، او الرزق: هر هغه څه چې د بنده تر ملکيت لاندې راځي، په شمول د هغه څه چې د خوړو وړ دي او څه چې نه خوړل کيږي.

تر څو چې موده او اجل پاتې وي؛ خواړه او روزي به راځي، او که د روزۍ يوه لاره يې په څه حکمت سره در باندې بنده کړه، هغه به ستا لپاره په خپل رحمت سره بله لاره پرانيزي.

او د جنين حالت ته پام وکړه: هغه ته خواړه راځي چې هغه: وينه ده، او له يوې لارې څخه راځي، چې هغه: ناف (نوم) دی، او کله چې د مور له رحم څخه ووځي، دغه لاره هغه باندې بنده شي، او دوه نورې لارې هغه ته خلاصيږي، د هغه لپاره چې لومړي خواړه خورا ښه او خوندور وي؛ پاکې او خوندورې شيدې، او کله چې د شيدو د تغذيې مرحله بشپړه شي، د هغه لپاره څلور نورې لارې خلاصيږي، چې د هغې لارې څخه دوه خواړه او دوه څښاک ترلاسه کوي؛ اما دوه خواړه: حيوانات او نباتات دي، او د دوه څښاک : اوبه او شيدې دي.

کله چې مړ شي نو هغه څلور لارې بندې شي، او د جنت اته دروازې د مؤمنانو لپاره پرانستل شي؛ دوی به له هرې دروازې چې وغواړي  جنت ته به ننوځي!

منندوی اوسه!

د الله –تبارک و تعالی- نعمتونه له شمېرلو څخه پورته دي، او هيڅ محدوديت نلري، او هيڅ حساب يې مقيد کولی نشي:

﴿... وَإِن تَعُدُّواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ لَا تُحۡصُوهَآۗ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَظَلُومٞ كَفَّارٞ٣٤﴾ [إبراهيم: 34]

(او که تاسو د الله نعمتونه وشمېرئ (نو) تاسو به هغه ونشمېرلی شئ، بېشکه انسان خامخا ډېر ظلم کوونکی، ډېر ناشکره دی). [إبراهيم سورت: ایت 34].

داسې نعمتونه دي چې ډېر مهربان او جليل القدر ذات يې مخلوق ته ورکوي، پرته له دې چې له هغوی څخه ووېرېږي او يا اميد ولري، بلکې هغوی باندې فضل، مهرباني، نيکي، احسان، سخاوت، او منت کوي.

﴿وَمَا خَلَقْتُ ٱلْجِنَّ وَٱلْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ۝٥٦ مَآ أُرِيدُ مِنْهُم مِّن رِّزْقٍ وَمَآ أُرِيدُ أَن يُطْعِمُونِ۝٥٧ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلرَّزَّاقُ ذُو ٱلْقُوَّةِ ٱلْمَتِينُ ۝٥٨﴾ [الذاريات: 56-58]

او ما پېريان او انسانان نه دي پيدا کړي مګر د دې لپاره چې دوی زما عبادت وکړي. زه له دوی نه هېڅ رزق نه غواړم او نه دا غواړم چې دوی ما ته خوراك راکړي. بېشکه هم دغه الله ښه روزي ورکوونکی، قوت والا، (او) ډېر مضبوط دی) [الذاريات سورت: ايتونه 56-58]

، مګر ډېری خلک شکر نه کوي:

﴿يَعْرِفُونَ نِعْمَتَ ٱللَّهِ ثُمَّ يُنكِرُونَهَا وَأَكْثَرُهُمُ ٱلْكَٰفِرُونَ۝٨٣﴾ [النحل: 83]

(دوی د الله نعمتونه پېژني، بيا له هغو نه انکار کوي او د دوی زياتره کافران دي). [النحل سورت: ايت 83].

هغه تا ته يې لدې چې هغه باندې حق ولرې درکړی دی، بيا تا د هغه له حقوقو څخه انکار وکړ! ستا سره مينه کوي پرته لدې چې ستاورباندې احسان وي بيا تا د هغه له احسان څخه انکار وکړ!

﴿قُتِلَ ٱلْإِنسَٰنُ مَآ أَكْفَرَهُۥ۝١٧﴾ [عبس: 17]

(انسان دې هلاك کړی شي، دی څومره ډېر ناشکره دی!). [عبس سورت: ايت 17]

. د الله – تبارک و تعالی- نعمتونه پر تا باندې وريږي؛ کله چې وغواړې تاته يې درکوي، او که دعا وکړې ستا ځواب درکوي، او که ته مرسته وغواړې درسره مرسته کوي، ستا لپاره پرته له هغه څخه بې نيازي نشته؛ که شکر کوې، نو د هغه بل نعمت شکر وباسه چې تا ته يې درکړی دی؛

﴿وَإِذْ تَأَذَّنَ رَبُّكُمْ لَئِن شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ ...﴾ [إبراهيم: 7]

(او کله چې ستاسو رب اعلان وکړ چې قسم دی که تاسو شکر وباسئ (،نو) زه به خامخا هرومرو تاسو ته (په نعمتونو کې) اضافه وکړم). [إبراهيم سورت: ايت 7].

د شتمنۍ ستنې:

او که بني ادم د سرو زرو يوه دره ولري، نو دوی خوښوي چې دوه درې ولري.

او خوښي دا نه ده چې: د ټولې نړۍ ملکيت ولرې، مګر د انسان خوښي: پدې کې ده چې د خپلې ورځې لپاره خواړه، د بدن سلامتيا، او امنيت ولري. «مَنْ أَصْبَحَ مِنْكُمْ آمِنًا فِي سِرْبِهِ، مُعَافًى فِي جَسَدِهِ، عِنْدَهُ قُوْتُ يَوْمِهِ؛ فَكَأَنَّمَا حِيزَتْ لَهُ الدُّنْيَا» «څوک چې په تاسو کې په خپل بدن کې خوندي وي، په بدن کې صحتمند وي، د خپلې ورځې لپاره خواړه ولري؛ دا پدې معنی ده چې هغه لره ټوله دنيا ورکړ شوې وي». [حسن حديث دی. ترمذي روايت کړی].

د صالحانو عادت ..

مؤمن په ځان ډاډمن وي؛ ځکه چې هغه پوهيږي چې الله قوت او روزي  ورکوونکی دی، او دا چې د هغه روزي ليکل شوې ده، او تر هغه به نه مري تر څو چې خپله روزي بشپړه نه کړي، نو هغه خپلې هڅې سره پر الله توکل کوي او د خپل ځان او شاوخوا خلکو د قوت او ځواک څخه بې زاره کيږي، او خپل زړه الله –سبحانه و تعالی- باندې چې قوت او روزي ورکوونکی دی ترړلی ساتي، ځکه چې هغه پوهيږي چې د هغه -سبحانه و تعالی-  د تسلط، قوت، او ځواک څخه پرته بل تسلط، قوت او ځواک نشته.

لکه څنګه چې په "صحيح مسلم" کې راغلي دي چې د رسول الله -صلی الله عليه وسلم- د خپل رب -عزوجل – څخه روايت کوي چې هغه فرمايي: «يَا عِبَادِي كُلُّكُمْ جَائِعٌ إِلَّا مَنْ أَطْعَمْتُهُ؛ فَاسْتَطْعِمُونِي أُطْعِمْكُمْ». «اې زما بندګانو، تاسو ټول وږي ياست، پرته له هغه چا چې ما هغه لره خواړه ورکړي وي؛ نو تاسو زما څخه خواړه وغواړئ تاسو ته به خواړه درکړم». ابن رجب -رحمه الله- فرمايلي: «ځينو مخکينو خلکو به په خپلو دعاګانو کې د الله څخه د خپلو ټولو اړتياو غوښتنه کوله، حتا د خپلو اوړو لپاره مالګه او د خپل پسه لپاره د وښو (ګیاه) غوښتنه به يې کوله».

نو څوک چې د الله نوم: المقيت، ياد کړي، او د الله شتون په المقيت نوم سره احساس کړي، او په هغه څه باور ولري چې هغه يې لري، هغه به ابدي خوشحالۍ ترلاسه کړي، چې هغه: په دنيا او آخرت کې راضي اوسيدل دي.

همدارنګه رسول الله -صلی الله عليه وسلم- هغو کسانو ته خبرداری ورکړی چې د کورنۍ خوراک او نفقې باندې د اجر د غوښتلو لپاره صدقه او خيرات ورکوي، نو د دوی دا کار به په ګناه بدل شي که چيرې هغه خپل د لاس لاندې کسان (کورنۍ، اولادونه، غلامان) ضايع او محتاجه کړي؛ ځکه چې نفقه د انسانانو په حقوقو پورې تړلې ده، هغوی ډېر مستحق دي او حق يې ثابت دی، له رسول الله -صلی الله عليه وسلم- څخه په صحيح روايت کې راغلي دي چې فرمايي: «كَفَى بِالمَرْءِ إِثْمًا: أَنْ يُضَيِّعَ مَنْ يَقُوْتُ» «د انسان د ګناه لپاره همدا کافي ده، چې د هغه چا څخه بې پروايي وکړي، چې د هغوی روزي پر هغه باندې وي». [حسن حديث دی. ابوداود روايت کړی].

او رسول الله -صلی الله عليه وسلم- د خپلې کورنۍ لپاره د ټول کال د خوراکي توکو د خوندي کولو لپاره ليواله و، په بخاري کې نقل شوي دي چې وايي: «رسول الله -صلی الله عليه وسلم- د بنو نضير د کجورو ونې يې خرڅولې او د خپلې کورنۍ لپاره به يې د هغوی د يو کال خواړه ساتل».

او د هغه – صلی الله عليه وسلم- د دعاګانو څخه: «اللَّهُمَّ! اجْعَلْ رِزْقَ آلِ مُحَمَّدٍ قُوْتًا» «اې الله! د محمد د کورنۍ روزي ګوزاره حالې وګرځوه». [مسلم روايت کړی]. يعنې: هغه څه چې دوی ته روزي ورکوي او بسنه کوي؛ تر څو فقر هغوی ستړي نکړي، او سوال کول دوی سپک نه کړي، او د دې لپاره چې دنيا ورته خلاصه نشي او دوی په هغې باندې تکيه ونکړي؛ دنيا پرېښودونکې او اخرت پاتې کېدوونکی دی، نو باقي په فاني باندې مه غوره کوه -زما د رب درودونه دې وي پر هغه او د هغه پر کورنۍ باندې، او پر هغو کسانو چې د قيامت تر ورځې پورې د هغه د لارښوونو پيروي کوي-.

اې الله! موږ له تاسو څخه ستاسو په المقيت نوم سره غوښتنه کوو: چې موږ ته پراخه فضل څخه راکړې، او موږ سره مرسته وکړې چې ستاسو اطاعت وکړو، ستاسو ذکر او شکر ادا کړو.

66

## الوَاسِعُ )پراخي ورکوونکی (ذات -جل جلاله-

کله چې د ایمان خاوندانو د الله (الواسع) نوم واورید، نو زړونه یې د هغه په یاد ولګېدل، او د دوی روحونه د هغه د لیدو لیواله شول، ځکه چې د دوی زړونه پرته لدې چې هغه ته سجده وکړي، د هغه د کور طواف وکړي، د هغه په وړاندې ودرېږي، د هغه لپاره له خوبه پاڅي، او د هغه په لاره کې قرباني ورکړي، الله –جل و علا- فرمايي:

﴿...وَرَحْمَتِي وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ...﴾ [الأعراف: 156]

(او زما رحمت هر شی راګېر کړی دی). [الأعراف سورت: ایت 156]

، او الله -سبحانه وتعالی- فرمايلي:

﴿... وَٱللَّهُ يُؤْتِي مُلْكَهُۥ مَن يَشَآءُ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ۝٢٤٧﴾ [البقرة: 247]

(او الله خپله بادشاهي ورکوي چا ته چې یې وغواړي، او الله پراخه فضل والا، ښه عالم دی). [البقرة سورت: ایت 247].

زمونږ رب –عزوجل- پراخي ورکوونکی او بډای دی، لوړ دی. هغه ذات چې د هغه بډای خپلو ټولو بندګانو ته رسیدلې ده، او خپل ټول مخلوق ته یې کفایت، احسانونو، سخاوت او تدبیر رسولی دی.

او هغه –عزوجل- په خپل ذات، صفتونو، عملونو، مالکیت، پادشاهۍ کې مطلق پراخي ورکوونکی دی، هیڅ څوک هغه لره ستاینه نشي شمیرلی څرنګه هغه د خپل ځان ستاینه کوي، که هرڅومره ستايوونکی د هغه د ستاینو بیان وکړي، دوی به د هغه جوهر ته ونه رسیږي، او نه به د هغه پوهې باندې احاطه وکړي.

او زمونږ د رب پوهې هر څیز راګېر کړی دی:

﴿... وَسِعَ رَبُّنَا كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًاۚ...﴾ [الأعراف: 89]

(زمونږ رب هر شی په (خپل) علم کې راګېر کړی دی). [الأعراف سورت: ایت 89]،

له هغه څخه هیڅ شی پټ ندی، نو الله –سبحانه و تعالی- هغه لوی ذات دی چې په توره شپه کې په همواره ډبره باندې د تور میږي غږ اوري، له هغه څخه په ځمکه او آسمان کې هیڅ شی پټ نه دی. او د هغه پوهه د زړونو رازونو ته شامليږي، او هغه څه چې سینو ته د خیر او شر څخه پټې ساتلې دي؛

﴿يَعۡلَمُ خَآئِنَةَ ٱلۡأَعۡيُنِ وَمَا تُخۡفِي ٱلصُّدُورُ ١٩﴾ [غافر: 19]

[هغه د سترګو په خیانت پوهیږي او په هغو خبرو چې سینې يې پټوي (او رازونه وي)]. [غافر سورت: ایت 19]،

﴿... وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ مَا فِيٓ أَنفُسِكُمۡ فَٱحۡذَرُوهُۚ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ حَلِيمٞ ٢٣٥﴾ [البقرة: 235]

(او پوه شئ چې یقینًا الله پر هغه څه پوهیږي چې ستاسو په نفسونو کې دي، نو له هغه (الله) نه وېرېږئ، او پوه شئ چې یقینًا الله ډېر بخښونکی، ډېر تحمل کوونکی دی). [البقرة سورت: ایت 235].

او زمونږ رب –سبحانه و تعالی- د پراخې بخښنې خښتن دی؛ هر هغه چا ته بخښنه کوي چې توبه وباسي او هغه ته رجوع کوي؛ که د هغه ګناهونه او خطاګانې هرڅومره ډیرې وي:

﴿... إِنَّ رَبَّكَ وَٰسِعُ ٱلۡمَغۡفِرَةِۚ ...﴾ [النجم: 32]

(بېشکه ستا رب د بخښنې وسیع کوونکی دی). [النجم سورت: ایت 32].

او زمونږ رب –سبحانه و تعالی-؛ هغه چې په خپلو بندګانو باندې د دوی دین پراخوي او په هغوی باندې بار او مسولیت نه اچوي چې د دوی په وس کې نه وي◉

﴿وَلِلَّهِ ٱلۡمَشۡرِقُ وَٱلۡمَغۡرِبُۚ فَأَيۡنَمَا تُوَلُّواْ فَثَمَّ وَجۡهُ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ وَٰسِعٌ عَلِيمٞ ١١٥﴾ [البقرة: 115]

(او خاص د الله لپاره مشرق او مغرب دی، نو کوم طرف ته چې تاسو مخ کوئ، نو هلته د الله مخ دی، بېشکه الله ډېر پراخۍ والا، ښه پوه دی). [البقرة سورت: ایت 115] .

وَأَشْهَدُ أَنَّ اللهَ لَا رَبَّ غَيْرُهُ او زه ګواهي ورکوم چې له هغه پرته بل رب نشته
سخي، او مهربان دی، او هغه امید بخښونکی دی
کله چې له هغه څخه د ښو څیزونو غوښتنه وشي، په ډیره پیمانه ورکوي

او د افتونو بدوالی لرې کوي او لمنځه يې وړي
او مخلوق ته په پراخه پیمانه خیر او له ښو څیزونو څخه ورکوي
نو هغه هر کله بډای او قناعت بخښي او تبديلوي
هر کله چې ثنا ویوونکی هغه باندې ډېر ثناوې ووايي
نو عرش خاوند په عظمت کې لوړ او ښکلی دی
پراخي راوستونکی ذات ستا ستونزې لره کافي دی!

څوک چې د الله (الواسع) په نوم پوه شي: د هغه ویره له منځه ځي، او په زړه کې يې اطمينان راځي، او د هغه لپاره د امید دروازه پرانیستل کیږي.

هغه بزګر چې د حاصلاتو وخت يې وځنډيږي، اوبه کمې شي، او میوو ته يې اړتیا زیاته شي؛ کله چې پوه شي چې الله د پراخې پوهې څښتن دی؛ اسمان ته به وګوري، زړه به يې له خپل رب سره وتړل شي، او غږ به وکړي: اې د پراخې ورکړې څښتنه.. اې الله.. اې د ډېر رحمت څښتنه، اې د ډېرې مهربانۍ څښتنه! ما له خپلو برکتونو او نعمتونو څخه برخمن کړه.

او هغه بې اولاده چې د ورځې په تیریدو سره دردونو ستړی کړی وي، د ماشوم لرلو شوق ولري چې ورسره لوبې وکړي چې ژوند يې ورسره مشغول شي، حمل وځنډيږي او غمجن شي او د خلکو پر دې خبرې کله چې ووايي: بې اولاده! او په داسې حال کې چې دا ورته پیښیږي، او غم خپریږي؛ د هغه دننه يو بل ژوند را بیداریږي او ورته یادونه کوي چې الله د پراخې مهربانۍ او سخاوت څښتن دی، هغه هغه غوښتونکی نه ردوي چې په قبلیدو يې یقین ولري، او اواز به وکړي:

﴿... رَبِّ هَبۡ لِي مِن لَّدُنكَ ذُرِّيَّةٗ طَيِّبَةًۖ ...﴾ [آل عمران: 38]

﴿... رَبِّ لَا تَذَرۡنِي فَرۡدٗا وَأَنتَ خَيۡرُ ٱلۡوَٰرِثِينَ ٨٩ فَٱسۡتَجَبۡنَا لَهُۥ وَوَهَبۡنَا لَهُۥ يَحۡيَىٰ وَأَصۡلَحۡنَا لَهُۥ زَوۡجَهُۥٓۚ إِنَّهُمۡ كَانُواْ يُسَٰرِعُونَ فِي ٱلۡخَيۡرَٰتِ وَيَدۡعُونَنَا رَغَبٗا وَرَهَبٗاۖ وَكَانُواْ لَنَا خَٰشِعِينَ ٩٠﴾ [الأنبياء: 89-90]

(ای زما ربه! ما یوازې (بې اولاده) مه پریږده او ته ترټولو غوره وارث يې (نو مونږ د هغه دعا قبوله کړه او مونږ هغه ته يحيی عطا کړ او د هغه لپاره مو د هغه ښځه روغه کړه، بېشکه دوی

(نبيان داسې) وو چې په نېکيو کې به يې تلوار کاوه او مونږ به يې بللو، په دې حال کې چې رغبت کوونکي او وېرېدونکي وو او دوی خاص زمونږ لپاره تواضع کوونکي وو). [الأنبياء سورت: ايت 89-90]

همدارنګه ناروغ؛ د هغه چيغې الله اوري، او د هغه دردونو باندې الله پوه دی، نو کله چې د پراخې ورکړې ذات په ياد راولي، چې هغه د خپلو بندګانو لپاره شفا ورکوونکی او کافي دی؛ اواز به وکړي:

﴿...أَنِّي مَسَّنِيَ ٱلضُّرُّ وَأَنتَ أَرۡحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ٨٣﴾ [الأنبياء: 83]

(ما ته تکليف رارسېدلی دی او ته تر ټولو زيات رحم کوونکی يې). [الأنبياء سورت: ايت 83].

نو الله – سبحانه و تعالی- به اندېښنه، او غم لېرې کړي، او شفا به وکړي.. دا الله – عزوجل- د پراخې ورکړې څښتن دی.

د پور اخيستونکي په زړه کې انديښنې راټولېږي؛ حتا هغه به دا فکر وکړي چې دغه انديښنې به پای ونه مومي، بيا به الله –سبحانه وتعالی- د هغه زړه خلاص کړي، او هغه ته به يې وروګرځوي، نو د پراخې ورکړې، سخاوت او مهربانۍ ذات ته به پناه واخلي؛ بيا به غږ وکړي: اې د ضرورتونو بشپړ کوونکيه.. اې د پراخې ورکړې څښتنه!

﴿أَمَّن يُجِيبُ ٱلۡمُضۡطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكۡشِفُ ٱلسُّوٓءَ ...﴾ [النمل: 62]

(بلکې هغه ذات (غوره دی) چې د مجبور (او عاجز) سوال قبلوي، کله چې دغه (الله) وبلي او هغه تکليف (او سختي) لرې کوي). [النمل سورت: ايت 62]

. الله به پور ادا کړي، له هغه ځايه به ورته روزي ورکړي چې تمه يې نه وي، موسکا به ښکاره شي، زړه به آرامه شي، او روح به سکون ترلاسه کړي؛

﴿قُلِ ٱللَّهُ يُنَجِّيكُم مِّنۡهَا وَمِن كُلِّ كَرۡبٍ ...﴾ [الأنعام: 64]

(ته (ورته) ووايه: الله تاسو ته له دغه (مصيبت) نه نجات درکوي او له هر غم نه هم). [الأنعام سورت: ايت 64].

نړۍ کې به ستونزه رامنځته شي، او مسئله به ورته ستونزمنه شي؛ حق موندلو لپاره به لاره ونه مومي، او ځواب به ورته ګران شي، نو خپله پزه به خاورو کې ومږي، غږ

به وکړي او مرسته به وغواړي: اې تر ټولو سخاوت کوونکیه، د پراخ علم خاونده، د ابراهیم ښوونکیه ماته پوهه راکړه.. اې د سلیمان پوهونکیه، ما پوه کړه!

بیا به توفیق راشي، او خنډونه به د پراخي وروکوونکی ذات - سبحانه و تعالی- له لوري لیرې شي.

ښځه او خاوند به سره اختلاف وکړي، رسۍ به پرې شي، د مینې اړیکې به پرې شي، او د طلاق وروسته به د دوی لپاره وضعیت تنګ شي؛ دوی به پراخي ورکوونکي ذات ته رجوع وکړي.

نو هغه به هر یو لره په بل غوره کس باندې بدلوي:

﴿وَإِن يَتَفَرَّقَا يُغۡنِ ٱللَّهُ كُلّٗا مِّن سَعَتِهِۦۚ وَكَانَ ٱللَّهُ وَٰسِعًا حَكِيمٗا ١٣٠﴾ [النساء: 130]

(او که دواړه (ښځه او خاوند) له یو بل نه بېل شي (، نو) الله به هر یو په خپلې پراخۍ سره غني کاندي او الله له همېشه فراخۍ والا، ښه حکمت والا دی). [النساء سورت: ایت 130].

بیعې ګټه وکړه ..

یو کس له مصرف کولو څخه ویرېږي، او له فقر څخه ډارېږي؛ او دا یوازې د دې لپاره چې شیطان د هغه په سینه کې د شر او غریبۍ وسوسه واچوله، او هغه یې د کنجوسۍ او نه مصرف کولو باندې حکم کوي،

﴿ٱلشَّيۡطَٰنُ يَعِدُكُمُ ٱلۡفَقۡرَ وَيَأۡمُرُكُم بِٱلۡفَحۡشَآءِۖ وَٱللَّهُ يَعِدُكُم مَّغۡفِرَةٗ مِّنۡهُ وَفَضۡلٗاۗ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٞ ٢٦٨﴾ [البقرة: 268]

(شیطان تاسو له غریبۍ څخه وېروي او تاسو ته د بې حیایۍ حکم کوي او الله تاسو سره له خپل جانب نه د مغفرت او فضل وعده کوي او الله پراخه فضل والا، ښه پوه دی). [البقرة سورت: ایت 268].

نو مؤمن په یاد راولي چې الله –سبحانه و تعالی- په خپل قول سره د پراخې مهربانۍ وعده کړې ده:

﴿مَّن ذَا ٱلَّذِي يُقۡرِضُ ٱللَّهَ قَرۡضًا حَسَنٗا فَيُضَٰعِفَهُۥ لَهُۥٓ أَضۡعَافٗا كَثِيرَةٗۚ وَٱللَّهُ يَقۡبِضُ وَيَبۡصُۜطُ وَإِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ٢٤٥﴾ [البقرة: 245]

(څوك دی هغه کس چې الله ته قرض ورکوي، قرضِ حسنه، نو هغه (الله) به د هغه لپاره دا (قرض) زيات کړي په ډېرو زياتولو سره، او الله تنګي راولي او (هغه) پراخي راولي، او تاسو به خاص هغه ته بېرته ورګرځول کېږئ). [البقرة سورت: ايت 245]،

او د الله -سبحانه وتعالی- دغه قول په ياد راولي چې- :

﴿... قُلۡ إِنَّ ٱلۡفَضۡلَ بِيَدِ ٱللَّهِ يُؤۡتِيهِ مَن يَشَآءُۗ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٞ٧٣﴾ [آل عمران: 73]

[(اې نبي!) ته ووايه: بېشکه فضل د الله په لاس کې دی، چا ته چې وغواړي هغه ورکوي او الله پراخی والا دی، ښه پوه دی]. [آل عمران سورت: ايت 73]؛

نو هغه له خپل مال څخه خرچ کوي او خپل رب ته قرض ورکوي، په دې باور وي چې الله –تبارک و تعالی- د هغه بدله به بيا په دواړو جهانونو کې ورکوي، نو برکتونه او رحمتونه به وربانديې نازليږي، او د پراخوونکي الله چې د مهربانۍ او سخاوت ذات دی خپل پراخ احسان به هغه باندې خپور کړي.

د وېريدونکو اوښکې ...

مؤمن د خپلې ګناه او خطاګانو لوی والی يادوي؛ نو غمونه يې وربانديې هجوم راوړي، او او زړه يې سوځي، او د څواکمن ذات له وېرې يې له سترګو اوښکې روانېږي؛ نو د الله –عزوجل- دغه وينا په ياد راولي:

﴿...وَرَحۡمَتِي وَسِعَتۡ كُلَّ شَيۡءٖۚ ...﴾ [الأعراف: 156]

(او زما رحمت هر شی راګېر کړی دی). [الأعراف سورت: ايت 156]

، او د الله -سبحانه وتعالی- دغه قول چې- :

﴿.. إِنَّ رَبَّكَ وَٰسِعُ ٱلۡمَغۡفِرَةِۚ ...﴾ [النجم: 32]

(بېشکه ستا رب د بخښنې وسيع کوونکی دی). [النجم سورت: ايت 32].

نو هغه خپله توبه او رجوع کول الله –عزوجل- ته اعلانوي او هيله لري چې هغه -سبحانه و تعالی- يې د خپل پدې وينا کې شامل کړي:

﴿إِلَّا مَن تَابَ وَءَامَنَ وَعَمِلَ عَمَلٗا صَٰلِحٗا فَأُوْلَٰٓئِكَ يُبَدِّلُ ٱللَّهُ سَيِّـَٔاتِهِمۡ حَسَنَٰتٖۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ٧٠﴾ [الفرقان: 70]

(مګر هغه کس چې توبه وباسي او ایمان راوړي او نیك عمل وکړي، نو دغه کسان دي چې الله به د دوی بدی په نېکۍ سره بدلې کړي او الله له ازله ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی). [الفرقان سورت: ایت 70]،

د پرښتو د دعا احساس کوي:

﴿... رَبَّنَا وَسِعۡتَ كُلَّ شَيۡءٖ رَّحۡمَةٗ وَعِلۡمٗا فَٱغۡفِرۡ لِلَّذِينَ تَابُواْ وَٱتَّبَعُواْ سَبِيلَكَ وَقِهِمۡ عَذَابَ ٱلۡجَحِيمِ ٧﴾ [غافر: 7]

(اې زمونږه ربه! ته د رحمت په لحاظ سره هر شي ته رسېدلی یې، نو ته هغو کسانو ته بخښنه وکړې چې توبه یې ایستلې ده او ستا د لارې پیروي یې کړې ده او ته دوی د دوزخ له عذاب نه وساته). [غافر سورت: ایت 7]،

توبه د هغه د زړه سوځیدنه او د هغه د روح درد له مینځه وړي، او الله –سبحانه و تعالی- هغه به د هغه خلکو څخه وګرځوي چې توبه کوونکي او پاکوونکي دي، بیا به هغه ته تر مرګ پورې ثبات او استقامت ورکړي ، بیا به یې د نعمتونو جنتونو ته راستون کړي، بیا به واوري:

﴿إِنَّ هَٰذَا لَرِزۡقُنَا مَا لَهُۥ مِن نَّفَادٍ ٥٤﴾ [ص: 54]

(بېشکه دا خامخا زمونږ داسې رزق دی، چې ده لره هېڅ خلاصېدل نشته). [ص سورت: ا۞ت 54].

پیغامونه..

او زمونږ پراخوونکی رب –تبارک و تعالی-؛ هغه ذات دی چې د هغه رحمت ټول مخلوقات یې راګیر کړي دي.

﴿... رَبُّكُمۡ ذُو رَحۡمَةٖ وَٰسِعَةٖ ...﴾ [الأنعام: 147]

(ستاسو رب د پراخه رحمت والا دی). [الأنعام سورت: ایت 147].

الله د خپلو بندګانو په دین کې پراخي راوړې ده، او د هغوی څخه يې تنګی او حرج لرې کړی دی، او هغه د ناروغ، مسافر، بوډاګانو او نور هغه کسان چې عذرونه لري اساني راوړې ده، نو هغه –سبحانه و تعالی- پر دوی باندې څه ندي مکلف کړي چې دوی يې نشي برداشت کولی؛

﴿...لَا تُكَلَّفُ نَفۡسٌ إِلَّا وُسۡعَهَاۚ ...﴾ [البقرة: 233]

(هیڅوک هم مکلف کولی نشي مګر د هغه له وَس سره سم). [البقرة سورت: ایت 233]

، او که ځمکه چا باندې تنګه شي؛ نو الله –عزوجل- ځمکه خپلو بندګانو لپاره پراخه کړې ده؛

﴿... وَأَرۡضُ ٱللَّهِ وَٰسِعَةٌۗ ...﴾ [الزمر: 10]

(او د الله ځمکه پراخه ده). [الزمر سورت: ایت 10]

. او ترټولو پراخه ډالۍ چې الله –سبحانه و تعالی- يې خپل مخلوق ته ورکوي هغه: صبر دی، او هغه –صلی الله علیه وسلم- په صحیح حدیث کې فرمايلي: «وَمَنْ يَتَصَبَّرْ يُصَبِّرْهُ اللَّهُ، وَمَا أُعْطِيَ أَحَدٌ عَطَاءً خَيْرًا وَأَوْسَعَ مِنَ الصَّبْرِ» "او څوک چې صبر وکړي، الله به هغه ته صبر ورکړي، او هیچا ته د صبر څخه غوره او پراخه ډالۍ نه ده ورکړل شوې". [بخاري روايت کړی- او دا د هغه لفظ دی - او مسلم هم روايت کړی].

صبر د عبادت په ټولو چارو کې شامل دی؛ په طاعت کې صبر، په نافرمانۍ کې صبر، او د الله – سبحانه و تعالی- په تقديراتو صبر، نو ژوند ټول صبر دی تر هغه پورې چې موږ ټول د هغه –عزوجل- سره ملاقات وکړو.

حسن البصري -رحمه الله- فرمايي: "صبر: د خیر له خزانو څخه یوه خزانه ده، چې الله هغه نه ورکوي مګر خپل د قدر وړ بنده ته يې ورکوي".

اې هغه ذات چې له نا امیده کېدو وروسته د مخلوق مرسته کوي

په هغو خلکو رحم وکړه چې د فقر لاسونه يې اوږده کړي دي

هغوی دې بغیر له سبب څخه په پراخ روزي باندې عادت کړي دي

پرته له ښایسته هیلي چې د هغه خوا ته يې پراخې کړې دي

اې الله .. اې د پراخی ورکړې څښتنه! زمونږ هر يو ته د هغه له غوښتنې څخه ډیر ورکړه؛ ته پر هر څیز باندې څواکمن يې.

-

67

## الرَّقِـيبُ )لوی ساتونکی (ذات -جل جلاله-

ابن الجوزي -رحمه الله- فرمايلي: "څوک چې خپل باطن سم کړي؛ د هغه د مهربانۍ خوشبويي به خوره شي، او زړونه به د هغه د نیکمرغۍ په خپريدو سره ډک شي، نو پر باطن باندې زيار وباسئ، ځکه چې د هغه په فاسديدو سره د انسان ظاهري اصلاح ته ګټه نه رسوي". ابو حفص النيسابوري -رحمه الله- فرمايي: "که ته خلکو سره کيناستې، خپل زړه او نفس ته نصيحت کوونکی اوسه، او پر تا باندې د دوی راغونډيدل تا مغرور نکړي؛ ځکه چې دوی ستا ظاهر ګوري، او الله ستا باطن څاري". الله لره تر ټولو لوړ مقام هغه دی: چې مؤمن د خپل رب -جل و علا- د څارنې احساس وکړي، او دا چې الله د هغه څارنه کوي، الله د خپل لوړ ذات په ستاینه کې فرمايي:

﴿... إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبٗا١﴾ [النساء: 1]

(بېشکه الله پر تاسو باندې ښه ساتونکی (نګهبان) دی). [النساء سورت: ايت 1].

زمونږ رب –سبحانه و تعالی- څارونکی او خبردار دی په هغه څه چې سينو پټ کړي دي، او هغه ساتونکی دی، چې هيڅ شی له هغه څخه پټ نه دی.

او زمونږ رب په هغه څه پوه دی چې په ضميرونو کې دي، د پټو رازونو شاهد دی او د سترګو پر پټو شيانو شاهد دی، او د هر نفس په کړنو باندې قايم دی.

او زمونږ رب د بنده ګانو د عملونو او کړنو څارونکی دی.

هغه څارونکی او ساتونکی دی، هر هغه څه چې حفظوي له ياده نباسي، د مخلوقاتو ساتنه يې کړې، او هغه يې په غوره ترتيب او خورا بشپړ تدبير سره ترسره کوي.

او هغه د افکارو څارونکی دی، ترڅو ملاحظه کړي چې فعلونه او غړي څه ترسره کوي

﴿....وَمَا يَعۡزُبُ عَن رَّبِّكَ مِن مِّثۡقَالِ ذَرَّةٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فِي ٱلسَّمَآءِ وَلَآ أَصۡغَرَ مِن ذَٰلِكَ وَلَآ أَكۡبَرَ إِلَّا فِي كِتَٰبٖ مُّبِينٍ ٦١﴾ [يونس: 61]

(او ستا له رب نه په ځمکه کې او نه په اسمان کې د ذرې په اندازه (شی) هم نه پټېږي او نه له دې نه زيات وړوکی شی او نه له دې نه زيات غټ مګر په واضحه کتاب کې دي). [يونس سورت: ايت 61]؛

او هغه –سبحانه و تعالی- د بنده د حالت او د هغه د شپې او ورځې د بدلونونو باندې پوه دی، د هغه د ښکاره او پټو کارونو باندې پوه دی، او د هغه په اقامت او سفر کې خبر دی.

نو هغه څارونکی -سبحانه و تعالی- اوري او ويني، بلکه هغه څه باندې پوهيږي چې په سينو کې پټ دي مخکې لدې چې په شونډو يې راولي، او قلمونه يې په کاغذونو وليکي.

د هغه مطلق پوهې ټول موجودات راګير کړي دي، او د هر مخلوق په اړه د هغه بشپړه پوهه؛ هيڅ شی د هغه له علم څخه انکار نشي کولی، د هغه له علم څخه هيڅ شی انحراف نه کوي، او د هغه له علم څخه هيڅ شی نه ورکيږي، د غايب غيبيدل له هغه –سبحانه و تعالی- څخه پوښلی ندي، او پټ څيز له لوی ذات څخه پټيدلی نشي، پټې خبرې د هغه په نيز واضحې دي، او راز د هغه په نيز ښکاره دی، او پټ څيز د هغه په نيز روښانه دی.

بريالی شو..

په المستدرک کې راغلي: يو سړی رسول الله -صلى الله عليه وسلم- ته راغی؛ وېې ويل: اې د الله رسوله! ماته يو جامع سورت ولوله؟ نو رسول الله -صلى الله عليه وسلم- دا ورته ولوسته: (کله چې ځمکه وخوځولی شي). تر دې چې هغه يې پای ته

ورساوه، سړي وويل: قسم په هغه ذات چې ته يې په حقه رالیږلی يې! زه به هيڅکله پر دې باندې څه زيات نکړم.

بيا هغه سړی ولاړ، نو رسول الله -صلى الله عليه وسلم- وفرمايل: «أَفْلَحَ الرُّوَيْجِلُ» رويجل (سَړکی) بريالی شو. [حاكم او ذهبي صحيح کړی]. او په "مسند امام احمد" کې د صعصعة بن معاوية رضي الله عنه حديث دی چې هغه: رسول الله -صلى الله عليه وسلم- ته راغی؛ هغه ورته دا ولوسته:

﴿فَمَن يَعۡمَلۡ مِثۡقَالَ ذَرَّةٍ خَيۡرٗا يَرَهُۥ۝٧ وَمَن يَعۡمَلۡ مِثۡقَالَ ذَرَّةٖ شَرّٗا يَرَهُۥ۝٨﴾ [الزلزلة: 7-8]

(نو هغه څوك چې د يوې ذرې په اندازه نيك عمل وكړي (،نو) دی به هغه ووينې. او هغه څوك چې د يوې ذرې په اندازه د شر (او بدۍ) عمل كوي (، نو) دی به هغه ووينې). [الزلزلة سورت: ايت 7-8]

، هغه وويل: "دا ماته كافي ده! زه پروا نه لرم چې پرته لدی څخه څه وا نورم". [حسن  دی. ارناووط]. يو آيت چې له انسان څخه فقيه جوړوي او خپل رب ته يې نږدې كوي، هر كله چې دغه آيت تلاوت كړي او عملي يې كړي:

﴿... إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبٗا۝١﴾ [النساء: 1]

((بېشكه الله پر تاسو باندې ښه ساتونكى (نګهبان) دى). [النساء سورت: ايت 1].

نو مؤمن پوهيږي چې الله – تبارک و تعالی - په هر څه کې د هغه څارونکی او شاهد دی؛ مونږ هغه وينو چې حتا د خپلې ساه اخيستلو څارنه کوي، او خپل کار د خپل رب لپاره خالصوي، او په هر څه کې الله څاري .. د خپل رب د څارنې احساس کوي؛ نو په همدې ترتيب سره د احسان مقام ته ورسيد۞

﴿قُلۡ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحۡيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ۝١٦٢﴾ [الأنعام: 162]

(ته ووايه: بېشكه زما لمونځ او زما قرباني او زما ژوند او زما مرګ خاص د الله رب العلمين لپاره دي). [الأنعام سورت: ايت 162].

علماوو ويلي دي: له غوره طاعتونو څخه: تل او هر وخت د الله څارنې ته توجه كول دي.

د الله مرسته:

هر څومره چې ستا په ژوند کې د الله – سبحانه و تعالی – څارنه شتون ولري؛ د الله مرسته به درسره وي.

نو د خپل مالک د طاعت څخه مخکې، او په طاعت کې، او په مباح کارونو کې، او د نافرمانۍ په وخت کې خپل مولا وڅاره:

نو د طاعت څخه مخکې؛ د نیت په څارنه او اصلاح کولو کې یې وي؛ د هغه – صلی الله علیه وسلم- د وینا پر اساس چې فرمايي: «وَإِنَّمَا لِكُلِّ امْرِئٍ مَا نَوَى» "او هر چا لپاره د هغه د نیت پر اساس بدله ورکول کیږي". [بخاري روایت کړی].

او په طاعاتو کې؛ دا چې د الله څارنې ته دوام ورکړي، او د هغه لپاره خالص وي.

اما په مباح کارونو کې؛ د ادب په مراعتولو، او د نعمتونو په شکر ویستلو باندې ترسره کیږي.

او د نافرمانۍ په وخت کې؛ د الله پر وړاندې جرات او د هغه له حدودو څخه تجاوز و نکړي، نو مؤمن ډیر ژر خپل رب ته په توبه، استغفار او د ګناه په پرېښولو سره ورګرځي.

﴿۞ وَسَارِعُوٓاْ إِلَىٰ مَغۡفِرَةٖ مِّن رَّبِّكُمۡ ...﴾ [آل عمران: 133]

(او تاسو له یو بل نه تلوار کوئ هغه (مغفرت او) بخښنې ته چې د خپل رب له جانبه ده). [آل عمران سورت: ایت 133].

که ته په دې حالاتو کې الله –سبحانه و تعالی- څارونکی وګڼې؛ حاصل به داشي چې: د سینې پراخې، او د سترګو یخوالی به تاته حاصل شي.

پټه خبره ...

کله چې الله –عزوجل- وفرمایيل:

﴿...إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبٗا ١﴾ [النساء: 1]

(بېشکه الله پر تاسو باندې ښه ساتونکی (نګهبان) دی). [النساء سورت: ایت 1]،

او فرمايي:

﴿... وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ رَّقِيبٗا﴾ [الأحزاب: 52]

(او الله دی په هر شي باندې ښه نګران). [الأحزاب سورت: ايت 52]؛

نو هغه مور ته په ځانګړي ډول خطاب کوي، او مور ته وايي: اې زما بنده! ايا ته فکر کوې چې که له خلکو څخه د خپلو ګناهونو په پټولو کې بريالی شوې، نو په دې کار کې به زما څخه هم وژغورل شې؟!

دا خبره په ځانګړې توګه په داسې وخت کې يوه ستره خبره ده؛ په کوم وخت کې چې فتنې ډيرې شوي دي، او هغې ته رسيدل اسانه شوي دي.

ويل شوي دي چې: د ځان جوړونې ترټولو پياوړی عامل: "د الله څارنه ده"، او د ځان د تباهۍ تر ټولو پياوړی عامل: "د خلکو څارنه ده".

که کومه ورځ يوازې له ځانه سره وي، داسې مه وايه ... چې زه يوازې يم، ليکن ووايه زه څارونکی لرم

او فکر مه کوه چې الله به يو ساعت له تا څخه غافل وي ... او نه دا چې هغه څه چې له هغه څخه پټ دي غايبيږي

اې الله! مور له تا څخه ستا په څارونکي نوم غوښتنه کوو: مور له خپلو دوستانو څخه وګرځوه، او له ستا څخه په پټه او ښکاره کې د ويرې غوښتنه کوو، او په فقر او شتمنۍ کې ستا څخه د اعتدال، او د غوسې او رضايت په وخت کې د عدالت غوښتنه کوو.

68

## الحَسـِيبُ )د ټولو لپاره کافي (ذات -جل جلاله-

جعفر الصادق -رحمه الله- فرمايلي: "زه هغه چاته حيران يم چې ډاريږي او د هغه – تعالى- وينا ته رجوع نکوي:

﴿... حَسۡبُنَا ٱللَّهُ وَنِعۡمَ ٱلۡوَكِيلُ ١٧٣﴾ [آل عمران: 173]

(زمونږ لپاره الله کافي دی او هغه ښه کار جوړوونکی دی). [آل عمران سورت: ايت 173]

؛ ما اوريدلي چې الله د هغې وروسته ويلي دي:

﴿فَٱنقَلَبُواْ بِنِعۡمَةٖ مِّنَ ٱللَّهِ وَفَضۡلٖ لَّمۡ يَمۡسَسۡهُمۡ سُوٓءٞ ...﴾ [آل عمران: 174]

(نو دوی د الله له جانبه په نعمت او فضل سره بېرته وګرځېدل، پداسې حال کې چې ونه رسېده دوی ته هېڅ تکليف). [آل عمران سورت: ايت 174]

. زه غمجن کس ته حيران يم چې ځنګه د الله تعالی دې وينا ته پام نکوي:

﴿... لَّآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنتَ سُبۡحَٰنَكَ إِنِّي كُنتُ مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ٨٧﴾ [الأنبياء: 87]

(نشته هېڅ لايق د عبادت مګر ته يې، ته پاك يې، بېشکه هم زه له ظالمانو څخه يم). [الأنبياء سورت: ايت 87]؛

ما اوريدلي چې الله د هغې وروسته ويلي دي:

﴿فَٱسۡتَجَبۡنَا لَهُۥ وَنَجَّيۡنَٰهُ مِنَ ٱلۡغَمِّۚ وَكَذَٰلِكَ نُـۨجِي ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٨٨﴾ [الأنبياء: 88]

(نو مونږ د هغه دعا قبوله کړه او مونږ هغه له غم نه خلاص کړ او همداسې مونږ مومنانو ته نجات ورکوو). [الأنبياء سورت: ايت 88].

او زه هغه کس ته حيران يم چې دوکه شوی وي، ځنګه د الله تعالی دې وينا ته رجوع نکوي:

﴿... وَأُفَوِّضُ أَمۡرِيٓ إِلَى ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ بَصِيرُۢ بِٱلۡعِبَادِ ٤٤﴾ [غافر: 44]

(او زه خپل کار الله ته سپارم، بېشکه الله (خپلو) بنده ګانو لره ښه ليدونکی دی). [غافر سورت: ايت 44]؛

ما اوريدلي چې الله ويلي دي: (نو الله هغه د دوی د مکرونو له بديو نه بچ وساته). [غافر سورت: ايت 45]".

کله چې له تا څخه چالونه راتاو شي، او ستا لارې تنګې شي، او اميدونه ختم شي، او رسۍ پرې شي؛ نو ته ووايه: زما لپاره الله کافي دی او هغه ښه استازی دی!

که څمکه د پراخۍ با وجود ستا لپاره تنګه شي، او ستا نفس د هغه څه په خاطر تنګ شي څه يې چې بار کړي دي؛ نو غږ وکړه چې: زما لپاره الله بسنه کوي او هغه ښه استازی دی! پدې وخت کې به مدد راشي، او د هغه مرسته او خلاصون به ژر را ورسيږي.

﴿فَٱنقَلَبُواْ بِنِعۡمَةٖ مِّنَ ٱللَّهِ وَفَضۡلٖ لَّمۡ يَمۡسَسۡهُمۡ سُوٓءٞ ...﴾ [آل عمران: 174]

(نو دوی د الله له جانبه په نعمت او فضل سره بېرته وګرځېدل، په دې حال کې چې ونه رسېده دوی ته هېڅ تکليف). [آل عمران سورت: ايت 174].

او الله –سبحانه و تعالی- خپل ځان خپلو بندګانو ته ورپېژني چې هغه: د هغوی سره حساب کوونکی دی، نو هغه –سبحانه و تعالی- وفرمايل:

﴿... وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ حَسِيبٗا ٦﴾ [النساء: 6]

(وَكَفَىٰ بِاللَّهِ حَسِيبًا) (او الله کافي دی، چې ښه حساب اخيستونکی دی). [النساء سورت: ايت 6]،

او فرمايلي يې دي:

﴿... إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٍ حَسِيبًا ٨٦﴾ [النساء: 86]

(بېشکه الله د هر شي ښه حساب کوونکی دی). [النساء سورت: ايت 86].

نو زموږ رب - عزوجل – هغه: د ټولو لپاره کافي دی.

او زموږ رب - سبحانه و تعالی – د ټول مخلوق لپاره بسنه کوي په هر څه کې چې دوی ورته اړتيا لري؛ په ګټو کې، او د ضرر په دفع کولو کې.

او د هغه کفايت:

1- د ټول مخلوق لپاره عمومي کفايت؛ د هغوی په پيدا کولو، روزۍ ورکولو، او د هر هغه څه په وړاندې کولو سره چې د هغوی لپاره پيدا شوي دي،

2- ﴿قَالَ رَبُّنَا ٱلَّذِيٓ أَعۡطَىٰ كُلَّ شَيۡءٍ خَلۡقَهُۥ ثُمَّ هَدَىٰ۝٥٠﴾ [طه: 50]

3- (زمونږ رب هغه ذات دی چې هر شي ته يې د ده (موافق) شکل ورکړی دی، بيا يې لار ښودلې ده). [طه سورت: ايت 50]

4- . 2- د هغه ځانګړې بسنه د خپلو موحدو بندګانو لپاره؛ په بريا او ځواکمنتيا سره، او په هر هغه څه له منځه وړل چې دوی ورڅخه کرکه لري،

5- ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ حَسۡبُكَ ٱللَّهُ وَمَنِ ٱتَّبَعَكَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ۝٦٤﴾ [الأنفال: 64]

6- (اې نبي! تا لپاره او ستا پيروي کوونکو مومنانو لپاره الله کافي دی). [الأنفال سورت: ايت 64]

7- . او زمونږ رب – سبحانه و تعالی- له ټولو مخلوقاتو څخه به د خپلو اعمالو حساب اخلي په هغه ورځ کې چې دوی بېرته هغه ته ورګرځول کيږي، او د هغې بدله به ورکوي، له هغه نه هيڅ شی پټ نه دی، او ځمکه او اسمان کې له هغه څخه د يوې ذرې په اندازه څه شی پوښول شوی نه دی.

8- ﴿... وَإِن كَانَ مِثۡقَالَ حَبَّةٖ مِّنۡ خَرۡدَلٍ أَتَيۡنَا بِهَاۗ وَكَفَىٰ بِنَا حَٰسِبِينَ ۝٤٧﴾ [الأنبياء: 47]

او که دا (عمل) د اورې د دانې په وزن وي مونږ به هغه راوړو او هم مونږ حساب کوونکي بس يو [الأنبياء سورت :47].

په سختو حالاتو کې ستا پالنه کوي..

څوک چې له الله پرته په بل څه وويرول شي او ووايي: الله زما لپاره بسنه کوي! هغه به وژغوري او بريا به ور په برخه کړي.

ابراهيم -عليه السلام- په اور کې واچول شو؛ هغه وويل: زمونږ لپاره الله کافي دی او هغه تر ټولو ښه استازی دی! الله ورته هغه يخ او د امن ځای وګرځاوه.

زموږ رسول - صلی الله علیه وسلم - او د هغه صحابه؛ کله چې دوی د کفارو لښکرو او د بت پرستانو لښکرو لخوا وګواښل شول؛ هغوی وویل:

﴿...وَقَالُواْ حَسۡبُنَا ٱللَّهُ وَنِعۡمَ ٱلۡوَكِيلُ ۝١٧٣ فَٱنقَلَبُواْ بِنِعۡمَةٖ مِّنَ ٱللَّهِ وَفَضۡلٖ لَّمۡ يَمۡسَسۡهُمۡ سُوٓءٞ وَٱتَّبَعُواْ رِضۡوَٰنَ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ ذُو فَضۡلٍ عَظِيمٍ ۝١٧٤﴾ [آل عمران: 173-174]

(زمونږ لپاره الله کافی دی او هغه ښه کار جوړونکی دی. نو دوی د الله له جانبه په نعمت او فضل سره بېرته راوګرځېدل، په داسې حال کې چې ونه رسېد دوی ته هېڅ تکلیف او دوی د الله د رضامندۍ تابع شول او الله د بېخي لوی فضل والا دی). [آل عمران سورت: ایتونه 173-174].

نو الله د ټولو لپاره کافي دی: هغه ذات چې د سهار په وخت کې ورته د لاسونو ورغوي پورته کېږي، او لاسونه د اړتیا په وخت کې، او سترګې په مصیبتونو کې، او په حوادثو کې پوښتنې.

زورور د هغه په لاس کې دي، کمزوري د هغه په لاس کې دي، ستا روغتیا د هغه په لاس کې ده، ستا ښځه د هغه په لاس کې ده، او هر هغه څوک چې ستا تر لاس لاندې دي، ستا روزي د هغه په لاس کې ده، پاچاهان د هغه په لاس کې دي، ظالم د هغه په لاس کې دی، او ستا دښمن د هغه په لاس کې دی.

ته یوازې دا کار وکړه چې هغه ته پناه ویسه او غږ وکړه: حسبنا الله ونعم الوکیل! زموږ لپاره الله کافي دی او هغه خورا غوره استازی دی!

ستا شعار او جامه ...

"حسبنا الله ونعم الوکیل!" دا: د هر مصیبت نه د خلاصېدو کیلي ده، او نېکبختۍ ته دروازه ده.

﴿فَٱنقَلَبُواْ بِنِعۡمَةٖ مِّنَ ٱللَّهِ وَفَضۡلٖ لَّمۡ يَمۡسَسۡهُمۡ سُوٓءٞ وَٱتَّبَعُواْ رِضۡوَٰنَ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ ذُو فَضۡلٍ عَظِيمٍ ۝١٧٤﴾ [آل عمران: 174]

(نو دوی د الله له جانبه په نعمت او فضل سره بېرته راوګرځېدل، په داسې حال کې چې ونه رسېد دوی ته هېڅ تکلیف او دوی د الله د رضامندۍ تابع شول او الله د بېخي لوی فضل والا دی). [آل عمران سورت: ایت 174]،

که له ناروغۍ څخه ووېریدلې، او تجارت کې دې تاوان وکړ، یا له فقر څخه، او یا د خپل اولاد څخه، او یا د ظالم یا دښمن څخه ووېرېدلې، نو ووایه: حسبي الله ونعم الوکیل، زما لپاره الله کافي دی او هغه غوره ذات دی چې زه پرې توکل کوم! که کومه ښځه د ولادت په وخت کې یا د خپل ماشوم یا خپل ځان په اړه خفګان ورته ورسیږي، نو باید ووایي: «حسبي الله ونعم الوکیل»، زما لپاره الله کافي دی او هغه غوره استازی دی"، د ابن السني څخه په مرفوع ډول او ابو داود څخه په موقوف ډول روایت دی، او د دې سند تصحیح شعیب ارناووط کړې ده: «مَنْ قَالَ: حِينَ يُصْبِحُ وَحِينَ يُمْسِي: حَسْبِيَ اللهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ، وَهُوَ رَبُّ العَرْشِ العَظِيمِ سَبْعَ مَرَّاتٍ؛ كَفَاهُ اللهُ مَا أَهَمَّهُ مِنْ أَمْرِ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ». چا چې وویل: کله چې سهار او ماښام وربانديې راشي: (حَسْبِيَ اللهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ، وَهُوَ رَبُّ العَرْشِ) (زما لپاره الله کافي دی چې له هغه پرته بل معبود نشته هغه باندې زما توکل دی، او هغه د ستر عرش څښتن دی)، اووه ځلې؛ الله به د دې کس د دنیا او آخرت چارو لپاره کفایت وکړي.

ستا د شعار معنا دا ده:

اې ربه! تاته مې پناه دروړه، ستا څخه مې د حمایت غوښتنه وکړه، او له تا نه مې د هغه څه په خاطر مرسته وغوښته چې زه هغه څخه وېرېږم، او تا باندې مې توکل وکړ؛ ته زما لپاره کافی یې، ته زما امید یې، ته زما پټنځای او پناه ګاه یې!

﴿أَمَّن يُجِيبُ ٱلۡمُضۡطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكۡشِفُ ٱلسُّوٓءَ ...﴾ [النمل: 62]

(بلکې هغه ذات (غوره دی) چې د مجبور ( او عاجز) سوال قبلوي، کله چې دغه (الله) وبلي او هغه تکلیف (او سختي) لرې کوي). [النمل سورت: ایت 62].

او کله چې ته پوه شي چې الله: هغه کافي ذات دی، او هغه حسابکوونکی دی؛ یوازې به هغه ته خپلې اړتیاوې پورته کړې.

او هغه حسابکوونکی، کافي او ساتونکی دی ... او د بنده لپاره هر وخت کې کافي دی

ددې لپاره چې لاره امن وي:

کله چې مؤمن په دې پوه شي: چې سبا به الله له ده سره د لویو او کوچنیو حساب کوي، او له ده څخه به د نقیر او قطمیر (د کجورې دننه تار او پردې) غوښتنه کوي،

او دا چې هيڅ شی له هغه څخه پټ نه دی، او د مخلوق حساب به حسابکوونکي ذات لپاره ستونزمن نه وي؛ نو بنده به تل چمتو وي، او هغه به په ټولو حالاتو کې د الله - عزوجل - څارنه په نظر کې نیسي.

﴿ثُمَّ رُدُّوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ مَوۡلَىٰهُمُ ٱلۡحَقِّۚ أَلَا لَهُ ٱلۡحُكۡمُ وَهُوَ أَسۡرَعُ ٱلۡحَٰسِبِينَ ٦٢﴾ [الأنعام: 62]

(بيا به دوی ورګرځولی شي الله ته چې د دوی حق مالك دی، اګاه شئ! د حکم (او فيصلې کولو) ټول اختيار خاص د هغه دی، او هغه تر ټولو ژر حساب کوونکی دی). [الأنعام سورت: ایت 62].

د امام احمد په مسند کې راغلي: عايشه -رضی الله عنها- وايي: ما له رسول الله - صلى الله عليه وسلم- څخه اوريدلي چې په ځينو لمونځونو کې به يې ويل: «اللَّهُمَّ! حَاسِبْنِي حِسَابًا يَسِيرًا»، «اې الله! زما سره اسانه حساب وکړه» ما وويل: اې د الله رسوله! اسانه حساب څه شی دی؟

قال: «أَنْ يَنْظُرَ فِي كِتَابه فيتجاوز عَنْهُ؛ إِنَّهُ مَنْ نُوقِشَ الحِسَابَ يَوْمَئِذٍ -يَا عَائِشَةُ!- هَلَكَ» هغه وفرمايل: «کوم چې د هغه په عمل نامه کې وګوري د ګناهونو څخه تېر شي؛ اې عايشې! په هغه ورځ کې که د چا سره حساب وشي هغه هلاک شو». [صحيح حديث دی]

او له عمر بن الخطاب -رضي الله عنه- څخه روايت دی چې هغه وويل: «د خپل ځان حساب وکړئ مخکې له دې چې تاسو سره حساب وشي، او خپل عملونه وزن کړئ مخکې له دې چې په تاسو باندې وزن شي، او د لوې ننداري لپاره تیاری ونیسئ؛ په هغه ورځ به تاسو پېش کړی شئ او ستاسو هيڅ شی به پټ نه وي".

قرطبي ويلي: ځينو صالحانو ويلي دي: دا هغه کتاب دی، چې ستا ژبه د هغه قلم دی، ستا د خولې لاړې د هغه رنګ دی، او ستا د بدن غړي د هغه کاغذ دی، تا خپلې ملايکې ته ويلي، هغه کې څه نه زيات شوي او نه کم شوي دي، او کله چې ته د هغه څخه انکار وکړې، ستا په وړاندې به له خپل ځانه څخه ګواه وي؛

﴿ٱقۡرَأۡ كِتَٰبَكَ كَفَىٰ بِنَفۡسِكَ ٱلۡيَوۡمَ عَلَيۡكَ حَسِيبٗا ١٤﴾ [الإسراء: 14]

(ته خپل کتاب ولوله، نن ورځ ستا په خلاف هم ستا خپل نفس کافي دی، حساب کوونکی). [الإسراء سورت: ایت 14]".

په آخرت کې داسې يوه محکمه ده چې حقونه په کې بيرته ګرځول کيږي؛ په هغه ځای کې به نه درهم وي او نه دينار، مګر حساب به په نيکيو او عملونو وي، په داسې حال کې چې ته به نيکيو ته ډير محتاج اوسې.

او د توکو د ارزښت له مخې د هغه اندازه ټاکل کيږي! اوسپنه په ټن، ميوه.. په کيلو، سره زر.. په ګرام، او الماس.. په قيراط، مګر د آخرت اعمال به ... په ذره باندې وي؛

﴿فَمَن يَعۡمَلۡ مِثۡقَالَ ذَرَّةٍ خَيۡرٗا يَرَهُۥ٧ وَمَن يَعۡمَلۡ مِثۡقَالَ ذَرَّةٖ شَرّٗا يَرَهُۥ٨﴾ [الزلزلة: 7-8]

(نو هغه څوك چې د يوې ذرې په اندازه نېك عمل وكړي (،نو) دى به هغه ووينى. (او هغه څوك چې د يوې ذرې په اندازه د شر (او بدۍ) عمل كوي (، نو) دى به هغه ووينى). [الزلزلة سورت: ايتونه 7-8].

نو خبردار د نورو د حقونو څخه ځان وساته! ځکه چې هغه حلال نه دي؛ حتا که رسول الله -صلی الله عليه وسلم- يې په اړه هغه چاته فيصله وکړي چې له خپل ورور څخه په استدلال کې چالاک وي او ښه استدلال وکړي، ځکه چې له هغه –صلی الله عليه وسلم- څخه په صحيح ډول روايت شوي دي چې فرمايلي يې دي: «إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ، وَإِنَّكُمْ تَخْتَصِمُونَ إِلَيَّ، وَلَعَلَّ بَعْضَكُمْ أَنْ يَكُوْنَ أَلحَنَ بِحُجَّتِهِ مِنْ بَعْضٍ، وَأَقْضِيَ لَهُ عَلَى نَحْوِ مَا أَسْمَعُ. "په حقيقت کې، زه انسان يم، او تاسو ما ته خپله دعوا راوړئ، او ستاسو ځينې ممکن د نورو په پرتله ډير نرم او ښه استدلال ولري، نو زه د هغه په حق کې د هغه د وينا مطابق فيصله وکړم. فَمَنْ قَضَيْتُ لَهُ مِنْ حَقِّ أَخِيهِ شَيْئًا؛ فَلَا يَأْخُذْ، فَإِنَّمَا أَقْطَعُ لَهُ قِطْعَةً مِنَ النَّارِ» که چيرته ما د هغه د ورور له حق څخه د هغه لپاره څه فيصله کړې وي؛ هغه دې يې نه اخلي، ځکه ګويا کې ما د هغه لپاره د اور يوه ټوټه ورکړه". [د بخاري او مسلم روايت دی].

اې الله! ته مونږ ته بسنه کوې او همدا کافي ده.. زمونږ لپاره اوسه او زمونږ پر ضد مه کيږه، مونږ او زمونږ مور او پلار او ټولو مسلمانانو ته بخښنه وکړه.

69

## الشَّهِيدُ )هر وخت، حاضر او ناظر (ذات -جل جلاله-

الله د خپل (الشهيد) په نوم په دی وينا سره د خپل ځان ستاينه وکړه:

﴿... إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ شَهِيدٌ ١٧﴾ [الحج: 17]

(بېشکه الله په هر شي باندې ګواه دی). [الحج سورت: ايت 17].

د الله (الشهيد) نوم د الله په کتاب کې اتلس ځلې ذکر شوی دی.

زمونږ رب – سبحانه و تعالی- هغه ذات دی چې له هغه څخه هيڅ شی پټ نه دی، او هغه د هر څه ساتونکی دی، او د هغه پوهې هر څه راګير کړي دي.

زمونږ رب –سبحانه و تعالی- په حق باندې شاهدي ورکوي، له مظلوم سره انصاف کوي، ظالم ته سزا ورکوي، پټ او ښکاره اوازونه اوري، او ټول واړه او لوی موجوداتويني، او د هغه پوهې هر څه راګير کړي دي.

او زمونږ رب – سبحانه و تعالی- هغه ذات دی چې د خپلو بندګانو لپاره او هغوی باندې ګواه دی څه چې دوی يې کوي، ځکه چې د هغه ګواهي د ګواهيو اساس دی، د ګواهيو سرچينه او لويه ګواهي ده، نو کله چې هغه د –سبحانه و تعالی- په نيز هيڅ شی پټ نه دی؛ هغه به ضرور هغه باندې ګواه وي، يعنې: په حقايقو باندې پوه دی، او د هغې په ليدلو باندې پوه دی؛ ځکه چې له هغه –عزوجل- څخه هيڅ شی پټ نه دی.

د هغه –سبحانه و تعالی- له عظمت څخه دا دي چې: هغه د خپل ځان لپاره د وحدانيت او عدالت پلې کولو باندې ګواهي ورکوي:

﴿شَهِدَ ٱللَّهُ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَأُوْلُواْ ٱلۡعِلۡمِ قَآئِمَۢا بِٱلۡقِسۡطِۚ ...﴾ [آل عمران: 18]

(الله ګواهي ورکړې ده د دې خبرې چې يقينًا نشته هېڅ لايق د عبادت مګر هم دی دی او ملايکو او د علم خاوندانو، (هم) په داسې حال کې چې دی په انصاف سره قايم دی). [آل عمران سورت: ايت 18]

. او د هغه –سبحانه و تعالی- ګواهي د مومنانو په ريښتينولی باندې ده کله چې هغوی د هغه يووالی ادا کړي، او د هغه ګواهي خپلو رسولانو او ملايکو لپاره ده:

﴿... وَأَرۡسَلۡنَٰكَ لِلنَّاسِ رَسُولٗاۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدٗا ٧٩﴾ [النساء: 79]

(او (ای نبي) ته مونږه د خلقو لپاره رسول لیږلی يې او کافي دی الله (د) ګواه (په حيث). [النساء سورت: ايت 79]

. او د هغه – سبحانه و تعالی- ګواهي د هغه مظلوم لپاره ده چې د ظالم او تجاوز کوونکي په مقابل کې هيڅ ګواه او مرستندوی و نه لري، او دغه ګواهي: د مرستې او ملاتړ تقاضا کوي، الله پاک فرمايلي:

﴿... إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ شَهِيدٌ ١٧﴾ [الحج: 17]

(بېشکه الله په هر شي باندې ګواه دی). [الحج سورت: ايت 17].

او بندګان د هغه په وحدانيت ګواهي ورکوي، او هغه ته پر بندګۍ سره اقرار کوي:

﴿وَإِذۡ أَخَذَ رَبُّكَ مِنۢ بَنِيٓ ءَادَمَ مِن ظُهُورِهِمۡ ذُرِّيَّتَهُمۡ وَأَشۡهَدَهُمۡ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡ أَلَسۡتُ بِرَبِّكُمۡۖ قَالُواْ بَلَىٰ شَهِدۡنَآۚ ...﴾ [الأعراف: 172]

(او کله چې ستا رب د ادم له اولادې نه د هغو له شاګانو نه د هغوی اولاد راواخيست او دوی يې په خپلو ځانونو باندې ګواه جوړ کړل، (او ورته وې ويل:) ايا زه ستاسو رب نه يم؟ دوی وويل: ولې نه! مونږ (د دې) ګواهي کوو). [الأعراف سورت: ايت 172].

حقيقت:

د بندګانو ګواهي او څارنه وخت پورې محدود دي، او بايد متوقف شي؛ بنده ويده کيږي، غافل کيږي، ضعيف کيږي او بيا مري، مګر د الله – تبارک و تعالی- څارنه تلپاتې او بشپړه ده، هغه ژوندی دی او نه مري،

﴿... وَكُنتُ عَلَيۡهِمۡ شَهِيدٗا مَّا دُمۡتُ فِيهِمۡۖ فَلَمَّا تَوَفَّيۡتَنِي كُنتَ أَنتَ ٱلرَّقِيبَ عَلَيۡهِمۡۚ وَأَنتَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ شَهِيدٌ ١١٧﴾ [المائدة: 117]

(او زه په دوی باندې ګواه وم تر څو پورې چې زه په دوی کې موجود وم، نو کله چې تا زه واخیستلم (، نو) هم ته له همېشه پر دوی نګهبان وې او ته په هر شي باندې ګواه یې). [المائدة سورت: ایت 117].

د الله –سبحانه و تعالی- ګواهي تر ټولو لویه ګواهي ده، ځکه د هغه ګواهي د حضور او لیدلو ګواهي ده، او له هغه څخه د حقیقت هیڅ اړخونو څخه هیڅ شی پټ ندی؛ لکه څنګه چې په انسانانو کې پیښیږي، او د هغه چا لپاره چې الله ګواهي ورکړي د هغه لپاره کافي ده، او د نورو ګواهۍ ته اړتیا نلري؛

﴿قُلْ أَيُّ شَيْءٍ أَكْبَرُ شَهَٰدَةًۖ قُلِ ٱللَّهُۖ شَهِيدُۢ بَيْنِي وَبَيْنَكُمْۚ وَأُوحِيَ إِلَيَّ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانُ لِأُنذِرَكُم بِهِۦ وَمَنۢ بَلَغَۚ أَئِنَّكُمْ لَتَشْهَدُونَ أَنَّ مَعَ ٱللَّهِ ءَالِهَةً أُخْرَىٰۚ قُل لَّآ أَشْهَدُۚ قُلْ إِنَّمَا هُوَ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ وَإِنَّنِي بَرِيٓءٌ مِّمَّا تُشْرِكُونَ﴿١٩﴾﴾ [الأنعام: 19]

(ته ووایه: د ګواهۍ په لحاظ کوم شی تر ټولو لوی دی؟ ته ووایه: الله دی، (هغه) زما او ستاسو په منځ کې ګواه دی او ما ته دا قرآن وحي شوی دی، د دې لپاره چې په دې (قرآن) سره زه تاسو ووېروم او هغه څوك چې دا ورته رسي، ایا تاسو په رښتیا (د دې خبرې) ګواهي کوئ چې یقینًا له الله سره نور معبودان (هم) شته؟ ته ووایه: زه (د دې) شاهدي نه کوم، ته ووایه: بېشکه همدا خبره ده چې همغه یو حق معبود دی او بېشکه زه له هغه څه نه بې زاره یم چې تاسو یې شریکوئ). [الأنعام سورت: ایت 19].

دا ګواهي یو له هغو سترو شیانو څخه ده چې په دې سره د مخالفینو د باطل او درواغو سره مخ کیږو:

﴿وَيَقُولُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَسْتَ مُرْسَلٗاۚ قُلْ كَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدَۢا بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ وَمَنْ عِندَهُۥ عِلْمُ ٱلْكِتَٰبِ﴿٤٣﴾﴾ [الرعد: 43]

(او کافران شوي خلق وایي: ته رسول نه یې، ته (ورته) ووایه: زما او ستاسو په منځ کې د ګواه په ډول الله ښه کافي دی او هغه څوك (هم) چې له هغه سره د کتاب علم دی). [الرعد سورت: ایت 43].

### د پیش کیدولو ورځ..

او کله چې بندګان د قیامت په ورځ د الله –سبحانه و تعالی- پر وړاندې حاضر شي، نو الله به د هغوی سره په داسې حال کې حساب وکړي چې د هغوی د کړنو څخه

باخبر دی، د دوی په پټو رازونو باندې پوهېږي او د هغوی خبرې او کارونه یې شمیرلي دي؛

﴿... إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ شَهِيدٌ﴾ [الحج: 17]

(بېشکه الله په هر شي باندې ګواه دی). [الحج سورت: ایت 17]

. مؤمن په دې پوهېږي چې عملونه به یې له الله سره نه ضایع کېږي،

﴿قُلۡ مَا سَأَلۡتُكُم مِّنۡ أَجۡرٖ فَهُوَ لَكُمۡۖ إِنۡ أَجۡرِيَ إِلَّا عَلَى ٱللَّهِۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ شَهِيدٞ﴾ [سبأ: 47]

(ته (دوی ته) ووایه: هغه چې ما له تاسو نه څه اجرت غوښتی وي، نو هغه دې تاسو لپاره وي، زما اجر نشته مګر په الله باندې دی او هغه په هر شي باندې ښه ګواه (او ښه خبردار) دی). [سبأ سورت: ایت 47].

مګر کافر؛ د هغه کار نه ضایع کیږي؛ او که هغه یې هېر کړي، نو الله حساب کړی دی:

﴿... أَحۡصَىٰهُ ٱللَّهُ وَنَسُوهُۚ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ شَهِيدٌ ۝٦﴾ [المجادلة: 6]

(الله هغه محفوظ کړي دي او دوی هغه هېر کړي دي او الله په هر شي باندې ښه شاهد (ګواه) دی). [المجادلة سورت: ایت 6].

ستا وضعیت..

څوک چې پوه شي چې د هغه رب –سبحانه و تعالی- د هغه پر ظاهر او باطن باندې ګواه دی؛ نو هغه به وشرمیږي چې الله یې په نافرمانۍ او یا په هغه څه کې چې هغه یې نه خوښوي وګوري، او کله چې څوک پوه شي چې الله هغهویني هغه به ترټولو غوره عمل او عبادت ترسره کړي، او په دې کارونو کې به اخلاص وکړي تر دې پورې چې د احسان مقام ته ورسیږي، او دا د طاعت لوړ مقام دی؛ هغه مقام چې په اړه یې محبوب -صلی الله علیه وسلم- وفرمایل: «أَنْ تَعْبُدَ اللهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ، فَإِنَّ لَمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَإِنَّهُ يَرَاكَ» «د الله عبادت په داسې شکل وکړه چې ګویا ته یې وینې، او که ته یې نشې لیدلی هغه خو هرومرو تا ویني». [بخاري او مسلم روایت کړی].

که کومه ورځ یوازې له ځانه سره وې داسې مه وایه

چې زه يوازې يم، ليکن ووايه چې پر ما څارونکی شته
داسې فکر مه کوه چې الله به يو ساعت غافل وي
او نه هغه څه چې له هغه څخه پټ دي غايبيږي

او د مؤمنانو موقف: دا دی چې په ياد راولي چې الله – سبحانه و تعالی- د هغوی ټولو کارونه ګوري؛ که کوچنی وي او يا لوی وي؛ او الله – جل و علا - فرمايي:

﴿... وَمَا يَعۡزُبُ عَن رَّبِّكَ مِن مِّثۡقَالِ ذَرَّةٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فِي ٱلسَّمَآءِ وَلَآ أَصۡغَرَ مِن ذَٰلِكَ وَلَآ أَكۡبَرَ إِلَّا فِي كِتَٰبٖ مُّبِينٍ ٦١﴾ [يونس: 61]

(او ستا له رب څخه نه په ځمکه کې او نه په اسمان کې د ذرې په اندازه (شی) هم نه پټېږي او نه له دې نه زيات وړوکی شی او نه له دې نه زيات غټ مګر په واضحه کتاب کې دي). [يونس سورت: ايت 61].

رسول الله -صلى الله عليه وسلم- معاذ يمن ته ولېږه او ورته ويې وويل: اې د الله رسوله ما ته نصيحت وکړه! هغه وفرمايل: «عَلَيْكَ بِتَقْوَى اللهِ مَا اسْتَطَعْتَ، وَاذْكُرِ اللهَ - عز وجل- عِنْدَ كُلِّ حَجَرٍ وَشَجَرٍ..» "څومره چې کولی شي د الله څخه وويريږه، او د هرې ډبرې او ونې په ليدلو سره د الله –عزوجل- ذکر وکړه". [ صحيح حديث دی. احمد روايت کړی].

ابن القيم -رحمه الله- فرمايلي: "د ذکر مداومت په لاره، کور، اقامت، سفر، او په هر ګوټ کې د بنده لپاره د قيامت په ورځ د ګواهيانو زياتوالی شميرل کيږي"؛

﴿يَوۡمَئِذٖ تُحَدِّثُ أَخۡبَارَهَا ٤﴾ [الزلزلة: 4]

(په دغې ورځې کې به دا ځمکه خپلې خبرې (حالات) بيانوي). [الزلزلة سورت: ايت 4]،

﴿... وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدٗا ٧٩﴾ [النساء: 79]

(او کافي دی الله (د) ګواه (په حيث). [النساء سورت: ايت 79].

او ويل شوي دي: هغه څوک چې الله په خپلو فکرونو کې وځاري؛ الله به هغه د غړو په حرکاتو کې وساتي.

بيا که ته هغو اوو کسانو ته وګورې چې د قيامت په ورځ به الله هغوی تر سيوري لاندې راولي؛ ته به وګورې چې په دوی کې مشترک څيز: دا دی چې دوی ايمان درلود چې الله په دوی باندې ګواه دی، او دوی خپل حالت ته وکتل او د هغه عبادت يې کاوه لکه څنګه چې دوی هغه ويني، نو دوی دغه مقام ترلاسه کړ.

اې الله چې ګواه يې! موږ له تا څخه غواړو چې موږ ته بخښنه وکړې، پر مونږ رحم وکړې او موږ معاف کړې؛ اې تر ټولو ډېر رحم کوونکيه!

70

## الحَقُّ )حق (ذات -جل جلاله-

فکر کوونکو ته يې خپل دلايل واضح کړل، ليدونکو ته يې خپل ثبوتونه وښودل، او خپلې نخښانې يې عالميانو ته بيان کړلې، د ضد کوونکو عذرونه يې پرې کړل، او د منکرينو دليلونه يې رد کړل؛ نو د ربوبيت نښانې روښانه شوې، او د الوهيت نښانې واضحې شوې، او د شک ستونزې او تيارې ليرې شولې،

﴿فَذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمُ ٱلۡحَقُّۖ...﴾ [يونس: 32]

(نو دغه الله ستاسو په حقه رب دی). [يونس سورت: ايت 32]،

﴿فَتَعَٰلَى ٱللَّهُ ٱلۡمَلِكُ ٱلۡحَقُّۗ ....﴾ [طه: 114]

(نو اوچت دی الله حق بادشاه دی). [طه سورت: ايت 114]،

﴿ثُمَّ رُدُّوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ مَوۡلَىٰهُمُ ٱلۡحَقِّۚ ....﴾ [الأنعام: 62]

(بيا به دوی ورګرځولی شي الله ته چې د دوی حق مالك دی). [الأنعام سورت: ايت 62].

زموږ رب – سبحانه و تعالی - په خپل ذات، نومونو او صفتونو او کړنو کې حق دی، د هغه په هکله هيڅ شک نشته، هغه په حق سره معبود دی، او د هغه پرته بل هيڅ په حق معبود نشته.

هغه – عزوجل- حق دی، او د حق پرته بل هر څه باطل او ګمراهي ده، او که څوک له الله پرته بل معبود رابلي، هغه باطل او درواغ رابللي دي؛

﴿ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡحَقُّ وَأَنَّ مَا يَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ هُوَ ٱلۡبَٰطِلُ وَأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡكَبِيرُ ٦٢﴾ [الحج: 62]

(دغه په دې سبب چې بېشکه الله، هم دی حق دی او دا چې بېشکه هغه چې دوی يې له هغه (الله) نه غیر بولي، همغه باطل دی او دا چې بېشکه الله، هم دی ډېر اوچت، ډېر لوی دی). [الحج سورت: ایت 62]

. زموږ رب –سبحانه و تعالی- حق دی، د هغه خبرې حق دي، عمل يې حق دی، ملاقات يې حق دی، رسولان يې حق دي، کتابونه يې حق دي، دین يې حق دی، او یوازې د هغه عبادت کول حق دي، او هر هغه څه چې هغه ته په حق سره منسوب شوي وي حق دي؛

﴿فَتَعَٰلَى ٱللَّهُ ٱلۡمَلِكُ ٱلۡحَقُّۗ ...﴾ [طه: 114]

(نو اوچت دی الله حق بادشاه دی). [طه سورت: ایت 114]

په صحیحینو کې د عبدالله بن عباس -رضي الله عنهما- څخه روایت دی چې د رسول الله -صلى الله عليه وسلم- په دعا کې راغلي دي: هرکله چې هغه د شپې په پای کې د لمانځه لپاره پاڅیده، نو داسې به يې ویل: «اللَّهُمَّ! أَنْتَ الحَقُّ، وَوَعْدُكَ الحَقُّ، وَلِقَاؤُكَ حَقٌّ، وَقَوْلُكَ حَقٌّ، وَالجَنَّةُ حَقٌّ، وَالنَّارُ حَقٌّ، وَمُحَمَّدٌ حَقٌّ، وَالسَّاعَةُ حَقٌّ». «اې الله! ته حق يې، ستا وعده حقه ده، ستا ملاقات حق دی، ستا خبره حقه ده، جنت حق دی، اور حق دی، محمد حق دی، او قیامت حق دی».

مبارزه..

او دا د حق او باطل تر منځ ابدي مبارزه ده؛ څوک چې له الله سره وي، نو هغه په ښکاره حق باندې دی، او په دنیا او آخرت کې هغه لره بریا ده،

﴿هُوَ ٱلَّذِيٓ أَرۡسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلۡهُدَىٰ وَدِينِ ٱلۡحَقِّ لِيُظۡهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِۦ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡمُشۡرِكُونَ ٣٣﴾ [التوبة: 33]

(دی همغه ذات دی چې خپل رسول يې په هدايت او حق دين سره رالېږلی دی، د دې لپاره چې هغه (الله) دا (دين) په نورو ټولو دينونو باندې غالب کړي اګر که مشرکان (دا کار) بد ګڼي). [التوبة سورت: ايت 33]

. او مومنان د حق پيروان دي

﴿ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱتَّبَعُواْ ٱلۡبَٰطِلَ وَأَنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّبَعُواْ ٱلۡحَقَّ مِن رَّبِّهِمۡۚ كَذَٰلِكَ يَضۡرِبُ ٱللَّهُ لِلنَّاسِ أَمۡثَٰلَهُمۡ ٣﴾ [محمد: 3]

(دغه په دې سبب چې يقيناً کافران شويو کسانو د باطل پيروي کړې ده او يقيناً هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی د خپل رب له جانبه د حق پيروي کړې ده، همداسې الله خلقو ته د دوی مثالونه (او احوال) بيانوي). [محمد سورت: ايت 3]،

هغوی يو بل ته د حق په نيولو باندې توصيه کوي:

﴿وَٱلۡعَصۡرِ ١ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَفِي خُسۡرٍ ٢ إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَتَوَاصَوۡاْ بِٱلۡحَقِّ وَتَوَاصَوۡاْ بِٱلصَّبۡرِ ٣﴾ [العصر: 1-3]

(قسم دی په عصر (مازيګر، يا زمانهچې ببشکه يقيناً انسان په زيان (او تاوان) کې دی. غير له هغو کسانو نه چې ايمان يې راوړی دی او نېک عملونه يې کړي دي او يو بل ته يې د حق (دين) وصيت کړی دی، او يو بل ته يې د صبر وصيت کړی دی). [سورة العصر]

. ځوک چې د حق قول ردوي وروسته لدې چې ورته بيان شي: هغه متکبر او پر خپل ځان ظلم کوونکی دی؛ په صحيح حديث کې هغه – صلی الله عليه وسلم – فرمايلي: «الكِبْرُ: بَطَرُ الحَقِّ، وَغَمْطُ النَّاسِ» «تکبر: له حق څخه انکار، او د خلکو سپکاوی دی". [مسلم روايت کړی].

لاره چېرته ده؟

ډېری خلک لاهم د حقيقت په لټه کې دي ترڅو حق لوري ته يې لارښوونه وکړي:

ددوی له جملې څخه: ځيني داسې کسان دي چې خپل دننه د فطرت غږ باندې تکيه کوي،

﴿... فِطۡرَتَ ٱللَّهِ ٱلَّتِي فَطَرَ ٱلنَّاسَ عَلَيۡهَاۚ ...﴾ [الروم: 30]

(د الله هغه فطرت لره چې په هغه يې خلق پيدا کړي دي). [الروم سورت: ايت 30].

او ددوی له جملې څخه: ځيني داسې کسان دي چې د "سببيت" اصولو باندې اعتماد لري؛ کوم چې وايي: هر صنعت بايد يو جوړونکی ولري، او هره حادثه بايد يو پيدا کوونکی ولري، او د هر نظم تر شا بايد يو تنظيم کوونکی شتون ولري.

ددوی له جملې څخه: ځيني داسې کسان دي چې دغه مسله يې د "حساب" مسئله ګرځولې ده، او دوی د شک او شبهې خلک دي، نو دوی دې نتيجې ته رسيدلي چې د دوی د ژوند لپاره او د ژوند څخه وروسته خورا ډاډمن څيز دا دی چې: په الله او آخرت، قيامت او جزا باندې ايمان ولري؛ لکه څرنګه چې د دوی شاعر وايي:

نجومي او طبيب دواړو وويل ... مړي نه راژوندي کيږي، ما ورته وويل: دواړه متوجې شئ

که ستاسې خبره رښتيا شي نو زه به تاواني نه يم ... او که زما خبره رښتيا شي نو تاسې دواړه په تاوان کې ياستئ

له شک سره ژغورل نشته، الله –سبحانه وتعالی- فرمايلي:

﴿۞ قَالَتۡ رُسُلُهُمۡ أَفِي ٱللَّهِ شَكّٞ فَاطِرِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ ...﴾ [إبراهيم: 10]

(ايا د الله په باره کې شك دى، چې د اسمانونو او ځمکې پيدا کوونکی دی؟). [إبراهيم سورت: ايت 10]

. ددوی له جملې څخه: ځيني داسې کسان دي چې لا هم حيران او مشرکان دي – الله ته پناه غواړو له کمښته وروسته له زياتوالي څخه، او له ګمراهۍ څخه وروسته له هدايته-.

﴿۞ أَفَمَن يَعۡلَمُ أَنَّمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَ ٱلۡحَقُّ كَمَنۡ هُوَ أَعۡمَىٰٓۚ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ١٩﴾ [الرعد: 19]

(ايا نو هغه څوك چې پر دې پوهيږي چې ښېشکه هغه (قرآن) چې تا ته د خپل رب له جانبه نازل کړى شوى دى، حق دى، د هغه چا په شان دى چې هغه ړوند دى؟ يقينًا همدا خبره ده چې نصيحت د خالصو عقلونو والا اخلي). [الرعد سورت: ايت 19]

. حقیقت دا دی چې: په هر هغه څه چې دلیل دلالت وکړي چې تا الله –سبحانه و تعالی- ته نږدې کوي هغه حق دی، او هر هغه څه چې تا له الله څخه لرې کوي هغه باطل دی،

﴿قُلۡ إِن كُنتُمۡ تُحِبُّونَ ٱللَّهَ فَٱتَّبِعُونِي يُحۡبِبۡكُمُ ٱللَّهُ ...﴾ [آل عمران: 31]

[(اې نبي!) ته ووایه: که چېرې یئ تاسو چې له الله سره مینه کوئ، بیا نو زما اتباع وکړئ، الله به له تاسو سره مینه وکړي]. [آل عمران سورت: ایت 31].

ابن تیمیه ویلي: "د انسان صلاح یوازې دا نه ده چې په حق پوه شي ترڅو چې مینه ورسره ونه کړي، او هغه وغواړي او پیروي یې وکړي".

او مصیبت دا نه دی: چې د یو چا په خپل ځان، مال، او اولاد باندې مصیبت راشي، بلکې لوی مصیبت، او هغه (کسر) ماته چې نه جبران کیږي: دا دی چې د یو انسان دین ته مصیبت راشي! او شک د یقین ځای ونیسي؛ او باطل ورته د حق په توګه، او ښه د منکر په توګه، او منکر ورته د ښه په توګه ښکاره شي.

د ژغورنې درې ته ښکته شه!

هغه کوم لوی کار، سخته ستونزه او لویه اندیښنه ده چې د الله رب العزت لپاره ستونزمنه وي؟ الله حق دی، د هغه خبره حق ده، او د هغه ژمنه حق ده.

نو د بنده لپاره لازمه ده چې خپل رب باندې ښه ګمان وکړي، پر هغه توکل وکړي، د هغه د فضل انتظار وکړي، او له خپل مولا څخه د مهربانۍ غوښتنه وکړي، او د هغه په عهدونو وفا وکړي. له هغه پرته بل هیڅوک ګټه نشي رسولی، یوازې هغه د ضرر مخه نیولی شي، او په هر نفس د هغه مهرباني ده، او په هر حرکت کې د هغه حکمت دی، او په هر ساعت کې خلاصون دی، د شپې وروسته سهار راولي او له وچکالۍ وروسته باران راولي.

او الله د ریښتیني مؤمن دعا نه ردوي؛ ځکه چې الله –جل وعلا- حق دی، او وعده یې حق ده؛ او الله –سبحانه و تعالی- فرمایلي:

﴿وَقَالَ رَبُّكُمُ ٱدۡعُونِيٓ أَسۡتَجِبۡ لَكُمۡۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَسۡتَكۡبِرُونَ عَنۡ عِبَادَتِي سَيَدۡخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ ٦٠﴾ [غافر: 60]

(او ستاسو رب فرمايي: تاسو ما وبلئ چې زه ستاسو دعا قبوله کړم. بېشکه هغه کسان چې زما له عبادت نه تکبر کوي، ژر ده چې دوی به دوزخ ته ننوځي، په داسې حال کې چې خوار او ذليله به وي). [غافر سورت: ايت 60].

نو؛ ستا ټولې ستونزې په حل کېدو دي، ستا ټول دردونه په رغيدو دي، ستا ټول اميدونه په واقعيت، او ستا ټولې اوښکې به په مسکا بدلې شي ... ډاډه اوسه!

نو له بېوزلۍ وروسته شتمني ده، له تنديې وروسته خړوبيدل دي، له جلا کېدو وروسته يو ځای کيدل دي، له هجران وروسته وصال دی، او له پرېکون وروسته په اړيکه کيدل دي، الله –تبارک و تعالی- فرمايلي:

﴿فَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِۖ إِنَّكَ عَلَى ٱلۡحَقِّ ٱلۡمُبِينِ ٧٩﴾ [النمل: 79]

(نو ته خاص په الله باندې توکل وکړه، بېشکه ته په ښکاره حق باندې يې). [النمل سورت: ايت 79].

اې الله! موږ ته حق د حق په توګه وښيه او مونږ د هغه پيروان وګرځوه، او موږ ته باطل د باطل په توګه وښيه او موږ له هغه څخه لرې وساته.

71

## المُبِينُ )د هر څخه ښکاره کوونکی (ذات -جل جلاله-

د خپل مبين مالک د دروازې خوا ونيسه، او په خپل پياوړي او پوه مالک باندې عزت ترلاسه کړه، او د هغه د اطاعت په واسطه هغه ته توسل وکړه؛ نو هغه به په خپلو نعمتونو او مهربانيو باندې تا ونازوي.

که ته د هغه اطاعت وکړې، هغه به تا ته عزت او غوره والی درکړي، او که تا هغه څه چې تير شوي دي ضايع کړل، هغه به پر تا رحم وکړي او تا ته به مهلت درکړي،

او كه چيرته تا توبه او رجوع وكړه تا قبلوي، او كه تا نافرماني او بد چلند وكړ هغه به ستا پرده وكړي.

زړونه ژوند نشي كولى مګر د هغه د راتګ په هوا سره، او اوښكې به راښكته نشي مګر د هغه د هجران له ډاره او يا د هغه د وصال په اميد سره.

او هغه چارښتياويلي: "په الله قسم! هغه لاره به څومره وحشتناكه وي كوم چې الله د هغې امنيت نه وي ساتلى، او هغه لاره به څومره ګمراه كوونكى وي كوم چې هغه يې لارښوونكى نه وي".

موږ څومره د مبين الله د دروازې لارې ته اړتيا لرو؛ ترڅو هغه ته د ورتلو لاره روښانه شي.

دلته راځو د الله –عزوجل- د نوراني نومونو څخه يو نوم چې: (المبين) – عزوجل- دى بيانوو:

نو الله – تبارك و تعالى- د خپل ځان په تعريف كې فرمايلي دي:

﴿يَوۡمَئِذٖ يُوَفِّيهِمُ ٱللَّهُ دِينَهُمُ ٱلۡحَقَّ وَيَعۡلَمُونَ أَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡحَقُّ ٱلۡمُبِينُ٢٥﴾ [النور: 25]

(په دغې ورځ كې به الله دوى ته د دوى حقه (لايقه) بدله پوره وركړي او دوى به پوه شي چې بېشكه الله، هم هغه ښكاره (او ثابت) حق دى). [النور سورت: ايت 25].

او د شي بيان: د هغې ښكاره او واضح كيدل دى.

زموږ رب – جل و علا – ټولو مخلوقاتو ته ښكاره دى، خپل وجود او وحدانيت كې څرګند، او دا چې د هغه په الوهيت او نومونو او صفتونو كې هيڅ شريک نشته.

او زموږ رب –سبحانه و تعالى- چې خپلو بندګانو ته يې د هدايت لاره روښانه كړې ده، او هغه عملونه يې ورته روښانه كړي چې په كولو يې د ثواب مستحق كيږي، او هغه عملونه چې په كولو يې د عذاب مستحق كيږي، او د قيامت په ورځ به له منافقانو څخه شک لرې شي؛ هغه كسان چې په دنيا كې يې په كومو وعدو اخته وو.

د بيان صفت: د الله –تبارک و تعالى- يو له سترو صفتونو څخه دى.

او بیان په دوه ډوله راغلي:

لومړی: هغه څه چې د الله –عزوجل- په خپلو نازل کړی شوو کتابونو کې په خپلو پيغمبرانو نازل کړي دي، او هغه څه چې خپلو رسولانو او انبیاوو ته يې وحې کړي دي:

﴿... قَدْ جَآءَكُم مِّنَ ٱللَّهِ نُورٌ وَكِتَٰبٌ مُّبِينٌ ١٥﴾ [المائدة: 15]

(یقینًا تاسو ته د الله له جانبه رڼا او روښانه کتاب راغلی دی). [المائدة سورت: ایت 15]

. دويم: د هغو نښو سره چې پيدا کړي يې دي هغه باندې دلالت کوي،

﴿إِنَّ فِي خَلْقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱخْتِلَٰفِ ٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ لَءَايَٰتٍ لِّأُوْلِي ٱلْأَلْبَٰبِ ١٩٠﴾ [آل عمران: 190]

(بېشکه د اسمانونو او ځمکې په پیدا کولو او د شپې او ورځې په تلو راتلو کې خامخا د خالص عقل خاوندانو لپاره ډېرې نښې دي). [آل عمران سورت: ایت 190].

او په هر څه کې هغه لره يوه نښه شتون لري ... چې پدې دلالت کوي چې هغه يو دی

لکه څرنګه چې قرآن ښکاره کوونکی و؛ همدارنګه د الله رسولانو –علیهم الصلاة و السلام- هم ښکاره کوونکي وو، ځکه چې الله - عزوجل - د نوح په ژبه وويل: (زه نه يم مګر ويره ورکوونکی ښکاره).

﴿إِنْ أَنَا۠ إِلَّا نَذِيرٌ مُّبِينٌ ١١٥﴾ [الشعراء: 115]

او هغه –عزوجل- خپل پيغمبر ته امر وکړ چې ووايي:

﴿إِن يُوحَىٰٓ إِلَيَّ إِلَّآ أَنَّمَآ أَنَا۠ نَذِيرٌ مُّبِينٌ ٧٠﴾ [ص: 70]

(ما ته وحي نه کېږي مګر د دې چې بېشکه همدا خبره ده چې زه ښکاره وېروونکی یم). [ص سورت: ایت 70].

او الله –سبحانه و تعالی- په خپلو کتابونو او په دې دنيا کې د خپلو پيغمبرانو په ژبه بندګانو ته ويلي دي چې په هغه څه کې چې دوی په دې دنيا کې اختلاف کړي و د قيامت په ورځ به دوی ته څرګند شي؛ هغه –سبحانه و تعالی- وفرمايل:

﴿... وَلَيُبَيِّنَنَّ لَكُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ مَا كُنتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ ﴿٩٢﴾﴾ [النحل: 92]

(او خامخا ضرور به د قیامت په ورځ تاسو ته بیانوي هغه څه چې تاسو به په هغه کې اختلاف کاوه). النحل سورت: ایت 92].

او چا ته چې حق څرګند شي او بیا له هغه څخه مخ واړوي. د هغه جزا دردناک عذاب دی، هغه -تبارک و تعالی- وفرمایل:

﴿فَإِن زَلَلْتُم مِّنۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْكُمُ ٱلْبَيِّنَـٰتُ فَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٢٠٩﴾﴾ [البقرة: 209]

(او خامخا ضرور به د قیامت په ورځ تاسو ته بیانوي هغه څه چې تاسو به په هغه کې اختلاف کاوه). [البقرة سورت: ایت 209].

همدارنګه چا چې حق پټ کړ؛ ځان یې د لعنت لوري ته وړاندې کړ؛ الله –سبحانه و تعالی- فرمایلي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَآ أَنزَلْنَا مِنَ ٱلْبَيِّنَـٰتِ وَٱلْهُدَىٰ مِنۢ بَعْدِ مَا بَيَّنَّـٰهُ لِلنَّاسِ فِى ٱلْكِتَـٰبِ أُو۟لَـٰٓئِكَ يَلْعَنُهُمُ ٱللَّهُ وَيَلْعَنُهُمُ ٱللَّـٰعِنُونَ ﴿١٥٩﴾﴾ [البقرة: 159]

(یقینًا کوم خلق چې هغه څه پټوي چې مونږ نازل کړي دي، چې هدایت او ښکاره دلیلونه دي، له دې نه پس چې مونږ هغه په کتاب کې خلقو ته بیان کړي دي، دغه خلق (چې دي)، الله پر دوی لعنت کوي اولعنت ویونکي پر دوی لعنت وایي). [البقرة سورت: ایت 159].

د عقل خاوندان:

نو الله ښکاره (او ثابت) کوونکی- سبحانه و تعالی – خپل دلالت متفکرینو[1]ته روښانه کړ، او لیدونکو ته یې خپل ثبوتونه څرګندې کړي.

---

[1] د الله أهل الثناء والمجد»: کتاب لیکوال وایي: «مؤمن داسې چا ته اړتیا نه لري چې هغه ته د الله –سبحانه و تعالی- د وجود تاکید وکړي، او یا هغه ته د ایمان اړتیا شرحه کړي، مګر دلته ځیني خبرې او ګواهیاني او اعترافونه د ځینو پوهانو او د فکر د خاوندانو او د فلسفي مشرانو وړاندې کوم: یو مشهور امریکایي ارواپوه ډاکټر (هینري لینک) چې په دین کافر شوی و، او د ایمان په مقابل کې جنګیدلی و، او د الله له وجود

نړۍ ته د هغه د نښانو له جملې څخه، او د عناد کوونکو د عذرونو پرې کولو لپاره هغه – سبحانه و تعالی- فرمايي:

﴿أَمَّن جَعَلَ ٱلۡأَرۡضَ قَرَارٗا وَجَعَلَ خِلَٰلَهَآ أَنۡهَٰرٗا وَجَعَلَ لَهَا رَوَٰسِيَ وَجَعَلَ بَيۡنَ ٱلۡبَحۡرَيۡنِ حَاجِزًاۗ أَءِلَٰهٞ مَّعَ ٱللَّهِۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ٦١ أَمَّن يُجِيبُ ٱلۡمُضۡطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكۡشِفُ ٱلسُّوٓءَ وَيَجۡعَلُكُمۡ خُلَفَآءَ ٱلۡأَرۡضِۗ أَءِلَٰهٞ مَّعَ ٱللَّهِۚ قَلِيلٗا مَّا تَذَكَّرُونَ٦٢ أَمَّن يَهۡدِيكُمۡ فِي ظُلُمَٰتِ ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِ وَمَن يُرۡسِلُ ٱلرِّيَٰحَ بُشۡرَۢا بَيۡنَ يَدَيۡ رَحۡمَتِهِۦٓۗ أَءِلَٰهٞ مَّعَ ٱللَّهِۚ تَعَٰلَى ٱللَّهُ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ٦٣ أَمَّن يَبۡدَؤُاْ ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ وَمَن يَرۡزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِۗ أَءِلَٰهٞ مَّعَ ٱللَّهِۚ قُلۡ هَاتُواْ بُرۡهَٰنَكُمۡ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ٦٤﴾ [النمل: 61-64]

---

څخه منکر و، له يو اوږد او بې ساري سفر وروسته بېرته راستون شو، بيا يې وويل: چې دين: هغه دی چې پر داسې ځواک ايمان ولري چې هغه د ژوند سرچينه وي، او دغه ځواک: د الله ځواک دی، د کائناتو تدبير کوونکی، د اسمانونو پيدا کوونکی. استاد (هوش) وايي: هرځومره چې د پوهې ساحه پراخه شي، هومره د يو هوښيار خالق قاطع او قوي ثبوتونه ډيريږي، د هغه د ورتيا او احوال لرلو لپاره حد او پای نشته، ساينس پوهان، رياضي پوهانو، فلک پوهانو، او طبيعت پوهانو لاس سره يو کړ ترڅو د پوهې لوړه ودانۍ جوړه کړي، کوم چې هغه: يوازې د الله د عظمت ودانۍ ده". (هربرټ سپنسر) د "تربيه " په رساله کې تشريح کړې؛ هغه وويل: "ساينس د توهماتو او خرافاتو سره مخالف دی، مګر دين سره مخالفت نه کوي"، او هغه ځينې مثالونه وړاندې کړل؛ هغه وويل: هغه ساينس پوه چې د اوبو يو ځاڅکی ويني نو هغه به پوه شي چې دا په ځانګړي تناسب سره د اکسيجن او هايدروجن څخه جوړه شوې ده؛ او که د دې تناسب نيمايي برخه واخيستل شي نو دا به د اوبو پرته بل څه وي؛ باور پر دې دی چې د خالق عظمت، حکمت او ځواک د طبيعي نړۍ پرته خورا پياوړی دی؛ کوم چې يوازې په دې کې د اوبو يو ځاڅکی ګوري او بس!" او طبيعت پوه (سير آرتر تامسن) - مشهور سکاټلينډي ليکوال - د "ساينس او مذهب" په ټولګه کې وايي: "موږ دې خبرې باندې اقرار کوو چې: ساينس ترټولو لوی خدمت چې ترسره کړی دا دی چې: انسان يې دې مفکورې اړ کړ چې الله تر ټولو د عالي پوهې او لوړ

(بلکې هغه ذات (غوره دی) چې ځمکه يې د قرار (او ارام) ځای جوړ کړ او د هغې په مينځ کې يې نهرونه جوړ کړي دي او د دې لپاره يې پاخه لوړ غرونه پيدا کړي دي، او د دوو سمندرونو په مينځ کې يې پرده پيدا کړې ده، ايا له الله سره بل معبود شته؟ بلکې د دوی اکثره نه پوهيږي. بلکې هغه ذات (غوره دی) چې د مجبور ( او عاجز) سوال قبلوي، کله چې دغه (الله) وبلي او هغه تکليف (او سختي) لرې کوي او تاسو د ځمکې خليفه ګان جوړوي، ايا له الله سره بل معبود شته؟ تاسو ډېر لږ شانته نصيحت قبلوئ. بلکې هغه ذات (غوره دی) چې تاسو ته د وچې او سمندر په تيارو کې لاره ښيي او هغه ذات چې له خپل رحمت نه مخکې هواګانې لېږي، چې زېرى ورکوونکې وي، ايا له الله سره بل معبود شته؟ الله ډېر اوچت دی له هغو شيانو نه چې دوی يې (له الله سره) شريکوي. بلکې هغه ذات چې اول ځلې مخلوق پيدا کوي، بيا به دغه (مخلوق) بېرته ژوندی کوي او هغه ذات چې تاسو ته له اسمان او ځمکې نه روزي درکوي، ايا له الله سره بل معبود شته؟ ته (دوی ته) ووايه: تاسو خپل دليل راوړئ، که تاسو رښتيني يئ). [النمل سورت: ايتونه 61-64]،

نو پاکې دې وي هغه ذات لره چې د هغه عظمت د عارفانو (پوهانو) ذهنونه حيران کړي! پاکې دې وي هغه ذات لره چې رڼاګانو يې د لارويانو بصيرت روښانه کړی!

د ځمکې په نباتاتو کې فکر وکړه او وګوره ... هغه نښې نښانې چې بادشاه جوړې کړې دي ... د سپينوزرو چينې وګوره چې واضحه ښکاري ... په سترګو کې ګويا چې خالص سره زر دي

دا د زمردو په تنه (ساقه) کې پدې دلالت کوي ... چې يقيناً الله هيڅ شريک نلري

د آل عمران سورت په پای کې، الله –سبحانه و تعالی- د عقل خاوندانو ستاينه وکړه، کله چې دوی د هغه د کائناتو په اړه د قبلولو لپاره خپلې سترګې خلاصې کړې؛ نو دوی به په خپلو زړونو په ولاړه، ناسته، او په اړخونو الله ته رجوع وکړي، او سينې يې له ايمان څخه ډکې شولې، او الله ته يې خپل لاسونه د ريښتيني دعا او د هدايت غوښتلو لپاره پورته کړل؛ نو ددوی ځواب يې پداسې شکل سره ورکړ:

﴿فَٱسۡتَجَابَ لَهُمۡ رَبُّهُمۡ أَنِّي لَآ أُضِيعُ عَمَلَ عَٰمِلٖ مِّنكُم مِّن ذَكَرٍ أَوۡ أُنثَىٰۖ بَعۡضُكُم مِّنۢ بَعۡضٖۖ فَٱلَّذِينَ هَاجَرُواْ وَأُخۡرِجُواْ مِن دِيَٰرِهِمۡ وَأُوذُواْ فِي سَبِيلِي وَقَٰتَلُواْ وَقُتِلُواْ لَأُكَفِّرَنَّ عَنۡهُمۡ سَيِّـَٔاتِهِمۡ وَلَأُدۡخِلَنَّهُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ ثَوَابٗا مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِۚ وَٱللَّهُ عِندَهُۥ حُسۡنُ ٱلثَّوَابِ ١٩٥﴾ [آل عمران: 195]

(بېشکه زه په تاسو کې د هېڅ یو عمل کوونکي عمل نه ضایع کوم، نر وي او که ښځه، ستاسو ځینې له ځینو نورو څخه دي، نو هغه کسان چې هجرت يې کړی دی او له خپلو کورونو نه وېستل شوي دي او زما په لاره کې ورته تکلیفونه رسول شوي دي او جنګونه يې کړي دي او وژل شوي دي (نو) زه به خامخا ضرور لرې (معاف) کړم له دوی نه د دوی ګناهونه او خامخا ضرور به يې داسې جنتونو ته داخل کړم چې د هغو له لاندې وَلِې بهېږي، چې د الله له طرفه بدله ده او هم دا الله دی چې له هغه سره ښه بدله ده). [آل عمران سورت: ایت 195].

اې الله! ستا د ښکاره نوم په برکت سره، مونږ له تا څخه غوښتنه کوو: ته موږ د نعمتونو جنت ته داخل کړه، او مونږ له اور څخه وژغوره؛ اې د جهانونو ربه!

72

## المُحِيطُ )هر څیز باندې احاطه لرونکی (ذات -جل جلاله-

ابن حجر -رحمه الله- فرمايلي: «څوک چې د الله، د هغه د نومونو، صفاتو، اعمالو او قضاوتونو په اړه ډېر پوه وي؛ هغه به له هغه څخه ډېر وویرېږي او ډېر به پرهېزګار وي، او هرڅومره چې د الله په اړه پوهه کمه وي په هماغه اندازه به ویره کمه وي.

او بنده چې کله پوه شي چې الله هر څیز باندې احاطه لري؛ د هغه روح به ډاډمن شي، او اندېښنه به يې ورکه شي، او زړه به يې د احاطه کوونکي رب سره وصل شي».

الله خپلو بندګانو ته خبر ورکړ چې هغه هر څیز باندې احاطه لري؛ هغه –سبحانه و تعالی- فرمايلي:

﴿وَلِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِكُلِّ شَيۡءٖ مُّحِيطٗا١٢٦﴾ [النساء: 126]

(او خاص د الله لپاره دي هر هغه څه چې په اسمانونو کې دي او هر هغه څه چې په ځمکه کې دي او الله هر شي لره ښه راګېروونکی دی). [النساء سورت: ایت 126]

. زموږ رب –عزوجل- د هغه له علم څخه هیڅ شی پټ نه دی، نه کوچنی او نه لوی، نه ظاهري او نه باطني؛ هغه په هغه شان دی چې خپل ځان يې وصف کړی:

﴿... أَلَآ إِنَّهُۥ بِكُلِّ شَيۡءٖ مُّحِيطُۢ٥٤﴾ [فصلت: 54]

(بېشکه هغه په هر شي احاطه کوونکی دی). [فصلت سورت: ایت 54].

او د هغه احاطه کول: په ټولو حالتونو کې پوهېدل او خبرېدلو ته شامل دي]، او همدارنګه: ورټیا او له لاسه نه ورکولو ته شاملیږي، او همدارنګه: واک او فیصلې ته شاملیږي.

په "شرح الطحاویه" کې راغلي دي: دا چې هغه په هر څه باندې احاطه لري؛ هغه –سبحانه و تعالی- فرمایلي:

﴿وَٱللَّهُ مِن وَرَآئِهِم مُّحِيطُۢ ۝٢٠﴾ [البروج: 20]

(او الله د دوی له چاپېره نه راګېروونکی دی). [البروج سورت: ایت 20]،

﴿أَلَآ إِنَّهُمۡ فِي مِرۡيَةٖ مِّن لِّقَآءِ رَبِّهِمۡۗ أَلَآ إِنَّهُۥ بِكُلِّ شَيۡءٖ مُّحِيطُۢ ۝٥٤﴾ [فصلت: 54]

(بېشکه هغه په هر شي احاطه کوونکی دی). [فصلت سورت: ایت 54]،

پر مخلوقاتو باندې د هغه احاطه کول پدې معنا ندي چې: هغه د فلک په څیر دی، او دا چې مخلوقات د هغه په مقدس ذات کې دننه دي -الله تعالی د دې څخه ډېر لوړ دی-.

بلکې مطلب: د هغه عظمت احاطه کول دي، او د هغه د پوهې پراخوالی او د هغه ورټیا دي، او دا چې هغه د هغه د عظمت په تناسب د سرسی (خردل) په څیر دي؛ همدارنګه له ابن عباس -رضي الله عنهما- څخه روایت دی چې هغه ویلي: "اووه اسمانونه او اووه ځمکې او هر هغه څه چې په دوی کې دي او څه چې د دوی په منځ کې دي د رحمان ذات په لاس کې دي لکه څرنګه چې ستاسو څخه د یوه په لاس کې د سرسی (خردل) یوه دانه وي".

هغه احاطه کوونکی دی:

نو، د الله – سبحانه و تعالی- احاطه کول په خپل مخلوق باندې: یوه بشپړ احاطه ده؛ او هغوی هیڅکله تېښته نشي کولی، او هیڅوک نږدې کېدلی نشي، د هغه ځواک دوی محاصره کړي، د هغه پوهې دوی محاصره کړې، هغه د دوی نفس، ویناوې او عملونو باندې احاطه لري؛ لکه څنګه چې هغه – سبحانه و تعالی - فرمایي:

﴿... وَأَنَّ ٱللَّهَ قَدۡ أَحَاطَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عِلۡمَۢا﴾ [الطلاق: 12]

(او دا چې يقيناً الله د علم په لحاظ هر شی راګېر کړی دی). [الطلاق سورت: ايت 12].

او دا عمومي احاطه کول، د اسمانونو او ځمکې د وګړو لپاره دي او دا د رحمت احاطه ده.

مګر ځانګړې احاطه، د قهر او غضب احاطه ده او په دې کې: د نافرمانو او سرغړوونکو لپاره ګواښ دی.

او اکثراً دغه نومونه د کافرانو او منافقانو لپاره د ګواښونو او اخطارو په ځايونو کې راغلي، او هغه – سبحانه و تعالی – د هغوی په سازش او دروغو باندې ښه پوهېږي، او هغه – سبحانه و تعالی - د علم په لحاظ هغوی راګېر کړي دي، او هغوی ته په کمين (څارنه) کې دی، هغه ته بيرته راستنيدونکي دي، او هغه ته د دوی لاره ده، او له هغه –عزوجل- څخه تېښته نشي کېدلی؛ نو چيرته به وتښتي او برخليک به يې چيرته وي؟

نو هغه -سبحانه و تعالی- د کافرانو په اړه وفرمايل:

﴿.... وَٱللَّهُ مُحِيطُۢ بِٱلۡكَٰفِرِينَ﴾ [البقرة: 19]

(او الله تعالی کافرانو لره راګيرونکی دی). [البقرة سورت: ايت 19].

همدا ډول الله – عزوجل- د متکبرانو او حق پوښونکو په هکله فرمايي:

﴿وَلَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ خَرَجُواْ مِن دِيَٰرِهِم بَطَرٗا وَرِئَآءَ ٱلنَّاسِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۚ وَٱللَّهُ بِمَا يَعۡمَلُونَ مُحِيطٞ﴾ [الأنفال: 47]

(او تاسو د هغه خلقو په شان مه کيږئ چې له خپلو کورونو نه ووتل، په داسې حال کې چې تکبر کوونکي او خلقو ته ځان ښودونکي وو او دوی د الله له لارې نه (خلق) منع کوي او الله د هغو کارونو احاطه کوونکی دی چې دوی يې کوي). [الأنفال سورت: ايت 47]

. او د کافرانو او منافقانو د بد ګمانۍ او چل په هکله فرمايي:

﴿إِن تَمۡسَسۡكُمۡ حَسَنَةٞ تَسُؤۡهُمۡ وَإِن تُصِبۡكُمۡ سَيِّئَةٞ يَفۡرَحُواْ بِهَاۖ وَإِن تَصۡبِرُواْ وَتَتَّقُواْ لَا يَضُرُّكُمۡ كَيۡدُهُمۡ شَيۡـًٔاۗ إِنَّ ٱللَّهَ بِمَا يَعۡمَلُونَ مُحِيطٞ ١٢٠﴾ [آل عمران: 120]

(که چېرې تاسو ته څه ښېګڼه درورسيږي، نو هغه دوی لره خفه کوي او که چېرې تاسو ته څه بدي (تکليف) درورسيږي، نو دوی په هغې باندې خوشحالېږي او که تاسو صبر وکړئ او(د دوی له دوستۍ نه) ځان وساتئ (نو) د هغوی چل (او فريب) به تاسو ته هېڅ ضرر هم در ونه رسولی شي، بېشکه چې الله د هغو کارونو چې دوی يې کوي، احاطه کوونکی دی). [آل عمران سورت: ايت 120].

او کله چې د الله عزوجل- عذاب په کوم قوم باندې نازل شي؛ هغه به د دوی نه چاپېر شي:

﴿...وَإِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيۡكُمۡ عَذَابَ يَوۡمٖ مُّحِيطٖ ٨٤﴾ [هود: 84]

( (او بېشکه زه پر تاسو باندې د چاپېرېدونکې ورځې له عذاب نه وېرېږم). [هود سورت: ايت 84].

او د قيامت په ورځ به اور د کافرانو څخه چاپېره وي:

﴿...إِنَّآ أَعۡتَدۡنَا لِلظَّٰلِمِينَ نَارًا أَحَاطَ بِهِمۡ سُرَادِقُهَاۚ ...﴾ [الكهف: 29]

(بېشکه مونږ د ظالمانو لپاره داسې اور تيار کړی دی چې له دغو نه د هغه پردې راچاپېره شوي دي). [الکهف سورت: ايت 29].

ډاډه اوسه!

او کله چې مؤمن په دې پوه شي چې الله چاپيرونکی دی : د هغه نفس به ډاډمن شي، په خپل رب به توکل وکړي او له هغه څخه به وېره وکړي؛ نو هغه د الله مرسته نه سستوي، د هغه له رحمت څخه نه نا اميده کيږي، او د هغه د خلاصون څخه خپل اميد نه ماتوي؛ خلاصون به حتمي راځي.

هغه پوهيږي چې د کښتۍ سوري کول: د مهربانۍ لوړه مرتبه ده، او د ماشوم وژل: د رحمت لوړه مرتبه ده، او د دوو يتيمانو خزانه بندي ساتل: د وفادارۍ لوړه مرتبه ده؛

﴿وَكَيۡفَ تَصۡبِرُ عَلَىٰ مَا لَمۡ تُحِطۡ بِهِۦ خُبۡرٗا ٦٨﴾ [الكهف: 68]

(او ته به څنګه پر هغه کار صبر وکړې چې د علم په لحاظ تا د هغهٔ احاطه نه ده کړې). [الکهف سورت: ایت 68].

مګر د ځیزونو لپاره وختونه دي، او مقدور شیان عمر لري؛ هغه باید دغه موده بشپړه کړي تر څو چې هغه راشي، او د الله سره هر څه یو ټاکلی وخت لري:

﴿...وَإِن تَصۡبِرُواْ وَتَتَّقُواْ لَا يَضُرُّكُمۡ كَيۡدُهُمۡ شَيۡـًٔاۗ إِنَّ ٱللَّهَ بِمَا يَعۡمَلُونَ مُحِيطٞ ١٢٠﴾ [آل عمران: 120]

(او که تاسو صبر وکړئ او(د دوی له دوستۍ نه) ځان وساتئ (نو) د هغوی چل (او فریب) به تاسو ته هېڅ ضرر هم در ونه رسولی شي، بېشکه چې الله د هغو کارونو چې دوی يې کوي، احاطه کوونکی دی). [آل عمران سورت: ایت 120].

الله –عزوجل- د هر څه لپاره اندازه ټاکلې ده، او هغه نیته لري چې د هغې څخه تجاوز نکوي، او وخت لري چې د هغه څخه نه تیریږي، نو که چیرې ټاکل شوی وخت راشي نو د خپل وخت څخه یو ساعت نه ځنډیږي او نه مخکې کیږي.

او مصیبت هم یو وخت لري او بیا تیریږي، او زمان لري او بیا بدلیږي؛ هغه به د هغه څه د لاسته راوړلو لپاره بیړه ونه کړي چې غوښتلی وي او د هغه څه چې ویره ور څخه لري، ځکه چې خبره بنده پورې تړاو نلري، او بنده باید چې اسبابو او صبر څخه کار واخلي، او د الله –عزوجل- او د هغه خلاصون د هیڅ غوښتونکي لپاره ګرانه نه ده چې هرچیرې وي.

ابراهیم -علیه السلام- راګیر شو، او اور ته واچول شو؛ نو اور ورته یخ او ارام شو.

یوسف -علیه السلام- د خپلو ورونو له خوا راګیر شو، او کوهي ته يې وغورځاوه، بیا ځل د بادشاه د مېرمنې او د هغې سره د ملګرو لخوا راګیر شو، بیا زنداني شو؛ خو چاپیرونکي الله –سبحانه و تعالی- د دښمنانو دسیسې شنډې کړې؛ نو د دوی راګیرول د یوسف -علیه السلام- لپاره یوه فتحه او بریا وه؛ تر څو د ځمکې خزانو باندې واکمن وګمارل شي.

د موسی -علیه السلام- د مور کور راګیر شو او موسی -علیه السلام- سمندر ته وغورځول شو، نو د هغوی راګیرول د هغه او د هغې د خلاصون سبب وګرځید؛ نو هغه بیرته ورته راوګرځید پداسې حال کې چې هغه ډاډه وه.

فرعون موسی –علیه السلام- او ورسره کسان راګیر کړل؛ د دوی راګیریدل د فرعون له منځه وړلو، او د موسی –علیه السلام- د بریا لامل شو.

کافرانو د رسول الله -صلی الله علیه وسلم- کور محاصره کړل؛ بیا له مکې څخه په غمجنه او په شړل شوي توګه بهر شو، بیا الله د هغه دښمنان راګیر کړل؛ بیا هغه –صلی الله علیه وسلم- د یو بریالي فاتح په توګه بیرته مکې ته راستون شو.

نو کله چې مؤمن د الله –عزوجل- د احاطې احساس وکړي، نو ایمان یې زیاتیږي، په خپل رب باندې خوشحالیږي، او د هغه لورې ته تښتي او د هغه د عظمت تابع وي، او د هغه حکم ته غاړه ږدي، د هغه –عزوجل- د وینا په اطاعت سره چې فرمايي:

﴿فَفِرُّوٓاْ إِلَى ٱللَّهِۖ إِنِّي لَكُم مِّنۡهُ نَذِيرٞ مُّبِينٞ ۝٥٠﴾ [الذاريات: 50]

(نو تاسو الله ته وتښتئ، بېشکه زه ستاسو لپاره د هغه له جانبه ښکاره وېروونکی یم). [الذاريات سورت: ایت 50].

زه ستا لورې ته پناه غواړم او ستا پرته څوک پناه ورکولی شي

نو دغه ضعیف ته پناه ورکړه چې ستا مرستې ته پناه راوړي

ما په ژوند کې هر پناه ځای ته پناه یووړه

خو ستا د پناه ځای څخه مې ډیر باعزت پناه ځای و نه لیده

نو زما دعا قبوله کړه او زما غوښتنو ته ځواب راکړه

هیڅکله نه مایوسه کیږي څوک چې ستا څخه غوښتنه کوي او ستا نه امید ساتي

اې الله! ستا په چاپیرونکی نوم باندې غوښتنه کوم: چې زموږ دښمنان خپل عذاب باندې راګیر کړه، او زموږ لپاره د هرې اندیښنې څخه خلاصون راکړه، او د هرې تنګۍ څخه د وتلو لاره پیدا کړه.

76 - 75 – 74 – 73

## الأَوَّلُ الآخِرُ الظـَّاهِـرُ البـَاطِـنُ)تر ټولو اول، تر ټولو آخر، څرګند ښکاره، پټ (-جل جلاله-

الله - سبحانه وتعالی- د خپل ذات په ستاینه کې داسې فرمایلي دي:

﴿هُوَ ٱلۡأَوَّلُ وَٱلۡأٓخِرُ وَٱلظَّٰهِرُ وَٱلۡبَاطِنُۖ وَهُوَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٌ ٣﴾ [الحديد: 3]

(هم دغه (الله) اول دی (هیڅ شی له هغه نه مخکې نه و) او اخر دی (له ده نه بعد هېڅ شی نشته) او لوړ دی (په هر شي بره دی) او باطن دی (له ده په وړاندې هېڅ شی پټ نه دی) او هغه په هر شي باندې ښه پوه دی). [الحدید سورت: ایت 3].

او له هغه - علیه الصلاة والسلام- څخه روایت شوي دي چې هغه به فرمایل: «اللَّهُمَّ! رَبَّ السَّمَاوَاتِ وَرَبَّ الأَرْضِ وَرَبَّ العَرْشِ العَظِيم، رَبَّنَا وَرَبَّ كُلِّ شَيْءٍ، فَالِقَ الحَبِّ وَالنَّوَى، وَمُنْزِلَ التَّوْرَاةِ وَالإِنْجِيلِ وَالفُرْقَانِ؛ أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ كُلِّ شَيْءٍ أَنْتَ آخِذٌ بِنَاصِيَتِهِ. «اې د آسمانونو او ځمکې او د لوی عرش، پالونکیه (ربه)! او زموږ او د هر شي ربه، د دانې او زړې چوونکیه، د تورات، انجیل او فرقان نازلوونکیه، پناه دروړم تاته د هر هغه شي له شر نه چې ته يې له پېکې څخه نیسې. اللَّهُمَّ! أَنْتَ الأَوَّلُ فَلَيْسَ قَبْلَكَ شَيْءٌ، وَأَنْتَ الآخِرُ فَلَيْسَ بَعْدَكَ شَيْءٌ، وَأَنْتَ الظَّاهِرُ فَلَيْسَ فَوْقَكَ شَيْءٌ، وَأَنْتَ البَاطِنُ فَلَيْسَ دُونَكَ شَيْءٌ؛ اقْضِ عَنَّا الدَّيْنَ، وَأَغْنِنَا مِنَ الفَقْرِ» یا الله تعالی! ته اول يې له تا څخه مخکې څه نشته، او ته آخر يې له تا څخه وروسته څه نشته، او ته اوچت يې نو له تا څخه پورته ځوک نشته، او ته (د ذات په لحاظ) پټ يې له تا څخه بل ځوک پټ نشته؛ زموږ څخه پور پرې کړه، او موږ د غریبۍ څخه مالداره کړه). [مسلم روایت کړی].

نو هغه لومړی دی؛ د هغه څخه مخکې څه نشته.

او هغه آخر دی؛ چې له هغه څخه وروسته څه نشته.

هغه ښکاره دی؛ چې د هغه پورته څه نشته.

هغه پټ دی؛ چې له هغه څخه ښکته بل ځوک نشته.

او د دې نومونو مفهوم د دې لپاره دی چې وښيي چې رب –سبحانه و تعالی- خپل مخلوقات يې، د زماني او مکاني له لحاظه احاطه کړي دي:

زماني احاطه: په (لومړي) او (آخر) کې: (لومړی څه نشته مګر الله د هغه څخه مخکې دی)؛ ټول شیان د هغه څخه وروسته پیدا شوي، او هغه د ټولو څخه مخکې دی.

(او وروسته څه نشته مګر دا چې الله له هغه څخه وروسته دی)؛ هغه - عزوجل - د خپل مخلوق (خبرې کوونکی او یا خاموش) له منځه تللو وروسته باقي دی.

او مکاني احاطه: په (ښکاره) او (پټه) کې، نو هغه له هر څه پورته دی، هیڅ شي له هغه څخه لوړ نه دی: (او هیڅ ښکاره څه نشته مګر دا چې الله د هغه پورته وي) عرش باندې برقرار دی، او عرش د ټولو مخلوقاتو څخه لوړ دی، هغه لره د ذات لوړوالی، دمقام لوړوالی دی، او د قهار لوړوالی دی.

(او هیڅ څه پټ نشته مګر دا چې الله د هغه څخه ډیر پټ دی): د هغه – سبحانه و تعالی- پټ والي هر څه راګیر کړي آن تر دې چې هغه ورته د خپل ځان څخه ډیر نږدې وي، او په رازونو او ضمیرونو باندې باخبر وي.

او د خپل عظمت او برترۍ باوجود، او دا چې هغه د اسمانونو د پاسه پر عرش باندې برقراره دی؛ بیا هم هغه خپلو بندګانو ته نږدې دی، د هغوی په باطن باندې پوهیږي، او د هغوی له ظاهر څخه هم باخبر دی،

﴿وَلَقَدۡ خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ وَنَعۡلَمُ مَا تُوَسۡوِسُ بِهِۦ نَفۡسُهُۥۖ وَنَحۡنُ أَقۡرَبُ إِلَيۡهِ مِنۡ حَبۡلِ ٱلۡوَرِيدِ ١٦﴾ [ق: 16]

(او یقینًا یقینًا مونږه دا انسان پیدا کړی دی، په داسې حال کې چې مونږ په هغه څه پوهېږو چې د ده نفس په هغه سره وسوسه (او خطره) کوي او مونږ ده ته (د ده) د ورمېږ له رګ نه زیات نژدې یو). [ق سورت: ایت 16]،

﴿قُلۡ إِن تُخۡفُواْ مَا فِي صُدُورِكُمۡ أَوۡ تُبۡدُوهُ يَعۡلَمۡهُ ٱللَّهُۗ وَيَعۡلَمُ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ٢٩﴾ [آل عمران: 29]

(ته ووایه: که تاسو پټ ساتئ هغه څه چې ستاسو په سینو کې دي، یا هغه ښکاره کړئ، الله ته هغه معلوم دي). [آل عمران سورت: ایت 29].

تا ته نږدې دی ..

هغه ستا خبرې اوري، او ستا عملونه ویني، ستا هیڅ پټ کار له هغه څخه پټ ندی.

رسول الله -صلی الله علیه وسلم- د خپلو اصحابو څخه واورېدل چې خپل رب ته يې په لوړ غږ دعا کوله؛ نو هغه وفرمایل: «أَيُّهَا النَّاسُ! ارْبَعُوْا عَلَى أَنْفُسِكُمْ؛ فَإِنَّكُمْ لاَ تَدْعُونَ أَصَمَّ وَلَا غَائِبًا، وَلَكِنْ تَدْعُونَ سَمِيعًا بَصِيرًا» "اې خلکو! خپلو ځانونو باندې رحم وکړئ؛ ځکه چې تاسو کوڼ او غایب نه رابلئ، بلکې تاسو اورېدونکی او لیدونکی ذات رابلئ". [بخاري او مسلم روایت کړی].

په سجده کې په ټیټ غږ واېې چې: " سبحان ربي الأعلى"؛ نو د دعا لپاره آسمانونه پرانیستل کیږي او څښتن تعالی ستا دعا اوري؛ دا تصور مه کوه چې هغه لرې دی، یا دا چې ستا کوم کار له هغه څخه پټ دی.

هغه -تعالی- د تور مېږی د پښو غږ اوري کله چې، په هموار ډبره، په توره شپه کې روانه وي.

﴿وَمَا تَسْقُطُ مِن وَرَقَةٍ إِلَّا يَعْلَمُهَا ...﴾ [الأنعام: 59]

(او هېڅ یوه پاڼه نه غورځېږي مګر هغه پرې عالم دی). [الأنعام سورت: ایت 59].

د هغه له حکمت او نعمت څخه: چې تا ته په یاد دروليي چې مخلوقات له هغه څخه پیل شول، او د هغوی بنده ګي خاص هغه لره ده، نو څرنګه چې هغه ستا په پیدا کولو کې یوازې و، نو ته هغه یوازینی سبب وګرځوه چې ته يې ددې عبادت لایق وګرځولې، او لکه څنګه چې ستاسو وجود او پیدایښت له هغه څخه پیل شو، نو ته هغه د خپلې مینې، ارادې او لیاقت انتها وګڼه.

په ولاړېدو مه سترې کېږه!

که چلونه تا تنګ کړي، او وېرې تا ته پناه راوړي؛ په یاد ولره چې هغه –الله- لومړی او وروستی دی، او هغه تا ته نږدې دی، او هغه په هر څيز باندې واک لري، هغه په خپلو بندګانو باندې غالب دی، هغه د اسمان څخه ځمکې ته لاربښوونه کوي او بیا

هغه ته پورته کيږي، او دا چې هغه ستا په رازونو او په هغه څه چې ستا ضمير ته ننوځي باخبر دی.

دلته ستا زړه يو رب لري چې د هغه اراده کوي، يو هغه معبود چې عبادت يې کوي، او بې نيازه ذات دی چې د اړتيا په وخت کې هغه ته رجوع کوي، او پټنځای دی چې هغه ته پناه وروړي، که دا هر څه ځای پر ځای شو نو ستا زړه به خوشحاله وي، ستا روح ته به سکون راشي، ستا ضمير به آرام وي، او خلاصون به نږدې وي، ځکه ته پوهيږې چې هغه لومړی او وروستی دی، ظاهر او باطن دی، او هغه په هر څه قادر دی.

اور ابراهيم خليل الله ونه سوځاوه؛ ځکه چې د الله پالنې يوه کړکۍ پرانيستله شوله،

﴿قُلْنَا يَٰنَارُ كُونِي بَرْدًا وَسَلَٰمًا عَلَىٰٓ إِبْرَٰهِيمَ ۝٦٩﴾ [الأنبياء: 69]

(مونږ وويل: اې اوره! يخ او سلامتيا والا شه په ابراهيم باندې). [الأنبياء سورت: ا۞ت 69]

. سمندر کليم الرحمن (موسی) ډوب نه کړ؛ ځکه چې هغه قوي غږ چې د الله په عظمت باور لري داسې وويل:

﴿قَالَ كَلَّآ إِنَّ مَعِيَ رَبِّي سَيَهْدِينِ ۝٦٢﴾ [الشعراء: 62]

[(موسی) وويل: هېڅکله داسې نشي کېدی، بېشکه زما سره زما رب دی، هغه به ضرور زما لارښوونه کوي]. [الشعراء سورت: ايت 62].

يونس -عليه السلام- په بحر کې د کب په خېټه کې غږ کوي:

﴿... لَّآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنتَ سُبْحَٰنَكَ إِنِّي كُنتُ مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ۝٨٧﴾ [الأنبياء: 87]

(نشته هيڅ لايق د عبادت مګر ته يې، ته پاك يې، بېشکه هم زه له ظالمانو څخه يم). [الأنبياء سورت: ايت 87]،

يو کمزوری غږ چې له دريو تيارو څخه راوځي: د شپې تياره، د سمندر تياره، او د کب د خېټې تياره؛ اسمان ته پورته کيږي او خلاصون راځي.

او په غيبو کې ضعيف بنده لپاره مهربانياني دي

پدې سره قلمونه وچ شول او ورقې وتړلې شوې

د تحول ځای ..

انسان په یوازې توګه باندې د پېښو سره مبارزه نه شي کولی، نه د آفتونو او مصیبتونو سره مقاومت کولی شي؛ ځکه چې هغه کمزوری او بې وسه پیدا شوی دی پرته له دې چې پر خپل رب توکل وکړي؛ ځکه چې هغه پوهیږي چې د هغه لومړیتوب د هر څه څخه مخکې دی، او په وروسته والی کې له هرڅه وروسته دی، هغه د خپل ظاهر سره د هر څه څخه پورته دی، او په خپل باطن سره هر څه ته نږدې دی.

له هغه څخه یو اسمان بل آسمان نه شي پناه کولی، او نه ترې یوه زمکه بله زمکه پناه کولی شي، بلکې باطن ورته ښکاره دی، غایب ورته حاضر دی، لیرې ورته نږدې دی، او راز ورته ښکاره دی.

اې نیک بخته هغه څوک چې په الله پورې تړلې وي، د الله نومونه زده کړي، خپل پټ کارونه سم کړي، عمل کې اخلاص ولري، نیت ښه کړي، او زغم خپل ډال وګرځوي، او په خپل رب باندې اعتماد خپل سپر وګرځوي! نو دا عبادت په خالص او سوچه مینې سره ترسره کیږي.

او تا ته زما شوق زما سره شخړه وکړه او زه یې ولړزولم ... له غیبو څخه هغه څه چې ما یې هیله درلوده

ابن القیم -رحمه الله- فرمایلي: د دې څلورو نومونو پېژندل، یعنې: اول، اخر، ظاهر او باطن د علم او پوهې ستنې دي، نو د بنده لپاره لازمه ده چې د هغو په پېژندنه کې تر هغه ځایه ځان ورسوي چې د هغه قوت او فهم پای ته ورسیږي.

هغه لومړی دی، هغه وروستی دی، هغه ظاهر دی ... هغه باطن دی دا څلور دي په یو وزن سره

چې له هغه څخه مخکې وروسته څه نشته ... اوچت دی الله تعالی د بادشاهۍ خاوند

او د دې څلورو نومونو او د هغه په معناګانو باندې ځان پوهول د وسوسې په مخنیوي کې لوی تاثیر لري.

د ابو زمیل په نوم یو سړی د امت عالم عبدالله بن عباس -رضی الله عنهما- ته راغی؛ هغه څخه یې وپوښتل: اې ابن عباسه! زه په سینه کې یو څه لرم؟ هغه وویل: څه شی دی؟ ما وویل: په الله قسم زه یې نه وایم! هغه وویل: نو هغه راته وویل: آیا د شک څخه څه شی دی؟ ویې ویل: او ویې خندل، ویې ویل: له دې څخه هیڅوک نه دي ژغورل شوي، ویې ویل: تر دې چې الله دغه قول نازل کړ:

﴿فَإِن كُنتَ فِي شَكٍّ مِّمَّآ أَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ فَسۡـَٔلِ ٱلَّذِينَ يَقۡرَءُونَ ٱلۡكِتَٰبَ مِن قَبۡلِكَۚ لَقَدۡ جَآءَكَ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّكَ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡمُمۡتَرِينَ ٩٤﴾ [يونس: 94]

(نو که چېرې ته د هغه (قرآن) په باره کې په شك کې یې چې مونږ تا ته نازل کړی دی، نو ته له هغو کسانو څخه پوښتنه وکړه چې له تا نه مخکې کتاب لولي، یقینًا یقینًا ستا د رب له جانبه تا ته حق راغلی دی، نو ته هیڅکله هم له شك کوونکو څخه مه کېږه). [یونس سورت: ایت 94]

. بیا یې راته وویل: که تا په خپل نفس کې څه پیدا کړل؛ نو دغه ووایه:

﴿هُوَ ٱلۡأَوَّلُ وَٱلۡأٓخِرُ وَٱلظَّٰهِرُ وَٱلۡبَاطِنُۖ وَهُوَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٌ ٣﴾ [الحديد: 3]

(هم دغه (الله) اول دی (هیڅ شی له هغه نه مخکې نه و) او اخر دی (له ده نه بعد هېڅ شی نشته) او لوړ دی (په هر شي بره دی) او باطن دی (له ده په وړاندې هېڅ شی پټ نه دی) او هغه په هر شي باندې ښه پوه دی). [الحديد سورت: ایت 3]".

اې الله! چې اول او اخر او ظاهر او باطن دی! زموږ پټ کارونه سم کړه، په ټولو چارو کې زموږ پایله ښه کړه، او موږ د دنیا او آخرت له ذلت څخه وژغوره.

-

77

## الوَكِيلُ )لوی کار ساز (-جل جلاله-

ایا موږ د یو څه وخت لپاره فکر کړی او د هغه -عزوجل- دې وینا سره تم شوي یو:

﴿وَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱلۡحَيِّ ٱلَّذِي لَا يَمُوتُ وَسَبِّحۡ بِحَمۡدِهِۦۚ وَكَفَىٰ بِهِۦ بِذُنُوبِ عِبَادِهِۦ خَبِيرًا۝٥٨﴾ [الفرقان: 58]

(او ته توکل وکړه په هغه تل ژوندي ذات چې نه مري او ته د هغه له ستاینې سره تسبیح بیانوه او هم الله د خپلو بنده ګانو په ګناهونو ښه کافي خبردار دی). [الفرقان سورت: ایت 58]؟

د لوی پادچا لخوا اواز دی .. د هر مومن او مومنې لپاره اواز دی .. د هر ناروغ، اندیښمن او قرضدار لپاره اواز دی.. د هر ویریدونکي یا شکمن لپاره اواز دی..

هغه موږ ته وایي چې هغه لوی کار ساز - عزوجل – دی، او دا چې هغه په هر څه قادر دی؛ هغه ستا ټولې ستونزې په حلونو، او ستا ټول دردونه په روغتیا، او ستا امیدونه په واقعیت، او ستا ویره په امنیت، او ستا اوښکې په مسکا بدلوي.

زه د خپل ځواک، سلطې او قوت څخه بېزار یم ... او زه خپل مالک ته خورا فقیر یم

خپل نفس د هغې له ضعف، اضطراب، نفرت څخه ارامه کړه! او هغه دې ته وهڅوه چې د الوکیل (لوی کار ساز ) له سیوري څخه په دې کرښو کې برخمنه شي، او د الله د نوم (الوکیل) – عزوجل- له رڼاګانو څخه ځان ته واخلي:

نو الله – سبحانه و تعالی- وفرمایل:

﴿... وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ وَكِيلٞ۝١٠٢﴾ [الأنعام: 102]

(او هغه په هر شي باندې نګران دی). [الأنعام سورت : ایت 102].

علماوو ویلي دي: الوکیل: هغه څوک دی چې په خپل علم، په بشپړ قدرت او حکمت سره د خپل مخلوق کارونه سمبالوي.

او هغه: هغه ذات دی چې د بندګانو د روزۍ او مصلحتونه تضمین یې کړی، او د هغوی چارې ئې اداره کړې، او دوی ته یې لاربښوونه کړې چې کوم شیان د دوی د دنیا او آخرت ګټې دي او کوم شیان یې په زیان کې دي.

او دا هماغه د: ټولو مخلوقاتو لپاره عمومي وکالت دی

﴿ٱللَّهُ خَٰلِقُ كُلِّ شَيۡءٖۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ وَكِيلٞ ٦٢﴾ [الزمر: 62]

(الله د هر شي پیدا کوونکی دی او هغه په هر شي باندې نګران دی). [الزمر سورت: ایت 62].

لیکن دلته یوه ځانګړې وکالت شتون لري؛ دغه وکالت الله – سبحانه و تعالی- خپلو اولیا او د خپل اطاعت کوونکو او مینه پالو لپاره ځانګړی کړی؛ چې هغوی اسانتیاو ته برابروي، او له سختیو څخه یې لرې کوي، او د دوی د چارو کفالت کوي.

له همدې امله الله خپل پېغمبر – صلی الله علیه وسلم- ته او ټول امت ته امر وکړ چې پر هغه باندې توکل وکړي د خپل پدې قول سره:

﴿وَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱلۡحَيِّ ٱلَّذِي لَا يَمُوتُ ...﴾ [الفرقان: 58]

(او ته توکل وکړه په هغه تل ژوندي ذات چې نه مري). [الفرقان سورت: ایت 58]،

هغه – عزوجل- دوی د خپلې مینې لپاره په خپلې دې وینا سره ځانګړي کړل:

﴿.... إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُتَوَكِّلِينَ ١٥٩﴾ [آل عمران: 159]

(یقینًا الله له توکل کوونکو سره مینه کوي). [آل عمران سورت: ایت 159].

نو توکل: د مؤمن نښه، د موحد صفت، او د تقوا نښه ده، او دا له سترو مرتبو څخه ده چې له غوره نومونو سره تړاو لري.

رښتیا ویوونکو لپاره ...

ابن القیم -رحمه الله- فرمایلي: توکل: د دین نیمایې ده، او بله نیمایې: توبه کول دي، نو دین: مرسته غوښتل او عبادت دی.

نو توکل: مرسته غوښتل دي، او توبه: عبادت کول دي.

او توکل: د ایمان په زیاتیدو سره زیاتیږي، او په کمیدو سره کمیږي، او هغه څوک چې توکل ونلري هغه ایمان نلري.

﴿... وَعَلَى ٱللَّهِ فَتَوَكَّلُوٓاْ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ٢٣﴾ [المائدة: 23]

(او تاسو خاص په الله باندې توکل وکړئ که چېرې تاسو مومنان يئ). [المائدة سورت: ايت 23].

نو تا لره د الله –عزوجل- کفایت ستا توکل پورې تړلی دی؛

﴿... وَمَن يَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِ فَهُوَ حَسۡبُهُۥٓ...﴾ [الطلاق: 3]

(او هغه څوك چې په الله باندې توکل وكړي، نو همدى د ده لپاره بس (او كافي) دى). [الطلاق سورت: ايت 3].

نو ته په خپل توکل کې صادق اوسه ترڅو هغه څه ترلاسه کړې چې ته يې غواړې؛ که څه هم لوی وي؛ په ترمذي کې راغلي چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- وفرمايل: «لَوْ أَنَّكُمْ كُنْتُمْ تَوَكَّلُوْنَ عَلَى اللهِ حَقَّ تَوَكُّلِهِ؛ لَرُزِقْتُمْ كَمَا يُرْزَقُ الطَّيْرُ: تَغْدُوْ خِمَاصًا، وَتَرُوْحُ بِطَانًا» "که چيرته تاسو په الله باندې په حق سره توکل وکړئ ؛ تاسو ته به داسې روزي درکړي لکه مرغانو ته يې چې ورکوي: سهار په تشه خيټه ځي، او ماښام په ډکه خيټه بيرته راځي". [صحيح حديث دی]. هر څوک غواړي چې په دنیا او آخرت کې د الله – سبحانه و تعالی- په نيز لوړ مقام ترلاسه کړي، او دا کار له رښتينو خلکو پرته نه کيږي چې په خپل توکل سره يې ترلاسه کوي، ځکه چې دې خلکو زړونه په الله – عزوجل- باندې توکل کړی، او د دوی ژبې په سختۍ کې ويلې دې چې:

﴿... حَسۡبُنَا ٱللَّهُ وَنِعۡمَ ٱلۡوَكِيلُ ١٧٣﴾ [آل عمران: 173]

(زمونږ لپاره الله كافي دى او هغه ښه كار جوړوونكى دى). [آل عمران سورت: ايت 173]

، نو عظمت څرګند شو، معجزه ښکاره شوه، او د الله – عزوجل- ساتنه د هغه اولياوو ته ښکاره شوه.

﴿... حَسۡبُنَا ٱللَّهُ وَنِعۡمَ ٱلۡوَكِيلُ ١٧٣﴾ [آل عمران: 173]

(زمونږ لپاره الله كافي دى او هغه ښه كار جوړوونكى دى). [آل عمران سورت: ايت 173]

، ابراهیم -علیه السلام- دا خبره هغه وخت وکړه کله چې اور ته واچول شو؛ نو پایله یې څه وه ؟

﴿قُلْنَا يَٰنَارُ كُونِي بَرْدًا وَسَلَٰمًا عَلَىٰٓ إِبْرَٰهِيمَ ٦٩﴾ [الأنبياء: 69]

(مونږ وویل: اې اوره! یخ او سلامتیا والا شه په ابراهیم باندې). [الأنبياء سورت: ایت 69].

زمونږ پیغمبر محمد -صلی الله علیه وسلم - او د هغه اصحابو -رضي الله عنهم- دا خبره وکړه کله چې دوی ته وویل شول:

﴿...إِنَّ ٱلنَّاسَ قَدْ جَمَعُواْ لَكُمْ فَٱخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ إِيمَٰنًا وَقَالُواْ حَسْبُنَا ٱللَّهُ وَنِعْمَ ٱلْوَكِيلُ ١٧٣﴾ [آل عمران: 173]

(بېشکه (د مکې) خلق په رښتیا سره ستاسو (سره د جنګ) لپاره راټول شوي دي، نو تاسو له هغوی نه ووېرېږئ، نو (دې خبرې) د هغوی ایمان (نور هم) زیات کړ او وېې ویل:زمونږ لپاره الله کافي دی او هغه ښه کار جوړوونکی دی). [آل عمران سورت: ایت 173]

؛ نو پایله یې څه وه؟

﴿فَٱنقَلَبُواْ بِنِعْمَةٍ مِّنَ ٱللَّهِ وَفَضْلٍ لَّمْ يَمْسَسْهُمْ سُوٓءٌ ...﴾ [آل عمران: 174]

(نو دوی د الله له جانبه په نعمت او فضل سره بېرته راوګرځېدل، په دې حال کې چې ونه رسېد دوی ته هېڅ تکلیف). [آل عمران سورت: ایت 174]

کله چې دې مقام ته ورسیدې؛ د هغه –سبحانه و تعالی- مینې ته رسیدلی یې:

﴿... فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُتَوَكِّلِينَ ١٥٩﴾ [آل عمران: 159]

(بیا چې کله ته پخه اراده وکړې، نو په الله باندې توکل کوه، یقینًا الله له توکل کوونکو سره مینه کوي). [آل عمران سورت: ایت 159].

او لدې مینې سره سره به تا ته لوی ثواب هم درکړي:

﴿فَمَآ أُوتِيتُم مِّن شَيْءٍ فَمَتَٰعُ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَاۖ وَمَا عِندَ ٱللَّهِ خَيْرٌ وَأَبْقَىٰ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ٣٦﴾ [الشورى: 36]

(پس تاسو ته چې څه شی هم درکړی شوی دی، نو (دغه) د دنیايي ژوند فایده ده، او هغه (ثواب) چې د الله په نیز دی (هغه) ډېر غوره او ډېر باقي پاتې کېدونکی دی د هغو کسانو لپاره چې ایمان یې راوړی دی او خاص په خپل رب باندې توکل کوي). [الشوری سورت: ایت 36].

توکل کوونکو لپاره...

په خپل توکل کې ریښتینی اوسه، الله به تا له شیطان څخه وساتي؛

﴿إِنَّهُۥ لَيۡسَ لَهُۥ سُلۡطَٰنٌ عَلَى ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَلَىٰ رَبِّهِمۡ يَتَوَكَّلُونَ٩٩﴾ [النحل: 99]

(بېشکه چې دی، نشته ده ته هېڅ غلبه په هغو کسانو باندې چې ایمان یې راوړی دی او چې خاص په خپل رب باندې هغوی توکل کوي). [النحل سورت: ایت 99].

او کله چې دښمنان د چال او فریب رسۍ ګانې ولاړې کړي؛ ته هغوی ته د توکل دیوال ولاړ کړه:

﴿۞ وَٱتۡلُ عَلَيۡهِمۡ نَبَأَ نُوحٍ إِذۡ قَالَ لِقَوۡمِهِۦ يَٰقَوۡمِ إِن كَانَ كَبُرَ عَلَيۡكُم مَّقَامِي وَتَذۡكِيرِي بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ فَعَلَى ٱللَّهِ تَوَكَّلۡتُ فَأَجۡمِعُوٓاْ أَمۡرَكُمۡ وَشُرَكَآءَكُمۡ ثُمَّ لَا يَكُنۡ أَمۡرُكُمۡ عَلَيۡكُمۡ غُمَّةٗ ثُمَّ ٱقۡضُوٓاْ إِلَيَّ وَلَا تُنظِرُونِ٧١﴾ ]

(او ته دوی ته د نوح خبر ولوله، کله چې هغه خپل قوم ته وویل: ای زما قومه! که چېرې پر تاسو باندې زما اوسېدل او د الله په ایتونو سره (تاسو ته) زما نصیحت کول سخت (او ګران) وي، نو ما خاص په الله باندې توکل کړی دی، نو تاسو له خپلو شریکانو سره د خپل کار پخه اراده وکړئ، بیا دې پر تاسو باندې خپله معامله پټه نه وي، بیا ما ته ضرر راورسوئ او ما ته مهلت (هم) مه راکوئ). [یونس سورت: ایت 71].

که څوک غواړي چې پر دښمنانو برلاسی او له مصیبته خلاص شي؛ هغه باید په الله باندې توکل وکړي:

﴿إِن يَنصُرۡكُمُ ٱللَّهُ فَلَا غَالِبَ لَكُمۡۖ وَإِن يَخۡذُلۡكُمۡ فَمَن ذَا ٱلَّذِي يَنصُرُكُم مِّنۢ بَعۡدِهِۦۗ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ١٦٠﴾ [آل عمران: 160]

(که چېرې الله ستاسو مدد وکړي، نو بیا پر تاسو باندې هیڅوك غالب راتلونکی نشته او که چېرې تاسو (بې مدده) پرېږدي، نو څوك دی هغه کس چې له هغه (الله) نه بعد به ستاسو مدد وکړي؟ او پس لازم ده چې مومنان خاص په الله باندې توکل وکړي). [آل عمران سورت: ایت [160

. او که مخلوق ستا څخه مخ واړوي؛ نو په وکیل ذات باندې تکیه وکړه:

﴿فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَقُلۡ حَسۡبِيَ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ عَلَيۡهِ تَوَكَّلۡتُۖ وَهُوَ رَبُّ ٱلۡعَرۡشِ ٱلۡعَظِيمِ١٢٩﴾ [التوبة: 129]

(نو که چېرې دوی (د حق له قبلولو نه) وګرځي، نو ته ووایه: ما ته الله کافي دی، نشته دی هېڅ لایق د عبادت مګر هغه دی، خاص په هغه باندې ما توکل کړی دی او هم هغه د عظیم عرش مالك دی). [التوبة سورت: ایت 129].

او که له تا څخه د روغې جوړې او سمون غوښتنه وشوه؛ هغې ته د توکل له لارې داخل شه:

﴿۞ وَإِن جَنَحُواْ لِلسَّلۡمِ فَٱجۡنَحۡ لَهَا وَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ٦١﴾ [الأنفال: 61]

(او که دغه (کفار) سولې ته مایل شي، نو ته هم دې ته مایل شه او په الله باندې توکل وکړه، بېشکه هم هغه، ښه اورېدونکی، ښه پوه دی). [الأنفال سورت: ایت 61]

. او کله چې ایمان په زړه کې برقراره شو، او ته پوه شوې چې ستا کار د هغه –سبحانه و تعالی- په مخ کې دی؛ ستا توکل باید یوازې پر هغه –عزوجل- باندې وي؛

﴿... قُلۡ هُوَ رَبِّي لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ عَلَيۡهِ تَوَكَّلۡتُ وَإِلَيۡهِ مَتَابِ٣٠﴾ [الرعد: 30]

(ته ووایه: هغه زما رب دی، له هغه نه غیر د عبادت هېڅ لایق نشته، خاص پر هغه باندې ما توکل کړی دی او خاص هم هغه ته زما بېرته ورتله دي). [الرعد سورت: ایت 30]،

څوک چې په هر حالت کې توکل له ځانه سره ولري؛ الله –تبارک و تعالی- به هغه ته کافي وي:

﴿وَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلٗا٣﴾ [الأحزاب: 3]

(او ته په الله توکل وکړه او الله ښه کافي دی کار جوړوونکی). [الأحزاب سورت: ایت 3].

د وتلو څخه مخکې:

هغه سړی چې له خپل کور څخه ووځي او پر الله باندې توکل وکړي؛ نو الله –عزوجل- به د هغه د کار جوړوونکی وي، په صحیح ډول روایت شوی دی چې هغه -صلى الله عليه وسلم- وفرمایل: «إِذَا خَرَجَ الرَّجُلُ مِنْ بَيْتِهِ فَقَالَ: بِسْمِ اللهِ، تَوَكَّلْتُ عَلَى اللهِ، لَا

حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ، يُقَالُ حِينَئِذٍ: هُدِيتَ، وَكُفِيتَ، وَوُقِيتَ. «کله چې يو سړی له کوره ووځي او ووايي: د الله په نوم، زه په الله توکل کوم، د الله پرته هيڅ قوت او ځواک نشته، پدې وخت کې به وويل شي: تا ته لارښوونه وشوه، ستا کفايت وشو، او ستا ساتنه وشوه. فَتَتَنَحَّى لَهُ الشَّيَاطِينُ، فَيَقُولُ لَهُ شَيْطَانٌ آخَرُ: كَيْفَ لَكَ بِرَجُلٍ قَدْ هُدِيَ وَكُفِيَ وَوُقِيَ؟» بيا به شيطانان د هغه د خوا نه روان شي، او بل شيطان به ورته ووايي: ته څنګه داسې سړی ته ځان ورسوې چې هدايت، کفايت او ساتنه يې شوې وي؟». [صحيح حديث دی. ابوداود روايت کړی]. د رسول الله -صلى الله عليه وسلم- صحابه کرام غمجن شول کله چې د رسول الله -صلى الله عليه وسلم- څخه دغه خبرې واوريدلې: «كَيْفَ أَنْعَمُ وَصَاحِبُ القَرْنِ قَدْ التَقَمَ القَرْنَ، وَاسْتَمَعَ الإِذْنَ مَتَى يُؤْمَرُ بِالنَّفْخِ فَيَنْفُخُ؟!»، "زه به څنګه خوشحاله اوسم په داسې حال کې چې د ښکر (قرن) څښتن ښکر خپلې خولې کې نيولی، او غوږ يې نيولی چې کله به ورته د پو کولو امر کيږي چې پو يې کړي؟"، او کله چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- وليد چې دا خبره د دوی لپاره ډيره درنه وه نو هغوی ته يې فرمايل: «قُولُوا: حَسْبُنَا اللهُ ونِعْمَ الوَكِيلُ! عَلَى اللهِ تَوَكَّلْنَا» «الله زمونږ لپاره کافي دی، او هغه تر ټولو ښه کار جوړوونکی دی! موږ په الله توکل لرو». [ صحيح حديث دی. ترمذي روايت کړی].

## پند او نصيحت!

د توکل مفهوم ډيری خلکو څخه ورک دی! دوی الله هېر کړ، نو هغه –جل و علا- هم دوی هېر کړل، دوی په الله باندې توکل پرېښود، نو هغه هم دوی خپل ځان ته وسپارل..

ناروغ ناروغيږي او زړه يې ډاکټر باندې تړل کيږي؛ درمل او ډاکټر باندې تړل کيږي او دا دواړه اسباب دي، او د ځمکې او اسمان څښتن يې هېر کړی، او هغه څوک چې د شفا ورکولو قدرت لري!!

په ځينو باندې مصيبتونه راځي، او فتنې ورباندې سختيږي، او دوی لپاره کارونه تنګيږي، دوی غمونه او انديښنې زغمي، او د خپلو ملګرو دروازو ته رجوع کوي، غالب او وهاب ذات – جل و علا- هېروي.

دښمنان هغه خاري، مخالفين يې غولوي، د خصومت کوونکو لخوا محاصره کيږي؛ هغه په سخت غم او اضطراب کې وي، او د هغه چا څخه غافل وي چې هغه –سبحانه و تعالی- هغه ته د هغه د ورمېږ د رګ څخه ډېر نږدې دی.

ابن الجوزي وايي: «پرهيزګاران بايد پوه شي چې الله - عزوجل – د هغه لپاره کافي دی؛ او خپل زړه دې له اسبابو سره نه نښلوي، هغه – سبحانه و تعالی- وفرمايل:

﴿... وَمَن يَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِ فَهُوَ حَسۡبُهُۥٓ...﴾ [الطلاق: 3]

(او هغه څوك چې په الله باندې توكل وكړي، نو همدى د ده لپاره بس (او كافي) دى). [الطلاق سورت: ايت 3]

». ځيني خلک شته چې د توکل مفهوم څخه د: تواکل معنا اخلي؛ لکه د يمن يوه ډله چې غوښتل چې حج ته لاړ شي بغير لدې چې له ځانه سره توښه او خوراک واخلي، او هغوی وويل: "موږ توکل کوونکي يو"، بيا يې له خلکو څخه خوراک په سوال کولو سره اخيسته! نو الله – عزوجل- دا نازل کړ:

﴿... وَتَزَوَّدُواْ فَإِنَّ خَيۡرَ ٱلزَّادِ ٱلتَّقۡوَىٰۖ ...﴾ [البقرة: 197]

(او توښه واخلئ، پس يقينًا بهترينه توښه تقوىٰ ده). [البقرة سورت: ايت 197]،

پدې معنا: چې توښه واخلئ چې ستاسو مخونه له خلکو لرې وساتي، او له سوال کولو د ذلت څخه مو ساتي.

او ځيني وايي: زما رزق ليکل شوی دی؛ زه ولې ځمکه کې هڅه وکړم؟!

له هغه – صلى الله عليه وسلم- څخه په صحيح ډول روايت شوی دی چې يو سړي ورڅخه پوښتنه وکړه: وېې ويل: اې د الله رسوله! و يې تړم بيا توکل وکړم، او يا دا چې خوشې يې کړم بيا توکل وکړم؟ هغه – صلى الله عليه وسلم - وفرمايل: «اعْقِلْهَا وَتَوَكَّلْ» "هغه وتړه بيا توکل وکړه". [حسن حديث دی. ترمذي روايت کړی]. او الله -عز وجل- وفرمايل:

﴿هُوَ ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ ٱلۡأَرۡضَ ذَلُولٗا فَٱمۡشُواْ فِي مَنَاكِبِهَا وَكُلُواْ مِن رِّزۡقِهِۦۖ وَإِلَيۡهِ ٱلنُّشُورُ ١٥﴾ [الملك: 15]

(نو تاسو د دې په اوږو (اطرافو، لارو) کې وګرځئ او د دغه (الله) له رزق نه خورئ او خاص ده ته (ستاسو) بيا ژوندي را پورته کېدل دي). [الملك سورت: ايت 15]

، نو د اسبابو اخيستل له توکل سره مخالفت نه کوي، توکل د سبب له اخيستلو پرته سم ندی، کنه نو هغه: لټي او فاسد توکل دی!

﴿.. عَلَيۡكَ تَوَكَّلۡنَا وَإِلَيۡكَ أَنَبۡنَا وَإِلَيۡكَ ٱلۡمَصِيرُ ٤﴾ [الممتحنة: 4]

(اې زمونږه ربه! خاص په تا باندې مونږ توکل کړی دی او خاص تا ته مو رجوع کړې ده او خاص تا ته بېرته درتګ دی). [الممتحنة سورت: ايت 4].

لار لدې خوا شخه ده ..

زه څنګه په خپل ژوند کې الله باندې توکل وکړم؟

لومړی: د هغه د نومونو او غوره صفاتو په پيژندلو سره، په هره کچه چې د الله - عزوجل- قدر ستا په زړه کې ډير شي؛ په هماغه کچه به هغه –سبحانه و تعالی- ته نږدې کيږې.

دويم: پر الله- عزوجل- نيک ګمان کول، «أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِي بِي...» "زه هغه سي يم لکه څنګه چې زما بنده زما په اړه فکر کوي ...". [صحيح حديث دی. ابن ماجه روايت کړی]، نو هغه انفاق کوونکی انفاق نکوي مګر دا چې پر الله باندې ښه ګمان کوي، دا چې هغه به ورته نيکه بدله ورکوي، او هغه څوک چې د خپلې بسترې څخه پورته کيږي او د خپل رب په وړاندې دريږي، هغه ندی دريدلی مګر دا چې پر الله باندې پې ښه ګمان کړی، همدارنګه عمره کوونکی، حاجي او لمونځ کوونکی ... دريم: د خپل ځواک پريښودل، او د الله –عزوجل- پر وړاندې خپل ضعف باندې اعتراف کول، او هغه ته د خپلې اړتيا ځرګندول، او هغه را بلل دا چې: تا خپل ځان يا د هغه بل مخلوق ته پرې نږدې، او په بل صحيح حديث راغلي: «اللَّهُمَّ! رَحْمَتَكَ أَرْجُو، فَلَا تَكِلْنِي إِلَى نَفْسِي طَرْفَةَ عَيْنٍ» «اې الله! زه ستا د رحمت غوښتونکی يم، نو د سترګو د رپولو په اندازه هم ما خپل ځان ته مه پريږده». [صحيح حديث دی. احمد په مسند کې روايت کړی دی].

څلورم: د سبب درلودل؛ لکه دعا چې الله هغه څه چې غوښتل شوي ځيز د حاصلولو لپاره سبب ګرځولی دی.

پنځم: د حالاتو په بدلولو کې د الله قدرت په ياد راوستل، او دا چې د ځمکې او اسمانونو واک د هغه په لاس کې دی او هغه پر هر څه باندې قادر دی، او تل په ياد ولره: چې د هغه په لاس کې د هر څه خزانې دي، نو ستا لپاره هيڅ واک نشته لکه د بې وسه، ضعيف، ماتې خوړلې زوی چې واک خپل پلار ته وسپاري، او الله لره لوړ مثال دی،

﴿فَسَتَذۡكُرُونَ مَآ أَقُولُ لَكُمۡۚ وَأُفَوِّضُ أَمۡرِيٓ إِلَى ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ بَصِيرُۢ بِٱلۡعِبَادِ٤٤﴾ [غافر: 44]

(او زه خپل کار الله ته سپارم، بېشکه الله (خپلو) بنده ګانو لره ښه ليدونکی دی). [غافر سورت: ايت 44].

شپږم: په هغه څه راضي اوسه چې الله تعالی درته تقسيم کړی دی، او په دې باندې بايد پوه شې چې خير په هغه څه کې دی چې الله تعالی تاته ويشلی دی، او که راضي نشې نو دا پدې معنا ده لکه چې بشر الحافي ويلي دي: «له هغو څخه به يو څوک ووايي: (زه په الله توکل کوم) هغه پر الله درواغ وايي! که پر الله يې توکل درلودی هغه به په هغه څه راضي وی چې الله تعالی يې ورسره کوي».

ابن حمدون وايي: «د يوې بوډۍ ښځې پر کښت باندې ګلۍ راغله، له خېمې څخه يې سر راوويست، کښت ته يې وکتل چې سوځېدلی و، نو سر يې اسمان ته پورته کړه او ويې ويل: هر څه دې چې خوښه وي وې کړه؛ ځکه چې زما روزي تا باندې ده!».

که بنده په هغه ژوندي ذات باندې چې نه مري توکل وکړي؛ الله به د هغه ټول کارونه د هغه لپاره را ژوندي کړي، کارونه به يې تکميل او بشپړ کړي.

﴿وَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱلۡحَيِّ ٱلَّذِي لَا يَمُوتُ وَسَبِّحۡ بِحَمۡدِهِۦۚ وَكَفَىٰ بِهِۦ بِذُنُوبِ عِبَادِهِۦ خَبِيرًا٥٨﴾ [الفرقان: 58]

(او ته توکل وکړه په هغه تل ژوندي ذات چې نه مري او ته د هغه له ستاينې سره تسبيح بيانوه او هم الله د خپلو بنده ګانو په ګناهونو ښه کافي خبردار دی). [الفرقان سورت: ايت 58].

اې الله اې د کار جوړوونکيه! د سترګو د رپ په اندازه مو خپل ځان ته مه پرېږده، زمونږ په کمزورۍ رحم وکړه، او زمونږ مجبورتيا جبران کړه؛ ته په ټولو شيانو باندې قادر يې.

## النـُّـورُ )ربنا (-جل جلاله-

الله تعالی خپل ذات باندې داسې ثنا وايي:

﴿۞ ٱللَّهُ نُورُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ مَثَلُ نُورِهِۦ كَمِشۡكَوٰةٖ فِيهَا مِصۡبَاحٌۖ ٱلۡمِصۡبَاحُ فِي زُجَاجَةٍۖ ٱلزُّجَاجَةُ كَأَنَّهَا كَوۡكَبٞ دُرِّيّٞ يُوقَدُ مِن شَجَرَةٖ مُّبَٰرَكَةٖ زَيۡتُونَةٖ لَّا شَرۡقِيَّةٖ وَلَا غَرۡبِيَّةٖ يَكَادُ زَيۡتُهَا يُضِيٓءُ وَلَوۡ لَمۡ تَمۡسَسۡهُ نَارٞۚ نُّورٌ عَلَىٰ نُورٖۚ يَهۡدِي ٱللَّهُ لِنُورِهِۦ مَن يَشَآءُۚ وَيَضۡرِبُ ٱللَّهُ ٱلۡأَمۡثَٰلَ لِلنَّاسِۗ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ٣٥﴾ [النور: 35]

(الله د اسمانونو او ځمکې نور دی، د هغه د نور صفت داسې دی لکه يوه طاقچه ده چې په هغې کې بله ډيوه ده، بله ډيوه په شيشې (قنديل) کې ده، دغه قنديل (داسې دی) ګوياکې هغه روڼ ځلېدونکی ستوری دی، د زيتون له مبارکې ونې نه بلولی شي چې (دغه ونه) نه مشرق طرف ته وي او نه مغرب طرف ته، نژدې ده چې د هغې تېل (پخپله) رڼا وکړي اګر چې دغو ته اور هم نه وي رسېدلی، رڼا له پاسه رڼا، الله د خپل نور په طرف هغه چا ته لار ښيي چې يې وغواړي او الله د خلقو لپاره مثالونه بيانوي، او الله په هر شي باندې ښه پوه دی). [النور سورت: ايت 35].

په "صحيحينو" کې راغلي: چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- به پدې شيانو دعا کوله: «اللَّهُمَّ! اجْعَلْ فِي قَلْبِي نُوْرًا، وَفِي بَصَرِي نُوْرًا، وَفِي سَمْعِي نُوْرًا، وَعَنْ يَمِينِي نُوْرًا، وَعَنْ يَسَارِي نُوْرًا، وَفَوْقِي نُوْرًا، وَتَحْتِي نُوْرًا، وَأَمَامِي نُوْرًا، وَخَلْفِي نُوْرًا، وَاجْعَلْ لِي نُوْرًا». «يا الله! زما په زړه کې رڼا پيدا کړې، او زما سترګې، او غوږونه روښانه کړې، او زما ښۍ او ګس (چپ) لورى رڼا کړې، او له ما پورته او له ما ښکته رڼا پيدا کړې، او زما مخه او زما شا رڼا کړې، او ما ته رڼا راکړې».

او په الله قسم! دا بنده لپاره د الله له خورا قيمتي ډاليو څخه ده؛ چې هغه ته خپله رڼا او هدايت ورکړي.

او زمونږ بحث د زړونو د غذا، د روحونو د نعمتونه، او د نفسونو د خوښۍ په اړه دی، او دا تر ټولو لويه، ګټوره او غوره غذا ده، لکه څنګه چې ويل شوي:

هغې لره ستا په ياد کې خبرې دي چې مشغوله کړې يې ده

له ښکاک او خوراک ښخه یې بې غافله کړې ده
هغې لره ستا له مخ ښخه رڼا ده چې په هغې سره روښانه کوي.
او له هغه وروسته ستا له خبرې ښخه په تېزۍ سره ګټه اخلي
که د هغې لارې د ستونزو په اړه شکایت وکړي چې ژمنه یې کړې
د ملاقات روحیه په ټاکل شوي وخت کې به نور هم پیاوړې شي

د هغه د رڼا په سیوري کې:

الله -تبارك وتعالى- وفرمایل :

﴿۞ ٱللَّهُ نُورُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ ....﴾ [النور: 35]

(الله د اسمانونو او ځمکې نور دی). [النور سورت: ایت 35].

د کتاب او سنت نصوص -لکه څنګه چې ابن تیمیه– رحمه الله - ذکر کړي، په کومو کې چې الله خپل ځان (رڼا) نومولی، په دریو سره راغلي:

لومړی: د هغه وصف په رڼا سره، د هغه – سبحانه و تعالی – پدې وینا سره:

﴿وَأَشۡرَقَتِ ٱلۡأَرۡضُ بِنُورِ رَبِّهَا ...﴾ [الزمر: 69]

(او ځمکه به د خپل رب په نور سره روښانه شي). [الزمر سورت: ایت 69]،

او په حدیث کې دي: «وَأَلْقَى عَلَيْهِمْ مِنْ نُوْرِهِ» "او په دوی باندې یې د خپلې رڼا ښخه واچوله". [صحیح حدیث. ابن حبان روایت کړی]. دویم: دا چې هغه –تبارك و تعالی – پخپله رڼا ده،

﴿۞ ٱللَّهُ نُورُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ ...﴾ [النور: 35]

(الله د اسمانونو او ځمکې نور دی). [النور سورت: ایت 35]

، او په حدیث کې دي: «أَنْتَ نُوْرُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ» "تاسو د اسمانونو او ځمکې رڼا یاست". [د بخاري او مسلم روایت دی]. دریم: د هغه حجاب (پرده) رڼا ده، لکه په صحیح حدیث کې چې راغلي: «حِجَابُهُ النُّوْرُ، لَوْ كَشَفَهُ لَأَحْرَقَتْ سُبُحَاتُ وَجْهِهِ مَا انْتَهَى إِلَيْهِ بَصَرُهُ مِنْ خَلْقِهِ» "د هغه پرده رڼا ده، که چیرته هغه پرده لرې کړي، نو د هغه د مخ رڼایي به

د هغه مخلوق سوځولي وای څومره چې د هغه لید رسیږي". [مسلم روایت کړی]. سبحات وجهه: د هغه نور او رڼا. او د الله – عزوجل- رڼا چې د هغه وصف ده د پیدا شویو رڼاګانو سره مشابهت نه لري.

﴿... لَيْسَ كَمِثْلِهِۦ شَيْءٌۖ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْبَصِيرُ﴾ [الشورى: 11]

(د هغه په مثل هیڅ شی نشته او هم دغه ښه اورېدونکی، ښه لیدونکی دی). [الشورى سورت: ایت 11].

او نور د هغه له نومونو څخه دی او همدارنګه

د هغه له صفاتو څخه، پاکي ده هغه ذات لره چې د ثبوت څښتن دی

تا ته څو خبرې ډالۍ کوم ...

علامه عبدالرحمن السعدي -رحمه الله- فرمايي: «د هغه – جل جلاله- له نومونو او صفتونو څخه: (رڼا) ده؛ چې دا د هغه لوی وصف دی، هغه د عظمت او عزت څښتن دی، او هغه د نور او رڼا څښتن دی، که چیرې له خپل عزتمند مخ څخه پرده لرې کړې نو د هغه د مخ رڼايي به د هغه مخلوق سوځولي وای څومره چې د هغه لید رسیږي».

هغه؛ هغه ذات دی چې ټوله نړۍ یې روښانه کړې؛ نو د هغه د مخ په رڼا سره تیارې، عرش، کرسۍ، اووه طبقې او ټول کاینات روښانه شول، او دا حسي رڼايي ده.

او کوم چې معنوی نور دی: نو هغه رڼا ده چې د هغه د پیغمبرانو، د هغه ځانګړو، د هغه د اولیاوو او د هغه د پرښتو زړونه په پوهې او مینې سره یې روښانه کړې، او د هغه پیژندنه د اولیاوو په زړونو کې رڼاګانې دي د پوهې له مخې چې دوی یې د هغه تعالی د صفتونو د عظمت څخه لري، او هغه ښکلي صفتونه چې هغوی ور باندې عقیده لري.

د هغه د لارښوونې خوږوالی!

هرکله چې تا الله –سبحانه و تعالی- وپېژانده، تا تر ټولو لوی علم ترلاسه کړ؛ او د هغه په اړه پوهه د لوړو علومو څخه ده، او ټول ګټور علوم په زړونو کې رڼاګانې دي، په ځانګړې توګه هغه علم چې: ترټولو علومو غوره، عالي، اصل او اساس دی؟

او دلته؛ ستا په زړه کې د هغه –سبحانه و تعالی- د قول تصدیق کیږي چې فرمايي:

﴿۞ ٱللَّهُ نُورُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ مَثَلُ نُورِهِۦ كَمِشْكَوٰةٍ فِيهَا مِصْبَاحٌ ۖ ٱلْمِصْبَاحُ فِى زُجَاجَةٍ ۖ ٱلزُّجَاجَةُ كَأَنَّهَا كَوْكَبٌ دُرِّىٌّ يُوقَدُ مِن شَجَرَةٍ مُّبَٰرَكَةٍ زَيْتُونَةٍ لَّا شَرْقِيَّةٍ وَلَا غَرْبِيَّةٍ يَكَادُ زَيْتُهَا يُضِىٓءُ وَلَوْ لَمْ تَمْسَسْهُ نَارٌ ۚ نُّورٌ عَلَىٰ نُورٍ ۗ يَهْدِى ٱللَّهُ لِنُورِهِۦ مَن يَشَآءُ ۚ وَيَضْرِبُ ٱللَّهُ ٱلْأَمْثَٰلَ لِلنَّاسِ ۗ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ ﴿٣٥﴾﴾ [النور: 35]

(الله د اسمانونو او ځمکې نور دی، د هغه د نور صفت داسې دی لکه یوه طاقچه ده چې په هغې کې بله ډیوه ده، بله ډیوه په شیشې (قندیل) کې ده، دغه قندیل (داسې دی) ګویاکې هغه روڼ ځلېدونکی ستوری دی، د زیتون له مبارکې ونې نه بلولی شي چې (دغه ونه) نه مشرق طرف ته وي او نه مغرب طرف ته، نژدې ده چې د هغې تېل (پخپله) رڼا وکړي اګر چې دغو ته اور هم نه وي رسېدلی، رڼا له پاسه رڼا، الله د خپل نور په طرف هغه چا ته لار ښیي چې يې وغواړي او الله د خلقو لپاره مثالونه بیانوي، او الله په هر شي باندې ښه پوه دی). [النور سورت: ایت 35].

او دغه ورکړل شوی د رڼا مثال : په الله – عزوجل- او د هغه په صفتونو او نښانو باندې د ایمان رڼا ده، او همدارنګه د مومنانو په زړونو کې لکه: دغه رڼا چې ټول صفتونه يې سره یو ځای کړي دي.

نو له همدې امله د رسول الله -صلی الله علیه وسلم- له دعاوو څخه دا وه چې: «اللَّهُمَّ! اجْعَلْ فِي قَلْبِي نُوْرًا، وَفِي بَصَرِي نُوْرًا، وَفِي سَمْعِي نُوْرًا، وَعَنْ يَمِينِي نُوْرًا، وَعَنْ يَسَارِي نُوْرًا، وَفَوْقِي نُوْرًا، وَتَحْتِي نُوْرًا، وَأَمَامِي نُوْرًا، وَخَلْفِي نُوْرًا، وَاجْعَلْ لِي نُوْرًا» (یا الله! زما په زړه کې رڼا پیدا کړې، او زما سترګې، او غوږونه روښانه کړې، او زما ښی او ګس (چپ) لوری رڼا کړې، او له ما پورته او له ما ښکته رڼا پیدا کړې، او زما مخه او زما شا رڼا کړې، او ما ته رڼا راکړې). [بخاري او مسلم روایت کړی]. او کله دې چې زړه لدې رڼا څخه ډک شي، مخ خوا ته جریان پیدا کوي؛ نو مخ هم روښانوي، او د بدن غړي ورسره په اطاعت کولو مطیع او فرمانبرداره وي؛

لکه څرنګه چې په کتاب او سنت کې راغلي دي، او الله –سبحانه و تعالی- فرمايلي دي:

﴿...يَهۡدِي ٱللَّهُ لِنُورِهِۦ مَن يَشَآءُۚ ...﴾ [النور: 35]

(الله د خپل نور په طرف هغه چا ته لار ښيي چې يې وغواړي). [النور سورت: ايت 35].

ابن سعدي -رحمه الله- فرمايلي: «کله چې د دوی باطني بڼه په لمانځه روښانه شوه، د دوی ظاهري بڼه به د عظمت په رڼا سره روښانه شي، ﴿ سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِمْ مِنْ أَثَرِ السُّجُود ﴾". (د دوی (د دينداری) نښې د دوی په مخونو کې دي د سجدو له اثر نه)». او دغه رڼا بنده د بدکارۍ څخه منع کوي؛ څرنګه له رسول الله -صلی الله عليه وسلم- څخه په صحيح حديث کې راغلي دي چې فرمايي: «زناکار په داسې حال کې زنا نه کوي چې مومن وي، او هغه شراب نه څښي کله چې هغه څښي په داسې حال کې چې هغه مومن وي، او هغه غلا نه کوي کله چې غلا کوي په داسې حال کې چې هغه مومن وي ...». [بخاري او مسلم روايت کړی].

د هغه کتاب رڼا ده:

الله –عزوجل- موږ ته خبر راکړی چې هغه کتابونه چې د هغه له خوا نازل شوي دي: رڼا ده چې الله د خپلو بندګانو زړونه وربانديې روښانه کوي، هغه – تبارک و تعالی- وفرمايل: (إِنَّا أَنزَلْنَا التَّوْرَاةَ فِيهَا هُدًى وَنُورٌ) (بېشکه موږ تورات نازل کړی دی، چې په هغه کې هدايت او رڼا ده). [المائدة سورت: ايت 44]، او فرمايي:

﴿... وَءَاتَيۡنَٰهُ ٱلۡإِنجِيلَ فِيهِ هُدٗى وَنُورٞ ...﴾ [المائدة: 46]

(او موږ هغه ته انجيل ورکړ، چې په هغه کې هدايت او رڼا وه). [المائدة سورت: ايت 46].

او تر ټولو سترو نازل شوو رڼاګانو څخه: هغه کتاب دی چې پر محمد -صلی الله عليه وسلم- نازل شوی دی، هغه – تبارک و تعالی - وفرمايل (يقينًا تاسو ته د الله له جانبه رڼا او روښانه کتاب راغلی دی). [المائدة سورت: ايت 15].

په دې سره الله – عزوجل- هغه کسان چې ايمان يې راوړی وو له تيارو څخه رڼا ته راوويستل: (الف، لام، را، (دا) کتاب دی چې موږ تا ته نازل کړی دی، د دې لپاره

چې ته خلق له تيارو نه رڼا ته وباسې د دوی د رب په اذن (او حکم) سره، د ډېر غالب، ډېر ستايل شوي ذات لارې ته). ، نو؛ کله چې کافران په دې پوه شول چې په دې امت کې دغه رڼا ځومره اغېز لري؛ هغوی د دی رڼا د خاموشولو هڅه وکړه، مګر الله - عزوجل – د خپل کتاب ساتنه وکړه،

﴿يُرِيدُونَ لِيُطۡفِـُٔواْ نُورَ ٱللَّهِ بِأَفۡوَٰهِهِمۡ وَٱللَّهُ مُتِمُّ نُورِهِۦ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡكَٰفِرُونَ٨﴾ [الصف: 8]

(دوی غواړي چې په خپلو خولو سره د الله رڼا مړه کړي او الله د خپلې رڼا پوره کوونکی دی اګر که کافران (دا کار) بد ګڼي). [الصف سورت: ايت 8]

، او الله دې امت تر هغه وخته ساتنه کوي تر څو يې چې د هغه –سبحانه و تعالی- کتاب نيولی او تطبيق کړی وي.

لنډه دا چې ..

څرنګه چې رڼا د هغه له نومونو او صفتونو څخه ده؛ د هغه: دين رڼا ده، رسول يې رڼا ده، خبرې يې رڼا دي، او د بندګانو لپاره د هغه د عزت کور ځلانده رڼا ده، او د هغه د مؤمنو بنده ګانو په زړونو کې رڼا ځليږي، او د هغوی په ژبو جاري ده، د دوی په غړو کې څرګنديږي، او هغه – تبارک و تعالی – خپله رڼا د قيامت په ورځ هغوی باندې  بشپړوي، ېبشکه چې الله فرمايلي دي:

﴿...نُورُهُمۡ يَسۡعَىٰ بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَبِأَيۡمَٰنِهِمۡ يَقُولُونَ رَبَّنَآ أَتۡمِمۡ لَنَا نُورَنَا وَٱغۡفِرۡ لَنَآۖ إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ٨﴾ [التحريم: 8]

(د دوی رڼا به د دوی په وړاندې او د دوی په ښي اړخ منډې وهي، دوی به وايي: ای زمونږه ربه! ته مونږ ته زمونږ رڼا پوره کړه او مونږ وبخښه، ببشکه ته په هر شي باندې ښه قادر يې). [التحريم سورت: ايت 8].

اې د ځمکې او اسمانونو رڼا! زمونږ لپاره زمونږ رڼا بشپړه کړه، او مونږ ته بخښنه وکړه؛ ته په هر څه باندې قادر يې.

## کفايت کوونکی – جل جلاله -

په "صحيحينو" کې له جابر -رضي الله عنه- نه روايت دی چې وايي: موږ له رسول الله -صلى الله عليه وسلم- سره د نجد غزا لپاره ووتلو، او په داسې دره کې ور باندې خوب راغلی چې ډېرې ونې پکې وې، نو د يوې ونې لاندې ښکته شو ترڅو د هغې د سيورې لاندې ارام وکړي، او خپله توره يې ځوړنده کړه، نو خلک د سيورې لپاره په ونو کې خواره شول، نو موږ په همدې حالت کې وو؛ چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- موږ باندې غږ وکړ؛ نو موږ راغلو، د هغه مخې ته يو اعرابي ناست و، هغه وويل: «إِنَّ هَذَا أَتَانِي وَأَنَا نَائِمٌ؛ فَاخْتَرَطَ سَيْفِي، فَاسْتَيْقَظْتُ وَهُوَ قَائِمٌ عَلَى رَأْسِي مُخْتَرِطٌ صَلْتًا، قَالَ: مَنْ يَمْنَعُكَ مِنِّي؟ قُلْتُ: اللهُ، فَشَامَهُ ثُمَّ قَعَدَ، فَهُوَ هَذَا» « دغه کس هغه وخت ماته راغی چې زه ويده وم؛ او زما توره يې را وويستله، نو زه له خوبه پاڅېدم، چې ګورم هغه زما پر سر ولاړ و، او توره يې له پوښ څخه ويستلې وه، بيايې وويل: تا له ما څخه څوک ژغورلی شي؟ ما وويل: الله! نو هغه خپله توره پوښ کې ننويستله او بيا کېناست، نو هغه دا دی»، هغه وويل: رسول الله -صلى الله عليه وسلم- هغه ته سزا ورنکړه.

هغه – سبحانه و تعالى - وفرمايل:

﴿أَلَيۡسَ ٱللَّهُ بِكَافٍ عَبۡدَهُۥۖ ...﴾ [الزمر: 36]

(ايا الله خپل بنده ته ښه کافي کېدونکی نه دی). [الزمر سورت: ايت 36].

زموږ رب – سبحانه و تعالى- د خپلو بندګانو لپاره کافي دی؛ ځکه چې هغه د دوی روزونکی، ساتونکی او د دوی د چارو اصلاح کوونکی دی؛ الله –عزوجل- د دوی لپاره کفايت کوي، او دا د ټولو مخلوقاتو لپاره عمومي کفايت دی.

مګر د هغه ځانګړی کفايت؛ هغه: د توکل کوونکو او توبه کوونکو لپاره دی.

او دا پراخ کفايت دی، نو الله –سبحانه و تعالى- فرمايلي دي:

﴿أَلَيۡسَ ٱللَّهُ بِكَافٍ عَبۡدَهُۥۖ وَيُخَوِّفُونَكَ بِٱلَّذِينَ مِن دُونِهِۦۚ وَمَن يُضۡلِلِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِنۡ هَادٖ٣٦﴾ [الزمر: 36]

(ايا الله خپل بنده ته ښه کافي کېدونکی نه دی او دوی تا په هغو (معبودانو) وېروي چې له دغه (الله) نه غير دي او هغه څوك چې الله يې ګمراه کړي، نو د هغه لپاره هيڅوك نېغه لار ښوونکی نشته). [الزمر سورت: ايت 36]،

او هغه -سبحانه وتعالی- فرمايي- :

﴿... وَمَن يَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُۥٓ....﴾ [الطلاق: 3]

(او هغه څوك چې په الله باندې توکل وكړي، نو همدې د ده لپاره بس (او کافي) دی). [الطلاق سورت: ايت 3]،

يعني: د هغه د ټولو ديني او دنيوي چارو لپاره بسنه کوي. او د هغه –تبارک و تعالی- له کفايت څخه د خپلو رسولانو او مؤمنانو لپاره: دا دی چې پر دوی باندې خپله مرسته نازلوي، او د خپلو ملايکو په ذريعه د هغوی ملاتړ کوي:

﴿... وَلِلَّهِ جُنُودُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ...﴾ [الفتح: 4]

(او خاص الله لره د اسمانونو او ځمکې لښکرې دي). [الفتح سورت: ايت 4].

او هغه -سبحانه وتعالی- فرمايي- :

﴿بَلَىٰٓ إِن تَصْبِرُواْ وَتَتَّقُواْ وَيَأْتُوكُم مِّن فَوْرِهِمْ هَٰذَا يُمْدِدْكُمْ رَبُّكُم بِخَمْسَةِ ءَالَٰفٍ مِّنَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ مُسَوِّمِينَ ١٢٥﴾ [آل عمران: 125]

(ولې نه! که تاسو صبر وکړئ او پرهېزګاره شئ او هغوی پر تاسو باندې په خپل جوش سره په تېزۍ حمله وکړي، (نو) دا دی چې ستاسو رب به په پنځو زرو علامې لرونکو ملايکو سره ستاسو مدد وکړي). [آل عمران سورت: ايت 125].

### هغه کافي دی:

بنده د خپل ژوند په ټولو چارو کې حتا د سترګو د رپولو لپاره هم خپل رب ته اړ دی؛ نو هغه د الله حفاظت، کفايت، او تاييد کولو ته اړتيا لري؛ دا پيغمبر - صلی الله عليه وسلم - دی، موږ ته يو حديث را زده کوي چې يو له لويو حديثونو څخه دی چې الله – سبحانه و تعالی- د بنده لپاره کافي دی: صحيح روايت دی چې هغه - صلی الله عليه وسلم- وفرمايل: هغه سړی چې له خپل کور څخه ووځي او پر الله

باندې توکل وکړي؛ نو الله –عزوجل- به د هغه د کار جوړوونکی وي، په صحیح ډول روایت شوی دی چې هغه -صلی الله علیه وسلم- وفرمایل: «إِذَا خَرَجَ الرَّجُلُ مِنْ بَيْتِهِ فَقَالَ: بِسْمِ اللهِ، تَوَكَّلْتُ عَلَى اللهِ، لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ، يُقَالُ حِينَئِذٍ: هُدِيتَ، وَكُفِيتَ، وَوُقِيتَ. « کله چې یو سړی له خپل کور څخه ووځي او داسې ووايي: د الله تعالی په نوم، په الله تعالی باندې توکل کوم، نشته ځواک او طاقت مګر الله تعالی لره دي، په دغه وخت کې به وویل شي: تا ته ښودنه وشوه، او ته خود کفا شوې، او ته بچ وساتل شوې. بیا به شیطانان د هغه خوا ته روان شي، او بل شیطان به ورته ووايي: ته څنګه داسې سړي ته ځان وررسوې چې هدایت، کفایت او ساتنه یې شوې وي؟». [صحیح حدیث دی. ابوداود روایت کړی]. او مؤمن بنده د حفاظت او استقامت لپاره د هغه په ښکلو نومونو سره په مکرر ډول دعا او توسل کوي، ځکه چې له هغه پرته بل څوک کفایت کوونکی نشته، او له هغه پرته بل څوک ساتونکی نشته، په صحیح مسلم کې راغلي دي چې رسول الله – صلی الله علیه وسلم- چې به کله خپل بسترې ته تللو نو دا به يې ویل: «الحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَطْعَمَنَا وَسَقَانَا، وَكَفَانَا وَآوَانَا؛ فَكَمْ مِمَّنْ لَا كَافِيَ لَهُ وَلَا مُؤْوِيَ!». «د الله ستاينه ده چې موږ ته يې خواړه او څښاک راکړل، او زموږ لپاره کافي شو او موږ ته يې سرپناه راکړه؛ څومره ډیر دي هغه خلک چې نه کافي لرونکی لري او نه سرپناه!».

### د هغه له دروازې څخه مه لرې کیږه!

نو کله چې مؤمن بنده که د الله – سبحانه و تعالی- په هکله ښه ګمان وکړي، او په توکل کې ریښتینی اوسي او د هغه هیله لویه شي؛ نو یقینا چې الله هغه نه مایوسه کوي؛ ځکه الله –سبحانه و تعالی- فرمایلي دي:

﴿... وَمَن يَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُۥ...﴾ [الطلاق: 3]

(او هغه څوك چې په الله باندې توكل وكړي، نو همدى د ده لپاره بس (او كافي) دى). [الطلاق سورت: ایت 3]

. دا اسبابو ته د هغوی له مسبباتو سره له ورکولو څخه دي، او له هغه –صلی الله علیه وسلم- څخه په صحیح ډول روایت شوي دي چې فرمايي: «الله فرمايي: «أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِي بِي؛ إِنْ ظَنَّ بِي خَيْرًا فَلَهُ، وَإِنْ ظَنَّ شَرًّا فَلَهُ» زه به هماغسې يم لکه څنګه چې زما بنده زما په اړه فکر کوي؛ که هغه زما په اړه ښه فکر وکړي، هغه لپاره به هماغسې وي، او که هغه بد

فکر وکړي، د هغه لپاره به هماغسي وي». [صحيح حديث دی. احمد په مسند کې روايت کړی دی].

الله د يوسف -عليه السلام- د موضوع مسوليت په غاړه واخيست، نو کاروان يې په صحرا کې اوبو ته اړ کړ چې د کوهي څخه يې راوباسي، بيا د مصر پاچا يې اولاد ته اړ کړ ترڅو هغه د ځان لپاره په زوی توب ونيسي، بيا يې پاچا د خوب تعبير ته اړ کړ ترڅو له زندان څخه يې وباسي، بيا يې ټول مصر خوراک ته اړ کړ ترڅو د مصر عزيز جوړ شي، نو کله چې الله ستا مسئووليت پر غاړه واخلي د خوشحالۍ ټول اسباب به درته چمتو کړي پداسې حال کې چه ته به خبر هم نه يې، نو ته يوازې په الله توکل وکړه هغه ستا لپاره کافي دی، او په ريښتيا توګه ووايه: "وَأُفَوِّضُ أَمْرِي إِلَى اللَّهِ". "او زه خپل کار الله ته سپارم".

ازموينه ..

ابن القيم -رحمه الله- فرمايي: کله چې هغه خپل کفايت توکل کوونکی لپاره بيان کړ؛ نو کيدای شي چې دا وهم او خيال پيدا شي چې: د توکل په وخت کې د چټکتيا سره به کفايت هم پلي کيږي؛ نو لدې امله يې ورپسې دغه وينا وکړه چې:

﴿...قَدۡ جَعَلَ ٱللَّهُ لِكُلِّ شَيۡءٖ قَدۡرٗا٣﴾ [الطلاق: 3]

(يقينًا الله د هر شي لپاره يوه اندازه مقرره کړې ده). [الطلاق سورت: ايت 3]

، يعني: هغه وخت چې هغه څخه نه تېرېږي، هغه به هغه وخت ته رسوي چې د هغه لپاره يې ټاکلی دی. نو توکل کوونکی دې بېړه نکوي دا چې هغه ووايي: دعا مې وکړه، لمونځ مې وکړ، خو څه مې ونه ليدل، او زما لپاره کفايت حاصل نشو؟! الله به هغه وخت کې خپل کار ترسره کوي چې د هغه لپاره يې ټاکلی وي".

نو لدې امله؛ الله -جل و علا- خپل ځينې بندګان د هغوی د توکل ريښتونولي ازمويي؛ نو په ځواب کې ځنډ کوي، او کله چې پر ځينو باندې دغه موده اوږده شي، دوی په الله باندې توکل پريږدي، او هغه به لاړ شي او مخلوق ته به ځان خوار او ذليل کړي؛ حتا که د دين او رب - عزوجل – د رضايت په بيه هم وي .

په حديث کې راغلي دي چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- وفرمايل: «مَنِ التَمَسَ رِضَاءَ اللهِ بِسَخَطِ النَّاس؛ كَفَاهُ اللهُ مُؤْنَةَ النَّاس، وَمَنَ التَمَسَ رِضَاءَ النَّاسِ بِسَخَطِ اللهِ؛ وَكَلَهُ اللهُ إِلَى النَّاسِ» «څوک چې د خلکو په قهرولو سره د الله رضا لټوي؛ الله به يې د خلکو د مرستې څخه د هغه کفايت وکړي، او څوک چې د الله په قهرولو سره د خلکو رضايت لټوي؛ الله به يې خلکو ته وسپاري». [صحيح حديث دی. ترمذي روايت کړی].

مناسب او کافي ځواب..

او بنده لره به د هغه مقصود ترلاسه نشي ترڅو چې آخرت خپله انديښنه ونه ګرځوي، او په حديث کې له هغه -عليه الصلاة والسلام- څخه نقل شوي چې فرمايي: «مَنْ جَعَلَ الهُمُومَ هَمًّا وَاحَدًا: هَمَّ آخِرَتِهِ؛ كَفَاهُ اللهُ هَمَّ دُنْيَاهُ، وَمَنْ تَشَعَّبَتْ بِهِ الهُمُومُ فِي أَحْوَالِ الدُّنْيَا لَمْ يُبَالِ اللهُ فِي أَيِّ أَوْدِيَتِهَا هَلَكَ!» «هغه څوک چې خپلې انديښنې يوه انديښنه وګرځوي: د آخرت انديښنه؛ الله به د هغه د دنيوي انديښنو کفايت وکړي، او چا لره چې د دنيا د کارونو بيلابيلې انديښنې راشي، الله به د هغه پروا ونکړي چې په کومه دره کې هلاک کيږي!». [صحيح حديث دی. ابن ماجه روايت کړی]. ابن القيم -رحمه الله- فرمايي: "څوک چې له ځان څخه پرته الله سره مشغول شي، الله به د هغه د کار تضمين او کفايت وکړي، او څوک چې د خلکو پرته الله سره مشغول شي، الله به د هغه کار چې خلکو سره دی تضمين او کفايت وکړي، څوک چې د الله پرته له ځان سره مشغول شي، الله به هغه خپل ځان ته وسپاري، او څوک چې د الله پرته خلکو سره مشغول شي، الله به هغه خلکو ته وسپاري».

ستا لپاره کافي دی هغه ذات چې رحمت ... او کفايت يې مخلوق ته رسيږي د مهربانۍ او احسان څښتن دی .... او ستا لپاره دا کافي دی هغه ذات چې مهرباني يې تر اوسه جريان لري ... تا ته په مهربانۍ او نرمۍ سره راځي ... ستا لپاره کافي دی هغه ذات چې تر اوسه د هغه په ستر کې يې ... او تا وينې کله چې ته نا فرماني او ګناه وکړې

ستا لپاره کافي دی هغه ذات چې تر اوسه د هغه په ساتنه ... او بچاوو کې يې د زمانو په اوږدو کې ... کافي دی تا لره هغه رب چې ته هميشه د هغه په فضل او مهرباني کې يې ... اوړي را اوړي په پټه او ښکاره کې

اې الله، اې کافي ذاته! موږ ته په حلالو له حرامو څخه بسنه وکړه، او له نورو د فضل څخه خپل فضل باندې مو بسنه وکړه.

81 - 80

## المَوْ لَى الوَلِيُّ )مالک او مدد ګار (-جل جلاله-

ته ملاتړ ته اړتيا لرې، ښوونکي ته اړتيا لرې، مرجع او سرچينې ته اړتيا لرې، هغه چا ته اړتيا لرې چې هغه باندې توکل وکړې، څښتن ته اړتيا لرې، داسې چا ته اړتيا لرې چې تا ته ډاډ درکړي ځکه چې پدې ژوند کې د ستونزو شتون طبيعي خبره ده، ته قوي ځواک ته اړتيا لرې چې د دښمنانو له شر څخه ستا ساتنه وکړي، ته خپل مالک ته اړتيا لرې.

زه تا ته هيله مند راغلی يم اې د جلال څښتنه ... نو هغه بد حالت چې په ما راغلی زما څخه يې لرې کړه

يو غلام شکايت نه کوي مګر ... خپل بادار ته اې د غلامانو باداره (مالکه)

الله – سبحانه و تعالی- په خپل کتاب کې فرمايلي دي:

﴿.... وَهُوَ ٱلۡوَلِيُّ ٱلۡحَمِيدُ ۝٢٨﴾ [الشورى: 28]

(او هم دی ښه کارساز، ښه ستايل شوی دی). [الشورى سورت: ايت 28]،

او فرمايلي يې دي:

﴿ٱللَّهُ وَلِيُّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ يُخۡرِجُهُم مِّنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِۖ ...﴾ [البقرة: 257]

(او الله د هغو کسانو دوست دی چې ايمان يې راوړی دی، هغه دوی لره له تيارو نه رڼا ته راوباسي). [البقرة سورت: ايت 257].

زموږ رب - عزوجل - د ټولو مخلوقاتو ولي او مالک دی؛ په پيدا کولو او تدبير سره، او په هر وخت او هره شيبه کې د اسمانونو او ځمکې د کارونو او اندازو، او اداره کولو کې، او موږ لره له هغه پرته بل څوک ساتونکی نشته چې موږ ته ګټه ورسوي، او له

موږ څخه زیانونه، د شر کارونه او بدۍ لرې کړي، زموږ  واک او اختیار له هغه – عزوجل- سره دي.

او دا عمومي ولایت (دوستي) ده، چې دا: د ټولو مخلوقاتو سرپستي او ټولیز اداره کول دي، د نیک او فاسق، مؤمن او کافر لپاره.

مګر ځانګړې ولایت (دوستي)؛ دا د متقیانو اولیاوو لپاره ده؛ چې هغوی د جهالت، کفر او نافرمانۍ له تیارو څخه د علم، ایمان او اطاعت رڼا ته راوباسي، د هغوی پر دښمن باندې د هغوی مرسته کوي، او د هغوی لپاره د دوی دنیوي او دیني چارې سموي.

دا ولایت (دوستي) لاندې شیانو ته اړتیا لري: نرمي، رحمت، اصلاح، ساتنه او مینه، ایا الله –عزوجل- ندي فرمایلي:

﴿ٱللَّهُ وَلِيُّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ يُخۡرِجُهُم مِّنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِۖ...﴾ [البقرة: 257]

(او الله د هغو کسانو دوست دی چې ایمان یې راوړی دی، هغه دوی لره له تیارو نه رڼا ته راوباسي). [البقرة سورت: ایت 257].

دوستي د پیروۍ په پیمانه ده:

د الله –تبارک و تعالی- ولایت (دوستي) د مومن بنده لپاره د هغه د مینې له مخې ده چې هغه سره یې لري، ابن القیم -رحمه الله- فرمايي: "د ولایت او دوستۍ اساس: مینه ده، څکه چې د مینې پرته دوستي نشته، لکه څنګه چې دښمنۍ اصل نفرت دی.

او الله د هغو کسانو ساتونکی او دوست دی چې ایمان یې راوړی وي او هغوی د الله اولیا او دوستان دي، نو دوی د هغه سره د مینې درلودلو پر اساس دوستي کوي ،او هغه له دوی سره د مینې درلودلو پر اساس دوستي کوي، نو الله د خپل مومن بنده سره د هغه د مینې پر اساس دوستي کوي".

او د الله -سبحانه و تعالی- دوستي د نورو دوستیو په څیر نه ده؛

﴿.... لَيۡسَ كَمِثۡلِهِۦ شَيۡءٞۖ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ ١١﴾ [الشورى: 11]

(د هغه په مثل هېڅ شی نشته او هم دغه ښه اورېدونکی، ښه لیدونکی دی). [الشوری سورت: ایت 11]

. او الله - سبحانه وتعالی - د خپل بنده سره په احسان، مهربانۍ، او جبران کولو له مخې دوستي کوي.

﴿ٱللَّهُ وَلِيُّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ...﴾ [البقرة: 257]

(الله د هغو کسانو دوست دی چې ایمان یې راوړی دی). [البقرة سورت: ایت 257]،

د مخلوق پر خلاف؛ مخلوق به مخلوق سره دوستی کوي تر څو هغه تقویه کړي او په خپلې دوستۍ سره یې ډېروي، د بنده د ذلت او محتاجۍ په موخه. مګر غالب او بډای ذات – سبحانه و تعالی - هغه د ذلت او محتاجۍ له امله د هیچا سره خواخوږي او دوستي نه کوي، نو الله – عزوجل- فرمایلي دي:

﴿وَقُلِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي لَمۡ يَتَّخِذۡ وَلَدٗا وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ شَرِيكٞ فِي ٱلۡمُلۡكِ وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ وَلِيّٞ مِّنَ ٱلذُّلِّۖ وَكَبِّرۡهُ تَكۡبِيرَۢا ١١١﴾ [الإسراء: 111]

(او ته ووایه: ټوله ثنا هغه الله لره خاص ده چې نه یې څوك اولاد نیولی دی او نه د هغه لپاره په بادشاهۍ کې څوك شریك شته او نه د هغه لپاره د عاجزۍ په وجه څوك دوست شته او ته د هغه لویي بیانوه، لویي کامله). [الإسراء سورت: ایت 111].

هغوی هغه خلک دي ..

د الله د بندګانو ښخه د دوست صفت: هغه څوک دي چې الله – عزوجل- او د هغه له رسول –صلی الله علیه وسلم- سره مینه لري، او له هغه چا سره مینه لري چې هغه له الله او د هغه له رسول سره مینه لري، او له هغه چا سره دښمني کوي چې له الله او د هغه له رسول سره دښمني کوي، او د هغه چا سره دوستي کوي چې هغه د الله او د هغه د رسول سره دوستي کوي، او د هغه چا سره دښمني کوي چې د الله او د هغه د رسول سره دښمني کوي، او د الله اطاعت کوي، او د هغه د نافرمانۍ ښخه ډډه کوي.

﴿وَمَن يَتَوَلَّ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ فَإِنَّ حِزۡبَ ٱللَّهِ هُمُ ٱلۡغَٰلِبُونَ ٥٦﴾ [المائدة: 56]

(او څوك چې له الله او د هغه له رسول او مومنانو سره دوستي وکړي، نو یقینًا هم د الله ډله غالبه کېدونکې ده). [المائدة سورت: ایت 56]،

﴿لَّا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْـَٔاخِرِ يُوَآدُّونَ مَنْ حَآدَّ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ...﴾ [المجادلة: 22]

(ته به داسې قوم ونه مومې چې په الله او په ورځ د اخرت ایمان لري، چې دوی به له هغو کسانو سره دوستي کوي چې د الله او د هغه د رسول مخالفت کوي). [المجادلة سورت: ایت 22].

لاره:

ولایت او دوستي: له دوو شرطونو پرته نه حاصلیږي: په تقوا، او ایمان سره، نو الله –سبحانه و تعالی- فرمایلي دي:

﴿أَلَآ إِنَّ أَوْلِيَآءَ ٱللَّهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ٦٢ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَكَانُواْ يَتَّقُونَ ٦٣ لَهُمُ ٱلْبُشْرَىٰ فِي ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَفِي ٱلْـَٔاخِرَةِۚ لَا تَبْدِيلَ لِكَلِمَٰتِ ٱللَّهِۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ ٦٤﴾ [یونس: 62-64]

(اګاه شئ! بېشکه د الله دوستان چې دي؛ پر هغوی باندې نه څه وېره شته او نه دوی غمژن کېږي. هغه کسان چې ایمان يې راوړی دی او ځان (له نافرمانیو) ساتي. د همدوی لپاره په دنیایي ژوند کې زېری دی او په اخرت کې (هم). د الله کلماتو لره هېڅ تبدیلي نشته، همدغه ډېر ستر بری دی). [یونس سورت: ایت 62-64]

. او د الله – تبارک و تعالی – دوستي هغه لاسته راوړنه ده چې اسباب او د زړه او جسمي اعمالو په درلودلو سره ترلاسه کیږي، الله –سبحانه و تعالی- فرمايي:

﴿وَٱلَّذِينَ جَٰهَدُواْ فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَاۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَمَعَ ٱلْمُحْسِنِينَ ٦٩﴾ [العنكبوت: 69]

(او هغه کسان چې په (دین) زمونږ کې کوښښ کوي ( نو) مونږ به دوی ته خامخا ضرور خپلې لارې وښیو او بېشکه الله خامخا د نېکي کوونکو ملګری دی). [العنکبوت سورت: ایت 69]،

﴿..وَهُوَ وَلِيُّهُم بِمَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ ١٢٧﴾ [الأنعام: 127]

(او هغه د دوی مددګار دی، په سبب د هغو عملونو چې دوی به کول). [الأنعام سورت: ایت 127].

خلک د الله –عزوجل- په دوستۍ کې د هغوی د ایمان او تقوا له مخې يو بل سره توپیر لري.

### د قبولۍ چابیانې:

هرځومره چې بنده د فرایضو او شرعي غوښتنو په ترسره کولو سره الله ته نږدې شي؛ په هماغه پیمانه به د الله –سبحانه و تعالی- مینه او نږدېوالی ترلاسه کړي.

صحیح روایت دی چې هغه -صلی الله علیه وسلم- وفرمایل: «يقَوْلُ اللهُ -عز وجل- : مَنْ عَادَى لِي وَلِيًّا فَقَدْ آذَنْتُهُ بِالحَرْبِ، وَمَا تَقَرَّبَ إِلَيَّ عَبْدِي بِشَيْءٍ أَحَبَّ إِلَيَّ مِمَّا افْتَرَضْتُ عَلَيْهِ، وَمَا يَزَالُ عَبْدِي يَتَقَرَّبُ إِلَيَّ بِالنَّوَافِلِ حَتَّى أُحِبَّهُ، فَإِذَا أَحْبَبْتُهُ: كُنْتُ سَمْعَهُ الَّذِي يَسْمَعُ بِهِ، وَبَصَرَهُ الَّذِي يُبْصِرُ بِهِ، وَيَدَهُ الَّتِي يَبْطِشُ بِهَا، وَرِجْلَهُ الَّتِي يَمْشِي بِهَا، وَإِنْ سَأَلَنِي لَأُعْطِيَنَّهُ، وَلَئِنِ اسْتَعَاذَنِي لَأُعِيذَنَّهُ. «الله – عزوجل- فرمايي: څوک چې زما له دوست سره دښمني وکړي، زه له هغه سره د جګړې اعلان کوم، او زما بنده ما ته په یو شي نه نږدې کېږي چې ما ته ډېر ګران وي د هغه څه نه چې ما په هغه فرض کړي، او زما بنده په نفلونو سره ما ته نږدې کیږي تر څو چې زه ورسره مینه وکړم، نو کله چې ورسره مینه وکړم: زه د هغه غوږ یم چې هغه ورباندې اوري، او د هغه سترګه به یم چې هغې سره ويني، او د هغه لاس یم چې په هغه ورسره نیول کوي، او د هغه پښه یم چې هغې سره ګرځي، او که هغه له ما څخه وغواړي، زه به يې ورکړم، او که هغه زما څخه د پناه غوښتنه وکړي، زه به هغه ته پناه ورکړم. وَمَا تَرَدَّدْتُ عَنْ شَيْءٍ أَنَا فَاعِلُهُ تَرَدُّدِي عَنْ نَفْسِ المُؤْمِنِ؛ يَكْرَهُ المَوْتَ، وَأَنَا أَكْرَهُ مَسَاءَتَهُ» او زه د هيڅ څيز په هکله زړه نا زړه نه یم چې زه يې کوونکی یم لکه زما زړه نا زړه توب د مومن د ساه (روح اخېستلو) کې، هغه د مرګ څخه کرکه لري، او زه د هغه خپګان بد ګڼم». [بخاري روايت کړی]. شیخ الاسلام ابن تیمیه -رحمه الله- فرمایي: «ولي، هیڅکله د الله ولي نشي جوړیدلی مګر دا چې په ظاهر او باطن کې د رسول -صلی الله علیه وسلم- پیروي وکړي، نو د هغه سره دوستي کول د رسول -صلی الله علیه وسلم- د پیروۍ په پیمانه دي».

### کله چې تاسره دوستي وکړي تا به حیران کړي !!

د دی ځانګړې دوستۍ غوښتنه: په خپلو بندګانو باندې مهرباني او هغوی ته توفیق ورکول دي،

﴿ٱللَّهُ وَلِيُّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ يُخۡرِجُهُم مِّنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِۖ ...﴾ [البقرة: 257]

(او الله د هغو کسانو دوست دی چې ایمان يې راوړی دی، هغه دوی لره له تیارو نه رڼا ته راوباسي). [البقرة سورت: ایت 257].

او دا : د ګناهونو د بخښنې او رحمت تقاضا کوي،

﴿... أَنتَ وَلِيُّنَا فَٱغۡفِرۡ لَنَا وَٱرۡحَمۡنَاۖ وَأَنتَ خَيۡرُ ٱلۡغَٰفِرِينَ ١٥٥﴾ [الأعراف: 155]

(او الله د هغو کسانو دوست دی چې ایمان يې راوړی دی، هغه دوی لره له تِیارو نه رڼا ته راوباسي). [الأعراف سورت: ایت 155]

. او په : دښمنانو باندې د بریا او ملاتړ تقاضا کوي،

﴿... أَنتَ مَوۡلَىٰنَا فَٱنصُرۡنَا عَلَى ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡكَٰفِرِينَ ٢٨٦﴾ [البقرة: 286]

( هم ته زمونږ کار ساز يې نو د کافر قوم په خلاف ته زمونږ مدد وکړه). [البقرة سورت: ایت 286]،

او الله –سبحانه وتعالی- وفرمايل:

﴿بَلِ ٱللَّهُ مَوۡلَىٰكُمۡۖ وَهُوَ خَيۡرُ ٱلنَّٰصِرِينَ ١٥٠﴾ [آل عمران: 150]

(بلکې الله ستاسو مددګار دی او هغه تر ټولو ښه مدد کوونکی دی). [آل عمران سورت: ایت 150].

د ولایت او دوستۍ تقاضا: جنت ته ننوتل او د دوزخ له اوره ژغورل کیدل دي، الله –سبحانه و تعالی- وفرمايل:

﴿۞ لَهُمۡ دَارُ ٱلسَّلَٰمِ عِندَ رَبِّهِمۡۖ وَهُوَ وَلِيُّهُم بِمَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ١٢٧﴾ [الأنعام: 127]

(د دوی لپاره د خپل رب په نیز د سلامتۍ کور دی او هغه د دوی مددګار دی، په سبب د هغو عملونو چې دوی به کول). [الأنعام سورت: ایت 127].

د الله له سترو نعمتونو څخه: دا چې الله ستا دوست وي، هغه – سبحانه و تعالی - وفرمايل:

﴿... نِعۡمَ ٱلۡمَوۡلَىٰ وَنِعۡمَ ٱلنَّصِيرُ ٤٠﴾ [الأنفال: 40]

(هغه ښه مولٰی دی او ښه مدد کوونکی دی). [الأنفال سورت: ایت 40]

، نو که الله – عزوجل- ستا دوست وي؛ نو په یقین سره تا په دنیا او اخرت کې امنیت ترلاسه کړ:

﴿... أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمُ ٱلۡأَمۡنُ وَهُم مُّهۡتَدُونَ ٨٢﴾ [الأنعام: 82]

[(نو) دغه کسان دي چې د همدوی لپاره (له عذاب نه) امن (بچاو) دی او دغه کسان هدایت موندونکي دي]. [الأنعام سورت: ایت 82].

ته ډاډمن يې؛ ځکه چې الله – جل و علا- ستا سره دی، ستا ژبه تل وايي:

﴿قُل لَّن يُصِيبَنَآ إِلَّا مَا كَتَبَ ٱللَّهُ لَنَا هُوَ مَوۡلَىٰنَاۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٥١﴾ [التوبة: 51]

(ته ( دوی ته) ووايه: مونږ ته به له سره مصيبت راونه رسيږي مګر هغه چې الله زمونږ لپاره ليکلی دی، همغه زمونږ کارساز دی او پس لازم ده چې مومنان خاص په الله باندې توکل وکړي). التوبة سورت: ايت 51].

هغه تا باندې سختي راولي، تا باندې فشار راوړي، ترڅو تا غوره کړي؛

﴿وَنُرِيدُ أَن نَّمُنَّ عَلَى ٱلَّذِينَ ٱسۡتُضۡعِفُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَنَجۡعَلَهُمۡ أَئِمَّةٗ وَنَجۡعَلَهُمُ ٱلۡوَٰرِثِينَ ٥﴾ [القصص: 5]

(او مونږ اراده وکړه چې په هغو کسانو احسان وکړو چې په ځمکه کې ډېر ضعيف کړی شوي دي او چې دوی امامان وګرځوو او چې مونږ دوی (د فرعون د ملك) وارثان وګرځوو). [القصص سورت: ايت 5].

که ستا مالک ستا پالنه په غاړه واخلي؛ ته به په ډېره پاملرنې کې واوسې، او په لوی نعمت کې به وې، ته به خطا کوې او هغه تا ته سزا درکوي، ته به اسراف کوې او هغه به تا باندې کمښت راولي، ته به مغروره کیږې او هغه به تا ته ادب درکوي؛ او دا یوازې د دې لپاره دی چې الله – جل و علا – ستا مالک دی؛ ښه پالونکی او ښه ساتونکی دی.

او ته په يقين سره پوهيږې: چې دا د مينه کوونکي لخوا سزا ده او عذاب ندی؛ ځکه چې الله خپلو عزيزانو ته عذاب نه ورکوي؛

﴿وَقَالَتِ ٱلۡيَهُودُ وَٱلنَّصَٰرَىٰ نَحۡنُ أَبۡنَٰٓؤُاْ ٱللَّهِ وَأَحِبَّٰٓؤُهُۥۚ قُلۡ فَلِمَ يُعَذِّبُكُم بِذُنُوبِكُمۖ بَلۡ أَنتُم بَشَرٞ مِّمَّنۡ خَلَقَۚ ....﴾ [المائدة: 18]

(او يهوديانو او نصرانيانو وويل: مونږ د الله زامن او د هغه دوستان يو، ته (ورته) ووايه: نو بيا ولې هغه تاسو ته ستاسو د ګناهونو په وجه عذاب درکوي؟ بلکې تاسو د هغه په مخلوقاتو کې انسانان يئ). [المائدة سورت: ايت 18].

اې زما الله! ته د احسان څښتن يې ... او ستا له طرفه سخاوت او ډېره مهرباني ده

اې زما الله! خپلې بخښنې سره ما باندې مهرباني وکړه ... زه په دروازو کې ذليل او متواضع ولاړ يم

اې الله! موږ ستا د مولا په نوم له تا څخه سوال کوو چې موږ ته جنت ته د ننوتو اجازه راکړه، او په پټه او ښکاره کې مو له خپلو دوستانو څخه وګرځوه.

82

## الهَادِي )د نېغې لارې هدايت کوونکی (ذات -جل جلاله-

زه د يو وخت لپاره ګمراه شوم چې په هدايت نه پوهېدم

او هغه زما په زړه کې د تيارې په څير وه

نو کله چې الله وغوښتل ما ته لارښوونه وکړي

هغه ماته د حق لاره وښودله او ماته يې لارښوونه وکړه

نو له خپل ځان څخه مې د بدبختۍ او بدۍ تياره لرې کړې

او د هدايت لپاره مې رڼا له ځانه سره واخيستله

او زه د محمد پيغمبر دين ته ورسيدم

او د ګمراهۍ وروسته دعوتګر جوړ شوم

د الله –جل و علا- له رحمت څخه پر بندګانو باندې دا دی چې: هدايت د هغه په لاس کې دی، او الله خپل ځان په لارښوونکي (الهادي- عزوجل-) نومولی:

او مونږ د دې نوم سره تم کيږو، او مونږ له هغه څخه دا غواړو چې: په خپلې اجازې سره مونږ ته د حق او مستقيمې لارې لارښوونه وکړي:

هغه –تبارک و تعالی- فرمايلي:

﴿... وَإِنَّ ٱللَّهَ لَهَادِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ٥٤﴾ [الحج: 54]

(او بېشکه الله خامخا هغو کسانو ته چې ايمان يې راوړی دی؛ د نېغې لارې هدايت کوونکی دی). [الحج سورت: ايت 54]،

او هغه -تبارک وتعالی- فرمايلي:-

﴿... وَكَفَىٰ بِرَبِّكَ هَادِيٗا وَنَصِيرٗا ٣١﴾ [الفرقان: 31]

(او ستا رب ډېر کافي دی، سمه لار ښوونکی، او ښه مدد کوونکی). [الفرقان سورت: ايت 31].

نو زمونږ رب –عزوجل- هغه ذات دی چې خپلو بندګانو ته د ګټې په جلبولو او د تاوان له مخنيوي څخه لارښوونه کوي، او دوی ته هغه څه ور زده کوي چې دوی پرې نه پوهيږي، دوی ته د بريالیتوب او سم کار لارښوونه کوي، او دوی ته د تقوی الهام ورکوي، او د دوی زړونه توبه کولو ته اړ باسي، ترڅو د هغه –سبحانه و تعالی- د امر تابع وګرځي.

د الله لارښوونه انسان ته..

په څلور ډوله ده:

لومړی: عمومي لارښونه، او هغه: د هر نفس لپاره د هغه د ژوند د ګټو او هغه څه چې هغه يې ترسره کوي لارښوونه کوي، او دا د ټولو ژونديو لپاره جامع لارښوونه ده؛ خبرې کوونکي ژوندي او څاروي، مرغۍ او خوځيدونکي، فصاحت لرونکي او عجميان.

دويم: د مکلفو کسانو لپاره د هدايت او بيان لارښوونه، او هغه: د الله –عزوجل- حجت دی د هغه پر مخلوق باندې؛ چې هغه ته به عذاب نه ورکوي مګر د حجت د قايمولو څخه وروسته.

هغه –سبحانه و تعالی- فرمايلي:

﴿وَأَمَّا ثَمُودُ فَهَدَيۡنَٰهُمۡ فَٱسۡتَحَبُّواْ ٱلۡعَمَىٰ عَلَى ٱلۡهُدَىٰ ...﴾ [فصلت: 17]

(او پاتې شول ثموديان، نو مونږ دوی ته نېغه لار وښودله، نو دوی په هدايت باندې ړوندوالي ته ترجيح ورکړه). [فصلت سورت: ايت 17].

دريم: د توفيق ورکولو او الهام لارښوونه او د حق د منلو او هغه باندې د رضايت لپاره د سينې پراخوالی، نو الله –سبحانه و تعالی- فرمايلي:

﴿وَمَن يَهۡدِ ٱللَّهُ فَهُوَ ٱلۡمُهۡتَدِۖ ...﴾ [الإسراء: 97]

(او چا ته چې الله هدايت وکړي، نو هم هغه هدايت موندونکی دی). [الإسراء سورت: ايت 97]،

﴿.. وَمَن يُؤۡمِنۢ بِٱللَّهِ يَهۡدِ قَلۡبَهُۥ...﴾ [التغابن: 11]

(او هغه څوك چې په الله ايمان راوړي (، نو) هغه به د ده زړه ته هدايت وکړي). [التغابن سورت: ايت 11]

. نو لدې امله؛ الله –سبحانه و تعالی- خپلو بندګانو ته امر کړی چې له هغه څخه هدايت او لارښوونه وغواړي؛ بلکې هغوی ته يې لارښوونه وکړه چې په هر رکعت کې له هغه څخه د لارښوونې غوښتنه وکړي:

﴿ٱهۡدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلۡمُسۡتَقِيمَ٦﴾ [الفاتحة: 6]

(ته مونږ ته سَمَه (نېغه) لاره وښَيَه). [الفاتحة سورت: ايت 6]

. څلورم: د قيامت په ورځ د جنت او دوزخ خوا ته لارښوونه؛ نو الله –سبحانه و تعالی- وفرمايل:

﴿سَيَهۡدِيهِمۡ وَيُصۡلِحُ بَالَهُمۡ٥﴾ [محمد: 5]

(هغه (الله) به دوی ته خامخا لار ښوونه وکړي او د دوی حال به ښه کړي). [محمد سورت: ايت 5]،

﴿.. وَقَالُواْ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي هَدَىٰنَا لِهَٰذَا وَمَا كُنَّا لِنَهۡتَدِيَ لَوۡلَآ أَنۡ هَدَىٰنَا ٱللَّهُۖ ...﴾ [الأعراف: 43]

(او دوی به وايي: ټولې ستاينې هغه الله لره دي؛ هغه چې مونږ ته يې د دې هدايت وکړ او مونږ پخپله (داسې) نه وو چې دا لار مو موندلې وَی، که چېرې الله مونږ ته دا لار نه وه راښودلې). [الأعراف سورت: ايت 43].

اما د اور خوا ته لارښوونه؛ الله –سبحانه و تعالی- وفرمايل:

﴿۞ ٱحۡشُرُواْ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ وَأَزۡوَٰجَهُمۡ وَمَا كَانُواْ يَعۡبُدُونَ ٢٢ مِن دُونِ ٱللَّهِ فَٱهۡدُوهُمۡ إِلَىٰ صِرَٰطِ ٱلۡجَحِيمِ ٢٣﴾ [الصافات: 22-23]

[(الله به ملايكو ته ووايي:) تاسو راټول کړئ هغه کسان چې ظلم (شرك) يې کړی دی او د دوی جوړې (د عقيدې ملګري) او هغه څه چې دوی به يې عبادت کاوه. له الله نه غير، نو تاسو دوی د دوزخ په لاره روان (او برابر) کړئ]. [الصافات سورت: ايتونه 22-23].

هرڅومره چې ستا لارښوونې ډيرې شي، په هماغه پيمانه لوړيږې..

او لارښوونه (هدايت) تر ټولو لوی نعمت دی چې لارښود (الهادي) ذات يې خپل بنده ته ورکوي، او له دې پرته هر نعمت زوال کيدونکي دي.

او هغه کسان چې په علم کې راسخ او قوي ريښې لرونکي وي د دې نعمت لپاره خورا ليواله دي، او دوی الله ته دعا کوي چې دغه نعمت ترې ختم نشي:

﴿رَبَّنَا لَا تُزِغۡ قُلُوبَنَا بَعۡدَ إِذۡ هَدَيۡتَنَا ...﴾ [آل عمران: 8]

[(او وايي) اې زموږه ربه! زموږ زړونه مه کږوه وروسته له دې چې تا موږ ته سمه لار وښودله]. [آل عمران سورت: ايت 8].

او په يقين سره چې لارښوونې لپاره پاي نشته؛ که بنده هرڅومره په هغې کې هرې درجې ته رسيدلی وي! نو د هغه د لارښوونې څخه پورته بله لارښوونه شتون لري، او د هغه لارښوونې څخه پورته بله لارښوونه شتون لري، تر هيڅ پايه پورې، نو څومره چې بنده د خپل رب څخه ووېرېږي، هغه به بلې لارښوونې ته پورته کيږي؛ او هغه به په ډيرو لارښوونو کې وي که چيرې هغه په ديرو تقواګانو کې وي، الله -سبحانه وتعالی- فرمايي:

﴿وَيَزِيدُ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ٱهۡتَدَوۡاْ هُدٗىۗ ...﴾ [مريم: 76]

(او الله هغو کسانو ته هدايت نور هم زياتوي چې نېغه لار يې موندلې ده). [مريم سورت: ايت 76].

او کله چې د تقوا يوه برخه له لاسه ورکړي نو د هغه په اندازه د لارښوونې يوه برخه له لاسه ورکوي، او چا لره چې لارښوونه حاصله شي؛ هغه ابدي نعمتونه ترلاسه کړل، او الله –سبحانه و تعالی- وفرمايل:

﴿ٱهۡدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلۡمُسۡتَقِيمَ ٦ صِرَٰطَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِمۡ ...﴾ [الفاتحة: 6-7]

(ته مونږ ته سَمَه (نېغه) لاره وښَیَه. د هغو خلقو لاره چې تا پر هغوی باندې انعام کړی دی). [الفاتحة سورت: ايت 7].

او د لارښوونې نښه: د سينې پراخوالی دی؛ هغه – سبحانه و تعالی- وفرمايل:

﴿فَمَن يُرِدِ ٱللَّهُ أَن يَهۡدِيَهُۥ يَشۡرَحۡ صَدۡرَهُۥ لِلۡإِسۡلَٰمِ ...﴾ [الأنعام: 125]

(نو هغه څوک چې الله هغه ته د هدايت کولو اراده وکړي، (نو) د هغه سينه د اسلام لپاره پراخه کړي). [الأنعام سورت: ايت 125]،

او هغه چا لره چې الله –تبارک و تعالی- هدايت وکړي، هيڅوک هغه نشي ګمراه کولی؛ او ددې خبرې ضد هم سم دی؛ هغه –سبحانه و تعالی- وفرمايل:

﴿... وَمَن يُضۡلِلِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِنۡ هَادٖ ٣٦ وَمَن يَهۡدِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِن مُّضِلٍّ ...﴾ [الزمر: 36-37]

(او هغه څوك چې الله يې ګمراه كړي، نو د هغه لپاره هيڅوك نېغه لار ښودونكى نشته. او هغه څوك چې الله ورته هدايت وكړي، نو د هغه لپاره هيڅوك ګمراه كوونكى نشته). [الزمر سورت: ايت 36-37].

له همدې امله؛ د رسول الله -صلی الله عليه وسلم- له ډېرو دعاګانو څخه يوه دا وه: «اللَّهُمَّ! إِنِّي أَسْأَلُكَ الهُدَى وَالتُّقَى، وَالعَفَافَ وَالغِنَى» «اې الله! زه له تا څخه د هدايت او تقوا، عفت او بډايني غوښتنه کوم». [مسلم روايت کړی]، او هغه -صلی الله عليه وسلم- علي -رضي الله عنه- ته ددې ښوونه وکړه: «قُلْ: اللَّهُمَّ! اهْدِنِي وَسَدِّدْنِي» «ووايه: اې الله! ما ته لارښوونه وکړه او ما مضبوط کړه». [مسلم روايت کړی]. او هغه -صلی الله عليه وسلم- حسن بن علي -رضي الله عنهما- ته ښوونه وکړه چې د وترو په قنوت کې دا ووايي: «اللَّهُمَّ! اهْدِنِي فِيمَنْ هَدَيْتَ» «اې الله! ما ته هدايت وکړه له هغه چا سره چې تا ورته هدايت کړی وي». [صحيح حديث دی. ابوداود روايت کړی].

د اطاعت او ګناه تر منځ د ژوند يو خطر دا دی چې ته نه پوهيږې چې ستا پايله به په کوم يو سره وي.

شيخ الاسلام ابن تيميه -رحمه الله- فرمايي: «ګناهونه د انسان د نفس له لوازمو څخه دي، او هغه په هره شېبه کې هدايت ته اړ دی، او تر خوراک او څښاک زيات هدايت ته اړتيا لري».

## د اسمان دروازه وټکوه!

هغه – عزوجل- د ابراهيم -عليه السلام- په ژبه فرمايي:

﴿وَقَالَ إِنِّي ذَاهِبٌ إِلَىٰ رَبِّي سَيَهْدِينِ ﴿٩٩﴾﴾ [الصافات: 99]

(او ده (ابراهيم) وويل: بېشکه زه خپل رب ته تلونکی يم، ژر به هغه ما ته لاره وښيي). [الصافات سورت: ايت 99].

ته په خپل ضعف سره الله ته لاړ شه هغه به تاته په خپل قوت سره راشي.. الله ته په ذلت لاړ شه هغه به تاته په خپل عزت سره راشي..

ته په يوازيتوب او تنهايي سره الله ته لاړ شه، هغه به تاته په خپل اُنس سره راشي..

ته په خپل فقر سره الله ته لاړ شه، هغه به تا ته په خپلې شتمنۍ سره راشي.

ته په خپلې انديښنې سره الله ته لاړ شه، هغه به تا ته آرامي او خلاصون درکړي..

ته په خپل غم سره الله ته لاړ شه، هغه به تا ته خپله خوښي راوليږي.

اې زما الله ما د خپل عذاب څخه وژغوره ځکه چې زه ... يو ذليل، زنداني، ډاريدونکی او تاته تسليم يم

اې الله ما ته د بخښنې خوند راوڅکه هغه ورځ چې هلته اولاد او مال ګټه نشي رسولی

## او په پای کې ..

شيرازي -رحمه الله- وايي: »يوه شپه مې له خپل پلار سره تيره کړه او شاوخوا نور خلک ويده ول، ما وويل: له دې کسانو څخه هيڅوک هم پا نه څېدل ترڅو دوه

ركعته لمونځ وکړي! هغه وويل: اې زما زويه!». ستا استقامت تا ته دا حق نه درکوي چې د نورو په ګمراهۍ باندې ملنډې ووهې؛ زړونه د رحمان د دوو ګوتو تر منځه دي، هغه چې څرنګه وغواړي بدلوي يې، نو په خپل کار او عبادت باندې مه دوکه کېږه، ځکه چې دا پر تا باندې د الله فضل دی؛ نو له الله څخه ځان ته د استقامت او نورو ته د هدايت غوښتنه وکړه؛ او الله خپل پيغمبر – غوره انسان -ته وفرمايل:

﴿وَلَوۡلَآ أَن ثَبَّتۡنَٰكَ لَقَدۡ كِدتَّ تَرۡكَنُ إِلَيۡهِمۡ شَيۡـٔٗا قَلِيلًا ٧٤﴾ [الإسراء: 74]

(او که ته مونږ (په حق باندې) نه وی ټينګ کړی (،نو) يقينًا يقينًا ته نژدې وې چې دوی ته لږ څه مايله شې). [الإسراء سورت: ايت 74]،

نو ستا به څه حال وي؟!".

اې هدايت کوونکی ذاته! موږ ته لارښوونه وکړه د هغه حق په اړه چې دوی پکې سره ستا په اجازې اختلاف لري؛ ته لارښوونه کوې چا ته چې ته وغواړې.

83

## النَّـصِيرُ )ښه مدد کوونکی (ذات -جل جلاله-

په صحيحينو کې راغلي دي: د حديبې شرطونه د رسول الله -صلی الله عليه وسلم- په اصحابو باندې درانه تمام شول..

قال عمر بن الخطاب: فأتيت النبي -صلى الله عليه وسلم- ؛ فقلت: ألست نبي الله؟ قال: «بَلَى»، قلت: ألسنا على الحق، وعدونا على الباطل؟ قال: «بَلَى»، قلت: فلم نعطي الدنية في ديننا إذًا؟! عمر بن الخطاب -رضي الله عنه- وايي: زه رسول الله -صلی الله عليه وسلم- ته راغلم؛ ما وويل: ايا ته د الله پيغمبر نه يې؟ وېې ويل: هو يم، ما وويل: آيا موږ په حق او د دښمنان په باطل ندي؟ وېې ويل: هو دي، ما وويل: نو بيا ولې خپل دين ته ټيټ ارزښت ورکوو؟!

نو هغه – صلى الله عليه وسلم - وفرمايل: «إِنِّي رَسُولُ اللهِ، وَلَسْتُ أَعْصِيهِ، وَهُوَ نَاصِرِي» "زه د الله رسول یم، او د هغه نافرماني نه کوم، او هغه زما مرستندوی دی". [دا د بخاري لفظ دی].

ته هغه لوړ ذات يې چې حق غالبوي ... او هغه شر ته ماتې ورکوي چې له حده اوختی وي او ورانی کوي

نو ته هغه ذات يې چې حقدارانو ته خپل حقونه ورکوي ... او ستا مرسته ډېره قوي او نړدې ده.

الله -تعالى- د خپل لوړ ذات په اړه فرمايي:

﴿... فَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ مَوۡلَىٰكُمۡۚ نِعۡمَ ٱلۡمَوۡلَىٰ وَنِعۡمَ ٱلنَّصِيرُ ۝٤٠﴾ [الأنفال: 40]

(نو تاسو پوه شئ چې بېشکه الله ستاسو مولٰى (ساتونکی) دی، هغه ښه مولٰى او ښه مدد کوونکی دی). [الأنفال سورت: ايت 40]

. زمونږ رب – سبحانه و تعالى- هغه ذات دی چې په دې دنيا کې د خپلو دښمنانو په مقابل کې د خپلو رسولانو، پيغمبرانو او اولياوو مرسته کوي، هغه -سبحانه وتعالى- فرمايي:

﴿إِنَّا لَنَنصُرُ رُسُلَنَا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَيَوۡمَ يَقُومُ ٱلۡأَشۡهَٰدُ ۝٥١﴾ [غافر: 51]

(بېشکه مونږ خامخا د خپلو رسولانو او د هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی، په دنيايي ژوند کې مدد کوو او په هغې ورځ کې (هم) چې ګواهان به ودريږي). [غافر سورت: ايت51].

او زموږ رب – عزوجل – د کمزورو سره مرسته کوي، او له مظلوم څخه ظلم لرې کوي؛ حتا که هغوی کافران هم وي؛ او د هغوی لپاره له الله پرته بل هيڅ مرستندوی نشته.

او زمونږ رب – عزوجل- مومنانو ته د دوی د دښمن پر وړاندې بريا ورکوي؛ که هغه بهرني وي؛ لکه کافران او ظالمان، او يا داخلي وي؛ لکه نفس او شيطان، او دا د مومن لپاره د هغه د بهرنيو دښمنانو په پرتله ډېر زيان رسوونکي دي؛

﴿أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ يُجَٰدِلُونَ فِيٓ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ أَنَّىٰ يُصۡرَفُونَ٦٩﴾ [غافر: 69]

(او هغه کسان چې په (دين) زمونږ کې کوشش کوي ( نو) مونږ به دوی ته خامخا ضرور خپلې لارې وښيو او بېشکه الله خامخا د نېکي کوونکو ملګری دی). [العنكبوت سورت: ايت 69]

. او کله چې د الله مرسته راښکته شي؛ نو پر هغه کس به هيڅ څوک بريالی نشي چې هغه يې ملاتړ کوي، او هغه چا سره به مرسته ونشي د چا يې چې مرسته نه وي کړې.

﴿إِن يَنصُرۡكُمُ ٱللَّهُ فَلَا غَالِبَ لَكُمۡۖ ...﴾ [آل عمران: 160]

(که چېرې الله ستاسو مدد وکړي، نو بيا پر تاسو باندې هيڅوك غالب راتلونکی نشته). [آل عمران سورت: ايت 160].

د بريا شکلونه:

او د الله د مرستې ډولونه د مومنو بندګانو لپاره د الله –عزوجل- له خوا څخه راځي چې بنده يې فکر هم نکوي، نه شميرل کيږي، نه محدوديږي، او نه رد کيږي:

کله: د ملاېکو په ملاتړ سره وي؛ لکه څنګه چې د بدر په بريا کې د هغه د پيغمبر او د هغه د صحابه وو سره وشو؛ او کله په سخت باد سره لکه په عاد او احزابو باندې چې وشو، او يا د ابابيل مرغانو په ليږلو سره؛ لکه چې اصحاب الفيل سره وشو، او يا په چيغه باندې؛ لکه څنګه چې په ثمودو باندې وشو، او يا ځمکې په شلېدلو (خسف) لکه چې د قارون قوم باندې ترسره شو؛ او يا په کاڼي ويشتونکي باد سره، لکه چې د لوط قوم باندې ترسره شو، او يا په طوفان سره ؛ لکه چې د نوح قوم باندې ترسره شو.

او د الله – عزوجل- لښکرې بې حده دي، او الله په خپل کار باندې غالب دی، او هغه –تبارک و تعالی- په هر څه قدرت لري.

د بريا شکلونه: ځينې وختونه پر دښمنانو باندې کاميابېدلو او ماتولو باندې وي؛ لکه د داؤد او سليمان –عليهما السلام- او محمد -صلی الله عليه وسلم-.

او کله کله د رسولانو په ژوند کې له درواغ ویوونکو څخه په غچ اخیستلو سره وي؛ لکه د نوح، او د لوط قومونو، او د فرعون او نورو له منځه وړل، او یا د هغوی له مرګه وروسته؛ لکه د یحیی علیه السلام په قاتلینو باندې د بختنصر تسلط، او د رومیانو تسلط د عیسی -علیه السلام- د وژنې په اراده کوونکو باندې.

نو الله -عز وجل - وفرمایل:

﴿إِنَّا لَنَنصُرُ رُسُلَنَا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَيَوۡمَ يَقُومُ ٱلۡأَشۡهَٰدُ﴾ [غافر: 51]

(بېشکه مونږ خامخا د خپلو رسولانو او د هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی، په دنیایي ژوند کې مدد کوو او په هغې ورځ کې (هم) چې ګواهان به ودرېږي). [غافر سورت: ایت 51].

کافي او بشپړ ځواب..

السدي وایي: «انبیاء او مؤمنان په دې دنیا کې په داسې حال کې وژل شوي چې دوی مدد کړل شوي وو، او هغه ددې لپاره: هغه قوم چې د پیغمبرانو او مومنانو سره داسې چلند کوي، تر هغه وخته له منځه نه ځي ترڅو چې الله یو قوم راولیږي چې هغوی باندې هغو کسانو سره مدد وکړي چې دوی څخه خلک وژل شوي دي، نو په دې آیت سره دغه ستونزه لرې شوه». او د بلې ستونزې په اړه چې ځیني خلک هغه واردوي د الله – عزوجل- پدې وینا سره:

﴿... وَلَن يَجۡعَلَ ٱللَّهُ لِلۡكَٰفِرِينَ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ سَبِيلًا﴾ [النساء: 141]

او الله به کله هم د کافرانو لپاره په مومنانو باندې (د غلبې) څه لار جوړه نه کړي [النساء سورت: ایت 141]:

نو په آخرت کې هیڅ ستونزه نشته.

مګر په دنیا کې؛ د دې ځواب په اړه لکه څنګه چې ابن القیم -رحمه الله- وفرمایل: "هر کله چې ایمان ضعیف شي، د دوی دښمنان به پر دوی باندې لارې ولرې د هغه څه له مخې چې د دوی په ایمان کې نیمګړتیاوې شتون لري. نو مومن عزیز، غالب، ملاتړ شوی او مرسته کړی شوی دی:

﴿إِنَّا لَنَنصُرُ رُسُلَنَا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَيَوۡمَ يَقُومُ ٱلۡأَشۡهَٰدُ﴾ [غافر: 51]

(بېشکه مونږ خامخا د خپلو رسولانو او د هغو کسانو چې ایمان يې راوړی دی، په دنیايي ژوند کې مدد کوو او په هغې ورځ کې (هم) چې ګواهان به ودرېږي). [غافر سورت: ایت 51]

. هغه څه چې مسلمان د کافرانو له تسلط څخه په دې زمانه کې ويني هغه لدې له امله دي: کوم څه چې مسلمانانو په خپل دين کې د لړوالي او يا زياتوالي له مخې منځته راوړي دي، نو که دوی توبه وکړي، د دوی ایمان به بشپړ شي، او د دوی بریا به د الله – عزوجل- له خوا راشي:

﴿وَعۡدَ ٱللَّهِۖ لَا يُخۡلِفُ ٱللَّهُ وَعۡدَهُۥ ...﴾ [الروم: 6]

(وعده کول د الله، الله د خپلې وعدې مخالفت نه کوي). [الروم سورت: ایت 6].

د بریا قیمت: ایمان، تیاری او صبر دی؛ ځکه چې الله – عزوجل- فرمايي:

﴿...وَكَانَ حَقًّا عَلَيۡنَا نَصۡرُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٤٧﴾ [الروم: 47]

(او په مونږه باندې د مومنانو مدد کول حق دي). [الروم سورت: ایت 47]،

او فرمايي:

﴿وَأَعِدُّواْ لَهُم مَّا ٱسۡتَطَعۡتُم مِّن قُوَّةٖ وَمِن رِّبَاطِ ٱلۡخَيۡلِ ...﴾ [الأنفال: 60]

(او تاسو قوت او ترېلي اسونه تیار کړئ څومره چې استطاعت لرئ). [الأنفال سورت: ایت 60]

، او فرمايي:

﴿... وَإِن تَصۡبِرُواْ وَتَتَّقُواْ لَا يَضُرُّكُمۡ كَيۡدُهُمۡ شَيۡـًٔاۗ ...﴾ [آل عمران: 120]

(او که تاسو صبر وکړئ او(د دوی له دوستۍ نه) ځان وساتئ (نو) د هغوی چل (او فريب) به تاسو ته هېڅ ضرر هم د ونه رسولی شي). [آل عمران سورت: ایت 120]

، له رسول الله -صلى الله عليه وسلم- څخه روایت دی چې هغه وفرمایل: «...وَأَنَّ النَّصْرَ مَعَ الصَّبْرِ» "... او بريا له صبر سره راځي". [صحيح حدیث. احمد په مسند کې روایت کړی دی]. او دلته، بریا د مرستندوی رب څخه راښکته کيږي؛ ځکه چې الله – عزوجل- فرمايي:

﴿... وَمَا ٱلنَّصۡرُ إِلَّا مِنۡ عِندِ ٱللَّهِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَكِيمِ ١٢٦﴾ [آل عمران: 126]

(او نه دی مدد مګر د الله له جانبه). [آل عمران سورت: ایت 126]،

او فرمايي:

﴿إِن يَنصُرۡكُمُ ٱللَّهُ فَلَا غَالِبَ لَكُمۡۖ ...﴾ [آل عمران: 160]

(که چېرې الله ستاسو مدد وکړي، نو بيا پر تاسو باندې هيڅوک غالب راتلونکی نشته). [آل عمران سورت: ایت 160].

او کله چې الله –جل وعلا- تا سره وي، څوک به ستا پر وړاندې وي؟

او کله چې هغه ستا پر ضد وي نو څوک به ستا سره وي؟

څوک چې په الله تعالی پناه واخلي هغه به خود کفا کړي او د هغه مقام به لوړ کړي:

﴿.... وَٱعۡتَصِمُواْ بِٱللَّهِ هُوَ مَوۡلَىٰكُمۡۖ فَنِعۡمَ ٱلۡمَوۡلَىٰ وَنِعۡمَ ٱلنَّصِيرُ٧٨﴾ [الحج: 78]

(او په (دين د) الله باندې منګولې ټينګې کلکې کړئ، هغه ستاسو مالك دی، نو هغه ښه مالك دی او ښه مدد کوونکی دی). [الحج سورت: ایت 78].

نو مؤمن له مؤمن سره مينه کوي، او په غيب کې ورسره مرسته کوي، که څه هم کورونه او وختونه له يو بل څخه لرې وي.

اې الله اې مدد کوونکيه! موږ ته پر کافرانو باندې بريا په برخه کړه.

84

## الوَارِثُ )دهر شي وارث ، مالک (ذات -جل جلاله-

يو حکيم ته وويل شو: ته ولې د لکړې په نيولو باندې عادت شوی يې، په داسې حال کې چې نه بوډا يې او نه ناروغ يې؟ هغه وويل: د دې خبرې په ياد راوستلو چې زه مسافر يم.

لکړه مې له ځانه سره واخيسته، کمزوری دې ته اړ کړی نه يم چې هغه واخلم

او نه هم د دې لپاره چې ملا مې د بوډا توب له امله کږه شوې وي
خو ما خپل ځان دې ته اړ کړی چې هغه له ځان سره واخلم
ترڅو هغه ته وښايم چې مقيم په سفر کې دی

مسافر ته يې اعلان وکړ چې: په دې دنيا کې د اوسيدو لپاره ځای نه لرې؛ هغې ته زړه مه ښه کوه، او اعلان يې د هغه –عزوجل- په دې قول کې دی:

﴿إِنَّا نَحۡنُ نَرِثُ ٱلۡأَرۡضَ وَمَنۡ عَلَيۡهَا وَإِلَيۡنَا يُرۡجَعُونَ ۝٤٠﴾ [مريم: 40]

(بېشکه مونږ چې يو، همدا مونږ د ځمکې او د هغه چا چې په دغه (ځمکه) باندې دي؛ وارثان کېږو او خاص مونږ ته به دوی بېرته راوستی شي). [مريم سورت: ايت 40].

نو الله: الوارث (دهر شي وارث ، مالک) – تبارک و تعالی- دی.

موږ د هغه – سبحانه و تعالی- د نوم: الوارث –تبارک و تعالی- سره تم کېږو، موږ خپل ځان ته يادونه کوو؛ ترڅو الله په موږ رحم وکړي:

هغه – سبحانه و تعالی- وفرمايل:

﴿وَإِنَّا لَنَحۡنُ نُحۡيِۦ وَنُمِيتُ وَنَحۡنُ ٱلۡوَٰرِثُونَ ۝٢٣﴾ [الحجر: 23]

(او بېشکه مونږ، يقينًا همدا مونږ ژوند ورکوو او مرګ ورکوو او همدا مونږ وارثان يو). [الحجر سورت: ايت 23].

نو زمونږ رب - عزوجل - هغه ذات دی چې د ټولو مخلوقاتو له فنا کيدو وروسته پاتې کېدونکی دی، د ټولو څيزونو وارث دی کله چې فنا شي هر هغه څه چې په ځمکه او اسمانونو کې دي.

او زموږ رب الوارث –عزوجل- دی، پرته له دې چې هيچا ته ميراث پرېږدي، پاتې او باقي ذات دی چې ملک يې محدود ندی، هغه –سبحانه و تعالی- فرمايلي:

﴿إِنَّا نَحۡنُ نَرِثُ ٱلۡأَرۡضَ وَمَنۡ عَلَيۡهَا وَإِلَيۡنَا يُرۡجَعُونَ ۝٤٠﴾ [مريم: 40]

(بېشکه مونږ چې يو، همدا مونږ د ځمکې او د هغه چا چې په دغه (ځمکه) باندې دي؛ وارثان کېږو او خاص مونږ ته به دوی بېرته راوستی شي). [مريم سورت: ايت 40]

. او زمونږ رب – سبحانه و تعالی - اوس هم د ټولو شیانو د اصل مالک دی، چا ته چې وغواړي له هغې څخه ورکوي، او چا ته یې چې خوښه وي پر هغې باندې ځای ناستی ګرځوي، هغه –سبحانه و تعالی- وفرمایل:

﴿... إِنَّ ٱلۡأَرۡضَ لِلَّهِ يُورِثُهَا مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦۖ وَٱلۡعَٰقِبَةُ لِلۡمُتَّقِينَ ١٢٨﴾ [الأعراف: 128]

(بېشکه ځمکه د الله لپاره ده، هغه په خپلو بنده ګانو کې هغه څوک د دې وارث ګرځوي چې یې وغواړي او ښه انجام د پرهېزګارانو لپاره دی). [الأعراف سورت: ایت 128].

او زمونږ رب –سبحانه و تعالی- هغه ذات دی چې مومنانو ته په دنیا کې د کافرانو کورونه او په آخرت کې د دوی د استوګنې ځایونه په میراث ورکوي.

او ددنیا په اړه؛ الله –سبحانه و تعالی- فرمایي:

﴿وَأَوۡرَثَكُمۡ أَرۡضَهُمۡ وَدِيَٰرَهُمۡ وَأَمۡوَٰلَهُمۡ وَأَرۡضٗا لَّمۡ تَطَـُٔوهَاۚ ...﴾ [الأحزاب: 27]

(او هغه، تاسو وارثان کړئ د هغوی د ځمکو او د هغوی د کورونو او د هغوی د مالونو او د هغې ځمکې چې تاسو هغه نه وه پایمال کړې). [الأحزاب سورت: ایت 27]،

او د آخرت په اړه؛ الله -سبحانه وتعالی- فرمایي:-

﴿تِلۡكَ ٱلۡجَنَّةُ ٱلَّتِي نُورِثُ مِنۡ عِبَادِنَا مَن كَانَ تَقِيّٗا ٦٣﴾ [مريم: 63]

(دغه هغه جنتونه دي چې مونږ یې په خپلو بنده ګانو کې هغه څوك وارث ګرځوو چې پرهېزګاره وي). [مریم سورت: ایت 63]،

او هغه -سبحانه وتعالی- فرمایي- :

﴿وَنَزَعۡنَا مَا فِي صُدُورِهِم مِّنۡ غِلّٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهِمُ ٱلۡأَنۡهَٰرُۖ وَقَالُواْ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي هَدَىٰنَا لِهَٰذَا وَمَا كُنَّا لِنَهۡتَدِيَ لَوۡلَآ أَنۡ هَدَىٰنَا ٱللَّهُۖ لَقَدۡ جَآءَتۡ رُسُلُ رَبِّنَا بِٱلۡحَقِّۖ وَنُودُوٓاْ أَن تِلۡكُمُ ٱلۡجَنَّةُ أُورِثۡتُمُوهَا بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ٤٣﴾ [الأعراف: 43]

(او مونږ به د دوی په سینو کې پرته کینه راوباسو، د دوی له لاندې به ویالې بهېږي، او دوی به وایي: ټولې ستاینې هغه الله لره دي؛ هغه چې مونږ ته یې د دې هدایت وکړ او مونږ پخپله (داسې) نه وو چې دا لار مو موندلې وَی، که چېرې الله مونږ ته دا لار نه وه راښودلې، یقینًا یقینًا زمونږ د

رب رسولان په حقه سره راغلي وو او دوی ته به اواز وکړی شي چې دا جنت دی چې تاسو د ده وارثان ګرځول شوي يئ، په سبب د هغو عملونو چې تاسو به کول). [الأعراف سورت: ايت 43]

. او د الله –عزوجل- کتاب : د لارښوونې، عزت او کاميابۍ کتاب دی، هغه چا ته يې په ميراث ورکوي چې د عزت له مخې انتخاب او غوره شوي وي، الله -سبحانه وتعالی- فرمايلي:-

﴿ثُمَّ أَوۡرَثۡنَا ٱلۡكِتَٰبَ ٱلَّذِينَ ٱصۡطَفَيۡنَا مِنۡ عِبَادِنَاۖ فَمِنۡهُمۡ ظَالِمٞ لِّنَفۡسِهِۦ وَمِنۡهُم مُّقۡتَصِدٞ وَمِنۡهُمۡ سَابِقُۢ بِٱلۡخَيۡرَٰتِ بِإِذۡنِ ٱللَّهِۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَضۡلُ ٱلۡكَبِيرُ٣٢﴾ [فاطر: 32]

(بيا مونږ د دغه کتاب (قرآن) وارثان کړل هغه کسان چې مونږ په خپلو بنده ګانو کې غوره (او انتخاب) کړي وو، بيا په دوی کې ځينې په خپل ځان ظلم کوونکي دي او ځينې په دوی کې منځ لاري دي او ځينې په دوی کې نېکيو ته ړومبی کېدونکي دي، د الله په حکم سره، يقينًا همدغه ډېر لوی فضل دی). [فاطر سورت: ايت 32].

## حقيقي ملکيت ..

دا چې مؤمن جانشين دی او خپل رب ته تلوونکی دی؛ او د مؤمن لپاره د الله له مهربانۍ او سخاوت څخه دا دي: چې هغه ته يې امر کړی چې له هغه څه څخه چې الله ورته ورکړي دي انفاق وکړي؛ که څه هم هغه د هغه –سبحانه و تعالی- له خاص ملکيت څخه دی، او بيا يې ورته د لوی اجر ژمنه هم وکړه، هغه –سبحانه و تعالی- فرمايي:

﴿ءَامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَأَنفِقُواْ مِمَّا جَعَلَكُم مُّسۡتَخۡلَفِينَ فِيهِۖ فَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمۡ وَأَنفَقُواْ لَهُمۡ أَجۡرٞ كَبِيرٞ٧﴾ [الحديد: 7]

[(اې خلقو! تاسو په الله او د هغه په رسول ايمان راوړئ او له هغه (مال) څخه څه خرچ کړئ چې هغه (الله) تاسو په دغه (مال) کې (د نورو خلقو) ځای ناستي (خليفه ګان) جوړ کړي يئ، نو هغه کسان چې له تاسو نه يې ايمان راوړی دی او انفاق يې کړی دی، د دوی لپاره ډېر لوی اجر دی]. [الحديد سورت: ايت 7]

، او هغه -سبحانه وتعالی- فرمايلي- :

﴿وَمَا لَكُمۡ أَلَّا تُنفِقُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلِلَّهِ مِيرَٰثُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ....﴾ [الحديد: 10]

(او تاسو ته څه مانع (او عذر ) دی چې د الله په لاره کې خپل مال) نه لګوئ، حال دا چې د اسمانونو او ځمکې میراث خاص د الله لپاره دی). [الحدید سورت: ایت 10]،

واقعي مالکیت: هغه څه دي چې بنده د آخرت ورځې لپاره خوندي کړي دي. په صحیح مسلم کې مطرف له خپل پلار عبدالله بن الشخیر -رضي الله عنه- څخه روایت کړی چې هغه وویل: زه رسول الله -صلى الله علیه وسلم- ته راغلم، په داسې حال کې چې هغه تلاوت کاوه :

﴿أَلۡهَىٰكُمُ ٱلتَّكَاثُرُ۝١﴾ [التكاثر: 1]

(تاسو غافله کړئ فخر کولو په یو بل باندې په ډېروالي (د مال، اولاد او قام) سره) [التكاثر:1]،

هغه وویل: «يَقُولُ ابْنُ آدَمَ: مَالِي.. مَالِي! وَهَلْ لَكَ -يَا ابْنَ آدَمَ!- مِنْ مَالِكَ إِلَّا مَا أَكَلْتَ فَأَفْنَيْتَ، أَوْ لَبِسْتَ فَأَبْلَيْتَ، أَوْ تَصَدَّقْتَ فَأَمْضَيْتَ؟». «د آدم اولاد وايي: زما مال، زما مال! او اې د آدم اولاده، آیا تا لره پرته له هغه مال څخه چې تا وخوړ او خلاص دې کړې، او هغه چې تا واغوست او زوړ دې کړ، او هغه چې تا صدقه کړ او له زړه څخه دې وبخښه، نور څه تا پورې اړه لري!؟».

او مؤمن پوهیږي چې لاس یې د امانت لاس دی، او هغه څه چې د هغه د لاس لاندې دي امانت دي، او الله ویني چې هغه څنګه کاروي!

مال او کورنۍ ندي مګر امانت دي

او یوه ورځ به هرومرو دغه امانت بیرته سپارې

د دعا له مفاهیمو څخه ..

نو بیا پوه شه چې په دې نوم باندې الله ته توسل کول د الله –سبحانه وتعالى- ددې وینا په عمومیت کې شامل دي:

﴿وَلِلَّهِ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰ فَٱدۡعُوهُ بِهَاۖ وَذَرُواْ ٱلَّذِينَ يُلۡحِدُونَ فِيٓ أَسۡمَٰٓئِهِۦۚ سَيُجۡزَوۡنَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ۝١٨٠﴾ [الأعراف: 180]

(او خاص د الله لپاره تر ټولو ښکلي نومونه دي، نو تاسو الله په دغو (نومونو) سره بلئ). [الأعراف سورت: ايت 180]؛

په ځانګړې توګه د غوښتل شوي څيز او ياد شوي نوم ترمنځ د تناسب په نظر کې نيولو سره؛ لکه څنګه چې د الله د نبی زکريا –عليه السلام- په دعا کې راغلي:

﴿وَزَكَرِيَّآ إِذۡ نَادَىٰ رَبَّهُۥ رَبِّ لَا تَذَرۡنِي فَرۡدٗا وَأَنتَ خَيۡرُ ٱلۡوَٰرِثِينَ ٨٩﴾ [الأنبياء: 89]

(او (ياد کړه) زکريا کله چې هغه خپل رب ته اواز وکړ: ای زما ربه! ما يوازې (بې اولاده) مه پرېږده او ته ترټولو غوره وارث يې). [الأنبياء سورت: ايت 89]،

او فرمايي:

﴿وَإِنِّي خِفۡتُ ٱلۡمَوَٰلِيَ مِن وَرَآءِي وَكَانَتِ ٱمۡرَأَتِي عَاقِرٗا فَهَبۡ لِي مِن لَّدُنكَ وَلِيّٗا ٥ يَرِثُنِي وَيَرِثُ مِنۡ ءَالِ يَعۡقُوبَۖ وَٱجۡعَلۡهُ رَبِّ رَضِيّٗا ٦﴾ [مريم: 5-6]

(او بېشکه زه چې يم، خپل وروسته له خپلوانو نه وېرېږم، او زما ښځه له شروع نه شنډه ده، نو ته ما ته له خپل جانب نه يو وارث راکړه. چې وارث شي د دين زما او وارث شي د دين د اولاد د يعقوب او دی وګرځوه ای ربه غوره شوی). [مريم سورت: ايتونه 5-6].

هغه ميراث چې دلته يې يادونه شوې ده: دا د علم، نبوت او د الله – عزوجل- لوري ته د دعوت کولو ميراث دی، د مال ميراث ندی، او دا ډول مبارک ميراث هغه دی چې د هغه –سبحانه و تعالی- په دې وينا کې ذکر شوی:

﴿وَوَرِثَ سُلَيۡمَٰنُ دَاوُۥدَۖ ...﴾ [النمل: 16]

(او سليمان د داود (په علم، نبوت او سلطنت کې) وارث شو). [النمل سورت: ايت 16].

او له هغه –صلی الله عليه وسلم- څخه په صحيح ډول روايت شوی دی چې هغه به فرمايل: «اللَّهُمَّ! أَمْتِعْنِي بِسَمْعِي وَبَصَرِي، وَاجْعَلْهُمَا الوَارِثَ مِنِّي» «اې الله! زما د غوږونو او سترګو څخه د خوند اخيستلو توفيق راکړه، او هغوی دواړه زما وارثان وګرځوه». [صحيح حديث دی. حاکم په مستدرک کې روايت کړی دی].

علماوو په دې نوم سره دې ته اشاره کړې ده چې: بنده د ميراث د حقوقو په اړه له الله –تبارک و تعالی- څخه وويرېږي؛ پر هيڅ يو له وارثانو دې ظلم نه کوي.

اې الله! مونږ له تا څخه ستا په الوارث نوم غوښتنه کوو: چې مونږ ته ددې توفيق راکړې چې له غوړونو او سترګو څخه خوند واخلو، او هغوی دواړه زموږ وارثان وګرځوه.

85

## الشَّافِي )شفا ورکوونکی (ذات -جل جلاله-

په "صحيحينو" کې راغلي: چې رسول الله -صلى الله عليه و سلم- د يو ناروغ اعرابي پوښتنې ته لاړ چې له سختې تبې څخه کړېده، هغه ته يې وويل –د هغه د تسلۍ او هڅونې په موخه - «طَهُورٌ». "پاکي دې وي".

بانډه چي وويل: بلکې دا هغه تبه ده چې پر بوډا باندې راځي، او قبر ته يې ننباسي!

قال: «فَنَعَمْ إِذًا!». هغه وفرمايل: هو، نو هماغسي به وشي!».

د يو انسان روغيدل او يا په خپله ناروغۍ کې پاتې کيدل - ډيری وختونه - يوازې د خپل ځان څخه سرچينه اخلي، که موږ خوشحاله فکرونه ولرو، موږ به خوشحاله يو، او که مونږ د روغيدلو، خوشبينۍ او د الله په اړه د ښه ګمان کولو فکرونه ولرو، موږ به د الله په اجازې سره روغ شو، او که موږ باندې د ناروغۍ او مرض تشويشونه غالب شي نو ډيره شونې ده چې ناروغي به زمونږ څخه لرې نشي.

او زموږ رب –سبحانه و تعالى- د هر ناروغ لپاره د اميد دروازه پرانستې ده، هغه –سبحانه و تعالى- و فرمايل:

﴿... ٱدۡعُونِيٓ أَسۡتَجِبۡ لَكُمۡۚ ...﴾ [غافر: 60]

(تاسو ما وبلئ چې زه ستاسو دعا قبوله کړم). [غافر سورت: ايت 60]،

او هغه -سبحانه وتعالى- فرمايلي- :

﴿وَلِلَّهِ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰ فَٱدۡعُوهُ بِهَاۖ...﴾ [الأعراف: 180]

(او خاص د الله لپاره تر ټولو ښکلي نومونه دي، نو تاسو الله په دغو (نومونو) سره بلئ). [الأعراف سورت: ایت 180].

د هغه له ښکلو نومونو څخه: (الشافي) دی، نو په دې نوم سره الله ته نږدې شه؛ تر څو چې خپلې موخې ته نږدې شې، او اړتیا ترلاسه کړې.

کله به چې رسول الله -صلی الله علیه وسلم- کوم ناروغ ته راغی او یا به ورته راوړل شو، نو هغه به وفرمایل: «أَذْهِبِ البَاسَ رَبَّ النَّاسِ! اشْفِ وَأَنْتَ الشَّافِي، لاَ شِفَاءَ إِلَّا شِفَاؤُكَ، شِفَاءً لاَ يُغَادِرُ سَقَمًا» «اې د خلکو ربه تکلیف لرې کړه! شفا ورکړه چې ته شفا ورکوونکی یې، هیڅ شفا نشته پرته ستا له شفا څخه، داسې شفا چې هېڅ ناروغي نه پرېږدي». [بخاري او مسلم روایت کړی].

او شفا په لغت کې: له ناروغۍ څخه روغیدل دي.

نو زموږ رب –سبحانه و تعالی- هغه ذات دی چې تکلیفونه او ناروغۍ پورته کوي، او ناروغ ته په اسبابو او امید سره شفا ورکوي، او ممکن دی چې ناروغ پرته له درملو څخه روغ شي، او ممکن ناروغي د درملو په اخیستلو سره له منځه لاړه شي، او هغې باندې د شفاء اسباب مرتب شي، او دواړه د الله –سبحانه و تعالی- قدرت ته په کتو سره برابر دي.

او زمونږ رب – سبحانه و تعالی - لکه څنګه چې بدنونو ته له ناروغیو څخه شفا ورکوي؛ همدارنګه زړونو ته د هغې له ناروغیو څخه شفا ورکوي، او سینو ته د هغوی له تنګستیا څخه، او نفسونو ته د هغوی له ناروغیو څخه شفا ورکوي، نو الله – عزوجل- وفرمایل:

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدْ جَآءَتْكُم مَّوْعِظَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَشِفَآءٌ لِّمَا فِي ٱلصُّدُورِ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ ۝٥٧﴾ [یونس: 57]

(اې خلقو! یقینًا تاسو ته د خپل رب له جانبه نصیحت راغلی دی او په سینو کې چې څه (مرضونه) دي د هغو لپاره ستره شفا ده او د مومنانو لپاره هدایت او رحمت دی). [یونس سورت: ایت 57].

او هغه –سبحانه و تعالی- چا ته چې وغواړي شفا ورکوي، او د ډاکټرانو څخه د شفا پوهه پټوي، که هغه شفا نه وي مقدر کړي.

او هغه –سبحانه و تعالی- یوازې شفا ورکوونکی دی چې هیڅ شریک نلري؛ هیڅ شفا نشته پرته د هغه له شفا څخه، لکه څرنګه چې ابراهیم -علیه السلام- وفرمایل:

﴿وَإِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِينِ۝٨٠﴾ [الشعراء: 80]

(او کله چې زه ناروغه شم، نو هغه ما ته شفا راکوي). [الشعراء سورت: ایت 80]،

او لکه څرنګه چې هغه – صلی الله علیه وسلم - وفرمایل: «...لاَ شَافِيَ إِلَّا أَنْتَ» "... پرته له تا څخه شفا ورکوونکی نشته". [بخاري روایت کړی]. او د شفاء ورکوونکي الله له فضل او کرم څخه: چې هیڅ ناروغي یې نده نازل کړې پرته لدې چې دوا یې ورته نازل کړې ده، په صحیح حدیث کې رسول الله – صلی الله علیه وسلم- فرمايي: «يَا عِبَادَ اللهِ تَدَاوَوْا! فَإِنَّ اللهَ -عز وجل- لَمْ يَضَعْ دَاءً إِلَّا وَضَعَ لَهُ دَوَاءً، غَيْرَ دَاءٍ وَاحِدٍ: الهَرَمُ» «اې د الله بندګانو، تاسو د شفا غوښتنه وکړئ! ځکه چې، الله –عزوجل- هیڅ ناروغي یې نده ټاکلې پرته لدې چې د هغې لپاره یې درمل ټاکلي، پرته له یوې ناروغۍ څخه: چې هغه بوډا توب (مرګ) دی. [صحیح حدیث دی. ترمذي روایت کړی].

ستا پناه ګاه ..

ناروغ باندې ناروغي نازلیږي، د شفا دروازې یې پر مخ تړلی کیږي، ځمکه له پراخوالي سرهورباندې تنګیږي، غمونه یې ډیریږي، او مخلوق سره ځان لپاره هیڅ پناه ګاه او پټنځای نه ویني، او د هغه حالت داسې وايي:

دې خیزونو کمزوری کړی یم، او دا یو راز دی، او که دا نه وای
د وخت تیریدلو سره به زه کمزوری شوی نه وای
نو کله چې زه خپل سر په خپلو لاسونو باندې تکیه کړم
هغې څخه ما ته هغه څه رواړل شو چې لاسونه کمزوری کوي
کله چې د خاښت راختل شپې لره ستړې کړي
نو هیله کوي چې اې کاش سهار تور شوی وای

نو دلته؛ د نفس د فطرت پر اساس، ناروغ الله ته پناه وړي، او د هغه –سبحانه و تعالی- د دروازې پر وړاندې ځان اچوي،

﴿... ثُمَّ إِذَا مَسَّكُمُ ٱلضُّرُّ فَإِلَيۡهِ تَجۡـَٔرُونَ۝٥٣﴾ [النحل: 53]

(او کله چې زه ناروغه شم، نو هغه ما ته شفا راکوي). [النحل سورت: ایت 53]،

او مؤمن د شفا ورکوونکي په نوم غږ کوي: اې شفا ورکوونکېه.. اې الله ماته شفا راکړه! همدا ډول کافر د علاج په هیله د هغه د دروازې پر وړاندې ځان اچوي؛

﴿فَإِذَا مَسَّ ٱلۡإِنسَٰنَ ضُرّٞ دَعَانَا ثُمَّ إِذَا خَوَّلۡنَٰهُ نِعۡمَةٗ مِّنَّا قَالَ إِنَّمَآ أُوتِيتُهُۥ عَلَىٰ عِلۡمِۭۚ بَلۡ هِيَ فِتۡنَةٞ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ۝٤٩﴾ [الزمر: 49]

(نو کله چې انسان ته تکلیف ورسي (، نو) مونږ بلي، بیا چې کله ده ته مونږ له خپله جانبه نعمت ورکړو (، نو) دی وايي: دا خو ما ته یوازې (زما) د علم په سبب راکړ شوی دی، بلکې دغه (ورکړه) ازمېښت دی، او لېکن د دوی اکثره نه پوهېږي). [الزمر سورت: ایت 49]

. له اصرار او صبر څخه وروسته... راحت او خلاصون راځي، او شفا ورکوونکی – جل و علا - د شفا اجازه ورکوي

﴿أَمَّن يُجِيبُ ٱلۡمُضۡطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكۡشِفُ ٱلسُّوٓءَ ...﴾ [النمل: 62]

(بلکې هغه ذات (غوره دی) چې د مجبور ( او عاجز) سوال قبلوي، کله چې دغه (الله) وبلي او هغه تکلیف (او سختي) لرې کوي). [النمل سورت: ایت 62].

د هغه ورکول انعام دی، د هغه مهرباني لویه ده، د هغه سخاوت لوی دی؛ نو اړتیا به پوره شي، او دعاګانې به ومنل شي، او رحمت به نازل شي، او ازموینې به لیرې شي، او شفا به ورکول شي.

ډاکټر څومره ناروغان تداوي کړل ... خو په خپله دردمن پاتې شو

نو ډاکټر مړ شو او ناروغ ژوندی پاتې شو ... نو د خلکو طرف ته راغی چې د ډاکټر د مرګ خبر ورکړي

ابن القيم ووېل: "الله –سبحانه و تعالی- خپل بنده د دې لپاره نه ازمايي چې هغه له مينځه يوسي، بلکه هغه د هغه د صبر او بندګۍ د ازمايښت لپاره ازمايي؛ نو بنده بايد الله –سبحانه و تعالی- لپاره ستونزمن او د مشقت عبادت ترسره کړي ..

د نيکانو عادت ..

د مؤمن او د نورو تر منځ فرق دا دی: چې مؤمن پوهيږي چې د نړۍ اداره کول د الله –سبحانه و تعالی- په لاس کې دی، او دا چې هغه شفا ورکونکی دی، او هغه د رحم کونکو څخه ډير مهربان دی، او دا چې ناروغۍ ندي ليږل شوي مګر له خير سره چې مهربان الله وربانديې پوهيږي؛

﴿.. وَعَسَىٰٓ أَن تَكۡرَهُواْ شَيۡـٔٗا وَهُوَ خَيۡرٞ ..﴾ [البقرة: 216]

(او کېدای شي چې تاسو به يو شی خوښوئ، حال دا چې هغه به ستاسو لپاره ډېر بد وي). [البقرة سورت: ايت 216]،

نو هرځومره چې پيښې سختې وي او حالتونه بدل شي؛ په دې اړه به يوازې لويه اراده (د الله اراده) پريکړه وکړي.

﴿... وَٱللَّهُ غَالِبٌ عَلَىٰٓ أَمۡرِهِۦ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ ٢١﴾ [يوسف: 21]

(او الله پر خپل کار غالب دی او لېکن اکثره خلق نه پوهېږي). [يوسف سورت: ايت 21]،

ته به يو ناروغ مؤمن، راضي، غاړه ايښودونکی او د هغې ناروغۍ په وجه چې وربانديې راغلې ده د اجر غوښتونکی ومومې. او مؤمن په دې پوهيږي: "هغه څه چې هغه ته پيښ شوي هغه به ضرور ورته رسيده، او هغه څه چې ورته ندي رسيدلي هغه به هيڅ کله هغه ته پيښ نشي"؛ د هغه – تبارک و تعالی- پدې وينا سره:

﴿قُل لَّن يُصِيبَنَآ إِلَّا مَا كَتَبَ ٱللَّهُ لَنَا ...﴾ [التوبة: 51]

(ته ( دوی ته) ووايه: مونږ ته به له سره مصيبت راونه رسيږي مګر هغه چې الله زمونږ لپاره ليکلي دي). [التوبة سورت: ايت 51]،

او د هغه –صلی الله عليه وسلم- پدې وينا سره: «..وَلَوْ أَنْفَقْتَ مِثْلَ أُحُدٍ ذَهَبًا فِي سَبِيلِ اللهِ مَا قَبِلَهُ اللهُ مِنْكَ حَتَّى تُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ، وَتَعْلَمَ أَنَّ مَا أَصَابَكَ لَمْ يَكُنْ لِيُخْطِئَكَ، وَأَنَّ مَا أَخْطَأَكَ لَمْ يَكُنْ

لِيُصِيبَكَ، وَلَوْ مُتَّ عَلَى غَيْرِ هَذَا لَدَخَلْتَ النَّارَ» «.. او که ته د احد د غره په اندازه سره زر د الله په لار کې مصرف کړې، الله به يې له تا څخه قبول نکړي ترڅو چې په تقدير ايمان راوړې، او پدې باندې پوه شې چې هغه څه چې تاته رسيدلي دي هغه به ضرور تاته رسيده، او هغه څه چې تا ته ندي رسيدلي هغه به هيڅ کله تا ته و نه رسيږي، او که ته ددې ايمان خلاف مړ شې ته به اور ته ننوځې». [ صحيح حديث دی. ابوداود روايت کړی].

علي بن ابي طالب، عدي بن حاتم - رضي الله عنهما- څخه تېر شو، هغه يې غمجن او خپه وليد؛ هغه ورته وويل: اې عدي، زه تا ولې خپه او غمجن وينم؟

هغه وويل: زه به ولې خپه او غمجن نه يم چې زما زامن ووژل شول او سترګه مې وويستلی شوه؟

علي -رضي الله عنه- ورته وفرمايل: اې عدي! څوک چې د الله په هغه حکم راضي شو په هغه باندې به راشي او د هغه لپاره به اجر وي، او څوک چې د الله په هغه حکم راضي نه وي چې هغه باندې مقرر شوی وي، د هغه عمل به لمنځه لاړ شي».

علماوو ويلي دي: هرڅومره چې انسان الله ته اړتيا ولري، د هغه پر وړاندې سر ټيټ کړي، او هغه ته پناه يوسي؛ ځواب به يې هم هماغه اندازه وي، راحت او خلاصون به راشي، او دعا به قبوله شي.

او په مونږ کې داسې څوک نشته چې د ناروغۍ تجربه و نه لري، او دا چې څنګه ناروغۍ زمونږ کمزوري په ډاګه کوي، او دا چې زموږ لپاره هيڅ ځواک او قوت نشته مګر د هغه –تبارک و تعالی- له لارې، او کله چې زموږ څخه يې ناروغي لرې کړه، زمونږ حال به داسې وي لکه څنګه چې شاعر ويلي دي:

مونږ په هر مصيبت کې الله ته دعا کوو ... بيا چې کله سختۍ لرې کړي مونږ هغه هېر کړو

مونږ به څنګه د دعا د قبليدو تمه کوو ... او موږ ددعا د قبليدلو لارې په ګناهونو بندې کړي

له الله – عزوجل- سره زموږ تعامل حيرانونکی دی !!

مه خپه کیږه!

که ته په کومه ناروغۍ اخته یې، نو پوه شه چې الله شفا ورکوونکی دی، او هیڅ شی د هغه د ارادې مخه نشي نیولی، او که ګمان وکړې چې ستا د ناروغۍ هیڅ علاج نشته؛ نو تا پر الله بد ګمان وکړ! ته یوازې په ښه ګمان او ریښتیني پناه وړلو سره هغه ته مراجعه وکړه، صبر وکړه او د ثواب تمه وکړه او صدقه ورکړه، او په غوښتنه کې ټینګار وکړه: اې شفا ورکونکیه! ځکه هغه حق دی، او د هغه خبره حق ده، او هغه په هر څه قدرت لري.

﴿وَقَالَ رَبُّكُمُ ٱدۡعُونِيٓ أَسۡتَجِبۡ لَكُمۡۚ ...﴾ [غافر: 60]

(او ستاسو رب فرمایي: تاسو ما وبلئ چې زه ستاسو دعا قبوله کړم). [غافر سورت: ایت 60].

په یو حدیث کې راغلي دي چې هغه –صلی الله علیه وسلم- فرمایلي: «إِنَّ اللهَ حَيِيٌّ كَرِيمٌ يَسْتَحِي إِذَا رَفَعَ الرَّجُلُ إِلَيْهِ يَدَيْهِ أَنْ يَرُدَّهُمَا صِفْرًا خَائِبَتَيْنِ» "الله ډېر حیا لرونکی او سخي دی، کله چې یو سړی خپل لاسونه ورته پورته کړي او هغه یې بیرته خالي او مایوسه وګرځوي". [صحیح حدیث دی. ترمذي روایت کړی] او الله – عزوجل- وفرمایل:

﴿أَمَّن يُجِيبُ ٱلۡمُضۡطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكۡشِفُ ٱلسُّوٓءَ ...﴾ [النمل: 62]

(بلکې هغه ذات (غوره دی) چې د مجبور ( او عاجز) سوال قبلوي، کله چې دغه (الله) وبلي او هغه تکلیف (او سختي) لرې کوي). [النمل سورت: ایت 62]

. او کله چې ته پداسې حال کې اوسې؛ ستا مولا تا ته ډېر لوی اجر او ثواب په برخه کړی دی، هغه – صلی الله علیه وسلم- وفرمایل: «مَا مِنْ مُصِيبَةٍ تُصِيبُ المُسْلِمَ إِلَّا كَفَّرَ اللهُ بِهَا عَنْهُ؛ حَتَّى الشَّوْكَةَ يُشَاكُهَا» «هیڅ مصیبت نشته چې یو مسلمان ته ورسیږي مګر دا چې الله هغه د هغه لپاره کفاره ګرځوي؛ حتا که یو اغزی د هغه په بدن کې ننوځي". [بخاري - دا د هغه قول دی - او مسلم روایت کړي]. ابن تیمیه - رحمه الله- فرمایلي: «الله د خپل عزت او کرامت په کور کې د لوړو کورونو څښتن دی: یوازې هغه څوک یې ترلاسه کولی شي چې ستونزې او مصیبتونه یې ګاللي وي».

بیا په مصیبت ځپلو باندې وياړي؛ نو په هر کور کې ژړا، په هر مخ اوښکې، او په هره دره کې بنو سعد شته.

څومره مصیبتونه دي، او څومره صبر کوونکي شتون لري؟!

یوازې ته په مصیبت کې نه يې، او ستا مصیبت د نورو په پرتله لږ دی.

څومره ناروغان د څو کلونو راهیسې په خپلو بسترونو کې دي؟! په ښي او کیڼ اړخ اوړی را اوړي، له درده ځوریږي، او د ناروغۍ له امله چیغې وهي. او په یاد ولره چې ددې دنیا ژوند د مومنانو لپاره زندان دی، او د غمونو او مصیبتونو کور دی، په دې کې به سهار ماڼۍ د هغې له اوسیدونکو څخه ډکې وي، او ماښام به له تختونو سره خالي او خاورو سره خاورې شي.

﴿لَقَدۡ خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ فِي كَبَدٍ﴾ [البلد: 4]

(یقینًا یقینًا مونږ انسان په مشقت کې پیدا کړی دی). [البلد سورت: ایت 4].

خپله دنیا لکه څنګه چې ده ومنه، او خپل ځان  هغې کې د ژوند کولو سره عادت کړه؛ ځکه ناخوالې د هغې له  طبیعت څخه ده، او کمال د هغې له شان او طبیعت څخه ندی.

که د ناروغۍ تریخوالی نه وای ته به د روغتیا په نعمت نه پوهیدې.

او تا ته ایوب –علیه السلام- یو ښه مثال دی..

او مؤمن تل له الله څخه د عافیت غوښتنه کوي، عبدالله التیمي -رحمه الله- به ویل: «له الله څخه د عافیت غوښتنه زیاته کوئ، ځکه چې هغه څوک چې په مصیبت اخته وي، که څه هم د هغه مصیبت سخت وي، د هغه چا په پرتله د دعا مستحق ندی چې صحتمند وي چې له مصیبت څخه خوندي نه دی.

هغه کسان چې نن رنځ وړي هغوی پرون د روغو خلکو څخه وو، او هغه کسان چې له نن څخه وروسته اخته کیږي هغوی نن د روغو خلکو څخه دي».

امام ابن القیم -رحمه الله- فرمایلي: "د ناروغۍ لپاره ترټولو لوی درمل: نیک عملونه، احسان، ذکر، په زارۍ سره دعاء، او توبه کول دي".

ډاکټر ته ووایه کله چې مرګ له ځانه سره یووړ اې ډاکټره خپل طب سره ته چا مړ کړې

هغه ناروغ ته ووایه چې وژغورل شو او روغ شو ... پس لدې چې د طبابت فنونه بې وسه او عاجزې شولې ته چا روغ کړې

هغه مهربان، شفا ورکوونکی، صحت ورکوونکی ذات دی،

﴿وَإِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِينِ۝٨٠﴾ [الشعراء: 80]

(او کله چې زه ناروغه شم، نو هغه ما ته شفا راکوي). [الشعراء سورت: ایت 80].

اې الله، اې شفا ورکونکیه! موږ او ټولو مسلمانو ناروغانو ته شفا راکړه؛ اې د جهانونو ربه!

86

## الجَمِـيلُ )ډیر ښکلی (ذات -جل جلاله-

په صحیح مسلم کې له صهیب -رضي الله عنه – څخه روایت دی چې رسول الله -صلی الله علیه وسلم- وفرمایل: «إِذَا دَخَلَ أَهْلُ الجَنَّةِ الجَنَّةَ، يقَوْلُ اللَّهُ -تبارك وتعالى- : تُرِيدُونَ شَيْئًا أَزِيدُكُمْ؟ فَيَقُوْلُوْنَ: أَلَمْ تُبَيِّضْ وُجُوهَنَا؟ أَلَمْ تُدْخِلْنَا الجَنَّةَ، وَتُنَجِّنَا مِنَ النَّارِ؟ فَيَكْشِفُ الحِجَابَ، فَمَا أُعْطُوا شَيْئًا أَحَبَّ إِلَيْهِمْ مِنَ النَّظَرِ إِلَى رَبِّهِمْ -عز وجل- ». «کله چې جنتیان جنت ته داخل شي، نو الله – تبارک وتعالی- به وفرمايي: ایا تاسو اضافه څه غواړئ چې زه یې درکړم؟ دوی به ووايي: ایا تا زموږ مخونه سپین نه کړل؟ آیا تا موږ جنت ته داخل نکړو، او له دوزخ څخه دې ونه ژغورلو؟ بیا به الله پرده لرې کړي، او دوی ته به خپل رب –عزوجل- ته د کتلو څخه محبوب څیز نه وي ورکړ شوی».

پاکي ده هغه ذات لره چې ښکلا یې فکرونه حیران کړي دي ..

پاکي ده هغه ذات لره چې عظمت یې عقلونه په اضطراب کې اچولي دي..

پاکي دی هغه ذات لره چې ذهنونه د هغه له رڼاګانو څخه حیران شوي دي..

الله ښکلی دی او ښایست خوښوي، بلکې هغه ټول ښایست دی، او ټول ښایست د هغه څخه دی، هغه ښایسته کارونه کوي، او ښایسته کارونو باندې انعام ورکوي.

او هغه واقعاً ښکلی دی، او څنګه به داسې نه وي؟!

چې هغه د دې ټولو کائناتو ښکلا ده

د جمیل ذات له ځینو آثارو څخه، چې د هغې رب

ډیر حقدار دی د عرفان د څښتنانو په نیز

ژبه د بیان څخه عاجزه ده!!

په صحیح مسلم کې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فرمایلي دي: «إِنَّ اللَّهَ جَمِيلٌ يُحِبُّ الْجَمَالَ». "بیشک چې الله ښکلی دی او ښکلا خوښوي". شیخ السعدي -رحمه الله- د ابن القیم د بیتونو د تفسیر په تړاو خپل «نونية» کې وایي: " الجميل: هغه څوک چې د ښو او نیکیو صفتونه ولري، نو هغه په خپل ذات، نومونو، صفاتو، او خپلو اعمالو کې ښکلی دی، او هیڅ مخلوق نشي کولی د هغه –سبحانه و تعالی- د ذات ښکلا بیان کړي، آن تر دې چې جنتیان سره له دې چې هغوی تل پاتې نعمتونو، خوندونو، خوشحالیانو، او نیکمرغیو کې وي چې هیڅ اندازه او حد نلري؛ کله چې دوی خپل رب وویني او د هغه له ښکلاو څخه خوند واخلي، او له دوی څخه هغه خوښي لمنځه ځي چې دوی په کې دي، او دوی هیله لري چې دا حالت دوام وکړي؛ ترڅو د هغه د ښکلا او د هغه د رڼا څخه د خپلو ښکلاوو په ډیرولو کې ګټه پورته کړي؛ ځکه چې د دوی په زړونو کې د خپل رب د لیدلو ارمان او تمایل وي، او خوشحالیانې کوي د (مزید د ورځې) لپاره، داسې خوشحالي چې زړونه تقریباً په الوتلو وي! او همدارنګه هغه: په خپلو نومونو کې ښکلی دی؛ د هغه ټول ښکلې نومونه دي، بلکې د ټولو نومونو څخه غوره او خورا ښکلي دي – **سبحانه و تعالی** -

﴿وَلِلَّهِ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰ فَٱدۡعُوهُ بِهَاۖ ...﴾ [الأعراف: 180]

(او خاص د الله لپاره تر ټولو ښکلي نومونه دي، نو تاسو الله په دغو (نومونو) سره بلئ). [الأعراف سورت: ایت 180].

دا ټول په ستاینې، جلال، عزت او د کمال په انتها دلالت کوي، او هغه په هغه ویشل شوي نوم چې یو یې کمال او بل یې جلا څیز وي ندی نومول شوي.

او هغه: په خپلو صفتونو کې ښایسته دی؛ د هغه ټول صفتونه د کمال، ثنا او د ستاینې صفتونه دي.

او د هغه ټول عملونه ښکلي دي؛ او په داسې حلقه کې څرخي چې نیکو او ښو عملونو تر منځ دي چې پر هغو باندې د هغه ستاینه او شکر کیږي.

او که ونې قلمونه شي، سمندرونه رنګ شي، او اسمانونه تختې شي، او مخلوقات د هغه ستاینه وکړي، او د الله د ښکلا په اړه تعریفونه ولیکي؛ په هغه څه کې چې هغوی مستحق وي، دا به وي چې هغوی مقصر وي په هغه څه کې چې هغه ته لازم دي: هغوی به پوروړي او پرې کوونکي وبلل شي، او د هغه د شکر په څرګندولو کې به په خپلې ناتوانۍ اعتراف وکړي.

د هغې ښکلا په ذهنونو کې نه احاطه کیږي، او سترګې هغه نشي درک کولی؛ لکه څنګه چې رسول الله -صلی الله علیه وسلم- وفرمایل: «لَا أُحْصِي ثَنَاءً عَلَيْكَ، أَنْتَ كَمَا أَثْنَيْتَ عَلَى نَفْسِكَ» "زه نشم کولی ستا ستاینه ادا کړم، ته هغه يې لکه څرنګه چې تا په خپله د خپل ځان ستاینه کړې ده". [مسلم روایت کړی].

## د کائناتو ښکلا..

او هغه څه چې په دې کې د ځمکې، سمندر، شنه ځایونه، لمر، سپوږمۍ، ستوري او حیواناتو څخه شتون لري: د هغه –سبحانه و تعالی- د ښکلا ثبوت دی؛ هغه د ښکلا ورکوونکی دی، او د ښکلا ورکوونکی د ښکلا ډیر حقدار وي

﴿... فَتَبَارَكَ ٱللَّهُ أَحۡسَنُ ٱلۡخَٰلِقِينَ١٤﴾ [المؤمنون: 14]

(نو الله ډیر برکت والا دی چې تر ټولو ښه پیدا کوونکی دی). [المؤمنون سورت: ایت 14].

او د دې ښکلا ته څوک نشي لیدلی ترڅو چې الله د هغه زړه ایمان باندې رڼا نکړي؛ او هغه ددې ښکلا تر شا د الله ښکلا، عظمت او کمال ویني.

او څوک چې د الله له ذکر څخه مخ واړوي، د هغه له رڼا نه منکر شي، او د هغه له لارښوونې څخه سرغړاوی وکړي؛ نو هغه باندې د نوښت ښکلا ته کتل حرامیږي، ځکه چې سترګې يې ړندې او بصیرت يې د لیدلو توان نلري!

اې شکایت کوونکیه تا لره هېڅ ناروغي نشته ... ستا حال به څه وی که ته ناروغه شې ... او ته په ګلابونو کې اغزي وينې او ته ړوند يې .... چې هغې باندې شبنم ووينې او څوک چې پخپله د ښکلا څخه محروم وي ... هغه به په وجود کې هيڅ ښکلا و نه ويني

شوق ..

په دې نوم باندې ايمان لرل د مؤمن په ايمان کې زياتوالی راولي او د ښکلي الله د ليدو شوق او ليوالتيا پيدا کوي، او د رسول الله –صلى الله عليه وسلم- له دعاوو څخه دا ده: «وَأَسْأَلُكَ لَذَّةَ النَّظَرِ إِلَى وَجْهِكَ، وَالشَّوْقَ إِلَى لِقَائِكَ..» "او زه له تا څخه ستا د مخ د ليدلو خوند او ستا ملاقات ته د شوق پيدا کولو غوښتنه کوم". [صحيح حديث دی. ترمذي روايت کړی]، بيا به ته هغه د هغه څه په اړه ډاډمن او مطمئن ومومې چې الله - عزوجل - د هغه لپاره مقدر کړی وي؛ ځکه چې هغه –سبحانه و تعالى- د خپل مؤمن بنده لپاره له حکمت او خير پرته بل څه نه کوي، ځکه چې د هغه ټول عملونه ښکلي دي، او له ښکلي فعل څخه پرته ښکلا نه بل څه نه پيدا کيږي، او دا الله باندې ښه ګمان کول دي؛ کوم چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- په قدسي حديث کې د امام احمد په مسند کې روايت کړی دی چې : رب العزت وفرمايل: «أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِي بِي؛ إِنْ ظَنَّ بِي خَيْرًا فَلَهُ، وَإِنْ ظَنَّ شَرًّا فَلَهُ» «زه لکه څنګه چې زما بنده زما په اړه ګمان کوي يم؛ که هغه زما په اړه ښه ګمان وکړي، د هغه لپاره هماغه وي، او که هغه بد ګمان وکړي، د هغه لپاره هماغه وي». [صحيح حديث دی]

او زه تر هغه پورې الله رابلم، تر دې چې لکه زه چې
په ښه ګمان سره ګورم چې الله څه کوي

د ښيګڼې څخه انکار مه کوه!

مؤمن په باطني او ظاهري ښه ښکلی وي؛ ځکه چې په دې ښکلا سره الله تعالى ته نږدې کيږي، او دا چې الله تعالى په ښکلو خبرو، اخلاقو او عملونو باندې تاکيد کوي، نو له خپل بنده څخه خوښوي چې: خپله ژبه په اخلاص، او زړه يې په اخلاص، توبه

او توکل، او د بدن غړي يې په اطاعت سره، او بدن کې په جامو او پاکوالي سره د هغه د نعمتونو په ظاهرولو سره ښکلي کړي.

او مؤمن خپل رب د هغې ښکلا په واسطه پيژني چې د هغه وصف دی، او په هغه عظمت سره د هغه عبادت کوي چې د هغه شريعت او دين دی.

او کله چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- خپلو اصحابو ته وويل: «لَا يَدْخُلُ الجَنَّةَ مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ مِنْ كِبْرٍ»، "د چا په زړه کې چې د ذرې په اندازه کبر وي جنت ته به داخل نشي". قال رجل: إن الرجل يحب أن يكون ثوبه حسنًا ونعله حسنةً! يو سړي وويل: يو سړی دا خوښوي چې جامې يې ښې وي او بوټونه يې ښه وي! قال -صلى الله عليه وسلم- : هغه -صلى الله عليه وسلم- وفرمايل: «إِنَّ اللَّهَ جَمِيلٌ يُحِبُّ الجَمَالَ، الكِبْرُ: بَطَرُ الحَقِّ، وَغَمْطُ النَّاس» "الله ښکلی دی او ښکلا خوښوي، تکبر: حق پېټول، او خلکو ته په سپکه کتل دي". [مسلم روايت کړی].

اې الله! موږ ته په دواړو جهانونو کې ښکلا راکړه، او موږ ته په دواړو کړنو کې ښکلا راکړه: پټې کړنې او ښکاره کړنې، او موږ ته په خبرو او عملونو کې ښکلا راکړه؛ اې د جهانونو ربه!

88 - 87

## القَابِـضُ البـَاسِطُ )د هر شي منع کونکی، پراخه روزي ورکونکی ( ذات -جل جلاله-

مخکې له پيل څخه يو پيغام ...

هغه چا ته چې ټولو لارو باندې تللی وي؛ او وګوري چې ټولې لارې بندې دي، او دروازې يې ټکولې وي؛ او هغه يې تړلې موندلې وي..

او هغه چا ته چې د هغه د نفس اړخونه او د هغه باطني رازونه لمس کوي؛ او ځمکه ورباندې تنګه شي سره لدې چې هغه پراخه ده.

او هغه څوک چې د ذلت ترخه احساس کړي او د ناتوانۍ قیدونو چاپیر کړی وي او د هغه وجود له منځه وړي..

او هغه چا ته چې ورونه ور څخه لرې شوي وي، او دوستانو ورڅخه مخ اړولی وي، نو دښمن وربانديې خوښ شي او باور يې کمزوری شي..

او هغه چا ته چې د مصیبتونو او بدبختیو سره لاس او ګریوان وي، او ناخوالو راګیر کړی وي، راحت او خلاصون د هغه په لور وځنډیږي..

او د هغه چا لپاره چې زړه یې سخت وي، د هغه روح نا امیده وي، او د ژوند څخه ستړی شوی وي.

او هغه چا ته چې په ناروغۍ اخته وي، یا پور ستړی کړی وي، یا فقر ورته راغلی وي، او یا اړتیا له حرکته غورځولی وي ...

هغه ته وایم چې: مه خپه کیږه! الله –سبحانه و تعالی- د هر شي منع کونکی او پراخه روزي ورکونکی دی؛ هغه ستا د ټولو اندیښنو لپاره کافي دی، په ناورینونو کې ستا ساتنه کوي، په مصیبتونو کې ستا پالنه کوي، پرته له قبیلې تاته عزت درکوي او پرته له مال څخه شتمني درکوي، په شکر ویستلو سره نور هم درکوي، که چیرې یاد يې کړې تا يادوي، او تا ته درکوي که چیرې ته ورڅخه وغواړې.

نو د هغه خوا ته وګرځه، او د هغه د دوو نومونو (القابض الباسط) په پوهیدو سره هغه ته نږدې شه: د دې دوو نومونو سره چې یو بل سره یو ځای دي؛ او دا هغه دوه نومونه دي چې په تقابل کې قرار لري او هغه –سبحانه و تعالی- نه باید په یو د دوو باندې وصف شي..

ترڅو ستا نفس ډاډمن شي، او ستا سینه آرامه شي؛ نو د خپل محبوب –صلی الله علیه وسلم- په خیر ووایه چې ویل به یې: «اللَّهُمَّ! لَكَ الحَمْدُ كُلُّهُ. «اې الله! ټولې ستاینې تا لره دي.

اللَّهُمَّ! لَا قَابِضَ لِمَا بَسَطْتَ، وَلَا بَاسِطَ لِمَا قَبَضْتَ، وَلَا مُقَرِّبَ لِمَا بَاعَدْتَ، وَلَا مُبَاعِدَ لِمَا قَرَّبْتَ، وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ، وَلَا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ. اې الله! د هغه څه لپاره نیوونکی نشته چې تا پراخ کړی وي، او نه د هغه څه لپاره پراخوونکی شته چې تا نیولی وي، او نه نږدې کوونکی شته کوم چې

تا لرې کړی وي، او نه لرې کوونکی شته کوم چې تا نږدې کړی وي، او نه ورکوونکی شته د هغه څه چې تا منعه کړی وي، او نه منع کوونکی شته د هغه څه لپاره چې تا ورکړی وي.

اللَّهُمَّ! ابْسُطْ عَلَيْنَا مِنْ بَرَكَاتِكَ، وَرَحْمَتِكَ، وَفَضْلِكَ، وَرِزْقِكَ» اې الله! زموږ لپاره خپل برکتونه، او خپل رحمت، او خپل فضل، او خپله روزي پراخه کړه». [صحیح حدیث دی. بخاري په «ادب المفرد» کې روایت کړی].

د هغه د دوو نومونو القابض الباسط )د هر شي منع کونکی، پراخه روزي ورکونکی :(د سیوري لاندې:

زموږ رب – سبحانه و تعالی – کوم چې د خپلو بندګانو څخه د چا لپاره چې وغواړي روزي پراخوي؛ تر څو هیڅ اړتیا پاتې نشي، او هغه له چا څخه چې وغواړي اخلي يې؛ تر څو هیڅ طاقت پاتې نشي؛ په بشپړ ځواک او عدالت سره؛ د هغه څه پر اساس چې د هغه د حکمت تقاضا وي، او د هغه څه پر اساس چې د هغه د بندګانو شرایطو سره سم وي. او که الله – سبحانه و تعالی- هغه زیات کړي؛ نو په هغه کې اسراف او تجاوز نه کوي، او که کم يې کړي نو د کموالي او یا بخل له وجې يې نه کموي؛ نو الله –سبحانه و تعالی- وفرمایل:

﴿۞ وَلَوۡ بَسَطَ ٱللَّهُ ٱلرِّزۡقَ لِعِبَادِهِۦ لَبَغَوۡاْ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَٰكِن يُنَزِّلُ بِقَدَرٖ مَّا يَشَآءُۚ إِنَّهُۥ بِعِبَادِهِۦ خَبِيرُۢ بَصِيرٞ ٢٧﴾ [الشورى: 27]

(او که چېرې الله د خپلو بنده ګانو لپاره روزي پراخه کړي، نو دوی به په ځمکه کې خامخا سرکشي وکړي او لیکن هغه په یوې اندازې سره څومره چې وغواړي نازلوي يې، بېشکه هغه په خپلو بنده ګانو ښه خبردار، ښه لیدونکی دی). [الشورى سورت: ایت 27].

او په حدیث کې راغلي: کله چې د رسول الله -صلی الله علیه وسلم- په زمانه کې نرخونه لوړ شول؛ صحابه کرامو -رضي الله عنهم– له رسول الله -صلی الله علیه وسلم– څخه وغوښتل چې نرخونه وټاکي؛ هغوی ووېل: اې د الله رسوله! نرخونه ګران شول، نو زموږ لپاره نرخونه وټاکه؟ هغه ووېل: «إِنَّ اللَّهَ هُوَ: الْمُسَعِّرُ الْقَابِضُ الْبَاسِطُ الرَّازِقُ» "په حقیقت کې الله د هر شي تعین کونکی، پراخه کونکی او روزي ورکونکی دی". [صحیح حدیث دی. ابن ماجه روایت کړی].

او زموږ رب – سبحانه و تعالی- چې له شتمنو څخه صدقات اخلي، او ضعيفانو لپاره رزق پراخه کوي، صدقات اخلي او زياتوي يې، او نعمتونه پراخوي او چمتو کوي يې.

او زموږ رب – سبحانه و تعالی - د مرګ په وخت کې له بدنونو څخه روحونه اخلي، او په ژوند کې بدنونو کې روحونه پراخوي.

او زموږ رب – سبحانه و تعالی - زړونه تنګوي، نو ښځي يې تنګ کړي، ګويا کې هغه پورته اسمان ته په سختۍ سره خېژي، او هغه د خپلې نيکۍ، لطف او ښکلا په معناګانو سره پراخوي؛ نو هغه به خوشحاله پاتې شي، ځکه چې الله - عزوجل - فرمايي:

﴿فَمَن يُرِدِ ٱللَّهُ أَن يَهۡدِيَهُۥ يَشۡرَحۡ صَدۡرَهُۥ لِلۡإِسۡلَٰمِۖ وَمَن يُرِدۡ أَن يُضِلَّهُۥ يَجۡعَلۡ صَدۡرَهُۥ ضَيِّقًا حَرَجٗا كَأَنَّمَا يَصَّعَّدُ فِي ٱلسَّمَآءِۚ كَذَٰلِكَ يَجۡعَلُ ٱللَّهُ ٱلرِّجۡسَ عَلَى ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ ١٢٥﴾ [الأنعام: 125]

(نو هغه څوك چې الله هغه ته د هدايت کولو اراده وکړي، (نو) د هغه سينه د اسلام لپاره پراخه کړي او هغه څوك چې هغه يې د ګمراه کولو اراده وکړي (، نو) د هغه سينه تنګه کړي، ښځي تنګه، ګويا کې هغه پورته اسمان ته په سختۍ سره خېژي، همدارنګه الله پليتي (عذاب) اچوي په هغو کسانو باندې چې ايمان نه راوړي). [الأنعام سورت: ايت 125].

او زمونږ رب –سبحانه و تعالی- چې په خپلو دوو مهربانو لاسونو سره يې نيسي او پراخوي- يې په حقيقت په داسې طريقه چې د هغه د جلال او کمال سره ښايي - د هغه مخلوق لپاره چې ويې غواړي، او د هغو له جملې څخه: ځمکه او لوړ اسمانونه دي.

الله - عزوجل- وفرمايل:

﴿وَمَا قَدَرُواْ ٱللَّهَ حَقَّ قَدۡرِهِۦ وَٱلۡأَرۡضُ جَمِيعٗا قَبۡضَتُهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَٱلسَّمَٰوَٰتُ مَطۡوِيَّٰتُۢ بِيَمِينِهِۦۚ سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ٦٧﴾ [الزمر: 67]

(او دغو (مشرکانو) د الله تعظيم ونه کړ د هغه حق تعظيم، حال دا چې ځمکه ټوله د ده په قبضه کې ده د قيامت په ورځ کې او اسمانونه د ده په ښي لاس کې رانغاړل (راټول کړی) شوي دي). [الزمر سورت: ايت 67]،

او په صحیح ډول روایت شوی دی چې رسول الله -صلی الله علیه وسلم- وفرمایل: «يَأْخُذُ اللهُ -عز وجل- سَمَاوَاتِهِ وَأَرَضِيهِ بِيَدَيْهِ؛ فَيَقُوْلُ: أَنَا اللهُ -وَيَقْبِضُ أَصَابِعَهُ وَيَبْسُطُهَا- أَنَا المَلِكُ» "الله – عزوجل- به خپل اسمانونه او ځمکه په خپلو دواړو لاسونو کې واخلي؛ او بیا به ووايي: زه الله یم - او خپلې ګوتې نیسي او پراخوي یې - زه پاچا یم». [مسلم روایت کړی]. او الله – جل و علا- هغه چاته د توبې لاس وغځاوه چې ګناه یې کړې وي، نو له هغه – صلى الله عليه وسلم- څخه روایت دی چې فرمایلي یې دي: «إِنَّ اللهَ يَبْسُطُ يَدَهُ بِاللَّيْلِ لِيَتُوبَ مُسِيءُ النَّهَارِ، وَيَبْسُطُ يَدَهُ بِالنَّهَارِ لِيَتُوبَ مُسِيءُ اللَّيْلِ؛ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا» "الله د شپې په اوږدو کې خپل لاس پرانېزي ترڅو د ورځې ګناهکاران توبه وکړي، او د ورځې لخوا خپل لاس اوږدوي ترڅو د شپې ګناهکاران توبه وکړي؛ تر هغه وخته چې لمر له لویدیځ څخه راپورته شي". [مسلم روایت کړی].

او هغه – تبارک و تعالی- ګناهکارانو ته مهلت ورکوي؛ او هغوی د ویرې او امید تر منځه ساتي.

او زموږ رب هر شپه خپل لاسونه هر هغه چا ته پراخوي څوک چې له هغه څخه غوښتنه کوي، د هغه –صلی الله علیه وسلم- څخه روایت دی چې فرمايي: «...ثُمَّ يَبْسُطُ يَدَيْهِ -تبارك وتعالى- يَقُولُ: مَنْ يُقْرِضُ غَيْرَ عَدُوْمٍ، وَلَا ظَلُوْمٍ؟» "...بیا هغه خپل لاسونه پرانېزي او وايي: څوک دی چې فقیر، او غیر ظالم (مظلوم) ته پور ورکړي؟" [مسلم روایت کړی]. او زمونږ رب – سبحانه و تعالی- د چا لپاره چې وغواړي په علم او بدن کې یې پراخي راولي، او هغه –تبارک و تعالی- فرمايي:

﴿... وَزَادَهُۥ بَسۡطَةٗ فِي ٱلۡعِلۡمِ وَٱلۡجِسۡمِۖ ...﴾ [البقرة: 247]

(او هغه ته يې په جسم او علم کې زياته پراخي ورکړې ده). [البقرة سورت: ایت 247].

او زموږ رب په خپل مهربان لاس موټی کړی ( له اور څخه به خلک راوباسي )؛ هغه خلک چې هيڅکله یې ښه کار نه وي کړی؛ لکه څنګه چې په اوږد حدیث کې راغلي: «فَيَقْبِضُ قَبْضَةً مِنَ النَّارِ، فَيُخْرِجُ مِنْهَا قَوْمًا لَمْ يَعْمَلُوا خَيْرًا قَطُّ» "هغه به د اور څخه یو موټی راواخلي، او هغه خلک به له هغې څخه راوباسي چې هیڅکله یې ښه کار نه وي کړی". «مسلم روایت کړی».

او زمونږ رب سیورى او رڼاګانې رانيسي او پراخوي يې او هغه څه چې هغې باندې مرتبيږي د شپې او ورځې له اختلاف څخه.

او هغه – سبحانه و تعالى - د تحريم له وجې رانيسي، او د جواز له وجې پراخوي.

او زمونږ رب – سبحانه و تعالى- د بندګانو زړونه رانيسي او پراخي ورکوي، او مؤمن د اميد او ويرې ترمنځ ژوند کوي.

هغه منع کوونکى دى، هغه پراخي ورکوونکى دى، هغه ټيټوونکى دى

هغه په عدالت او ميزان (اندازې) سره پورته کوونکى دى

تله )ترازو:(

بنده چې کله د خپل رب لورې ته ځي؛ اطاعت ته لومړيتوب ورکوي، د فرايضو او نوافلو تر منځ اوړي را اوړي، او هغه دواړه ډير ادا کوي، زړه يې له خپل رب سره تړلى وي؛ نو ته به هغه په خوشحاله او پراخه سينه وګورې، ځکه چې الله د هغه لپاره دا حالت پراخه کړې دى، نو کله چې يو مؤمن بنده ګناه وکړي؛ ته به هغه ډير په اضطراب او خپګان کې ووينې.

او دغه خپګان او تنګستيا هماغه د هغه –تبارک و تعالى- رانيول دي، او دا يو سمدستي امتحان دى چې د هغه سخاوت ته رسول کيږي،

﴿وَعَلَى ٱلثَّلَٰثَةِ ٱلَّذِينَ خُلِّفُواْ حَتَّىٰٓ إِذَا ضَاقَتۡ عَلَيۡهِمُ ٱلۡأَرۡضُ بِمَا رَحُبَتۡ وَضَاقَتۡ عَلَيۡهِمۡ أَنفُسُهُمۡ وَظَنُّوٓاْ أَن لَّا مَلۡجَأَ مِنَ ٱللَّهِ إِلَّآ إِلَيۡهِ ثُمَّ تَابَ عَلَيۡهِمۡ لِيَتُوبُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ١١٨﴾ [التوبة: 118]

(او په هغو درې کسانو باندې چې وروسته کړى شوي وو، تر دې چې په هغوى باندې ځمکه، سره د هغې له ارت والي تنګه شوه او هغوى پر خپلو ځانونو (هم) تنګ شول (خپل ځانونه پرې بوج شول) او هغوى يقين وکړ چې د الله (له عذاب) نه د پناه هېڅ ځاى نشته مګر هم له هغهٔ سره دى، بيا هغه (الله) پر دوى مهرباني وکړه، د دې لپاره چې دوى توبه وباسي، بېشکه چې الله، هم دى ښه توبه قبلوونکى، بې حده مهربان دى). [التوبة سورت: ايت 118].

نو خوښي او الله جل جلاله ته رجوع کول هغه: پراخي ده، او هغه –سبحانه و تعالى- پراخي ورکوونکى دى.

او د خوښۍ نشتوالی او له اطاعت څخه رجوع کول او یا له اطاعت خوند نه اخیستل عبارت دی له: نیولو (قبض کولو) څخه، او هغه د القابض سبحانه وتعالی له لوري دي، او ممکن دغه نیول (قبض کول) د ښکاره او یا پټو ګناهونو له وجې وي، لکه د زړونو ناروغي.

هغه - صلی الله علیه وسلم- وفرمایل: «إِذَا أذنَبَ العَبْدُ نُكِتَ فِي قَلْبِهِ نُكْتَةٌ سَوْدَاءُ، فَإِنَّ تابَ صُقِلَ مِنْها، فَإِنْ عَادَ عَادَتْ حَتَّى تَعْظُمَ فِي قَلْبِهِ؛ فَذَلِكَ الرَّانُ الَّذِي قَالَ اللّهُ: "کله چې بنده ګناه وکړي، په زړه کې یې تور ټکی ولګول شي، او کله چې توبه وکړي نو هغه ور څخه پاک شي، او که بیا ورته وګرځي بیا یې په زړه کې ټکی ولګول شي، تر دې چې په زړه کې یې لوی شي؛ او دا هغه زنګ (ران) لګول دي چې الله یې په اړه فرمایي:

﴿كَلَّاۖ بَلۡۜ رَانَ عَلَىٰ قُلُوبِهِم مَّا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ١٤﴾ [المطففین: 14]

(داسې نه ده، بلکې د دوی په زړونو باندې هغو (د ګناه عملونو) زنګ لګولی دی چې دوی به کول). [المطففین سورت: ایت 14]»

. [ابن حبان روایت کړی. او شعیب الأرناؤوط صحیح کړی]. د مؤمن حالت د نیولو او پراخولو تر منځ وي؛ له همدې امله هغه تل له الله څخه د استقامت او ښې پای غوښتنه کوي، او د رسول الله -صلی الله علیه وسلم- له دعاګانو څخه یوه دا وه: «يَا مُقَلِّبَ القُلُوْبِ! ثَبِّتْ قَلْبِي عَلَى دِينِكَ» "اې د زړونو بدلوونکیه! زما زړه په خپل دین ټینګ ولره". [صحیح حدیث دی. ترمذي روایت کړی]، نو دا د مؤمن حالت دی د خپل رب سره، نو د هغه چا حالت به څنګه وي چې په ګناهونو باندې ټینګار کوي؟!

ترټولو لوی پراخوالی:

له همدې امله علماوو ویلي دي: تر ټولو ستر پراخوالی: زړونو باندې د رحمت پراخوالی دی؛ تر هغه وخته چې روښانه شي، او د ګناهونو له کثافاتو څخه خلاصه شي،

﴿أَفَمَن شَرَحَ ٱللَّهُ صَدۡرَهُۥ لِلۡإِسۡلَٰمِ فَهُوَ عَلَىٰ نُورٖ مِّن رَّبِّهِۦۚ...﴾ [الزمر: 22]

(ایا نو هغه څوک چې الله د هغه سینه د اسلام لپاره پرانیستلې وي، نو دغه کس به رڼا کې وي د خپل رب له جانبه). [الزمر سورت: ایت 22]،

﴿... وَمَن يُرِدۡ أَن يُضِلَّهُۥ يَجۡعَلۡ صَدۡرَهُۥ ضَيِّقًا حَرَجٗا كَأَنَّمَا يَصَّعَّدُ فِي ٱلسَّمَآءِۚ ...﴾ [الأنعام: 125]

(نو هغه څوك چې الله هغهٔ ته د هدايت كولو اراده وكړي، (نو) د هغهٔ سينه د اسلام لپاره پراخه كړي). [الأنعام سورت: ايت 125].

او د دې ضد: د هغه –سبحانه و تعالى- پدې وينا كې راغلى دى:

﴿... وَمَن يُرِدۡ أَن يُضِلَّهُۥ يَجۡعَلۡ صَدۡرَهُۥ ضَيِّقًا حَرَجٗا كَأَنَّمَا يَصَّعَّدُ فِي ٱلسَّمَآءِۚ ...﴾ [الأنعام: 125]

(او هغه څوك چې هغه يې د ګمراه كولو اراده وكړي (، نو) د هغه سينه تنګه كړي، ډېره تنګه، ګويا كې هغه پورته اسمان ته په سختۍ سره ختلې). [الأنعام سورت: ايت 125].

او كله چې الله -تبارك وتعالى- وفرمايل - :

﴿قُلۡ إِنَّ رَبِّي يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقۡدِرُ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ٣٦﴾ [سبأ: 36]

(ته ( دوى ته) ووايه: بېشكه زما رب رزق پراخوي چا ته چې وغواړي او تنګوي يې او لېكن د خلقو اكثريت نه پوهېږي). [سبا سورت: ايت 36]،

او هغه -تبارك وتعالى- وفرمايل- :

﴿إِنَّ رَبَّكَ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقۡدِرُۚ إِنَّهُۥ كَانَ بِعِبَادِهِۦ خَبِيرَۢا بَصِيرٗا٣٠﴾ [الإسراء: 30]

(بېشكه ستا رب رزق پراخوي چا ته چې وغواړي او تنګوي يې، (چا ته چې وغواړي) بېشكه هغه په خپلو بنده ګانو ښه خبردار، ښه ليدونكى دى). [الإسراء سورت: ايت 30]؛

خبر وركوي چې: نيول او پراخول ټول د هغه –تبارك و تعالى- په لاس كې دي؛ په وركولو او نه وركولو سره، د چا لپاره چې وغواړي په مال، هوسايني، عمر، او پوهه كې كموالى يا پراخوالى راولي، او هغه حكمت والا او په هر څه ښه پوه دى، او هغه څه چې ته د الله په دښمنانو كې د وركړې څخه ويني دا پراخلولى ندى بلكه: دا د هغوى لپاره دوكه وركول او د هغوى راګيرول دي. او ممكن چې يو مومن له يو څيز څخه منع شي او دا منعه په اصل كې هغه ته وركړه ده، او ممكن يو څه وركړ شي او هغه د هغه لپاره بلا او تباهي وي.

﴿... وَعَسَىٰٓ أَن تَكۡرَهُواْ شَيۡـٔٗا وَهُوَ خَيۡرٞ لَّكُمۡۖ وَعَسَىٰٓ أَن تُحِبُّواْ شَيۡـٔٗا وَهُوَ شَرّٞ لَّكُمۡۚ ...﴾ [البقرة: 216]

(او کېدی شي چې تاسو به یو شی خوښوئ، حال دا چې هغه به تاسو لپاره ډېر بد وي). [البقرة سورت: ایت 216].

پند او نصیحت ..

او که څه هم الله – عزوجل -: منع کوونکی، پراخي ورکوونکی، ښکته کوونکی، پورته کوونکی دی – د قضا او قدر لمخې -؛ دا د دې مانع نه ګرځي چې دغه کارونه د بندګانو لخوا د اسبابو په عنوان رامنځته شي؛ هرکله چې دوی دا کارونه وکړي، هغوی ته به حاصل شي، او هغه دا دوه شیان د هغه –صلی الله علیه وسلم- په دې قول سره یوځای کړل چې فرمايي: «مَنْ أَحَبَّ أَنْ يُبْسَطَ لَهُ فِي رِزْقِهِ، وَيُنْسَأَ لَهُ فِي أَثَرِهِ؛ فَلْيَصِلْ رَحِمَهُ» "څوک چې دا خوښوي چې روزي يې پراخه شي، او په خپلو کارونو کې يې زیاتوالی راشي؛ خپلولي دې وپالي". [بخاري او مسلم روایت کړی].

نو د رزق پراخول د الله په لاس کې دي، او د خپلولۍ پالنه یو سبب دی چې بنده يې ترسره کوي.

د راز خبره ...

نو چا باندې چې الله د مال، پوهې، بدن، او مقام پراخوالی راوستی وي؛ هغه باید د نورو بندګانو څخه ډېر الله ته نږدې شي؛ لکه څنګه چې الله په هغه باندې مهرباني او احسان وکړ، او دا د انعام ورکوونکی شکر کول دي، او پدې سره نعمتونه دوام مومي، او څوک چې دا ونه مومي، هغه دې باید له خلکو سره ښه چلند وکړي:

﴿...وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ١٣٤﴾ [آل عمران: 134]

(او الله نېکي کوونکي خوښوي). [آل عمران سورت: ایت 134].

اې منع کوونکیه.. اې پراخي ورکوونکیه! مونږ باندې خپل رحمت پراخه کړه، او زمونږ څخه خپل شر رسوونکی مخلوق لرې کړه.

اې الله! مونږ باندې خپل برکتونه، رحمتونه، فضل او رزق پراخه کړه.

90 - 89

## المُقَدِّمُ  المُؤَخِّرُ )مخکې کوونکی، وروسته کوونکی (ذات -جل جلاله-

ابن القيم -رحمه الله- فرمايي: «بنده روان دی او ولاړ ندی، هغه يا پورته خوا ته يا ښکته خوا ته روان دی، يا مخکې خوا ته يا شاته روان دی.

نه په طبيعت او نه هم په شريعت کې هيڅ بشپړ توقف شتون لري، دا يوازې هغه پړاوونه دي چې په چټکتيا سره يا جنت خوا ته او يا دوزخ  خوا ته قطع کيږي؛ نو دوی کې به ګړندي هم وي او ورو هم، مخکښ هم او وروسته پاتې هم.

او په لاره کې هيڅ بشپړ ولاړ څوک نشته، مګر دا چې دوی د لارې په لوري کې په ګړنديتوب او سستۍ کې سره توپير لري،

﴿إِنَّهَا لَإِحۡدَى ٱلۡكُبَرِ ٣٥ نَذِيرٗا لِّلۡبَشَرِ ٣٦ لِمَن شَآءَ مِنكُمۡ أَن يَتَقَدَّمَ أَوۡ يَتَأَخَّرَ ٣٧﴾ [المدثر: 35-37]

(بېشکه دغه (اور د سفر) يقينًا په لويو (بلاګانو) کې يو دی. چې انسان لره وېرووونکی دېهغه چا لره چې په تاسو کې غوارې چې وړاندې شي، يا وروسته شي). [المدثر سورت: ايتونه 35-37]،

او د ولاړيدو يادونه يې نه ده کړې، ځکه چې د جنت او دوزخ تر منځ هيڅ ځای نشته، او نه کومه لاره شته چې تلونکی له هغې څخه ګټه پورته کړي پرته د همدې دوو کورونو (جنت او دوزخ) څخه.

څوك چې په نيکو کارونو سره دې ته (جنت) وړانديتوب ونکړي، نو هغه به وروسته پاتي وي دې (دوزخ) ته په بدو کارونو سره».

مخکې والی او وروسته والی د الله – عزوجل- په لاس کې دي، او د الله له ښکلي نومونو څخه ( المقدم او المؤخر – جل وعلا-) دی:

په صحيحينو کې له ابن عباس -رضى الله عنهما- څخه روايت دی: د رسول الله -صلى الله عليه وسلم- له دعاوو څخه دا وه کله به چې د شپې له خوا پاڅېده: «فَاغْفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ وَمَا أَخَّرْتُ، وَمَا أَسْرَرْتُ وَمَا أَعْلَنْتُ، أَنْتَ المُقَدِّمُ وَأَنْتَ المُؤَخِّرُ، لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ -أَوْ: لاَ إِلَهَ غَيْرُكَ-». «ما ته بخښنه وکړه د هغه څه چې ما کړي دي او څه چې زه يې وروسته کوم، او هغه څه چې ما په پټه او هغه څه چې ما په ښکاره کړي

دي، ته مخکې کوونکی او وروسته کوونکی يې، نشته بل معبود مګر ته يې – او يا: له تا پرته بل معبود نشته».

زموږ رب مخکې کوونکی او وروسته کوونکی – جل و علا – هر شی په خپله اندازه نازل کړی دی، هر ډول چې وغواړي مخکې او وروسته کوي يې.

مخکې لدې چې مخلوقات پيدا کړي اندازې يې وړاندې کړې دي.

خپلو کومو اولياوو او دوستانو ته يې چې خوښه وي د خپلو نورو بندګانو په پرتله لومړيتوب ورکړی، او ځينې خلقو ته يې د نورو څخه لوړوالی او مرتبې ورکړې.

او چا ته يې چې غوښتلي وي د مخکنيو مقامونو توفيق ورکوي، او چا ته چې وغواړي د دوی له درجې څخه يې وروسته کوي او د هغې څخه يې بې برخې کوي، او ځينې شيان څنګه چې تمه يې کيږي له خپلې مودې څخه ځنډوي د کوم حکمت او پايلو پر اساس چې پخپله پوهيږي؛ ځکه هغه څه چې هغه وروسته کړي وي د هغه هيڅ مخکې کوونکی نشته، او هغه څه يې چې وروسته کړي وي د هغه لپاره هيڅ مخکې کوونکی نشته.

او زمونږ رب – جل و علا- د خپل مخلوق څخه چا ته چې وغواړي په خپل توفيق سره خپل رحمت ته رسوي، او د هغه د مرسته نه کولو په ذريعه ځينې مخلوق لدې رحمت او توفيق څخه بې برخې او وروسته کوي.

او ددې نومونو په يو ځای کولو کې: ادب او د ښکلا ډيروالی دی؛ ځکه چې کمال د هغو په يو ځای کيدلو کې دی.

هغه منع کوونکی او پراخي ورکوونکی دی او دا دواړه ... د هغه فعلي صفتونه دي چې ذات تابع دي

او دا دواړه ذاتي صفتونه هم دي ځکه چې دا دواړه ... په ذات پورې ولاړ دي نه بل څه شي پورې

وړاندې او وروسته کول..

کوني، او شرعي دي:

د کوني بېلګه: الله – عزوجل- خپل مخلوقات پر ځينو نورو مخلوقاتو په پيدايښت او رامنځته کولو کې مخکې کړي، په حديث کې راغلي: «إِنَّ أَوَّلَ مَا خَلَقَ اللَّهُ: الْقَلَمَ» "لومړی شی چې الله پيدا کړی: قلم دی". [صحيح حديث دی. ابوداود روايت کړی] اسمانونه او ځمکه يې په شپږو ورځو کې پيدا کړل، او د ملائکو پيدايښت يې د پيريانو او انسانانو له پيدايښت څخه مخکې کړل، او پيريان يې له انسانانو څخه مخکې پيدا کړي:

﴿وَٱلۡجَآنَّ خَلَقۡنَٰهُ مِن قَبۡلُ مِن نَّارِ ٱلسَّمُومِ۝٢٧﴾ [الحجر: 27]

(او جانّ (پلار د پېريانو) مونږ هغه له دې نه مخکې د بې لوګي اور څخه پيدا کړي دي). [الحجر سورت: ايت 27]،

او په پيدايښت کې لومړنی انسان: ادم -عليه السلام- دی، بيا د هغه اولاده په پيدايښت کې پرله پسې پيدا شول، ځيني يې مخکې او ځيني وروسته يې پيدا شول. دا پدې معنا نه ده: چې مخکيني بايد له وروستني څخه غوره وي؛ نو ادم د شپږو ورځو په پای کې پيدا شو، هغه او د هغه د اولاده پر نورو مخلوقاتو چې لد دوی څخه مخکې پيدا شوي وو فضيلت او غوره والی لري:

﴿۞وَلَقَدۡ كَرَّمۡنَا بَنِيٓ ءَادَمَ وَحَمَلۡنَٰهُمۡ فِي ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِ وَرَزَقۡنَٰهُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَفَضَّلۡنَٰهُمۡ عَلَىٰ كَثِيرٖ مِّمَّنۡ خَلَقۡنَا تَفۡضِيلٗا۝٧٠﴾ [الإسراء: 70]

(او يقينًا يقينًا مونږ د ادم اولادې ته ډېر عزت ورکړی دی، او مونږ دوی ته په وچه او سمندر کې سورلۍ ورکړې دي او مونږ دوی ته خوندور پاکيزه شيان ورکړي دي او مونږ دوی په خپل مخلوق کې په ډېرو زياتو باندې غوره کړي دي، غوره کول). [الإسراء سورت: ايت 70].

او محمد -صلی الله عليه وسلم - وروستی پيغمبر دی، او هغه تر ټولو غوره پيغمبر دی، او د هغه امت د ټولو امتونو وروستی امت دی، او هغوی په ټولو امتونو کې غوره دي.

او دا هم کيدای شي مخکني له وروستني څخه غوره وي؛ د پيغمبرانو پلار ابراهيم -عليه السلام- له ټولو پيغمبرانو او رسولانو څخه غوره دی؛ پرته زموږ له پيغمبر محمد -صلی الله عليه وسلم- څخه.

شرعي او ديني مخکې والی او وروسته والی: اذان پر لمونځ، او د جمعې خطبه د جمعې په لمانځه باندې مخکې دي، او عباداتو لپاره په شرطونو او واجباتو کې یو خاص ترتیب دی چې له هغې پرته عبادت نه صحیح کیږي.

د شرعي او ديني مخکې والي له جملې څخه: د ځینو عبادتونو غوره والی پر نورو باندې، او د ځینو عبادت کوونکو پر نورو باندې؛ نو الله ته فرایض له نوافلو حخه ډېر خوښ دي، او تر ټولو غوره انسانان: پیغمبران او رسولان دي، او هغوی په خپل منځ کې یو له بل څخه فضیلت لري، او له دوی پرته نور هم همداسې دي؛ د دوی په منځ کې: مخکښان، او وروستني دي.

او کله چې مؤمن بنده پوه شي چې الله -جل و علا- مخکې کوونکی او وروسته کوونکی دی؛ زړه یې یوازې له الله سره تړلی وي، او له هغه څخه د ایمان او استقامت غوښتنه کوي، او پر هغه توکل کوي؛ ځکه چې د هغه –سبحانه و تعالی- مخکې کولو لپاره وروسته کوونکی نشته، او د هغه وروسته کولو لپاره مخکې کوونکی نشته.

واقعي پرمختګ:

اصلي او ګټور پرمختګ: د الله –عزوجل-په اطاعت، د هغه جنت، او د هغه په رضامندۍ کې مخکې والی او پرمختګ دی، او په هغو کې ځنډ کول او وروسته والی: بد او مذموم وروسته والی دی؛ ځکه چې الله –سبحانه و تعالی- فرمایلي دي:

﴿۞ وَسَارِعُوٓاْ إِلَىٰ مَغۡفِرَةٖ مِّن رَّبِّكُمۡ وَجَنَّةٍ عَرۡضُهَا ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلۡأَرۡضُ أُعِدَّتۡ لِلۡمُتَّقِينَ١٣٣﴾ [آل عمران: 133]

(او تاسو له يو بل نه تلوار کوئ هغه (مغفرت او) بخښنې ته چې د خپل رب له جانبه ده او داسې جنت ته چې د هغه پلن والی د اسمانونو او د ځمکې (په اندازه) دی، د پرهېزګارانو لپاره تیار کړی شوی دی). [آل عمران سورت: ایت 133]،

او هغه -سبحانه وتعالی- وفرمایل- :

﴿سَابِقُوٓاْ إِلَىٰ مَغۡفِرَةٖ مِّن رَّبِّكُمۡ وَجَنَّةٍ عَرۡضُهَا كَعَرۡضِ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِ ...﴾ [الحديد: 21]

(تاسو تلوار وکړئ د الله له جانبه مغفرت ته او داسې جنت ته چې د هغه پلنوالی د اسمان او ځمکې د پلنوالي په شان دی). [الحدید سورت: ایت 21].

او په مستند ډول روایت شوی دی چې هغه -صلى الله عليه وسلم- و فرمایل: «تَقَدَّمُوْا؛ فَأْتَمُّوا بِي، وَلْيَأْتَمَّ بِكُمْ مَنْ بَعْدَكُمْ، لَا يَزَالُ قَوْمٌ يَتَأَخَّرُوْنَ حَتَّى يُؤَخِّرَهُمُ اللهُ!» «مخکې شئ؛ او ما پسې اقتدا وکړئ، او هغه کسان چې ستاسو شاته دي تاسو ته دې نږدې شي او ستاسو شاته دې ودریږي، ځکه چې ځیني خلک وروسته دریږي او پاتې کیږي تر څو چې الله هغوی له خپل رحمت څخه وروسته کړی!» [مسلم روایت کړی].

اما دنیا کې مخکې والی او وروسته والی؛ دا د الله - عزوجل - سره د اندازې معیار ندی، او دا ګټه هم نلري.

او د ایمان له دلالت څخه: هغه چه الله –عزوجل- مخکې کړی وي د هغه وړاندې کول، او وروسته کول د هغه څه چې الله –عزوجل- وروسته کړی وي، او دا د مخکې والي او وروسته والي، مینې او کرکې، دوستۍ او دښمنۍ معیار دی، دا د الله مقیاس او معیار دی، نو الله - عزوجل - فرمایي:

﴿أَمۡ حَسِبَ ٱلَّذِينَ ٱجۡتَرَحُواْ ٱلسَّيِّـَٔاتِ أَن نَّجۡعَلَهُمۡ كَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ سَوَآءٗ مَّحۡيَاهُمۡ وَمَمَاتُهُمۡۚ سَآءَ مَا يَحۡكُمُونَ﴿٢١﴾﴾ [الجاثیة: 21]

(ایا هغو کسانو چې جرمونه یې کړي دي؛ دا ګمان کړی چې مونږ به دوی د هغو کسانو په شان وګرځوو چې ایمان یې راوړی دی او نیك عملونه یې کړي دي، په داسې حال کې چې د دوی ژوند او د دوی مرګ به یو برابر وي، بده ده هغه فیصله چې دوی یې کوي). [الجاثیة سورت: ایت 21].

اې الله، اې مخکې کوونکیه او اې وروسته کوونکیه! موږ له تا څخه غواړو چې موږ ته بخښنه وکړې، موږ خپل جنت ته داخل کړې، او موږ له خپل اور څخه وژغورې.

91

## الحَيِيُّ )ډېر حياء کوونکی (ذات -جل جلاله-

رسول الله -صلی الله علیه وسلم - يو سړی وليد چې له لنګ پرته په عام ځای کې غسل کوي - يعنې د ځمکې په پراخه ساحه کې- نو رسول الله -صلى الله عليه وسلم– د هغه دغه کار ښخه کرکه وکړه او منبر ته پورته شو، د الله حمد او ثنا يې وويله، بيا يې وفرمايل: «إِنَّ اللَّهَ حَيِيٌّ سِتِّيرٌ، يُحِبُّ الحَيَاءَ وَالسَّتْرَ؛ فَإِذَا اغْتَسَلَ أَحَدُكُمْ فَلْيَسْتَتِرْ» «په حقيقت کې الله حيا کوونکی او ستر کوونکی دی، حيا او ستر خوښوي؛ نو کله چې يو له ستاسو څخه غسل کوي، هغه دې ځان پټ کړي». [صحيح حديث دی. ابوداود روايت کړی].

نو زمونږ رب – سبحانه و تعالی – ډېر حيا کوونکی دی، چې د حيا په کمال سره يې صفت شوی، کوم چې د هغه د کمال، عظمت او لوړوالي لايق دی. نه د مخلوق د حياء په څير، کوم چې: تغير او عاجزي ده.

د رب –جل و علا- حيا يو بل ډول دی، چې مفهومونه د هغه درک نشي کولی، او نه عقلونه د هغه کيفيت بيانولی شي؛ هغه يو ډول حيا، مهربانۍ، نيکي، سخاوت او عظمت دی.

د الله –سبحانه و تعالی- له عظمت څخه: دا دي چې د هغه حيا: د هغه څه پريښودل دي چې د هغه د رحمت، د سخاوت له کمال، مهربانۍ، لوی بخښنې او نرمۍ سره مطابقت و نلري، د هغو له جملې څخه: دا چې هغه له شړلو څخه حيا کوي کله چې هغه ورته په دعا سره لاسونه پورته کړي.

هغه -صلى الله عليه وسلم- فرمايلي: «إِنَّ اللَّهَ حَيِيٌّ كَرِيمٌ، يَسْتَحِي إِذَا رَفَعَ الرَّجُلُ إِلَيْهِ يَدَيْهِ أَنْ يَرُدَّهُمَا صِفْرًا خَائِبَتَيْنِ» "يقينا الله حيا کوونکی او سخي دی، کله چې يو سړی ورته لاسونه پورته کړي، هغه حيا کوي چې بيرته يې په نا اميدۍ سر وليږي". [صحيح حديث دی. ترمذي روايت کړی].

او د هغه – سبحانه و تعالی- له جلال څخه: دا دي چې د خپلې بشپړې بډاينې او قدرت سره نه غواړي له بنده څخه پرده پورته کړي او هغه بې عزته کړي.

او هغه حيا لرونکی دی، نو خپل بنده نه بې عزته کوي ... کله چې هغه په ښکاره توګه نافرماني وکړي

بلکې پر هغه باندې پرده اچوي ... نو هغه هغه څوک دی چې پرده اچوی او د بخښنې څښتن دی.

او د الله له انصاف څخه: دا چې هغه له حق څخه حیا نه کوي، هغه –سبحانه و تعالی- وفرمایل:

﴿.. وَٱللَّهُ لَا يَسۡتَحۡيِۦ مِنَ ٱلۡحَقِّۚ ...﴾ [الأحزاب: 53]

(او الله د حقې خبرې (له ويلو) نه حيا نه کوي). [الأحزاب سورت: ایت 53]،

او هرڅومره چې د الله مشاهده ډېره وشي په هماغه پیمانه به د مؤمن په زړه کې د حیا ځواک وي.

حقيقت:

د چا چې ايمان زيات شي د هغه حیا به زیاته شي؛ له همدې امله انبياء تر ټولو حيا لروونکي خلک وو، او رسول الله -صلى الله عليه وسلم- وصف شوی دی چې هغه: «د يوې پرده کوونکې پيغلې نه هم ډير حياناک».

او حيا د ايمان له څانګو څخه ده، له رسول الله -صلى الله عليه وسلم- څخه روايت دی چې فرمايي: «الإِيمَانُ بِضْعٌ وَسَبْعُونَ شُعْبَةً، وَالحَيَاءُ: شُعْبَةٌ مِنَ الإِيمَانِ» "ايمان څو اويا څانګې لري، او حيا د ايمان يوه څانګه ده". [بخاري او مسلم روايت کړې].

تر ټولو ستره او محبوبه حيا: له الله – جل جلاله- څخه حيا کول دي.

ولما قال النبي -صلى الله عليه وسلم- لأصحابه: «اسْتَحْيُوا مِنَ اللهِ حَقَّ الحَيَاءِ»، قالوا: يا رسول الله! إنا نستحيي؛ والحمد لله! او کله چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- خپلو اصحابو ته وويل: له الله څخه په واقعي توګه حيا وکړئ، هغوی وويل: اې د الله رسوله! موږ حيا کوو؛ او د الله شکر دی!

قال: هغه وفرمايل: «لَيْسَ ذَاكَ، وَلَكِنْ مَنِ اسْتَحْيَا مِنَ اللهِ حَقَّ الحَيَاءِ؛ فَلْيَحْفَظِ الرَّأْسَ وَمَا وَعَى، وَلْيَحْفَظِ البَطْنَ وَمَا حَوَى، وَلْيَذْكُرِ المَوْتَ وَالبِلَى، وَمَنْ أَرَادَ الآخِرَةَ تَرَكَ زِينَةَ الحَيَاةِ الدُّنْيَا؛ فَمَنْ فَعَلَ ذَلِكَ فَقَدْ اسْتَحْيَا مِنَ اللهِ حَقَّ الحَيَاءِ» «داسې نه ده، څوک چې له الله څخه په حقه سره

حیا کول غواړي؛ د سر او هغه څه چې هغه کې دي ساتنه دې وکړي، او د خیټې او هغه څه چې د هغې شاوخوا دي ساتنه دې وکړي، مرګ او د هډوکو زړېدل دې په یاد وساتي، او څوک چې آخرت غواړي ددنیا زینت او سینګار دې پرېږدي؛ نو چا چې دا کارونه وکړل هغه واقعا له الله څخه حیا کوونکی دی». [حسن حدیث دی. ترمذي روایت کړی]. ابن القیم فرمایلي: "څوک چې د الله  څخه د هغه په ګناه کې حیا وکړي؛ نو الله به حیا وکړي چې د ملاقات په ورځ هغه ته عذاب ورکړي، او څوک چې په ګناه کې له هغه څخه حیا ونکړي، الله به د هغه له عذاب څخه حیا و نکړي".

حیا خومره ښکلې ده!

هغه پرته له خیر څخه بل څیز نه راوړي، رسول الله -صلی الله علیه وسلم- په یو سړي  تېرېده چې هغه یو بل کس د حیا په اړه ملامتوه:(ورته یې وییل ) ته حیا کوې! تر دې چې وېې ویل: هغې تا ته زیان ورساوه! نو رسول الله -صلی الله علیه وسلم- هغه ته وفرمایل: «دَعْهُ! فَإِنَّ الحَيَاءَ مِنَ الإِيمَانِ» "هغه پرېږده! ځکه حیا د ایمان برخه ده». [دوو شیخانو روایت کړي].

حیا: د زړورتیا، مېړانې، او د ښو اخلاقو نښه ده.

حیا: د الله د عظمت احساس کول، د هغه د وقار څرګندول، او د هغه – جل و علا- د عظمت مراقبت کول دی.

ځینو مخکنیو ویلي دي: زه پوهیدم چې الله زما څخه خبر دی؛ نو زما حیا راځي چې ما په ګناه کې ووینې.

او که په تیاره کې له شک (ګناه) سره یوازې شوې ... او نفس د ګناه طرف ته رابللونکی و

نو د الله له نظره حیا وکړه او هغې ته ووایه ... هغه چا چې تیاره یې پیدا کړېده ما ویني

عمر بن الخطاب -رضي الله عنه- فرمايي: "د چا چې حيا کمه شي تقوا يې کميږي، او د چا تقوا کمه شي زړه يې مري". ابن دقيق العيد -رحمه الله- فرمايلي دي: "حيا

تر اوسه هم ستایل شوی، نیک کار دی او هغه باندې امر شوی دی، او د لومړنیو پیغمبرانو په شریعتونو کې هم نده منسوخ شوې".

او د پای خبره ...

کله چې الله –سبحانه و تعالی- د جنت د ښځو (حورو) وصف کوي فرمايي:

﴿فِيهِنَّ قَٰصِرَٰتُ ٱلطَّرۡفِ ...﴾ [الرحمن: 56]

(په دغو (جنتونو) کې به د سترګو رامنع کوونکې حورې وي). [الرحمن سورت: ایت 56]

، يعني: هغوی يوازې خپلو خاوندانو ته ګوري، بیا يې د هغوی د ښکلا او ښايست وصف وکړ:

﴿كَأَنَّهُنَّ ٱلۡيَاقُوتُ وَٱلۡمَرۡجَانُ ٥٨﴾ [الرحمن: 58]

(ګويا کې دغه (حورې) یاقوت لعل دي، يا مرجان دي). [الرحمن سورت: ايت 58]،

د عفت او حيا صفت يې د ښکلا او ښايست څخه مخکې ياده کړه، د ښځې ښکلا بې له عفت او حيا څخه هيڅ ارزښت نه لري. ويل شوي دي: د ګناهونو له عذابونو څخه: د حيا او د مخ روښنايې له منځه تلل دي، رسول الله -صلی الله عليه وسلم- فرمايي: «إِنَّ مِمَّا أَدْرَكَ النَّاسُ مِنْ كَلاَمِ النُّبُوَّةِ الأُولَى: إِذَا لَمْ تَسْتَحِ فَاصْنَعْ مَا شِئْتَ» "په حقيقت کې، د لومړي نبوت له خبرو څخه چې خلک پوه شوي وو دا خبره وه چې: که ته حيا نلرې نو هغه څه وکړه چې ته يې غواړې". [بخاري روايت کړی].

کله چې ته د شپو (بدو اعمالو) د پاېلو څخه وېره نه لرې ... او حيا هم نه لرې نو څه چې غواړې هماغه کوه

يو انسان په خير سره ژوند تېروي کله چې هغه حيا کوي ... او د ونې تنه هله پاتې کېږي چې تر څو يې پوټکی پاتي وي

او په ياد ولره چې د الله تعالی په نزد تر ټولو زيات بد کس هغه څوک دی چې شپه په ګناه کې تېره کړي، او الله هغه باندې پرده واچوي، خو سهار په خپله د الله تعالی اچول شوې پرده له ځانه څخه پورته کړي.

اې الله! له خپل خوا څخه مونږ ته حیا راکړه، او موږ ته توفیق راکړه چې په حضور او غیاب، په پټه او ښکاره کې ستا څخه ووېرېږو.

92

## الدَّيـَّانُ )د خیر او شر بدله ورکونکی (ذات -جل جلاله-

یو سړی راغی او د رسول الله -صلى الله عليه وسلم- مخې ته کېناست؛ ویې ویل: یا رسول الله! زه دوه داسې غلامان لرم چې ما ته درواغ وایي، خیانت کوي، زما نافرماني کوي، او زه هغوی ته ښکنځلې کوم او هغوی وهم، نو زه ددوی پر واړندې څنګه یم؟

هغه وفرمایل: «يُحْسَبُ مَا خَانُوْكَ وَعَصَوْكَ وَكَذَّبُوْكَ وَعِقَابُكَ إِيَّاهُمْ؛ فَإِنْ كَانَ عِقَابُكَ إِيَّاهُمْ بِقَدْرِ ذُنُوْبِهِمْ كَانَ كَفَافًا؛ لَا لَكَ وَلَا عَلَيْكَ، وَإِنْ كَانَ عِقَابُكَ إِيَّاهُمْ دُوْنَ ذُنُوْبِهِمْ؛ كَانَ فَضْلًا لَكَ، وَإِنْ كَانَ عِقَابُكَ إِيَّاهُمْ فَوْقَ ذُنُوْبِهِمْ؛ اقْتُصَّ لهُمْ مِنْكَ الفَضْلُ»، فتنحى الرجل، فجعل يبكي ويهتف. " د هغوی خیانت، نافرماني، درواغ، او ستا سزا ورکول به حسابیږي؛ که ستا سزا ورکول د دوی د ګناهونو په اندازه وي؛ نو هغه کفایت کوي؛ نه تا لره او نه تا باندې څه حق شته، او که د دوی لپاره ستا سزا ورکول د دوی د ګناهونو څخه لږ وي؛ دا ستا فضل او احسان دی، او که ستا سزا د دوی له ګناهونو څخه ډېره وي؛ نو ستا څخه به د هغه زیاتوالي غچ واخیستل شي». نو هغه سړی څنګ ته شو، په ژړا او فریاد یې پیل وکړ.

نو رسول الله -صلى الله عليه وسلم- وفرمایل: «أَمَا تَقْرَأُ كِتَابَ اللّٰهِ: «ایا تاسو د الله کتاب نه لولئ:

﴿وَنَضَعُ ٱلْمَوَٰزِينَ ٱلْقِسْطَ لِيَوْمِ ٱلْقِيَـٰمَةِ فَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْـًٔا ۖ وَإِن كَانَ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ أَتَيْنَا بِهَا ۗ وَكَفَىٰ بِنَا حَـٰسِبِينَ ۝٤٧﴾ [الأنبياء: 47]

( او د قيامت په ورځ به مونږ دېرې د انصاف تلې کېږدو، نو په هېڅ نفس باندې به هېڅ شی ظلم ونه کړی شي او که دا (عمل) د اوري د داني په وزن وي مونږ به هغه راوړو او هم مونږ حساب کوونکي بس يو). [الأنبياء: 47]

؟». فقال الرجل: والله يا رسول الله! ما أجد لي ولهم شيئًا خيرًا من مفارقتهم! أشهدك أنهم أحرار كلهم. هغه سړي وويل: په الله قسم ای د الله رسوله! زه د دوی او خپل ځان لپاره د دوی پريښودلو ښخه غوره بل څه نه وينم! زه تا ګواه نيسم چې دوی ټول آزاد دي. [صحيح حديث دی. ترمذي روايت کړی].

قسم په الله که خلک پوه شوي وی ... چې هغوی د څه لپاره پيدا شوي دي هغوی به هيڅ کله خوب نه وی کړی

يقينا چې هغوی دداسې کار لپاره پيدا شوي دي ... چې که د هغوی د زړونو سترګې ووينې هغوی به حيرانې او ړندې شي

د امام احمد په مسند کې له جابر -رضي الله عنه- څخه روايت دی چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- وفرمايل: «يَحْشُرُ اللهُ العِبَادَ، فَيُنَادِي بِصَوْتٍ يَسْمَعُه مَنْ بَعُدَ كَمَا يَسْمَعُه مَنْ قَرُبَ: أَنَا المَلِكُ، أَنَا الدَّيَّان، لا يَنْبَغِي لأَحَدٍ مِنْ أَهْلِ النَّارِ أَنْ يَدْخُلَ النَّارَ وَلَهُ عِنْدَ أَحَدٍ مِنْ أَهْلِ الجَنَّةِ حَقٌّ؛ حَتَّى أَقُصَّهُ مِنْهُ، وَلَا يَنْبَغِي لأَحَدٍ مِنْ أَهْلِ الجَنَّةِ أَنْ يَدْخُلَ الجَنَّةَ وَلأَحَدٍ مِنْ أَهْلِ النَّار عِنْدَهُ حَقٌّ؛ حَتَّى أَقُصَّهُ مِنْهُ حَتَّى اللَّطْمَةَ» «الله به بندګان حشر کړي، هغه به اواز وکړي چې لرې کسان د نږدې کسانو په څير به دا اواز واوري: زه پاچا يم، زه د خير او شر بدله ورکوونکی يم، هيچ دوزخي ته نه ښايي چې دوزخ ته ننوځي او د هغه حق جنتي باندې پاتي وي؛ تر څو چې زه يې له هغه څخه پرې نکړم، هيچ جنتي ته نه ښايي چې جنت ته ننوځي او د دوزخي په هغه باندې پاتي وي؛ تر څو چې زه يې له هغه څخه پرې نکړم، حتا که هغه يوه څپيړه هم وي». [صحيح دی].

زمونږ رب – عزوجل – -هغه چې خپل عرش باندې بر قراره شو د خپلې پاچاهۍ دپاسه– ټول مخلوق هغه ته تابع شول، او ټول مخونه ورته عاجز شول، او د هغه د عظمت لپاره لويان او ظالمان او ټول مخلوق ذليل او تسليم شول، او هغه – عزوجل- چې ټول مخلوق باندې غالب او زوررور دي؛ او ټول مخلوقات هغه – عزوجل- ته تابع شول؛ نو د ټولو بندګانو واک او اختيار د هغه په لاس کې دی، د

پاچاهۍ چارې او واکمني د هغه په لاس کې ده، د هغه پرته بل هيڅ حکم کوونکی نشته، له هغه پرته بل رب نشته، او د هغه پرته بل معبود نشته.

او زموږ رب – سبحانه و تعالی - د خير او شر بدله ورکونکی دی؛ هغه څوک چې د بندګانو محاسبه کوونکی او اجر ورکوونکی دی، او د دوی ترمنځ په ټاکلې ورځ فيصله کوي؛ لکه څنګه چې هغه –تبارک و تعالی- وفرمايل:

﴿مَٰلِكِ يَوۡمِ ٱلدِّينِ ٤﴾ [الفاتحة: 4]

(د بَدلې د ورځې مالك دی). [الفاتحة سورت: ايت 4]،

﴿وَنَضَعُ ٱلۡمَوَٰزِينَ ٱلۡقِسۡطَ لِيَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ فَلَا تُظۡلَمُ نَفۡسٞ شَيۡـٔٗاۖ وَإِن كَانَ مِثۡقَالَ حَبَّةٖ مِّنۡ خَرۡدَلٍ أَتَيۡنَا بِهَاۗ وَكَفَىٰ بِنَا حَٰسِبِينَ ٤٧﴾ [الأنبياء: 47]

(او د قيامت په ورځ به موږ ډېرې د انصاف تلې کېږدو، نو په هېڅ نفس باندې به هېڅ شی ظلم ونه کړی شي او که دا (عمل) د اوړي د دانې په وزن وي موږ به هغه راوړو او هم موږ حساب کوونکي بس يو). [الأنبياء سورت: ايت 47].

څوک چې خير ومومي، د الله شکر دې ادا کړي، او څوک چې له دې پرته بل څه ومومي، هغه دې يوازې خپل ځان ملامت کړي؛

﴿يَوۡمَ تَجِدُ كُلُّ نَفۡسٖ مَّا عَمِلَتۡ مِنۡ خَيۡرٖ مُّحۡضَرٗا وَمَا عَمِلَتۡ مِن سُوٓءٖ تَوَدُّ لَوۡ أَنَّ بَيۡنَهَا وَبَيۡنَهُۥٓ أَمَدَۢا بَعِيدٗاۗ وَيُحَذِّرُكُمُ ٱللَّهُ نَفۡسَهُۥۗ وَٱللَّهُ رَءُوفُۢ بِٱلۡعِبَادِ ٣٠﴾ [آل عمران: 30]

(په هغه ورځ کې چې هر نفس به هره هغه نېکي چې ده کړې وي، (خپلې مخې ته) حاضره ومومي او هره هغه بدي چې ده کړې ده (هغه هم)، دا (نفس) به ارزو کوي چې کاشکې د ده په منځ کې او د هغې (بدۍ) په منځ کې ډېر لرې واټن وی او الله تاسو له خپل ځان نه وېروي او الله په بنده ګانو باندې ډېر نرمي کوونکی دی). [آل عمران سورت: ايت 30].

پايلو ته پام وکړه!

الله عادل دی؛ د مظلوم حق له ظالم څخه اخلي، او له بادار څخه د غلام حق اخلي، او همدارنګه له حيواناتو څخه، رسول الله -صلى الله عليه وسلم- وفرمايل: «يُحْشَرُ الخَلْقُ كُلُّهُمْ يَوْمَ القِيَامَةِ: البَهَائِمُ، وَالدَّوَابُّ، وَالطَّيْرُ، وَكُلُّ شَيْءٍ، فَيَبْلُغُ مِنْ عَدْلِ اللهِ: أَنْ يَأْخُذَ لِلْجَمَّاءِ مِنَ القَرْنَاءِ» «د قيامت په ورځ به ټول مخلوقات راغونډ شي: حيوانات، ساه لرونکي، مرغان او هر

ځيز، او د الله عدل به دی حد ته ورسېږي چی: د بې ښکرو حيواناتو حق له ښکرلرونکو حيواناتو څخه واخلي». [صحيح حديث دی. حاکم په "المستدرک" کې روايت کړی دی]. او په بل لفظ کې دي: «وَحَتَّى الذَّرَّةَ مِنَ الذَّرَّةِ» "حتا له يوې ذرې څخه د بلې زرې حق اخلي". [صحيح حديث دی. احمد په المسند کې روايت کړی دی].

کله چی پوه شوې چې د قيامت، بدلې او حساب په ورځ به له (الديان) د خير او شر بدله ورکوونکي سره مخامخ کيږې؛ او دا چې الله د يوې ذرې په پيمانې باندې ظلم نه کوي، او دا چې د خلکو ترمنځ څه شی دي هغه د شخړو پر بنسټ دي، او دا چې د بنده او د هغه د رب تر منځ د بخښنې او عفوې پر بنسټ دي، او حساب به ښو او بدو کارونو باندې وي، نو ته خپله نيکې څنګه نورو خلکو باندې تقسيموې، او د نورو بدۍ ځان ته اخلې، دا په داسې حال کې چې ته پوهيږې چې تا سره به هرومرو حساب کيږي؟!

نو هوښيار اوسه، او ځان سره حساب وکړه مخکې له دې چې تا سره حساب وشي؛ او څنګه چې ويل شوي: عاقل او هوښيار: هغه څوک دی چې خپل ځان وپيژني او د هغه څه لپاره کار وکړي چې له مرګ نه وروسته راځي، او عاجز: هغه څوک دی چې د خپل نفس د غوښتنو پيروي وکړي، او بيا الله څخه د نعمتونو او جنت اميد ولري!

او کله چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- له خپلو صحابه و -رضي الله عنهم- څخه وپوښتل: «أَتَدْرُونَ مَا المُفْلِسُ؟»، قالوا: المفلس فينا من لا درهم له ولا متاع؛ فقال: «ايا پوهېږئ مفلس څه شی دی؟» هغوی وويل: په مونږ کې مفلس هغه څوک دی چې نه درهم (مال) او نه توکي ولري؛ هغه وويل: «إِنَّ المُفْلِسَ مِنْ أُمَّتِي يَأْتِي يَوْمَ القِيَامَةِ بِصَلاةٍ وَصِيَامٍ وَزَكَاةٍ، وَيَأْتِي قَدْ شَتَمَ هَذَا، وَقَذَفَ هَذَا، وَأَكَلَ مَالَ هَذَا، وَسَفَكَ دَمَ هَذَا، وَضَرَبَ هَذَا؛ فَيُعْطَى هَذَا مِنْ حَسَنَاتِهِ، وَهَذَا مِنْ حَسَنَاتِهِ، فَإِنَّ فَنِيَتْ حَسَنَاتُهُ قَبْلَ أَنْ يُقْضَى مَا عَلَيْهِ؛ أُخِذَ مِنْ خَطَايَاهُمْ؛ فَطُرِحَتْ عَلَيْهِ، ثُمَّ طُرِحَ فِي النَّارِ» "زما امت کې مفلس هغه څوک دی چې د قيامت په ورځ به له لمانځه، روژې او زکات سره راشي، په داسې حال کې به راشي چې يو ته به يې ښکنځلې کړي وي، او په يو بل به يې تهمت لګولی وي، او له بل څخه به يې مال خوړلی وي، او د بل چا وينه به يې توی کړي وي، او بل به يې وهلی وي؛ نو يوه ته به د هغه له نيکيو څخه ورکړل شي، او بل ته به هم د هغه له نيکيو څخه ورکړل شي، نو کله چې د هغه نيکۍ خلاصې شي مخکې لدې چې د نورو حقوق ادا کړي؛ د هغوی ګناهونه به واخېستل شي؛ او هغه باندې به واچول شي، بيا به اور ته واچول شي». [مسلم

روایت کړی]. او عمر بن الخطاب -رضي الله عنه- فرمايي: " خپل ځان سره حساب وکړئ مخکې لدې چې تاسو سره حساب وشي، او خپل عملونه وزن کړئ مخکې له دې چې وزن شي، ځکه چې دا به د سبا په حساب کې ستاسو لپاره د نن ورځې حساب کولو څخه اسانه وي، او خپل ځانونه د لوې نندارې لپاره چمتو کړئ".

﴿يَوۡمَئِذٖ تُعۡرَضُونَ لَا تَخۡفَىٰ مِنكُمۡ خَافِيَةٞ۝١٨﴾ [الحاقة: 18]

(په دغې ورځ کې به تاسو وړاندې کولی شئ، ستاسو له پټو (عملونو) نه به هېڅ (شی) پټ پاتي نشي). [الحاقة سورت: ايت 18] .

هغه ورځ په ياد ولره کله چې الله ته يوازې راشې ... او د عدالت ترازو ودرول شي

او له ګناهونو څخه پردې پورته شي ... او ګناه پرته له پردې څخه راشي

او د ابو الدرداء -رضي الله عنه- خبره په ياد ولره: «نيکي نه زړيږي، او ګناه نه هيريږي، او د خير او شر بدله ورکوونکی ذات نه ويده کيږي، نو هغسې اوسه لکه څنګه چې غواړې! لکه څنګه چې ته کوې هماغسې به تاسره کيږي».

نو که ته مظلوم يې نو د خير او شر بدله ورکوونکی ذات باندې خوشحاله اوسه، او دا نوم د ټولو مظلومانو او ځپل شوي لپاره د تسکين دی:

په الله قسم، ظلم بدمرغي ده ... او ګناهګار همېشه لپاره ظالم دی

او موږ د قيامت د ورځې بدله ورکوونکی ذات ته روانيږو ... او د الله پر وړاندې به مدعيان راټوليږي

اې الله! موږ له تا څخه غوښتنه کوو اې بدله ورکوونکی ذاته: موږ ته له خپلې لورې څخه بخښنه وکړه، او موږ باندې تاته د وړاندې کېدو په ورځ رحم وکړه.

93

## المَنـَّانُ )احسان کونکی (ذات -جل جلاله-

د الله – تبارک و تعالی- فضل او احسانونه بې شمیره دي! څومره تکلیفونه يې لمنځه وړي! او څومره مرضونو څخه يې روغ کړي يو! څومره تشویشونه يې جبران کړي؟ او څومره غمونه يې خلاص کړي؟

تر ټولو لوی نعمت چې بنده يې په آخرت کې هیله لري: د ګناهونو بخښنه ده، او د هغه بخښنه په ایمان او د نیکو اعمالو په واسطه ترلاسه کیږي؛ که څه هم لږ وي.

نو دا اصیرم عمرو بن ثابت د احد په ورځ مسلمان شو، او په هغه ورځ ووژل شو، او يو لمونځ يې هم نه و ادا کړی، نو رسول الله -صلی الله علیه وسلم- ته يې د هغه په هکله یادونه وکړه؛ نو هغه وفرمایل: «إِنَّهُ مِنْ أَهْلِ الجَنَّةِ» "هغه له جنتیانو څخه دی". صحیح حدیث دی. احمد په مسند کې روایت کړی، او الهیثمي په المجمع کې ویلي دي: «د حدیث راویان ثقه دي».

او هغه سړی چې سل انسانان يې وژلي و؛ الله – عزوجل- د هغه توبه کې اخلاص ولید؛ نو هغه ته يې بخښنه وکړه.

بیا په دې ژوند کې بنده باندې تر ټولو لوی احسان: هدایت دی:

﴿... بَلِ ٱللَّهُ يَمُنُّ عَلَيۡكُمۡ أَنۡ هَدَىٰكُمۡ لِلۡإِيمَٰنِ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ١٧﴾ [الحجرات: 17]

(بلکې الله پر تاسو باندې احسان کوي دا چې تاسو ته يې د ایمان راوړلو هدایت وکړ، که تاسو رښتیني يئ). [الحجرات سورت: ایت 17].

او د الله د هغو نومونو څخه چې په هغوی يې خپل ځان ستایلی: (المنان - عزوجل -) دی.

په سننو کې له انس -رضي الله عنه- څخه روایت دی چې هغه له رسول الله -صلی الله علیه وسلم- سره ناست و او يو سړي لمونځ کاوه، بیا يې دا دعا وکړه: اې الله! زه له تا څخه دا غوښتنه کوم چې تا لره ستاینه ده، له تا پرته بل معبود نشته، بدله ورکوونکیه، د ځمکې او اسمانونو پیدا کوونکیه، اې د عظمت او عزت خاونده.. اې ژوندی اې قیوم ذاته!

رسول الله -صلى الله عليه وسلم- وفرمايل: «دَعَا اللهَ بِاسْمِهِ الأَعْظَمِ الَّذِي إِذَا دُعِيَ بِهِ أَجَابَ، وَإِذَا سُئِلَ بِهِ أَعْطَى» "هغه له الله څخه د هغه په لوی نوم سره غوښتنه وکړه، که په هغه سره راوبلل شي ځواب ورکوي، او که په هغه سره ورڅخه وغوښتل شي ورکوي يې". [صحيح حديث دی]

زموږ رب – تبارک و تعالی – د لويو ډاليو، ورکړو او احسانونو ورکوونکی دی، او هغه – سبحانه و تعالی – له غوښتلو مخکې د نصيب او برخې په ورکولو پيل کوي، او له پيل څخه تر پايه ورکوونکی دی، او له هيلو او اميدونو څخه پورته ورکوي.

کله چې منت او احسان د هغه له خوا په سخاوت سره پر خپلو ټولو بندګانو باندې وي؛ دوی باندې به د هغه احسان وي، او پر هغه باندې د هيچا منت او احسان نشته، او د هغه ترټولو لويه ډالۍ: دا ده چې هغه ژوند، عقل او منطق ورکړی دی، او په ښه شکل باندې يې جوړ کړی، او په سخاوت سره يې نعمت ورکړی.

د هغه – جل و علا- يو له سترو نعمتونو څخه - پر ټولو بندګانو باندې: دا چې هغوی ته يې زيری ورکوونکي او اخطار ورکونکي رسولان ليږلي دي؛ نو په خپل منت او احسان سره يې خپلو مؤمنو دوستانو ته نجات ورکړ، او هغوی ته يې د سمې لارې لارښوونه وکړه، او د دوزخ له اوره يې وژغورل..

﴿لَقَدْ مَنَّ ٱللَّهُ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولًا مِّنْ أَنفُسِهِمْ يَتْلُوا۟ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتِهِۦ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْحِكْمَةَ وَإِن كَانُوا۟ مِن قَبْلُ لَفِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ۝١٦٤﴾ [آل عمران: 164]

(خامخا په رښتيا سره الله په مومنانو باندې احسان کړی دی کله چې يې دوی ته د همدوی له نفسونو (جنس) څخه يو رسول راوليږه، چې دوی ته د هغه ايتونه تلاوت کوي او دوی پاکوي او دوی ته د کتاب او حکمت (سنت) تعليم ورکوي او يقينًا دوی له دې نه مخکې په ښکاره ګمراهۍ کې وو). [آل عمران سورت: ايت 164]،

﴿... بَلِ ٱللَّهُ يَمُنُّ عَلَيْكُمْ أَنْ هَدَىٰكُمْ لِلْإِيمَٰنِ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ۝١٧﴾ [الحجرات: 17]

(بلکې الله پر تاسو باندې احسان کوي دا چې تاسو ته يې د ايمان راوړلو هدايت وکړ، که تاسو رښتيني يئ). [الحجرات سورت: ايت 17]

. او د هغه له احسانونو څخه: دا چې هغه مظلومان په هر وخت او زمان کې د متکبرانو او فاسدینو څخه ژغوري، او دوی ته امنیت او ځواک ورکوي:

﴿وَنُرِيدُ أَن نَّمُنَّ عَلَى ٱلَّذِينَ ٱسْتُضْعِفُواْ فِي ٱلْأَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً وَنَجْعَلَهُمُ ٱلْوَٰرِثِينَ ۝٥﴾ [القصص: 5]

(او مونږ اراده وکړه چې په هغو کسانو احسان وکړو چې په ځمکه کې ډېر ضعیف کړی شوي دي او چې دوی امامان وګرځوو او چې مونږ دوی (د فرعون د بادشاهۍ) وارثان وګرځوو). [القصص سورت: ایت 5].

خوشحاله او نېکبخته خلک:

او الله –جل و علا- د شکر او بندګۍ ډېر حقدار دی، ځکه چې د هغه نعمتونه د مؤمنانو لپاره دایمي دي، تر دې چې جنت ته داخل شي، نو په دنیا کې د هغه اولیاوو لپاره نعمتونه: هدایت کول او ساتنه دي، او په آخرت کې: د دوزخ له اور څخه خلاصون، جنت ته داخلېدل او د هغه –سبحانه و تعالی- مبارک و مهربان مخ ته کتل دي، الله -سبحانه تعالی- فرمايلي:

﴿قَالُوٓاْ إِنَّا كُنَّا قَبْلُ فِيٓ أَهْلِنَا مُشْفِقِينَ ۝٢٦ فَمَنَّ ٱللَّهُ عَلَيْنَا وَوَقَىٰنَا عَذَابَ ٱلسَّمُومِ۝٢٧ إِنَّا كُنَّا مِن قَبْلُ نَدْعُوهُۖ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلْبَرُّ ٱلرَّحِيمُ۝٢٨﴾ [الطور: 26-28]

(دوی به ووایې چې بېشکه مونږ له دې نه مخکې په خپل اهل کې وېرېدونکي وو. فَمَنَّ نو الله پر مونږ احسان وکړ او مونږ يې د تودوخي (ګرمباد) له عذاب نه وساتلو. بېشکه مونږ له دې نه مخکې هم دغه (الله) باله، بېشکه هم دی ډېر احسان کوونکی ، بې حده رحم کوونکی دی). [الطور سورت: ایتونه 26-28].

د مؤمنانو عادت..

او کله چې مؤمن د الله –عزوجل- له طرفه کوم احسان او منتونه ويني؛ زړه يې حیران شي، روح يې راضي شي، نو خپل رب ته له فقیرو بنده ګانو څخه جوړ شي، يوازې د هغه –سبحانه و تعالی- حمد او ثنا وايي، او دا هغه لره لويه دروازه ده چې بنده د هغې لارې څخه خپل رب ته ننوځي، او هغه: د هغه په وړاندې د خشوع او عاجزۍ دروازه ده؛ دعا کوونکی، غږ کوونکی او اواز کوونکی په : اې منان ذاته!

نو دلته؛ ارمانونه پوره کېږي، او غوښتونکو ته ورکول کېږي، ګناهګار ته بخښنه کېږي، تکليف لرې کېږي، غمونه له منځه ځي، بندي ازادېږي، ناروغ ته شفاء ورکول کېږي، غايب بېرته راستنېږي، مجبور او عاجز ته ځواب ورکول کېږي:

﴿أَمَّن يُجِيبُ ٱلْمُضْطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكْشِفُ ٱلسُّوٓءَ وَيَجْعَلُكُمْ خُلَفَآءَ ٱلْأَرْضِ ۗ أَءِلَٰهٌ مَّعَ ٱللَّهِ ۚ قَلِيلًا مَّا تَذَكَّرُونَ﴿٦٢﴾﴾ [النمل: 62]

(بلکې هغه ذات (غوره دی) چې د مجبور ( او عاجز) سوال قبلوي، کله چې دغه (الله) وبلي او هغه تکليف (او سختي) لرې کوي او تاسو د ځمکې خليفه ګان جوړوي، ايا له الله سره بل معبود شته؟ تاسو ډېر لږ شانته نصيحت قبلوئ). [النمل سورت: ايت 62].

او که چيرته ستاسو له ژوند څخه هر څومره شيان واخيستل شي چې ته فکر کوي چې هغه به ستا د خوښۍ لامل وي، ډاډ اوسه چې الله هغه ستا څخه لرې کړي مخکې لدې چې ستا د بدبختۍ لامل جوړ شي.

منت مه کوه!

او که الله –سبحانه و تعالی- د خپل ځان ستاينه کړې ده چې په خپلو بندګانو باندې يې منت او احسان کړی؛ هغه کسان يې ملامت کړي هم دي چې الله او يا د هغه بندګانو باندې منت کوي؛ له دې امله چې هغوی خپل مالونه مصرف کړي، او هغه کارونه چې هغوی کړي دي؛ نو فرمايي:

﴿يَمُنُّونَ عَلَيْكَ أَنْ أَسْلَمُوا ۖ قُل لَّا تَمُنُّوا عَلَيَّ إِسْلَامَكُم ۖ بَلِ ٱللَّهُ يَمُنُّ عَلَيْكُمْ أَنْ هَدَىٰكُمْ لِلْإِيمَٰنِ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ﴿١٧﴾﴾ [الحجرات: 17]

(دوی په تا د دې احسان کوي چې اسلام يې راوړی دی، ته (ورته)، ووايه: تاسو په ما باندې د خپل اسلام راوړلو احسان مه کوئ، بلکې الله پر تاسو باندې احسان کوي دا چې تاسو ته يې د ايمان راوړلو هدايت وکړ، که تاسو رښتيني يئ). [الحجرات سورت: ايت 17]

. او زموږ رب – سبحانه و تعالی - موږ ته خبرداری راکړ چې په هغه څه چې موږ ورباندې کوو منت او احسان و نکړو؛ ځکه دا کار صدقه او ثواب باطلوي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا لَا تُبْطِلُوا صَدَقَٰتِكُم بِٱلْمَنِّ وَٱلْأَذَىٰ ...﴾ [البقرة: 264]

(اې هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! خپل خيراتونه په احسان بارولو (زباتولو) او ضرر رسولو سره مه بربادوئ). [البقرة سورت: ايت 264].

او رسول الله -صلى الله عليه وسلم- موږ د احسان زباتلو څخه منع کړي يو، نو هغه -صلى الله عليه وسلم- وفرمايل: «ثَلَاثَةٌ لَا يُكَلِّمُهُمُ اللهُ يَوْمَ القِيَامَةِ: المَنَّانُ؛ الَّذِي لَا يُعْطِي شَيْئًا إِلَّا مِنَّةً، وَالمُنْفِقُ سِلْعَتَهُ بِالحَلِفِ الفَاجِرِ، وَالمُسْبِلُ إِزَارَهُ» "درې کسان دي چې الله به د قيامت په ورځ هغوی سره خبرې نه کوي: منان؛ هغه څوک چې له منت او احسان پرته څه نه ورکوي، او هغه څوک چې خپل توکي په بدو قسمونو خرڅوي، او هغه څوک چې پايڅې يې له ښنګرو ټيټې وي". [مسلم روايت کړی]. او په صحيح ډول روايت شوی دی چې هغه - صلى الله عليه وسلم- وفرمايل: «لَا يَدْخُلُ الجَنَّةَ: مَنَّانٌ، وَلَا عَاقٌّ، وَلَا مُدْمِنُ خَمْرٍ» "جنت ته به داخل نه شي: څوک چې منت کوونکی وي، عاق شوی وي (د مور او پلار نافرمانه)، او د شرابو معتاد". [ صحيح حديث دی. نسائی روايت کړی]

تا په منت سره هغه نعمتونه خراب کړل چې تا ته درکړل شوي وو ... سخي ندی څوک چې ورکړې سره خلکو باندې منت وکړي

له همدې امله؛ د صلاح خاوندانو به پخپل منځ کې داسې ويل: کله چې تا يو سړي ته يو څه ورکړل، بيا وګوره چې که هغه باندې ستا سلام اچول دروند تماميده؛ هغه ته سلام اچول پريږده.

نيکانو به چې کله له چا سره ښېګڼه وکړه نو هغه به يې هېره کړه، او کله به چې چا هغوی سره ښېګڼه وکړه نو هيڅکله به يې نه هېروله.

او ښه کارونه چې په هر ځای کې وي نه پټيږي

او نه هم د ښو کارونو څښتنان که هر چيرته وي

اې منان ذاته! موږ باندې احسان وکړه چې زموږ حالت او زموږ اولادونه اصلاح شي، او زموږه خاتمه پخير ولره.

94

## الجَوَادُ )سخي (ذات -جل جلاله-

که اړتیاوو محاصره کړي، او ستونزې دربانديې راشي، او اندېښنې مو را ګير کړي، پورونه ډېر شي، او روزي تنګه شي، نو پدې وخت کې سخي ذات، د غم او تکليف لرې کوونکی، او د مجبورانو غږ ته ځواب ورکوونکي ته وګرځه.

په ترمذي کې راغلي: چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- وفرمايل: «إِنَّ اللهَ جَوَادٌ يُحِبُّ الجُودَ» "الله سخي دی او سخاوت خوښوي". [صحيح حديث دی] شيخ السعدي -رحمه الله- فرمايلي: الجواد، پدې معنا: چې هغه –سبحانه و تعالی-، مطلق سخي دی، چې په ټولو موجوداتو باندې خپل سخاوت خپور کړي، او هغه يې په خپل فضل، سخاوت او ډول ډول نعمتونو سره ډک کړي دي. او په خپل سخاوت سره يې هغه کسان ځانګړي کړي دي چې له هغه څخه د ويلو په ژبه او يا د حالت په ژبه غوښتنه کوي؛ که هغه نيک کس وي يا بد، مسلمان وي يا کافر، څوك چې له الله څخه غوښتنه وکړي، هغه ته د هغه غوښتنه ورکوي، او هغه څه چې يې ترې غوښتی وي ورکوي يې؛ ځکه چې هغه -جل و علا- ډېر مهربان او رحم کوونکی دی.

﴿وَمَا بِكُم مِّن نِّعْمَةٍ فَمِنَ ٱللَّهِ ۖ ثُمَّ إِذَا مَسَّكُمُ ٱلضُّرُّ فَإِلَيْهِ تَجْـَٔرُونَ ۝٥٣﴾ [النحل: 53]

(او پر تاسو چې هر نعمت شوی دی، نو د الله له طرفه دی، بيا چې کله تاسو ته ضرر دروررسيږي، نو (بيا هم) خاص هغه ته زاري کوئ). [النحل سورت: ايت 53]".

په سخاوت او مهربانۍ کې زموږ له رب څخه څوک لوی دی؟!

مخلوق د هغه نافرماني کوي.. مګر هغه د هغوی په بسترونو کې داسې ساتنه کوي لکه چې هيڅ نافرماني يې نه وي کړې، داسې يې ساتي لکه چې هيڅ ګناه يې نه وي کړې.. خطاکارانو باندې فضل کوي، او ګناه کار ته مهلت ورکوي او پر توبه کوونکي باندې رحم کوي.

هغه د ټولو بندګانو څخه بډای دی؛ سره لدې هم هغوی باندې د نعمتونو، سخاوت، مهربانۍ، فضل، مهلت ورکولو له لارې مينه کوي.

او د الله –عزوجل- خزانې ډکې دي؛ په مصرف کولو باندې نه کمیږي، په صحیح روایت کې راغلي چې رسول الله -صلی الله علیه وسلم- وفرمایل: «يَدُ اللهِ مَلْأَى لاَ يَغِيضُهَا نَفَقَةٌ، سَحَّاءُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ، أَرَأَيْتُمْ مَا أَنْفَقَ مُنْذُ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ؟ فَإِنَّهُ لَمْ يَغِضْ مَا فِي يَدِهِ» «د الله تعالی لاس ډک دی، نفقه کول يې نه کموي، او هغه د شپې او ورځې لخوا ډېر انفاق کوي، ایا تاسو پوهیږئ چې هغه د اسمانونو او ځمکې له پیدا کولو راهیسې څومره مصرف کړی؟ نو هر هغه څه چې د هغه په لاس کې وو ندي کم شوي». [ بخاري روایت کړی - او دا د هغه قول دی - او مسلم روایت کړی].

(سحاء) : په دايمي توګه ورول.

او (الغيض): کمښت.

له بندګانو څخه هغه چا سره مینه کوي څوک چې ورته امید ولري، او له هغه څخه هیله او غوښتنه وکړي؛ تر څو هغوی باندې خپل فضل او نعمتونه ډیر کړي: حتا تر دې چې د هغه له فضل او مهربانۍ څخه پرې ولوريږي، او له هغه چا څخه ناراضه کیږي چې هغه څخه څه و نه غواړي، او په ترمذي کې راغلي دي چې هغه –صلی الله علیه وسلم- وفرمایل: «مَنْ لَمْ يَسْأَلِ اللهَ يَغْضَبْ عَلَيْهِ» "څوک چې له الله څخه و نه غواړي، هغه څخه ناراضه کیږي". [حسن حدیث دی]، په بل حدیث کې راغلي دي چې هغه –صلی الله علیه وسلم- وفرمایل : «لَيْسَ شَيْءٌ أَكْرَمُ عَلَى اللهِ مِنَ الدُّعَاءِ» "د الله په نزد له دعا څخه بل هیڅ شی د عزت وړ نه دی". [حسن حدیث دی. ترمذي روایت کړی].

هغه سخي دی، او د هغه سخاوت ټول کاينات يې ... په فضل او کرم سره را ګير کړی

او هغه سخي دی، او هغه یو سوالګر نه مایوسه کوي ... که څه هم هغه د کفارو له قوم څخه وي

مؤمن او ډاډمن بنده هغه دی: څوک چې د سخاوت صفت ولري، او د الله د فضل، مهربانۍ او سخاوت په لټه کې وي، او پوهيږي چې سخي او مهربان الله به د خپل له فضل، برکت او احسان څخه په پراخه کچه هغه باندې سخاوت وکړي،

﴿مَّن ذَا ٱلَّذِي يُقۡرِضُ ٱللَّهَ قَرۡضًا حَسَنًا فَيُضَٰعِفَهُۥ لَهُۥ وَلَهُۥٓ أَجۡرٞ كَرِيمٞ ١١﴾ [الحدید: 11]

(څوك دى هغه كس چې الله ته قرض وركړي، ډېر ښكلى قرض (حسن) نو چې هغه (الله) دغه (قرض) د ده لپاره دوه چنده كړي او د ده لپاره ډېر د عزت اجر دى). [الحديد سورت: ايت 11]،

﴿وَعۡدَ ٱللَّهِۖ لَا يُخۡلِفُ ٱللَّهُ وَعۡدَهُۥ ...﴾ [الروم: 6]

(وعده كول د الله، الله د خپلې وعدې مخالفت نه كوي). [الروم سورت: ايت 6]،

هغه الله ته د نږدې كيدو لپاره انفاق كوي.

او زمونږ پيغمبر -صلى الله عليه وسلم- د ټول مخلوق څخه سخي دى؛ هغه په ښو كارونو كې په خلكو كې تر ټولو ډير سخي و، او هغه د خوشې شوي اس څخه ډېر سخي و، او په رمضان كې تر هر وخت ډېر سخي و.

وفي «صحيح مسلم»: "ما سئل رسول الله -صلى الله عليه وسلم- على الإسلام شيئًا إلا أعطاه، قال: فجاءه رجل فأعطاه غنمًا بين جبلين، فرجع إلى قومه؛ فقال: يا قوم! أسلموا، فإن محمدًا يعطي عطاءً لا يخشى الفاقة!"، وما سئل شيئًا قط فقال: لا. په صحيح مسلم كې راغلي: "له رسول الله -صلى الله عليه وسلم- څخه به د اسلام لپاره څه نه غوښتل كيده مگر دا چې هغه به وركول، هغه وويل: يو سړى راغى او د دوو غرونو په منځ كې چې پسونه و هغه ته يې وركړل، هغه سړى خپل قوم ته لاړ او وې ويل: اي زما قومه، اسلام قبول كړئ، ځكه چې محمد داسې سخاوت كوي چې له فقر څخه نه ويرېږي!" او له ده څخه هيڅكله هم كوم څه نه ندي غوښتل شوي چې هغه ورته: نه ويلي وي.

كله چې ته ورشې هغه به خوشحاله ووينې ... لكه څنگه چې ته هغه ته هغه څه وركوې چې ته يې غوښتنه كوې

ويل شوي دي:

الجود ( سخاوت): هر عيب پوښوي.

په سخاوت سره ځان پټ كړه ځكه چې سخاوت هر عيب ... پټوي لكه څنگه چې ويل شوي

الجواد (سخاوت كوونكى): د خپل سخاوت په وجه په خلكو باندې مشري كوي.

که سختي نه وای، نو ټولو خلکو به سیادت او مشري کوله ... سخاوت فقر او
جګړه مرګ زیږوي

اې الله اې جواد ذاته! له خپلو برکتونو څخه موږ باندې مهرباني وکړه.

95

## الرَّفِـيقُ )نرم او مهربان (ذات -جل جلاله-

جاء في «الصحيحين»: دخل رهط من اليهود على رسول الله -صلى الله عليه وسلم- ؛ فقالوا: السام عليكم! قالت عائشة: ففهمتها؛ فقلت: وعليكم السام واللعنة!
په "صحيحينو" کې راغلي: د يهودو يوه ډله رسول الله -صلى الله عليه وسلم- ته راغلل؛ هغوی وويل: السام عليكم (پر تاسو دې مرګ وي)! عايشې وويل: زه د هغوی د خبرې په مفهوم پوه شوم؛ نو ما وويل: وعليكم السام (پر تاسو دې مرګ او لعنت وي)!

قالت: فقال رسول الله -صلى الله عليه وسلم- : «مَهْلًا يَا عَائِشَةُ! إِنَّ اللهَ يُحِبُّ الرِّفْقَ فِي الأَمْرِ كُلِّهُ»، فقلت: يا رسول الله! أولم تسمع ما قالوا؟ هغې وويل: رسول الله -صلى الله عليه وسلم- وفرمايل: حوصله وکړه اې عايشې! الله په ټولو چارو کې نرمي خوښوي». ما وويل: يا رسول الله! ايا تا وا نه وريدل چې هغوی څه وويل؟

قال رسول الله -صلى الله عليه وسلم- : «قَدْ قُلْتُ: وَعَلَيْكُمْ» رسول الله -صلى الله عليه وسلم- وفرمايل: «ما وويل: او پر تاسو هم». [دا د بخاري لفظ دی].

د جرم کولو پر وړاندې بخښنه کوي حتا تر دې چې
هغه د بخښنې له امله هیڅوک مجرم نه ګڼي

زموږ پیغمبر ته د دې سترو اخلاقو ورکوونکی: الله –سبحانه و تعالی - دی؛ هغه ذات چې غمونه پورته کوي، ناروغ ته شفا ورکوي، مصيبت لرې کوي، غير حاضر بيرته راګرځوي، بندي خوشې کوي، او مات شوي ته قوت ورکوي.

په صحيح ډول روايت دی چې هغه -صلى الله عليه وسلم- وفرمايل: «إِنَّ اللهَ رَفِيقٌ يُحِبُّ الرِّفْقَ» "الله مهربان دی او مهرباني خوښوي". [بخاري او مسلم روايت کړی].

زموږ رب - عزوجل - په خپل تقدير، قضا او په خپلو عملونو کې مهربان دی.

زموږ رب – عزوجل – په خپلو اوامرو، احکامو، دين او شريعت کې مهربان دی.

او د هغه نرمي په عمل کې: دا چې هغه – تبارک و تعالی - ټول مخلوقات په تدريجي ډول، يو بل پسې پيدا کړي؛ د هغه د حکمت او مهربانۍ له مخې، که څه هم هغه کولی شول چې دا ټول په يوځل او يوه شيبه کې رامنځته کړي.

او زموږ رب - عزوجل - په خپل شريعت کې مهربان دی: په خپلو اوامرو او منع کولو کې؛ نو له خپلو بندګانو هغه څه نه غواړي چې دوی يې نشي برداشت کولی، او له خپلو بندګانو څخه د سختو مکلفيتونو غوښتنه نه کوي، بلکې هغوی باندې د مهربانۍ او رحمت لمخې د ځينو کارونو په نه کولو سره اجازه ورکوي؛ او له خپلو بندګانو څخه ټول مکلفيتونه په يو وخت کې نه غواړي، بلکې له يو حالت څخه يې بل حالت ته انتقال کړي؛ تر څو روحونه ورسره عادت شي او مزاجونه نرم شي.

او د هغه – تبارک و تعالی- له مهربانۍ څخه: د هغه چا لپاره مهلت ورکول دي چې ګناه يې کړي وي، او هغه –عزوجل- په عذاب ورکولو باندې بيړه نکوي، ترڅو الله ته رجوع وکړي او بيرته راستون شي.

او د هغه – سبحانه و تعالی- له نرمۍ څخه: هغه د خير ټول اسباب اسانوي، او هغه ددې ټولو شيانو احسان کوونکی دی، او تر ټولو لوی آسان شوی ځيز: د هغه د کتاب د حفظ او فهم آسانتيا ده،

﴿وَلَقَدۡ يَسَّرۡنَا ٱلۡقُرۡءَانَ لِلذِّكۡرِ فَهَلۡ مِن مُّدَّكِرٖ ١٧﴾ [القمر: 17]

(او يقينًا يقينًا موږ دا قرآن (د يادولو او پند اخيستلو لپاره) اسان کړی دی، نو ايا څوك پند اخيستونکی شته؟). [القمر سورت: ايت 17].

او هغه مهربان دی او د مهربانو خلکو سره مينه کوي بلکې

د مهربانۍ لمخې هغوی ته د هيلو څخه ډير ورکوي

مهربان خلک:

او څوک چې پوه شي چې الله ډېر رحم کوونکی دی، له الله سره يې مينه زياتېږي، په تعظيم، ثنا او شکر کولو کې يې زياتوالی راځي، او الله خپل نومونه خوښوي او هغه کسانو سره چې پدې نومونو باندې ياد شوي وي مينه کوي -پرته له هغه نومونو چې خپلو بنده ګانو ته يې نه غواړي-، نو الله رحيم دی او له رحم کوونکو سره مينه لري، سخي دی له سخاوت کوونکو سره مينه لري، مهربان دی او له مهربانو سره مينه لري.

او دې اخلاقو لپاره ترټولو حقدار: پيغمبران دي، او د دوی په سر کې: محمد -صلى الله عليه وسلم– دی، او د هغه –صلى الله عليه وسلم- ژوند د خلکو سره د مهربانۍ څخه ډک وو، هغه د خپل ځان په اړه هيڅکله په غوسه شوی نه و، نه يې خپله سينه د دوی د انساني ضعف له امله تنګه شوې وه، او نه يې د دې دنيا له توکو څخه د ځان لپاره څه ساتلي وو، بلکې ټول هغه څه چې د هغه په لاس کې وو په ډېرې مهربانۍ سره يې هغوی ته ورکړل، او خپل سخاوت، نرمي، نيکي، شفقت، مينه او مهرباني يې هغوی باندې پراخه کړې وه، او داسې کوم کس نه و چې هغه سره يې ناسته کړې وي مګر دا چې رسول الله –صلى الله عليه وسلم- د هغه زړه له مينې څخه ډک کړی نه وي؛ د هغه د نرمۍ او مهربانۍ لمخې.

يو اعرابي (بانډه چي) د جومات په څنګ کې ميتيازې کوي؛ نو د رسول الله -صلى الله عليه وسلم- صحابه ودرېدل او ويې ويل: مه کوه مه کوه! رسول الله -صلى الله عليه وسلم- هغوی ته وفرمايل: «لَا تُزْرِمُوهُ، دَعُوهُ!». "هغه باندې ميتيازې مه بندوئ، هغه پرېږدئ!". کله چې هغه له ميتيازې کولو څخه فارغ شو؛ رسول الله -صلى الله عليه وسلم- را وغوښته؛ او ورته يې وفرمايل: «إِنَّ هَذِهِ المَسَاجِدَ لَا تَصْلُحُ لِشَيْءٍ مِنْ هَذَا البَوْلِ، وَلَا القَذَرِ، إِنَّمَا هِيَ لِذِكْرِ اللهِ -عز وجل- ، وَالصَّلَاةِ وَقِرَاءَةِ القُرْآنِ» "دا جوماتونه د دې ميتيازو او کثافاتو لپاره مناسب نه دي، بلکې د الله –عزوجل- د ذکر، لمونځ او د قرآن تلاوت لپاره دي". [مسلم روايت کړی]. او الله مهربان دی او مهربان خلک خوښوي، له هغه -صلى الله عليه وسلم- څخه روايت شوی دی چې فرمايلي دي: «إِنَّ اللهَ رَفِيقٌ يُحِبُّ الرِّفْقَ، وَيُعْطِي عَلَيْهِ مَا لَا يُعْطِي عَلَى العُنْفِ» "الله مهربان (نرم) دی او مهرباني (نرمي) خوښوي، او په مهربانۍ (نرمۍ) سره هغه څه ورکوي چې په سختۍ سره يې نه ورکوي". [مسلم روايت کړی].

له پیغمبرانو وروسته په دې برخه کې تر ټولو زیات مستحق: پاچاهان او چارواکي او هغه کسان دي چې د الله خوا ته دعوت کوونکي او عالمان دي، همدارنګه پلرونه هم پدې ډله کې راځي، ځکه چې خلک کافي اندیښنې لري، او دوی داسې یو چا ته اړتیا لري چې له هغوی څخه دغه اندیښنې کمې کړي نه دا چې هغوی ته سپکاوی وکړي، د هغوی لوی او پراخې پاملرنې، خوشحاله ځیرې، او هغې مینې ته اړتیا لري چې هغوی احاطه کړي..

خلک مهربانۍ ته ډېره اړتیا لري نسبت دې ته چې هغوی ته په شدت (سختۍ) سره ورکړه ورکړل شي، او هغه خلک چې د مهربانۍ ډېر مستحق دي: خپل ځان، بیا ستاسو مور او پلار، میرمن، ماشومان، رعیت ( لاس لاندې کسان)، او هغه کسان چې تاسو سره کار کوي او ستاسو ملګري دي.

په دې کې ستا برخه..

وصح عنه -صلى الله عليه وسلم- أنه قال: «إِنَّهُ مَنْ أُعْطِيَ حَظُّهُ مِنَ الرِّفْقِ؛ فَقَدْ أُعْطِيَ حَظُّهُ مِنْ خَيْرِ الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ، وَصِلَةُ الرَّحِمِ وَحُسْنُ الخُلُقِ وَحُسْنُ الجِوَارِ يَعْمُرَانِ الدِّيَارَ، وَيَزِيدَانِ فِي الأَعْمَارِ» او له هغه –صلى الله عليه وسلم- څخه په صحیح ډول روایت شوي دي چې فرمايي: "هغه چا ته چې له مهربانۍ څخه برخه ورکړل شوي وي؛ هغه ته د دنیا او آخرت د غوره او ښو برخو څخه برخه ورکړل شوې، او خپلولي، ښه اخلاق او ښه ګاونډیتوب کورونه ابادوي، او د خلکو عمرونه زیاتوي». [صحیح حدیث دی. احمد په مسند کې روایت کړی دی]. او په صحیح ډول روایت شوي دي چې هغه -صلى الله عليه وسلم- وفرمايل: «إِذَا أَرَادَ اللهُ -عز وجل- بِأَهْلِ بَيْتٍ خَيْرًا: أَدْخَلَ عَلَيْهِمُ الرِّفْقَ» "هر کله چې الله – عزوجل- د یوې کورنۍ د خلکو لپاره خیر وغواړي، هغوی ته مهرباني په برخه کوي". [صحیح حدیث دی. احمد په مسند کې روایت کړی دی]. او هغه -صلى الله عليه وسلم- وفرمایل: «إِنَّ الرِّفْقَ لَا يَكُوْنُ فِي شَيْءٍ إِلَّا زَانَهُ، وَلَا يُنْزَعُ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا شَانَهُ» "مهرباني (نرمي) په هیڅ شي کې نه موندل کیږي مګر دا چې هغه ښکلی کوي، او له هیڅ شي څخه نه لرې کیږي مګر دا چې هغه عیبجن (بد رنګه) کوي". [مسلم روایت کړی]. نو له همدې امله؛ د خلکو په نیز تر ټولو څخه ډېر نفرت شوی کس: سخت او بې رحم دی؛ الله – عزوجل- وفرمایل:

﴿.. وَلَوْ كُنتَ فَظًّا غَلِيظَ ٱلْقَلْبِ لَٱنفَضُّواْ مِنْ حَوْلِكَ ...﴾ [آل عمران: 159]

(او که چېرې ته بدخويه، سخت زړی وَی (،نو) خامخا دوی به ستا خوا او شانه خواره شوي وو). [آل عمران سورت: ايت 159]

، او هغه -صلی الله علیه وسلم- وفرمايل: «مَنْ حُرِمَ الرِّفْقَ حُرِمَ الخَيْرَ» أو «مَنْ يُحْرَمِ الرِّفْقَ يُحْرَمِ الخَيْرَ» "هغه څوک چې له مهربانۍ څخه بې برخې شو له نيکۍ څخه محروم شو" يا "هغه څوک چې د مهربانۍ څخه محروم شو د خير څخه محروم شو". [مسلم روايت کړی].

اې الله! موږ ستا په الرفيق نوم باندې ستا څخه غوښتنه کوو: چې موږ سره مهرباني او نرمي وکړې، او موږ ته د خير ټولې اسانتياوې برابرې کړې.

96

## السَّـيِّدُ )څښتن او سردار (ذات -جل جلاله-

په سنن ابي داود کې له عبدالله بن الشخير -رضي الله عنه- څخه روايت دی چې وايي: زه د بني عامر له پلاوي سره رسول الله -صلی الله علیه وسلم- ته راغلم: موږ وويل : ته زموږ بادار او سردار يې، هغه وفرمايل: «السَّيِّدُ اللهُ -تبارك وتعالى- »، سردار او څښتن الله – تبارک و تعالی- دی.

موږ وويل: په نيکيو او مقام کې زموږ تر ټولو نيک او لوړ يې، هغه وفرمايل: «قُوْلُوْا بِقَوْلِكُمْ، أَوْ بَعْضِ قَوْلِكُمْ، وَلَا يَسْتَجْرِيَنَّكُمُ الشَّيْطَانُ» "په هماغه الفاظو چې تاسو خبرې کوئ، پرته له مبالغې څخه خبرې وکړئ، او شيطان دې تاسو ته دوکه درنکړي". [صحيح حديث دی].

" يَسْتَجْرِيَنَّكُمُ " يعني: شيطان تاسو باندې غالب نشي.

او په لغت کې: السيد: هغه څوک دی چې په مهربانۍ، مال، لوړتيا او ګټې کې له نورو څخه لوړ وي، او مال په خپلو حقونو کې ورکوي.

او سردار هغه چا ته ويل کيږي: چې هغه باندې د هغه غضب او غوسه غالبه نشي، او سخي، پاچا او رئيس باندې اطلاقيږي.

د بنده سردار: د هغه بادار او مولا دی، او د ښځې سردار: د هغې ميړه دی، الله – سبحانه وتعالی- فرمايي:

﴿... وَأَلْفَيَا سَيِّدَهَا لَدَا ٱلْبَابِۚ ...﴾ [يوسف: 25]

(د هغې له خاوند سره دروازې ته نژدې مخامخ شول). [يوسف سورت: ايت 25].

او السؤدد: يعني عزت، او د هر څه څښتن: تر ټولو عزتمند او لوړ ته وايي.

پرته د الله – عزوجل- څخه څوک دی چې د هغه عزت بشپړ وي؟!

د بادار او سردار د نوم تر سیوري لاندې:

زموږ رب – سبحانه و تعالی - سردار دی؛ هغه ځوک چې په خپل عظمت کې عظمت ته رسیدلی، او هغه عزتمند ذات چې په خپل شرافت کې بشپړ دی، او هغه مهربان ذات چې په خپلې مهربانۍ کې بشپړ دی، او هغه بډای ذات چې په خپل بډاینه کې بشپړ دی، او هغه غالب ذات چې په خپله غلبه کې بشپړ دی، او هغه عالم چې په خپل علم کې بشپړ شوی دی، او هغه حکیم چې په خپل حکمت کې بشپړ شوی دی.

نو الله –سبحانه و تعالی- سردار دی چې هر ډول عزت او مهربانۍ ورباندې پوره ده.

دا د هغه –سبحانه و تعالی- صفتونه دي چې هیڅوک ورسره شریک نه دي، او په هغه کې هیڅ مخلوق ورسره شخړه نشي کولی.

او هغه معبود، سردار او بې نیاز دی

چې ټول مخلوق ورته د تسلیمېدو اعلان وکړ

له ټولو خواوو څخه په صفتونو کې بشپړ دی

د هغه په بشپړتیا کې هیڅ نیمګړتیا نشته

ټول مخلوق د هغه –تبارک و تعالی- بنده ګان دي، او ټول هغه ته محتاج دي؛ ملائکې، انسانان او پیریان، هیڅوک له هغه څخه بې نیازه ندي؛ هغوی ټول د هغه سخاوت، مهربانۍ او پالنې ته اړمن دي، نو د هغه –جل جلاله- حق دی چې باید سردار اوسي، او هغوی باندې لازم دي چې ترڅو هغه په دې نوم سره یاد کړي.

زموږ رب – سبحانه و تعالی - د کائناتو مالک دی. د هغه لپاره هیڅ نظیر او مانند نشته.

او هغه – تبارک و تعالی – سردار چې هر دول اطاعت، خشوع او عاجزي خاص هغه لره وشي، او هغه لره هیڅ شریک نشته.

هغه سردار او معبود دی چې هیڅ شریک نلري:

﴿قُلْ أَغَيْرَ ٱللَّهِ أَبْغِى رَبًّا وَهُوَ رَبُّ كُلِّ شَىْءٍ ...﴾ [الأنعام: 164]

(ته ووایه: ایا زه له الله نه غیر (بل) رب ولټوم، حال دا چې هغه د هر شي رب دی). [الأنعام سورت: ایت 164].

ابن عباس – رضي الله عنهما – وویل: إلهًا، د سردار په معنا دی.

غلط فکر!

یو کس ته شاید مال، اولادونه او مقام ورکړل شي، یا د لوړ او با عزت مقام او وظیفې، پراخه یا ځواکمنې رهبرۍ خاوند شي، او شاید ډیر خادمان د هغه په خدمت کې وي، او ډیر ساتونکي هم ولري، او د لښکرو لخوا د هغه ساتنه وشي، خلک د هغه تابع وي، سرونه ورته ذلیله او عاجز وي، او خلک د هغه پورورې وي؛ او ددې دنیا ډیرې هوساینې (شرف) په غټه پیمانې سره ورته رسیدلي وي؛ مګر هغه یو لنډ مهاله او نیمګړې هوساینه (شرف) ده.

په خوب کې امیدونو هغوی په دوکه کړل

دا امیدونه او تعبیرونه خومره درواغ دي!

څوک چې ایمان ولري چې الله: ریښتینی مالک دی؛ د هغه زړه یوازې له هغه – تبارک و تعالی- سره تړلی دی؛ د ویرې، امید، مرستې، او د توکل تړل والی؛ ځکه چې هغه د بندګانو په چارو کې تصرف کوونکی دی، او هیڅ داسې ژوندی څیز نشته مګر دا چې د هغې اختیار له هغه سره دی، او ټول بندګان ورته اړمن او فقیر دي؛

﴿۞ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ أَنتُمُ ٱلْفُقَرَآءُ إِلَى ٱللَّهِ ۖ وَٱللَّهُ هُوَ ٱلْغَنِىُّ ٱلْحَمِيدُ ۝١٥﴾ [فاطر: 15]

(اې خلقو! هم تاسو الله ته محتاجان یئ، او الله، هم دی ښه بې پروا، ښه ستایل شوی دی). [فاطر سورت: ایت 15]،

عاجزي او تسلیمېدل یوازې باید الله -سردار او قهار ذات– ته وشي.

اي ښاغلو!

د خلکو په نيز د شرف ستنې: کرامت، عزت، لوړوالی، او په لوړه يادونه، او دا ځيزونه يوازې د الله -عزوجل- په اطاعت سره شوني دي؛ له همدې امله پيغمبرانو او اولياو شرافت ترلاسه کړ، او هغوی د خلکو په منځ کې ځرګند او ښکاره ول.

او هغه څوک چې له الله څخه مخ واړوي او په هغه کفر وکړي؛ هغه هيڅ عزت او مشري نلري، او که دوی د دنيا واکمني ولري، هغه غير حقيقي او لنډمهاله ده.

نو لدې امله؛ منافق ته بادار ويل منع دي، ابو داود څخه روايت دی چې هغه –صلى الله عليه وسلم- وفرمايل: «لَا تَقُوْلُوْا لِلْمُنَافِقِ: سَيِّدٌ، فَإِنَّهُ إِنْ يَكُ سَيِّدًا فَقَدْ أَسْخَطْتُمْ رَبَّكُمْ -عز وجل- » "منافق ته: سردار (بادار) مه وايئ، ځکه چې که هغه سردار (بادار) وي، نو خپل رب –عزوجل- مو په غوسه کړی دی". [صحيح حديث دی]

د سردار حمايت:

مخلوق لپاره د سيد (سردار) کلمې استعمالول روا دي؛ د الله –عزوجل- په وينا د يحيی -عليه السلام- په اړه:

او د شفاعت په حديث کې راغلي دي: «أَنَا سَيِّدُ وَلَدِ آدَمَ يوم القِيَامة وَلَا فَخْرَ» "زه به د قيامت په ورځ د بني ادم سردار يم پرته له غرور او فخر څخه". [مسلم روايت کړی]، او د هغه –صلى الله عليه وسلم- وينا د سعد بن معاذ -رضي الله عنه- په اړه: "خپل سردار ته پاڅيږئ". [بخاري روايت کړی]. او ددې دوو روايتونو او د «السَّيِّدُ اللهُ» «الله سردار دی» روايت ترمنځ تعارض نشته. [صحيح حديث دی. ابو داود روايت کړی]؛ ځکه چې د مؤمنانو په نيز د مخلوق له سردار څخه منظور: رياست او امامت دی.

او عرب وايي: فلان زموږ بادار (سردار) دی؛ يعني دا زموږ رييس او مشر دی، چې موږ يې درناوی کوو.

ليکن په سردار سره د الله - عزوجل – يادول پدې معنا دي: چې هغه د مخلوق مالک دی، او ټول مخلوق د هغه بندګان دي.

او د رسول الله -صلی الله علیه وسلم- منعه کول کله چې ورته وویل شول: ته زموږ بادار او سردار یې، هغه وفرمایل: «السَّيِّدُ اللهُ، قُولُوا بِقَوْلِكُمْ، أَوْ بَعْضِ قَوْلِكُمْ، وَلَا يَسْتَجْرِيَنَّكُمُ الشَّيْطَان» «سردار او څښتن الله –تبارک و تعالی- دی، په هماغه الفاظو چې تاسو خبرې کوئ، پرته له مبالغې څخه خبرې وکړئ، او شیطان دې تاسو ته دوکه درنکړي». [صحیح حدیث دی. ابوداود روایت کړی] په دې کې: د رسول الله -صلی الله علیه وسلم- د توحید څخه حمایت، او د هغه د عزت ساتنه او حمایت، او د شرک د لارو بندول دي. او هغه –صلی الله علیه وسلم- بده ګڼله چې د هغه وړاندې د هغه ستاینه وشي، که څه هم دوی له حقیقت پرته بل څه ندي ویلي، ځکه هغه په خپله دا خبره وکړه چې: «أَنَا سَيِّدُ وَلَدِ آدَمَ» "زه د آدم د اولادې سردار یم". [مسلم روایت کړی]، او د دې وېرې څخه چې د هغوی زړونه به له مخلوق سره یو ډول تعلق پیدا کړي او د هغوی لپاره به ځانونه خوار او ذلیل کړي؛ کوم چې دا کار باید یوازې او یوازې د قهار الله لپاره ځانګړی شي.

اې، مونږ ستا د السید (سردار) په نوم غوښتنه کوو! ترڅو زموږ یاد لوړ کړې، او زمونږ بار او ګناه لرې کړې؛ ځکه ته په ټولو شیانو باندې قدرت لرې.

97

## بَـدِيعُ السَّـمَـاوَاتِ وَالأَرْضِ )د اسمانونو او ځمکې نوښتګر (ذات - جل جلاله-

"زه په قران کریم کې د حقیقت په موندلو کې ډېر متاثر او حیران یم!

دغه سپېڅلی قرآن کائنات د وجود له لوړ ځای څخه بیانوي.

لکه څنګه چې مونږ ولیدل؛ دا د انساني سرچینې څخه ترلاسه کیدی نشي، -وروسته لدې چې ما قرآن کریم ولوست- زه خپل راتلونکي باندې پوه شوم، زه به د دې جامع نظر په رڼا کې خپلې څېړنې پلان کړم". [پروفیسر: یوشیدي کوزان].

دا طبیعت ده لږ تم شه اې د شپې تلونکیه ... ترڅو تاته د نوښتګر د ښکلی مهارت نمونې وښیم ... کومه ځمکه او اسمانونه چې ستا شاوخوا ولړزیدلې ... د زیاتو ښکلو نښو او معجزو په شتون سره

دا ټول د پاچاهانو پاچاه باندې دلالت کوي چې ... د فقهاوو او علماوو لپاره يې دليل پرينښود ... ترڅو هغه باندې شک وکړي. او د هغه چا لپاره چې شک پکې کوي ... نو دغه نښې او معجزې هغه ګناه لروونکی شک او انکار له منځه وړي

او که یو انسان د اسمانونو او ځمکې په پیدایښت کې فکر وکړي، نو نوښتګر الله لپاره به داسې دلیل راوړي، څرنګه چې هغه –سبحانه و تعالی- د خپل ځان په اړه فرمايي:

﴿بَدِيعُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ وَإِذَا قَضَىٰٓ أَمۡرٗا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ١١٧﴾ [البقرة: 117]

(يې له نمونې پيدا کوونکی د اسمانونو او ځمکې دی، او کله چې د کوم کار فيصله وکړي، نو همدا خبره ده چې هغه ته ووايي: ''وشه'' نو هغه وشي). [البقرة سورت: ايت 117].

ابن کثیر -رحمه الله- فرمایلي دي: د اسمانونو او ځمکې نوښتګر، د هغو خالق، د هغو جوړوونکی او د هغو پیدا کوونکی، پرته له کوم مخکینۍ نمونې څخه.

شیخ السعدي -رحمه الله- فرمايي: «

﴿بَدِيعُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ ...﴾ [البقرة: 117]

يدې معنا چې: د هغو خالق او نوښتګر په خورا ښه پیدایښت، نوښت او ځواکمن نظم سره پیدا کړي دي».[البقرة: 117]

## د عقل څښتنانو ته غږ!

او که داسې وي؛ دا څنګه امکان لري چې هغه لره د هغو څخه څه شی منسوب شي ګویا چې هغه لپاره اولاد دی -اوچت دی الله تعالی د دې نه ډیر اوچت!- بلکې هغه څه چې په دې ځمکه کې دي د الله تعالی پیداېښت او نوښت دی، او دا ټول الله تعالی ته غاړه کېښودونکي او بندګي کوونکي دي، نو الله تعالی فرمایلي:

﴿وَقَالُواْ ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ وَلَدٗاۗ سُبۡحَٰنَهُۥۖ بَل لَّهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ كُلّٞ لَّهُۥ قَٰنِتُونَ١١٦ بَدِيعُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ وَإِذَا قَضَىٰٓ أَمۡرٗا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ١١٧﴾ [البقرة: 116-117]

(او هغوی وویل: الله (د ځان لپاره) اولاد نیولی دی، (داسې نه ده) هغه (له دې خبرو نه) پاك دی، بلکې څه چې په اسمانونو او ځمکه کې دي، هغه (ټول) خاص د هغه لپاره دي، ټول د هغه حکم منونکي دي. (بې له نمونې پیدا کوونکی د اسمانونو او ځمکې دی، او کله چې د کوم کار فیصله وکړي، نو همدا خبره ده چې هغه ته ووایي: ’’وشه‘‘ نو هغه وشي). [البقرة سورت: ایتونه 116-117].

او که دا ثابته شي چې: ټول هغه څه چې په اسمانونو او ځمکه کې دي د هغه پیدا کولو او نوښت څخه دي؛ دا ثابته شوه چې: دا ټول د هغه په بندګانو او ملکونو کې شامل دي، نو د هغه لپاره دا ناشونې ده چې هغه زوی ولري.

او که داسې وي؛ دا د انسانانو لپاره لازمه ده چې: د هغه امر ومني او له هغه څه چې هغه منع کړي مخ وګرځوي؛ او دا خو لرې خبره ده چې هغه لره زوی او میرمن منسوب کړي!

بیا الله – سبحانه و تعالی- مونږ ته امر وکړ: چې په کایناتو او د هغه په ښایسته مخلوق کې فکر وکړو، الله – جل وعلا- وفرمایل:

﴿إِنَّ فِي خَلۡقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَٱخۡتِلَٰفِ ٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ لَأٓيَٰتٖ لِّأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِ١٩٠﴾ [آل عمران: 190]

(بېشکه د اسمانونو او ځمکې په پیدا کولو کې او د شپې او ورځې په تلو راتلو کې خامخا د خالص عقل خاوندانو لپاره ډېرې نښې دي). [آل عمران سورت: ایت 190]

، په ټولو کایناتو کې د ایمان لپاره دلایل شته، چې د هغه اوریدونکي او لیدونکي پیدا کوونکي ذات ته اشاره کوي.

د کایناتو کرښو ته پام وکړه چې په هغې کې ... د لوړ مقام لرونکو ملایکو لخوا تا ته پیغامونه دي ... او ستا لپاره هغې کې لیکل شوي دي که چیرته ته د هغې لیکلو ته پام وکړې ... حقیقت دا دی چې پرته له الله څخه نور ټول شیان باطل دي

هغوی د الله په فضل او احسان باندې ګواهان دي ... فصیحه او خاموشه ژبه ده څرنګه چې هغه ویلې دي

## په کايناتو کې فکر وکړه!

بلال -رضی الله عنه - رسول الله -صلی الله علیه وسلم- ته داخل شو – ترڅو د سهار لمانځه لپاره ورباندې غږ وکړي- ګوري چې رسول الله -صلی الله علیه وسلم- پروت و او ژړل يې؛ وېې ويل: يا رسول الله! څه شی تاسو ژړوي په داسې حال کې چې الله ستاسو مخکيني او راتلونکي ګناهونه معاف کړي؟

هغه ورته وفرمايل: «وَيْحَكَ يَا بِلَالُ! وَمَا يَمْنَعُنِي أَنْ أَبْكِي وَقَدْ أَنْزَلَ اللهُ عَلَيَّ فِي هَذِهِ اللَّيْلَةِ: «افسوس پر تا اې بلاله! او څه شی ما له ژړا نه منع کوي د هغه شي په اړه چې نن شپه الله پر ما باندې نازل کړی دی:

﴿إِنَّ فِي خَلْقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱخْتِلَٰفِ ٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ لَءَايَٰتٍ لِّأُو۟لِى ٱلْأَلْبَٰبِ﴿١٩٠﴾﴾ [آل عمران: 190]

(ببشکه د اسمانونو او ځمکې په پيدا کولو کې او د شپې او ورځې په تلو راتلو کې خامخا د خالص عقل خاوندانو لپاره ډېرې نښې دي). [آل عمران سورت: ايت 190]

»؛ او د سورت تر پايه يې تلاوت کړ. بيا يې وفرمايل: «وَيْلٌ لِمَنْ قَرَأَهَا وَلَمْ يَتَفَكَّرْ فِيهَا!» افسوس د هغه چا لپاره چې دا ولولي او فکر پرې و نکړي! [صحيح حديث دی. ابن حبان روايت کړی]. اسمانونه او هر هغه څه چې هغې کې دي، ستوري او سيارې، لمر او د سپوږمۍ تماشا کول، او د ځمکې تماشا کول او هغه څه چې په دې کې دي، غرونه، نهرونه، سيندونه، حيوانات، نباتات، بې جانه شيان، ژوندي او مړه شيان ... د آسمانونو او ځمکې د ښکلا او نوښت څرګندونه کوي،

﴿تَبَارَكَ ٱلَّذِى جَعَلَ فِى ٱلسَّمَآءِ بُرُوجًا وَجَعَلَ فِيهَا سِرَٰجًا وَقَمَرًا مُّنِيرًا﴿٦١﴾ وَهُوَ ٱلَّذِى جَعَلَ ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ خِلْفَةً لِّمَنْ أَرَادَ أَن يَذَّكَّرَ أَوْ أَرَادَ شُكُورًا﴿٦٢﴾﴾ [الفرقان: 61-62]

(ډېر برکتناک دی هغه ذات چې په اسمان کې يې برجونه پيدا کړي دي او په ده کې يې چراغ (لمر) او رڼا کوونکې سپوږمۍ پيدا کړې ده. او دی هماغه ذات دی چې شپه او ورځ يې يو له بل پسې راتلونکې پيدا کړې دي، د هغه چا لپاره چې اراده لري چې نصيحت واخلي يا غواړي چې شکر وباسي). [الفرقان سورت: ايتونه 61-62]

. د اسلامي ځوانانو په کنفرانس کې؛ چې په (1979) میلادي کال کې په ریاض کې ترسره شو، کله چې امریکایي پروفیسور (پالمر) د الله - سبحانه و تعالی- دغه کلام واوریده، نو پاخېده:

﴿أَوَلَمۡ يَرَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَنَّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ كَانَتَا رَتۡقٗا فَفَتَقۡنَٰهُمَاۖ ...﴾ [الأنبياء: 30]

(ایا هغه کسان چې کافران شوي دي په دې نه دي خبر شوي چې یقینًا یقینًا اسمانونه او ځمکه دواړه سره نښتي وو، بیا مونږ دواړه بېل کړل). [الأنبياء سورت: ایت 30]،

او وېي ویل: په حقیقت کې کاینات په پیل کې د لوګي، ګازي، او نښلول شوي لوېي وربېځې څخه جوړ و، بیا په تدریج سره په ملیونونو ملیونونو ستورو باندې بدل شو چې اسمان یې ډک کړ، او دا په هیڅ ډول ممکنه نه ده چې دغه خبره داسې کس ته منسوب شي چې (۱۴۰۰ کاله) پخوا مړ شوی وي، په داسې حال کې چې هغه سره تلسکوپونه او فضایي بېړۍ شتون نه درلود چې د دې حقایقو په موندلو کې ورسره مرسته کړې وي، نو هغه څوک چې محمد ته یې خبر ورکړی دی هغه: الله دی، او پروفیسور (پالمر) د کنفرانس په پای کې خپل اسلام اعلان کړ. په (۱۴۰۴ هـ ق) کال په ریاض کې د سعودي په اتم طبي کانفرانس کې د تایلنډ د مای پوهنتون د اناتومي او جنین د څانګې مشر پروفیسور ټاګت تاجسون وویل: «او لکه څرنګه چې پیغمبر – صلى الله علیه وسلم - لوستل او لیکل یې نشو کولی؛ نو دا باید محمد - صلى الله علیه وسلم – هغه پیغمبر وي چې دغه حقیقت یې راوړې وي، دا هغه ته د خالق له خوا د وحي په واسطه لیږل شوی و چې په هر څه پوه دی؛ او دا خالق باید الله وي.

له همدې امله؛ زه فکر کوم چې د هغه څه وخت را رسیدلی چې باید ووایم (أشهد أن لا إله إلا الله، وأن محمدًا رسول الله)، زه شاهدي ورکوم چې د الله پرته بل معبود نشته او دا چې محمد د الله رسول دی».

دارو )درمل.. (

او د الله – سبحانه و تعالی- د البديع نوم مقام ډېر لوی دی! که هر چا په دې نوم سره دعا وکړه الله به یې قبوله کړي.

ترمذي له انس -رضی الله عنه- څخه روایت کړی چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- مسجد ته ننوت چې ګوري يو سړي لمونځ ادا کړ او دعا کوي او په دعا کې يې ويل: اللهم! لا إله إلا أنت، المنان، بديع السماوات والأرض، يا ذا الجلال والإكرام! اې الله! له تا پرته بل معبود نشته، منت کوونکی، د اسمانونو او ځمکې پیدا کوونکی، اې د عظمت او عزت خاونده!

فقال النبي -صلى الله عليه وسلم- : نو رسول الله -صلى الله عليه وسلم- وفرمايل: «أَتَدْرُونَ بِمَ دَعَا اللهَ؟ دَعَا اللهَ بِاسْمِهِ الأَعْظَمِ، الَّذِي إِذَا دُعِيَ بِهِ أَجَابَ، وَإِذَا سُئِلَ بِهِ أَعْطَى» "ايا تاسو پوهیږئ چې الله ته یې په څه باندې بلنه ورکړه؟ هغه الله ته د هغه په لوی نوم سره بلنه ورکړه، که په هغه نوم دعا وکړای شي، هغه یې قبلوي، او که په هغه سره ترې څه وغوښتل شي، هغه څيز ورکوي». [صحيح حديث دی].

اې الله! موږ ته بخښنه وکړه او پر موږ رحم وکړه؛ اې له ټولو رحم کوونکيه!

اې د اسمانونو او ځمکې پیدا کوونکيه! موږ ته بخښنه وکړه، پر موږ رحم وکړه، او زموږ خطاګانې معاف کړه؛ بیشکه چې ته په هر څه توان لرې.

98

## المُعْطِـي )ورکوونکی (ذات -جل جلاله-

العطاء (ورکوونکی): د هغه د ډالیو له وجې څخه..

الكرم (عزتمند): د هغه له صفتونو څخه يو صفت دی ..

الجود: د هغه له سترو ځانګړنو څخه ده، نو د هغه څخه څوک ډير سخي، او مهربان او ورکوونکی دی؟!

او د الله –تبارک و تعالی- د ښکلو نومونو څخه: (المعطي) – تبارک و تعالی- دی.

په صحيح ډول روايت دی چې هغه -صلى الله عليه وسلم- وفرمايل: «مَنْ يُرِدِ اللهُ بِهِ خَيْرًا يُفَقِّهْهُ فِي الدِّينِ، وَإِنَّمَا أَنَا قَاسِمٌ، وَاللهُ يُعْطِي» "د چا لپاره چې الله خير وغواړي، هغه ته د دين

پوهه ورکوي، زه تقسیم کوونکی او واسطه یم، او الله ورکړې والا دی". [بخاري او مسلم روایت کړی].

زمونږ رب – تبارک و تعالی-: په حقیقي توګه ټولو مخلوقاتو ته ورکوونکی دی، هغه څه چې ورکړي یې دي د هغه منع کوونکی څوک نشته، او هغه څه چې منع کړي یې دي د هغه ورکوونکی څوک نشته.

د هغه – سبحانه و تعالی- ورکړه په ټولو موجوداتو کې شته، د هغه لپاره محدودیت نشته، او نه قیوداتو باندې مقید دی، او دا د مهربانۍ او سخاوت انتها ده.

او کله چې زمونږ رب ورکړي؛ نو د هغه مهرباني او سمونتیا ده، او که منع یې کړي د هغه د حکمت او مصلحت لمخې به وي.

هغه منع کوونکی او ورکوونکی دی او دا د هغه فضل او احسان دی ... ځکه چې د منان ذات منع کول پخپله عدل او انصاف دی

هغه په خپل رحمت سره ورکوي او هغه چا لره چې وغواړي منع کوي ... په حکمت سره، او الله د قدرت څښتن دی

او د الله ورکړه )ډالۍ (په دوه ډوله دي:

۱- عمومي ورکړه (ډالۍ): په دنیا کې.

او دغه ورکړه: د ټولو مخلوقاتو لپاره ده؛ که هغه مؤمنان وي او یا کافران، ځکه چې الله -سبحانه و تعالی- د هغوی لپاره دنیوي چارې سمې کړي، الله – عزوجل- فرمایي:

﴿كُلًّا نُّمِدُّ هَٰٓؤُلَآءِ وَهَٰٓؤُلَآءِ مِنۡ عَطَآءِ رَبِّكَۚ وَمَا كَانَ عَطَآءُ رَبِّكَ مَحۡظُورًا ٢٠﴾ [الإسراء: 20]

(له هر یو سره مونږ ستا د رب له ورکړې څخه مدد کوو، له دوی سره او له دغو سره، او ستا د رب عطا (ورکړه په دنیا کې) کله هم منع کړی شوې نه ده). [الإسراء سورت: ایت 20].

۲- خاصه ورکړه (ډالۍ): په دنیا او آخرت کې.

او دغه خاصه ورکړه (ډالۍ): د خپلو انبیاوو، او خپلو پیغمبرانو او خپلو صالحو بندګانو لپاره ده، نو هغوی ته په دې دنیا کې حلاله روزي، صالح اولاد، ایمان او تقوا، یقین او روښانه هدایت ورکوي، او دا په دنیا کې تر ټولو ستر نعمتونه دي، حاکم په

(المستدرک) کې روایت کړی، او ذهبي د هغه تصحیح کړې: د رسول الله- صلی الله علیه وسلم- روایت دی چې فرمايي: «إِنَّ اللهَ يُعْطِي الدُّنْيَا لِمَنْ يُحِبُّ وَمَنْ لَا يُحِبُّ، وَلَا يُعْطِي الدِّينَ إِلَّا مَنْ يُحِبُّ». "الله دنیا ورکوي هغه چا سره چې مینه لري او یا يې نلري، لیکن دین نه ورکوي پرته له هغه چا څخه چې هغه سره مینه لري". مګر په آخرت کې؛ او د هغه په لوړو جنتونو کې ترټولو له سترو ورکړو څخه ده؛ چې له هغه څخه بشپړ او لوی مقام والا نشته! هغه –سبحانه و تعالی- وفرمایل:

﴿جَزَآءٗ مِّن رَّبِّكَ عَطَآءً حِسَابٗا٣٦﴾ [النبأ: 36]

(د رب له جانبه به بدله ورکولی شي (د عملونو) په حساب سره ډېره ورکړه). [النباء سورت: ایت 36].

د ښکلا او جلال په کور کې ترټولو ستره ورکړه (ډالۍ): د رب العالمین رضایت، او د هغه عزتمند مخ ته کتل دي.

د ورکړې )ډالی (کلیدونه:

او زموږ رب سخي دی او له سخاوت کوونکو سره مینه لري، او هغه ورکوونکی دی او له ورکوونکو سره مینه لري، له همدې امله خلک د ورکړې د خاوندانو عزت کوي، له ابو داود څخه روایت دی چې رسول الله -صلی الله علیه وسلم- وفرمایل: «الأَيْدِي ثَلَاثَةٌ: فَيَدُ اللهِ العُلْيَا، وَيَدُ المُعْطِي الَّتِي تَلِيهَا، وَيَدُ السَّائِلِ السُّفْلَى، فَأَعْطِ الفَضْلَ، وَلَا تَعْجَزْ عَنْ نَفْسِكَ» «لاسونه درې دي: د الله لوړ لاس دی، د ورکونکي لاس چې له هغې څخه وروسته دی، او د سوالګر ټيټ لاس دی، د خپل ضرورت څخه اضافه مال انفاق (ورکړه) کړه، او پدې کار کې خپل نفس سره مجاهدت او مبارزه وکړه». [صحیح حدیث دی]. او د سخاوت څښتنانو لپاره به د پاچاهانو د پاچا له لوري لوی اجر وي؛

﴿... وَأَنفِقُواْ مِمَّا جَعَلَكُم مُّسۡتَخۡلَفِينَ فِيهِۖ فَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمۡ وَأَنفَقُواْ لَهُمۡ أَجۡرٞ كَبِيرٞ ٧﴾ [الحدید: 7]

(او له هغه (مال) څخه څه خرچ کړئ چې هغه (الله) تاسو په دغه (مال) کې (د نورو خلقو) ځای ناستي (خلیفه ګان) جوړ کړي يئ، نو هغه کسان چې له تاسو نه يې ایمان راوړی دی او انفاق يې کړی دی، د دوی لپاره ډېر لوی اجر دی). [الحدید سورت: ایت 7].

او هغه – سبحانه و تعالی - له خپل رسول - صلی الله علیه وسلم - سره وعده کړې ده چې هغه ته به تر هغه کچې ورکړي تر څو چې هغه راضي شي:

﴿وَلَسَوۡفَ يُعۡطِيكَ رَبُّكَ فَتَرۡضَىٰٓ٥﴾ [الضحی: 5]

(او خامخا ژر به تا ته ستا رب درکړي، نو ته به راضي (خوشحاله) شي). [الضحی سورت: ایت 5].

او له هغه څه څخه چې الله خپل رسول ته په آخرت کې ورکړي دي: نهر کوثر دی:

﴿إِنَّآ أَعۡطَيۡنَٰكَ ٱلۡكَوۡثَرَ١﴾ [الکوثر: 1]

(بېشکه مونږ تا ته کوثر درکړی دی). [الکوثر سورت: ایت 1]،

د هغه – صلی الله علیه وسلم- څخه روایت دی چې د کوثر په اړه يې وفرمايل: «نَهْرٌ وَعَدَنِيهِ رَبِّي -عز وجل- ، عَلَيْهِ خَيْرٌ كَثِيرٌ، هُوَ: حَوْضٌ تَرِدُ عَلَيْهِ أُمَّتِي يَوْمَ القِيَامَةِ، آنِيَتُهُ عَدَدُ النُّجُومِ» «داسې یو نهر دی چې زما رب - عزوجل - له ما سره وعده کړې ده، چې په هغې کې ډیرې ښېګڼې او خیر دی، او هغه داسې حوض دی: چې زما امت به د قیامت په ورځ هغې ته راستنیږي، او د هغې جامونه به د ستورو په شمیر وي». [مسلم روایت کړی].

او کله چې الله تا ته وګوري او پوه شي چې تا هغه خپل د اعتماد وړ او خپل پناه ځای ګرځولی، او هغه دې پرته له مخلوق څخه خپلو اړتیاوو ته ځانګړی کړی، هغه به تا ته د هغه څه څخه غوره درکړي چې تا يې غوښتنه کړېده، او تا باندې به ډیره مهرباني او سخاوت وکړي چې غوښتی دې وي.

پاک دی هغه ذات چې په فکرونو سره امیدونه ورکوي ... هغه امیدونه چې په نفس کې وي او په ژبې سره نه وي ویل شوي ... پاک دی هغه ذات چې د هغه د پوهې څخه هیڅ شی پټ ندی ... ځکه چې ټول رازونه د هغه لپاره ښکاره دي او رزق يې

پاکي دی هغه ذات لره چې اوس هم شتون لري ... د ټولو جهانیانو لپاره ضامن دی

اې الله! موږ ته راکړه او موږ مه بې برخې کوه، او په مونږ مهرباني وکړه او مونږ مه مایوسه کوه؛ اې د جهانونو ربه!

99

## المُحْسِنُ)احسان کوونکی (ذات  -جل جلاله-

په صحیح ډول روایت دی چې هغه -صلی الله علیه وسلم- وفرمایل: «إِذَا حَكَمْتُمْ فَاعْدِلُوْا، وَإِذَا قَتَلْتُمْ فَأَحْسِنُوْا، فَإِنَّ اللّهَ  -عز وجل-  مُحْسِنٌ يُحِبُّ الإِحْسَانَ» "کله چې تاسو قضاوت کوئ نو انصاف وکړئ، او کله چې تاسو ذبحه کوئ، نو احسان او نیکې وکړئ، ځکه چې الله - عزوجل – احسان کوونکی دی او احسان کوونکي خوښوي". [حسن حدیث دی. طبراني په المعجم الاوسط کې روایت کړی دی]. او په بل حدیث کې د شداد بن اوس -رضي الله عنه- څخه روایت دی چې رسول الله -صلی الله علیه وسلم- وفرمایل: «إِنَّ اللّهَ -عز وجل- مُحْسِنٌ يُحِبُّ الإِحْسَانَ...» "الله - عزوجل - احسان کوونکی دی او احسان کوونکي خوښوي ...". [صحیح حدیث دی. "الجامع الصغیر"]. زمونږ رب – عزوجل – په خپل ذات، صفاتو او اعمالو کې د کمال حد ته رسېدلی دی؛

﴿وَلِلَّهِ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰ فَٱدۡعُوهُ بِهَاۖ ...﴾ [الأعراف: 180]

(او خاص د الله لپاره تر ټولو ښکلي نومونه دي، نو تاسو الله په دغو (نومونو) سره بلئ). [الأعراف سورت: ایت 180]،

له هغه څخه نه ښوک غوره دی او نه بشپړ دی! او زموږ رب – عزوجل- هغه:

﴿ٱلَّذِيٓ أَحۡسَنَ كُلَّ شَيۡءٍ خَلَقَهُۥۖ ...﴾ [السجدة: 7]

(هغه (الله) چې ښایسته کړی یې دی هر شی چې ده هغه پیدا کړی دی). [السجدة سورت: ایت 7].

احسان د هغه اړین وصف دی، هیڅ موجود د سترګو د رپولو په اندازه د هغه له احسان څخه بې برخې ندي، ټول مخلوق د هغه په احسان او فضل باندې پوښل

شوي؛ که هغه نیک انسان وي او که فاسق، مؤمن وي او که کافر، او د دوی لپاره هیڅ ډول پاڅون او دوام نشته مګر د هغه د مهربانۍ او انعام له لارې.

د هغه – عزوجل- احسان او مهربانۍ پر بنده باندې دا دی چې هغه يې له نشت څخه را منځته کړ،

﴿هَلۡ أَتَىٰ عَلَى ٱلۡإِنسَٰنِ حِينٞ مِّنَ ٱلدَّهۡرِ لَمۡ يَكُن شَيۡـٔٗا مَّذۡكُورًا١﴾ [الإنسان: 1]

(يقينًا په انسان باندې داسې وخت هم راغلی دی چې دی څه داسې د يادولو (وړ) شی نه و) [الإنسان سورت: ايت 1]،

﴿... وَبَدَأَ خَلۡقَ ٱلۡإِنسَٰنِ مِن طِينٖ٧﴾ [السجدة: 7]

(او د انسان تخليق يې له خټې نه شروع کړی دی). [السجدة سورت: ايت 7].

بيا يې د هغه صورت جوړ کړ په ښکلي ډول باندې:

﴿...فَأَحۡسَنَ صُوَرَكُمۡ ...﴾ [غافر: 64]

(او ستاسو صورتونه يې جوړ کړي دي، پس ستاسو صورتونه يې ښکلي جوړ کړي دي). [غافر سورت: ايت 64]،

بيا يې د حق او باطل تر منځ د توپير کولو لپاره هغه ته عقل ورکړ:

﴿وَهَدَيۡنَٰهُ ٱلنَّجۡدَيۡنِ١٠﴾ [البلد: 10]

(اوموږ ده ته دوه لارې ښودلې دي). [البلد سورت: ايت 10].

او اسمانونه او ځمکه او هغه څه چې په دې په منځ کې دي د هغه تابع وګرځول:

﴿أَلَمۡ تَرَوۡاْ أَنَّ ٱللَّهَ سَخَّرَ لَكُم مَّا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَأَسۡبَغَ عَلَيۡكُمۡ نِعَمَهُۥ ظَٰهِرَةٗ وَبَاطِنَةٗۗ ...﴾ [لقمان: 20]

(ايا تاسو نه دي کتلي چې بېشکه الله ستاسو لپاره په کار اچولي دي هر هغه څه چې په اسمانونو کې دي او هر هغه څه چې په ځمکه کې دي او پر تاسو باندې يې خپل نعمتونه، چې ظاهري دي او باطني دي پوره کړي دي). [لقمان سورت: ايت 20]

. او بې شمېره نعمتونه يې ورته ورکړي دي:

﴿... وَإِن تَعُدُّواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ لَا تُحۡصُوهَآۗ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَظَلُومٞ كَفَّارٞ﴾ [إبراهيم: 34]

(او که تاسو د الله نعمتونه وشمېرئ (نو) تاسو به هغه ونشمېرلی شئ، بېشکه انسان خامخا ډېر ظلم کوونکی، ډېر ناشکره دی). [إبراهيم سورت: ايت 34].

د احسان کمال:

بنده باندې تر ټولو ستر احسان: هغه ته پر دين باندې توفيق ورکول دي، د اسلام په اړه د هغه سينه پراخول او تر مرګه پورې په حق باندې ثابت قدمه اوسيدل دي،

﴿إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَواْ وَّٱلَّذِينَ هُم مُّحۡسِنُونَ﴾ [النحل: 128]

(بېشکه الله د هغو کسانو ملګری دی چې پرهېزګاري کوي او د هغو کسانو چې هغوی نېکي کوونکي دي). [النحل سورت: ايت 128].

او خپلو اولياوو او دوستانو ته د ښه او خوندي ژوند لپاره توفيق ورکول دي:

﴿مَنۡ عَمِلَ صَٰلِحٗا مِّن ذَكَرٍ أَوۡ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤۡمِنٞ فَلَنُحۡيِيَنَّهُۥ حَيَوٰةٗ طَيِّبَةٗۖ وَلَنَجۡزِيَنَّهُمۡ أَجۡرَهُم بِأَحۡسَنِ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ﴾ [النحل: 97]

(چا چې نېك عمل وکړ، سړی وي، يا که ښځه، په داسې حال کې چې مومن وي، نو خامخا هرومرو به مونږ هغه ته ژوند ورکړو، ډېر پاکېزه ژوند او خامخا هرومرو به مونږ هغوی ته د هغوی د اجر جزا ورکړو د هغو تر ټولو ښو عملونو په بدل کې چې دوی به کول). [النحل سورت: ايت 97].

. او خپل اوليا له غمه خلاصول دا دي چې: له سختيو او انديښنو څخه يې ژغوري؛ الله –سبحانه و تعالی- د يوسف -عليه السلام- په اړه وفرمايل:

﴿... إِنَّ رَبِّي لَطِيفٞ لِّمَا يَشَآءُۚ ...﴾ [يوسف: 100]

(بېشکه زما رب باريك تدبير والا دی، د هغه (شي) لپاره چې اراده يې وکړي). [يوسف سورت: ايت 100].

بيا د هغه احسان کمال له خپلو اولياوو او دوستانو سره په آخرت کې هم څرګنديږي؛ کوم چې تر ټولو لوړ احسان او زياتوالی دی، الله –عزوجل- فرمايي:

﴿۞ لِّلَّذِينَ أَحۡسَنُواْ ٱلۡحُسۡنَىٰ وَزِيَادَةٌۖ ...﴾ [يونس: 26]

[د هغو کسانو لپاره چې نېکي يې کړي ده ډېره نېکه بدله ده او زيادت (د اجر هم شته)]. [يونس سورت: ايت 26].

نو هغوی لره الحسنی : جنت دی.

او زياتوالی: د خپل لوړ رب مخ ته کتل دي؛ کوم چې له هغه ښخه غوره، ښکلی، بشپړ، او لوړ څه شتون نلري!

او هغه –تبارک و تعالی- د هغوی لپاره دوه اجرونه په خپلې دې وينا کې را جمع کړي: ګړندی اجر او ځنډول شوی اجر:

﴿فَـَٔاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ ثَوَابَ ٱلدُّنۡيَا وَحُسۡنَ ثَوَابِ ٱلۡأٓخِرَةِۗ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ١٤٨﴾ [آل عمران: 148]

(نو الله هغوی ته د دنيا بدله او د اخرت ښکلی ثواب ورعطا کړ او الله له نېکي کوونکو سره مينه کوي). [آل عمران سورت: ايت 148].

او زموږ رب - عزوجل - د هغه فضل او احسان خورا لوی دی؛ هغه خپل شريعت په بشپړ دول جوړ کړ او په هغه کې يې ښې پايلې د لويو اهدافو لپاره شاملې کړې؛ کوم کې چې د ټولو مخلوقاتو لپاره خير دی،

﴿... وَمَنۡ أَحۡسَنُ مِنَ ٱللَّهِ حُكۡمٗا لِّقَوۡمٖ يُوقِنُونَ ٥٠﴾ [المائدة: 50]

( (او په فيصله کولو کې له الله نه (بل) څوك ډېر ښه دی، د هغه قوم لپاره چې يقين کوي!).

[المائدة سورت: ايت 50].

احسان په دوه ډوله دی:

1) د الله –سبحانه و تعالی- په عبادت کې احسان کول:

او دا د دين تر ټولو لوړ او عالي مقام دی؛ لکه څنګه چې د جبرائيل -عليه السلام- په مشهور حديث کې راغلي، او په حديث کې يې د احسان تفسير کړی دی: «أَنْ تَعْبُدَ اللَّهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ، فَإِنَّ لَمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَإِنَّهُ يَرَاكَ» "د الله داسې عبادت کول لکه څنګه چې ته هغه ګورې، نو که ته هغه نشې ليدلی، نو هغه تا ويني". [بخاري او مسلم روايت کړې].

2) او د الله –سبحانه و تعالی- په بندګانو باندې احسان کول:

هغوی ته د هر ډول خیر رسول، او هغوی ته له ضرر رسولو څخه ځان ساتل دي؛ هغه – تبارک و تعالی - وفرمایل:

﴿... إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجۡرَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ١٢٠﴾ [التوبة: 120]

(بېشکه الله د نېکي کوونکو اجر نه ضايع کوي). [التوبة سورت: ايت 120].

او زمونږ رب -سبحانه و تعالی- خپل نومونه خوښوي، او خوښ ګڼي چې د هغه بندګان د هغه د نومونو په معنا سره هغه ته خپل ځانونه نږدې کړي؛ نو هغه رحيم دی او له رحم کوونکو سره مينه لري، سخي دی او له سخاوت کوونکو سره مينه لري، احسان کوونکی دی او د احسان کوونکو سره مينه لري، هغه -سبحانه و تعالی- فرمايي:

﴿... إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُحۡسِنِينَ١٩٥﴾ [البقرة: 195]

(بېشکه الله د نېکي کوونکو اجر نه ضايع کوي). [البقرة سورت: ايت 195]

، دې کار لپاره ډېر حقدار خلک: مور او پلار دي؛ د الله -عزوجل- ددې وينا په اساس:

﴿وَوَصَّيۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ بِوَٰلِدَيۡهِ إِحۡسَٰنًاۖ ...﴾ [الأحقاف: 15]

(او مونږ انسان ته له خپل مور و پلار سره د نېکۍ کولو کلك حکم کړی دی). [الأحقاف سورت: ايت 15]

، او هغه -سبحانه وتعالی- وفرمايل- :

﴿... وَأَحۡسِن كَمَآ أَحۡسَنَ ٱللَّهُ إِلَيۡكَۖ ...﴾ [القصص: 77]

(او احسان کوه، لکه چې تا سره الله احسان کړی دی). [القصص سورت: ايت 77] .

اې د عرش الله زه په عاجزۍ سره تا ته شکايت کوم

اې زما ربه زه تاته په سختۍ کې دعا کوم چې زما دعا واورې

اې زما الله! دغه هيله پوره کړه او مورې باندې

مهربان، رحم کوونکی اوسه، او زمونږ دعاګانې قبولې کړه

اې احسان کوونکیه تا مخکې هم هرکله احسان کړی
اې پراخي ورکوونکیه، ستا بخښنه هم پراخه وه
موږ تاته پناه دروړو، اې الله، له خپلو بدو کړنو څخه
موږ له تا څخه د بخښنې هیله لرو
زموږ سره مرسته وکړه او شدت لمنځه یوسه، کوم چې
رامنځته شوي او سختۍ زمونږ څخه پورته کړه
موږ باندې سخاوت او فضل وکړه، کوم چې ته د هغه وړ یې
له عفوې او بخښنې څخه، اې غوره دعا غوښتل شوی ذاته

اې الله! موږ د نیکو خلکو څخه وګرځوه، او له موږ سره احسان وکړه؛ او زموږ څخه او زموږ د مور او پلار او ټولو مسلمانانو څخه قبول کړه.

## د الله تر ټولو ښکلي نومونو سره تم کیدل

1- مؤمن خپله ټوله هڅه کوي چې الله -تبارک و تعالی- د هغه په نومونو، صفتونو او عملونو سره وپېژني؛ پرته له نفي، مثال، تغیر ورکولو، او ځرګرنوالی څخه.

او د هغه پوهه باید له کتاب او سنتو څخه اخیستل شوي وي، او هغه څه چې له صحابه وو او تابعینو څخه ثابت وي.

2- د الله – جل و علا- نومونه توقیفي دي، چې عقل لپاره په هغې کې ځای نشته، نو پدې اساس؛ لازمه ده چې په هغه څه بسنه وکړې چې کتاب او سنت کې راغلي وي؛ او په هغې کې زیاتی او کموالی را نه وستل شي.

3- او د الله ښکلي نومونه د شمېرنې لاندې نه راځي او شمېرلو پورې محدود نه دي؛ نو الله -سبحانه و تعالی- لره نومونه او صفتونه دي چې هغه یې د غیب په علم کې له ځانه سره ساتلي؛ د هغې په اړه نه هغه نږدې ملائکه او نه کوم رالیږلی شوی پیغمبر پوهه لري، لکه څنګه چې په حدیث کې راغلي: «..أَسْأَلُكَ بِكُلِّ اسْمٍ هُوَ لَكَ؛ سَمَّيْتَ

بِهِ نَفْسَكَ، أَوْ أَنْزَلْتَهُ فِي كِتَابِكَ، أَوْ عَلَّمْتَهُ أَحَدًا مِنْ خَلْقِكَ، أَوْ اسْتَأْثَرْتَ بِهِ فِي عِلْمِ الغَيْبِ عِنْدَكَ..» ".. ستا په ټولو هغو نومونو له تا څخه سوال کوم، چې تا پرې خپل ځان نومولی، او یا دي له خپلو بندګانو څخه چاته ښودلي دي، او يا دي په خپل کتاب کې رالېږلي دي، او یا دي په پټ علم کې له ځان سره ساتلي.. ". [صحيح حديث دی. طبراني په معجم الکبير کې روايت کړی"].

او د هغه – صلى الله عليه وسلم- پدې وینا چې فرمايي: «إِنَّ لِلَّهِ تِسْعَةً وَتِسْعِينَ اسْمًا مِائَةً إِلَّا وَاحِدًا مَنْ أَحْصَاهَا دَخَلَ الجَنَّةَ» «الله لره نهه نوي نومونه دي، سل نومونه پرته له يوه څخه، هر چا چې ياد کړل جنت ته به داخل شي". [بخاري او مسلم روايت کړي]؛ او خبره يوه جمله ده.

او د هغه –صلى الله عليه وسلم- دا قول چې: «مَنْ أَحْصَاهَا دَخَلَ الجَنَّةَ» «هر چا چې ياد کړل جنت ته به داخل شي»: صفت دی، د راتلونکي لپاره خبر نه دی، او معنا يې داده چې: هغه لره ګڼ شمير نومونه دي او معنا يې داده چې هر چا ياد کړل جنت ته به داخل شي.

او دا نه نفې کوي چې پرته له هغو څخه هغه لره نور نومونه هم شته، او دا هغه څه دي لکه څنګه چې ته ووايې: " فلان کس لره سل غلامان دي چې دوی يې د جهاد لپاره چمتو کړي دي"، دغه خبره دا نه نفي کوي چې هغه لره ددې پرته نور غلامان نشته چې د جهاد پرته کار لپاره چمتو کړي وي، او په دې اړه د علماوو تر منځ اختلاف نشته.

او د هغه – صلى الله عليه وسلم- په قول کې : «مَنْ أَحْصَاهَا دَخَلَ الجَنَّةَ» "هر چا چې ياد کړل جنت ته به داخل شي" يعني: څوک چې هغه حفظ کړي، او هغې باندې ځان پوه کړي، او هغې باندې د الله -سبحانه و تعالى- ثنا او حمد ووايي، او دا درې مرتبې دي، نو چا ته چې د دې څخه يوه هم پيښ شي، سره له ښه نيت او د هغې په مقتضا عمل وشي؛ نو دغه کس واقعا دغه نومونه ياد کړي؛ لکه څرنګه چې قرطبي او الخطابي او ابن القيم – رحمهم الله- ويلي دي.

۴- او د الله – جل جلاله- ټول نومونه ښکلي دي، چې په څلورو برخو وېشل شوي دي:

لومړۍ برخه :د ښکلا نومونه:

او دا د بنده په نفس کې: د الله -سبحانه و تعالى- سره مينه، هغه سره د آرامتيا احساس، او د هغه ملاقات لپاره ليوالتيا او شوق ځای پر ځای کوي، او دغه نومونه

د آرامتيا او ډاډ احساس ورکوي، او مخلوق لپاره د اميد دروازه پرانيزي؛ نو د الله له رحمت څخه نه نا اميده کيږي، لکه: (الرحمن، الرحيم، الکريم، العفو، الحليم، الغفور، التواب)، او داسې نور.

دويمه برخه :د جلال او عزت نومونه:

او دا په نفس کې: هيبت، ويره، ډار، او د الله – عزوجل- څخه خوف، او د هغه تعظيم او عزت را منځته کوي.

او دا هغه نمونه دي: چې د جبر، ځواک، جبروت او لويې معنا لري؛ لکه دغه نومونه: (العزيز، والجبار، والقهار، والقوي، والکبير، والمتکبر).

دريمه برخه :د ربوبيت نومونه:

او دا هغه نومونه دي : چې مومن د هغې په مقابل کې د ذلت احساس کوي، او دا چې هغه د الله – عزوجل- مخلوق دی.

او دغه نومونه: د الله - عزوجل – ربوبيت باندې دلالت کوي؛ لکه (الرب، والسيد، والملك، والمالك، والخالق، والبارئ، والرازق).

څلورمه برخه :د الوهيت نومونه:

او دغه نومونه: مومن ته دا احساس ورکوي چې: هغه د الله – سبحانه و تعالى- بنده دی، او دا چې الله -عزوجل- يوازې د عبادت وړ دی.

او دا هغه نومونه دي: چې هغې کې د الوهيت معنا شتون لري؛ لکه: (الإله، والصمد).

دا د معنا په پام کې نيولو سره يوه تقسيم بندي ده، که نه د الله -عزوجل- نومونو کې ټوله ښکلا، عظمت، کمال او لويي يوځای شوې ده، او دا په غوره نوم سره مسما شوی او عالي وصف باندې دلالت کوي.

5- د دې نومونو څخه هر يو د الله لپاره د کمال د صفت ثبوت دی؛ له همدې امله دغه نومونه حسنى (ښکلي) دي، او د هغه- تبارک و تعالى- ټول صفتونه د کمال

صفتونه دي، او د هغه ستاينې ټولې د عظمت ستاينې دي، او د هغه عملونه ټول د حکمت، رحمت، مصلحت او انصاف دي.

۶- د الله - عزوجل- په نومونو کې داسې نوم نشته چې په هغې کې بدي او شر وي، او يا نيمګړتيا باندې دلالت وکړي.

شر او بدي د هغه لپاره نه دي؛ او د هغه په صفتونو کې نه شامليږي، او نه د هغه ذات پورې تړاو لري، او د هغه په هيڅ عمل کې نه داخليږي؛ او د هغه هيڅ کړنو او وصف ته نه شامليږي.

۷- الله -جل جلاله- خپلو بندګانو ته امر کړی چې په دې نومونو دعا وکړي:

﴿وَلِلَّهِ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰ فَٱدۡعُوهُ بِهَاۖ ...﴾ [الأعراف: 180]

(او خاص د الله لپاره تر ټولو ښکلي نومونه دي، نو تاسو الله په دغو (نومونو) سره بلئ). [الأعراف سورت: ايت 180]،

پدې کې دا هم شامل دي: د عبادت دعاء، او د غوښتنې دعا.

او دا د غوره طاعتونو، او نږدېوالي لوی سبب دی.

۸- د اسماء حسنى په شمير کې له رسول الله -صلى الله عليه وسلم- څخه يو حديث هم ثابت ندی.

او قاعده دا ده چې: "د الله -سبحانه وتعالى- پاک نومونه له کتاب او سنتو څخه بايد واخيستل شي".

۹- دويمه ګڼه د الله د نهه نوي نومونو په تشريح باندې متمرکزه ده لکه څنګه چې د شيخ محمد بن صالح بن العثيمين، او ډاکټر عمر سليمان الاشقر، او شيخ عبدالعزيز بن عبدالله بن باز -رحمهم الله- لخوا موافقه شوې ده، او يا دا چې د دريو څخه د دوو لخوا موافقه شوي وي.

او په پای کې ..

د الله -سبحانه و تعالى- ستاينه ادا کوم چې دې کتاب د مطالبو په راټولولو کې يې ما ته توفيق راکړ؛ او د الله –عزوجل- څخه غواړم چې زما څخه يې قبول کړي، او ټولو بندګانو ته يې ګټه ورسوي.

وصلَّى الله وسلَّم وبارك على نبيِّنا محمد وعلى آله وصحبه أجمعين.

والحمدُ للَّهِ ربِّ العالَمين

تدقيق او بيا کتنه هر يو، استاذ محمد عبدالعظيم او استاذ محمد عبداللطيف له خوا ترسره شوې، ټايپ کول او ليکل د معاذ رزق لخوا شوي، او تنظيمول د استاذ احمد کشوقه لخوا ترسره شوي، الله دې دوی ټولو ته توفيق ورکړي.

*د ليکوال لنډه پيژندنه:

عبدالله بن مشبب بن مسفر القحطاني چې په ۱۳۷۸ هجري لمريز کال کې په رحيمه کې زيږيدلی، په اسلامي فقه کې د دوکتورا سند ترلاسه کړی، متقاعد تعليمي لارښود دی، د ابو بکر الصديق -رضی الله عنه- په جومات کې امام او خطيب دی، د سعودي عربستان په دمام ښار کې.

# منځپانګې

د الله جل جلاله ښکلي نومونه او د هغه غوره صفتونه له کتاب او سنت څخه .................................. 1
ډالۍ.................................................................................................................. 3
د دويم چاپ سريزه......................................................................................... 3
سريزه............................................................................................................. 4
اې زما ربه .. ...................................................................................................... 7
اللهُ  الإِلَـهُ  -جل جلاله-...................................................................................... 8
رب – جل جلاله-.............................................................................................. 15
يوازې يو الله  -جل جلاله-................................................................................ 21
الصَّمـَدُ )بې نيازه  (-جل جلاله- ......................................................................... 31
الرَّحْمَنُ  الرَّحِيمُ )ډېرمهربانه او ډېر رحم کونکی (-جل جلاله- ..................................................... 36
الحَيُّ )تل ژوندی پاته کيدونکی  (-جل جلاله- ........................................................... 45
القَيُّومُ )د ټول عالم انتظام کوونکی ذات  (-جل جلاله-.................................................... 51
- المَلِكُ  المَلِيكُ- حقيقي پادشاه  او مالک -جل جلاله-....................................................... 57
کامل او له عيبونه څخه پاک  -جل جلاله-.............................................................. 66
د ټولو عيبو څخه پاک  -جل جلاله- ...................................................................... 72
السَّلاَمُ )سلامتيا بخښونکی ذات (-جل جلاله-............................................................. 76
المُؤْمِنُ )امنورکونکی (ذات  -جل جلاله- .................................................................. 83
ساتونکی او نګهبان -جل جلاله-........................................................................... 88
پر ټولو غالب  -جل جلاله-.................................................................................. 93
ترټولو زبردست -جل جلاله-.............................................................................. 103
د لويې خاوند -جل جلاله- ................................................................................. 109
د هر شي پيداکونکی او نوښتګر -جل جلاله-.............................................................. 114
پيداکوونکی  -جل جلاله- .................................................................................. 119

صورت جوړونکی -جل جلاله-.......................................................... 124
د ګناه عفوه کوونکی -جل جلاله-...................................................... 129
الغَفُوْرُ  الغَفَّارُ  -جل جلاله- د ډېرو او لویو ګناهونو بخښونکی ذات  -جل جلاله-............ 135
الکَبِیرُ -جل جلاله- د بزرګۍ خاوند -جل جلاله- ................................... 142
الأَعْلَی العـَلِيُّ  المُتَعـَالِ -جل جلاله- د لوی مرتبې خاوند، تر ټولو لوړ او برتر ذات -جل جلاله- .......... 148
تسلط لرونکی او پر ټولو زورور ذات -جل جلاله-........................................ 155
الوَهـَّابُ  -جل جلاله- ډالۍ )بخشش (ورکوونکی ذات  -جل جلاله-................. 160
الرَّزَّاقُ -جل جلاله- روزي ورکونکی ذات -جل جلاله-................................ 166
الفَتـَّاحُ )اسان کوونکی (-جل جلاله- ........................................ 173
السَّمـِیعُ )اوریدنکی   (ذات -جل جلاله- ........................................ 179
البـَصِیرُ )هر څه لیدونکی (ذات  -جل جلاله- ..................................... 186
التَّوَّ ابُ )ډیر ژر توبه قبلونکی (ذات -جل جلاله- ............................... 192
العـَلِیمُ )پراخ علم لرونکی (ذات -جل جلاله-...................................... 200
العـَظِـیمُ )لوی او د عظمت څښتن (ذات  -جل جلاله-............................. 207
القَوِيُّ )د قوت خاوند (ذات -جل جلاله-............................................ 214
المَتِینُ )د ډېر قوت خاوند  (ذات جل جلاله ......................................... 221
د قدرت خاوند، مطلق قادر، او د قدرت ښکاره کوونکی ذات  -جل جلاله- ....................... 225
الحَـفِیظُ )غوره ساتونکی (ذات  -جل جلاله- ...................................... 232
الغَنِيُّ)بې نیازه (ذات -جل جلاله- ................................................ 239
الحَکَمُ الحَکِیمُ )د مخلوقاتو مطلق حاکم، د لوی حکمت خاوند (ذات -جل جلاله-.............. 245
اللَّطـِیفُ )په بارکیو پوه (ذات -جل جلاله-........................................ 252
الخَبـِیرُ )خبرداره  (ذات -جل جلاله- ............................................. 258
الحَلِیمُ )ډېر تحمل والا (ذات -جل جلاله- ........................................ 263
الرَّؤُوْفُ )ډېر شفقت کوونکی (ذات -جل جلاله-..................................... 268
الوَدُوْدُ )ډېر محبت کوونکی  (ذات -جل جلاله-...................................... 275

البـَرُّ)ښه سلوک کوونکی  (ذات-جل جلاله-........................................................ 283
القَريبُ )ډير نږدې (ذات -جل جلاله-............................................................... 289
المُجِيبُ )دعا قبلونکی (ذات  -جل جلاله- ........................................................ 296
المَجِيدُ  )د لوی شان خاوند (ذات -جل جلاله-................................................. 300
الحَمِيدُ )د حمد او تعريف لايق (ذات -جل جلاله-............................................... 306
الشَّـاكِرُ  الشَّكُورُ )ډير قدردان (-جل جلاله- ...................................................... 311
الأَكْرَمُ   الكَرِيمُ )ډير مهربان  سخاوتمند  (ذات -جل جلاله-.......................................... 317
المُقِيتُ )مخلوق ته په روزۍ سره قوت ورکوونکی (ذات -جل جلاله-............................ 325
الوَاسِعُ )پراخې ورکوونکی (ذات -جل جلاله- ...................................................... 331
الرَّقِـيبُ )لوی ساتونکی (ذات -جل جلاله- ........................................................ 339
الحَسِـيبُ )د ټولو لپاره کافي (ذات  -جل جلاله- ................................................ 343
الشَّـهِـيدُ )هر وخت، حاضر او ناظر  (ذات -جل جلاله- ......................................... 351
الحَقُّ )حق (ذات  -جل جلاله- .............................................................................. 356
المُبِينُ )د هر څخه ښکاره کوونکی (ذات   -جل جلاله- ........................................... 361
المُحِيطُ )هر څيز باندې احاطه لرونکی (ذات -جل جلاله- ........................................ 367
الأَوَّلُ  الآخِرُ الظـَّاهِـرُ  البـَاطِـنُ)تر ټولو اول، تر ټولو آخر، څرګند ښکاره، پټ (-جل جلاله- ............. 373
الوَكِيلُ )لوی کار ساز  (-جل جلاله-............................................................................ 379
النـُّورُ  )رڼا   (-جل جلاله-............................................................................ 389
کفايت کوونکی – جل جلاله - ............................................................................ 395
المَوْ لَى  الوَلِيُّ )مالک او مدد ګار    (-جل جلاله- ............................................... 400
الهَادِي )د نېغې لارې هدايت کوونکی (ذات -جل جلاله-.......................................... 407
النـَّصِيرُ )ښه مدد کوونکی (ذات -جل جلاله-...................................................... 413
الوَارِثُ )دهر شي وارث ، مالک  (ذات -جل جلاله-............................................ 418
الشَّـافِي )شفا ورکوونکی (ذات -جل جلاله- ....................................................... 424
الجَمِـيلُ )ډير ښکلی (ذات -جل جلاله- .......................................................... 432

القَابِضُ  البـَاسِطُ )د هر شي منع کونکی، پراخه روزي ورکونکی (ذات -جل جلاله-............................436
المُقَدِّمُ  المُؤَخِّرُ )مخکې کوونکی، وروسته کوونکی (ذات -جل جلاله-...........................................445
الحَيِيُّ )ډېر حياء کوونکی (ذات -جل جلاله-.....................................................................450
الدَّيـَّانُ )د خير او شر بدله ورکونکی (ذات -جل جلاله- ....................................................454
المَنـَّانُ )احسان کونکی (ذات -جل جلاله- .......................................................................459
الجَـوَادُ )سخي (ذات -جل جلاله-.....................................................................................464
الرَّفِـيقُ )نرم او مهربان (ذات -جل جلاله-..........................................................................467
السَّـيِّدُ )ښتن او سردار  (ذات -جل جلاله- ........................................................................471
بـَدِيعُ  السَّـمـَاوـاتِ  وَالأَرْضِ )د اسمانونو او ځمکې نوښتگر (ذات -جل جلاله-...........................475
المُعْطِـي )ورکوونکی (ذات -جل جلاله- ............................................................................480
المُحْسِنُ)احسان کوونکی (ذات  -جل جلاله-......................................................................484
د الله تر ټولو ښکلي نومونو سره تم کيدل.............................................................................489
منځپانگې ..................................................................................................................494